فتاوی عثمانی

په قندهاري پښتو

تالیف:

حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مدظله

پښتو مترجم

استاد المولوی القاري عبد الاحد الحقاني

ناشر

مكتبة العلوم الدينية

کانسي روډ کوټه

پنځه ځلویښت کلنه خودنویس فتاوی مجموعه

فتاویٰ عثماني

په قندهاری پښتو

جلد دوهم

کِتابُ الزکَاة، کِتابُ الصَّوم، کتابُ الْحَج، کِتابُ النِّکَاح
کِتابُ الطَّلاَق، کِتَابُ الْایمَان وَالنّذور، کِتَابُ الوَقْفُ

تالیف

حضرت مولانامُفتی مُحمّد تقی عُثمانی صَاحب مدظلّه

ترتیب وتخریج
مولانا مُحمّد زبیر حق نواز

سمون او تصحیح وتعلیق
استاد المولوي القاری عبدالاحد
الحقاني

ناشر
متکبة العلوم الدینیه
کاسي روډ کویټه

زیر صدارت ونګراني
شیخ الحدیث والتفسیر والطریقت الحاج
حضرت مولانا عبدالقادر (حفظه الله)

د کتاب نوم.............فتاوی عثماني

تالیف............حضرت مولانا مُفتی مُحمدؐ تقی عُثمانی مدظله

ترتیب و تخریج.............مولانا محمّد زبیر حق نواز

پښتوترجمه تحقیق و تصحیح...........استاد المولوي القاري عبدالاحد الحقاني غفره له

کمپوزر.............استاد المولوي الحافظ نوراحمد الحقاني

اسلامی کمپیوترز کویټه بلوچستان

۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

ناشر

مکتبة العلوم الدینیه کاسی روډ کویټه

شماره	د فتاوی عثماني د دوهم جلد د موضوعاتو فهرست	صفحه
	کتاب الزکوٰة	

بسم الله الرحمن الرحيم

عرض مرتب

اَلْحَمْدُ للهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى اَمَّا بَعْدُ.

داستاد محترم حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم دفتاوی مخکی جلد دنن څخه لږ موده مخکی طبع سو اومنظر عام ته رالی چي هغه علماوو او طالبانو څخه علاوه عامو خلګو هم په لاس واخستی او الحمد لله اهل فتوی هغه دفتوی ماخذ جوړ کی او دهغه په رڼا کی یی اهمی فتوی ولیکلی، دامت په علمی خلګو دهغه څخه بلاشبهی اهمی دینی نفعی حاصلیږی.

الله تعالی دی استاذ محترم دامت برکاتهم ته دصحت اوعافیت سره اوږد عمر ورکړی دهغوی دعلم اوفقهی رڼا دی په ټولو دنیا وغوړه یی او دهغوی علوم اومعارف اوفیوض دی ترقیامته جاری اوساری اوساتی، آمین.

اوس داستاد محترم دامت برکاتهم العالیه دفتاوی دوهم جلد ستاسو په لاس کی دی. په دی جلد کی زکوة صوم، اعتکاف، حج، نکاح، طلاق، وقف، او احکام المسجد اوایمان اونذر سره متعلقی مسئلی شاملی دی چي دهغه اجمالی اوتفصیلی فهرست دکتاب په شروع کی درج دی، اودریم جلد به انشاء الله، کتاب الشرکة والمضاربة، او د دی څخه مخکی بابونو باندی به مشتمل وی.

دحضرت مولانا دامت برکاتهم دفتاوی متعلق تفصیل اوپه دی جلد کی هم دکار ترتیب هغه دی کم چي په اول جلد کی او چي دهغه تفصیل په اول جلد کی دحضرت والا دامت برکاتهم په پیش لفظ اوعرض مرتب کی درج دی، دتفصیل دپاره هغه طرفته مراجعت مناسب دی، بیا هم په دی جلد کی دلاندینی نوی امورو لحاظ هم ساتل سویدی.

دمذکوره ابوابو سره متعلق ډیر مکرر مسائل دضخامت او طوالت څخه دبچ کیدلو دپاره حذف سول، مثلا دکتاب الطلاق، فصل فی الطلاق واحکامه کی دری طلاقو، سره متعلق ګڼ مسائل دحضرت والا په مشری سره حذف سول، بیا هم دیوی موضوع سره متعلق داسی مسائل باقی پرینبوول سویدی چي په هغه کی څه نوی علمی فائده وی.

چونکی داټولی فتوی وی پخپله دحضرت والا دامت برکاتهم تحریر سویدی لهذا دحضرت والا په حکم سره دکتاب ضخامت څخه دبچ کیدو دپاره دهری فتوی په آخر

کی دحضرت والا دامت برکاتهم العالیه نوم نقل کولو پر ځای صرف په تاریخ اودفتوی په نمبر باندی اکتفاء سویده، بیاهم چرته چي دحضرت والا دامت برکاتهم په فتوی باندی په اکابرو اوبزرګانو کی دچا تصدیقی دستخط دی هلته دفتوی په آخر کی دحضرت دنوم سره دمصدق نوم هم درج سویدی.

داول جلد په شان په دوهم جلد کی هم دضخامت څخه دبچ کیدلو دپاره د سائل نوم حذف سویدی، بیاهم سائل که دخواص اهل علم څخه څوک وی نو د هغوی نوم ذکر سویدی چي د سوال او جواب ویلو سره د سائل شخصیت او د هغه علمی مقام ملحوظ وی.

د دی جلد په کتاب الزکوة کی د حکومت د بینکونو څخه اومالیاتی ادارو څخه زکوة وصولولو شرعی حکم، سره متعلق دحضرت والا دامت برکاتهم تحقیق چي اول په فقهی مقالاتو کی شائع سوی وو. اوس هغه دکتابونو دمروجه او متداولو نسخو دتخریج سره په دی مجموعه کی شامل دی، په دی تحقیق کی د بینکونو رقوم په اموال ظاهره کی شاملیدل، متعلق حضرت والا دامت برکاتهم یو تازه وضاحتی نوټ لیکلی دی، دا اهم نوټ د دی تحقیق په آخر کی درج دی.

حضرت والا دامت برکاتهم ډیرو حضراتو جوابی خطونو کی د ډیرو فقهی سوالونو جوابونه ورکړیدی، په هغه باندی ډیرو حضراتو توجه را وګرځوله چي په هغه خطونو کی موجود فقهی مسائل هم دفتاوی په دی مجموعه کی شامل سی خو چونکی د حضرت والا دامت برکاتهم ذاتی خطونه دار الافتاء ته نه راځی نو ځکه داسی فتووو ته رسیدل څه صورت په نظر کی نه راتلی، چنانچي په اول جلد په هغه خطونو کی موجودی فتوی په هغه اشاعت کی شامل نه سوی، خوحال دادی چي حضرت والا دامت برکاتهم دخپل دفتره سوال او جواب او دحفاظت قابل خطونو فائیلونه بنده ته ورکړل، نو په هغه کی ډیر داسی خطونه را ووتل چي په هغه کی اهم فقهی تحقیقات او د سوالونو جوابونه وه، چي په هغه کی بعضی تفصیلی جوابونه هم وه، دمثال په طور په دی جلد کی دکتاب النکاح په فصل فی الجهاز والمهر کی یوه تفصیلی فتوی، مهر اعزازیه دی یا عوض او که اجرت؟ وګوری په دی خطونو کی چي کم مسائل د اول جلد سره متعلقی وی، هغه به انشاء الله د اول جلد په راروان ایډیشن کی شاملی سی او کم مسائل چي د دوهم جلد سره متعلق وی، هغه د متعلقه بابوبو لاندی شاملی سولی، او په حاشیه کی د دارنګه مسائلو نشاندی سویدی، او د راروانو جلدونو متعلق به انشاء

الله داسی مسائل په را روانو جلدونو په اشاعت کی شاملی سی.

د اول جلد په اشاعت او د دوهم جلد په مسودی باندی د نظر ثانی څخه وروسته حضرت والا چي څنګه دخوښی او خوشحالی اظهار اوکی او دخپلو مشفقانه دعاګانو سره یی زه نوازش کړم. نو بلاشبه ذبنده دپاره هغه دعاګانی په دنیا او آخرت کی حقیقی سرمایه ده. او د ویونکو په حلقه کی د اول جلد مقبولیت او نافعیت او د هغوی د اصرار او طلب پیش نظر خواهش اوحتی المقدور زما کوشش دی، چي بقیه جلدونه هم منظر عام ته راسی. د ویونکو څخه د دعاء درخواست دی چي الله تعالی دی داجلد هم ژر سرته ورسوی. او د حضرت والا سره سره د بنده د پاره هم داکار د مغفرت ذریعه او د آخرت ذخیره جوړه کړی. آمین ثم آمین.

اهم اعلان

ویونکوته درخواست دی که د چاسره د حضرت والا داسی خطونه موجود وی چي په هغه کی حضرت والا د یوی فقهی مسئلی سوال جواب وی نو د مهربانی د مخه داسی خطونه احقر ته دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچی، یامکتبه معارف القرآن کراچي په پته باندی پوټوسټیټ او د ډاك په وضاحت سره را ولیږی چي د فتاوی په مجوعه کی د متعلقه بابونو لاندی هم هغه شامل سی، داسی فتوی د حضرت والا دامت برکاتهم څخه علاوه د خط رالیږونکو حضراتو دپاره به هم انشاء الله صدقه جاریه وی، والسلام.

بنده محمد زبیر حقنواز، رفیق دار الافتاء جامعه دار العلوم کراچي. ۱۲۱ ربیع الثانی ۲۷ ۱۴ھ

(کتاب الزکوة)

د مال تجارة، نقدو، سره زر، سپین زر، د استعمال شیان، په مځکو او په مشینونو باندی د زکوة حکم

په پنځه تولو سرو زرو او څه نقدو باندې دزکوٰة حکم

سوال: دیو سړی سره پنځه تولې سره زر او څه لږ نقدې لس شل روپی دی نو آیا دکال تیریدو څخه وروسته به په ده باندې زکوٰة فرض وی؟

جواب: هو! زکوٰة به باندې فرض وی، که دسرو سرو لږ غوندې سپین زر یانقدې موجودې وی، نو دسرو زرو قیمت لګولو سره د سپینو زرو حساب لګول پکار دی یعنې که سره زر او نقدې یو ځای کړی او د دوو پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت جوړسو نو زکوٰة واجب دی. (۱)

والله اعلم.

۱۳۹۷\۱۲\۱۴هـ

۱: په مشینرۍ او آلاتو باندې زکوٰة نسته

۲: د چرګو په بچو او په چرګو باندې د زکوٰة حکم

سوال: د دواګانو جوړولو دپاره چي کوم مشین یا آلات استعمالیږی، آیا په هغه زکوٰة سته؟

جواب: په مشینرۍ او آلاتو باندې زکوٰة فرض نه دی. (۲)

سوال: په پولیټرۍ فارم کښې د چرګو بچي واخستل سی، هغه او پالل سی. د (۲۲) هفتو څخه وروسته هغه د هګیو قابل وی او (۸۲) هفتې هګۍ اچوی. د دې څخه

(۱) وفی الهندیه ج: ۱ من: ۹۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) وتضم قیمت العروض الی الثمنین. والذهب الی الفضة قیمة کذا فی الکنز حتی لوملك مائة درهم وخمسة دنانیر قیمتها مائة درهم تجب الزکوة عنده خلافهما ولو ملك مائة درهم وعشرة دنانیر او مائة وخمسین درهما وخمسة دنانیر او خمسة عشر دینار او خمسین درهما تضم اجماعًا. وکذا فی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۹۶ (طبع شرکت علمیه) ویضم الذهب الی الفضة للمجانسة من حیث الثمنیة.

وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۹۹ (طبع ایچ ایم سعید) ولوبلغ باحدهما نصابا دون الآخر تعین مایبلغ به ولوبلغ باحدهما نصابًا وخمساء وبالاخر اقل قومه بالانفع للفقیر. وکذا فی التاتار خانیه ج: ۲ ص: ۲۳۷. وفی المبسوط للسرخسی ج: ۲، ص: ۱۹۱.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۷، او ص ۲۶۵ (ایچ ایم سعید) ولا زکوة فی ثیاب البدن..... وکذالك آلات المحترفین الخ. وفی الهدایة ج: ۱ ص ۱۸۶ (مکتبة شرکت علمیه ملتان) ولیس فی دور السکنی...... زکوة...... وآلات المحترفین الخ.

وروسته د هګۍ اچولو صلاحیت نه لری، په دې هګیو او چرګانو باندې زکوٰة سته او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کښې د هګیو په قیمت باندې زکوٰة واجب دی، خو په بچو او چرګانو باندې زکوٰة نسته، او کله چي دا خرڅ سی نو د هغه څخه په حاصلې سوی معاوضې باندې به زکوٰة وی، که کال هم هغه وخت پوره کیږی نو په هغه وخت او که هفته پوره کیږی نو په هغه وخت چي په هغه کښې څومره پیسې باقی پاته وی د هغه زکوٰة به اداء کیږی.

لما فی الدر المختار والاصل ان ماعدا الحجرین والسوائم انما یزکی بنیة التجارة وشرط مقارنتها العقد التجارة وهو کسب المال بالمال بعقد شراء او اجارة او استقراض ولونوی التجارة بعد العقد او اشتری شیئا للقنیة ناویا انه ان وجد ربحًا باعه لا زکوٰة علیه (شامی قبیل باب السائمة) (۱)

والله اعلم

۱۳۹۷\۱۰\۱۲هـ

دکال په مینځ کښې د پیسو زیاتیدو او کمیدو سره په زکوٰة څه فرق نه راځی

سوال: د زکوٰة پیسې چي په اول کال سنه ۱۳۹۶هـ کښې لس زره وی د هغه زکوٰة اداء سو. او سنه ۱۳۹۷هـ کښې شل زره سوی، اوس به زکوٰة د لس زرو ورکول کیږی او که د شلو زرو، د لسو زرو زکوٰة په سنه ۱۳۹۶هـ کښې اداء سویدی؟

جواب: په کال پوره کیدو باندې څومره پیسې چي موجودې وی، په هغه ټولو زکوٰة واجب دی، برابره خبره که هغه د دې پیسو څه حصه یوه مخکې راغلې وی چنانچي په صورت مسئوله کښې د پوره شلو زرو روپو زکوٰة فرض دی. (۲)

(۱) الدر المختار ج: ۲ ص ۲۷۳، ص ۲۷۴ (طبع ایچ ایم سعید) وفی البدایع ج: ص. ص ۲۱، واما صفة هذا النصاب فهی ان یکون معدا للتجارة وهو ان یمسکها للتجارة وذالك بنیة التجارة مقارنة لعمل التجارة الخ.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۲۸۸ (طبع ایچ ایم سعید) والمستفاد ولو بهبة او ارث وسط الحول یضم الی نصاب من جنسه فیزکیه بحول الاصل. وفی الشامیة (قوله ولوبهبة او ارث) ادخل فیه المفاد بشراء او میراث او وصیة وما کان حاصلا من الاصل کالا ولاد والربح الخ او فی الهندیة ج: ۱ ص ۱۷۵ (رشدیه) ومن کانه له نصاب فاستفاد فی اثناء الحول مالا من جنسه ضمه الی ماله وزکوة. سواء کان المستفاد من

د مځکی کور او د ګاډی په مالیت باندی زکوة نسته خو د دی په کرایه باندی زکوة لازم دی

سوال: زماسره په لاندی ډول رهایشی پلاټونه دی یعنی مځکی، په دی کښی په چا چا زکوة عائد دی، واضحه ده چي موږ دکرایی په کور کښی اوسیږو.

الف: یو پلاټ چي زموږ سره دولس کاله زوړ دی او موږ د اوسیدلو په غرض اخستی دی. خو په هغه علاقه کښی مناسبه آبادی او نسوه، چي د هغه د وجهی د مځکی قیمت هم زیات نسو. او دهغه اخستونکی هم عام طور نه پیداکیږی.

ب: یوه کوشنی ټوټه د مځکی یونیم کال مخکښی په دی غرض اخیستل سویده چي د مځکی قیمت به زیات سی. او کله چي ضرورت سی، مثلاً واده، کور یابل څه مقصد دپاره نو هغه به خرڅه کړو او پیسی به یی استعمال کړو.

ج: اووه میاشتی مخکښی یوه ټکړه مځکه واخستله، او اراده مو ده چي دلته به کور جوړه وو، خو که ټول اثاثه هم راجمع کړو نو د کور د تعمیر دپاره پیسی نسته.

د: زموږ په دفتر کښی بوکو آپریټو سوسائټی جوړه سویده چي هغوی په شریکه یوه لویه قطعه د مځکی په لاهور کښی اخستی ده، په هغه کښی یوپلاټ ماهم داخستلو اراده کړیده، ددغه مځکی قبضه لا تراوسه سوسائټی ته نه ده ورکول سوی، ما اوس د پلاټ څه پیسی اداء کړیدی. او اوس لازماً په ذاتی ملکیت کښی نه دی راغلی. که په دی کښی په چا باندی زکوة وی نو د هغه د قیمت تعین به څنګه کیږی؟ واضحه دی وی، چي تر اوسه ددغه پلاټونو سرکاری ټیکس وغیره څه حصه واجب الاداء ده.

دوهم سوال: که د خپل ذاتی استعمال د پاره سکوټر یاموټر اوساتل سی نو آیا د دی په مالیت باندی به هم زکوة عائد کیږی؟

جواب: د دی په سلسه کښی په یو اصل باندی ځان پوه کړه، چي مځکه کور، ګاډی یا د سکوټر په مالیت زکوة واجب نه دی، او په دی باندی به زکوة هغه وخت واجب وی کله چي داخالص د تجارت په نیت واخستل سی، او په خپل ملکیت کښی د راوستلو په

نمائه اولا وبای وجه استفاد ضمه الخ. وفی مراقی الفلاح علی الطحطاوی (کتاب الزکوة) ص ۳۸۹ (طبع نور محمد کتب خانه) وشرط وجوب ادائها حولان الحول علی النصاب الاصلی واما المستفاد فی اثناء الحول فیضم الی مجانسه ویزکی بتمام الحول الاصلی سواء مستفید بتجارة او میراث او غیره الخ. (محمد زبیر حق نواز)

وخت د تجارت نیت وی، تردی که مځکه صرف د شاملولو د پاره واخستل سوه او په زړه کښی یی داخیال هم وو، که څه فائده ئی کوله نو خرڅه به ئی کړو، بیا هم په دی زکوة نسته، د دی اصولو لاندی په الف، ج او د، باندی یقیناً زکوة نسته، البته د. ب. په باره کښی دا وګوره چي آیا دا پلاټ د تجارت په غرض اخستل سوی وو یا د شاملولو په غرض چي شاید کله نفع اوکړی، په اول صورت کښی زکوة د هغه د موجوده مالیت چي دوه نیم فیصد په حساب سره به واجب وی او په دوهم صورت کښی به نه وی او په دی دواړو صورتونو کښی امتیاز کول بعضی اوقات مشکل وی نو ځکه ته په دی احتیاط زکوة ورکړه نو ډیره بهتره ده.

فی الدر المختار وشرط مقارنتها لعقد التجارة وهو کسب المال بالمال بعقد شراء او إجارة او استقراض ولونوی التجارة بعد العقد او اشتری شیاءً للقنیة ناویًا انه ان وجد ربحًا باعه لا زکوة علیه، شامی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۹/۸/۹ھ

د استعمال په زیوراتو د زکاة حکم

سوال: د سروزرو داسی زیورات چي په استعمال کښی وی، یا داسی لوښی (د سرو یا سپینو زرو) په هغه باندی د زکوة څه حکم دی؟

جواب: د سره او سپینو زور برابره خبره ده که په زیوراتو په شکل کښی وی یا دلوښو په شکل کښی وی په هغه باندی زکوة واجب دی، (۲) کم خلګ چي دا وائی چي د

(۱) الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۷۳. ۲۷۴ (طبع سعید) وفی البدایع ج: ۲. ص: ۲۱ (طبع رشیدیه کویټه) واما صفة هذا النصاب فهی ان یکون معد التجارة وهو ان یمسکها للتجارة و ذالك بنیة التجارة مقارنة لعمل التجارة. وفی الدر المختار (طبع سعید کراچی) ج: ۲ ص ۲۲۷. او نیة التجارة فی العروض اما صریحا ولابد من مقارنتها لعقد التجارة.... الخ.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۲۹۸ (طبع سعید کراچی) (ومعموله ولوتبرا او حلیا مطلقا) مباح الاستعمال او لا ولوتجمل والنفقة لانهما خلقا اثمانا فیز کیهما کیف کانا....الخ. وفی الشامی قوله ومعموله ای مایعمل من نحو..... والاوانی وغیرهما.

استعمال په زیوراتو باندی زکوٰة نسته، د هغوی خبره صحیح نه ده، دا یاد ساتی چي د سپینو یاسرو زرو لوښی استعمالول جائز نه دی. (١)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۲/۹/۲۸ھ
(فتوی نمبر ۲۲۹۱/ ۲۷ھ)

د مور د کور او د خسرګنی د اړخه ورکول سوو زیوراتو باندی د زکوٰة حکم

سوال: په دي مسئله کښی ددین علماء څه فرمایي چي د ښځي کم کالي د سرو زرو وي چي دهغی مور ورکړي وی او د خسرګنی د اړخه ور کول سوی وی، د هغه زکوٰة په چاباندی واجب دی؟ مهربانی اوکړی او د ټول تفصیل څخه می خبر کړی مهربانی به مو وی.

جواب: د مور د کور څخه چي کم زیورات ورکول سوی وی د هغه زکوٰة پخپله په دی ښځی باندی دی، (٢) او کم چي د خسرګنی د اړخه ورکول سوی وی که هغه یی د ښځی ملکیت کړی وی نو په ښځی باندی فرض دی، یا د هغه په خاوند باندی.

والله تعالی اعلم
۱۳۹۹/۹/۲۴ھ
(فتوی نمبر ۱۲۹۷/ ۳۰ د)

د زکوٰة متعلق متفرق سوالونه

د جهیز دپاره یو خو اخستل سوی شیان، مځکه او په قرض باندی د زکوٰة حکم

١. سوال: هغه قیمتی سامان چي د ماشومانو دواده د پاره اخستل سوی وی مثلاً پارچه جات، ټی وی، ریفریجر او نور د کور د استعمال مشینونه وغیره، په دی کښی زکوٰة سته او که نه؟

(١) وفی الدر المختار ج: ٢ ص: ٣٤١ (طبع ایچ ایم سعید) وکره الاکل والشرب والادهان والتطبیب من اناء ذهب وفضة للرجل والمرأة لاطلاق الحدیث..... الخ، او همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ٤ ص ١٢٨

(٢) د همدی صفحی دوهمه حاشیه.

جواب: د ماشومانو په واده کښی د ورکولو د پاره کم سامان چي په سوال کښی ذکردی په هغه باندی زکوٰة نسته. (١) که چیری زیورات ماشومانو ته په واده کښی د ورکولو د پاره اخستل سوی په هغه باندی زکوٰة سته.

٢. سوال: داسی پیسی چي د کارو باری مقاصدو دپاره، د مځکی د خریداری په مد کښی اداء سوی وی، تر اوسه د کافی پیسو اداء کول او د مځکی د ملکیت منتقلی لاباقی وی په دی پیسو زکوٰة سته؟

جواب: ترڅو چي د مځکی بیعه نه وی سوی تر هغه وخته پوری په دی پیسو زکوٰة فرض دی، خو د زکوٰة اداء کول هغه وخت واجب وی کله چي پیسی واپس ورکول سی یا د مځکی انتقال ستا په نوم باندی سی، په هغه وخت چي دی د څومره کلو پیسو زکوٰة نه وی اداء کړی د هغه ټولو کلو زکوٰة اداکول به پریو وخت باندی وی. (٢) بیاهم که هرکال د خپلو نورو اثاثو سره د دی پیسو زکوٰة هم اداء کوی نو زکوٰة به اداء کیږی. (٣) او که مځکه یی په دی غرض اخستی وی چي دابه خرڅه کړو هغه به حاصله کړو، نو د مځکی په مالیت به زکوٰة هرکال فرض وی. (٤) او هرکال د هغه وخت د بازاری قیمت دوه نیم فیصده زکوٰة به ورکول کیږی.

٣. سوال: داسی مځکه چي په مستقبل کښی رهایشی دوکان یا د کارو باری دفتر د پاره اخستل سوی وی خو پیسی یی واجب الاداء پاته نه وی، د مځکی ملکیت منتقل سوی وی د دی څه حکم دی؟

(١) وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٢٦٤ (طبع سعید کراچی) (ولافی ثیاب البدن واثاث المنزل ودور السکنی ونحوها.... اذا لم تنو لتجارة، وفی الشامیة تحت قوله (واثاث المنزل).... ای کثیاب البدن الغیر المحتاج الیها وکالحوانیت والعقارات وفی الهدایة ج: ١ ص ١٨٢ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) ولیس فی دور السکنی وثیاب البدن واثاث المنزل ودواب الرکوب وعبید الخدمة وسلاح الاستعمال زکوٰة.

(٢) داحواله د راتلونکی سوال په جواب کښی راځی.

(٣) وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٢٦٦، ٢٦٧ (طبع سعید کراچی) ولوکان الدین علی مقر ملئی او علی معسر او مفلس.... فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضی.

(٤) وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٢٦٧ (طبع سعید کراچی) او نیة التجارة فی العروض اما صریحا ولابد من مقارنتها لعقد التجارة.

جواب: د کمی ورځی ځخه چي د دی مځکی بيع ستا په نوم سوه د هغه ورځی ځخه وروسته نه په دی پيسو زکوة فرض دی او نه د دی مځکی په ماليت باندی ځکه چي هغه درهايشي مقصد د پاره اخستل سويده، خو په بيع کيدو سره اول چي دی کمی پيسی د مځکی اخستلو دپاره ورکړی وی، په هغه باندی زکوة فرض وو، او بيع مکمل کيدو باندی د هغه اداء کول لازمی دی، لقول الشامی، الظاهر أن منه مال المرصد المشهور فی ديارنا لانه اذا انفق المستأجر لدار الوقف علی عمارتها الضرورية بامرالقاضی للضرورة الداعية اليه يکون بمنزلة استقراض المتولی من المستأجر فاذا قبض ذالك کله او اربعين درهمًا منه ولو باقتطاع ذالك من اجرة الدار، تجب زکوته لما مضی من السنين والناس عنه غافلون. (شامی) (١).

۴. سوال: داسی پيسی چي د زراعتی مځکی د خريداری دپاره اداء سوی وی. د هغه مځکی ملکيت حاصل سوی وی، خو مځکه په څه کار نه راځی؟

جواب: د دی جواب هم د دريم سوال په شان دی چي په کمه ورځ بيع مکمله سوه د هغه ورځی ځخه نه په پيسو باندی زکوة سته او نه په مځکی باندی، خو د بيع کيدلو ځخه مځکی په پيسو باندی زکوة فرض وو که هغه يی نه وی اداء کړی نو اداء دی کړی.

۵. سوال: د کارو باری ځای دپګړی په حد کښی اداء سوی رقم هر کال زياتيږی؟

جواب: دا سوال واضح نه دی واضح يی اوليکی نو جواب به در کول سی.

۶. سوال: د کارو بار په ځای کښی په اينبوول سوی فرينچر باندی زکوة سته او که نه؟

جواب: که دا فرينچری د خرڅولو په نيت نه دی اخستی نو په دی زکوة فرض نه دی. (٢)

۷. سوال: د کارو باری په استعمال کښی په راتلونکی شيانو او مشين باندی زکوة سته او که نه؟

جواب: که دا شيان هم د خرڅ دپاره نه وی اخستل سوی نو په دی باندی زکوة نسته. (٣)

---

(١) رد المختار ج: ٢ ص: ٣٠٥ (طبع ايچ ايم سعيد)

(٢) ايضا

(٣) وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٢٢۴، ٢٢۵ (ايچ ايم سعيد) ولافی ثياب البدن...... واثاث المنزل ودور السکنی ونحوها... اذا لم تنو التجارة...... وکذالك الات المحترفين وفی الهداية کتاب الزکوة ج: ١ ص: ١٨٢ (طبع شرکت علميه) وليس فی دور السکنی..... زکوة ...... وعلی هذا...... الات المتحرفين.

٨. سوال: داسی کالی چي د اهليئی د روز مره او تقريباتو په مواقعو کښی استعماليږی زکوة باندی سته او که نه؟

جواب: په دی باندی هرکال زکوة فرض دی. (١) او په کمه ورځ چي زکوة اداء کيږی د هغه ورځی د سروزرو په بازاری قيمت باندی دوه نيم فيصده زکوة لازم دی په دی شرط چي هغه کالی نصاب ته رسی او نصاب دوو پنځوس نيمی تولی سپين زر يا د هغه قيمت.

٩. سوال: ذاسی کالی چي د نابالغي انجلی روزانه او د تقريباتو په مواقعو باندي استعماليږي، په هغه باندی زکوة سته او که نه؟ که سته نو څوك به د هغه زکوة ورکوی؟

جواب: که هغه کالي د نابالغي ماشومي د مور يا پلار ملکيت دی، نو د چا چي ملکيت وی په هغه به زکوة فرض وي. (٢) په دی شرط چي د هغه ټول مملوکه زيورات نصاب ته رسي، او که هغه کالی يې نابالغه ماشومي ته هبه کولو سره هغه ماشومه مالکه جوړه کړي وي نو بيا ترڅو چي ماشومه نالغه وي ترهغه وخته پوري د هغه زکوة د چا په ذمه هم نسته. (٣) د بلوغ ځخه وروسته به په هغه ماشومي د هغه کالو زکوة واجب وي.

---

(١) وفی سنن ابی داود باب الکنز وما هوو زکوة الحلی ج: ١ ص ٢٢٢ (مکتبه حقانيه ملتان) عم عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان امرأة اتت رسول الله ﷺ ومعها ابنة لها وفی يد ابنتها مسکتان غليظتان من ذهب فقال: اتعطين زکوة هذا؟ قالت: لا، قال أيسرك ان يسورك الله بهما يوم القيامة سوارين من نار؟ قال فخلعتهما فالقتهما الی النبی ﷺ قال هما الله ولرسوله وکذا فی الدراية فی تخرج احاديث الهداية علی الهداية ج: ١ ص ١٩٦ (طبع شرکت علميه) وفی سنن ابی داود ج: ١ ص ٢٢۵

(١) (طبع مکتب حقانيه ملتان) عن عبدالله بن شداد بن الهاد انه قال: دخلنا علی عائشة زوج النبی ﷺ فقالت: دخلت علی رسول الله ﷺ فرأى فی يدی فتخات من ورق، فقال: ما هذا ياعائشه؟ فقلت: صنعتهن اتزين لك يارسول الله! قال: اتؤدين زکاتهن؟ قلت: لا او ماشآء الله قال: هو حسبك من النار وراجع للتفصيل اعلاء السنن ج: ٩ ص: ٥٣، ٥۴. وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٢٩٨. (طبع سعيد کراچی) ومعموله ولوتبرأ او حليا مطلقا مباح الاستعمال اولا ولو للتجمل والنفقة لانهما خلقا اثمانا فيز کيهما کيف کان الخ. وکذافی البدائيع ج: ص ١٧. وفتح القدير ج: ٢ ص: ١٢۵. (طبع مکتبه رشيديه کويته).

(٢) سابعة حواله وګوری.

(٣) وفی الدر المختار ج: ٢ ص ٣٥٨. ٣٥٩) (طبع سعيد) وشرط افتراضها عقل، بلوغ، واسلام. فی رد المختار تحت (قوله عقل وبلوغ) فلاتجب علی مجنون وصبی لانها عباده محضة وليس مخاطبين بها

۱۰. سوال: خام سره زر چي د ماشومانو دواده د پاره یې ایښي وي؟
جواب: ددي هم هغه زکوٰة حکم دی چي په نهم سوال کښې تېر سو.

۱۱. سوال: داسي پیسي چي بل چاته یې د قرض په طور ورکړی وی او د هغه څوکاله سوی وی او دهغه دبیرته کولو امید وی؟
جواب: په دی باندی زکوٰة فرض دی خو اداء کول به یې هغه وخت واجب وی کله چي هغه پیسی بیرته ورکول سی نو د څوکالو پیسی چي د مقروض سره وی هغوندی زکوٰة ورکول به یه یووار واجب وی. (۱) خو که د پیسو ملاویدلو څخه مخکښې هرکال د نورو اثاثو سره د دی هم زکوٰة اداء کوی نو زکوٰة به یې اداء کیږی بلکی ښه به وی. (۲)

۱۲. سوال: داسی پیسی چي بل چاته دی د قرض په طور ورکړی وی او د هغه څوکاله سوی وی او د بیرته ورکولو امید یې نه وی؟
جواب: که د قرض وصولیدلو امید نه وی نو ترڅو چي وصول نسی په هغه زکوٰة واجب نه دی، بیا هم چونکی بعضی فقهاء دا وایی چي که په قرض باندی عدالتی ثبوت موجود وی نو په هغه زکوٰة فرض دی، ځکه احتیاط په دی کښې دی چي د وصولیدلو سره دټولو تیرو سوو کلونو زکوٰة اداء سی. (۳)

وفی الهدایة ج: ص ۱۲۸. (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) ولیس علی الصبی ومجنون زکوٰة (الی قوله) ولنا انها عبادة فلا تتأدی الا بالاختیار تحقیقا المعنی الابتلاء ولا اختیار لهما لعدم العقل.
(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۳۰۵. (طبع سعید کراچی) واعلم ان الدیون عند الامام ثلثة قوی ومتوسط وضعیف (فتجب) زکوتها اذاتم منصابًا وحال الحول) لکن لافورًا بل (عند قبض اربعین درهما من الدین) القوی کقرض (وبدل مال تجارة) فکلما قبض اربعین درهمًا یلزمه درهم.
(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۳۹۳. (طبع سعید کراچی) (ولوعجل ذونصاب) زکوته (لسنین او لنصب صح) لوجود السبب وفی ردالمختار (قوله لوجود السبب) ای سبب الوجوب وهو ملك النصاب النامی فیجوز التعجیل السنة واکثرا الخ وکذا فی الهندیه ج:۱ ص ۱۷۶.
(۳) وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۸۲. (طبع شرکت علمیه ملتان) ولوکان الدین علی مقرملئی از معسر تجب الزکوٰة لامکان الوصول الیه ابتداء وبواسطة التحصیل وکذا لوکان علی جاحد وعلیه بینة. وفی الدر المختار (کتاب الزکوٰة ج: ۲ ص: ۲۶۶، ۲۲۲ ولوکان الدین علی مقرملئی او علی معسر او مفلس. او علی جاحد علیه بینة.... فوصل الی ملکه لزم زکوٰة مامضی.
وکذا فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۶ ص ۹۰.

کما فی الدر المختار او علی جاحد علیه، وعن محمد لازکوٰة وهو الصحیح. وقال الشامی: الحاصل أن فیه اختلاف التصحیح. (۱)
ثم قال فی باب المصرف: ومال الرحمتی الی هذا، وقال بل فی زماننا یقر المدیون بالدین وبملائته، ولایقدر الدائن علی تخلیصه منه فهو بمنزلة العدم (۲) وبه افتی حکیم الامت فی امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۳۱، ۳۲. (۳)

۱۳.
سوال: داسی پیسی چي د څو کالو تیریدلو څخه وروسته باوجود په کاروباری لین دین کښې واجب الوصول وی او د هغه دوصولیدلو امید وی په هغه باندی زکوٰة فرض دی او که نه؟
جواب: که د وصولیدلو امید وی نو په هغه زکوٰة فرض دی خو د زکوٰة اداء کول به په هغه وخت کښې لازم وی کله چي رقم وصول سی او په حصول سره به یې د ټولو تیر سوو کلونو زکوٰة فرض سی. (۴)

۱۴. سوال: داسی پیسی چي د څوکالو تیریدلو باوجود د کارو باری لین دین په سلسله کی واجب الوصول وی او د هغه د اصولی امید نه وی؟
جواب: د دی جواب هم د ۱۲ سوال د جواب په شان دی.

۱۵. سوال: داسی پیسی چي د ذاتی رهایش د پاره د کور اخستو په سلسله کی اداء سوی وی، د کور قبضه اخستلو سره یې په هغه کی اوسیدل اختیار کړی وی او د ټول قیمت یوه معمولی حصه اداء کول باقی وی او کور تر اوسه د سابقه مالك په نوم باندی وی په دی زکوٰة سته او که نه؟
جواب: تر څو چي د کور بیعه مکمله سوی نه وی تر هغه وخته پوری په هغه پیسو زکوٰة فرض وو، خو چي کله بیع مکمله سوه نو نه په پیسو زکوٰة سته او نه په کور، که څه هم په کاغذاتو کی هغه کور د بل چا په نوم باندی وی، خو چي کله د بیعی ایجاب او قبول اوسو نو بیع وسوه، اوس چي کوم رقم ورکول باقی دی په هغه باندی زکوٰة نسته بلکی

---

(۱) الدر المختار ج: ۲ ص ۲۶۷.
(۲) رد المختار ج: ص: ۳۴۴. (طبع سعید).
(۳) ص: ۳۳. ۳۴. (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)
(۴) لومړی حاشیه وګوری.

هغه د هغه سړی په ذمه باندی قرض دی چي هغه د خپل کل قابل زکوٰة سرمایه نه منها کولی سی.

۱۶. سوال: هغه موټر چي د ذاتی کور د استعمال څخه علاوه په کارو باری مقاصدو کی هم استعمالیږی په هغه زکوٰة سته او که نه؟

جواب: هغه موټر چي د خرڅ په نیت یی نه وی اخستی په هغه زکوٰة نسته. (۱)

۱۷. سوال: هغه قیمتی سامان چي د کور د استعمال د پاره اخستل سوی وی مثلاً ټی وی، ر[illegible] یجریټر، قالین، فرینچر، وغیره په دی زکوٰة سته او که نه؟ او په کوم شی چي زکوٰة فرض دی د هغه به څومره زکوٰة اداء کول وی؟

جواب: په دی سامان زکوٰة نسته (۲) او په مذکوره شیانو کی چي په څومره شیانو زکوٰة فرض دی په هغه ټولو باندی د زکوٰة شرحه دوه نیم فیصده ده. (۳)

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱۲/ ۱۴۰۱هـ

(فتوی نمبر ۱۸۳۸/ جواب: ۳۲)

د جی پی فنډ په پیسو باندی اخستل سوی د کور په کرایه د زکوٰة حکم

سوال: سائل د یوی محکمی څخه ریټایرډ سوی دی هغه محکمی ته پیسی راکړی د جی پی فنډ په صورت کښی چي د هغه د تنخواه څخه کټه کیده، په ته پیسو مو کورونه جوړ کړل او په کرایه مو ورکړل او ته پیسی می په بینك او ډاکخانه کی په دی وجه کښی ښوولی چي یو خو به پیسی محفوظی وی، او دوهمه خبره داده چي د هغه په آمدن سره به وخت تیره وو، اوس ددواړو په باره کی د سود او زکوٰة شرعی احکام اوښایه او د کور د آمدن په بچت باندی زکوٰة وی او که نه د کور په ټول قیمت باندی؟

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۲۲۴. ۲۲۵. ولا فی ثیاب البدن.... واثاث المنزل..... وکذالك الات المتحرفین ..... الخ. وفی الهدایه ج: ۱ ص ۱۸۲ (طبع شرکت علمیه ملتان) ولیس فی دور السکنی وثیاب البدن واثاث المنازل.... زکوة.... والات المحترفین.... الخ.

(۲) ایضاً.

(۳) وفی الهندیة ج: ۱ ص ۱۷۲ (طبه مکتبه رشیدیه کوئته)، تجب فی کل مئتی درهم خمسة دراهم وفی کل عشرین مثقال ذهب نصف مثقال، وایضاً فی الهندیة ج: ۱ ص ۱۷۹ (طبع مکتبه رشیدیه کوئته) ثم فی کل اربعین درهما درهم وفی کل اربعة مثاقیل قیراطان.... الخ.

جواب: د جی پی فنډ په پیسو باندی چي تا کوم کور جوړ کړیدی او په کرایه دی ورکړیدی نو د هغه آمدن ستا دپاره حلال دی، خو چي کوم رقم دی په بینك یا ډاکخانه کی اینښی دی، په هغه باندی چي کوم سود لګیږی د هغه اخستل حلال نه دی صرف خپل اصل رقم وصولولی سی اضافه نه دی بلکی ښه داده چي په کرنټ اکاونټ کی یی کښیږدی چي په هغه سود نه لګیږی او د کور څخه چي کومه کرایه در کول کیږی په هغه به زکوٰة وی د کور په قیمت به زکوٰة نه وی.

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۱/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۱۱۲۹/ ۲۸ ج)

د بینک دا ړخه په ملاویدونکی سود باندی د زکوٰة حکم

سوال: په بینك یا ډاکخانه کی په جمع سوی رقم باندی به زکوٰة وی یا د هغه په منافع باندی؟

جواب: په بینك یا ډاکخانه کی چي څومره اصل رقم اینښی دی په هغه زکوٰة فرض دی. خو چي کومه اضافه بینك یا ډاکخانی درکړی ده هغه سود دی، د هغه اخستل حلال نه دی او که په غلطی دی اخستی وی نو صدقه کول یی واجب دی.

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۱/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۱۱۲۹/ ۲۸ ج)

زکوٰة په کومو شیانو فرض دی

سوال: زکوٰة په پیسو باندی کیږی او په سرو او سپینو زرو باندی هم کیږی، خود دی څخه علاوه په نورو شیانو هم زکوٰة کیږی او که نه وی نو ولی؟

جواب: شرعاً زکوٰة صرف په سرو او سپینو زرو، نقدو، مال، تجارت، زرعی پیداوار او حیوانانو باندی فرض کیږی، په نورو شیانو باندی نسته، دا ولی، مختصر جواب دادی چي د الله ﷻ حکم همدا شان دی.

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۱/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۱۱۲۹/ ۲۸ ج)

په سرو زرو او این آئی ټی یونټ باندی د زکوٰة حکم

سوال: ما مبلغ شل زره روپی د پراویډنټ فنډ څخه په قرض واخستی او په هغه ...
(N.I.T) یونټس او سره زر واخستل آیا په دی به زکوٰة واجب وی؟ زما عمر (۵۵) کال ...
دی. د دی شلو زرو روپو قرض قسط قسط هره میاشت د تنخواه څخه کټ کوم او ما ...
به پراویډنټ فنډ (۵) کاله وروسته را کول کیږی.

جواب: په مسئوله صورت کښی چي تا کوم سره زر او کوم این. ای. ټی یونټ حاصل ...
کړیدی، د هغه زکوٰة په تاباندی واجب دی تا چي پخپل ځان کوم پراویډنټ فنډ کوم ر...
اخستی دی هغه شرعًا قرض نه دی بلکی د خپل باقی ماهانه حق وصول دی کړیدی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۹/۲۳ھ
(فتوی نمبر ۱۹/۱۰۸۱ ج)

د زکوٰة د ورکولو د پاره د قرض په طور باندی اخستل سوی رقم باندی د زکوٰة حکم

سوال: د زید سره د څلویښتو زرو روپو حصص دی او د واجب الاداء زکوٰة د پاره ز...
۱۰۰۰ روپی اداء کولو دپاره د زید سره نقد رقم نسته، هغه د زکوٰة اداء کولو دپاره ...
قرض اخستل غواړی. دا شان قرض یو زر روپی اخستلو سره زکوٰة اداء کوی. نو آیا په ...
څلویښتو زرو به زکوٰة ورکوی او که د یوکم څلویښت زرو؟ یا به داسی ووایو چي زر ...
(۱۰۰۰) روپی به زکوٰة کی ورکوی او که ۹۷۵ روپی به اداء کوی؟

جواب: په مسئوله صورت کی به هغه پوره د څلویښتو زرو زکوٰة یعنی زر ۱۰۰۰ روپی
اداء کوی. کومی روپی چي یی د زکوٰة د اداء کولو د پاره قرض اخستی دی هغه به د
قابل زکوٰة رقم نه منها کولی نسی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۹/۲۳ھ

یوځه مځکه دوی تولی سره زر او په یوځو پیسو باندی د زکوٰة حکم

سوال: زما سره مځکه ده، ما تیر کال هم په دی میاشت کی په پنځه ویشت زره خرڅه
کړل، خو د نوم تبدیلی د اخستونکی په نوم خلور میاشتی وروسته وسوه. د دی څخه
کړیده، یعنی اخستونکی زما په جیب کی پیسی اېښی دی او ما کاغذات هغه ته حواله
مځکښی زما سره هیڅ هم نه وه، صرف دوی تولی سره زر وه، هغه په پنځه ویشت زرو

کی شل زره د خپل ځوی د پاره بل ملك ته ولیږل، د ځوی سره می د اوسیدلو د پاره
کور نه وو، هغه په هغه پیسو کور واخستی، د شعبان په میاشت کی د مځکی د
خرڅولو خبره سویده، پیسی پارټی د پنځو کسانو په مینځ کی می کښی ښوولی. د دی
څخه وروسته د رمضان میاشت راله، رمضان کی ما زکوٰة نه وو ایستلی. ځکه چي
زماسره پیسی نه وی دوی میاشتی وروسته په پیسو ملاویدو سره شل زره ځوی ژا
ولیږلی. اوس به د ټولو پیسو زکوٰة اداء کیږی او که نه؟

جواب: که د مځکی خرڅولو څخه مخکی د دوو (۲) تولو سرو زرو څخه علاوه څه لږ
سپین زر یا نقد رقم هم ستاسره موجود وه. برابره خبره ده که هغه پنځه لس روپی ولی
نه وی نو په تاباندی د رمضان څخه وروسته د سروزرو څخه علاوه د پوره پنځه ویشت
زرو زکوٰة ورکول فرض دی د ټولو پیسو زکوٰة اوباسه [۱] او که د دوو (۲) تولو سرو زرو
څخه علاوه څه نقد رقم موجود نه وی، نو د مسئلی دوباره پوښتنه وکړه.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۸/۲۷ھ
(فتوی نمبر ۲۸/۸۹۲ ج)

د سرو او سپینو زرو زکوٰة به د خرڅ د قیمت په اعتبار سره ورکول کیږی

سوال: تقریبًا شل کاله یوی ښځی چي د هغه سره د اوو نیمو تولو سرو زرو څخه زیات
زیورات دی، خو زکوٰة یی نه دی ایستلی اوس زکوٰة ایستل غواړی نو څه طریقه کار به
وی؟ آیا د سروزرو موجوده قیمت به لګول کیږی. او که د کوم کال څخه چي زکوٰة
اوباسی د هغه کال چي د سرو څه قیمت وی په هغه به زکوٰة اوباسی؟

جواب: په دغه ښځی باندی واجب دی چي د څومره کلونو زکوٰة هغی نه دی اداء کړی د
هغه ټولو کلونو زکوٰة دی اداء کړی. واضحه دی وی چي د زکوٰة وجوب د هغه وخت
څخه به شماریږی. د کله څخه چي ښځی سره په قدر د نصاب مال راغلی وی او ورسره
یو کال یی پوره سوی وی، البته د روستی هرکال زکوٰة د موجود [۲] قیمت په اعتبار
سره اداء کیږی.

---

[۱] د ص ۳۹ حاشیه نمبر ۱. وګوری.
[۲] والخلاف فی زکوٰة المال فتعتبر القیمة وقت الاداء فی زکوٰة المال علی قولهما. وهو الظهر. وقال ابوحنیفة یوم الوجوب (کما فی البرهان غنیة ذوی الاحکام فی بغیة د،، الحکام لابی الخلاص

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۵۵۵/ ۲۷و)

په پرایویټ فنډ باندی د زکوة مسئله

سوال: آیا په پرایویټ فنډ باندی کال په کال زکوة باسل کیږی؟ هرکله چي هغه د دی ملازم په قبضه کښی نه دی او د ملازمت د اختتام څخه وروسته په دی ملازم ته اداء کیږی.

جواب: د پراویډنټ فنډ په پیسو به زکوة هغه وخت واجبیږی کله چي هغه د ملازم په قبضه کښی راسی د دی څخه مخکی په هغه زکوة واجب نه دی او په قبضه کی د راتلو څخه وروسته به د تیرو کلونو زکوة واجب نه وی بلکی هم د هغه کال واجب وی چي په کوم کال ورته قبضه کښی راغلی وی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۵۵۵/ ۲۷و)

په ریډیو، فریج او فرینچر د زکوة حکم

سوال: آیا زکوة په ریډیو، صوفه سیټ، میز، کرسی، ګلدان، ټیلی ویژن، فریج یا د دی په شان نورو شیانو باندی هم د هغوی د قیمت خرید یا موجوده بازاری قیمت باندی به ورکول کیږی؟ که په دی شیانو زکوة واجبیږی؟

الشرنبلالی من حاشیه درر الحکام ج: ۱ ص: ۱۸۱) وفی البرهان شرح مواهب الرحمن ج: ۱ ص: ۵۰۷ (مخطوطة) واعتبر هما یوم الاداء اذا الاصل هو اداء اجزاء من النصاب وللمزکی حق النقل الی القیمة فیعتبر یوم النقل وهو وقت الاداء وصار کما لو نقصت بعفونته وکالسوائم وهو الاظهر. لماقلنا. وکذا فی بدائع الصنائع ج:۲ ص: ۲۲ (طبع سعید) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۲۸۶ (طبع سعید کراچی) وتعتبر القیمة یوم الوجوب وقالا: یوم الاداء وفی السوائم یوم الاداء اجماعًا وهو الاصح، ویقوم فی البلد الذی المال فیه الخ وفی الشامیة تحته وفی المحیط یعتبر یوم الاداء بالاجماع وهو الاصح فهو تصحیح القول الثانی الموافق لقولهما وعلیه فاعتبار یوم الاداء یکون متفقًا علیه عنده وعندهما.

(۱) د مکمل تفصیل د پاره په پراوډنټ فنډ باندی د زکوة او سود مسئله. مرتبه مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب قدس سره. مطبوعه دار الاشاعت.

جواب: په ریډیو، فرینچر، ډیکورشن په سامان او ریفریجریټر باندی چي د کور د استعمالولو د پاره وی نو په دی زکوة واجب نه دی. (۱) او که د تجارت د پاره وی نو د هغه د بازاری قیمت په لحاظ سره به زکوة واجب وی.

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۵۵۵/ ۲۷و)

په کور باندی د زکوة حکم

سوال: زما ذاتی کور چي په قرض باندی می جوړ کړیدی او قرض هم تراوسه اداء سوی نه دی، د دی په یوه حصه کی رهائش دی او باقی حصه په کرایه باندی ده. او په رهایش باندی ده ته اداره چیرته چي هغه ملازم دی ماهوار کرایه اداء کوی. نو آیا دا کور به زکوة اداء کولی سی که یی اداء کولی سی نو په څه طریقه سره؟

جواب: په کور باندی زکوة واجب نه دی (۲) البته د دی د کرایه په پیسو د اخراجاتو د بچ کیدلو څخه وروسته چي ذخیره کولی سی په هغه باندی د نورو پیسو سره زکوة واجب وی. (۳) او څومره قرض چي په انسان واجب الاداء وی په هغوندو پیسو زکوة هم واجب نه دی. (۴)

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۵۵۵/ ۲۷)

په قومی د فاعی سر ټیفکیټ باندی د زکوة حکم

(۱) د ص ۴۷ حاشیه ۱ وګوری.

(۲) وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۸۶ (مکتبه شرکت علمیه) ولیس فی دور السکنی..... زکوة.

(۳) اذا اجر دارا. او عبده بمائتی درهم لاتجب الزکوة مالم یحل الحلول بعد القبض فی قول ابی حنیفة. (قاضیخان ج: ۱ ص: ۲۵۳)

(۴) وفی الدر المختار ج: ۲ ص ۲۶۰ (طبع رشیدیه کویته) (شرط وجوب الزکوة) فارغ عن دین له مطالب من جهة العباد. سواء کان الله کزکوة وخراج او للعبد...... الخ. وفی الهدایة کتاب الزکوة ج: ۱ ص: ۱۸۶ (مکتبه شرکت علمیه ملتان) ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوة علیه..... وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصابًا.

سوال: د ملازمت څخه چي کومه تنخواه وغیره ورکول کیږي په هغه باندی د حکومت امدنی ټیکس (انکم ټیکس) ورکول کیږي. په زیاتی آمدنی باندی د ټیکس څخه د بچ کیدلو د پاره قومی د فاعی سر ټیفکیټس د مرکزی حکومت جاری سوی اخستل کیږي هغه د پنځو کالو پوری د دی وجی څخه یی نسی خرڅولی چي په دی دوران کی په دی مالیت باندی راتلونکی ټیکس کی خلاصون ورکول کیږي که د پنځو کالو څخه مخکی یی خرڅ کړي نو بیا د خرڅ سوی سر ټیفیکیټ څخه په حاصل سوو پیسو باندی امدنی ټیکس ورکول وی. دا مجبوراً اخستل کیږي د کور په اخراجاتو کی ډیر د کمی کولو سره جواب ولیکی چي په داسی اخستل سوی قومی د فاعی سر ټیفیکیټ په مالیت باندی کال په کال تر څو چي هغه خرڅ سوی نه وی نو زکوة به ورکول کیږي؟

جواب: قومی د فاعی سرټیفیکیټ په اصل کی یوقرض دی چي حکومت ته ورکول کیږي، لهذا په دی باندی زکوة واجب دی ځکه چي داقوی دین دی که څه هم دا دمجبوری د وجی ورکول سوی وی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ

په زکوة کی د اخستلو د قیمت حساب دی او که د خرڅ د قیمت؟

سوال: موږ د خپل حساب کتاب د اسانتیا دپاره د زکوة حساب هر کال د دسمبر په میاشت کی کوو. لهذا په هغه وخت کی چي کوم مال زموږ سره وی په هغه وخت د مال قیمت د بازار د نرخ په حساب سره د اخستلو د قیمت څخه زیات وی او څه کم وی. آیا موږ د اخستلو په قیمت سره زکوة اداء کړو او که د بازار د نرخونو په حساب سره؟

جواب: په کوم تاریخ چي د زکوة کال پوره کیږي په هغه تاریخ د مال چي څومره سټاک موجود دی. د هغه قیمت هم د هغه تاریخ د نرخ په لحاظ سره دی ولګول سی. (۱) د

(۱) وفی البدائع ج: ۲ ص: ۱۰. اما القوی فهو الذی وجب بدلا عن مال التجارة كثمن عرض التجارة.... الی قوله.... والاختلاف فی وجوب الزكوة فیه الا انه لا یخاطب باداء شیئ من زكوة ما مضی مالم یقبض اربعین درهماً وكذا فی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ (طبع سعید) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ واعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زكوتها اذا تم نصابا وحال الحول لكن لافوراً بل عند قبض اربعین درهما من الدین القوی كقرض وبدل مال تجارة... الخ. ترڅو چي موږ د سیونګ ډیفنس سر ټیفکیټ د اصلی رقم څخه علاوه زیات رقم سود دی. او د دی اخستل ناجائز دی.

اخستلو د قیمت په لحاظ سره نه خو د زکوة د پاره د قمری میاشتی کوم تاریخ مقررول ضروری دی.

سوال: زموږ یوه کوشنی غوندی کار خانه هم ده چي په هغه کی موږ کپړه جوړوو د زکوة د ورکولو په وخت کی په کار خانه کی لاندینی مال پروت دی، ۱. سوت. ۲. خامه کپړه چي موږ جوړه کړیده. ۳. رنګینه کپړه چي خامه کپړه مو خپلی کار خانه کی رنګ کړیده، ۴. د تیاری کپړی بنډلی چي تیاری پرتی وی چي په جهاز یی بهر ملکونو ته روانه کړو، په دی باندی د زکوة څه حکم دی؟

جواب: سوت، خامی کپړی، رنګینی کپړی، او تیاری کپړی په هر یوی باندی زکوة واجب دی او په دی کی د هر شی قیمت د هغی ورځی د بازاری قیمت په لحاظ سره لګیږي، د اخستلو د قیمت اعتبار نسته. (۲)

سوال: آیا په سوت باندی زکوة د اخستلو د قیمت په اعتبار سره اداء کړو یا د وخت د مارکیټ په قیمت باندی، دوهم او دریم نمبر (یعنی خامه کپړه او رنګینه کپړه) په دی باندی زکوة د خپلی خرڅي چي ورباندی سویده په هغه یی اداء کړو. یا په هغه قیمت چي په کوم یی موږ خرڅوو، په دی کی څه مال د آرډر وی او څه مال بغیر د آرډر تیار همداسی وی؟

جواب: قیمت به نه د لاګت په حساب سره وی او نه د خوردی د نرخ په لحاظ سره. بلکی دا مال که ته په یوځای خرڅوی نو څومره قیمت چي د خرڅیدو کیدی سی هغه قیمت به لګول کیږي. (۳)

سوال: دریمه خبره دا چي په څلورم نمبر (یعنی د تیارو کپړو بنډلونه) باندی زکوة به موږ په خپل مصرف باندی اداء کوو، یا په هغه قیمت باندی چي په هغه باندی دا مال په جهاز کی روان سو. او موږ ته به د ګهاك څخه پیسی وصولیږي، راکول کیږي او عموماً د جهاز په انتظار کښی مال پروت وی؟

جواب: د دی جواب په دریم شمار کی سویدی.

والله سبحانه اعلم

(۱) وګوری د ص ۵۰ ددوهمه حاشیه.

(۲) د ۵۰ صفحی دوهمه حاشیه وګوری.

(۳) وګوری د ص ۵۰ دوهمه حاشیه

۲۲/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۲۷/ ۲۸ ب)

په زیوراتو باندی زکوة

سوال: د هندی سره دومره زیورات دی که هغه خرڅ کړی نو حج به باندی فرض سی او نقدی ورسره بالکل نسته، زکوة او قربانډی به څنګه کوی؟

جواب: په صورت مسئوله کی په هندی باندی حج، زکوة او قربانی فرض ده. [۱] که نقدی ورسره نه وی نو په چادی زیورات خرڅ کړی او د هغه څخه دی دا فرایض اداء کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۴۵/ ۱۸/ الف)

زکوة به د قرض منها کولو څخه وروسته ویستل سی او په زکوة کی د یوم اداء د قیمت اعتبار دی

سوال: په لاندینی املاکو به زکوة فرض وی او که نه؟

۱. دوه کورونه او یو دکان چي د هغه څخه میاشتنی آمدنی ۱۲۷۵ روپی دی.

۲. د کور والا د سرو زرو مقدار دیرش ۳۰ تولی، ورسره کوټ په بینګ کی ددولس زرو په عوض کی په ګانه کی اینبی دی، که په دی زیوراتو زکوة ستة؟ نو په کوم حساب سره؟

۳. د بینك ملازیم یم، پنځه سوه تنخواه راکول سیږی.

۴. دری څلور سوه را سره نقدی روپی هم دی چي کال باندی نه دی تیر سوی.

۵. مجموعی طور باندی دوو‌پنځوس زره سودی قرضه او پنځوس زره غیره سودی قرضه چي د هغی میاشتینی قسطونه د کور د کرائیی او دوکان څخه اداء کوم؟

جواب: په صورت مسئوله کی ستا داهیلی سره چي کومه طلا ده که هغه ستا ملکیت وی نو په تاباندی د زکوة فرض کیدو د پاره ضروری دی چي د طلا موجوده مالیت او ستا نقدی روپی (څومره چي هم وی) دواړه یو ځای کړه که ستا د ټولو قرضونو څخه

(۱) د صـ ۴۴ څلورمه حاشیه وګوری.

دومره زیاتی وی چي په هغه سره دوه نیم پنځوس تولی سپین زرو اخستلی سی (۱) نو که داسی نه وای نو په تاباندی زکوة واجب نه دی. (۲) په اول صورت کی به ته د سرو قیمت د هغی ورځی مطابق لګوی په کومه ورځ چي ستا کال پوره کیږی. (۳) بیا مجموعی قیمت را یوځای کړه، په هغه کی د خپلو نقدو روپو اضافه وکړه چي په دغه تاریخ تاسره موجود دی، (مخکنی څومره وی؟ د دی څخه بحث نسته) بیا د دی مجموعی قیمت څخه پخپله ذمه چي کمی قرضی باقی دی هغه تری منها کړه، څومره پیسی چي پاته سی په هغه به زکوة وی، د هغی څلوینبتمه حصه او باسه، او که دا زیورات ستا د ښځی ملکیت دی نو زکوة په هغه باندی فرض دی (خو په دی شرط چي د هغه په ذمه دومره قرض نه وی چي په هغه کی ټول زیورات خرڅ سی یا دومره خرڅ سی چي د نصاب په اندازه پاته نه وی) په دی صورت کی که ستاسره کله هم د سل دوه سوو روپو څخه زیاتی جمع نه سوی نو په تاباندی زکوة فرض نه دی، د کور او دوکان په عمارت او د مځکی په قیمت باندی هیڅ زکوة نسته، هو! د هغه چي کومه کرایه وصولیږی په هغه باندی د ذکرسوی تفصیل مطابق زکوة ستة، د زکوة د مفصل احکامو د پاره د جنتی کالی مطالعه وکړه، بیا درسالی احکام زکوة مصنف حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب مهتمم دار العلوم کراچي مطالعه وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۹۷۹/ ۲۸ج)

په مشترکه کارو بار کی د یوشریک زکوة نه اداء کول

سوال: د څه مودی څخه وروسته زما والد صاحب ماته متوجه سو، اللحمد لله په تبلیغی جماعت کی شرکت کوم، هغوی د کاروبار د پاره پنځه ویشت زره روپی راکړی وی چي د هغه ګټه او نقصان نه غواړی (واضحه دی وی چي داپیسی خو یی نه هبه کړی وی او نه یی قرض راکړی وی) پیسی داستعمالیدو سره یوکال وسو. پلار می زکوة نه

(۱) و

(۲) (وفی الهدایة کتاب الزکوة ج: ۱ ص: ۱۸۲ (مکتبه شرکت علمیه) ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوة علیه... وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصاباً.

(۳) د پنځوسمی صفحی دوهمه حاشیه وګوری.

ورکوی که زه زکوة ورکړم نو کیدی سی چي خفه سی نو آیا زه ددغه پیسو زکوة اداء کړم او که نه؟ زما په ملکیت کی څه زیورات دی، آیا د هغه زکوة د مذکوره بالا د منافع څخه اداء کړم نو اداء به سی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی د کال په ختمیدو باندی حساب ولګوه او دا متعین کړه چي په کارو بارکی ستا دسر مایی او منافع مالیت څومره دی څومره مالیت چي ستاثابت سی د هغه ټوله مالیت زکوة اداء کړه ته به عندالله بری سی (۱) او والد صاحب دی په دی خبری باندی اماده کولو کوشش وکړه چي هغه هم د خپلی حصی زکوة اداء کړی که هغه اداء نه کړی نو د هغه ثواب او عذاب په هغه باندی دی. ته به د خپل زکوة ورکولو څخه وروسته بری الزمه یی او ستا کارو بار حلال دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۵/۶ھ

قرض د مملوکه مال څخه د زیاتوالی په صورت کی زکوة واجب نه دی

سوال: زماسره مبلغ لس دولس زره روپی وی، حسب معمول می زکوة اداء کوی. په دی دوران کی ما په پنځه ویشت زره روپی یو کور واخستی، څه می د کور زیورات خرڅ کړل. د دی څخه علاوه می پنځلس زره روپی د خپل یو ورور څخه قرض واخستی په هغه کی می شاملی کړی، د کور کرایه د میاشتی دوه سوه پنځوس روپی راځی ورسره د مذکوره قرضی څخه می تراوسه یوه روپی هم نه ده اداء کړی اوس زما سره لږ پیسی د کرایه وغیره جمع دی چي تقریباً دوه زره شپږ سوه څلویښت روپی دی او پنځه تولی سره زر هم دی نو زکوة ولی او څنګه اداء کړم؟

جواب: په مسئوله صورت کی چونکی د قرضی پیسی سائل سره د موجوده مال څخه ډیری زیاتی دی. نو که د هغه سره د مذکوره مال (یعنی پنځه تولی سره زر او دوه زره

---

(۱) فی التاتار خانیه ج: ۲ ص ۲۹۷ فی شرح الطحطاوی فان کان نصیب کل واحد منهما علی الانفراد یبلغ نصاباً کاملا تجب الزکوة والا فلا سواء کانت شرکتها شرکة عنان او مفاوضة او شرکة بالاورث وغیره من اسباب وکذا فی الهندیة ج: ص ۱۸۱ (طبع مکتبه رشیده کویته) وکذا فی امداد الفتاوی ج: ۲ ص ۵۲۵ سوال نمبر ۴۷. (مکتبه دار العلوم)

شپږ سوه څلویښت نقدو روپو) څخه علاوه نور مال در سره نسته نو په هغه باندی زکوة واجب نه دی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۸۷/۳/۱۲ھ

(فتوی نمبر ۱۱۸/۱۳۸۹ الف)

په پراویډنټ فنډ باندی زکوة

سوال: د هرسرکاری ملازم د تنخواه څخه یوه آنه د روپی څخه په مدد پراویډنټ فنډ کی کټ کیږی او هغه ته د ملازمت د ختمیدو څخه وروسته هغه روپی سره د سود ته ورکول کیږی دا پیسی د حکومت په تحویل کی وی او ملازم ته داپته په مشکله سره لګیږی چي د هغه څومره پیسی په دی فنډ کی دی په داسی صورت کی به آیا په هغه زکوة واجب وی؟

جواب: په دی معاملو کی د اهل علمو تحقیق دادی چي د پراویډنټ فنډ پیسی چي ترڅو چي ملازم ته ور نه کول سی، تر هغه وخته پوری په هغه زکوة نه واجبیږی. او د پیسو وصولیدو څخه وروسته هم دتیروسوو کلونو زکوة نه واجبیږی داسی پیسو باندی د زکوة وجوب په هغه وخت شروع کیږی د کم وخت څخه چي هغه پیسی وصول سوی وی. البته کوم پرا وډنټ فنډ چي جبری نه وی، او ملازم په خپل اختیار سره هغه د پاره پیسی کټ کړی وی د هغه په معاملی کی احتیاط هم په دی کی دی چي د پیسو وصولولو سره د تیر سوو کلونو زکوة هم اداء سی، مختصراً د دی وجه داده چي فقهاوو ددین دری قسمه قوی، متوسط، ضعیف جوړ کړیدی. (۲) د پراوډنټ فنډ پیسی په هغه کی په دین ضعیف کی داخلیدی سی، او په دین ضعیف باندی د تیر سوو کلونو زکوة واجب نه وی، د دی مسئلی مکمل تحقیق حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب مدظلهم په امداد الفتاوی دریم جلد ص: ۲۴۸ تر ۲۵۰. (مطبوعه کراچي کی

---

(۱) وفی الهدایة ج: ۱ ص ۱۸۲ (مکتبه شرکت علمیه) ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوة علیه وقال الشافعی یجب...... ولنا ان مشغول بحاجة الاصلیة فاعتبر معدوماً. وفی الهندیه کتاب الزکوة ج: ص ۷۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) قال اصحابنا رحمهم الله تعالی کل دین له مطالب من جهة العباد یمنع وجوب الزکوة سواء کان الدین للعباد کالقرض. الخ.

(۲) وګوری الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ (طبع سعید)

لیکلی دی، (۱) او حضرت حکیم الامت مولانا اشرف علی صاحب تهانوی د هغه تصدیق وکی او د خپلی مخکی فتوی څخه یی رجوع وکړه.

والله سبحانه اعلم

۲۴/ ۵/ ۱۳۸۷ھ (۲)

په تنخواه کی د ترقی په پیسو د زکوٰة حکم

سوال: زید په یو سرکاری دفتر کی ملازم دی، زید د نصاب خاوند دی مثلاً د کال پوره کیدو تاریخ (۳۰) مارچ دی په دغه ورځ زید د زکوٰة د پاره حساب کوی چي په ټولو پیسو باندی څومره زکوٰة جوړیږی؟ اوس پوښتنه داکول دی چي د زید ترقی مثلاً د (۲۰) مارچ څخه کیږی او په دی سلسله کی کاغذی کار روایی په شلم (۲۰) مارچ باندی کیږی اوس زید ته د ترقی والا پیسی ورکول کیږی، که ددیرشم مارچ څخه ورته مخکی ورکول سی، نو په سابقه نصاب کی شاملیدی سی، خو حساب کولو سره کاغذات د دفتر څخه د پاس کیدو سره /۳۰ مارچ څخه به وروسته راځی، او هغه ته به لا ۲. ۳ اپریل یا ۱۵/ اپریل ته ورکول کیږی، نو آیا د کاغذی احکاماتو په وجه ۳۰/ مارچ څخه حساب سوی د زکوٰة په پیسو کی هغه هم شامل کړی او که نه؟ ځکه چي د ترقی حکم ۲۰/ مارچ څخه سوی دی؟

جواب: په مسئوله صورت کی په تنخواه کی د ترقی پیسی چي کله زید ته ورکول سی، په هغه وخت به په هغه زکوٰة واجب وی، محض کاغذی طور باندی استحقاق پیدا کیدو سره په هغه به زکوٰة نه وی، لهذا ۲۰/ مارچ ته چي څومره پیسی د زید په ملکیت کی دی صرف د هغه زکوٰة به اوباسی، بلکی اوس به د هغه زکوٰة بل کال ته وځی یعنی آینده کال د زکوٰة په تاریخ کی چي د څومره پیسو ملکیت وی د هغه زکوٰة به اداء کیږی چي په هغه کی به د فرق پیسی هم شاملی سی، لان الاصح ان الاجرة دین ضعیف لاتجب علیه الزکوٰة حتی یقبض کالمهر (۳).

(۱) مکمل تفصیل د پاره (په پراوډنټ فنډ باندی د زکوٰة او سود مسئلی) مرتبه مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره وګوری. (محمد زبیر حقنواز)

(۲) دا فتوی د رسالی البلاغ په شماره جماد الثانیه ۱۳۸۷ھ څخه اخستل سویده.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۲ (ایچ ایم سعید) .... وعند قبض مأتین مع حولان الحول بعده [...]د القبض (من) دین ضعیف (وهو بدل غیر مال) کمهر ودیة وبدل کتابة وخام الا اذا کان عنده

خو دا مسئله د امام اعظم ابو حنیفه مسلك کی ده، د صاحبینو په نزد چونکی په هرقسم دین باندی زکوٰة واجب دی، ځکه احتیاطًا به د دولسم ۱۲ اپریل څخه د ملاویدونکی رقم زکوٰة هم د هغه کال په نصاب کی شمار کولو سره ورکول سی نو ښه ده.

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۲۰/ ۲۸ ب)

په نقدو پیسو باندی د زکوٰة واجب کیدو اصول

سوال: د نقدو پیسو په زکوٰة کی څه اشکال پیداسویدی، سرو زرو، سپینو زرو مال اجناس او تجارتی مال، د زکوٰة نصاب خو ډیر واضح دی خو د نقدو پیسو په صورت کی اشکال دی، د جنتی کالی باب الزکوٰة می په پوره غور سره ووایه چي د هغه د مسئلی څخه ښکاره کیږی چي په پنځه سوه روپو زکوٰة نه واجبیږی، او د مسئلی پنځم او مسئلی یوولسم څخه ښکاره کیږی چي په سلو روپو زکوٰة واجبیږی، د نقدو د نصاب په سلسله کی ترجمان القرآن جلد ۲۹ شماره مارچ سنه ۱۳۶۸ھ کی می ویلی وو چي په هغه کی یی ښوولی وو چي د نقدو پیسو نصاب دوه نیم پنځوس تولی سپینو زرو د قیمت برابر رقم دی، تاسو وفرمایاست چي څه صورت حال دی؟

جواب: په نقدو پیسو باندی د زکوٰة په سلسله کی اصول دادی، که د دوه نیم پنځوسو تولو سپینو زرو د قیمت نقدی روپی د ضروریات اصلیه څخه زیاتی موجودی وی او په هغه یو کال تیر سی، نو زکوٰة واجبیږی (۱) او د دونیمو پنځوسو تولو سپینو زرو قیمت بدلیږی، لهذا د هری زمانی قیمت ته په هغه زمانی کی اعتبار وی. والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۲/ ۲/ ۱۳ ۱۳۸۸ھ

مایضم الی الدین الضعیف وفی البدائع ج: ۲ ص ۱۰ (طبع سعید) واما الدین الضعیف فهو الذی وجب له بدلاً عن شیئ، سواء وجب له بغیر صنعه کالمیراث او بصنعه کالوصیة او وجب بدلاً عمالیس بمال کالمهر وبدل الخلع والصلح عن القصاص وبدل الکتابة ولا زکوٰة فیه مالم یقبض کله ویحول بعد القبض. (محمد زبیر)

(۱) د حوالی د پاره په لاندی ډول لیکل سوی کتابونه وګوری: الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۹۹ (طبع ایچ ایم سعي) فتاوی هندیه ج: ۱ ص: ۱۷۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)، هدایه ج: ۱ ص ۱۹۲ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) فتاوی تاتار خانیه ج: ۲ ص ۲۳۷ (طبع ادارة القرآن)

(فتوی نمبر ۲۵۲/ ۱۹ الف)

دکور د آبادی د پاره په جمع سوو پیسو د زکوة حکم

سوال: زید د کور د آبادی د پاره پیسی جمع کوی آیا په دی پیسو به زکوة واجب وی؟
جواب: که دا پیسی ددونیمو پنځوسو تولو د سپینو زرو قیمت ته ورسیږی او په دی یو کال تیرسی، نو زکوة واجب دی (۱).

والله سبحانه اعلم
۱۸/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۴۵/ ۱۸، الف)

د میراث په دکان باندی زکوة واجب دی او که نه؟

سوال: زموږ د والد صاحب انتقال د تیرسوی غټ اختر څخه دری ورځی مخکی سوی وو، دعا ورته وکړی، چي الله جل جلاله دی د هغه او زموږ د ټولو مغفرت وکړی آمین. نقد او نور ټول سامان په شرعی طریقی سره تقسیم سویدی اوس یودکان باقی دی دا دوکان مو په کرایه ورکړی دی د دی کرایه میاشت په میاشت په حساب سره تقسیمږی ځکه چي نن صبا د دوکان دام کم ملاویږی، د دام د صحیح کیدو انتظار دی کوم وخت چي هم مناسب دام ورکول سی دا به خرخ کو په حساب سره به یې په ټولو باندی تقسیم کړو، معلومول دادی چي آیا په دی دکان باندی هم زکوة واجب دی؟ که واجب دی نو د دی قیمت څنګه معتبر کړو؟ ځوك وايې چي دومره به خرخیږی او ځوك څه وايې یعنی بالکل صحیح قیمت به شاید د خرخولو په صورت کښی وی، که د دی دوکان په مالیت باندی زکوة واجب دی، او د کال پوره کیدلو څخه وروسته یوسړی سره یا د ټولو سره دومره پیسی نسته چي هغه د دی زکوة اداء کړی نو د دی د پاره څه حکم دی؟ (یعنی د

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۷ وثمينة المال كالدراهم والدنانير لتعينهما للتجارة بأصل الخلقة فتلزم الزكوة كيفما امسكه للنماء او للنفقة وكذا فی البدائيع. فی بحث النماء التقديری. وفی البحر الرائق ج: ص ۲۰۲..... ان الزكوة تجب فی النقد كيفما امسكه للنماء او للنفقة. وفی الخانية ج:۱ ص ۲۵۲ وقال ابوحنيفة اذا وجبت عليه الزكوة وفی احد الوجهين ولم تجب فی الوجه الآخر كان عليه الزكوة، همدارنګه وګوری امداد الفتاوی سوال نمبر ۵۰ ج:۲ ص: ۲۹ (محمد زبیر)

هغه سره د هغه راغلی کرایه هم خرخ سویده) موږ ټول خلګ په شعبان رمضان کښی د زکوة حساب کوو. نو د زکوة واجبیدو په صورت کی به موږ څنګه حساب کوو؟
جواب: کوم د کان چي کرایه باندی تللی دی د هغه په مالیت باندی زکوة فرض نه دی که چیری کومه کرایه چي ورکول کیږی نو هر سړی دی خپل د زکوة د کال په ختمیدو وګوری د هغه چي څومره حصه په دغه وخت د خرچي څخه بچ سویده که هغه د خپلو نورو اثاثو سره چي د زکوة قابل وو یوځای کړی او نصاب ته ورسیږی نو په هغه به زکوة فرض وی ورنه فرض به نه وی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۵/ ۱۲/ ۱۴۲۰ھ

(فتوی نمبر ۸۳/ ۳۰۳)

د سرو او سپینو زرو دواړو مجموعی قیمت که د سپینو زرو نصاب ته اورسیږی نو زکوة واجب دی

سوال: زید سره پنځه تولی سره زر او دوی تولی سپین زر د زیوراتو په صورت کښی دی که نصاب وکتل سی نو د زکوة نصاب ته نه سره زر رسیږی او نه سپین او که د دوو تولو سپینو زرو قیمت ولګول سی او هغه سره زر فرض سی بیا هم د زکوة حساب ته نه رسیږی، بل طرفته که د سرو قیمت ولګول سی او هغه سپین زر جوړ سی، نو فر ن سوی سپین زرو د دوو نیم پنځوس تولو سپینو زرو څخه زیاتیږی فتوی پکار ده چي آیا په زید باندی به زکوة فرض وی او که نه؟
جواب: په مسئوله صورت کی زکوة فرض دی هغه داشان چي د سرو زرو قیمت به ولګول سی هغه به د سپینو زرو سره برابر کړل سی (۲) که د دواړو مجموعی قیمت د سپینو زرو د نصاب څخه زیاتیږی ځکه نو زکوة فرض دی.

(۱) وفی التاتار خانیه ج: ۲ ص: ۲۹۷ فی شرح الطحاوی: فان كانصيب كل واحد منهما على الانفراد يبلغ نصابا كاملاً تجب الزكوة والا فلا سواء كانت شركتهما شركة ضافی او شركة مفاوضة او شركة بالارث وغيره من اسباب الملك..... الخ. همدا رکم وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۵۱، ۵۲ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)
(۲) ایضاً

سوال: د زید سره صرف پنځه تولی سره زر دی بلکی سپین زر ورسره نسته که هغه سره زر د سپینو زرو ګڼلو سره په قیمت کښی فرض کړو نو د زکوٰة نصاب د سپینو زرو دوپنځوس نیمو تولوته رسیږی آیا په دی زکوٰة فرض دی؟ (۱)

جواب: که سپین زر بلکل نه وی نو څه ناڅه نقدی به ورسره ضروری وی هغه هم د سپینو زرو په حکم کښی دی نو د سرو قیمت به ولګول سی په دی صورت کښی هم زکوٰة فرض دی.

سوال: زید سره پنځه تولی سره زر دی د دی څخه ماسوا پنځه لس روپی هم نقدی ور سره دی چي ټول کال ور سره موجودی وی آیا په دی کال تیریدلو سره به زکوٰة فرض وی ځکه چي دا روپی سپین زر او مذکوره سره زر په سپین زر فرض کولو سره به د سپینو زرو نصاب پوره سی؟

جواب: د کوم کال چي دا خبره ده د هغه د قیمت په لحاظ سره که په زرو روپو کښی دوو پنځوس نیمو تولو سپین زر راځی نو زکوٰة فرض دی او که نه راځی نو نه دی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۹ھ

(فتوی نمبر ۲۸۸/ ۳۰د)

قرض د اداء کولو څخه وروسته چي کومی پیسی پاته سی که هغه د نصاب په قدر وی نو په هغه زکوٰة واجب دی

سوال: د زید سره خپلی پیسی پنځه زره روپی دی چي په کارو بار کښی یې لګولی دی او لس زره یې په قرض اخستی دی د دی څخه ماسوا لږ څه زیورات یې هم د استعمال د پاره په قرض جوړ کړی وه، نو زید ته په کومو پیسو زکوٰة اداء کول پکار دی؟

جواب: په صورت مسئوله کښی زید ته په کار دی چي دده سره څومره نقدی روپی دی یا څومره مال تجارت یا زیورات دی برابره خبره ده که هغه یې د قرض په روپو تیار کړی وو د هغه ټولو دی قیمت ولګه یې او د هغه املاکو دی مجموعه را وباسی د دی څخه وروسته چي په ده باندی واجب الاداء دی هغه دی د دی مجموعی څخه بل طرفته کی

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۳ (طبع سعید) ویضم الذهب الی الفضة وعکسه بجامع الثمنیة وقالا بالاجزاء، وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۱۹۲ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) ویضم الذهب الی الفضة للمجانسة من حیث الثمنیة. (محمد زبیر حق نواز)

څومره مالیت چي د قرض د اداء کولو څخه وروسته باقی پاته سی د هغه څخه دی څلویښتمه حصه د زکوٰة په طور اداء کړی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۹/ ۲۹/ ۱۳۹۰ھ

(فتوی نمبر ۱۲۹۳/ ۲۷ھ)

په نصابی کال پوره کیدو باندی زکوٰة واجب دی

سوال: تیر کال ما د ۴۴ زره روپو څه قرض او څه نقدو ګټی د ټولو می زکوٰة د پوره حساب کولو سره اداء کړی وو اوس قرض کم سو ۳۳ زره پاته دی او لږ نقدی جمعه دی اوس ماته د زکوٰة ورکول په څه ډول دی؟

جواب: په کوم تاریخ چي ستا د زکوٰة نصابی کال پوره کیږی په هغه تاریخ چي کومی نقدی روپی، زیورات، مال تجارت او خلګو ته ورکول سوی قرضی وی په ټولو به زکوٰة واجب وی، که په خلګو ستا قرض کم سو او اوس ۳۳ زره روپی پاته سوی نو اوس به په ۳۳ زره روپو باندی زکوٰة وی. (۲)

سوال: که د قرض پیسی ډوبی وی نو په دی صورت کښی به څه کیږی؟

جواب: په داسی مال اوس زکوٰة واجب نه دی که خلاف امید ورکول سی نو د تیر سوو کلونو زکوٰة به اداسی او که نه؟ دا مسئله بیا په هغه وخت معلومه کړه او په هغه کښی ووایه چي د ډوبیدو وجه څه ده؟

سوال: که پیسی په اٖین دین کښی چلیږی نو په دی صورت کښی به څه کیږی؟

جواب: که د دی مطلب دادی چي هغه پیسی تابل چاته په قرض ورکړیدی نو د دی حکم په اول سوال کښی تیر سو چي په دی زکوٰة فرض دی او که څه بل څه مطلب وی نو

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۳ (ایچ ایم سعید) فلا زکوٰة علی مکاتب... ومدیون للعبد بقدر دینه فیزکی الترايد ان بلغ نصابا... الخ. وفی الهدایة کتاب الزکوٰة ج: ۱ ص: ۱۸۶ (مکتبه شرکت علمیه) ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوٰة علیه... وان کان ماله اکثر من دینه ذکی الفاضل اذا بلغ نصاباً.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ (طبع سعید) واعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکوتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لافورا بل عند قبض اربعین درهماً من الدین (القوی) کقرض وبدل مال تجارة... الخ وفی الشامیة تحت (قوله اذا تم نصابا) والمراد اذا بلغ نصابا بنفسه او بماعنده مما یتم به النصاب.

دوباره واضحی طریقی سره سوال ولیکه او مسئله معلومه کړه.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۹/۱۹هـ
(فتوی نمبر ۸۵۲/۲۸ج)

صرف په سلو روپیو زکوٰة نسته

سوال: زکوٰة په هرهغه چا واجب دی چي د چاسره ووه نیمی تولی سره زر وی (یوکال په تیریدلو باندی) یا دو پنځوس نیمی تولی سپین زر ورسره وی (د یوکال په تیریدو باندی) په دی اوازانو کښی که یوه یوه رتی هم کمه وی نو په داسی سړی به زکوٰة واجب وی او که نه؟ شریعت خو دا وایي چي دومره سره زر او سپین زر وی، نو زکوٰة به اوباسی بل طرفته علماء وایي که سل روپی موجودی وی او کال باندی تیرسو نو د هغه هم دوه نیم فیصده زکوٰة اوباسی، کله چي نصاب مقرر دی نو سل روپی لرونکی ولی زکوٰة اوباسی؟

جواب: نن صبا که کوم سړی سره چي سل روپی وی او سره زر ور سره بلکل نه وی په هغه باندی زکوٰة نه واجبیږی، کوم سړی چي په هغه زکوٰة فرض کړیدی هغه غلط وئیلی دی که چیری د یو سړی سره لږ سره زر هم موجود دی او څه سپین زر او نقدی روپی هم او د دی دواړو مجموعی قیمت دوو پنځوس نیمو تولو سپین زرو برابر سی نو به هغه زکوٰة فرض دی (۱) مثلاً د چاسره دوی تولی سره زر دی چي د هغه قیمت زر روپی دی او د هغه سره سل روپی نقدی هم دی او اوس به په هغه زکوٰة فرض سی، خو چي کله ورسره سره زر بالکل هم نه وی صرف سل روپی ورسره دی نو په هغه زکوٰة فرض نه دی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۷۹/۷/۹هـ
(فتوی نمبر ۹۲۱/۲۸ج)

۱. دکال په آخر کښی موجوده تولو پیسو باندی زکوٰة واجب دی
۲. ورکول سوی قرض باندی د زکوٰة حکم

سوال: زه یو تاجریم د تجارت د شروع کولو می ۱۲ یا ۱۴ میاشتی سوی وی د زکوٰة د

(۱) وګوری د ۴۹ صفحی اوله حاشیه.

مسئلی پوښتنه کوم او په تجارت کښی د کال په آخر کښی څومره نقدی وی په هغه زکوٰة کیږی او که صرف په هغه حصه باندی چي ټول کال د نقدو په صورت کښی موږ سره وی، مثلاً د کال په آخره کښی پنځه زره روپی وی څلور زره یوه میاشت مخکښی ورکول سوی وی، نو اوس زکوٰة د پنځو زرو باندی او که په زرو باندی به اداء کول وی؟
۲. دبرنی مسئلی په شان د تجارت مال واخله چي دلته به هم هغه اصول لاګو کیږی یا که څه مختلف دی؟

جواب: ۱. ۲. که د کال په شروع او آخر کښی د انسان قابل زکوٰة ملکیت دوو پنځوس نیمو تولو سپینوزرو د قیمت څخه کم نه وی، نو د کال پوره کیدلو په تاریخ کښی د هغه سره څومره چي نقدی یا د تجارت مال وی په هغه به زکوٰة واجب وی، د کال په دوران کښی چي کوم زیاتی کمی کیږی د هغه څه اعتبار نسته، تاچي کوم مثال ورکړیدی په هغه کښی به زکوٰة په پوره پنځو زرو باندی وی یوه ورځ مخکی چي کومی پیسی راغلی دی هغه به هم شاملی سی، او یوه ورځ مخکی چي کومی پیسی وتلی دی هغه به نه وی شاملی، همدا معامله د تجارت د مال هم ده. د کال پوره کیدلو په تاریخ کښی چي څومره مالیت موجود وی د هغه به زکوٰة ورکوی. (۱)

سوال: آیا په هغه پیسو به هم زکوٰة وی چي زموږ د مقروضانو په ذمه باندی دی، که زکوٰة وی نو آیا د هغه پیسو څخه به هغه پیسی کټ کیږی چي په موږ باندی قرض دی د نورو خلګو؟ مثلاً موږ اته زره روپی وصولوو او شپږ زره به ورکوو نو آیا په دوه زره به زکوٰة ور کول کیږی؟

جواب: هوجی! کومی پیسی چي په نورو خلګو باندی قرض دی د هغه زکوٰة ستا په ذمه باندی دی، که څه هم د هغه اداء کول به هغه واجب وی کله چي وصول سی (۲) خو په هغه وخت به د ټولو تیرو سوو کلونو حساب کول وی، لهذا سهولت هم په دی کښی دی، چي هرکال څومره پیسی چي قرض وی د هغه زکوٰة هم اداء سی او دا شان په تا چي کوم قرض دی هغه دی د ټول مالیت څخه مستثنٰی سی د هغه د مستثنٰی کولو څخه

(۱) وفی بدائع ج: ۲ ص: ۱۵ (طبع ایچ ایم سعید) ولکن هذا الشرط یعتبر فی اول الحول وفی اخره لا فی خلاله ..... الخ. وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۸۸. والمستفاد (ولوبهبة اوارث) وسط الحول الی نصاب من جنسه فیزکیه بحول الاصل وفی الشامیة قوله الی نصاب... واشار الی انه لابد من بقاء الاصل..... فان وجد منه شیأ قبل الحول ولو بیوم ضمه وزکی الکل ... الخ.
(۲) سابقه حواله د ۳۵ صفحی دریمه حاشیه وګوری.

وروسته چي څومره ماليت تاته بچ سی په هغه به زکوة وی، مثلاً ستا نقد رقم لس زره دی او په تاباندی پنځه زره قرض واجب الاداء دی نو په تابه صرف د پنځه زره روپو زکوة اداء کول واجب وی. [1]

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۹۵۳/ ۲۸ ج)

مقروض ته زکوة ورکول او بیا په خپله قرضه کښی د اخستلو حکم

سوال: یومالداره سړی دی چي یو غریب سړی ته زکوة ورکول غواړی او په دغه سړی باندی د دی سړی قرضه هم ده هغه مالدار سړی په دغه وخت د هغه سړی څخه خپله قرضه اخستلی سی چاته یې اوس اوس زکوة ورکړیدی،

جواب: د دی طریقه داده چي اول دی دا مالداره سړی غریب سړی ته د زکوة پیسی ورکړی او د هغه څخه وروسته دی هغه غریب سړی د هغه پیسو څخه قرضه اداء کړی نو جائز دی. [2]

والله سبحانه اعلم

۹/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

د سرو او سپینو زرو په څومره مقدار باندی زکوة لازم دی

سوال: د یوسړی سره دیرش تولی سپین زر او بل سره لږ سپین زر او لږ څه سره زر دی په دی دواړو کسانو به زکوة فرض وی او که نه؟ او په څومره مقدار د سپینو او سرو زرو باندی زکوة واجبیږی؟

جواب: که د چاسره سره زر بالکل نه وی نو زکوة به په هغه وخت واجب وی کله چي دوونیم تولی سپین زر د هغه سره د خپلو ضروریاتو څخه زیات موجود وی

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۳ (طبع سعید کراچی) (فلا زکوة علی مکاتب.... ومدیون للعبد بقدر دینه) فیزکی الزائدان بلغ نصاباً.... الخ. وفی الهدایة کتاب الزکوة ج: ۱ ص ۱۲۸ (طبع شرکت علمیه) ومن کان علیه دین یحیط بماله فلا زکوة علیه... وان کان ماله اکثر من دینه زکی الفاضل اذا بلغ نصاباً.

[2] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۷۱ (طبع سعید) وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه زکوته ثم یأخذها [...]ینه.

او په هغه یو کال تیرسی، او که ورسره سره زرهم وی نو د سرو او سپینو زرو دواړو قیمت به لګول کیږی، که د دواړو قیمت را یوځای سی او دوو پنځوس نیمو تولو سپینو زرو قیمت برابرسی نو زکوة به واجب وی ورنه نو نه.

والله اعلم

۹/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

په قرض باندی د زکوة حکم

سوال: مثلاً زید د عارف څخه یولاك روپی په قرض اخستی دی، عارف د مخکی څخه د نصاب خاوند وو. زید عارف ته داپیسی لس کاله وروسته اداء کړی آیا عارف به په یولاك روپو باندی د لسو کالو بیل بیل مثلاً د یوکال (۲۵۰۰) روپی او د لس کالو به پنځه ویشت زره روپی د زکوة په طور ورکوی، او یاکه په کوم کال ورته دا پیسی ملاو سوی دی صرف د هغه کال زکوة به اداء کوی او د نهه (۹) کالو به نه ورکوی څه حکم دی؟

جواب: قرض قوی دین دی [1] لهذا په هغه به هرکال زکوة واجبیږی. خو د زکوة اداء کول به هغه وخت واجبیږی کله چي پیسی وصول سی، په صورت مسئوله کی په عارف باندی واجب دی چي هغه د یولاك روپی په وصولیدلو باندی د تیرو پوره لسو کالو زکوة اداء کړی، صرف د یوکال زکوة اداء کول نه کافی کیږی. [2]

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۲۱۱/ ۲۸ ب)

د کرنسی د بدلولو د پاره ورکول سوی پیسو باندی د زکوة حُکم

سوال: زید په بل ملك کی پاکستانی سفار تخانه کی ملازم دی، د ملازمت حصَه په ختمیدلو باندی په سفار تخانه کی (۲۰۰۰) رُبل او د کور سامان خرڅ کړو او په پنځه زرو ربلوئی خپله ګاډی خرڅه کړه او پیسی یی حکومت پاکستان سره جمع کړی.

---

[1]

[2] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ واعلم ان الدیون عند الامام ثلاثة متوسط وضعیف، فتجب زکوتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لافوراً بل عند قبض اربعین درهمًا من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة، همدا رنګه وګوری. ص ۴۲ اول نمبر حاشیه.

پاکستان ته راتلو سره به د حکومت څخه د هغه په بدله کی پاکستانی روپی واخلی. رُبل روسی سکه ده د یورُبل په بدله کی سرکاری طور (۱۴) روپی ملاویږی په دی لحاظ سره تقریباً (۲۸۰۰۰) د کور د سامان (۷۰۰۰۰) د ګاډی سوی، اوس زید پاکستان ته ولاړی او په خپل زوړ دفتر کی یی کار شروع کی، چیری چي هغه په سفار تخانه کی د کار کولو د پاره تللی وو، پاکستان کی د څه قانونی مشکلاتو په وجه زید ته مثلاً دوه کاله وروسته د ګاډی پیسی ملاو سوی زید د دغه پیسو زکوة د پیسو پیداکیدو څخه یو کال مخکی ورکی، اوس یی د دوهم کال ورکړی دی. خو زید ته د قانونی مشکلاتو په وجه (۲۸۰۰۰) نه دی ملاو، اوس دا معلومول دی چي اته ویشت زره مثلاً اوس ملاو سی. نو د هغه د دوهم کال زکوة (هرکله چي زید مخکی د یو کال پیسی او د هغه زکوة یی ورکړی دی) نو اوس ورکول دی. خو که همدغه پیسی زید ته د زکوة د کال د ختمیدو څخه وروسته ملاو سی، نو آیاصرف د دی کال زکوة به ورکوی یا د تیر سوی کال هم؟ یعنی په کوم کال چي ورته پیسی ملاو سی د هغه کال زکوة به ورکوی او که د تیر کال هم؟

جواب: د مذکوره اته ویشت روپی ستا په ملکیت کی راغلی دی، د هغه څخه وروسته تا هغه د بدلولو د پاره سفار تخانی ته ورکړیدی، لهذا په هغه به هرکال زکوة واجبیږی او هغه پیسی چي هرکله تاته در کول سی د تیرو سوو کلونو زکوة اداء کول به په تاباندی واجب وی مثلاً د پنځه کاله تیریدلو څخه وروسته وصول سوی. نو ته به (۳۵۰۰) روپی په زکوة کی اداء کوی.[1]

والله سبحانهٗ اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۱۱/ ۲۸ ب)

د پنشن په پیسو باندی د زکوة حُکم

سوال: زه یو ملازمت پیشه کس یم چي اوس وخت کی د خپلی محکمی څخه ریټائرډ سوی یم، په ریټائرډ کیدو باندی ماته د حکومت د طرفه (۳۶۰۵) روپی راکول سوي ما

[1] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۰۵ (طبع سعید کراچی) واعلم ان الدیون عند الامام ثلثة قوی، متوسط وضعیف، فتجب زکوتها اذا تم نصابا وحال الحول لکن لافوراً بل عند قبض اربعین درهماً من الدین القوی کقرض وبدل مال تجارة، همدارنګه وګوری د ۴۲ صحفی اوله حاشیه.

هغه پیسی په کور کی غیر محفوظ ګڼلو سره په بینک کی جمع کړی، زما خپل کور نسته او د ژوند د تیرولو د پاره دومره آمدنی هم نسته چي خرڅ پوره سی. په تنګدستی سره وخت تیروو، ماته د دی پیسو د ملاویدلو دوی ورځی سویدی چي د بینک والاوو د هغه څخه ۹۰۲/۵۰ روپی زکوة کټ کی، ایا شرعًا په مابانْدی زکوة واجب دی؟

جواب: د کوم سړی سره چي په خپل ملکیت کی دوه پنځوس نیمی تولی سره زر یا د هغه په قیمت نقدی روپی یا زیورات یا تجارتی سامان وی هغه ته د نصاب خاوند وایی، او کوم کس چي توله کال د نصاب خاوند پاته سو یا د کال په اول او آخر کی د نصاب خاوند وو، په هغه باندی زکوة فرض دی، کوم کس چي د کال په شروع کی صاحب د نصاب وو. که د کال په دوران کی دده سره څه نوری پیسی د نصاب څخه علاوه راغلی نو د هغه نوو روپو زکوة به هم د مخکنیو روپو د زکوة سره اداء کول لازم وی، په مذکوره صورت کی ته ددغه پیسو د راتلو څخه مخکی کم ترکمه یو کال مخکی د نصاب مالك وی او که نه؟ که مالك د نصاب وی نو په بینك کنبی چي کوم زکوة کټ سوی هغه صحیح سو[1] او که د رمضان څوارلس سوه کی ته د نصاب خاوند نه وی او ددغه پیسو راتلو څخه وروسته ته صاحب د نصاب جوړ سوی نو بیا ددغه پیسو زکوة کټ کول لازم نه دی، اوس ته درخواست ورکولی سی او ددغه پیسو د واپسی مطالبه کولی سی، او په حکمرانانو واجب دی چي هغوی داپیسی تاسوته واپس کړی.

۲۹/ ۱۰/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۲۳۴/ ۳۲ج)

۱ په زیوراتو باندی زکوة د موجوده قیمت په حساب لازم دی

۲ په زیوراتو کی ټانکی او جوړولو قیمت باندی د زکوة حکم

سوال: د سرو او سپینو زرو زکوة د موجوده نرخ په حساب سره د قیمت په لګولو سره ورکول پکار دی؟

[1] د تفصیل د پاره د حضرت والا دامت برکاتهم د کتاب، جدید فقهی مقالات ج: ۲ ص ۵۷ تر ۵ پوری وګوری. اسلامی کمپیوټر، کوټه پاکستان. ټلیفون شمیره. ۰۷۱۲۲۱۸۰۰۳۲

جواب: هو جی. (۱)

سوال: په زیوراتو کی د ټانکی او جوړولو قیمت به کنبل وی او که نه؟

جواب: د جوړولو قیمت به کنبل وی، د ټانکی قیمت به نه اوباسی (که پخپله د هغه سپینو زرو څخه زکوٰة اداء کولی سی او که قیمت لګولو سره زکوٰة اداء سو، نو د بازار د نرخ مطابق به لګی چي په هغه کی د ټانکی لحاظ ساتل کیږی. محمد شفیع) والمعتبر وزنهما اداء ووجوبا (شامی ج:۲ ص: ۴۰) (۲)

سوال: په عام طور سره چي کله سره زر د خرڅولو دپاره وړونو په کم قیمت باندی خرڅیږی ایا د دی خبری به هم لحاظ ساتل وی؟

جواب: په کوم قیمت چي بازار کی خرڅیدی سی د هغه قیمت اعتبار کولو به یی زکوٰة کنبل کیږی، (۳) (محد شفیع عفی عنه) الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۹/ ۱۰/ ۱۳۸۷ھ

(فتویٰ نمبر ۱۳۲۵/ ۱۸ الف)

سرکاری ټیکسونه اداء کولو سره به زکوٰة اداء کیږی او که نه؟

سوال: کوم خلګ چي زکوٰة اداء کوی ایا هغوی ټیکس هم اداء کړی او که نه؟ په دواړو صورتونو کی زبردسته مالی خساره کیږی، د زکوٰة نه ورکولو په صورت کی د خدای ﷻ مجرم جوړیږی، او که ټیکس ورنه کړی نو بیایی حکومت نه معاف کوی آیا د ټیکس په اداء کولو سره به زکوٰة اداء سی او که نه؟ اوس د ټیکس څخه بچ کیدلو د پاره که څوك په رجسټرو کی څه کمی زیاتی اوکړی نو څه صورت یی دی؟

---

(۱) وفی بدایع الصنائع کتاب الزکوٰة فصل واما صنعة الواجب فی اموال التجارة ج:۲ ص: ۲۲ (ایچ ایم سعید) لامن الواجب الاصلی عندهما هو ربع عشر العین. وانماله ولایة النقل الی القیمة یوم الاداء فیعتبر قیمتها یوم الاداء والصحیح ان هذا مذهب جمیع اصحابنا..... الخ همدارنګه وګوری د ۵۰۱ صفحی دوهمه حاشیه.

(۲) الدر المختار ج:۲ ص: ۲۹۷ (طبع ایچ ایم سعید) وفی البدایع ج:۲ ص ۲۰ وانما المعتبر فیهما الوزن..... الخ (محمد زبیر)

(۳) وګوری د تیری صفحی دوهمه حاشیه.

جواب: د سرکاری ټیکسونو لګولو سره او اداء کولو سره زکوٰة نه اداء کیږی (۱) حکومت ته داسی ټیکسونه لګول پکار دی چي په عوامو بوج جوړ نسی که د حق او انصاف څخه یی زیات ټیکس لګولی وی نو د هغه څخه د اخفاء په ذریعه نجات حاصلول جائز دی په دی شرط چي په دی کی د دروغو ګناه په سر وانخستل سی.

والله سبحانه اعلم

۳/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتویٰ نمبر ۱۳۸۷/ ۱۸ الف)

د زکوٰة وجوب په قمری کال سره کیږی

سوال: د زکوٰة وجوب په قمری کال سره کیږی او که په شمسی کال سره؟

جواب: د زکوٰة وجوب په قمری کال سره کیږی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۱/ ۱۴۱۲ھ

(فتویٰ نمبر ۷۵/ ۵۸)

د زکوٰة په اداء کولو کی به د خرڅ د قیمت اعتبار وی

سوال: زکوٰة چي په کوم شی واجب وی د هغه به موجوده بازاری قیمت کتل کیږی یا د اخستلو قیمت مثلاً اول چي مو د سرو یوه توله اخستی ده نو ارزانه ملاو سوی ده، او اوس په پنځه سوه روپی توله ده، د کوم قیمت په اعتبار به زکوٰة اداء کولی سی؟

۲. که د اخستلو قیمت رعایت به کولی سی نو ایا د تجارت په سامان کی به هم د هغه لحاظ کولی سی؟

جواب: د اخستلو قیمت معتبر نه دی بلکی په کومه ورځ چي کال پوره کیږی، د هغه ورځی قیمت معتبر دی (۳) چنانچي په صورت مسئوله کی یوه توله سره زر به د پنځه سوو (۵۰۰) روپو په حساب سره لګولی سی.

---

(۱) وفی الشامیة ج: ۲ ص ۳۱۰ (ایچ ایم سعید) مطلب لا تسقط الزکوٰة بالدفع الی العاشر فی زماننا. واعلم ان بعض التجاریظن ان مایوخذ من العکس یجب عنه عذا نوی به الزکوٰة وهذا ظن الباطل.

(۲) وفی الدر المختار قبیل باب زکوٰة المال ج: ۲ ص ۲۹۴ (طبع سعید) وحولها ای الزکوٰة قمری لاشمسی. الخ

(۳) ایضاً.

۲. د دوکان په سامان کی اعتبار د دی دی که داټول سامان نن خرڅ سی نو څه قیمت به یې لګی، د اخستلو د قیمت اعتبار نسته، [۱]

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

د کمپنی په ریزرو فنډ باندی د زکوة حکم

سوال: د شپاړلسو کالو څخه زه په یوه کمپنی کی د تقسیم کار په حیثیت کارو بار کوم، د تیر کاله پوری خو سرمایه کافی ډیره وه، خو اوس د کار د وسعت په وجه دا سرمایه بالکل کمه ده، شریکانو د مجبوری له وجی د بینک څخه داوور ډرافټ پیسی اخستل شروع کړل، برنی اداره د یو مخصوص رقم په طور د ریزرو فنډ محفوظ ساتی د دی هیڅ، یو شریک زکوة نه اداء کوی، د دی د زکوة څه حکم دی؟

جواب: اصل دادی چې په مشترك کارو بار کی په هره حصه دار باندی د دومره مال زکوة فرض کیږی څومره چې په کارو بار کی د هغه په حصه کی راځی، [۲] چې په هغه کی په ریزرو فنډ کی د هغه حصه هم شامله ده، [۳] (د تقسیم سوو ګټو زکوة د دی څخه علاوه دی) لهذا که هر حصه دار د خپلی خپلی کلی حصی زکوة اوباسی، نو د ریزرو فنډ زکوة به پکښی پخپله راسی.

الجواب الصحیح. (محمد عاشق الهی بلند شهری)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۱۲/ ۱۸ الف)

د زکوة پیسی په کارو بار کی د لګولو حکم

سوال: زما سره د کلی د مدرسی فنډ دی، چونکی د دار العلوم څه مستقل آمدن نسته په صدقاتو او زکوة سره کار چلوو، نن صبا زما سره پنځوس زره روپی دی، شوری والا

(۱) وګوری د تیرو سوو صفحو ۵۰، او ۲۶ صحفی دوهم نمبر حاشیه.

(۲) د حوالی د پاره د تیری صفحی نمبر (۵۵) اوله حاشیه وګوری.

(۳) په ریزرو فنډ کی په زکوة باندی د حضرت والا دامت برکاتهم مستقله فتوی په راتلونکی ص ۷۳ کی وګوری. (محمد زبیر عفی عنه)

وایی، که دا پیسی په کوم جائز او د ګټی په کارو بار کی ولګوو نو اصل به هم محفوظ وی او ګټه به هم ملاویږی، دا شان د دار العلوم پیسی په کارو بار کی لګول جائز دی او که نه؟

جواب: که په کارو بار کی د نفع تقریباً یقین وی نو د فنډ زیاتی پیسی په هغه کی د لګولو ګنجایش دی، خو دوی خبری یاد ساته! یو دا که نقصان اوسی نو لګونکی به یې د خپله جیبه پوره کوی. دوهم داچې د زکوة پیسی زیاته موده په کارو بار کی لګول صحیح نه دی. او دا ژر ترژره مستحقینو ته رسول ضروری دی.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۱/ ۱۴۱۲ھ

(فتوی نمبر ۷۵/ ۵۸)

دانکم ټیکس اداء کولو سره به زکوة نه اداء کیږی

سوال: کوم خلګ چې انکم ټیکس اداء کوی او زکوة نه اداء کوی نو ضرور د خدای ﷻ مجرمان دی. او که زکوة اداء کړی او د ټیکس څخه ځان خلاص کړی نو حکومت یې نه پریږدی او که دواړه اداء کوی نو زبر دسته مالی خساره لوړول دی نو څه اوسی؟

جواب: دانکم ټیکس د زکوة سره څه تعلق نسته، زکوة عبادت د الله ﷻ حق دی، او انکم ټیکس یو حکومتی ټیکس دی لهذا د یو په اداء کولو سره به بل نه اداء کیږی. [۱] دانکم ټیکس د پاره د حقیقی سرمایی پټولو په خاطر که دروغ ووئیل سی یا د دروغو شاهدی اداکړی نو هغه هم جائز نه دی.

الجواب الصحیح، بنده محمد شفیع عفا الله عنه.

۴/ ۱۱/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۰/ ۱۸ الف)

۱. نا کنټل سوی کپړو باندی د زکوة حکم.

۲. صرف پنځه تولو سرو باندی د زکوة حکم.

۳. دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو د قیمت په اندازه نقدو باندی د زکوة حکم.

۴. د زکوة د پاره د قمری کال اعتبار دی.

(۱) وګوری د تیری صفحی ۶۷ دوهمه حاشیه.

سوال: زه د نصاب خاوند یم، زماسره څه ناګنډل سوی کپړه د یو کال څخه زیاته موده پرته ده، په هغه زکوة ورکول پکار دی او که نه؟

۲. سوال: صرف پنځه تولی سره زر دی نقدی وغیره نور هیڅ ورسره نسته آیا په دی زکوة ورکول سی؟

۳. د زید سره نه سره زر سته او نه سپین زر خو دومره پیسی ورسره سته چي په هغه سره دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر اخستلی سی په دی زکوة فرض سو او که نه؟

۴. مولانا مودودی صاحب لیکی چي زکوة شمسی کال سره ورکوی، مولانا زکریا صاحب لیکی په فضائل صدقات کی چي قمری کال سره زکوة اداء کوی د چاخبره ومنو؟

۱. جواب: که دا ناګنډل سوی کپړه د تجارت په غرض نه وی اخستل سوی نو په دی زکوة نسته. (۱)

۲. د پنځه تولو سرو سره که د یوی روپی برابر نقدی وی نو هم په هغه زکوة واجب دی او دومره نقدی خو وی، هو! که واقعتاً د یوی روپی برابرهم ورسره نقدی نه وی، نو بیشکه صرف په سرو زرو زکوة به ترهغه وخته پوری نه وی ترڅو چي هغه اووه نیمی تولی نسی. (۲)

۳. هوجی! فرض دی.

۴. د زکوة د پاره د قمری کال اعتبار دی: لقوله تعالی، یَسْئَلُونَكَ عَنِ الْأَهِلَّةِ قُلْ هِيَ مَوَاقِيتُ لِلنَّاسِ وَالْحَجِّ، (۳) په عهد رسالت او عهد صحابه کی ورسره د دین د بزرګانو په زمانه کی د

(۱) وفی رد المختار کتاب الزکوة ج: ۲ ص ۲۶۲ قوله وفارغ عن حاجة الاصلیة.... وهی مایدفع الهلاک عن الانسان تحقیقا کالنفقة ودور السکنی والات الحرب والثیاب المحتاج الیها لدفع الحر والبرد. وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۴، ۲۶۵ (طبع سعید) ولافی ثیاب البدن..... ونحوها ..... اذا لم تنو للتجارة، وفی الهدایة: ج: ۱ ص: ۱۸۶ (مکتبه شرکت علمیه) ولیس فی دور السکنی وثیاب البدن..... وسلاح الاستعمال زکوة..... الخ.

(۲) وفی البدائع کتاب الزکوة ج: ۲ ص ۱۸ (طبع ایچ ایم سعید) فاما اذاکان له ذهب مفرد فلاشیئ فیه حتی یبلغ عشرین مثقالا. فاذا بلغ عشرین مثقالاً ففیه نصف مثقال... الخ.

(۳) سورة البقره ۱۸۹ وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۹۴ (طبع سعید کراچی) وحولها ای الزکوة قمری لاشمسی وسیجیئ الفرق... الخ، وفی الهندیة ج:۱ ص ۱۷۵ (مکتبه رشیدیه کویته) العبرة فی الزکوة [illegible]ل القمری... الخ.

قمری کال مطابق د زکوة حساب کیدلو او په دی باندی د امت اجماع ده، کوم صاحب چي د شمسی کال سره د زکوة د حساب کولو قائل دی هغه په سخته غلطی باندی دی.

والله سبحانه اعلم

۲۷/ ۹/ ۱۳۹۸هـ

(فتوی نمبر ۲۰۰۱/ ۲۹ ج)

په کیناډا کی کور اخستونکی مقروض سړی باندی د زکوة حکم

سوال: مکرمی محترمی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

په کیناډا کی د کورونو قیمت دومره زیات دی چي د هغه په یووخت اداء کول مشکل دی. ځکه مجبورا په قرض باندی اخستل وی او دا قرض په قسطونو په ۲۵، ۳۰ کالو کی اداء کولی سی، په برنی صورت کی یعنی د کور قرضه هم هره میاشت د قسط په صورت کی اداء کیږی، د دی باوجود پنځه یالس زره ډالر جمع سوی آیا په دی به زکوة فرض وی؟ او حج به هم فرض وی؟

جواب: په دی پیسو زکوة ورکول پکار دی، ځکه چي د کور قرض موجل دی او قرض موجل علی الاصح مانع د وجوب زکوة نه دی، وعن ابی حنیفة رحمه الله لایمنع. وقال الصدر الشهید لا روایة فیه ولکل من المنع وعدمه وجه زاد القهستانی عن الجواهر والصحیح انه غیر مانع. (شامی ج: ۲ ص: ۵) (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ۹/ ۱۳۹۹هـ

(فتوی نمبر ۱۲۵۰/ ۳۰ و)

په بیمه کمپنی کی په جمع سوو پیسو باندی زکوة واجب دی

د کمپنی په شیرز باندی زکوة واجب دی

سوال: په بیمه کمپنی کی کوم مال جمع سوی وی په هغه باندی به هرکال زکوة ورکول کیږی؟ که په هغه زکوة سته، نو د زکوة ورکولو په وخت خپل مال کی هغه شمیرل ضروری دی او که نه؟

جواب: د بیمی چي کومی پیسی په کمپنی کی لګیدلی وی، په هغه باندی زکوة واجب

(۱) ج:۲ ص: ۲۶۱ (طبع سعید)

دی، هر کال د زکوة اداء کولو په وخت هغه په خپل مال کی ضرور شماره!

سوال: که د کومی کمپنی شیرز اخستل جائز وی نو د هغه په قیمت زکوة واجب دی او[...]
که نه؟

جواب: د کمپنی حصص اخستل جائز دی په دی شرط چي د هغه کارو بار جائز وی او[...]
حصص په قیمت باندی زکوة هم واجب دی. (۱) فقط والله اعلم

۲۶/ ۵/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۲۱۸/ ۱۹ الف)

د خرڅی سوی مځکی په پیسو باندی او د کمپنیانو په حصص باندی د زکوة حکم[...] زکوة په پوره سرمایه باندی لازم دی او که صرف په منافع باندی

سوال: که زرعی مځکه خرڅه سی او روپی په بینك کی کښیږدی نو په هغه به زکوة[...]
او که کوم منافع بخش کارو بار کی لګولو سره به زکوة لازمیږی؟

۲. که د زرعی مځکی آمدنی پوره کال اونه ساتل سی بلکی خرڅ سی نو آیا په هغه[...]
زکوة واجب وی؟

۳. که زرعی آمدنی حاصلیدو څخه وروسته په دی پیسو د کال په دوران کی د کمپ[...]
کمپنی حصص واخلی، نو په پوره سرمائی به زکوة واجب وی او که د هغه حصص[...]
کلنی آمدنی (منافع) باندی؟

۴. که د زرعی آمدنی پیسی په کوم تجارت کی ولګول سی نو په پوره سرمایه باندی[...]
زکوة وی او که صرف سالانه ګټی باندی؟ او د دی ګټی ټول کال زموږ سره پاته کیدل[...]
ضروری دی؟

جواب: د نقدو روپو په باره کی اصول دادی چي د کال په ختمیدلو څومره روپی جمع[...]
دی، هغه چي د هرځای څخه حاصلی سوی وی، د هغه دی څلویښتمه حصه د زکوة په[...]
طور وباسی. د زرعی مځکی خرڅولو سره چي کومی پیسی حاصلی سوی دی د هغ[...]
څخه چي کومی پیسی د کال په ختمیدو موجودی وی په هغه پوره پیسو به زکوة واجب[...]
دی.

(۱) د شیرز خرڅولو او اخستلو شرائط او په هغه باندی د زکوة د وجوب متعلق تفصیل د پاره[...]
حضرت والا دامت برکاتهم کتاب، اسلام او جدید معشیت او تجارت، ص نمبر ۸۵ تر ص: ۹۴ او[...]
رساله د شیرز خرڅولو او اخستلو احکام وګوری.

۲. په نمبر ۱ کی وئیل سویدی چي د کال په ختمیدو چي څومره پیسی موجودی وی د هغه زکوة دی وباسل سی، کومی پیسی چي د کال په دورانی کی خرڅی سویدی په هغه زکوة نسته.

۳. د کمپنیانو حصص چي د څومره مالیت وی هغوندی مالیت او په هغه چي کوم سالانه منافع حاصل سوی وی، هغه دی په نقدو پیسو کی شامل سی او بیا دی د مجموعی زکوة اداء سی. (۱)

۴. د تجارت په ټول مال باندی به زکوة وی (۲) خو د تجارت په مال کی، عمارت، دوکان مشین او فرینچر شامل نه دی.

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱۱/ ۱۳۹۰ھ

(فتوی نمبر ۳۰۸/ ۲۱ الف)

د قرضی څخه زیات رقم په قدر د نصاب وی نو زکوة واجب دی او که نه نو نه دی

سوال: د یوه سړی سره د شلو زرو روپو زیورات دی او د اوسیدلو کور د تعمیر په سلسله کی اویا زره مقروض دی، آیا په دی قرض سره هغه ته به د شلو زرو روپو زکوة اداء کول وی؟ او که د سرو زرو قیمت د قرض د پیسو څخه زیات وی نو بیابه زکوة او صدقه الفطر واجب وی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی چي ترڅو د هغه سره د اویا زرو څخه زیاتی روپی په قدر د نصاب پیسی یا سره زر نه وی په هغه باندی زکوة او صدقة الفطر واجب نه دی. (۳)

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۱/ ۱۳۹۷ھ

د کمپنی په ریزرو فنډ باندی د زکوة حکم او طریقه

سوال: محترمی او مکرمی حضرت العلام مولانا مفتی تقی عثمانی صاحب زید مجدکم، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

پس د سلام مسنون څخه امید دی چي مزاج ګرامی به په خیر او عافیت سره وی دلته

(۱) ..

(۲) وفی الهندیه ج: ۱ ص ۱۷۵ (رشیدیه کویټه) ومن کان له نصاباً فاستفاد فی اثناء الحول مالاً من جنسه ضمه الی ماله وزکاه سواء کان المستفاد من ضمائه اولا وبای وجه استفاد ضمه. الخ

الحمدلله ټول په عافیت سره دی، د عاګو طالب د دعاء دی.

ضروری ګذارش دادی چي په بنګله دیش کی د اسلامی بینکونو د نفع څخه یوه معینه حصه قانونًا ریزروفنډ (RESERVE FUND) په نوم ایږدی، اوس په دی ریزرو فنډ په پیسو باندی د زکوة اداء د واجب کیدلو او نه کیدو باندی دلته په علماوو کی اختلاف دی د څه علماوو رایی د زکوة ادا کولو طرفته ده، لکه چي د بعضی عرب علماوو رایه ده، د دی د پاره بینک یی شخص قانونی ګرځولی دی، د زکوة اداء کول یی واجب وئیل سویدی د نورو علمائی کرامو رایه داده چي زکوة عبادت دی، د دی د پاره عاقل، بالغ او مسلمان کیدل ضروری دی، ځکه چي د لیونو او ماشومانو په مال باندی زکوة واجب نه دی، دغه شان د ریزرو فنډ په پیسو باندی چونکی مالکانو ته قانونًا د تصرف اختیار نسته، نو ځکه به زکوة نه واجبیږی.

په دی باره کی د حضرت محترم د رایی څخه د خبریدلو خواهشمندیم، والسلام. (مفتی عبد الرحمن) مرکز الفکر اسلامی بنګله دیش، ګلشن ډهاکه.

جواب: مخدوم ګرامی قدر حضرت مولانا عبدالرحمن صاحب مد ظلهم العالی! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط د بینکونو د ریزرو فنډ په باره کی ملاو سو، زه په دغه وخت په سفر باندی وم، ځکه په جواب کی تاخیر وسو، معذرت غوښتونکی یم، دا مسئله صرف د بینکونو د ریزرو فنډ نه ده، بلکی د مشترکی سرمایی د ټولو کمپنیانو د ریزرو فنډ ده، په دی مسئله باندی چي بنده څومره غور کړیدی د هغه خلاصه درته عرض کوم، ریزروفنډ قانونً د کمپنی د اثاثو حصه ده، چي هغه د آینده د خساری وغیره د تلافی د پاره شریکانو د تقسیملو په ځای جدا ایښی ده، خو هغه هم د دوی ملك دی، د دی مثال داسی دی لکه چي یوکس د خپل مملوك اموال څه حصه لوړه کړی او د دی د پاره یی کنبیږدی چي کله آینده څه بیماری پیښه سی نو دابه خرڅ کوی، پاته سوه داچي ترڅو کوم رقم د ریزرو فنډ حصه ده په دی باندی شریکانو ته د تصرف اختیار نه وی، نو د دی جواب دادی چي دا پابندی پخپله شریکانو په خپله رضامندی لګولی ده، او هغوی چي کله وغواړی د شریکانو عمومی میټنګ طلب کړی او دا شرط ختمولی سی، لهذا د هغوی تصرف په دی لحاظ سره برقرار دی، ورسره کله چي یوه کمپنی ختمیږی، نو د نورو اثاثو په شان به دریزروفنډ اثاثی هم په شریکانو باندی ېشل کیږی، ورسره که یو کس د کمپنی د ختمیدو څخه مخکی خپله حصه خرڅوی، نو د هغه په قیمت کی په

ریزرو فنډ کی د هغه چي کومه حصه ده هغه به هم منعکس وی، لهذا ریزروفنډ یقینًا د حصه دارو ملکیت دی او قابل د زکوة دی، البته دائمه ثلاثه خصوصًا د امام شافعی د مسلك مطابق په کمپنی باندی خلطة الشیوع په بنیاد باندی په حیثیت د کمپنی زکوة واجب دی، لهذا هغه دی دخپلو ټولو قابل د زکوة اثاثو قیمت ولګوی او په هغه به زکوة اداء کوی چي په هغه کی ریزرو فنډ هم شامل دی.

خو د احنافو په مسلك کی چونکی خلطة الشیوع معتبر نه دی، لهذا په کمپنی باندی په حیثیت د کمپنی زکوة واجب نه دی بلکی د هرحصه دار په خپله حصه باندی زکوة واجب دی، هرحصه دار دی خپل وجوب زکوة په تاریخ کی د خپلی حصی بازاری قیمت معلوم کړی بیا که هغه هغه حصه د خرڅولو په نیت اخستی وی نو د ټول بازاری قیمت څلویښتمه حصه دی اداء کړی، ځکه چي په بازاری قیمت کی د کمپنی ټولی اثاثی په شمول د ریزرو فنډ منعکس کیږی، نو د ریزرو فنډ زکوة جدا ایستلوته ضرورت نسته، او که د خرڅ په نیت نه وی، بلکی د شرکت جاری ساتلو د پاره یی اخستی وی نو هغه ته داحق حاصل دی چي د کمپنی د ناقابل زکوة اثاثو په تناسب د خپلی حصی د ټول بازاری قیمت څخه اخوا کړی مثلاً (د کمپنی ناقابل زکوة اثاثی، عمارت، فرینچر، ګاډی وغیره) که د ټولو اثاثو شل فیصده دی نو هغه د خپلی حصی بازاری قیمت شل فیصده اخواکولی سی، ریزروفنډ چونکی په قابل زکوة اثاثو کی شامل دی، نو ځکه به هغه د ناقابل زکوة اثاثو په تناسب شاملولو سره نسی اخواکولی. والسلام

محمد تقی عثمانی

۲۴/ ۵/ ۱۴۲۵ھ

(فتوی نمبر ۸۰/ ۷۱۲)

په شریک دوکان کی د خپلی حصی د زکوة د اداء کولو طریقه

سوال: د مشترکه دوکان د زکوة اداء کولو څه طریقه ده؟ مثلاً په یودکان کی زما حصه (۳۵ پیسی) ده، د هغه د زکوة اداء کولو څه طریقه ده؟ طلعت محمود (راولپنډی)

جواب: ګران او محترم وروره! السلام علیم ورحمة الله وبرکاته.

محبت نامه ملاو سوه، د زکوة په باره کی چي تاسو کوم وضاحت غوښتی دی، د هغه جواب دادی: که په دوکان کی ستا صرف ۳۵ پیسی حصه ده باقی د بل چادی نو په

تاباندی به صرف د ننخه دیرش پیسو زکوة واجب وی (۱) باقی زکوة به د هغه چاپه ذ...
وی څوک چي د هغه مالز دی.

والله اعلم
۱۴۰۴/۲/۳۰ھ (۲)

د دوکان د زکوة ایستلو طریقه او واجب الاداء او قابل وصول قرضو او په نقدو باندی د زکوة حکم

سوال: زه د خپل دوکان زکوة ځنګه اداء کړم او کله یی اداء کړم او د هغه د سامان قیمت کوم یو ولګوم، خلګ ماته څه قرض راکوی او څه زه ورکوم، او په څومره پیسو باندی زه زکوة آداء کړم؟ (طلعت محمود راولپنډی)

جواب: د زکوة طریقه داده چي په قمری حساب سره (۳) په کوم تاریخ چي تا دوکان قائم کړی وی، د هغه محتاط اندازه ولګوه، بیا چي هرکال هغه تاریخ راسی، نو اول دا وګوره! چي دغه تاریخ د نقدی روپی څومره دی؟ او د خرڅولو وړسامان څومره دی؟ هغه دهول سیل قیمت ولګوه، بیاچي څومره پیسی ستا په خلګو باندی واجب الاداء دی، هغه را یوځای کړه، د دی درو شیانو مجموعه قیمت، او بلکی بیا چي په تا باندی کومی قرضی واجب دی هغه د دی مجموعی قیمت څخه اخوا کړه (۴) کوم رقم چي باقی پاته سی، که هغه د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو د قیمت برابر یا د هغه څخه زیات وی نو د هغه څلویښتمه حصه زکوة وباسه، (۵) په دعاء کی د یاد ساتلو درخواست دی، والسلام

والله اعلم
۱۲/ ربیع الاول/ ۱۴۰۷ ق ھ (۲)

(۱) د حوالی د پاره وګوری ص ( ) حاشیه نمبر ( ).
(۲) دا فتوی حضرت والا دامت برکاتهم په یو جوابی خط کی لیکلی ده.
(۳) د حوالی د پاره وګوری ص: ( ) حاشیه نمبر ( ).
(۴) د حوالی د پاره وګوری ص: ( ) حاشیه نمبر ( ).
(۵) د حوالی د پاره وګوری ص ( ) حاشیه نمبر ( ).
(۲) دغه جواب حضرت والا دامت برکاتهم د خط په صورت کی ورکړی وه.

په قرض باندی د زکوة د وجوب تفصیل او په کوم قرض باندی زکوة واجب دی؟

سوال: زما په چا باندی قرض دی خو د هغه مقروض له اړخه د اداء کولو څه پته نسته چي رابه یی کړی او که نه؟ ځکه چي اوس د هغه شاید چي وس نسته که هغه یی اداء کړی نو آیا زه به د هغه پیسو زکوة اداء کوم او که ورکوم یی نو د تیرو سوو ټولو کلونو زکوة به ورکوم؟ طلعت محمود (راولپنډی)

جواب: د کوم ځای څخه چي د پیسو ملاویدو بالکل مایوسی بدا سوی وی په هغه زکوة واجب نه دی. (۱) که آینده کله ملاوسی نو صرف هم د هغه کال پیسی زکوة به ورکوی چي په کوم کال ملاو سوی دی، هو! که بالکل مایوسی نه وی پیداسوی بلکی د دواړو احتمال وی چي ملاو به سی یا نه؟ نو د دی زکوة وروسته کولی سی، خو چي کله ورته ملاوسی نو په هغه وخت به د تیرسوز کلونو زکوة ورکوی.

(۲) والله اعلم
۱۸/ ۹/ ۱۴۱۴ھ (۳)

فصل فی صدقة الفطر

د صدقه الفطر د مسائلو بیان

په وریجو باندی (صدقة الفطر) اداء کولو طریقه او حکم

سوال: حضرت والا ته چي ښکه معلومه ده چي د برمائیانو او بنګالیانو خلګو خوراک وزجی وی، لهذا که د یو صاع غنم یا نیم صاع وړو په ځای یو صاع اول درجه وزجی یا د نیمی پیمانی غنمو قیمت معلوم سی د هغه څخه وروسته په هغه قیمت کی چي څومره وزجی راځی هغوندی روژی وباسل سی، لمافی رد المختار ومالم ینص علیه کذرة وخبز یعتبر فیه القیمة (شامی) (۴)

والله اعلم
۲۳/ ۱۲/ ۱۳۹۲ھ

(۱) ....
(۲) د حوالی د پاره وګوری ص: ( ) جواب نمبر ( ) او نمبر ( ) او د هغه حاشیه نمبر ع ت ر ع.
(۳) دا فتوی حضرت والا دامت برکاتهم په یو جوابی خط کی لیکی ده.
(۴) کتاب الزکوة باب صدقة الفطر ج ۲ ص ۳۶۴ (طبع سعید کراچی) همدارنګه وګوری کفایت المفتی ج: ۴ ص ۳۱۲ (جدید ایډیشن دار الاشاعت)

په حدیث کې ذکر سویدی، (فتح القدیر ج۲ ص ۳۱) [1]
او د سوال حرمت د قوت یوم په موجودګی کې ثابت دی، ویؤیدہ مافی الاشباه والنظائر الزکوة واجبة بقدرة میسرة فتسقط بهلاك المال بعد الحول وصدقة الفطر وجبت بقدرة ممکنة فلو افتقر بعد یوم العید لم تسقط (الاشباه والنظائر مع شرحه ج:۱ ص ۲۲۵ الفن ثانی.) [2]
د امام شافعی رحمة الله علیه په نزد د قوت یومیه څخه مراد مطلق دی برابره خبره ده که بغیر د ملك نصاب څخه وی، لاستدلال له بحدیث ابن عمر عناية على هامش الفتح (ج: ۲ ص: ۳۱) الجواب الصحیح بنده
محمد شفیع عفاالله عنه

والله اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۹/ ۱/ ۱۳۸۸ھ
(فتوی نمبر ۱۴۳/ ۱۹ الف)

په کومه زمانه کې چې حکومت د زکوة او عشر دار ډیننس د نفاذ اعلان کړی وو، او په هغه ار ډیننس کې د بینکونو او مالیاتی ادارو څخه د زکوة وصولولو کومه طریقه اختیار کړیده، په هغه باندی د غور کولو د پاره د مجلس تحقیق مسائل حاضره دری اجلاسه وسول چې په هغه کې.

۱. حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب مفتی ومهتمم دار الافتاء والارشاد ناظم اباد کراچی.
۲. حضرت مولانامفتی محمد ولی حسن صاحب مفتی جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون کراچی.
۳. حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب مفتی دار العلوم کراچی.
۴. حضرت مولانا ډاکټر عبد الرزاق اسکندر صاحب استاذ او ناظم تعلیمات جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون کراچی.
۵. حضرت مولانا مفتی سحبان محمود صاحب مفتی وشیخ الحدیث دار العلو[م] کراچی.

[1] ج: ۲ ص: ۲۱۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)
[2] طبع ادارة القرآن کراچی.

(فتوی نمبر ۲۸۲۲/ ۲۷و)

زکوة او فطرانه کې فرق

سوال: په زکوة مقبوله او فطرانه کې څه فرق دی؟
جواب: زکوة سالانه مالی فریضه ده او صدقة الفطر خاص د اختر د ورځې فریضه ...
والله اعلم
۱۸/ ۹/ ۱۳۹۹ھ
(فتوی نمبر ۱۰۲۴/ ۲۸ ج)

د صدقة الفطر اندازه

سوال: حیاة الاسلام د صدقه فطر فی کس دوی روپی اعلان کړیدی صحیح ...
جواب: په اصل کې فطرانه پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه قیمت دی [1]، په ...
۱۳۹۷ھ پاوکم دری روپی دی.
والله اعلم
۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

د صدقه فطر او قربانی په وجوب کې خپل او د خپلو بچو نفقه په حوائج اصلیه کې داخل ده او که نه؟

سوال: صدقه فطر یا قربانی په واجبیدو کې قوت نفس خپل او د بچو حوائج ...
داخل دی او که نه؟ که داخل وی نو د څو ورځو؟ د امام شافعی رحمة الله علیه په ...
یومیه څخه څه مراد دی؟
جوا[ب] ... په تصریح د ټولو فقهاوو حوائج اصلیه کې ...
... حوائج اصلیه ... داخل وی؟ د دی تصریح د فقهاوو ...
... کې د یوی ورځې څخه زیاته نفقه ...
... د قوت هم په لغت کې د نفقة الیوم ...
... صدقة الفطر د وجوب د پاره هم مالك نصاب ...
... صدقة الا عن ظهر غنی، والید العلیا خیر من الید ...

... سعید) ج: ۲ ص ۳۲۴ نصف ... صاع من بر او د قیقه او سویقه او زبیب ...

۲ حضرت مولانا مفتی عبد الرؤف صاحب معین مفتی دار العلوم کراچی.
شامه وو، د مجلس د اړخه چي کوم متفقه تحریر تیار سو هغه ستاسو په خدمت کې
حاضر دی.

❁ ❁ ❁

بسم الله الرحمن الرحيم

د حکومت د بینکونو او مالیاتی ادارو څخه د زکوة وصولولو شرعی حکم

اولنی حصه

الحمدلله وکفی والسلام علی عباده الذین اصطفی اما بعد!

حکومت پاکستان سرکاری سطح باندی د زکوة او عشر وصولولو او تقسیم د پاره یو
آرډی ننس نافذ کړیدی چي د هغه په ذریعه په مسلمانانو باندی واجب الاداء زکوة یو
حصه حکومت وصولوی او د هغه د تقسیم انتظام به کوی د زکوة د وصولی او تقسیم
انتظام د اسلامی حکومت یوه اهمه ذمه واری ده، او که حکومت د انتظام صحیح
احکامو مطابق قائمولو کی کامیاب سی نو دابه د نفاذ شریعت طرفته یو نهایت مثبت
قدم وی، او انشاء الله د دی ملك مسلمانان به د دی دنیوی او اخروی برکاتو څخه
مستفیض سی. خود انظام سرکاری سطح باندی د جاری کولو په وخت حکومت ته
داخبره پوره په ذهن کی کښی نول پکار دی چي د زکات نظام نفاذ څومره د اسلامی
معیشت د پاره ضروری او اهم دی، دومره هغه نازك او د توجه طالب هم دی زکوة
نورو محاصلو او ټیکسونو په شان څه ټیکس نه دی، بلکی دا هغه عظیم الشان عبادت
دی چي د اسلام په پنځه ارکانو کی یو اهم رکن ګرځول سویدی، لهذا په دی کی
عبادت او اطاعت خداوندی د تمامو تقاضو ملحوظ ساتل ضروری دی.
حکومت د زکوة د وصولی او د تقسیم د انتظام په خپله ذمه اخلی. دا یوه داسی درنه
او نازکه ذمه واری پخپل سر اخلی چي د هغه د دینی جذبی، د هغه د اخلاص او د هغه
د حُسن انتظام د پاره یو زبردست از مایش او امتحان حیثیت لری، په دی کی به
حکومت ته یوطرف ته د دی خبری پوره لحاظ ساتل وی چي د کوم مسلمان سره د زکوة
په وصولی کی نا انصافی ونسی، او څومره رقم چي د هغه په ذمه شرعًا واجب الاداء

دی د هغه څخه یوه ټیډی هم زیات وصول نسی څکه چي په حدیث پاك کی د رسول الله
ﷺ ارشاد دی. المعتدی فی الصدقة کما نعها (۱)
یعنی په زکوة وصولولو کی زیاتی کوونکی داسی ګنهګار دی لکه چي زکوة نه اداء
کوونکی.
او بل طرفته به په دی سخت نظر ساتل وی، چي د زکوة نه حاصلیدونکی دا مقدسی
پیسی ټیك د شرعیت مطابق د هغه صحیح مستحقینونو ته ورسیږی او په دی کی څه
خیانت خورد بودو بد عنوانی او یا په شرعی احکامو هم تجاوز ونسی. د زکوة د تقدس
اندازه د دی خبری څخه لګولی سی چي الله ﷻ د دی د مصارفو تعین په انبیاء باندی
پری نه ښووی، بلکی هغه یی به ذات خود په قرآن کی متعین کړل. نو ترڅو چي زکوة د
هغه په مصارفو باندی د صحیح طور د خرڅ کولو د اطمینان بخش انتظام ونسی د
زکوة مقصد نسی پوره کیدلی. لهذا که حکومت د زکوة د اصول تقسیم د دواړو نظام
صحیح طور سره مقررولو کی کامیابیږی نو دابه د هغه یوه عظیمه کارنامه وی، چي د
هغه برکات به انشاء الله په غړیدلو سترګو محسوس سی. لیکن که خدای نه خواسته د
زکوة د دی مقدسو پیسو مستحقینوته د رسولو صحیح انتظام ونسو، نو دکر وړونو
مسلمانانو د عبادت خرابیدلو وبال به هم په حکومت باندی په دنیا او آخرت کی
سنګین وی زموږ دعاء ده چي الله ﷻ دی حکومت ته په دی سخت از میښت کی د
کامیابیدو توفیق ورکړی، او دا نازکه مرحله دی هغوی ته آسانه کړی.
خو د دی مقصد د حصول د پاره مخکی قدم دا پکار دی چي د زکوة او عشر کوم قانون
نافذ سویدی چي هغه شرعی لحاظ سره صحیح وی او په هغه شرعی لحاظ سره څه سقم
باقی پاته نسی، او دوهم قدم ورسره دا پکار دی چي د دی قانون مطابق عمل هم درست
وی. ترڅو چي د قانون تعلق دی، مجلس تحقیق مسائل حاضره په اجلاس کی حالیه
زکوة او عشر په ار ډیننس باندی غور وسو او شرعی نقطه نظر سره د هغه جائزه
اخستلو څخه وروسته لاندینی تبصره په اتفاقی رایی سره منظوره سوه.
د زکوة نصاب: د دی ارډیننس د ټولو څخه لویه غلطی داده چي په دی کی یی په هرکس
باندی د زکوة اداء کول لازم کړیدی، د چا د بینك په اکاونټ کی چي د زکوة د ایستلو
په ورځ د زرو روپو څخه زیاتی پیسی وی، او د بینکونو څخه علاوه نورو مالیاتی

(۱) جامع الترمذی باب المعتدی فی الصدقة ج: ۱ ص: ۱۴۰ (طبع ایچ ایم سعید)

اداروکی دا دزرو قید هم نسته، بلکی د دی اثاثو د حامل افرادو څخه د هغوی د اثاثو د مالیت لحاظ کولو څخه بغیر لازمی طور سره د زکوة مستوجب ګرځول سویدی. او دا په شرعی لحاظ سره لویه غلطی ده، او عملاً د دی قانون په وجه ډیرو خلکو سره زیاتی کیدی سی. په هغوی باندی شرعًا د زکوة څخه واجب کیدلو باوجود به د هغوی څخه زکوة وصول سی.

د شریعت د اړخه زکوة صرف په هغه سړی باندی فرض دی چي د نصاب یعنی دوه نیم پنځوس تولو سپینو زرو یا د دی د مالیت نقدو یا د سرو زرو یا د مال تجارت مالك وی، یا په دی څلور شیانو کی د بعضی یا د ټولو د مجموعی دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو د قیمت برابر ملکیت وی. البته که د کوم کس سره د سرو زرو څخه علاوه څه شی موجود نه وی. نو د هغه نصاب ووه نیمی تولی سره زر دی. بیا که څه هم شرعًا د زکوة د فرضیت د پاره دا ضروری نه ده چي په هر رقم باندی جدا کال پوره سی. لیکن دا ضروری ده چي هغه د کال په اتبداء او آخر کی کم ترکمه په قدر د نصاب د مالیت مالك وی. په ارډیننس کی د زکوة د دی بنیادی شرطونو څه لحاظ نه دی ساتل سوی.

لهذا که نظام زکوة واقعًا د شرعی اصولو مطابق قائمول وی نو په ارډیننس کی داسی ترمیم ضروری دی چي د هغه په رڼا کی زکوة صرف د هغه افردو څخه وصول سی د چا په ذمه چي شرعًا زکوة فرض دی او د هغه عملی طریقه داده: چي دفعه ۲ لاندی ۲۳ کی، د صاحب نصاب کوم تعریف لیکل سویدی، یعنی د صاحب نصاب څخه مراد هغه سړی دی چي د هغه په ذمه د دی ار ډیننس د مخه زکوة واجب الاداء وی هغه دی بدل سی (د صاحب نصاب) تعریف دی داشان وسی: صاحب د نصاب څخه مراد هغه سړی چي د هغه په ملکیت کی دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر، یا د هغه د قیمت برابر د نقدو یا سرو او یاسامان تجارت وی، یا په دی څلورو شیانو کی د بعضو یا د مجموعی یو ځای د دوه پنځوس نیمو تولو سپینوزرو د قیمت برابر وی. بیا هرکال د زکوة د تاریخ څخه مخکی د دوه پنځوس نیمو تولو د سپینو زرو چي څه قیمت وی، د هغه اعلان کولو سره د هغه قیمت د زکوة د صولولو معیار مقرر سی، یعنی صرف د هغه خلکو څخه زکوة وصول سی د چاچي دومره مالیت پیسی په بینکونو یانورو مالیاتی اداروکی جمع وی.

دکال تیریدلو مسئله:

د زکوة د فرضیت د پاره داهم ضروری ده چي د نصاب په مقدار پوره کال تیر سوی وی،

د پوره کال تیریدو مطلب دادی چي که یو سړی یو وار صاحب د نصاب سی او د کال ختمیدو باندی صاحب نصاب پاته سی (د کال په مینځ کی که څه هم د نصاب څخه کم سی البته چي بالکل ختم نسی) نو د کال په ختمیدو چي څومره پیسی هم د هغه په ملکیت کی وی په هغه ټولو پیسو به شرعًا زکوة واجب الاداء وی. برابره خبره ده که د هغه پیسو څه حصه یوه ورځ مخکی د هغه په ملکیت کی راغلی وی. لهذا په هر رقم باندی د کال تیریدل ضروری نه دی، د موجوده آرډیننس لاندی داسی صورتونه عملاً ممکن دی چي په کوم تاریخ د چا د اکاونټ څخه زکوة وضع سی. د هغه څخه صرف یو څو ورځی مخکی هغه صاحب د نصاب جوړ سوی وی، په داسی صورت کی په دی کی د داسی سړی څخ جبرًا زکوة کټ کول شرعًا درست نه دی.

لهذا په ارډیننس کی داسی ګنجایش موجود کیدل پکار دی چي کوم سړی دا ثابته کړی چي د هغه د مقدار نصاب جوړلو کال نه دی پوره سوی نو د هغه څخه زکوة کټ نه سی

دقرضونو مسئله: په آرډیننس کی قرضه جات د قابل زکوة مالیت نه خوا کولو ګنجایش هم نه دی ساتل سوی. په دی سلسله کی فقهاء امت د مذهبونو خلاصه داده چي د امام ابو حنیفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په نزد هر قسم قرض د زکوة څخه د ادا کولو څخه وروسته زکوة واجبیږی. د امام شافعی قدیم قول هم دادی، د امام مالك په نزد قرض د اموال باطنه د زکوة څخه مانع دی. د اموال ظاهره د زکوة څخه نه دی، او د امام شافعی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ قول جدید دادی: چي هرقسم قرض به د زکوة څخه نسی اخوا کولی. (وګوری المجموع شرح المذهب ج: ۵ ص ۳۱۳، ۳۱۴) [۱]

موجوده حالات داسی دی چي کوم سړی د خپل ضروریاتو د ژوند د پاره قرض اخستی وی، هغه د زکوة څخه نه اداکول به په هغه سړی زیاتی وی. البته دا مسئله همیشه د اهل علم په نزد غور پاته سویده، چي نن صبا لوی لوی سرمایه دار د خپلو پیدا واری اغراضو د پاره چي کومی قرضی اخلی، که هغه ټولی اخوا سی نو په هغوی باندی په بعضو صورتونو کی شاید زکوة هم واجب نسی چي د شریعت د مقاصدو څخه بالکل خلاف دی. نو که د داسی قرضو په باره کی که د امام شافعی رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْهِ په مسلك باندی عمل وسی او دا وویل سی چي هغه به د زکوة څخه نسی اخوا کولی، نو دا مناسب

---

[۱] المجموع شرح المذهب (الشرح الدین) هل یمنع وجوب الزکوة فیه.... الخ ج: ۵ ص ۳۴۴ (طبع دار الفکر للطباعة).

دی، ۱۲/ ربیع الاول ۱۳۹۹ھ ته چي د زکوٰة ارډیننس کومه مسوده د رایی عامه د معلومولو د پاره مشهوره سویده، په هغه کی هم د قرضونو د ادا کولو گنجایش موجود وو. او په هغه باندی تبصره کولو سره، مجلس تحقیق مسائل حاضره، هغه وخت هم دغه رائی ظاهره کړی وه. (وګوری ماهنامه، بینات، جمادی الثانی ۱۳۹۹ھ صفحه نمبر ۸)

لهذا د مجلس په رایی کی نصاب، د کال تیریدل، د قرضو په باره کی تجاویز مد نظر ساتلو سره د آرډیننس هغه دریم مجوزه ترمیم څخه وروسته داشان پکار دی.

د ارډیننس د نورو احکامو په تابع کی هرمسلمان صاحب نصاب سړی ته شیډول نمبر ۱ کی درکول سوی تفصیل مطابق هرکال د زکوٰة په اختتام باندی به لازماً زکوٰة وصولولی سی، شرط دادی چي کوم سړی دا ثابت کړی چي د زکوٰة د تاریخ په ورځ د هغه د قابل زکوٰة ټول مملوکات د نصاب مقدار ته د رسیدلو څخه پوره کال نه دی تیر سوی، نو د هغه د مذکوره اثاثو څخه به زکوٰة نسی اصول کولی، او مزید شرط دادی: چي کوم سړی دا ثابت کړي چي هغه مقروض دی او هغه قرضه د څه پیداواری په غرض نه ده اخستی نو د هغه د قرض رقم به د قابل زکوٰة رقم نه سی اخواته کولی.

اموال ظاهره او باطنه:

د بینك د اکاونټ څخه او د نورو مالیاتی ادارو څخه د زکوٰة په اخستلو باندی یو علمی اشکال دادی: چي د فقهائی کرامو د تصریح مطابق چي حکومت ته د اموال ظاهره څخه د زکوٰة اصولولو حق دی نه د اموال باطنه نه، عام طور باندی فقهاوو په مفت څرځایونو (چراگاهو) کی څریدونکی مال، د پټو او باغونو پیداوار، او هغه مال تجارت چي د ښار څخه د باندی وړل کیږی په اموال ظاهره کی شمار کړی دی. او نقدی، زیورات وغیره باقی ... قابل زکوٰة اموال یی اموال باطنه ګڼلی دی. د بینك اکاونټ په صورت د نقدو کی وی نو ځکه په علمی طور سره دا اموال قابل د غور دی، چي حکومت د دی څخه د زکوٰة اخستلو حق لري که نه؟

په دی مسئله باندی د فکر کولو څخه وروسته مجلس په دی نتیجه رسیدلی دی چي په موجوده دور کی د بینك اکاونټس په اموال ظاهره کی شمار کیدی سی

د دی مسئلی تفصیل دادی: چي د حضور ﷺ او حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه، او حضرت عمر فاروق رضی الله عنه په عهد مبارك کی په اموال ظاهره او باطنه کی څه تفریق نه وو. بلکی د دواړو قسم اموالونه به سرکاری سطح باندی زکوٰة وصولیدی، خو د حضرت عثمان رضی الله عنه په عهد خلافت کی کله چي د زکوٰة قابل مالونه ډیر سول او هغوی

دا محسوس کړل چي که د زکوٰة عاملین د خلګو کورونو او د کانونو ته اورسیږی او د هغوی داملاکو چهان بین کوی، نو په دی سره به خلګو ته تکلیف وی، او په دی سره به د هغوی کوروته او د کانونه، ګوداموته او د محفوظ شخصی مقاماتو نجی حیثیت به مجروح سی، نو دوی دافیصله وکړه، چي صرف د هغه مالونو زکوٰة دی د حکومت په سطح باندی وصول سی، د کومو چي په زکوٰة وصولولو کی دا مضرت نه لاحق کیږی، او چي د هغه د حساب د پاره د کورونو او دوکانونو تالاشی اخستل نه وی، داسی مالونه په هغه زمانه کی صرف دوه قسمه وه، یعنی څاروی او زرعی پیداوار، چنانچي صرف د دی زکوٰة حضرت عثمان رضی الله عنه په سرکاری سطح باندی د وصولولو اعلان وکی. او باقی اموال یی اموال باطنه وګرځول او د هغه د زکوٰة اداء کول یی پخپله د مالکانو ذمه واری وګرځوله، وروسته چي کله د عمر بن عبد العزیز دور رالی، نو هغوی د ښارونو د باندی داسی چوکیانی مقرری کړی چي کله یوسړی هلته د مال تجارت سره تیریږی. نو د هغه څخه دی هم هلته زکوٰة وصول سی، په دی موقع باندی د ښار څخه د بهر تلو والا مال تجارت هم په اموال ظاهره کی شمار سو، ځکه چي حکومت د هغه په زکوٰة اخستلو کی او حساب کولو د پاره د مالکانو کورونو او د کانونو او د نجی مقاماتو تالاشی اخستلوته ضرورت نه وو.

د برنی صورتحال د وضاحت د پاره د حضرات فقهاء کرامو تصریحات په لاندی ډول سره درج دی.

۱: علامه ابن همام رحمه الله لیکی:

ظاهر قوله تعالی. خُذۡ مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ صَدَقَةً (الآیه) توجب حق اخذ الزکوٰة مطلقا للامام، وعلی هذا کان رسول الله ﷺ والخلیفتان بعده، فلما ولی عثمان وظهر تغیر الناس کره ان تفتش السعاة علی الناس مستور اموالهم ففرض الدفع الی الملاك نیابة عنه ولم تختلف الصحابة علیه فی ذالك، وهذا لایسقط، طلب الامام اصلاً، ولهذا لوعلم ان اهل بلدة لایؤدون زکوٰتهم طالبهم بها. (فتح القدیر ج:۱ ص: ۴۸۷) (۱)

۲: امام ابوبکر جصاص رحمه الله لیکی چي:

وقوله تعالی: خُذۡ مِنۡ اَمۡوَالِهِمۡ صَدَقَةً، یدل علی ان اخذ الصدقات الی الامام وانه متی اداها من وجبت علیه الی المساکین لم یجزه، لان حق الامام قائم فی اخذها فلاسبیل له الی اسقاطه وقد کان النبی ﷺ یوجه العمال علی صدقات المواشی ویأمرهم بان یأخذوها علی المیاه فی مواضعها.

(۱) طبع قدیم مطبعه کبری امریه مصر.

وروسته لیکی:

اما زکوٰة الاموال فقد كانت تحمل الى رسول الله ﷺ وابی بكر رضی الله عنه وعمر رضی الله عنه وعثمان رضی الله عنه ثم خطب عثمان رضی الله عنه فقال، هذا شهر زكاتكم فمن كانه عليه دين فليؤده ثم ليزك بقية ماله، فجعل لهم اداءها الى المساكين، وسقط من اجل ذالك حق الامام فى اخذها لانه عقد عقده امام من ائمة العدل، فهو نافذ على الأمة لقوله ﷺ: ويعقد عليهم اولهم ولم يبلغنا انه بعث سعاة على زكاة الاموال كما بعثهم على صدقات المواشى والثمار فى ذٰلك، لان سائر الاموال غير ظاهرة للامام، وانما تكون مخبوة فى الدور والحوانيت والمواضع الحريزة ولم يكن جائزا للسعا ة دخول احرازهم ولم يجز ان يكلفوهم احضارها......

ولما ظهرت هٰذه الاموال عند التصرف بها فى البلدان اشبهت المواشى فنصب عليها عمالاً يأخذون منها ما وجب من الزكوٰة، ولذالك كتب عمر بن عبد العزيز رحمه الله الى عماله ان يأخذوا مما يمر به المسلم من التجارات من كل عشرين دينارا نصف دينار.

(احكام القرآن ج: ۳ ص: ۱۵۵ مطبوعه استنبول ۱۳۳۵هـ) [1]

۳: د فقه حنفی په معروف کتاب الاختیار کی دی:

لأن الاخذ كان للامام وعثمان رضی الله عنه فوّضه الى الملاك وذالك لايسقط حق طلب الامام، حتّى لوعلم ان اهل بلدة لايؤدون زكاتهم طالبهم بها ولو مربها على الساعی كان له اخذها. (الاختيار ج: ۱ ص: ۱۰۰) [2]

۴: او صاحب هدایه لیکی چي:

ومن مرّها على عاشر بمأة درهم واخبره ان له فى منزله مائة اُخرى وقد حال عليها الحول لم يزك التى مربها لقلتها ومافى بيته لم يدخل تحت حمايته.

(فتح القدير ج: ۲ ص: ۵۳۶) [3]

د فقهاء کرامو د برنی تصریحاتو څخه داخبره واضحه ده چي نقدی روپی او مال تجارت ترهغه وخته پوری اموال باطنه وی ترڅو چي هغه پټ نجی مقاماتو کی د مالکانو د حفاظت لاندی وی، د داسی مالونو د زکوٰة په اخستو کی چونکی نجی مقاماتو کی دخل اندازی کول دی. نو ځکه هغه د حکومت د وصولیائی څخه مستثنٰی پریښوول سوی. خو چي کله هم دغه اموال مالکان پخپله د نجی مقاماتو څخه را اوباسی او بهر ئی

---

[1] وكذا فى طبع سهيل اكاډمی لاهور.
[2] طبع مكتبه مصطفى البابى مصر.
[3] فتح القدير ج: ۱ ص: ۵۳۶ طبع مكتبه كبرى امريه مصر.

کړی، او د حکومت د حفاظت لاندی راسی تو هغه بیا د اموال ظاهره په حکم کی راځی او حکومت ته د هغه څخه د زکوٰة اخستلو اختیار ورکول سی. ګویا د کوم مال په اموال ظاهره کی د شمارلو د پاره دوه بنیادی امور ضروری دی: یو داچي هغه یې په داسی نجی مقاماتو کی نه وی ایښی چي هلته د هغه د نجی مقاماتو تفتیش کول پریوځی، کمافی العبارة الاولی والثانیة، او دوهم داچي هغه د حکومت د حفاظت لاندی راسی: کمافی العبارة الرابعه.

که په دی معیار باندی د موجوده بینک اکاونټس جائزه واخستل سی نو په دی کی دا دواړی خبری موجودی دی، یو طرفته خو دا هغه اموال دی چي د مالکانو پخپله د خپل حفاظت څخه وباسی، او پخپله یې په حکومت باندی ظاهر کړل او د دی په حساب کی د نجی مقاماتو تفتیش کولو ضرورت نسته، دوهم داچي دا اموال د حمایت لاندی نه بلکی د ضمانت لاندی راغلی دی بالخصوص هرکله چي بینک په سرکاری ملکیت کی وی، او دوی ته چي کوم سرکاری تحفظ ملاو دی هغه په عاشر باندی د تیریدونکی مالونو په مقابله کی ډیر زیات دی نو د مجلس رایه داده چي د بینک اکاونټ او نورو مالیاتی ادارو کی ایښوول سوی مالونه د اموال ظاهر په حکم کی دی، او حکومت د هغه څخه زکوٰة اخستی سی.

او که بالفرض هغه یا په هغه کی ځینی اموال باطنه وګرځول سی بیا هم فقها کرامو رحمه الله تصریح کړی ده.............. چي د کومی علاقی خلګ پخپله زکوٰة اداء نه کړی نو هلته حکومت د اموال باطنه د زکوٰة مطالبه هم کولی سی، لکه چي د فتح القدیر او الاختیار په عبارتونو کی د دی تصریح تیره سویده او همدا مسئله په بدایع الصنایع جلد ۲ ص ۷۰ کی هم موجوده ده.

د زکوٰة د نیت مسئله:

د بینک اکاونټس او نورو مالیاتی ادارو څخه جبراً زکوٰة د کټ کولو په باره کی یو دوهم علمی اشکال داکیدی سی چي زکوٰة یو عبادت دی او د نورو عبادتونو په شان په دی کی هم نیت ضروری دی خو چي کله په مذکوره اداروکی جبراً زکوٰة کټ کولی سی. نو په هغه کی د مالکانو د اړخه شاید نیت ونکړل سی؟

د فقهائی کرامو په تصریحاتو کی د دی اشکال حل هم سته او هغه داچي حکومت ته د کومو مالونو د زکوٰة د اخستلو حق دی په هغه کی د حکومت اخستل بذات خود د قیام مقام جوړیږی چنانچي علامه شامی رحمه الله لیکی:

... الكرخي رحمه الله اذا اخذها الامام كرها فوضعها موضعها اجزأ لانه له ولاية اخذ الصدقات فقام
اخذه مقام دفع المالك وفي القنية: فيه الاشكال، لان النية فيه شرط ولم توجد منه اه قلت: قول الكرخي
رحمه الله فقام اخذه الخ يصلح للجواب، تأمل. (رد المحتار ج: ۲ ص: ۳۳) (۱)

بینک اکاونټس د قرض کیدلو حیثیت:

د بینک اکاونټس څخه په زکوة اخستلو باندی دریمه شبه داهم کیدی سی چي په
بینکونو کی کومی پیسی جمع کیږی هغه د فقهی په اعتبار سره د قرض په حکم کی
دی او مقروض ته داحق ځنګه رسی چي هغه د قرض خوا د پیسو څخه زکوة واخلی، خو
په فکر کولو سره معلومیږی چي د قرض د جوړیدو څخه وروسته دا اموال د مضمون
کیدلو په وجه نورهم په سرکاری تحفظ کی راتلل، ځکه په قرض کیدلو سره د حکومت
د زکوة په وصولولو سره څه منفی اثر نه غورځیږی دا بلاشبه قوی دین دی چي په هغه
باندی بالاتفاق زکوة فرض دی او د بینکونو د سرکاری ملکیت کیدو په وجه دا رقوم
صرف د حکومت په علم کی نه وی بلکی د هغه په قبضه او ضمانت کی راځی، نوځکه
که حکومت د ولایت عامه په وجه د هغه څخه زکوة واخلی نو په دی کی څه شرعی
قباحت نسته.

محتاط طریقه: خو مجلس داګڼی چي بینک اکاونټس او نورو مالیاتی ادارو څخه د
زکوة اخستلو محتاط طریقه به داوی چي کله څوك په دی ادارو کی پیسی اینبوولو د
پاره راسی نو هغه دی یوفارم ډك کړی چي په هغه کی د هغه د اړخه متعلقه اداری ته
اختیار ورکول سوی وی چي هغه دی د زکوة تاریخ په راتلو باندی د هغه د پیسو څخه
زکوة کټ کړی او د زکوة په فنډ کی دی ورکړی، داشان به دا اداری د مالکانو د اړخه
وکیل باداء الزکوة جوړی سی بیابه په دی کی نه د اموال باطنه په بنیاد څه
اشکال باقی پاته سه او نه د نیت په بنیاد او نه د اکاونټس د قرض کیدلو په بنیاد

بینک اکاونټس او زکوة: د بینک اکاونټس څخه په زکوة اخستلو باندی یو خلجان
په ذهنونو کی داوی چي داسودی اکاونټس دی او سود او زکوة دواړه څنګه جمع
کیدی سی؟

(۱) رد المحتار: ۲: ص: ۲۹ (طبع ایچ ایم سعید)

په دی کی هیڅ شك نسته چي په یو اسلامي حکومت کی د سودی کاروبار وجود د دی
په تندی باندی د کلنګ یو شرمناکه ټیکه ده، او خاصکر د زکوة نظام د جاری کولو
څخه وروسته د دی حرام او ناپاك د امدن ذریعی باقی ساتلو څه جواز نسته، لهذا دا
حکومت فرض دی چي هغه دی په ممکنه چټکتیا سره مسلمانان د دی سودی نظام د
دی لعنت څخه خلاص کړی، خو ترڅو چي د زکوة د اداء کولو تعلق دی په فقهی اعتبار
سره که د یو سړی آمدنی کی حلال او حرام سره مخلوط وی او هغه د مجموعی څخه
زکوة اوباسی نو په دی کی څه قباحت نسته، فرق صرف دومره دی، چي د حلال آمدنی
(۲.۱ ۲) دوه نیم فیصده په شرعا زکوة وی او د حرامی آمدنی څخه د ځان خلاصولو
د پاره ورکول کیږی، اصلی شرعی حکم دادی چي سود اخستل حرام دی. خو که څوك
سود واخلی نو هغه ټول په ټوله واجب التصدق دی، اوس که حکومت د هغه څخه دوه
نیم فیصده د زکوة په فنډ کی ورکړل (هرکله چي د زکوة په فنډ کی صدقات نافله او
عطیات هم شامل دی) نو په مالکانو شرعًا واجب دی چي باقی پاته سود هم صدقه
کړی، نو داچي د دی په وجه د اصل مال زکوة هم اداء نه کړی.

د مثال په طور د یوه سړی زر روپی په بینك کی جمع دی او په هغه باندی سل روپی
سود اضافه وسوه نو حکومت به په پوره یوولس سوو روپو باندی دوه نیم فیصده په
حساب سره اوه ویشت نیمی روپی وصولوی، په دی اوه ویشت نیمو روپو کی پنځه
ویشت روپی د دی سړی په اصل زر (۱۰۰۰) روپو باندی زکوة دی. او دوه نیمی روپی
زکوة نه دی بلکی د سود پیسی پوره په پوره صدقه کول پکار وو، د هغه څه حصه ده،
که داهم د زکوة په فنډ کی ولاړی سی نو په دی کی څه قباحت نسته، ځکه چي د دی
مصرف هم فقراء دی.

د نابالغه زکوة: امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد د زکوة د وجوب د پاره د صاحب نصاب
عاقل او بالغ کیدل شرط دی، او د امام شافعی رحمه الله او امام مالك په نزد د نابالغه او
فاتر العقل په مال باندی هم زکوة لازم دی، په اوسنیس کی چونکی د بالغ او نا بالغ څه
فرق نه دی سوی ځکه چي په دی کی غالبًا شافعی مسلك اختیار سوی دی او د خلګو د
موجوده حالاتو پیش نظر که ضرورت داعی وی نو د دی ګنجایش سته.

د میراث مال: البته په بینك اکاونټس کی بعضی مالونه داسی کیدی سی چي د
یو مرحوم سړی میراث وی، چونکی د مرحوم په مرګ سره په دی مالونو باندی د وارثانو

حق ثابتیږی. او په ورثاء کی د هر یو سړی صاحب نصاب کیدل ضروری نه وی، نو
د دی مال څخه زکوة اخستل صحیح نه دی، لهذا په ارډیننس کی د دی استثناء
هم پکار دی. چې کوم سړی د زکوة کټ کولو په ورځ مړ سوی وی د هغه د اکاونټ څخه
په زکوة نه کټ کیږی.

کمپنیانی او شیرز: په آرډیننس کی کمپنیانی هم صاحب د نصاب ګرځول سوی دی
کمپنیانو حصص هم په شیډول نمبر ۱ کی درج سوی دی، هغه ته د زکوة د کټ
حکم ورکول سوی دی، د دی څخه په ظاهره دا معلومیږی چې د هری کمپنی د
اکاونټس ته بحیثیت فرد قانونی جلا زکوة اخستل کیږی، او د دی کمپنی د
دارانو څخه د هغوی په حصوباندی به بیل او جلا زکوة وصولیږی، که واقعاً همدا
وی نو داطریقه د شریعت څخه خلاف ده، ځکه چې په دی کی د یومال څخه دوه
زکوة اخستلو احتمال دی چې هیڅکله جائز نه دی، لهذا که د کمپنیانو څخه
وصولیږی نو د حصه دارانو څخه دی بیل زکوة وصول نه کړی سی، او که د حصه دارا
څخه وصولیږی نو د کمپنیانو څخه دی وصول نه کړی سی، په دی دواړو صورتونو
د مجلس په نزد بهتر دادی چې زکوة په حصص باندی وصول سی.

عشر د نقدو په صورت کښی: په آرډیننس کی د عشر یوه حصه هم لازماً د وصولو
څخه مستثنی پرینبوول سویده، مثلاً د بارانی مځکو پیداوار پنځه فیصده او د
څخه علاوه په هر قسم مځکو کی د زمیندار حصه مستثنی پرینبوول سویده،
ورسره یی دا تصریح کړیده چې په دی باندی شرعاً عشر واجب دی چې هغه به مالک
په خپل طور اداء کوی، په دی حکم کی شرعاً څه خرابی نسته خو د آرډیننس په دفعه
د پنځمی شماری لاندی کی صراحت سوی دی چې عشر به د نقدو په صورت کی
کول کیږی صرف د غنمو او دانو په باره کی دا استثناء ایښوول سویده، که د زکوة
صوبائی کونسل غواړی نو هغه دی د جنس په صورت کی وصول کړی. د مجلس په رایه
کی دا حصه هم د ترمیم لایقه ده، ځکه چې شرعاً عشر د نقدو په صورت کی اداء کول
لازم نه دی، بلکی د شریعت په دی کی د مالک پیداوار اسانتیا ملحوظ ساتلی ده،
داپابندی دی ختمه سی. او دا معامله دی د مالک د پیداوار په صوابدید باندی
پرینبوول سی.

د څلورمی حصی پیداوار د عشر څخه استثناء: ار ډیننس کی د زرعی پیداوارو څلورمه

حصه د اخراجاتو په مد کی د عشر څخه مستثنی کولو ګنجایش ساتل سوی دی، که څه
هم د بعضو امامانو اقوال داشان منقول دی چې د زرعی پیداوارو څلورمه حصه د
اخراجاتو په مد کی مستثنی کولی سی، (وګوری فتح الباری باب خرص التمر ج: ۳
ص: ۲۷۴) (۱) خو د فقهائی حنفیه او اکثره فقهاوو په مسلک کی دا رعایت نسته. لهذا
که حکومت دا څلورمه حصه د لازمی وصولی څخه مستثنی کول غواړی، نو ورسره دی
دا اعلان هم وکړی، چې د دی حصی عشر دی مالکان پخپله اداء کړی.

د زکوة تاریخ: د موجوده آرډیننس مطابق د هر زکوة کال به د رمضان المبارک د اول څخه
شروع کیږی او د شعبان په آخری ورځ به ختمیږی، او دا خبره اطمینان بخش ده چې د
شریعت مطابق یی د زکوة د تقسیم د پاره هجری قمری کال اختیار سو، خو د مختلفو
اثاثو د قیمت لګولو د پاره په شیډول نمبر ۱ کی مختلف تاریخونه مقرر سوی دی، دا
صورتحال شرعاً درست نه دی شرعی صورت دادی چې کله یو سړی صاحب د نصاب
جوړسی، نو د هغه د هر رقم د پاره جلا کال نه شمیرل کیږی بلکی د هغه د ټولو اثاثو د
پاره د زکوة د وجوب هم یو تاریخ وی، لهذا صحیح طریقه داده چې د ټولو اثاثو د
قیمت لګولو د پاره همدا یو تاریخ اوساتل سی.
البته د دی قیمت په بنیاد باندی د زکوة کټ کولو تاریخونه د مختلفو اثاثو په مختلف
کیدی سی.

د قیمتی کانو او کبانو زکوة: د آرډیننس شیډول نمبر ۲ کی د لاندی شیانو فهرست ور
کول سوی دی چې په هغه باندی به حکومت لازما زکوة نه اخلی، بلکی پخپله په
مالکانو به د هغه زکوة اداء کول واجب وی، په دغه فهرست کی په قیمتی کانو او کبانو
هم زکوة لګول سوی دی، حالانکی په دی دواړو شیانو باندی ترهغه وخته پوری زکوة نه
واجب کیږی ترڅو چې د تجارت په نیت اخستل سوی نه وی، لهذا دا دواړه شیان د دی
شیډول څخه خارجول پکار دی، ځکه چې دا د تجارت په نیت د اخستلو په صورت کی
به په اموال تجارت کی شامل سی چې د هغه ذکر په شیډول نمبر ۲ کی موجود دی.

د زکوة مصارف: د زکوة د مصارفو په بیان کی په ارډیننس کی براه راست فقیرانو ته
زکوة رسولو سره د مختلفو ادارو په توسط د فقیرانو د امداد هم ذکر سوی دی. په دی

(۱) فتح الباری باب خرص التمر ج: ۳ ص: ۳۴۴ الی ص: ۳۴۷ دار نشر الکتب الاسلامیه لاهور.

کی دا وضاحت پکار دی چي په هرصورت کی د زکوة اداء کول به د زکوة مستحق
باقاعده مالك جوړولو سره کيږی، دا وضاحت ځکه ضروری دی. چي د آرډيننس
اوردو ترجمی څخه دا شبه کيدلی سی چي مذکوره اداری هغه د تعمير او عملي
تنخواه ګانو کی لګولی سی چي شرعًا جائز نه دی، انګريزی متن که څه هم نسبتًا
دی، خو په هغه کی هم دا وضاحت ضروری دی.

د حکومت د پاره د تجويزونو خلاصه:

۱: د صاحب نصاب د موجوده تعريف په ځای دی حسب ذيل تعريف وليکل سی: چي
صاحب د نصاب څخه مراد هغه سړی دی چي د هغه په ملکيت کی دوه پنځوس نيم
تولی سپين زر يا د هغه د قيمت نقدی روپی، سره زر يا د تجارت سامان وی. يا په دی
ځورو شيانو کی بعضی يا د ټولو مجموعه را يوځای کولو سره د دوه پنځوس نيم
تولو سپينو زرو د قيمت برابر وی، بيا هرکال د زکوة د تاريخ څخه مخکی د دوه
پنځوس نيمو تولو سپينو زرو چي څه قيمت وی د هغه دی اعلان وکړی او دغه قيمت
دی د زکوة وصولولو معيار مقرر سی، يعنی صرف د هغه خلکو څخه دی زکوة وصول
سی څوك چي د دی معيار ماليت رقوم په بينکونو يا نورو مالياتی ادارو کی جمع وی

۲: دارډيننس دفعه نمبر ۳ کی ترميم دی وکړی او داسی دی جوړ کړی:
د ارډيننس د نورو احکامو تابع هر مسلمان د نصاب خاوند سړی څخه د شيډول نمبر ۱
کی ورکول سوی تفصيل مطابق زکوة د هرکال په اختتام باندی به لازمًا وصوليږی
شرط دادی: چي کوم سړی داثابته کړی چي د زکوة د تاريخ په ورځ د هغه د زکوة قابل
ټول مملوکات د نصاب مقدار ته د رسيدلو پوری پوره کال نه دی تير سوی نو د هغه د
مذکوره اثاثو څخه به زکوة نه وصليږی.
بيا مزيد شرط دادی چي کوم سړی داثابته کړی چي هغه مقروض دی. او هغه قرضه يې
د څه پيداوار په غرض نه ده اخستی، نو د هغه د قرضی رقم به د قابل زکوة رقم څخه
اخوا سی
بيا مزيد شرط دادی چي د کوم سړی په باره کی باضابطه د ډيت سر ټيفيکټ په ذريعه
دا ثابت سی چي هغه د زکوة کټ کولو په ورځ مړ سوی دی نو د هغه د
هم زکوة نسی کټ کولی.
۳: په بينکونو او نورو مالياتی ادارو کی پيسو اينښوونکو څخه دی يوه وکالت نامه
... کل سی چي په هغه کی هغه متعلقه مالی اداروته دا اختيار ورکړی چي د زکوة

تاريخ په راتلو باندی هغه اداره دده د طرفه زکوة کټ کړی او د زکوة په فنډ کی دی
جمع کړی.

۴: د کمپنيانو او د هغه د حصص څخه دی بيل بيل زکوة وصول نه سی او که په حصص
باندی وصوليږی نو د کمپنيانو څخه دی جلا جلا زکوة وصول نه سی او که په حصص
باندی وصليږی نو د کمپنيانو څخه دی وصول نه سی. په دی دواړو صورتو کی ښه
دادی چي په حصص باندی وصول سی.

۵: د عشر دی د نقدو په صورت اخستلو پابندی ختمه سی بلکی دا کار دی د پيداوار
په مالك باندی پريښوول سی، که هغه غواړی نو د جنس په صورت کی دی اداء کړی او
که غواړی نو د نقدو په صورت کی.

۶: د هر زرعی پيداوار څخه ځلورمه حصه چي حکومت يی په طور د منهائی اخراجات
پريږدی، د دی په باره کی دی دا اعلان اوسی چي د دی حصی عشر دی مالکان پخپله
اداء کړی.

۷: د شيډول نمبر ۱ د ټولو اثاثو د پاره د قيمت مقررولو تاريخ (ويلويشن ډيټ) دی هم
يو مقرر سی، او د مختلفو اثاثو د پاره دی مختلف تاريخونه نه ږدی خو د زکوة کټ
کولو تاريخونه د مختلفو اثاثو په لحاظ سره مختلف کيدی سی.

۸: **قيمتی کانی او کبان دی د شيډول نمبر ۲ څخه خارج سی.**

۹: په شيډول نمبر ۲ کی د ځاروو د زکوة شرح بيانول د پنځو څخه تر پنځه ويشتو
پوری دا شرح ډيره مجمله ده چي د هغه څخه داسی محسوسيږی چي د پنځو څخه تر
پنځه ويشتو اوښانو پوری يو اوښ واجب دی، د دی دی اصلاح اوکړی او په واضح
طور سره دی وليکی چي د پنځو څخه تر پنځه ويشتو پوری په هرو پنځو اوښانو باندی
يوه چيله واجب ده.

۱۰: د زکوة په مصارفو کی دی دا وضاحت اوسی چي په هر صورت کی به د زکوة
مستحق مالك او قابض جوړولی سی، او دا اداری به دا پيسی په تعميراتو او د
استاذانو په تنخواه ګانو کی نسی مصرف کولی.

داڅو تجويزونه دی چي د آرډيننس فوری مطالعی سره مخ ته راتلل
ولعل الله يحدث بعد ذالك امرًا
واٰخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمين

(دستخط)

۱. حضرت مولانا رشید احمد صاحب
مفتی او مهتمم د دار الافتاء والارشاد ناظم اباد کراچی.
۲. مفتی مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب
مفتی ومهتمم دار العلوم کراچی.
۳. حضرت مولانا مفتی تقی عثمانی صاحب
خادم دار الافتاء دار العلوم کراچی.
۴. حضرت مولانا مفتی ولی حسن صاحب
مفتی جامعة العلوم الاسلامیه علامه بنوری ټاون کراچی.
۵. حضرت مولانا ډاکټر عبد الرزاق اسکند صاحب
استاد وناظم تعلیمات جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون کراچی.
۶. حضرت مولانا مفتی سحبان محمود صاحب
دار العلوم کراچي ۱۴
۷. حضرت مولانا مفتی عبد الرؤف صاحب
نائب مفتی دار العلوم کراچي ۱۴

د بینکونو او مالیاتی ادارو څخه د زکوة مسئله

(دوهمه حصه)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَكَفٰى وَسَلَامٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى

اَمَّا بَعْدُ:

مجلس تحقیق مسائل حاضره خپل ۲۱ شعبان سنه ۱۳۹۹ھ په اجلاس کی د زکوة او عشر په ارډیننس باندی تبصره کولو سره یی چي کوم تحریر ترتیب کړی دی، هغه د رایی د اظهار د پاره د ټول ملك معروف اهل فتوی علماوو خدمت ته واستول سو، الحمدلله په هغه کی د اکثرو فتوو جوابونه پیداسول، لاندی درج سوی حضراتو په دی تحریر باندی په اصل مسئله کی د څه ترمیم څخه بغیر د مجلس رایی سره په اتفاق کولو تصدیقی دستخطونه اوکړل

۱: شیخ الحدیث حضرت مولانا عبد الحق صاحب مهتمم دار العلوم حقانیه اکوړه خټك

۲: حضرت مولانا مفتی عبد الله صاحب، مفتی ومهتمم مدرسه قاسم العلوم ملتان
۳: حضرت مولانا مفتی عبد الحکیم صاحب، مفتی مدرسه اشرفیه سکر.
۴: حضرت مولانا سلیم الله خان صاحب مد ظلهم، مهتمم جامعه فاروقیه ډرګ کالونی کراچي (دوی د نیت په مسئله کی څه قدر تردد فرمائیلی دی او د نورو امورو سره یی اتفاق کړی دی.
۵: حضرت مولانا فاضل حبیب الله صاحب مهتمم جامعه رشیدیه، ساهیوال.
۶: حضرت مولانا مفتی محمد سعید صاحب مفتی مدرسه مطلع العلوم بروری روډ کویټه.
۷: حضرت مولانا فضل محمد صاحب، مهتمم مدرسه مظهر العلوم، مینګوره، سوات.
۸: حضرت مولانا محمد وجیه صاحب، مفتی دار العلوم الاسلامیه ټنډواله یار سنده.
۹: حضرت مولانا متفی محمد خلیل صاحب، مدرس مدرسه اشرف العلوم باغبان پوره ګوجرانواله.
۱۰: حضرت مولانا حبیب الحق صاحب، مدرس مدرسه اشرف العلوم باغبان پوره ګوجرانواله.
۱۱: حضرت مولانا قاضی سعد الله صاحب، رکن مجلس شوری قلات ډیویژن. ستونګ بلو چستان (وحال رکن اسلامی نظریاتی کونسل پاکستان).
۱۲: حضرت مولانا قاضی بشیر احمد صاحب، دار الافتاء راولاکوټ، آزاد کشمیر.
۱۳: حضرت مولانا مقبول الرحمن صاحب قاسمی، دار الافتاء راولاکوټ پونچ آزاد کشمیر.
۱۴: حضرت مولانا عبدالله صاحب، ناظم دار العلوم تعلیم القرآن باغ پونچ آزاد کشمیر.
۱۵: حضرت مولانا ثناء الله صاحب، خطیب جامع مسجد باغ پونچ آزاد کشمیر.

د دی حضراتو څخه علاوه لاندی درج سوی حضرت او د مجلس په تحریر باندی مفصل یا مختصره تبصره کړیده، نو د هغه د ځینی نکاتو سره یی اختلاف هم کړی دی.

۱: حضرت مولانا مفتی جمیل احمد صاحب تهانوی، مفتی جامعه اشرفیه لاهور.
۲: حضرت مولانا مفتی عبد الستار صاحب، مفتی خیر المدارس ملتان.
۳: حضرت مولانا عبد الشکور صاحب ترمذی، دار العلوم حقانیه، ساهیوال. ضلع سرګودها.
۴: حضرت مولانا سرفراز خان صاحب صفدر، مدرسه نصرت العلوم ګوجرانواله.

دی حضراتو کی بعضو څه د مجلس د تحریر په څو غلطیانو باندی مجلس بیدار کړ
دی، چي په هغه باندی مجلس د دی حضراتو د زړه د اخلاصه ممنون دی، هغه غلطیانی
په لاندی ډول دی.

۱: د مجلس په تحریر کی د (حولان حول) شرط په وضاحت کولو سره دا لیکل سوی وو
چي د زکوة د وجوب د پاره ضروری وی چي (مالنامی په قدر د نصاب) ټول کال د
په ملکیت کی پاته سوی وی. حالانکی په دی کی دا تفصیل دی. که د کال په اول
آخر کی نصاب کامل وی او د کال په مینځ کی ناقص سی. نو بیا هم زکوة واجبیږي د
مجلس په تحریر کی دلته نقص پاته سوی وو. (۱) اوس دی دا عبارت د مجلس د طرف
کالعدم وګڼل سی. چي د هغه څخه دا مفهوم را وځی چي د زکوة د وجوب د پاره د
کامل نصاب ټول کال په ملکیت کی پاته کیدل ضروری دی.

۲: د صاحب نصاب تعریف په سابقه تحریر کی داشان سوی وو، د صاحب نصاب څخه
مراد هغه سړی دی چي د چا په ملکیت کی دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر وی، یا د
هغه د قیمت نقدی روپی یا سره زر یا د تجارت سامان وی، یا په دی څلورو سرو کی د
بعضی یا د ټولو مجموعی دوه پنځوس نیمی تولی سپینو زرو د قیمت برابر وی، په دی
تعریف کی د دی صورت د حکم بیان پاته سوی ووو چي په هغه کی د یو سړی سره
صرف سره زر دی، سپین زر یا نقدی ورسره بالکل نه وی (۲) په داسی صورت کی د
سرو نصاب یعنی اوه نیمی تولی سره زر شرعًا معتبر دی. چنانچي په دی غلطی باندی
متنبه کیدلو څخه وروسته مجلس د صاحب نصاب مجوزه تعریف کی تبدیلی او کی او
دا شان تعریف یی کړی دی، زرعی پیداوارو و څاروو څخه علاوه نورو قابل زکوة
مالونو کی د صاحب نصاب څخه هغه سړی مراد دی د چا په ملکیت کی چي دوه
پنځوس نیمی تولی (۳۵، ۶۱۲ ګرام) سپین زر یا اوه نیمی تولی (۴۸، ۸۷ ګرام) سره

(۱) چی د هغه وجه داوه چی د فقهاء وو په عبارتونو کی مطلقا د مال نامی څخه یی نصاب سره تعبیر کول
قدر معهود ته نصاب کامل او دی ته یې نصاب ناقص وایی. په وخت د تحریر لفظ نصاب. باندی نظر
وو. او (بقدر) لفظ سهوآ تحریر کی رالی مقصد دادی چی مال نامی ټول کال موجود وی خو د کال په
طرفینو کی د نصاب کامل کیدل شرط دی که څه هم په مینځ کی ناقص پاته سوی وی.

(۲) د دی صورت حکم که څه هم په تعریف کی د درج کولو څخه پاته سوی وو. خو د تعریف څخه مخکی
عبارت کی د دی صراحت سوی وو. (حواشی د حضرت والا دامت برکاتهم) مرتب.

زر یا په دی دواړو کی د یو د قیمت برابر روپی یا د تجارت سامان وی. یا د مذکوره
برنی شیانو د بعضو یا د ټولو مجموعه یوځای کولو سره د سرو زرو یا سپینو زرو
وزن مذکور د قیمت برابر سی.

مجلس د دی ترمیم سوی تعریف څخه اسلامی نظریاتی کونسل هم خبر کړی وو.
چنانچي اوس حکومت چي کوم نوی ترمیم سوی ارډیننس سنه ۱۹۸۰ نافذ کړی دی. په
هغه کی د خدای په فضل سره د دی په رڼا کی ترمیم سوی دی (۱) (وګوری د زکوة او
عشر ترمیمی ارډیننس ۱۹۸۰ دفعه ۳ ذیل الف)

۳: د مجلس په تحریر کی لیکل سوی وه، چي د ښار څخه بهر تلونکی تجارتی مالونو د
زکوة اخستلو د پاره حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله چوکیانی مقرر کړی وی. د دی
څخه دا تاثیر ملاویدی، چي د دی چوکیانو سلسله د ټولو څخه اول حضرت عمر بن
عبد العزیز رحمه الله شروع کړی ده، حالانکی داخبره صحیح نه ده، واقعه داده چي د
حضرت عمر رضی الله عنه په زمانه کی په دی چوکیانو باندی د زکوة اخستلو سلسله شروع
سوی وه. (وګوری مبسوط او کتاب الاثار وغیره) (۲)

دا خو یو څو جزوی غلطیانی وی، خو مذکوره څلورو حضراتو په بنیادی طور باندی
چي د کومی مسئلی سره اختلاف کړی دی، یایی په هغه باندی د خپل تردد اظهار کړی
دی، هغه د بینک اکاونټس یا د نورو مالیاتی ادارو څخه د زکوة کټ کولو مسئله ده. په
دی سلسله کی د دی حضراتو په دلائلو یا شبهاتو باندی مجلس دوباره غور وکی. خو د
غور او تحقیق څخه وروسته په دی مسئله باندی لږ په تفصیل سره خبری اوسی.

د بینک اکاونټس او نورو مالیاتی ادارو څخه زکوة اخستلو باندی چي د کومو شبهاتو
اظهار سوی دی، په بنیادی طور باندی هغه دری شبهات دی.

۱: حکومت ته صرف د اموال ظاهره څخه د زکوة اخستلو حق دی. د اموال باطنه څخه د
زکوة اخستلو حق حکومت ته نسته، بلکی په مالکانو باندی د دی د زکوة اداء کول په
خپل طور سره فرض دی او نقود چونکی اموال باطنه دی. نو ځکه خو د بینک اکاونټس
هم په اموال باطنه کی سول، او د دی څخه حکومت ته د زکوة اخستلو حق نسته.

(۱) په نوی ارډیننس کی د مجلس نور ډیر تجاویز هم شامل سوی دی مثلاً د حولان حول شرط د مړی د
میراث مستثنی کولو شرط د ټولو اثاثو د پاره یو ویلوشن ډیټ تجویز وغیره. حاشیه د حضرت دامت
برکاتهم).

(۲) المبسوط للسرخسی ج: ۲ ص: ۱۹۹ (طبع دار المعرفت بیروت) (مرتب)

۲: د بینك اکاونټس په حقیقت کې د بینك په ذمه د اکاونټ هولډرانو قرض دی، ک…
چي دا رقم مالك بینك ته ورکړلو، نو هغه رقم د هغه د ملکیت څخه ووتی او د بینك…
ملکیت کې داخل سو. اوس په اصلي مالك باندی زکوة هغه وخت کی واجب کیږي کل…
چي هغوی د بینك څخه دغه رقم واپس وصول کړي، د دی څخه مخکی چي د بینك څخ…
کوم زکوة کټ کیږي، هغه د وجوب اداء څخه مخکی د یوداسی مال نه وصولیږي چې پ…
هغه باندی زکوة واجب الاداء نه دی او چې د بینك هولډر ملکیت نه دی لهذا د دی څخ…
د زکوة هیڅ جواز نسته.

۳: د زکوة د اداء کولو د پاره د اداء کوونکی نیت ډیر کرتی نه وی.

په دی درو سرو مسئلو باندی لږ په تفصیل سره لاندی ډول بحث کول کیږي

والله سبحانه الموفق

اموال ظاهره او اموال باطنه: څنګه چي د (مجلس) په سابقه تحریر کی د امام ابوبکر…
جصاص او نورو فقهاوو د تصریحاتو په حوالی سره عرض سوی وو، چي د حضر…
او حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه په زمانه کی په اموال ظاهره او باط…
کی څه فرق نه وو، بلکی د هرقسم قابل زکوة مالونو څخه په سرکاری سطح باندی زکو…
وصولیدی. خو د حضرت عثمان رضي الله عنه په زمانه کی کله چي د مالونو او آبادی کثر…
سو. او دائیره پیداسوه چي د خلګو د نجی مکاناتو وغیره کی د زکوة کار کوونکو…
مداخلت څخه به خلګو ته تکلیف وی، او د دی به فتنی پیداسی، نو حضرت عثما…
غنی رضي الله عنه صرف د اموال ظاهره څخه د زکوة اخستل په سرکاری سطح باندی باق…
اوساتل او د اموال باطنه د زکوة په اداء کولو کی یی پخپله مالکان د حکومت نائبین
جوړ کړل.

د حضرات فقهاء کرامو د تصریحاتو په رڼا کی دا عرض سوی وو، چي د کوم مال په…
اموال ظاهره د شمیر کیدلو د پاره دوه امور ضروری دی.
یو داچي د هغه مالونو زکوة د وصولی د پاره د مالکانو د نجی مقاماتو تفتیش کول…
نه وی.

دوهم داچي هغه مالونه د حکومت د حمایت لاندی وی. بیا عرض وسو چي په بینکونو…
او نورو مالیاتی ادارو کی په اینښوول سو پیسو کی دا دواړه امور موجود دی، لهذا…
دابه (اموال ظاهره) شمار کیدی سی، په دی باندی بعضی حضراتو دا اعتراض کړی…
دی: چي د کوم مال د ظاهریدو اصل علت، خروج من المصر دی، چونکی په هغه دور…

کی د ښار په ناکو باندی د حکومت د اړخه عاشر د دی دپاره کښېنولی سو چي هغوی
دسفر کوونکو د ځان او مال حفاظت اوکړي، نو څکه د ښار څخه په وتلو سره به تول
مالونه د حکومت د حمایت لاندی راتلل، او په دی وجه به حکومت د هغه څخه زکوة
اخستی، د نجی مقاماتو تالاشی او تفتیش ضرورت نه کیدی د دی حُکم حکمت دی،
علت نه دی. لهذا د دی حکم دار مدار به په (خروج المصر) باندی وی، او چونکی دا
علت به بینکونو او نورو مالیاتی ادارو کی نسی پیداکیدی، نو څکه داپه اموال ظاهره
کی داخلول او د هغه څخه په سرکاری سطح باندی زکوة اخستل درست نه دی.
مجلس په دی نقطه نظر مکرر غور وکی، او په دی مسئله کی یی د فقهی او حدیث
متعلقه مواد مخ ته کښېنوول، خو د غور او تحقیق څخه وروسته دا نتیجه مخی ته
راله چي سرکاری سطح باندی د زکوة د وصولولو د پاره (خروج من المصر) علت جوړول
او په هغه باندی د حکم مدار اینښوول درست نه دی، بلکی اصل علت هم هغه دی چي
اموال داسی وی چي د هغه څخه د زکوة اخستلو د پاره د نجی مقاماتو د تفتیش
ضرورت نه وی او د هغه دلائیل لاندی دی.

د حدیثو او فقهی د کتابنو څخه داخبره ثابته ده چي د حضرت خلفائی راشیدین رضي الله عنهم او
وروستنی خلفاوو او امراوو د کلنی تنخواه ګانو اوو ظائفو د تقسیم په وخت د همدغه
تنخواه ګانو او وظیفو څخه به یې زکوة کټ کوی، او په دی باندی صحابه کرامو رضي الله عنهم
او تابعینو او نورو فقهاوو څخه څه نکیر کړی دی، بلکی د دی طریقی یې تائید او
تصدیق هم کړی دی، چنانچي موطا امام مالك رحمه الله کی روایت دی:

قال القاسم بن محمد: وکان ابوبکر الصدیق اذا اعطی الناس اعطیاتهم سأل الرجل: هل
عندك من مال وجبت علیك فیه الزکوة؟ فان قال نعم اخذ من عطائه زکوة ذالك المال.
وان قال: لا: سلم الیه عطائه ولم یأخذ منه شیئًا.

(موطاء امام مالك: ص: ۱۰۳. ۱۰۴، الزکوة فی العین من الذهب والورق [۱] ومصنف
ابن ابی شیبة ج: ۳ ص: ۱۸۴ ماقالو فی العطاء اذا اخذ [۲]، و مصنف عبد الرزاق ج: ۴
ص: ۸۲) [۳].

[۱] موطاء امام مالك: ص: ۲۷۲ (طبع نور محمد کتب خانه).
[۲] طبع ادارة القرآن کراچی.
[۳] طبع مجلس علمی کراچی.

(کتاب الاموال لابی عبید ص: ۴۱۱) [1]

ترجمه: حضرت قاسم بن محمد رحمه الله فرمائی: چي حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه چي به کله خلکو ته د (بیت المال څخه ملاویدونکی) تنخواه یا وظیفی ورکولی. نو د هر سړی څخه به یې پوښتنه کوله چي آیا ستاسره څه داسی مال سته چي په هغه زکوة واجب وی؟ که هغه به وئیل چي هو! نو د هغه د تنخواه څخه به یې د هغه مال زکوة اخستی. او که هغه به وئیل چي نه نو، هغه ته به یی تنخواه پوره ورکوله او په هغه کی به یی څه نه اخستل، او امام ابو عبیده رحمه الله د دی روایت دا الفاظ نقل کړی دی:

فان اخبره ان عنده مالا قد حلت فیه الزکوة قاصه مما یرید ان یعطیه وان اخبره ان لیس عنده مال قدحلت فیه الزکوة سلم الیه عطاءه.

(کتاب الاموال لابی عبید ص: ۴۱۱، فقره: ۱۱۲۵ باب فروض زکوة الذهب والورق) [2]

ترجمه: که هغه سړی وئیل چي د ده سره داسی مال سته چي په هغه باندی زکوة فرض سوی دی نو چي کومه تنخواه به یی هغه ورکوله د هغه څخه به یې زکوة کټ کوی. او هغه ووئیل چي د ده سره داسی مال نسته چي په هغه باندی زکوة فرض سوی دی نو هغه ته به یې خپله تنخواه پوره ورکوله.

امام ابن ابی شیبه رحمه الله د حضرت عمر رضي الله عنه دا معمول نقل کړی دی.

عن عبد الرحمن بن عبد القاری وکان علی بیت المال فی زمن عمر مع عبید الله بن الارقم: فاذا خرج العطاء جمع عمر رضي الله عنه اموال التجارة فحسب عاجلها و اجلها ثم یأخذ الزکوة من الشاهد والغائب. (مصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۱۸۴) [3]

ترجمه: عبد الرحمن بن عبد القاری چي د حضرت عمر رضي الله عنه په دور کی د عبید الله بن ارقم سره په بیت المال باندی مقرر وفرمایی چي کله به د (سالانه) تنخواه ګانو د تقسیم وخت راتلی نو حضرت عمر رضي الله عنه به ټول مالونه د تجارت جمع کړل او د هغه د نقدو او قرض حساب به یې وکی، بیابه یې د حاضر او غائب هر قسم مال څخه زکوة اخستی. او امام ابو عبیده دا روایت په دی الفاظو سره نقل کوی:

فکان اذا خرج العطاء جمع اموال التجار، ثم حسبها شاهدها وغائبها ثم اخذ الزکوة من شاهد المال علی شاهد والغائب.

---

[1] کتاب الاموال لابی عبید الجزء الثالث ص: ۴۱۲ دار الکتاب العلمیه بیروت

[2] کتاب الاموال لابی حبید (الجزء الثالث) ص: ۴۱۲ دار الکتب العدمیه بیروت.

[3] طبع ادارة القرآن.

(کتاب الاموال ص: ۴۲۵ فقره: ۱۱۷۸ باب الصدقة فی التجارات والدیون) [1]

ترجمه: کله چي به د تنخواه ګانو تقسیم وو، نو حضرت عمر رضي الله عنه به د ټولو تاجرانو مالونه راجمع کړل په هغه کی به یی د حاضر او غائب ټولو حساب وکی بیابه یی د موجوده مال څخه د حاضر او غائب د هرقسم مال زکوة به یی اخستی.

حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی د دی روایت د راویانو د تحقیق څخه وروسته لیکلی دی: (وسنده حسن)

(اعلاء السنن: ج: ۱۲ ص: ۴۳۰، کتاب السیر باب العطاء یموت صاحبه بعد ما یستوهبه) [2]

یعنی د دی روایت مسند حسن دی.

بیا د حضرت ابوبکر او حضرت عمر رضي الله عنه په باره کی خو داهم وئیل کیدی سی چي ددوی په دور کی په اموال ظاهره او باطنه کی څه فرق نه وو، ځکه به هغوی د هرقسم مال څخه زکوة اخستی، خو د روایاتو څخه معلومیږی چي حضرت عثمان رضي الله عنه چي دا تفریق قائم کړی وو، نو د هغوی په دور کی هم د تنخواه ګانو څخه د زکوة کټ کولو دا سلسله جاری وه، چنانچي په موطاء امام مالك کی دا مروی دی:

عن عائشه بن قدامة عن ابیها انه قال: کنت اذا جئت عثمان بن عفان قبض عطائی. سئالنی هل عندك من مالك وجبت فی الزکوة؟ قال: فان قلت: نعم، اخذ من عطائی زکاة ذلك المال، وان قلت: لا، دفع الیَ عطائی. (موطاء امام مالك ص ۱۰۴ [3]) و مصنف عبد الرزاق ج: ۴ ص: ۷۷) [4] حدیث نمبر ۲۹، ۷ و کتاب الام للشافعی ج: ۲، ص: ۱۴ طبع بولاق، و کتاب الاموال لابی عبید: ص: ۴۱۲، فقره ۱۱۲۷) [5]

ترجمه: عائشه بنت قدامه د خپل پلار څخه قول نقل کوی چي کله به زه د حضرت عثمان عفان خواته د خپلی تنخواه اخستلو د پاره تلم، نو هغه به زما څخه پوښتنه کوله چي آیا ستاسره څه مال سته چي په هغه زکوة واجب وی؟ نو که مابه ووئیل: چي هو! نو زما د تنخواه څخه به یی د هغه مال زکوة واخستی او که مابه ووئیل: نه: نو بیابه یی

---

[1] کتاب الاموال لابی عبید الجزء الثالث ص: ۴۳۰ (دار الکتب العلمیه بیروت)

[2] اعلاء السنن ج: ۱۲ ص: ۵۶۱ (طبع ادارة القرآن کراچی).

[3] موطاء امام مالك کتاب الزکوة فی العین من الذهب والورق ص: ۲۷۲ (طبع نور محمد کتب خانه)

[4] طبع مجلس علمی کراچی.

[5] ص: ۴۱۲ الجزء الثالث (دار الکتب العدمیه بیروت)

زماتنخواه ماته راکوله د بعضو روایاتو څخه معلومیږی، چي د حضرت علی رضي الله عنه په زمانه کی هم د تنخواه څخه د زکوة کټ کیدلو سلسله جاری وه، خو د هغوی په باره کی دا صراحت ملاویږی چي هغه به صرف د هغه خلګو د اموال باطنه څخه زکوة اخستی چي د چا تنخواګانی یا وظیفی به د بیت المال څخه جاری وی او د نورو خلګو څخه نه. د حضرت معاویه هم دا عمل وو. (موطاء امام مالك ص: ۲۷۳) [1] او حضرت ابن عباس رضي الله عنه او ابن عامر رضي الله عنه هم د دی قائل وه، (حاشیه موطاء امام مالك ص: ۲۷۳) [2]

او همدارنګه د حضرت عبد الله ابن مسعود څخه مروی دی: چي هغه به د تنخواه ګانو د تقسیم په وخت کی پخپله د تنخواه زکوة به هم د هم هغه تنخواه څخه اخستی.

چنانچي په مصنف ابن ابی شیبه کی دی:

عن هبيرة قال: كان ابن مسعود يزكى عطياتهم من كل الف خمسة وعشرين (مصنف ابن ابی شیبه ج: ۲ ص: ۱۸۴) [3]

ترجمه: حضرت هبیره رحمه الله فرمایی: چي حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه د خلګو د تنخواه ګانو زکوة (په دی حساب سره) به یی اخستی، چي په هرو زرو روپو باندی به یی پنځه ویشت روپی وصولولی.

حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی د دی روایت د راویانو د تحقیق کولو څخه وروسته فرمائیلی دی چي فالاسناد حسن، (اعلاء السنن ج: ۱۲، ص: ۴۲۹، ۴۳۰) [4] یعنی دا سند حسن دی.

البته چونکی دلته به زکوة د هغه تنخواه ګانو څخه وصولیدی چي د تنخوا د مالك په ملکیت کی د قبضه کولو څخه وروسته راځی ځکه د حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه دا طریقه کار وو چي هغه به اول تنخواه ورکوله بیابه یی د هغه څخه زکوة اخستی.

چنانچي مصنف عبد الرزاق کی دی:

عن هبيرة بن يريم عن عبد الله بن مسعود رضي الله عنه قال: كان يعطى ثمَ يأ خذ زكوته.

(مصنف عبد الرزاق ج: ۴ ص: ۱۷۸ حدیث: ۷۰۳۲ باب لاصدقة فی مال حتی يـــحول

---

[1]

[2] ص: ۲۷۳ (طبع نور محمد کتب خانه)

[3] طبع دار القرآن کراچی.

[4] اعلاء السنن کتاب السیر باب العطاء یموت صاحبه بعد مایستوجبه ج: ۱۲ ص: ۵۵۹ ادارة القرآن کراچی.

علیه الحول) [1]

ترجمه: هبیره بن یریم د حضرت عبد الله بن مسعود څخه روایت کوی چي هغه به تنخواه ورکوله د هغه څخه وروسته به یې زکوة اخستی.

او په معجم طبرانی کی د دی روایت الفاظ دادی:

كان يعطى العطاء ثمَ يأخذ زكوة، [2] او علامه نور الدین هیشمی رحمه الله په مجمع الزوائد کی د دی روایت نقل کولو سره لیکی:

رجاله رجال الصحيح، خلا هبيرة، وهو ثقة [3]

او امام ابو عبیده رحمه الله دا روایت د زیات تفصیل او وضاحت سره نقل کړی دی: عن هبيرة بن يريم قال: كان عبد الله بن مسعود ويعطيناَ العطآء فى زبل صغار ثم يأخذ منه الزكوة، (کتاب الاموال ص: ۴۱۲. فقره ۱۱۲۸ باب فروض زكوة الذهب والفضة) [4]

ترجمه: حضرت عبد الله بن مسعود رضي الله عنه به موږ ته په کوشنیو کوشنیو تهیلو کی تنخواه راکوله او بیابه یی د هغه څخه زکوة اخستی، د تنخوا ګانو او وظیفو څخه د زکوة اخستلو سلسله د خلفائی راشدین څخه وروسته هم جاری وه، چنانچي مصنف ابن ابی شیبه کی روایت دی:

عن ابن عون عن محمد قال: رأيت الامراء اذا اعلموا العطاء زكوة.

(مصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۱۸۵) [5]

ترجمه: ابن عون، حضرت محمد (غالبًا ابن سیرین) قول نقل کوی چي آمران اولیدل چي کله به هغوی تنخواه ګانی ورکولی، د هغه زکوة به یی ځنی اخستی.

د حضرت عمر بن عبد العزیز په زمانه کی که څه هم په اموال ظاهره او باطنه کی فرق قایم سوی وو، خو د هغوی په باره کی مروی دی.

عن عمر بن عبد العزيز انه كان يزكى العطاء والجائزة.

(مصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۱۸۵) [6]

---

[1] طبع مجلس علمی (محمد زبیر حق نواز)

[2] .

[3] مجمع الزوائد للهیثمی باب اخذ الزکوة من العطاء ج: ص: ۶۸ (طبع دار الکتب عربی بیروت).

[4] الجزء الثالث ص: ۴۱۷ دار الکتب العلمیه بیروت.

[5] طبع ادارة القرآن کراچی

[6] ایضاً.

ترجمه: د حضرت عمر بن عبد العزیز څخه مروی دی چي هغه به د تنخواګانو او انعامونو څخه زکوة اخستی.

او په مصنف بن عبد الرزاق کی د دی روایت الفاظ دادی:

عن جعفر بن برقان ان عمر بن عبد العزیز کان اذا اعطی الرجل عطائه او عمالته اخذ منه الزکوة. (مصنف عبد الرزاق ج: ۴ ص ۷۸، فقره ۷۰۳۷) [1]

ترجمه: جعفر بن برقان وایی چي حضرت عمر بن عبد العزیز چي به کله یو سړی ته د هغه احت یا وظیفه ورکوله، نو د هغه څخه به یې زکوة اخستی.

دا معامله صرف د تنخواګانو او وظیفو ترحده محدوده نه وه بلکی د روایاتو څخه معلومیږی چي په بیت المال باندی د کوم مسلمان حق وو، نو د هغه د اداء کولو په وخت به یې د هغه د زکوة اخستلو معمول په قرون اولی کی جاری وو، چنانچي په مصنف ابن ابی شیبه او سنن بیهقی کی مروی دی:

عن عمر بن میمون قال: اخذ الوالی فی زمن عبد الملك مال رجل من اهل الرقة یقال له ابو عائشة عشرین الفا فادخلت فی بیت المال، فلما ولی عمر بن عبد العزیز اتاه ولده، فرفعوا مظلمتهم الیه فکتب الی میمون: ادفعوا الیهم اموالهم وخذوا زکاة عامهم هذا، فلو لا انه کام مالا ضمارا اخذناه منه زکوة مامضی.

(مصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۲۰۲ طبع ادارة القرآن کراچي (ماقالوا) فی الرجل یذهب له المال السنین واخرجه ایضًا البیهقی فی السنن الکبری، ج: ۴ ص: ۱۵۰)

ترجمه: عمرو بن میمون فرمائی چي د عبد الملك [2] په زمانه کی د اهل رقه یو کس ابو عائشه څخه یوګورنر په زور باندی شل زره روپی واخستی او په بیت المال کی یې داخلی کړی کله چي عمر بن عبد العزیز خلیفه سو، نو د هغه سړی زامن راله او امداد یې وغوښتی په دی باندی حضرت عمبر بن عبد العزیز میمون ته ولیکل چي دوی ته خپل مال بیرته ورکړه، او د دی کال زکوة څنی واخله، ځکه که دا مال ضمار نه وی. نو موږ به د تیرو کلونو زکوة به هم څنی اخستی وای.

حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی صاحب د دی حدیث د سند تحقیق کړی دی، او

---

[1] طبع مجلس علمی کراچی.

[2] د مصنف ابن ابی شیبه په مطبوعه نسخه کی عبد الملك لیکلی دی خو په نورو نسخو کی او نورو کتابونو کی د ولید بن عبد الملك ذکر دی، او همدغه صحیح دی، (حاشیه د حضرت والا دامت برکاتهم العالیه).

ثابت کړی یی دی چي د دی رجال ثقات دی، او سند متصل دی.

(اعلاء السنن ج: ۹ ص: ۹ باب الزکاة فی المال الضمار [1])

همدغه رنګه دغه واقعه اجمالی طور په بل سند سره په موطاء امام مالك کی هم مروی ده او په هغه کی هم د یوکال زکوة وصولو ذکر موجود دی چي د هغه الفاظ دادی:

ان عمر بن عبد العزیز کتب فی مال قبضه بعض الولاة ظلما یأمُر برده الی اهله وتؤخذ زکوة لمامضی من السنین ثمّ عقب بعد ذالك بکتاب. لاتوخذ منه الزکوة الا زکاة واحدة، فانه کان ضمارًا. (موطاء امام مالك ص: ۱۰۷، الزکوة فی الدین) [2]

ترجمه: حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله د یوداسی مال په باره کی چي په هغه باندی بعضی حکمرانانو ظلمًا قبضه کړی وه، وی لیکل چي دغه مال دی مالکانو ته بیرته ورکول سی. او د تیرسوو کلونو زکوة دی تری هم وصول سی. خو د دی څخه وروسته یی یو بل خط ولیږی چي صرف د یوکال زکوة دی څنی وصول سی د تیرو سوو کلونو څخه، ځکه چي هغه مال ضمار دی، په دی ټولو واقعاتو کی د نقدو روپو زکوة په سرکاری سطح باندی وصول سوی دی او هغه هم په عاشر باندی د تیریدلو په صورت کی نه او نه مال د ښار څخه بهرته دوړلو په حالت کی. بلکی د حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه، حضرت عمر فاروق رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه طرز عمل خو داوو چي هغوی به د تنخواګانو د جاری کولو په وخت د هغه مالونو زکوة د تنخواه څخه کټ کوی. او باقی تنخواه به یې خلګو ته حواله کوله، او حضرت علی رضی الله عنه، او حضرت عبد الله بن مسعود رضی الله عنه او حضرت عمر بن عبد العزیز هم د دغه تنخواه ګانو زکوة وصولولو. ځکه چي که مالك د مخکی څخه صاحب د نصاب وی نو د تنخوا په دی پیسو باندی د مال مستفاد کیدو د وجی به زکوة واجب کیدی. البته دی حضراتو به د تنخواګانو څخه زکوة کټ کوی په ځای اول به یی تنخواګانی حواله کولی، بیابه یی د مالك څخه زکوة اخستی. په هرصورت د نقدو پیسو څخه سرکاری طور باندی زکوة وصولیدی. او دا سلسله د اموال ظاهره او باطنه د تفریق څخه وروسته هم قائمه وه. بلکی حضرت عمر بن عبد العزیز رحمه الله د هغه پیسو څخه هم زکوة واخستی چي په بیت المال کی ظلما

---

[1] اعلاء السنن ج: ۹ ص: ۱۲. ۱۳ (طبع ادارة القرآن کراچی)

[2] موطاء امام مالك، الزکوة فی الدین، ص: ۲۸۴ طبع نور محمد کتبخانه) او د دی مطبعی په نسخه کی لاتواخذ منه الزکوة، په عوض. لا تواخذمنه... الخ دی چی کوم غلط دی او صحیح عبارت هغه دی کوم چی په اوجز المسالك په حوالی سره د حضرت امت برکاتهم لوړ لیکلی دی. (محمد زبیر)

داخل سوی وی، په دی طريقه کار سره داخبره بالکل واضحه کیږی چي د کوم مال په
اموال ظاهره کی شمار کیدی او د هغه څخه په سرکاری طور باندې د زکوة اخستلو
پاره د هغه د ښار څخه بهر ورل ضروری نه دی، بلکی اصل خبر داده چي د هغه څخه د
زکوة د وصولولو د پاره د نجی مقاماتو تالاشی او تفتیش کولو ضرورت پیښ نسی او
هغه فی الجمله د حکومت د حفاظت لاندی راغلی وی.

د تنخواه ګانو وغیره څخه د زکوة وصولولو دا طريقه په هغه دور کی هم بلا نکیره
جاری وه، او پخپله د احنافو فقهاوو هم دا واقعات نقل کړی دی او د هغه تصدیق او
تائید یی کړی دی، چنانچي د حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه د
تنخواګانو او وظیفو څخه زکوة وصولول پخپله امام محمد هم نقل کړی دی او لیکلی
یی دی:

قال القاسم: وكان ابوبكر رضي الله عنه اذا اعطى الناس اعطياتهم سئل الرجل هل عندك من
مال قد وجبت فيه الزكوة؟ فان قال: نعم، اخذ من عطاءه زكوة ذالك المال، وان قال: لا
سلم اليه عطاءه، قال محمد: وبهذا نأخذ، وهوقول ابى حنيفة (موطا امام محمد ص:
۱۷۰ باب الرجل يكون له الدين هل عليه فيه الزكاة). (۱)

او د دی څخه وروسته د حضرت عثمان رضی الله عنه په باره کی د عائشه بنت قدامه هغه روایت
نقل کړی دی چي مخکی د موطاء امام مالك په حوالی سره تیر سوی دی.

همدارنګه علامه ابن همام او شمس الائمه السرخسی د حضرت عمر بن عبد العزیز
ذکرسوی برنی واقعه چي په هغه کی غصب سوی مال بیرته ورکول دی، د هغه څخه د
زکوة وصولولو ذکر دی، ذکر کولو سره یی د هغه څخه په مال ضمار باندی د زکوة
واجب کیدی په مسئلی باندی استدلال کړی دی، چي د هغه څخه معلومیږی چي د هغه
مال څخه د یوکال زکوة چي حضرت عمر بن عبد العزیز وصول کړی وو، هغه د احنافو
په نزد هم معمول به دی ورنه هغه د دی تردید یا توجیه کړی وه، بلکی د امام طحاوی د
یو عبارت څخه خو داسی معلومیږی چي د اموال باطنه د زکوة په باره کی هم د احنافو
په نزد امام ته مکمل اختیار دی، که هغه وغواړی نو د هغه د زکوة د صولولو د پاره
مصداق واستوی، او په سرکاری سطح باندی د هغه زکوة وصول کړی. او که وغواړی د
مالکانو په حواله یی کړی چي هغوی په خپل طور زکوة اداء کړی، چنانچي هغوی په

(۱) الموطاء للامام محمد ص: ۱۷۴ طبع قدیمی کتب خانه.

شرح معانی الاثار کی یو مستقل باب قائم کړی دی، باب الزکوة یأخذه الامام ام لا؟ او
په هغه کی د خپل عادت موافق دوی نقطی نظر بیانولو څخه وروسته یی په اخر کی
لیکلی دی:

واما وجهه من طريق النظر فانا قد رأيناهم انهم لا يختلفون ان للامام ان يبعث الى
ارباب المواشى السائمة حتى يأخذ منهم صدقة مواشيهم اذا وجبت فيها الصدقة
وكذالك يفعل فى ثمارهم يضع ذالك فى مواضع الزكوة على ما امره به عز وجل لايأبى
ذالك احد من المسلمين. فالنظر على ذالك ان يكون بقية الاموال من الذهب والفضة
واموال التجارات كذالك..... وهذا كله قول ابى حنيفة وابى يوسف ومحمد.
(شرح معانى الاثار للطحاوى ج: ۱ ص: ۲۲۳، ۲۲۴) (۱)

ترجمه: د قیاس او نظر په لحاظ سره هم په دی مسئله کی صورت حال دادی چي د
علماوو په دی مسئله کی هیڅ اختلاف نسته، چي امام ته داحق حاصل دی. چي هغه
مفت چرګاهونو کی د څریدونکو حیوانانو مالکانو ته څوك ولیږی او د هغوی د څاروو
زکوة وصول کړی کله چي په هغو زکوة واجب وی، دغه شان د هغوی په میوو کی هم
داحق حاصل دی بیا هغه حاصل سوی زکوة د زکوة په مصارفو کی د الله جل جلاله د حکم په
وجه خرڅ کړی د دی خبری څخه هیڅ مسلمان انکار نسی کولی. لهذا د نظر او قیاس
تقاضا داده چي د باقی مالونو څخه د سره او سپین زرو او د مال تجارت هم داحکم
دی..... او دا هرڅه د امام ابوحنیفه رحمه الله او امام ابویوسف او امام محمد قول دی.

دلته د امام طحاوی د څه قید او شرط څخه بغیر د امام داحق بیان کړی دی، چي هغه
د سرو او سپینو زرو او د مال تجارت څخه د زکوة اخستلو د پاره مصداق لیږلی سی.
دلته هغوی د مصر یا غیر مصر هم څه شرط نه دی لګولی. او نه د عاشر خواته د
تیریدلو څه ذکر یی کړی دی، د امام طحاوی د عبارت دا اطلاق د احنافو د فقهاوو د
نورو تصریحاتو سره په ظاهره معارض معلومیږی، او برنی مذکور عبادت په سیاق او
سباق کی دا احتمال هم موجود دی، چي هغوی داټوله ګتفګو مامر علی العاشر سره
متعلق وی خو ترڅو چي د مذکوره عبارت تعلق دی په هغه کی څه قید او شرط نسته،
د دی څخه داپوهی ته راځی چي د امام طحاوی مقصد دادی چي د هغه احوال باطنه
څخه هم د زکوة اخستلو حق د احنافو په نزد اصلاً امام ته حاصل دی. خو د هغه

(۱) شرح معانی الاثار لطحاوی ج: ۱ ص: ۳۴۴ (طبع مکتبه حقانیه ملتان)

مصلحت پیش نظر چي د حضرت عثمان غنی رضی الله عنه پیش نظر وو چي په کوم ځای کی د
خلکو دنجي مقاماتو د تلاشي اخستلو ضرورت وی، هلته مالکانوته پخپله د زکوة ادا
کولو اجازت ورکول سو، او چیری چي دا مصلحت داعی نه وی هلته د خپل اصل حق
مطابق زکوة اخستی سی، چونکی عاشر باندی په تیریدونکو مالونو کی داشان څ[...]
مفسده نسته، نو ځکه هغه د خپل اصل حق مطابق د هغه څخه زکوة اخستی سی او ک[...]
څه مزید مالونو کی داسی وی چي د هغه څخه د زکوة په وصولولو کی دا مفسده نه
وی. هلته به هم د امام اصل حق عود کوی، او هغه به د هغه مالونو څخه زکوة اخستی
سی چي د هغه نظیرونه، تنخواګانو، وظیفو او د مال مغصوب په سلسله کی وروسته
تیرسوی دی. بلکی که کوم ځای کی دامعلوم وی چي خلک د اموال باطنه زکوة نه
ورکوی، هلته د دی مفسدی باوجود امام د خپل اصل حق مطابق به د هغه مالونو زکوة
اخستلی سی. ځکه چي د ترك زکوة مفسده د دی مفسدی څخه ډیره سخته ده همدا
خبره تقریبا ټولو احنافو فقهاوو لیکلی ده، مثلاً علامه انب همام فرمایی:

ظاهر قوله تعالی: خُذمِنْ اَموَالِهِمْ صَدَقَةً الاٰیة تَوْجِبُ حَقَ اخذ الزکوة مطلقا للامام
وعلی هذا کان رسول الله ﷺ والخلیفتان بعده، فلما وَلی عثمان وظهر تغیر الناس
کره ان تفتش السعاة علی الناس مستور، اموالهم، ففوض الدفع الی الملاك نیابة عنه
ولم تختلف الصحابة علیه فی ذالك وهذا لایسقط طلب الامام اصلا ولهذا لو علم ان
اهل بلدة لایو ذون زکوتهم طالبهم بها. (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۴۸۷) (۱)

ترجمه: قرآنی آیت: (خذ من اموالهم صدقة) د ظاهری الفاظو څخه دا معلومیږی چي
امام ته مطلقا (د هرقسم مالونو) زکوة اخستل واجب دی او په همدی طرز العمل باندی
رسول الله ﷺ او د حضور ﷺ څخه وروسته دوه خلفاء قائم وه. خو چي کله حضرت
عثمان رضی الله عنه خلیفه سو، او د خلکو حالات بدل سول نو دوی دا خبره خوښه نه کړه چي د
زکوة محصلین دی د خلکو د پټو مالونو تفتیش وکړی، نو هغوی مالکانو ته د زکوة
اداء کولو حق وسپارو، او په دی معامله کی یی هغوی خپل نائب جوړ کی. او صحابه
کرامو رضی الله عنهم په دی معامله کی د هغوی سره اختلاف ونه کی، خو دا طرز العمل د امام د
مطالبی حق بالکلیه نه ساقطوی چنانچي که د کوم ښار د خلکو په باره کی امام ته دا
معلومه سی چي هغوی زکوة نه اداء کوی نو هغه به د هغوی څخه د زکوة مطالبه کوی

(۱) فتح القدیر کتاب الزکوة ج: ۲ ص: ۱۱۹ (طبع مکتبه رشیدیه کوټه)

د دی عبارت څخه صفا واضحه ده چي اصلاً د ټولو مالونو زکاة د وصولولو حق امام ته
دی، او د اموال باطنه په سلسله کی داحق د یو مصلحت د وجی پریښوول سو او اوس
هم بالکلیه نه دی ساقط سوی، بلکی د دی مالونو زکوة چي مالکان یی اداء کوی، نو
هغه هم د امام د نائب په حیث یی اداء کوی، اصلا خو هغوی ته دا اختیار نه وو. نو
ځکه د اموال باطنه د زکوة د دین فقهاءُ د مطالب من جهة العباد ګرځولی دی.

دلته بعضو حضراتو ته دا شبهه پیښه سویده چي امام ابوبکر جصاص د حضرت عثمان
غنی رضی الله عنه عمل ذکر کی او لیکلی یی دی:

فجعل لهم ادائها الی المساکین وسقط من اجل ذالك حق الامام فی اخذها لانه عقد
عقده امام من ائمة العدل فهو نافذ علی الامة. (احکام القرآن للجصاص ج: ۳. ص:
۱۹۰) (۱)

ترجمه: حضرت عثمان غنی رضی الله عنه د زکوة مالکانو ته دا حق ورکی چي هغوی دی
مسکینانو ته د خپل طرف څخه زکوة ورکړی، نو ځکه اوس د دی مالونو څخه د زکوة
اخستلو په سلسله کی د امام حق ساقط سو، ځکه چي د عدل په امامانو کی د یو امام
سوی فیصله ده چي په ټول امت باندی نافذه ده.

د دی څخه معلومیږی چي د حضرت عثمان رضی الله عنه د دی فیصلی څخه وروسته د اموال
باطنه څخه د زکوة اخستلو حق چاته هم پاته نسو، خو د امام ابوبکر جصاص د پوره
عبارت په غور سره د ویلو څخه وروسته ذهن ته راځی چي د امام د حق څخه مراد
داسی حق دی، چي د هغه څخه وروسته د مالونو مالکانو ته پخپله د زکوة اداء کولو
اختیار باقی نه وی. او د هغوی اداء کول شرعًا تسلیم نکړی سی، چنانچي د هغوی د
مذکوره عبارت څخه مخکی الفاظ دادی:

وقوله تعالی: خذ من اموالهم صدقة یدل علی ان اخذ الصدقاة الی الامام وانه متی
اداها من وجبت علیه الی المساکین لم یَجزه، لاَن حق لامام قائم فی اخذها فلا سبیل له
الی اسقاطه. (۲)

ترجمه: او د باری تعالی ارشاد: خذمن اموالهم صدقة، په دی خبره باندی د لالت کوی.
چي د زکوة اخستلو حق امام ته حواله دی، او دا که هغه سړی چي په هغه باندی زکوة
واجب دی چي زکوة په خپله طریقه مسکینانو ته ورکړی، نو دا د هغه د پاره جائز نه

(۱) احکام القرآن للجصاص ج: ۳، ص: ۱۵۹ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)
(۲) وګوری د تیری ص ۱۱۷ حاشیه. (دوهمه او دریمه حاشیه په ص ۱۱۶ کی وګوری)

دی، ځکه چي د امام د وصولی حق قائم دی او د هغه د ساقطولو څه لار نسته، د مذکوره جملی څخه صفا واضح دی چي هغه د امام د داسی حق تذکره کوی چي د هغه په موجودګی کی مالکت ته پخپله زکوة اداء کول جائز نه دی، بلکی د هغه سره زکوة اداء کيږی هم نه، بيايی هم د دی حق په باره کی مخکی ليکلی دی، چي چونکی حضرت عثمان ﷺ د عدل د امامانو څخه وو هغوی د اموال باطنه ترحده داحق ساقط کی، نو ځکه اوس داحق ساقط سو (١)

چي د هغه حاصل دادی: چي د حضرت عثمان ﷺ څخه مخکی د خلګو د اموال باطنه زکوة پخپله مسکينانو ته ورکول جائز نه وو، او د دی سره به زکوة نه اداء کيدی. حضرت عثمان ﷺ داحق هغوی ته وزکی، اوس دا خبره فيصله سوه، چي د داسی مالونو مالکان که پخپله زکوة اداء کړی، نو زکوة به يی اداء سی، خو د دی دامطلب نه دی چي د امام د اخستلو حق بالکليه ساقط سو، او که اوس زکوة حاصلول غواړی نو وصلولوی يی نسی. چنانچي د فتح القدير مذکوره عبارت په دی باندی تصريح دی چي:

وهذا لايسقط طلب الامام اصلاً (٢)

د امام ابوبکر جصاص رحمه الله د دی پوره بحث او د نورو فقهاوو او محدثينو عبارتونه او روايت د کتلو څخه وروسته په دی سلسله کی چي کوم صورتحال مخ ته راځی هغه دادی چي: د حضور ﷺ په عهد مبارك او د حضراتو شيخينو په زمانو کی اموال ظاهره او اموال باطنه دواړو څخه زکوة سرکاری سطح باندی وصوليدی، خو دومره فرق ضرور وو چي د څاروو او زرعی پيداوارو د زکوة د وصولی د پاره به مصداق ليږل کيدی، او د نقدو او مال تجارت د زکوة د وصولی د پاره د مصداق ليږلو په ځای مالکانو ته حکم وو، چي هغوی دی پخپله زکوة راوړی، خو په دواړه قسم اموالو کی د

---

(١) چنانچي د څاروو په باره کی د امام حق هم د هغه د نوعيت دی چي د هغه په موجودګی کی د مالک پخپله زکوة ورکول جائز نه دی بلکی د بعضو فقهاوو په نزد خو داسی زکوة نه اداء کيږی. په مبسوط کی دی، فان قال دفعتها الی المساکين لم يصدق وتوخذ منه الزکوة عندنا .... ولنا ان هذا حق مالی ستوفيه الامام ولانه شرعية فلايملك من عليه اسقاط حقه فی الاستيفاء ولايبرأ بالاداء الی الفقير فيما بينه وبين ربه وهو اختيار بعض مشائخنا (مبسوط ج: ٢ ص: ١٢١، ١٢٢) (طبع دار المعرفت بيروت) حاشيه د حضرت والامت دامت برکاتهم

(٢) فتح القدير ج: ٢ ص: ١١٩ (طبع مکتبه رشيديه کويته).

زکوة د اداء کولو لاره هم داوه چي هغه دی حکومت ته ورکول سی.

حضرت عمر ﷺ د ښار څخه بهرتلونکی مالونو په باره کی دا تبديلی وکړله چي د هغه د وصولی د پاره يی مصداق مقرر کی، او باقی د اموال باطنه زکوة حسب سابق مالکانو راوړلو او ورکولو به يی:

د حضرت عثمان ﷺ په زمانه کی د باطنه اموالو کثرت سو، ابادی خوره سوه او هغوی محسوس کړله چي اوس د اموال باطنه د زکوة سرکاری سطح باندی د وصولولو دا سلسله چي د دی څخه بغير د زکوة اداء کول جائز نه دی، که باقی پرينبوول سوه، نو د دی د پاره به د اموال ظاهره په شان مصداق مقررولی سی، او د خلګو نجی مقاماتو کی دخل اندازی سره خلګو ته به تکليف وی، لهذا حضرت عثمان ﷺ خلګوته اجازت ورکی چي هغوی دی د دغو مالونو څخه پخپله زکوة اداء کوی.

د حضرت عثمان د دی عمل څخه وروسته خلګو ته د اموال باطنه د زکوة په خپل طور د اداء کولو اجازت ملاو سو، خو د زکوة د اصوليابی اصل حق اوس هم امام ته دی، چنانچي په دوو صورتونو کی اوس هم هغه د زکوة د وصولی اهتمام کولی سی، يوداچي د يوځای د خلګو په باره کی دا معلوم سی چي هغوی پخپله زکوة نه اداء کوی، او دوهم داچي څه اموال باطنه دارنګه په اموال ظاهره کی شامل سی، چي د هغه څخه د زکوة د وصولی د پاره د نجی مقاماتو تفتيش کول نه وی.

چونکی په پخوا زمانه کی د نجی مقاماتو د تفتيش څخه بغير د مالونو د ظاهريدلو چي کوم صورت پيښيدی، هغه داوو چي مالونه به يی د يو ښار څخه بل ښار ته د وړلو په وخت کی هغه په عاشر باندی تيريدل، ځکه فقهاء کرامو د دی صورة احکام په تفصيل سره بيان کړی دی او دا شان تعبير يی کړی دی، چي دامالونه د ښار څخه په وتلو سره په اموال ظاهره کی شامل سول، او کوم مالونه چي په ښار کی دننه دی او هغه اموال باطنه دی. ځکه (دا د ښار څخه وتل بهرته) اصل مدار د حکم يا په طور د علت نه وی بلکی د خپل عهد په لحاظ سره د دغی واقعی بيان دی، ورنه اصل مدار د حکم هم هغه دی چي د هغه په وجه يی اموال باطنه د زکوة سرکاری وصولی څخه مستثنی سوی وو، يعنی د تفتيش څخه بغير د هغه مالونه ظاهريدل، چنانچي قرون اولی کی د هغه مالونو څخه هم زکوة وصول سوی دی، چي د ښار څخه به بهر نه وو، خو د تفتيش څخه بغير ظاهريدل مثلاً: تنخواګانی وظيفی او مغصوب مالونه، چي د هغه روايتونه تير سويدی.

دلته بعضی حضراتو دا شبهه ظاهره کړی ده، چي بعضی مالونه په حکومت باندی د تفتیش څخه بغیر ظاهریږی، خو د هغه باوجود به حکومت د هغه څخه زکوة نه اخستی، مثلاً عاشر باندی تیریدونکی که په خپل نجی مقاماتو باندی دا ایښوول سوی مالونو په باره کی به یی اقرار کوی، نو د هغه زکوة به نه وصولیدی، چي د هغه فقهاوو تصریح کړیده د دی په جواب کی عرض دادی چي د اقرار په ذریعه خو د اموال باطنه څخه هرمال ظاهر جوړیدلی سی، خو جزوی واقعات د کلی احکامو بنیاد نسی جوړولی. او عاشر ته دا اختیار نسی ورکولی چي هغه کوم مال وغواړی ظاهر دی او ګرځوی او د هغه څخه دی زکوة وصول کړی، ځکه چي هغه ته دا تړل سوی اصول ښوول سوی دی، چي څوك ستا د خوا څخه مال تیروی، نو صرف د هغه مال څخه زکوة وصولولی سی چي په دغه وخت ستا مخ ته راسی، او د خلګو په کورونو او د کانونو کی چي کوم مال دی د هغه سره کار مه لره، د دی اصولو د لاندی (عاشر) ته په کورونو کی د ایښوول سوی مال سره کار لرو، اختیار نه وو ور کول سوی، او کله چي دا اصول مقرر سول، نو که په کومی جزوی واقعی کی کوم سړی خپل مال د باطن عاشر باندی د اقرار په ذریعه ظاهر هم کړی، نو دابه یوه استثنائی واقعه وی چي په دی سره اصول نسی بدلیدی. ځکه په دی صورت کی به هم بطور اصول د هغه څخه زکوة نسی وصولولی.

هو! که څه داسی مالونه بیا پیداکی چي د هغه نوعیت داسی وی چي هغه ټول په ټوله پخپله په حکومت باندی بغیر د تفتیش څخه ظاهریږی او حکومت د هغه ټولو مالونو په باره کی دا فیصله وکړی چي د دی ټولو مال و څخه به زکوة اخستل کیږی نو په دی کی د شرعی ممانعت څه دلیل نسته، بلکی د تنخواګانو، وظیفو او اموال مغضوبه څخه چي کوم زکوة وصولیدی هغه د دی د جواز واضح نظیر دی، په نورو الفاظو کی (خروج من المصر) عاشر د پاره د زکوة وصولولو د اجازت علت خو دی، خو د امام د پاره د زکوة د وصولی د اختیار علت نه دی، بلکی د هغه د پاره علت د مالونو بغیر د تفتیش څخه ظاهریدل دی، چنانچي د کومو مالونو چي نوعیت داسی وی چي هغه بغیر د تفتیش څخه ظاهریږی د هغه څخه مامر علی العاشر، په شان د زکوة د وصولولو حکم جاری کیدی سی لکه چي د تنخوا ګانو وغیره په معامله کی وسول.
همدا وحه ده چي فقهائی کرامو د (خروج من المصر) تذکره (باب فیمن یمر علی العاشر) کی کوی، چي د هغه موضوع داده: چي عاشر د کومو مالونو زکوة اخستی سی، خرچه په کوم ځای کی د امام د زکوة د وصولی د اختیار بیان دی، هلته عموماً (خروج من

المصر) د علت په طور نسی ذکر کولی، بلکی هلته علت هم دابیانولی سی چي د اموال باطنه څخه د زکوة په وصولولو کی د خلګو په نجی مقاماتو کی دخل اندازی او د هغه تفتیش کول لازمیږی، چي د هغه څخه عوامو ته د ضرر رسیدلو خطره ده، لکه چي د فتح القدیر عبارت مخکی تیر سوی دی، او د امام ابوبکر جصاص عبارت د مجلس په سابقه تحریر کی نقل سوی دی.

د بینك اکاونټس قرض کیدلو مسئله: د بینك اکاونټس څخه په زکوة اخستلو باندی دوهم اعتراض داسوی دی چي کله یو سړی په بینك کی پیسی ږدی، نو شرعًا هغه پیسی د بینك په ذمه قرض وی امانت نه وی، ځکه خو هغه په بینك باندی مضمون وی. او په هغه باندی زیاتی وصولول سود وی، او کله چي یوسړی څه پیسی بل چاته یا اداری ته د قرض په طور ورکړی نو هغه د هغه سړی د ملکیت څخه ووتی او د مقروض په ملکیت کی داخل سی، نوس به په دی باندی د زکوة اداء کول په هغه وخت کی واجب وی کله چي هغه رقم هغه ته وصول سی او د دی څخه به مخکی واجب الاداء نه وی. لهذا د بینك اکاونټس څخه د زکوة په اخستلو باندی مخکنی اعتراض خو دادی چي د زکوة د واجب الاداء کیدلو څخه مخکی زکوة کټ سوی دی، حالانکی د دی هیڅ نظیر معهود فی الشرع نسته، چي د یوسړی زکوة د بل د مال څخه وصول سی.
لاندی د دی دواړو اعتراضونو تحقیق مقصود دی:
د دی دواړو مسئلو د تحقیق د پاره اول د بینك اکاونټس صحیح حیثیت متعین کول ضروری دی، په دی کی هیڅ شك نسته چي په فقهی اعتبار سره د بینك اکاونټس قرض دی.(۱)

---

(۱) البته په کوم اکاونټس باندی د سود لین دین فیصله سوی وی، مثلاً سیونګ اکاونټس، یافکسیډډ پازټ، چی په دی کی یوبل احتمال هم قابل د غور دی او هغه داچی هغه د شرکت فاسده یا د مضاربت فاسده مال وی، ځکه چی فقهاء کرام لیکی: که د یوسړی سره د شرکت یا مضاربت کولو په وخت کی د نفع شائع حصی په ځای معین رقم مقرر سی نو شرکت او مضاربت فاسدیږی، شامی. ۱ او شرکت فاسده او مضاربت فاسده کی چی ترڅو شریکین خپل مال بیرته وانخلی، د هغوی ترمنځه شرکت فی الملك قایم سی، او دواړه د خپلی حصی مالکان وی، هغه رقم دین نه وی بلکی د مال تجارت په حکم کی وی، او په غیر سودی اکاونټس کی یو احتمال داهم دی چی هغه اصلاً ودیعت وو. لیکن د خلط بالاذن په بناء باندی هغه مال شرکت ملك جوړ سو چنانچی درمختار کتاب الابداع کی تشریح ده چی ودیعت خلط بالاذن سره شرکت ملك جوړیږی، (شامی ج: ۴ ص ۸، و ۴).

خو د داین د تصرف په لحاظ سره دا یو بالکل نوی قسم قرض دی چي د فقهاء کرامو په عهد کی موجود نه وو، او چي د هغه نظیرونه هم په هغه دور کی کم ملاویږی، لهٰذا د زکوٰۃ په حق کی د بینك اکاونټس بالکلیه په نورو دیون او قرضو باندی به قیاس کول صحیح نه وی، د وجوب زکوٰۃ په حق کی په قرض کی اصل د کتلو شی دادی چي د دین د پاره ترکومه حده پوری مرجو الاصول دی او د دین تصرف په هغه باندی ترکومه حده پوری برقرار دی، هم په دی وجه فقهاء کرامو د زکوٰۃ د وجوب په معامله کی دین قوی، دین متوسط، او دین ضعیف تقسم کړی دی او په همدی وجه یی دین مجحو دی د ضمار په مال کی شامل کړی دی، او هغه یی د زکوٰۃ څخه مستثنیٰ ګرځولی دی، کله چي موږ په دی نقطه نظر سره د بینك اکاونټس جائزه اخلو نو هغه د دین کیدلو با وجود په دی معامله کی د نورو عامو قرضونه بالکل ممتاز په نظر راځی چي هغه په لاندی ډول دی:

۱. د عامو قرضو خو داحال دی چي قرض ور کونکی د قبضی د وتلو څخه وروسته په هغه باندی د قرض ورکونکی څه تصرف باقی نه وی، بلکی هغه د مقروض په آسره باندی وی چي هغه کله وغواړی نو اداء یی کړی، د دی برعکس په بینك اکاونټس کی د قرض ورکوونکی په طلب باندی د فوری نه اداء کیدلو څه سوال نه سی پیداکیدی، او دا د بینك د اړخه صرف زبانی اقرار نه وی بلکی د بینکونو مسلسل او بلا تخلف طرز عمل همدادی چي د دی څخه بغیر بینك چلیدلی نسی، لهٰذا دا قرض هغه قسم دی چي په هغه کی قرض ور کوونکی کله خپلی پیس[illegible] وغواړی، نو سمدستی یی بلاتخلف بیرته اخستی سی، او عملاً هغه داسی قابل [illegible]عتماد دی چي په خپله لمنه کی ایښوول سوی پیسی بلکی د دی څخه هم زیات چي د لمنی په پیسو کی د هلاکیدو خـــطره ده.

۲. او حضرت تهانوی قدس سره سیونګ اکاونټ هم په دی وجه د شرکت ملك مال ګرځولی دی (امداد الفتاوی ج: ۳ ص ۳۰۹).
۳. که د دی اکاونټس دا ترجیه صحیح وی نو د دی اکاونټس دین کیدو مسئله ختمیږی خو په دی توجیه کی تامل دادی چی د دی مطابق به په دی اکاونټس کی ایښوول سوی پیسی بیا مضمون نه وی، حالانکی د فریقینو د اړخه مضمون کیدل شرط وی. (فلیتأمل) (حاشیه د حضرت والا دا مت برکاتهم)
۱. الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۱۲ (طبع ایچ ایم سعید). ۲. الدر المختار کتاب الابداع ج: ۵ ص ۲۶۹ (طبع ایچ ایم سعید). ۳. طبع مکتبه دار العلوم کراچی.

خو د بینك په اکاونټس کی داسی خطره هم نسته.

۲. په بینك اکاونټس کی ایښوول سوو پیسو باندی د هر اکاونټ هولډر داشان تصریف کوی لکه چي په خپلی الماری کی په ایښوول سوی پیسو باندی تصرف کوی، په دی وخت کی د تجارت ټول کارو بار د بینك په اکاونټ باندی چلیږی او زیاد تری ادائیګانی هم د بینك په ذریعه کیږی.

۳. په عرف عام کی هم بینك کی پیسی ایښوونکی دانه ګنی چي هغه دا پیسی چاته قرض ورکړی دی، بلکی هغه هغه خپلی پیسی ګنی، او د هغه سره د خپلو پیسو په شان عمل کوی کله چي یو سړی د خپل حاضر او غائب مال فهرست جوړوی، نو د بینك اکاونټس په مال حاضره کی شمارلی سی په مال غائب کی نه.

۴. د عام قرضونو دا حال دی چي د قرض د معاهدی محرك مستقرض وی خو دلته محرك قرض ورکوونکی وی، او د دی اصلی منشاء د قرض ورکولو په ځای د خپل مال حفاظت وی، د عامو قرضونو په مقابله کی د بینك اکاونټس د وجی ذهن کی وساته په قرضونو باندی د زکوٰۃ په مسئلی کی فکر وکړه.

د بینك اکاونټس څخه زکوٰۃ اخستلو باندی مخکی داً اعتراض کیږی، چي په قرضی که څه هم زکوٰۃ فرض خو وی، خو د هغه اداء کول په هغه وخت کی واجبیږی، کله چي هغه د دائن قبضی ته بیرته راتلو څخه مخکی زکوٰۃ کټ کیږی، په دی سلسله کی ګذارش دادی چي په قرضونو باندی د زکوٰۃ نفس وجوب خو متفق علیه دی، خو امام ابو حنیفه قرض ور کوونکی ته دا اسانتیا ورکړی ده چي د زکوٰۃ اداء کول به په هغه سړی هغه وخت واجب وی کله چي د قرض پیسی هغه ته بیرته ورکول سی، نو چي کله هم د څلویښتو درهمو په مقدار ده ته واپس راسی، نو یودرهم په طور د زکوٰۃ اداء کول به په هغه باندی واجب وی، د دی اسانتیا پسمنظر او اصل وجه د لاندینی روایاتونو څخه واضحه کیږی.

۱. امام بیهقی روایت فرمایی:

عن حمید بن عبد الرحمٰن بن عبد القاری، وکان علی بیت مال عمر رضی الله عنه قال: کان الناس یأخذون من الدین الزکوٰۃ، و ذالك ان الناس اذا خرجت الا عطیة حبس لهم العرفاء دیونهم ومابقی فی ایدیهم اخرجت زکوتهم قبل ان یقبضوا، ثم داین الناس بعد ذالك دیونا هالکة فلم یکونوا یقبضون من الدین الصدقة الا مانص منه ولکنهم کانو اذا قبضوا الدین اخرخوا عنها لما مضیٰ.

عن الحسن قال: سئل علی عن الرجل یکون له الدین علی الرجل قال: یزکیه صاحب المال، فان توی ماعلیه وخشی ان لایقضی قال: یمهل فاذا خرج ادی زکاة اله (مصنف ابن ابی شیبه رحمه الله علیه ج: ۳ ص: ۱۲۳) (۱)

ترجمه: حضرت حسن رحمه الله علیه فرمایی چي د حضرت علی رضی الله عنه څخه دا سوال وسو، چي د یو سړی قرض په بل چا باندی واجب وی (نو هغه څه اوکړی؟) دوی رضی الله عنه جواب ورکی، چي مالك دی د هغه زکوة وباسی، خو که هغه ته دا خطره وی چي مدیون به یی پیسی اداء نه کړی، نو هغه دی صبر اوکړی او کله چي قرضه اداء سی نو په هغه وخت دی زکوة اداء کړی.

د دی څخه معلومه سوه چي په دی باب کی د حضرت علی رضی الله عنه موقف هم هغه دی کوم چي د حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه او د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه وغیره دی یعنی: ان عبد الله بن عباس و عبدالله بن عمر رضی الله عنه قال: من اسلف ملاً فعلیه زکوته فی کل عام اذا کان فی ثقة. (السنن الکبریٰ للبیهقی، ص: ۱۴۹) (۲)

ترجمه: حضرت عبد الله بن عباس رضی الله عنه او عبد الله بن عمر رضی الله عنه فرمایی: کوم سړی چي چاته څه مال قرورکړی، نو په هغه باندی د هغه زکوة هرکال فرض دی، که هغه په قابل اعتماد ځای کی وی.

او د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه مکمل الفاظ دادی:

زکوا ماکان فی ایدیکم، وماکان من دین فی ثقة فهو فی منزلة مافی ایدیکم وماکان فی دین ظنون فلا زکوة فیه حتیٰ یقبضه.

(بیهقی ج: ۴ ص: ۱۵۰ (۳)) ومصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۱۲۳) (۴)

ترجمه: کوم مال چي ستاسو په لاسونو کی وی د هغه زکوة وباسی او کوم قرض چي قابل د اعتماد ځای کی وی هغه هم داسی دی لکه ستاسو د قبضی مال، او کوم دین چي ظنون وی نو په هغه باندی ترهغه وخته پوری زکوة واجب نه دی ترڅو چي هغه په قبضه کی رانسی.

د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه د دی ارشاد یوه حصه حضرت امام محمد رحمه الله علیه هم

(۱) طبع ادارة القرآن کراچی.
(۲) ج: ۴ طبع نشر السنة ملتان.
(۳) ایضا.
(۴) طبع ادارة القرآن کراچی.

نقل کړیده او د هغه څخه یی د دین په مسئلی کی د مالکیه فرقی خلاف استدلال کړی دی.

عن نافع عن ابن عمر رضی الله عنه انه قال فی الدین یرجی، قال: زکه کل عام. (کتاب الحجة علی اهل المدینة ج: ۱ ص: ۴۷۲) (۱)

ترجمه: حضرت عمر رضی الله عنه د هغه قرض په باره کی وفرمائیل چي د هغه د وصولی امید وی، د هغه زکوة هرکال اوباسئ.

د دی څخه دا خبره واضحه کیږی چي د احنافو فقهاء په دی باب کی د خپل مسلك بنیاد د حضرت علی رضی الله عنه او حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه په اقوالو باندی اینبی دی. او د هغوی په نزد که څه هم د قبضی څخه وروسته د زکوة وجوب صرف په هغه صورت کی دی کله چي د قرض د وصولی شك منه وی، او چیری چي د وصولی یقین وی هلته د هغوی په نزد وجوب اداء هم د قبضی څخه مخکی کیږی، خو د احنافو فقهاوو په دی اړخ نظر کړی دی چي په معروفو قرضو کی په هره قرضه کی برابره خبره ده که هغه هرڅومره قابل اعتماد سړی سره وی د عدم ادایگی څه ناڅه خطره پکښی ضرور وی. لهذا هغوی هر دَین قوی (دین مظنون) گرځولی دی دا حکم یی عام لگولی دی چي په هغه باندی خو نفس وجوب خو کیږی، خو وجوب اداء به د قرض څخه وروسته وی.

دا پسمنظر په ذهن کی ځای کړه او کله چي موږ د بینك د اکاونټس، جائزه اخلو، او د عامو قرضو په مقابله کی د هغه چي کومی وجی د فرق په شروع کی بیان سوی دی. هغه ته گورو، نو واضحه کیږی چي دا دین قوی هغه قسم دی چي د فقهاء کرامو په زمانه کی موجود نه وو، یا د هغه مثالونه شاذ او نادر وه، او دا قسم (دین مظنون) هیڅ کله نسی گرځولی. بلکی دا وصولیابی یقین د دائن آزادانه تصرفات او د عرف عام د مخه بالکل داشان د دائن ملکیت او په تقدیری قبضه کی وی لکه په خپل کور کی اینبوول سوی مال، لهٰذا د حضرت عبدالله بن عمر رضی الله عنه په الفاظو کی (بمنزلة مافی ایدیکم) اطلاق د دی څخه زیات په بل دین نسی کیدی.

د دی څخه علاوه که په بینك اکاونټس باندی د زکوة د وجوب او اداء د پاره د نورو قرضو په شان د دی د نقدیدو شرط ولگول سی، نو د دی څخه به دومره عملی مشکلات پیداسی چي د زکوة سم اداء کول به ډیر گران سی، امام ابو عبید خو د عامو

(۱) طبع دار المعارف النعمانیه.

قرضو په باره کی هم دافر مائیلی دی چی:

وانما اختاروا او من اختار منهم، تزکیه مع عین المال لان من ترك ذالك حتی یصیر الی القبض لم یکد یقف من زکوٰة دینه علی حد، ولم یقم بادائها، وذالك ان الدین ربما اقتضاه ربه متقطعاً، کالدراهم الخمسة والعشرة واکثر من ذالك و اقل فهو یحتاج فی کل درهم یقتضیه فمافوق ذالك الی معارفة ماغاب عنه من السنین و الشهور والایام، ثم یخرج من زکوته بحساب ما یصیبه وفی اقل من هذا ماتکون الملالة والتفریط فلهذا اخذواله بالاحتیاط، فقالوا: یزکیه مع حملة ماله فی راس الحول وهو عندی وجه الامر. (کتاب الاموال ص: ۴۳۴ فقره: ۱۲۳۲) (۱)

ترجمه: کومو حضراتو چي دا فرمائیلی دی چي د قرض زکوٰة دی د عین مال سره اداء سی، نو هغوی دامسلك ځکه اختیار کړی دی چي کوم سړی د قرض زکوٰة د قبضی ملاویدلو پوری موخرکوی، هغه به د خپلو قرضو زکوٰة د حد مطابق معلومولو سره بد هغه صحیح ادائیگی اونکړی سی، ځکه چي قرضه بعضی اوقات په قسطونو کی ملاویږی، مثلاً کله پنځه ملاو سوی کله لس، کله زیاتی او کله کمی، اوس چي هغه ته کوم درهم ملاویږی د هغه په باره کی به دا معلوموی، چي دا څومره کاله، څومره میاشتی او څومره ورځی د ده د قبضی ځخه بهر پاته سوی دی. بیا هغه هم د هغه په حساب سره زکوٰة اوباسی، او په دی عمل کی د مشقت او کوتاهی لوی امکان دی، ځکه د داسی سړی د پاره علماوو په احتیاط باندی د عمل کولو وئیلی دی، او دا حکم یی ورکی، چي هغه دی هرکال د خپل نور مال سره د قرض زکوٰة هم اوباسی. او هم دا زما په نزد صحیح طریقه ده.

د عامو قرضو په باره کی به دا مشکل قابل د لحاظ وی او یانه؟ خو د بینك اکاونټس په باره کی داشان حساب او کتاب عملی اعتبار سره تقریباً ناممکن دی، ځکه چي عام طور سره د دی اکاونټس ځخه بعضی اوقات په یوه یوه ورځ کی څو څو واره پیسی کابل کیږی او نوی داخلول کیږی او د قبضی ځخه وروسته د زکوٰة د ادائیگی صورت صرف همدا کیدی سی چي هر اکاونټ هولډر د خپل اکاونټ د هری روپی په باره کی دا ریکارډ پوره محفوظ وساتی، چي دا څومره موده په بینك کی پرته وه چي په دی باندی د واجبیدونکی تیرو سوو کلونو زکوٰة اداء سی، او کله چي څوك پیسی د بینك

(۱) الجزء الثالث ص: ۴۲۹ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت).

ځخه را وباسی، نو اول دی داحساب اوکړی چي دا پیسی څوکاله په بینك کښی وی. او په دی څومره زکوٰة واجب سوی دی. بیا دی زکوٰة اداء کړی. په دی کی چي کوم عملی تعذر دی هغه پټ نه دی او پخپله د احنافو فقهاء د مال مستفاد بیل کال نه شماریدلو باندی یو دلیل همدا د تعذر عمل پیش کړی دی، چنانچي امام محمد رحمة الله علیه خو په مال مستفاد باندی بیل کال شمیرلو والا خلگو باندی طنز کولو سره تردی لیکلی دی چي: ینبغی لصاحب هذا المال ان یقعد حسابا یحسبون زکوٰة ماله متی تجب؟ ارائیتم الرجل اذاکان یفید الیوم الفاً وغدا الفین و بعد غد ثلاثة الاف وبعد ذالك خمسة الاف و بعد ذالك بعشرین یوماً عشرة الاف، ان ینبغی له ان یزکی کل مال من هذه الاموال علی حدة؟ و هذا قول ضیق، لا یوافق ما علیه الناس، ینبغی له ان یجمع ماله کله ثم یزکیه اذا وجب الزکوٰة علی ماله الاول (کتاب الحجة علی اهل المدینة ج: ۱ ص: ۴۹۱، ۴۹۲) (۱)

ترجمه: (د دی حضراتو د قول مطابق) خو هر صاحب مال ته پکار دی چي هغوی دی باقاعده یو محاسب د دی کار د پاره کښی نوی چي هغه د دوی د زکوٰة حساب کوی چي هغه به کله واجب کیږی؟ لږ خو غور وکړی: د یو سړی سره نن زر روپی راځی. صبا دوه زره، بله ورځ دری زره دی د دی ځخه وروسته پنځه زره او بیا د شلو ورځو ځخه وروسته لس زره، نو ایا هغه به د دی ټولو پیسو بیل بیل زکوٰة اوباسی؟ دا خو ډیر تنگ قول دی چي د خلگو د طرز عمل موافق نه دی، د دی په ځای هغه ته پکار دی چي هغه دی خپل ټول مال را یوځای کړی، بیا دی د ټولو مال زکوٰة یو ځای په هغه وخت اوباسی کله چي په مخکښی مال زکوٰة واجب سوی وو.

او حضرت ابراهیم نخعی رحمة الله علیه چي د فقه حنفی لوی ماخذ دی، د هغوی یو ارشاد ابن ابی شیبه رحمة الله علیه په دی الفاظو سره روایت کړی دی چي:

ومن کان له من دین ثقة فلیزکه، وما کان لایستقر یعطیه الیوم ویأخذ الی یومین فلیزکه. (مصنف ابن ابی شیبه ج: ۳ ص: ۱۲۳) (۲)

د چاچي په یوقابل اعتماد سړی باندی قرض وی هغه ته پکار دي چي د هغه زکوٰة اداء کړی، او کوم قرض چي په یوحالت باندی نه وی، نن یی یوه ته ورکوی او دوی ورځی وروسته یی ځنی اخلی، د هغه دی هم زکوٰة اوباسی.

(۱) طبع دار المعارف النعمانیه.
(۲) طبع نشر السنة ملتان.

د دی منشاء هم غالبًا داده: چي د قرض چي کومی پیسی ځی راځی د هغه بیل بیل حساب ساتل چونکی متعذر وی نو ځکه د هغه ټولو زکوة په یوځای ایستل پکار دی، او د دی قسم قرض چي څومره مکمل مثال د بینك اکاونټس دی، دومره مکمل مثال شاید چي بل ممکن نه وی، لهٰذا د دی ټولو د لائلو په رڼا کی د بینك اکاونټس څخه زکوة وصولولو باندی اعتراض درست نه پاته کیږی، چي د دی زکوة د وجوب اداء څخه مخکی وصول سوی دی بلکی د پورته ذکر سوو د لائلو د مخه دا واضح کیږی چي د دی اکاونټس وجوب اداء هم هغه وخت کیږی کله چي د نورو رقمونو کال پوره سی.

د بینك اکاونټس د دین کیدلو په بنیاد د دی څخه په زکوة کټ کولو باندی دوهم اعتراض دا کیدی سی چي کله یو سړی بینك ته پیسی قرض ورکړی نو هغه پیسی د هغه د ملکیت څخه او وتلی او د بینك په ملکیت کی راغلی، لهٰذا د کومو پیسو څخه چي بینك زکوة اخلی، هغه د بینك ملکیت دی، او په شریعت کی د دی څه نظیر نسته، چي د یو سړی زکوة دی د بل سړی د پیسو څخه واخستل سی.

د دی اعتراض په جواب کی عرض دادی چي د کوم قرض اصولی دومره یقینی وی څومره چي د بینك اکاونټس کی یقینی وی د هغه څخه د زکوة د وصولی متعدد مثالونه موجود دی، چي دی لره تقدیراً د دائن په قبضی کی وګرځول سول، او د هغه څخه بیا زکوة وصول سو، یو څو مثالونه یی لاندی درج دی:

۱: مخکی تیر سوی دی چي حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه، حضرت عمر رضي الله عنه، حضرت عثمان رضي الله عنه به د زکوة پیسی به د ورکوونکی د تنخواه څخه کټ کولی، د امام ابو عبید رحمه الله د روایت دا الفاظ مخکی تیر سوی دی چي:

فان اخبره أن عنده مالا قدحلت فیه الزکوة قاصه مما یُرِیدَ أن یُعطیه (کتاب الاموال ص ۴۱۱) (۱)

ترجمه: که تنخوا اخستونکی به دا ووئیل چي د ده سره داسی مال دی چي په هغه زکوة واجب دی، نو حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه چي کومه تنخواه هغه ورکول غوښتل د هغه څخه به یی زکوة کټ کی.

ظاهره ده چي د تنخواه اخستلو څخه مخکی هغه په بیت المال باندی قرض وو، او چونکی د صاحب تنخواه په هغه باندی قبضه نه وه سوی، نو ځکه هغه تراوسه حقیقتًا د

(۱) کتاب الاموال لابی عبید الجزء الثالث ص: ۴۱۲ (دار الکتب العلمیة بیروت).

هغه په ملکیت او قبضی کی نه وه راغلی، خو په قبضه کی د راتلو څخه مخکی زکوة کټ کول د دی د پاره وو چي هغه د قرض متیقن کیدلو په وجه تقدیراً د صاحب تنخواه په قبضه کی راغلی وه، چنانچي امام محمد دا واقعه په موطا کی نقل کړیده، په دی باندی یی ترجمة الباب دا قائم کړی دی چي:

باب الرجل یکون له الدین هل علیه فیه الزکوة، او بیایی دا روایت نقل فرمائیلی دی چي، کان ابوبکر اذا اعطی الناس اعطیاتهم یسئل الرجل هل عندك من مال قد وجبت فیه الزکوة؟ فان قال نعم! اخذ من عطائه الزکوة ذالك المال وان قال لا. سلم الیه عطاه.

او بیا یی فرمائیلی دی: قال محمد: وبهذا نأخذ وهو قول ابی حنیفة رحمه الله (موطاء محمد، ص: ۱۷۰) (۱)

او حضرت مولانا ظفر احمد صاحب عثمانی د حضرت صدیق اکبر او حضرت عمر رضي الله عنه وغیره دا عمل نقل کولو څخه وروسته لیکلی دی:

وفیه دلالة علی انهم کانو یأخذون زکوة العطاء لکونه دینا مستحقا علی بیت المال والا لم یکن لاخذ الزکوة منه معنی. (اعلاء السنن ج: ۱۲ ص: ۴۳۰ کتاب السیر باب العطاء یموت صاحبه بعد مایستوجبه) (۲)

ترجمه: د دی روایاتو څخه معلوم سول چي هغوی به د تنخواګانو څخه زکوة ځکه وصولوی، چي هغه په بیت المال باندی دَین وو (حالانکی دین اُجرت د دین قرض څخه ضعیف دی) ورنه د دی تنخواګانو څخه د زکوة وصولولو هیڅ معنی نسته، په دی ټولو روایتونو او عبارتونو کی د دی خبری واضح دلیل موجود دی چي دین متیقن په قبضه کی راتلو څخه مخکی د هغه څخه څخه وصولیدی سی ځکه هغه د متیقن کیدلو په وجه تقدیراً د مالك په قبضه کی دی.

۲: د حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه په باره کی امام ابو عبیده رحمه الله فرمایی:

عن نافع عن ابن عمر ان کان یکون عنده الیتمی فیستیسلف اموالهم لیحرزها من الهلاك، ثم یخرج صدقتها من اموالهم وهی دین علیه. (کتاب الاموال ص: ۴۵۱، فقره: ۱۳۰۹، (۳) نور وګوری السنن الکبری للبیهقی ج: ۴ ص: ۱۴۹ (۱) ومصنف عبد الرزاق ج: ۴ ص: ۷۰، ۹۸، ۹۹) (۲)

(۱) الموطاء للامام محمد ص: ۱۷۴ (طبع قدیمی کتب خانه).
(۲) اعلاء السنن حکم الزکوة فی العطاء ج: ۱۲ ص: ۵۵۹ (ادارة القرآن، کراچی).
(۳) ص: ۴۵۲ دار الکتب العلمیه بیروت.

ترجمه: د حضرت عبد الله بن عمر سر پرستی کی به یتیمان وو، نو حضرت ابن عمر رضي الله عنه به د هغوی مالونه په خپله ذمه قرض جوړول چي هغه د ضائع کیدلو څخه بچ کړی، بیا به یې د هغوی د مالونو څخه د هغه زکوة ویستی په داسی حال کی چي دا مالونه به د هغوی په ذمه قرض وه.

دلته خو دا مسئله جلاده، چي د نابالغه په مال زکوة واجب دی او که نه؟ او په مذکوره واقعی کی (یتامی) څخه مراد بالغه یتیمان دی او که بالغ یتیمان؟ خو دلته چي کومه خبره قابل د غور ده، هغه داده چي حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه به یتیمانو باندی زکوة فرض گنی، او د هغوی مالونه به یې پخپله قرض اخستل، بیابه یې د هغه څخه د قرض په حالت کی زکوة اوباسی، دا صورت د موجوده بینك صورت سره ډیر نژدی دی، چي په دواړو ځایونو کی پیسی د ودیعت په ځای د قرض جوړولو مقصد هغه مالونه مضمون جوړول دی، او د دی باوجود چي هغه پسی د قرض، اخستلو څخه وروسته د حضرت ابن عمر رضي الله عنه په ملکیت کی راغلی خو هغوی هم د هغه پیسو څخه د اصل مالکانو زکوة یې اداء کی، د دی څخه هم دا معلومیږی چي دین متیقن تقدیراً د دائن په قبضی کی گڼڅولو سره د هغه څخه زکوة اخستل کیدی سی.

د زکوة د نیت مسئله: د بینك د اکاونټس څخه د زکوة په وصولی باندی دریمه شبه داسویده چي د بینکونو څخه جبراً د زکوة د وصولولو په صورت کی د مال د خاوندانو د طرفه نیت محقق نه وی حالانکی د زکوة نیت د زکوة د اداکولو د پاره شرط دی، په دی سلسله کی د مجلس په سابقه تحریر کی عرض سوی وو چي کومو مالونو د زکوة د اخستلو اختیار حکومت ته دی، په هغه کی د حکومت وصولول پخپله د نیت قایم مقام جوړیږی او په دلیل کی د علامه شامی دا عبارت پیش سوی دی چي:

وفی مختصر الکرخی، اذا اخذها الامام کرهاً فوضعها موضعها اجزاء لانه له ولایة اخذ الصدقات فقام اخذه مقام دفع المالك، وفی القنیة: فیه اشکال لان النیة فیه شرط ولم توجد منه آه قلت: قول الکرخی فقام اخذه الخ، یصلح للجواب، تامل. (شامی ج: ۲ ص: ۳۵) [3]

[1] طبع ادارة القرآن کراچی.
[2] طبع مجلس علمی کراچی.
[3] رد المختا[illegible]

په دی باندی بعضی حضراتو داشبه ظاهره کړی ده، چي علامه شامی رحمه الله د مذکوره عبارت څخه وروسته متصل لیکلی دی چي:

ثم قال فی البحر: والمفتی به التفصیل: ان کان فی الاموال الظاهرة یسقط الفرض لان للسلطان او نائبه ولایة اخذها وان لم یضعها لایبطل اخذه، وان کان فی الباطنة فلا [1]

چي د دی څخه معلومیږی که د اموال باطنه زکوة جبراً وصول سی نو هغه به نه اداء کیږی.

په دی سلسله کی عرض دادی چي مجلس په خپل سابقه تحریر کی کوم الفاظ لیکلی وه، چي حکومت ته د کومو مالونو د زکوة وصولولو حق دی په هغه کی د حکومت وصولول په خپل ذات کی د نیت قائم مقام گرځی، هغه مرهم د دی عبارت پیش نظر لیکلی وو، ځکه چي په مذکوره عبارت کی مدار په دی باندی دی چي سلطان ته ولایت اخذ حاصل سوو، او که نه؟ او د بینك اکاونټس څخه (ولایت اخذ) د لائل مخکی په تفصیل سره بیان سوی دی لهذا په زیر بحث مسئله کی چي مذکوره عبارت سره په حکم کی څه فرق نه واقع کیږی.

او د کومو مالونو د زکوة اخستلو حق چي حکومت ته دی، په هغه کی د حکومت وصولی د نیت قائم مقام کیدل د ائمه اربعه په نزد مسلم دی، که څه هم ائمه ثلاثه د نیت په باره کی دومره سخت دی چي په هغه صورتونو کی دلالة نیت معتبر نه گڼی، مثلا که څوك ټول، مال د زکوة د نیت څخه بغیر صدقه کړی نو د احنافو په نزد د هغوی زکوة ساقطیږی (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۷۱) [2]

خو د ائمه ثلاثه په نزد د نیت د فقدان د وجی زکوة نه ساقطیږی. [3] (المغنی لابن قدامه ج: ۲ ص: ۲۳۹ والخطاب ج: ۲ ص: ۳۵۷)

لیکن د حکومت د وصولی په سلسله کی ائمه ثلاثه هم په دی متفق دی چي هغه د نیت قائم مقام جوړیږی چنانچي د فقه مالکی معروف کتاب (مواهب الجلیل) کی دی:

اذا اخرج رجل الزکاة بغیر علم من هی علیه وغیر اذنه فی ذالك، فان کان مخرج الزکوة الامام فالزکاة مجزئة. (مواهب الجلیل للحطاب ج: ۲ ص: ۳۵۲) [1] او د فقه شافعی په معروف کتاب (نهایة المحتاج) کی دی:

[1] طبع مکتبه حقانیه پشاور.
[2] المغنی لابن قدامه مسئله ۴۲۲ ج: ص ۸۹
[3] طبع دار عالم الکتب ریاض.

الاصح للشافعية ان نية السلطان تكفى اذا اخذ الزكاة الممتنع. (نهاية المحتاج ج: ۳ ص: ۱۳۸) ([۲])

او علامه ابن قدامه لیکی چی:
ولايجوز اخراج الزكاة الابنية الا ان يأخذها الامام منه قهراً. (المغنى لابن قدامه ج: ۲ ص: ۲۳۸) ([۳])

بیا داټول تفصیل خو د زکوٰة د وصولی په وخت د زکوٰة په اداء کولو کی دی او چاته په دی کی شبه وی، نو د هغه د پاره دالاره موجوده ده، چي هغه د زکوٰة کټ کیدلو څخه وروسته سمدستی نیت اوکړی څکه که کوم یو فضولی سړی د چا د مال څخه زکوٰة اداء کړی نو ترڅو چي مال د فقیر (یا د هغه د وکیل) په قبضه کی وی ترهغه وخته پوری اصل مالك د زکوٰة نیت کولو سره د هغه اجازت ورکولی سی، د دی تصریح د احناف فقهاوو په کلام کی موجود ده، چنانچي په فتاوىٰ عالمګیریه کی دی:
رجل ادى زكاة غيره من مال ذالك الغير، فاجازه المالك، فان كان المال قائما فى يد الفقير جاز و الا فلا، كذا فى السراجية. (عالمګیری ج: ۱ ص: ۱۷۱) ([۴]) والله سبحانه وتعالى اعلم بالصواب.

دستخطونه

۱: حضرت مولانا مفتی ولی حسن صاحب، دار الافتاء جامعة العلوم الاسلامیه کراچی.
۲: حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب، دار الافتاء والارشاد ناظم آباد کراچی.
۳: حضرت مولانا مفتی سبحان محمود صاحب، دار العلوم کراچی.
۴: حضرت مولانا مفتی عبد الحکیم صاحب، مدرسه اشرفیه سکهر.
۵: حضرت مولانا مفتی محمد رفیع عثمانی صاحب، مهتمم دار العلوم کراچی.
۶: حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب، دار العلوم کراچی.
۷: حضرت مولانا مفتی عبد الروف سکهروی صاحب، دار العلوم کراچی.
۸: حضرت مولانا مفتی وجیه الله صاحب، دار العلوم باګ، ضلع کچي بلوچستان.

([۱]) طبع دار الفکر.
([۲]) طبع دار الاحیاء التراث العربی بیروت
([۳]) المغنی لابن قدامه مسئله: ۴۲۳ ج: ۴ ص: ۸۸ (طبع دار عالم الکتب ریاض).
([۴]) ......

یو اهم وضاحتی نوټ

(د حضرت والا دامت برکاتهم)

نوټ: د بینك ډپازټ په اموال ظاهره کی د شاملولو ګنجایش چي په دی فتوی کی ورکول سوی دی، د هغه په باره کی دا تصریح مناسب ده چي دا مسئله د بنده پلار محترم حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله او حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی صاحب رحمه الله مخ ته هم راغلی وه، حضرت والد صاحب رحمه الله څه تحریر خو بنده ته په دی باره کی ملاو نسو، خو زبانی طور می د هغوی څخه دا اوریدلی وه، چي د بینکونو ډیپازیټس په اموال ظاهره کی شمار کیدلی سی، او د حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی صاحب رحمه الله څخه په دی باره کی یو تحریر هم شائع سوی دی چي هغوی د یوی سوالنامی په جواب کی لیکلی وو، او ماهنامی (ترجمان القرآن) او ماهنامی الصدیق، ملتان کي شائع سوی وو، په هغه کی د حضرت الفاظ په لاندی ډول دی.
حکومت ته د اموال باطنه د زکوٰة د مطالبی حق نسته (الا بضرورة الشديدة) بلکی هغه صرف د اموال ظاهره د زکوٰة د صولولو حق لری، لکه د څاروو زکوٰة چي د کال په زیاته حصه کی په کور کی نه بلکی په ځنګل وغیره کی څربیږي او د هغه تاجرانو تجارتی مال زکوٰة چي د یوښار څخه بل ښار ته مال وړی او د بهر څخه مال راغواړی او د عشری او خراجی مځکو عشر او خراج هم د ظاهره اموالو د جملی څخه دی، او کوم تاجر چي په خپل ښار کی تجارت کوی، نه د بهر څخه مال راغواړی او نه یی لیږی، د هغه تجارتی مال په باطنه اموالو کی شمیرل کیږی، دغه شان کومی نقدی روپی او زیورات چي د چا په کور کی وی هم هغه هم د اموال باطنه جزء دی، خو چي کومی روپی په بینك یالمیټډ کمپنیانو کی وی هغه به په اموال ظاهره کی داخل دی.
(ترجمان القرآن، جمادی الاولی ۱۳۷۴ھ ص: ۳۵۵-۳۵۲، جلد: ۴۳، عدد ۵)

فصل فی العشر والخراج

د عشر او خراج د متعلقه مسئلو بیان

د پاکستان د عشری او خراجی مځکو حُکم

سوال: عشر په چاباندی واجب دی؟ سرکار چي کوم خراج اخلی، آیا په هغه مځکه عشر واجب پاته کیږی او څومره وی؟ په مزارع او زمیندار کی هریو بیل بیل ورکی یا په یوه باندی لازم دی؟ عشر به مدرسی یا جومات ته ورکول صحیح وی؟ او که ورکول یی صحیح وی نو د مدرسی ملازمینو ته یی ورکول او د مدرسی د پاره باندی کتابونه اخستل جائز دی؟ آیا په عشر ورکولو سره زکوة اداء کیږی؟

جواب: د پاکستان زیاتره مځکی عشری دی، د کومو مځکو چي خراجی کیدل د کوم خاص دلیل څخه ثابت نه وی هغه به عشری ګڼل کیږی، لهٰذا که هغه بارانی وی یعنی صرف په باران سره خړوبه کیږی نو د هغه د پیداوار څخه لسمه حصه، او که نهری وی یعنی د هغه په اوبه خور باندي محنت یا خرڅ کیږی، نو د هغه د پیداوار شلمه حصه د عشر په ډول ایستل واجب دی، [۱] د دی عشر حکم د زکوة په شان دی، لهذا دا د زکوة په مصارفو خرڅ کیدلی سی، حکومت چي کوم ټیکس اخلی، د هغه سره عشر نه اداء کیږی، [۲] عشر جلا او بیل باسل ضروری دی.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۲/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر: ۴۱/ ۱۹ الف)

د عشر اداء سوی پیداوار په قیمت باندی د زکوة د وجوب حُکم

سوال: د یو زمیندار سړی سره د مځکی څخه پیسیٔ موجودی دی، چي د حولان حول په وجه د زکوة د اداء کولو قابل دی، هم په دی دوران کی په کال کی دوهم فصل پیداوار

---

[۱] وفی تنویر مع شرحه ج: ۲ ص: ۳۲۵ (طبع ایچ ایم سعید) یجب العشر فی.... (مسقی سماء) ای مطرو (سیح)... ویجب نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر (ودالیة) ای د ولاب لکثرة المؤنة.... الخ.

[۲] وګوری ص--- فتوی نمبر--- او د هغه حاشیه نمبر ۲.

یی د مځکی خرڅ کړل، د هغه څخه څه پیسی حاصلی سوی چي د هغه څخه ۱۰-۱ حصه یا ۲۰-۱ حصه په شرحی سره عشر هم اداء سو، اوس صورت داسو چي څلور میاشتی یا اته میاشتی وروسته د اول کال په پیسوباندی کال پوره سو او د زکوة ورکولو قابل سو خو د کال په مینځ کی د مال څخه یعنی د پیداوار څخه چي کوم رقم حاصل سوی دی، په هغه ټول کال نه دی تیر سوی او عشر هم اداء سوی دی نو آیا دا آخر الذکر رقم به د اول الذکر رقم سره جمع کول کیږی چي په هغه باندی زکوة فرض دی؟ یاپه دی کال به دی پیسو زکوة نه وی؟ د بعضو علماوو رایه ده چي په یو شی باندی په یووخت کی دوی وظیفی لاګو کیدی نسی چي د کال په مینځ کی یی عشر هم اداء کړی وی، تاسو صحیح صورتحال ولیکی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مځکی پیداوار خرڅولو سره چي کوم رقم د کال په مینځ کی حاصل سوی دی هغه به د اصل نقدو پیسو سره یوځای کولی سی او کله چي د اصل نقدو پیسو کال پوره سی نو د دی زکوة به هم د اصل پیسو سره اداء کولی سی، د دی څخه مځکی چي کوم عشر اداء سو، د هغه په وجه به د دی پیسو زکوة نه ساقطیږی ځکه چي عشر د مځکی وظیفه ده، د نقدو نه ده چنانچي ټولو فقهاوو د دی تصریح کړی ده، علامه ابن همام لیکی:

واتفقوا علی ضم ثمن طعام ادی عشره ثم باعه وثمن ارض معشورة وثمن عبد ادّی صدقة فطره، اما عند هما فظاهر واما عنده فلان البدل لیس بدلا لمال الزکوة لان العشر لایجب باعتبار الملك. (فتح القدیر ج: ۱ ص: ۵۱۱). [۱] ومثله فی البحر [۲] وقال الشامی لوادی عشر طعام او ارض او صدقة فطر عبد ثم باع حیث تضم اثمانها اجماعاً. (شامی ج: ۲، ص: ۳۲) [۳]

الجواب الصحیح بنه محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۸/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۳۳۲/ ۱۹ الف)

---

[۱] فتح القدیر ج: ۲ ص: ۱۴۸ (مکتبه رشیدیه کویټه)

[۲] البحر الرائق ج: ۲ ص: ۲۲۴ (طبع ایچ ایم سعید)

[۳] رد المختار ج: ۲ ص: ۲۸۸ (طبع سعید) او همدارنګه وګوری احسن الفتاوی ج: ۴ ص: ۳۶۰)

د برطانیې د حکومت د اړخه چاته ورکول سوي مځکې باندې به عشر واجب وي او که نه؟

سوال: یوځای د پاکستان د جوړیدلو څخه مخکې ځنګل وو، د برطانیې حکومت د هغه ځنګل مځکه په څو سوو روپو مربع باندې د عوامو په نوم الاټ کړله او د هغه مځکې مالکان عوام مسلمانان دي نو د دې په پیداوار باندې به عشر لازم وي او که نه؟ اوریدلي مې دي چې د کافر څخه اخستل سوې مځکه باندې عشر لازم نه دی؟

جواب: مذکوره مځکه کوم وخت چې د برطانیې د حکومت د اړخه ورکول سوه هغه وخت هغه بنجروه، لهذا هغه غیر آباده سوه، او هم مسلمانانو د هغه احیاء کړې ده، په دې وجه په دغه مځکه باندې به عشر واجب وي.

لما فی الدر المختار وموات احیاه ذمی باذن الامام او رضخ له کمامرّ خراجی ولو احیاه مسلم اعتبر قربه شامی (١)، د کافر څخه د مځکې اخستلو په صورت کې خراج په هغه وخت راځي، کله چې کافر مځکه اباده کړې وي، بیا هغه په مسلمان باندې خرڅه کړي، په مذکوره صورت کې چونکې مځکه مسلمانانو اباده کړې ده نو ځکه دا مځکه عشري ده.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
(١٠/ ٥/ ١٣٩١هـ)
(فتوی نمبر ٢٠٨/ ٢٢ب)

١. ټیوبویل باندې په خړوبیدونکې مځکې نیم عشر دی.
٢. د اخراجاتو ایستلو څخه بغیر به عشر ورکول کیږي.

سوال: په نهري آبادي باندې شلمه حصه اداء کول دي حالانکې د نهري په نسبت ټیوبویل باندې خرچه زیاته راځي او ټیوبویل باندې هم شلمه حصه اداء کول دي، د خرچې زیاتي راتلو په وجه هغه څخه کم عشر پکار وو.

٢: اوس په فصل باندې د کیمیاوي سرې د استعمال زیات رواج دی او د دې څخه بغیر فصل حاصلول ناممکن دي، د سرې خرچه فی ایکړ د (٧٠) څخه تر (٨٠) پورې راځي په

(١) رد المختار کتاب الجهاد باب العشر والخراج والجزیة ج: ٤ ص: ١٨٤ (طبع سعید)

همدې حساب سره په پوره ایکړ مربع باندې خرچه راځي، نو د دې پیداوار عشر په کوم حساب سره اداء سي؟ او د سرې اخراجات د ایستلو سره عشر اداء کول صحیح دي؟

جواب: په ټیوبویل سره چې کومه مځکه خړوب کولی سي د هغه د پیداوارو هم شلمه حصه په طور د عشر باسل کیږي، په ټیوبویل باندې که زیات اخراجات کیږي د هغه په وجه به عشر په شرحه کې کمی نه کیږي.

٢: په فصل باندې چې کوم اخراجات راځي هغه کارول او د عشر حساب کول غلط دي، عشر په ټول پیداوار باندې وي، د سرې وغیره اخراجات د عشر څخه نسي مستثنی کیدی.

یجب العشر فی الاول ونصفه فی الثانی بلارفع أجرة المال ونفقة البقر وکری الانها رواجرة الحافظ ونحو ذالك. (شامی ج: ٢ ص: ٥١) (١) په سرې سره اخراجات زیاتیږي نو فصل هم ورسره زیاتیږي، بیا په عشر کې د کمی فکر کول نه دي پکار.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
٢٣/ ٤/ ١٣٩١هـ
(فتوی نمبر ٥٤٥/ ٢٢ الف)

په پاکستانی مځکې کې د عشري او خراجي مځکو تعیین او د هغه حُکم

سوال: واضح کړې چې د عشري مځکې او غیر عشري مځکې څخه څه مراد وي؟

جواب: د عشر مسئله داده چې کومې مځکې د پاکستان جوړیدلو څخه وروسته اباده سویده هغه ټولې عشري دي، او کومې چې د مځکې څخه ابادي دي په هغه صرف هغه خراجي ده، کوم چې د غیر مسلم په قبضه کې دي یاکوم مسلمان هغه د کوم غیر مسلم څخه اخستې وي.

او د عشر مطلب دادی: که بارانی مځکه وي نو پیداوار لسمه حصه او که نهري یا دارټ مځکه وي نو شلمه حصه به اداء کولی سي.

والله سبحانه اعلم
١٠/ ١/ ١٣٩٠هـ
(فتوی نمبر ١٢٨٨/ ٣٠ و)

(١) رد المختار باب العشر ج: ٢ ص: ٣٢٨ (طبع سعید).

مځکه پخپله کرلو یا په ټیکه ورکولو په صورت کی د زکوة حکم

سوال: که مځکه پخپله اوکرل سی نو د هغه په پیداوار باندی د زکوة شرحه څه ده؟

۱: که مځکه په ټیکه باندی ورکړې وی او د هغه څخه سالانه آمدنی حاصلیږی نو په هغه باندی زکوة په څه حساب سره واجب دی؟

جواب: د پاکستان زیاتره مځکی عشری دی، لهٰذا که هغه بارانی وی یعنی په باران سره اوبه کیږی، نو د فصل لسمه حصه کنبل به واجب وی او که د انسانی ذرایعو سره اوبه کیږی، نوشلمه حصه.(۱)

۲: د ټیک اجرت که نقد وصول سوی دی نو په نقدو پیسو کی به شامل وی او په هغه به د نقدو په حساب سره (یعنی څلویښتمه حصه) زکوة راځی.

والله سبحانه اعلم

۱/۱۱/۱۳۹۰ھ

(فتوی نمبر ۳۰۸/ ۲۱ الف)

❁❁❁

(۱) وفی التنویر مع شرحه باب العشر ج: ۲ ص: ۳۲۵ الی ۳۲۸ یجب العشر..... فی مسقی سماء ای مطر وسیح ... ویجب نصفه فی مسقی غرب ای دلو کبیر و دالیة ای دولاب لکثرة المؤنة.... الخ.

فصل فی مصارف الزکوة والعشر وصدقة الفطر

د زکوة، عشر او سرسائی د مصارفو په بیان کی

د زکوة مستحق څوک دی؟

سوال: زه یو ډیر غریب سړی یم، پاکستان توبیکو کمپنی کی یوادنی ملازم یم او ماته (۴۲۵) څلور سوه پنځه شپیته روپی تنخواه ملاویږی زما لس ۱۰ بچي دی، او دواړی ښځه خاوند سره داشان دولس ۱۲ کسان خاندان یو، د وخت تیرولو د پاره تاسو اندازه لګولی سی چي څلور سوه پنځه شپیته روپی ماهانه باندی څنګه وخت تیریدلی سی، د کور کرایه او د تګ راتګ خرچه تری اوباسی، د خوراك څښناك خرچه هم نه پوره کیږی چي لږ لږ قرض اخستلو سره د زرګونو روپو مقروض هم سوم چي د هغه د اداء کولو څه صورت نسته، دلته یو مالدار شریف سړی دی، هغه وایی: که د دار الغلوم مهتمم صاحب ووایی، چي ته د زکوة مستحق یی، نو زه ستا مدد کولی سم، ځکه چي زماسره د زکوة پیسی موجود دی، اوس زه د دی درخواست په ذریعه ستاسو څخه خواست کوم چي تاسو زما بره ذکر سوی حیثیت او حالت د نظر لاندی اوساتی، او دا ووایی چي دی د زکوة مستحق دی، داهم باید عرض وکړم چي زه سید نه یم.

جواب: که ستاسره دومره نقدی روپی یا زیورات یا د ضرورت څخه زیات سامان نه وی چي ته د هغه په ذریعه خپل قرض اداء کړی او د دوه پنځو نیموتولو سپینو زرو د مالیت څخه هم بچ پاته سی، نو ته د زکوة مستحق یی او تاته زکوة درکولی سی.(۱)

والله سبحانه اعلم

۱۰/۶/۱۴۰۰ھ

(فتوی نمبر ۷۲۴/ ۳۱ب)

حقیقی خور ته د زکوة ورکولو حکم

سوال: آیا حقیقی خورته زکوة ورکول جائز دی؟

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (طبع سعید کراچی) مصرف الزکوة (هو فقیر هو من له ادنی شی) ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة وفیه ایضا ج: ۲ ص ۳۴۳ (ومدیون لایملك نصابا فاضلا.

جواب: که حقیقی خور د نصاب مالکه نه وی نو هغه ته زکوة ورکولی سی (۱).

والله اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۴۱۴هـ

د برما مظلومو مسلمانانو ته د زکوة ورکولو حکم

سوال: په برماکی د کافرانو ظالمانو په خلاف چي د مجاهدینو کوم جماعت دی که په هغه کی د زکوة اخستلو مستحق افراد شامل وی، نو د زکوة پیسی هغه مستحقینو ته ورکولو سره به زکوة اداء سی او که نه؟

جواب: دغه د زکوة مستحقینو ته بغیر شك او شبهی څخه زکوة ورکولی سی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۸/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۸۸۲/ ۲۳ج)

عشر او صدقه د امامت په تنخواه کی د ورکولو حکم

سوال: د ریاست د والیانو د اړخه چي کومه مځکه د جومات امام ته ورکول سوی وی هغه به وقف وی؟ د هغه عشر او سرسایه د جومات امام ته ورکول کیږی او نوری شپږ میاشتی د جومات امام د کلی امامت د ملازمت په شکل کی کولو سره عشر او سرسایه اخلی په دی هغه دعاء کوی، او که دعاء اونکړی نو مقتدیان یی ناراضه کیږی، څه خلگ وایی چي د جومات امام ته د قربانی څرمنی، عشر او سرسایه ورکول جائز نه دی، د شریعت څه حکم دی؟

جواب: عشر او سرسایه د امامت په اجرت کی مقررول هڅو جائز نه دی (۲)، د امامت تنخواه بیله مقررول پکار ده بیا که د تنخواه اخستلو باوجود، امام صاحب د نصاب مالك نه وی، یعنی د هغه سره د دوه پنځوس نیموتولو سپینو زرو د قیمت څخه زاید د

---

(۱) د حوالی د پاره صــ او صــ حاشیه عــ وګوری.

(۲) وفی الهندیة کتاب الزکوة باب المصارف ج: ۲ ص ۱۹۰ (مکتبه رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة بحال لو لم یدفعه یعلم الصبیان ایضاً اجزأه والا فلا.... الخ. وفیها ایضا کتاب الزکوة ج: ۲ ص ۱۷۰ فهی تملیك المال من فقیر مسلم غیر هاشمی ولامولاه بشرط قطع المنفعة عن المملك من کل وجه الله تعالی.

ضرورت سامان نه وی نو هغه ته عشر او صدقة الفطر ورکول هم جائز دی (۱)، خو د دی د امامت سره څه تعلق نسته او نه دا د تنخواه جزء جوړولی سی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۱۰۳۲/ ۲۸ ج)

د زکوة د وجوب او د زکوة د مستحق کیدلو معیار

سوال: سیزنل فکتریانی چي په هغه کی د پنبی چهانړ کولو کارخانی، رائس (د وریجو میلونه، شوګرمیلونه، د واوری کارخانی وغیره شامل دی، داسی کار کوونکی چي هغوی د سیزن په ختمیدلو سره هغوی فارغولی سی یعنی بیکاره کیږی، په هغه کی یوڅو چي په بند سیزن په ختمیدلو سره هغوی فارغولی سی یعنی بیکاره کیږی، په هغه کی یوڅو چي په بند سیزن یعنی د کارخانی بندیدلو په صورت کی د څومیاشتو د پاره بل کار ګوری او باقی بیکاره وی او د بل سیزن د کار په شروع کیدلو باندی ټول کارکنان دوباره کارته راځی داشان د مذکوره کار کنانو امدنی د عام سړی څخه نیمه او غربت یی دوچنده وی، دا شان چي څو میاشتی کوم خلګ کار کوی، تنخواه اخلی، هغه د حکومت مقرر سوی ګریډ مطابق ټول الا ونسونه شاملولو سره (۲۵۰) روپی د میاشتی جوړیږی او د چالو سیزن موده عام طور سره دری څلور میاشتی وی او داشان که شپږ میاشتی هم سیزن اوچلیږی نو د یو کارکم ټوله امدنی (۱۵۰۰) روپی جوړیږی، او که د میاشتی نیم بونس هم پکښی شامل کسی، نو د یو سیزنل کار کوونکی د ټول کال آمدنی (۱۷۵۰) روپی ده، هرکله چي دا د حکومت یکم رمضان المبارك د زکوة کټ کولو په سلسله کی اعلان سوی نصاب مبلغ (۲۰۰۰) دوه زرونو هم (۲۵۰) روپی کمی دی، نو بیا داسی کسان اجتماعی طور باندی د زکوة مستحق ګرځول جائز دی او که نه؟

جواب: د زکوة د واجب کیدلو د پاره یا مستحق کیدلو د پاره دانسی کتلی چي د یو کس کلنی آمدنی (عایدات) څه ده؟ بلکی که یوسړی د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو یا د هغه د قیمت څخه زائد د ضرورت سامان مالك وی، نو هغوی د زکوة مستحق نه دی، لهذا په مسئوله صورت کی په دی سیزنل افرادو کی کوم صاحبان چي د

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (طبع سعید کراچی) مصرف الزکوة (هو فقیر وهو من له ادنی شیئ) ای دون نصاب او قدر نصاب غیرنام مستغرق فی الجاجة.... الخ.

دوپنځوس نیمو تولو سپینو زرو یا د هغه د قیمت د ضرورت څخه د زیات سامان مالك وی هغه د زکوٰة مستحق نه دی، او چي کوم صاحبان د دی معیار څخه کم دی هغوی ته زکوٰة ورکولی سی. (۱) د ضرورت څخه زائد سامان کی تی وی او زیورات شامل دی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۳/ ۱۴۰۲هـ

(فتوی نمبر ۱۲۵۳/ ۳۲ج)

د زکوٰة په اداء کولو کی خپل خپلوان مقدم ساتل پکار دی

سوال: (په تیر سوال کی) د مذکوره کارخانو مالکان یا انتظامیه ته د دی خبری پابندی کول جائز دی، چي هغوی د خپل زکوٰة پیسی په مذکوره بیکاره کسانو باندی تقسیم کړی؟

جواب: اصل مسئله داده چي د زکوٰة کومه حصه مالکان پخپله اداء کوی په هغه کی هغوی ته اختیار دی چي د زکوٰة په مصارفو کی په کوم مصرف چي غواړی د زکوٰة پیسی دی باندی ولګوی، خو د هغوی د پاره بهتره داده چي هغوی په خپلو خپلوانو کی ضرورتمند کسان مقدم وساتی، او بیا دی خپلو همسایه ګانو ته ترجیح ورکړی (۲) په مسئوله صورت کی دا بیکاره کسان هم د دی اصولو لاندی د خپلوانو څخه وروسته به زیات مقدم وی، خو په دی شرط چي هغوی مستحق وی، لهٰذا د فیکټرۍ مالکانو ته پکار دی چي دوی ته ترجیح ورکړی خو دوی د قانون په زور د دی نسی پابند کولی. البته د دغه علاقی څخه چي حکومت کوم زکوٰة اخلی په هغه کی ښه همداده چي هغه

---

(۱) وفی تنویر الابصار ج: ۲ ص ۲۹۵، ص ۲۹۸ (طبع سعید کراچی) نصاب.... الفضة مائتا درهم.. او فی عرض تجارة قیمت نصاب، وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (طبع سعید) مصرف الزکوٰة (هو فقیر وهو من له ادنی شیئ) ای دون نصاب او قدر نصاب غیر نام مستغرق فی الحاجة (ومسکین من لاشیئ له) علی المذهب..... الخ.

(۲) وفی الشامیة ج: ۲ ص ۳۵۳ (طبع سعید کراچی) عن ابی هریرة مرفوعًا الی النبی ﷺ انه قال: یا امة محمد! والذی بعثنا بالحق لایقبل الله صدقة من رجل وله قرابة محتاجون الی صلة ویصرفها الی غیرهم والذی نفسی بیده! لاینظر الله الیه یوم القیامة... وفی القریب جمع بین الصلة والصدقة فی القهستانی والافضل اخرته واخواتهم ثم اولادهم، ثم اعمامه (عماته ثم اخواله وخالاته ثم ذوو ارحامه ثم جیرانه ثم اهل السکنه ثم اهل البلده) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۹۰ (رشیدیه کویټه) والافضل فی الزکوٰة والفطر والنذور الصرف اولاً الی الاخوة والاخوات ثم الی اولادهم... ثم الی الجیران.... الخ.

دی د همدی علاقی په خلګو خرڅ کړی. (۱) او د بی کاره کسانو مدد دی د همدی مد څخه اوکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۳/ ۱۴۰۲هـ

(فتوی نمبر (۵۳۱۶)

جومات ته د زکوٰة ورکولو حُکم

سوال: د مرحوم د لمونځونو فدیه او د زکوٰة پیسی که په جومات کی ورکول سی نو فدیه او زکوٰة به اداء سی؟

جواب: جومات کی ورکولو سره به زکوٰة او فدیه نه اداء کیږی، یو فقیر مالك جوړول او فدیه ورکول ضروری ده. (۲)

والله سبحانهٔ اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۹۷۱/ ۲۸ج)

د زکوٰة پیسی د جومات په تعمیر او د استاذانو په تنخواګانو کی د استعمالولو حُکم

سوال: زموږ سوسائټی د قرآن مجید د تعلیم د پاره یوه مدرسه شروع کړی ده، چي په هغه کی ۱۵۰ طالبان او طالبانی تعلیم حاصلوی، د مدرسی او سو سائټی څه آمدنی نسته، سپاری، قرآن مجید د مدرسی د اړخه ورکول کیږی، آیا زکوٰة، سرسایه صدقه، د قربانی څرمنی، او د حقیقی د څرمنو پیسی د مدرسی په تعمیراتی کارونو باندی خرڅ کیدی سی؟ ۲- ایا دا پیسی په جومات لګولی سی؟ ۳- ایا د دی پیسو څخه د استاذانو او موذن او امام ته تنخواه ورکول کیږی؟

---

(۱) وفی الهندیة کتاب الباب السابع فی المصارف ج: ۱ ص: ۱۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) و یکره نقل الزکوٰة من بلد الی الا ان ینقلها الانسان الی قرابته او الی قومهم احوج الیها من اهل بلده وکذا فی الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۳۵۳. (طبع سعید).

(۲) وفی التنویر مع شرحه ج: ۲ ص: ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکًا لا اباحة... یصرف الی بناء نحو مسجد.... الخ.

جواب: زكوٰة، صدقة الفطر او د قرباني د څرمنو قيمت كوم غير صاحب د نصاب كس مالك او مستحق جوړول او وركول ضروري دي، د مدرسي په تعمير كي د دي استعمال جائز نه دي. [1]

۲: نه. [2] ۳: نه. [3]

والله سبحانه اعلم
۲۴/ ۷/ ۱۳۹۸ھ
(فتوی نمبر ۸۳۹/ ۲۹ ب)

د زكوٰة د مستحقينو تفصيل

سوال: د يوسړي سره لس بيگه مزروعه مځكه ده يعني ۱۵/ ايكړه مځكه ده (چي هغه په اجاره باندي وركوي د هغه ښخه يي ضرورتونه نه پوكيږي).
۲: د اوسيدلو كور، ۳: د ملازمت ۲۲۹ روپي تنخواه ماهوار بغير د خوراك ښناك ښخه دي، د هغه په ضرورياتو كي، د يو مشر هلك واده نه كړى دي، دوه نابالغه ماشومانو ته يي د تعليم وركولو يي اراده ده، اوس قرآن مجيد حفظ كوي، ښځه يي مړه سويده، پخپله د واده اراده لري، آيا داسي سړي ته عشر يا زكوٰة وركول كيږي؟ او آيا د دي د پاره اخستل جائز دي؟

جواب: په دي كي اصول دادي كه د مذكوره سړي سره د ضرورياتو خوردو نوش، لباس او استوگنى، زيات دومره نقدي پيسى يا د ضرورياتو ښخه زائدى كپړى، فرينچر وغيره وي، چي د هغه ملكيت دوه پنځوس نيمى تولى سپينو زرو برابر وي، نو د هغه د پاره زكوٰة او عشر اخستل جائز نه دي، او كه دومره پيسى يا د ضرورياتو ښخه زائدى كپړى او فرينچر د هغه قيمت نه وي، نو د هغه د پاره زكوٰة، عشر اخستل جائز دي. [1]

والله سبحانه اعلم ۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲ھ

---

(1) ....

(2) د دي حاشيو د پاره ص ۱۴۷ دوهمه حاشيه وگوري.

(3) وفى الهندية كتاب الزكوٰة باب ال... ۱۹۰ (طبع رشيديه كويته) ولونوى الزكوٰة بمايدفع المعلم الى الخا... يدفعه يعلم الصبيان ايضاً اجزاه والا فلا... الخ.

د صدقه فطر مقدار او د هغه مستحقين

سوال: د صدقه فطر مستحقين څوك دي؟

جواب: كوم خلگ چي د نصاب مالكان نه وي. [2]

والله سبحانه اعلم
۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۱۰۲۴/ ۲۸ج)

يوسړي ته د يوى ښخه زياته فطري وركولو حكم

سوال: انفرادي حاجتمندو ته د يوى فطراني ښخه زياته وركول كيږي؟

جواب: وركول كيږي. [3]

والله سبحانه اعلم
۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۱۰۲۴/ ۲۸ج)

يتيم خانى ته د سرسايى وركولو حكم

سوال: يتيم خانه د منتظمينو په لاس د يتيمانو د پاره د يرى سرسايى وركول كيږي؟

جواب: كه د يتيم خانى والا يتيمان مالكان جوړيږي يا د خوراك خورولو اهتمام كوي نو سرسايه وركولى سى او كه هغوى دا په تعمير وغيره باندي لگوى نو نسى وركول كيدى. [4]

والله سبحانه اعلم ۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۱۰۲۴/ ۲۸ ج)

---

(1) وفى الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (ايچ ايم سعيد) مصرف الزكوٰة والعشر.... (هو فقير وهومن له ادنى شى) اى دون نصاب او قدر نصاب غيرنام مستغرق فى الحاجة.... الخ.

(2) وفى الهندية كتاب الزكوٰة باب صدقة الفطر ج: ۱ ص ۱۹۴ (طبع رشيديه كويته) ومصرف هذه الصدقة ماهو مصرف الزكوٰة.

(3) وفى التنوير مع شرحه ج: ۲ ص ۳۶۷. (طبع سعيد كراچى) وجاز دفع كل شخص فطرته الى مسكين او مساكين على المذهب كما جاز دفع صدقة جماعة الى مساكين واحد بالاخلاف.

(4) وفى الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۳ (طبع سعيد كراچى) ويشترط ان يكون الصرف (تمليكا) لا اباحة كمامرّ لايصرف الى بناء نحو مسجد ولا الى كفن ميت وقضاء دينه... الخ، وفى الشامية (قوله نحو مسجد) كبناء القناطر والسقايات واصلاح الطرقات.... الخ.

د کور نوکرې ته د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: زما نوکره غریبه ده د هغې یوه لور بالغه ده، آیا زه د هغې واده د زکوٰة په پیسو باندې کولی سم؟ او که کولی یې سم نو کوم کوم شیان ورکولی سم، دغه شان زما سره یوه غریبه ښځه اوسیږي آیا زه هغې ته زکوٰة ورکولی سم؟ د کور په کار کې هم برابره حصه اخلي؟

جواب: که ستا د نوکرې سره دوه پنځوس نیمې تولې سپین زر یا د هغه د قیمت نقدي یا د ضرورت څخه زیات سامان موجود نه وي نو هغه د زکوٰة مستحقه ده، ته هغه ته د زکوٰة پیسې مالکه او قابضه جوړولو سره ورکولی سې (۱) او هغه یې د خپلې لور په واده باندې لګولی سي، ورسره که دغه انجلۍ هم د مذکوره تفصیل مطابق د زکوٰة مستحقه ده، نو هغه هم ته د زکوٰة د پیسو مالکه جوړولو سره ور کولی سې. (۲) یا په زکوٰة باندې هغه د کپړې جوړولو سره ورکولی سې، خو په زکات سره د مالدارانو دعوت وغیره کول جائز نه دي. (۳)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۸/۹هـ
(فتوی نمبر ۲۹/۱۰۱۸ ب)

په زکوٰة باندې د یتیم خانې د پاره کمره په کرایه باندې د اخستلو حکم

سوال: د یتیم خانې سرپرست ته چې کومې پیسې ورکول غواړو هغه د زکوٰة او صدقې پیسې وي چې د یتیمو ماشومانو په ضروریاتو کې د خرڅ کولو د پاره یې ورکوو آیا په داسې پیسو باندې یتیم خانه کمره په کرایه اخستې سي او که نه؟

جواب: د زکوٰة، سرسایې، د قرباني د څرمنو د پیسو کوم مستحقو مالك او قابض جوړول او ورکول ضروري دي. لهذا دا پیسې په کوم رفاه عامه کار کې نه سي خرڅ

(۱)

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (طبع سعید کراچی) مصرف الزکات (هو فقیر وهو من له ادنی شيء) ای دون نصاب، او قدر نصاب غیرنام مستغرق فی الحاجته.

(۳) وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۸۹ (طبع رشیدیه کویته) ولایجوز دفع الزکوٰة الی من یملك نصاباً... الخ.

کولی. (۱) او په دغه پیسو سره د یتیم خانې د پاره په کرایه باندې کمره اخستل هم جائز نه دي. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۱/۲۹هـ

ګنډې ته د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: لږې پیسې زما زوم د بینك څخه رالیږلي دي چې د زکوٰة څخه یې راکړې دي. زما خور ګنډه ده آیا زه یې په هغه خرڅ کولی سم؟ د امداد په طور او آیا هغه بیا داپیسې په حج لګولی سي؟ ځکه چې هغه ګنډه ده، څه امدني او جایدادي نسته.

۲. که د چاځوی د جایداد وغیره د تولو مالك سي یعنې د مور په نوم کیدلو با وجود مور محرومه کړې او مور یې ګنډه ده او هغه مجبوره ده. نو دا پیسې هغه پخپل ځان باندې لګولی سي؟

جواب: ۱.۲: د زکوٰة پیسې سرف داسې سړي ته ورکول کیږي چې د دوه پنځوس نیمو تولو سپینوزرو یا د هغه د قیمت د ضرورت څخه د زیات سامان مالك نه وي. لهذا که هغه ګنډه صاحب د نصاب نه ده او د هغه سره د مذکوره زیوراتو قیمت یا نقدي روپۍ یا د ضرورت څخه زیات سامان موجود نه وي. نو ته دا پیسې هغه ته ورکولی سې. د جومات په تعمیر یا د لیبریرۍ په قیام کې د زکوٰة پیسې نسي استعمالیدی. (۳)

۳: که هغه ګنډه (د مذکور تفصیل مطابق صاحب د نصاب نه وي نو د زکوٰة پیسې اخستی سي.

والله سبحانه اعلم
۱۴۰۲/۱۲/۱۹هـ
(فتوی نمبر ۳۳/۱۲۲۲ د)

مقروض ته د زکوٰة ورکولو تفصیل

(۱) ایضاً

(۲) وفی تنویر الابصار مع شرحه ج: ۲ ص ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکاً لا اباحة... لایصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه. وفی الشامیة تحت (قوله نحو مسجد) کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار..... الخ

(۳) د ص ۱۵۱ دوهمه او دریمه حاشیه وګوری.

سوال: يوه ښځه كونډه ده ... هغې بچي دي پخپله محنت كوي او يوځاى يې نوكري كوي، هغه ډير شي پيسې د خپلوانو څخه قرض واخستلې او كور يې باندي واخستى چي اوس په هغه كي اوسيږي د هغه سره لږ زر هم سته، چي د هغه زكوة وركوي ايا اوس به هغه زكوة وركوي او كه نه وركوي، نو آيا هغه ته د خبرولو څخه بغير زكوة وركولي سي؟

جواب: كه په هغه باندي واجب الاداء قرض د هغه سرو زرو د قيمت برابر يا د هغه څخه زيات وي نو په هغه باندي زكوة فرض نه دى [1] او هغه ته زكوة هم وركولى سي، او كه د زيوراتو ماليت يې د قرض څخه ددوه پنځوس نيمو تولو سپينو زرو په مقدار زيات دى، نو هغه صاحب د نصاب ده، هغه ته زكوة اداء كول ضروري دي [2] او هغه ته زكوة هم نسي وركولى. [3]

والله سبحانه اعلم
۹/ ۸/ ۱۳۹۸ھ
(فتوىٰ نمبر ۱۰۱۷/ ۲۹ ب)

سيدانو بنو هاشم ته زكوة نسي وركول كيدى

سوال: سيد خاندان ته زكوة وركول منع دي كه د سيد خاندان كومه ښځه پرده ناكه او مالي حالت څخه پريشانه ده نو د هغه كفالت او د خاندان خبر گيرمي باندي كه سيد هغه مدد اوكړي يعني دواړه سيدان دي نو آيا داجائز دي؟

جواب: سيدانو يعني بني هاشمو ته زكوة نسي وركول كيدلى [4] خو هغوى ته هديه پيش كول د ډير ثواب او اجر موجب دي، خاصكر كه هغه ضرورتمند هم وي نو د هداياوو په ذريعه د هغوى اعانت كول ټولو مسلمانانو ته پكار دي.

---

(۱) وفى الهندية كتاب الزكاة ج: ۱ ص ۱۷۲ (مكتبه رشيديه كويټه) قال اصحابنا رحمهم الله كل دين له مطالب من جهة العباد يمنع وجوب الزكوة.... الخ.

(۲) وفى الهداية كتاب الزكوة ج: ۱ ص: ۱۸۶ (طبع مكتبه شركت علميه ملتان) ومن كان عليه دين يحيط بماله..... وان كان ماله اكثر من دينه ذكى الفاضل اذا بلغ نصاباً.

(۳) وفى الهداية كتاب الزكوة ج: ۱ ص: ۱۸۶ (طبع مكتبه شركت علميه ملتان) ومن كان عليه دين يحيط بماله..... وان كان ماله اكثر من دينه زكى الفاضل اذا بلغ نصاباً.

(۴) وفى الهندية كتاب الزكوة باب المصارف ج: ۱ ص ۱۸۹ (طبع رشيديه كويټه) ولايدفع الى بني هاشم... الخ. د تنه يل حواله جات په صحـ حواله ء كي وگوري.

والله سبحانه اعلم
۲۸/ ۷/ ۱۳۹۸ھ
(فتوىٰ نمبر ۸۷۵/ ۲۹ ب)

د مستحق زكوة اخستل اوجومات ته هديه كولو حكم

سوال: زموږ د محلى د جومات كميتي په اول وار د رمضان په دى مياشت كي چنده، سرمايه او د زكوة پيسى د جومات د پاره جمع كړي وى چي مدرسه په ترقي شي خو د كميتي صدر هغه پيسى د سرسايي او زكوة د جومات په فنډ كي داخلي كړي ايا دا پيسى داشان منتقل كيدى سى؟

جواب: د زكوة او سرسايي د پيسو كوم مستحق مالك او قابض جوړول او وركول ضروري دي، او دا پيسى جومات كي يا د مدرسى په تعمير كي ياپ هغه تنخواگانو كي لگول جائز نه دى [1] خو كه هغه مستحق سړى داپيسى د مالك اوقابض په حيثيت سره وصول كړي او دا وگڼي چي دا پيسى د دى سوى او دى څخه وروسته هغه په خپله خوښه بغير د څه دباوو يالالچ څخه هغه پيسى جومات ته د خپل د طرف څخه وركړي نو اوس د دى استعمال جائز دى [2] لهٰذا كه مذكوره طالب العلم بي واقعاً د دى پيسو مالك جوړكړى وى او هغه په هغه باندى قبضه هم كړي وى او دايي گڼلي وى چي دا پيسى د ده دى او د دى په استعمال كي خود مختاره دى، بيا د څه د باو څخه بغير هغه هغه پيسى جومات ته وركړي نو اوس د هغه پيسو استعمال په جومات كي جائز دى، او كه نه نو بيا جائز نه دى.

والله سبحانه اعلم
۲۱/ ۷/ ۱۳۹۱ھ (فتوىٰ نمبر ۱۳۵/ ۲۸ الف)

---

(۱) وفى الدر المختار مع رد المختار كتاب الزكوة باب المصارف ج: ۲ ص: ۳۴۴ (طبع سيد كراچى) ويشترط ان يكون الصرف تمليكًا لا اباحة كمامرّ لايصرف الى بناء نحو مسجد ولا الى كفن ميت وقضاء دينه، وفى الشامية تحت قوله (نحو مسيد) كبناء القناطظ.... وكل مالا تمليك فيه.
وفى الهندية كتاب الزكوة باب المصارف ج: ۱ ص: ۱۹۰ (طبع رشيديه كويټه) ولو نوى الزكوة بما يدفع المعلم الى الخليفة ولم يتأجره ان كان الخليفة بحال لولم يدفعه يعلم الصبيان ايضا اجزاه والا فلا... الخ.

(۲) وفى الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۷۱ (طبع سعيد) وحيلة التكفين بها المقد ق على فقير، ثم هو يكفن فيكون الثواب لهما وكذافى تعمير المسجد.

د څو کورونو او سامان مالک ته زکوة نسی ورکول کیدلی

سوال: د الف سره پنځه کورونو دی او د ژوند د ضروریاتو د ټول سامان څخه علاوه ریډیو، فرج، ټی وی هم ورسره موجود دی، اول به هغه زکوة هم ورکوی، خو اوس ورسره د برنی شیانو څخه علاوه نور څه هم نسته او وخت یی په کرایه باندی په مشکل سره تیریږی نو آیا هغه زکوة اخستلی سی؟ یا هغه خبرولو څخه بغیر هغه ته زکوة ورکول کیدی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی که د هغه سره دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا د هغه د قیمت سره زر یا نقدی د روز مره خوراك څښاك څخه فاضل موجود نه وی نو په هغه باندی زکوة فرض نه دی، خو په صورت مسئوله کی د هغه د پاره زکوة اخستل هم جائز نه دی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۸/ ۱۳۹۸هـ

(فتویٰ نمبر ۲۹/۱۰۱۲ ب)

زکوة او سرسایه په رفاهی کارونو او د طالبانو په تعلیمی وظیفو کی خرڅ کول

سوال: السلام علیکم! اول درته خپل تعارف کوم چی تاسو ته معلومه سی چی زه دا ټول معلومات د څه د پاره غواړم؟ زه څه د پنځو کالو څخه کینیډا، امریکه او اوس د انګلینډ او برطانیې څخه پیسی راغونډوم او د انډیا او پاکستان غریبو طالبانو ته د دنیاوی تعلیم د وظیفو د پاره یی رالیږم، الحمد لله دا کار ډیر ښه چلیږی، څکه چی په دی پیسو کی سرسایه، زکوة، د بینك سود، صدقه، خیرات، د کفاری پیسی او لاټری پیسی شاملی دی، نو څکه زه د دار العلوم څخه درخواست کوم چی په هره موضع یعنی سرسایه، زکوة او د بینك سود، صدقه، خیرات او لاټری، او کفاری په حقله خپله فتویٰ صادره کړی، چی د مذهب په رڼا کی یا د دینی علومو او موجوده حالاتو په رڼا کی د دار العلوم څه خیال دی؟

برنی ذکر سوی خبره څه تفصیل سره بیانوم: د سرسایی او زکوة په باره کی د بعضو خلکو دا خیال دی چی سرسایه او زکوة په رفاهی کارونو کی او تعلیمی مقاصدو د پاره استعمالیدلی خوسی، خو د دی اظهار په هغه سړی باندی ضروری دی چاته چی ورکولی سی، په دی سلسله کی ستاسو خلکو رایه پکار ده.

د بینك د سود اولاټری په باره کی څه خلك دا وایی چی دا دواړه حرام دی، او په قرآن مجید کی صفا صفا بیان سوی دی، د بینك سود په یوصورت کی ملاویدلی سی او په بل صورة کی نه، یعنی که پیسی په سیونګ اکاونټ کی کښی ښوول سی نو سود ملاویدی سی او که همدا پیسی په کرنټ اکاونټ کی کښیږدی نو ملود نه ملاویږی د دی څه حکم دی؟

په سیوینګ اکاونټ کی پیسی ایښوولو سره چی کوم سود ملاویږی نو هغه واخلو؟ او په رفاهی کار کی یی استعمال کی؟ نو آیا دا به جائز وی؟ موږ خو به د کومی ګناه مرتکب کیږو نه!

صدقه، خیرات او د کفاری پیسی غریبو طالبانوته په وظیفو جاری کولو کی استعمالولی سو؟ ورسره داهم درخواست کوم چی د شرعی د مخی د کفاری څه حکم دی؟ او ورسره دا کفاره د کینیډا، امریکی او نورو یورپی ملکونو کی اوسیدونکی د هغه ځای په حساب سره کفاره ورکړی یا انډیا او پاکستان ته د رالیږلو په صورت کی د انډیا او پاکستان په حساب سره ورکولی سی؟ په آخر کی یو سوال بل د معلوموولو مطلوب دی، هغه داچی دلته خلګ قربانی کوی خو د غوښی حصی نه جوړوی، یا هلته داسی غریبان نسته چی په هغوی کی د غریبانو حصه تقسیم سی د دغه غریبانو د حصی په سلسله کی د دار العلوم فتویٰ معلو مول غواړم؟

جواب: اصولی طور باندی په دی پوه سه چی د زکوة، سرسایی او کفاری پیسی کوم داسی غریب سړی مالك او قابض جوړول او روکول ضروری دی چی صاحب نصاب هغه وی یعنی د هغه په ملکیت کی د دوه پنځوس نیمو تولو سپینو زرو مالیت نقدی روپی یا زیورات یا د کور د ضرورت څخه زائد سامان نه وی، لهٰذا کوم طالبان چی په دی شرطونو باندی پوره وی هغوی ته تعلیمی وظیفه داشان ورکولی سی چی هغوی دی د پیسو مالکان جوړکړی او هغوی ته دی حواله کړی. [۱] او هغوی دی بیا په خپلو تعلیمی مصارفو کی خرڅ کړی یا دی بیا هغوی ستاسو د پاره وکالت نامه اولیکی، چی موږ تا د خپل طرف څخه د زکوة وصولولو او بیا هغه زموږ د اړخه زموږ په تعلیمی ضروریاتو خرڅ کولو اجازت درکوو، خو د زکوة مذکوره رقم چاته د تعمیر یا د

[۱] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة.

استاذانو په تنخواګانو یا په رفاهی کارونو کی خرڅ کول جائز نه دی. (۱) دا تفصیل
خود زکوة، سرسایي او کفاری په پیسو کی دی.
ترڅو چي د بینك د سود تعلق دی د هغه اخستل او ورکول دواړه قطعا حرام دی او
مسلمانانو ته پکار دی چي د بینك څخه سود وانخلي یا خو دی په کرنټ اکاونټ کی
پیسی ږدی یا په سیونیګ اکاونټ کی دی صراحت سره ږدی چي زموږ په پیسو دی
سود اونه لګول سی، بیا هم که کوم سړی په غلطی یا لاعلمی کی د بینك څخه د سود
پیسی واخستلی نو هغه د ثواب د نیت څخه بغیر صدقه کول ضروری دی، او د دی
صدقی په باره کی هم هغه شرطونه دی چي مخکی ذکر سول، یعنی هغه کوم غیر
صاحب د نصاب ته مالك جوړولو سره ورکول ضروری دی، او داهم په عمو رفاهی
کارونو کی نسی لګولی، (۲) پاته سوه د لاټری خبره نو دا شرعًا حرام ده په دی کی حصه
اخستل جرم دی. (۳) او که په غلطی سره د دی پیسی واخستل سی نو د دی هم هغه
حکم دی کوم چي د سود په حقله بیان سو.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۰/۱۱/۲ھ

(فتوی نمبر ۷۳۱/ ۳۱ ج)

د جومات په تعمیر او د استاذانو په تنخواګانو کی زکوة نسی لګیدلی

سوال: ایا د زکوة، صدقی او سرسایي پیسی د جومات په تعمیر کی خرڅ کیدی سی؟
۲: آیا د زکوة، سرسایي او صدقی پیسی د استاذانو په تنخواه کی ورکولی سی؟

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب الزکوة باب المصارف ج: ۲ ص: ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامرّ لا یصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه وفی الشامیة تحت قوله نحو مسجد کبناء القناطر... وکل ما لاتملیك فیه.
و فی الهندیة کتاب الزکاة باب المصارف ج: ۱ ص ۱۹۰ (طبع رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة بحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضا اجزاه والا فلا..... الخ.
(۲) د خبیث کسب او حرام مال متعلق (وستر حضرت والا دامت برکاتهم مفصل تحقیق کړی دی چي انشاء الله مخکی به په (کتاب الحظر والاباحة) کی درج سی.
(۳) د دی مفصل تحقیق د حضرت والا دامت برکاتهم کتاب عدالتی فیصلی کی (لاټری حرامه ده) ترعنوان لاندی وګوری.

جواب: د زکوة او صدقة الفطر پیسو بی وسه افراد مالك او قابض جوړول او ورکول
ضروری دی. (۱) لهذا داپیسی د جومات یا د مدرسی یا د ملازمینو او استاذانو په
تنخواه ګانو باندی لګول جائز نه دی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۵/۲۹ھ

(فتوی نمبر ۵۵۵/ ۲۹ ب)

د زکوة پیسی را غونډول او په تعمیراتو او مواصلاتو کی د خرڅ کولو حکم

سوال: که د زکوة پیسی راغونډی سی او د حکومت په تحویل کی یی ورکړی نو د دی
استعمال به چیری چیری کیږی؟ مثلاً فوج، تعمیرات، مواصلاة او نور فلاحی کارونه
چي په ترقی پذیر ملکونو کی پکار وی په هغه کی دا پیسی لګیدلی سی او که نه؟
جواب: د زکوة مصرف په غریبان او مسکینانو دی او دا ضروری ده چي هغوی باید د
زکوة قابض او مالکان جوړ سی او ورته ورکول سی، فوج، تعمیرات، مواصلاة او نور
داسی رفاهی کارونو کی زکوة خرڅ کول جائز نه دی چي په هغه کی فرد واحد د زکوة
مالك جوړ نه سی. (۳)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۲۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷۴/ ۲۸ الف)

په زکوة کی دوایانی ورکولی سی

سوال: موږ په هفته کی د دری څلورو ورځو څخه لږ وخت د غریبانو د علاج د پاره وقف
کړی دی، څه دوایانی موږ د خپل طرفه ورکوو او باقی ګرانی دوایانی ورته د بازار

---

(۱) د تیری صفحی (۱۵۲) دوهمه حاشیه وګوری.
(۲) د راتلونکی یعنی ص ۱۵۸ اوله حاشیه وګوری.
(۳) وفی الدر المختار مع رد المختار کتاب الزکوة باب الهصارف ج: ۲ ص ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکاً لا اباحة کمامر لایصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه وفی الشامیة تحت (قوله نحو مسجد) کبناء القناطر.... وکل مالا تملیك فیه.
وفیه الهندیة کتاب الزکوة باب المصارف ج: ۱ ص ۱۹۰ (طبع رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بما یدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة بحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضاً اجزاه والا فلا.... الخ.

ښخه لیکو چي د بازار ښخه یې اخلي چي د غریب سړی د پاره مشکله وی آیا داکیدی سی چي موږ هغه دوایانی د زکوٰة د پیسو ښخه هغوی ته ورکړو؟ او ایا دا ورته وئیل ضروری دی چي دا د زکوٰة د پیسو دوایانی دی؟

جواب: په زکوٰة کی دوایانی ورکولی سی، خو شرط یې دادی چي کوم سړی ته دا دوایانی ورکول کیږی چي هغه اخستونکی د زکوٰة مستحق وی، او بیا هغه د دغه دوایانو مالك او قابض جوړ کړی، (۱) خو هغه ته داوئیل ضروری نه دی، چي دا د زکوٰة د پیسو دی (۲).

والله سبحانه اعلم

۲۰/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۶۶/ ۲۸ الف)

د سکول د عمارت په تعمیر یا په تنخواه کی د زکوٰة استعمالول

سوال: د زکوٰة پیسی د سکول د عمارت په تعمیر کی یا په نورو مصارفو کی مثلاً د عملی په تنخواګانو باندی خرڅ کیدی سی او که نه؟

جواب: د زکوٰة د پیسو د پاره فقیر سړی مالك جوړول پکار دی د سکول د عمارت په تعمیر یا د عملی په تنخواه باندی یې لګول جائز نه دی. (۳)

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۱۰۰/ ۳۳ ج)

---

(۱) وفی الدر المختار مع رد المختار کتاب الزکوٰة باب المصارف ج: ۲ ص۳۴۴ (طبع سعید) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامر لایصرف الی بناء نحو مسجد ولا الی کفن میت وقضاء دینه، وفی الشامیة تحت قوله نحو مسجد کبناء القناطر... وکل مالاتملیك فیه.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۸ (طبع سعید) وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له ای للاداء وفی الشامیة تحت قوله نیت اشار الی انه لا اعتبار للتسمیة فلو سماها هبة او قرضاً تجزیه فی الاصح... الخ

(۳) وفی الهندیة کتاب الزکوٰة باب المصارف ج: ۱ ص ۱۹۰ (طبع رشیدیه کویټه) ولونوی الزکوٰة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة بحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضاً اجزاه والا فلا. همدارنګه وګوری د تیری صفحی او د همدی صفحی تولی حاشیی. وفی الشامیة کتاب الزکوٰة باب المصرف ج: ۲ ص ۳۳۹ (طبع ایچ ایم سعید) مصرف الزکوٰة والعشر... وهو مصرف ایضاً لصدقة الفطر

د زکوٰة او قربانی د څرمنو د مستحق د جومات امام ته د تنخواه ورکولو حکم

سوال: د جومات امام ته وماشومانو ته د قرآن مجید د درس په عوض کی د قربانی څرمنی یا د هغه قیمت ورکول جائز دی؟

۲: امام ته د زکوٰة پیسی سرسایه او د صدقی څرمنی ورکول جائز دی او که نه؟

۳: په داسی صورت کی چي د هغه د ژوند تیرولو د پاره څه بله ذریعه نه وی یا بالفرض وی خو دومره نه وی چي ګذاره باندی اوسی نو په داسی صورت کی هغه ته زکوٰة ورکول کیږی او که نه؟

جواب: د قربانی څرمنی چاته د خدمت په معاوضه کی یا په تنخواه کی ورکول جائز نه دی. (۱)

۲: د زکوٰة سرسایی او صدقی د څرمنو هم دغه حکم دی چي هغه په اجرت یا تنخواه کی نسی ورکولی. (۲)

۳: په داسی صورت کی هغه صاحب ته بیله تنخواه مقررول پکار دی، د دی باوجود که هغه د نصاب مالك نه وی نو په زکوٰة او د قربانی په څرمنو سره هم دغه مدد کیدی سی، خو زکوٰة سرسایه او څرمنی په تنخواه کی نسی مجراء کیدی. (۳)

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۲/ ۲۸ الف)

د زکوٰة ښخه معلم د قرآن ته د تنخواه ورکولو حکم

سوال: ماشومانو ته د دینی تعلیم ورکولو د پاره یومولوی صاحب مقرر دی د محلی ماشومانو ته یوه دوی ګینټی د قرآن درس وایی، کورونو ته ځی د مدرسی د اړخه د قیام طعام انتظام نسته، ایا عوام هغه ته زکوٰة سرسایه، د قربانی څرمنی د پیسو ښخه تنخواه ورکولی سی؟ او ایا په داسی ضورت کی به زکوٰة وغیره اداء سی؟

جواب: د زکوٰة ښخه د مذکوره معلم صاحب تنخواه نسی ورکولی (۱) هو! که هغه د زکوٰة مستحق وی، یعنی د هغه په ملکیت کی دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا د هغه د

---

(۱) ایضاً.

(۲) ایضاً

(۳) د تیری صفحی اوله حاشیه وګوری.

قیمت د ضرورت څخه زائد سامان وی، نو د تنخواه څخه علاوه هغه ته زکوٰة ورکولی سی یعنی تنخواه به یی بیله مقرره وی او زکوٰة دی د هغه څخه علاوه ورکول سی، او بیا د معلم صاحب هیڅ تنخواه مقرره نه وی په توجه سره دی سبق بنایی، بیا چي کوم سړی ته د ځرمنی زکوٰة ورکولو موقع ورکول سی نو هغه ته دی ورکوی خو مقرر به نه وی.

والله سبحانه اعلم

۲۵/ ۱۰/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۲۰۹/ ۳۲ج)

د زکوٰة څخه د جومات امام ته تنخواه ورکول

سوال: ایا د زکوٰة د مال څخه د جومات امام ته چي ماشومانو ته قرآن هم بنایی تنخواه ورکول جائز دی؟

جواب: د زکوٰة د مال څخه د کوم جومات امام یا د مدرسی مدرس ته تنخواه ورکول جائز نه دی. [۲]

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۹۳/ ۲۸ الف)

د زکوٰة څخه تبلیغی کتابونو چهاپ کولو حکم

سوال: ایا د زکوٰة د مال څخه تبلیغی کتابونه چهاپ کول او تقسیمول صحیح دی هرکله چي د هغه قیمت وانخستل سی؟

جواب: د زکوٰة په پیسو سره تبلیغی کتابونه اخستلی سی خو داسی کتابونه به صرف هغه کسانو ته ورکول کیږي چي د زکوٰة مستحق وی.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۹۳/ ۲۸ الف)

---

(۱) تیری صفحی حاشیه وګوری.
(۲) ایضا

قومی اتحاد تحریک کی د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: موجوده وخت کی قومی اتحاد تحریك ته به جهاد وایو او که نه؟ او په دی کی به زکوٰة ورکول کیږي او که نه؟

جواب: د دین د سربلندی د پاره هرکوشش د اجر او ثواب په لحاظ سره په جهاد کی داخل دی په دی شرط چي د نیت په خلوص سره وی او د شرعی قواعدو مطابق وی کوم خلګ چي د همدی نیت سره د شریعت د احکامو رعایت ساتلو سره د دین د سربلندی د پاره په هلوځلو کی وی انشأالله هغوی ته به د جهاد ثواب ورکول کیږي خو د زکوٰة د پاره ضروري دادی چي هغه کوم غیر صاحب نصاب سړی مالك او قابض جوړکړی (۱) اړ کول سی، خاص په رفاهی کارونو یا تحریکی فنډ کی پیسو ورکولو سره به زکوٰة نه اداء کیږي.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۹۳/ ۲۸ الف)

آیا په ټول کال کی لږلږ زکوٰة اداء کول جائز دی؟

سوال: آیا مکمل زکوٰة فوراً اداء کول ضروری دی او که لږلږ هم اداء کیدی سی؟

جواب: بهتره خوداده چي زکوٰة څومره ژر اداء کیدی سی اداء کول پکار دی او لږلږ ورکول هم جائز دی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۴/ ۱۴۰۵ھ

د زکوٰة د مستحق د پاره د زکوٰة د فنډ څخه د امداد اخستلو حکم

سوال: عرض دادی چي ما د یوکور جوړولو د پاره قرض اخستی وو او کور می په ګانړه کی ایښی وو، چونکی زمانځه د کینسر په مرض مبتلاء سوه او هم په دی کی مړه سوه، د قرض د درنیدلو د وجی قرضه سره دسود څخه او صرف د قرض اداء کولو څخه

---

(۱) د ۱۵۹ صفحی اخری حاشیه وګوری.
(۲) د حوالی د پاره الدر المختار مع رد المختار ج: ۲ ص: ۲۷ وروسته ۲۷۲ (طبع سعید) او فتح القدیر ج: ۲ ص ۱۵۵ وګوری.

هم قاصریم، سوا د کور څخه چي په قرضه کی می ګانړه کړی دی څه جایداد یا ذریعه د آمدن نسته، عاجزه سوم د زکوٰة فنډ څخه امداد اخستل غواړم، مهربانی اوکړی فتوی راکړی چي زه د امداد اخستلو مستحق یم او که نه؟

جواب: د سائل څخه زبانی طور معلوم سول چي د هغه سره سره زر سپین زر یا په قدر د نصاب د ضرورت څخه زیات سامان نسته نو ځکه دی د زکوٰة د فنډ څخه د زکوٰة اخستلو پوره مستحق دی.

والله سبحانه اعلم

۲۷/ ۱/ ۱۴۰۳ھ

(فتوی نمبر ۱۰۲۵/ ۱۳۴ الف)

ایدهی ټرسټ ته د زکوٰة ورکولو حُکم

سوال: عبد الستار ایدهی ټرسټ وغیره ته د زکوٰة پیسی ورکول صحیح دی او که نه؟

جواب: د زکوٰة د پاره ضروری دی چي مستحق سړی مالك جوړ سی او ورکول سی (۱) هغه سړی په هغه باندی قبضه اوکړی او په مالکانه انداز کی چي څنګه وغواړی د خرڅ کولو اختیار ورته حاصل وی، محض په رفاهی کارونو یا د شفاخانو، یا د مدرسو په تعمیر یا دعملی په تنخواه ګانو وغیره کی نسی خرڅ کیدی، مثلاً د زکوٰة مستحق سړی ته څه نقدی پیسی یا د سامان مالك جوړولو سره ورکول سی نو زکوٰة اداء سو، او که غریبانو ته یی ایمبولنس واخستی یایی د مړوګاډی واخسته نو د دی سره زکوٰة نه اداء

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ مصرف الزکوٰة..... (هوفقیر وهو من له ادنی شی) وفیه ایضاً ج: ۲ ص ۳۴۴ ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة کمامر لایصرف الی بناء نحو المسجد ولا الی کفن المیت وقضاء دینه..... الخ. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۸۸ (طبع رشیدیه کویټه) ولایجوز ان یبنی بالزکوٰة المسجد وکذا القناطر والسقایات وروسته اصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل ما لاتملیك فیه و لایجوز ای یکفن بهامیت ولا یقضی بها دین المیت. کذافی التبیین وفی المبسوط للسرخسی ج: ۲ ص: ۲۰۲ ولایحصل الایتاء الا بالتملیك فکل قربة خلت عن التملیك لا تجزی عن الزکوٰة. وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۲۰۱ (مکتبه رشیدیه کویټه) هی تملیك المال من فقیر لقوله تعالی (وآتو الزکوٰة) والایتاء هوالتملیك..... الخ. وفی فتح القدیر ج: ۲ ص: ۲۰۸، ۲۰۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) ولایبنی بها مسجد ولا یکفن بها میت لانعدام التملیك وهو الرکن فان الله تعالی سماها صدقة وحقیقة الصدقة تملیك المال من الفقیر د زکوٰة د اداکولو د پاره د زکوٰة مستحق د تملیك د ائمه ثلاثه په نزد باندی هم لازم دی. د فقه حنبلی کتاب الفروع ج: ۲ ص ۶۱۹، د فقها مالکی کتاب الشرح الصفیر ج: ۱ ص: ۲۲۴ والقوانین ص: ۷۵، د فقه شافعی کتاب روضة الطالبین ج: ۲ ص: ۳۲۷. وګوری.

کیږی (۱) ځکه چي هغه د کوم مستحق په ذاتی ملکیت کی نه شاملیږی، اوس که مذکوره اداری د زکوٰة داشان اهتمام د لګولو کوی، نو هغوی ته زکوٰة ورکول صحیح وی خو که هغوی سره د زکوٰة او غیر زکوٰة حساب بیل بیل نه وی یا زکوٰة په برلی، ذکر سوی طریقی سره خرڅ نکړی نو هغوی ته زکوٰة ورکول شرعا جائز نه دی.

والله سبحانه اعلم

۱۹/ ۱۱/ ۱۴۰۸ھ

(فتوی نمبر ۲۴۱۹/ ۳۹ھ)

زکوٰة د ډسپنسری په تعمیر، د ډاکټر او کمپوډر په تنخواګانو باندی نسی لګیدلی

سوال: زموږ سوسائټی د غریبانو، بی وسو، کونډو او محتاجانو مختلف قسم امدادی خدمات کوی: مثلاً په بیماری کی امداد کول، د بی وسوماشومانو درسی کتابونه، د کونډو د پاره د ګنډلو مشینونه وغیره، د لاوارثه مړو د پاره د کفن وغیره انتظام، په دی ټولو کارونو کی د زکوٰة او سرسایی پیسی خرڅ کیدلی سی او که نه؟ د سوسائټی پروګرام دی چي یوه رفاهی ډسپنسری خلاصه کړی، چي غریبانو ته ارزانه علاج میسر سی، په دی سلسله کی د سرسایی او زکوٰة او د قربانی د څرمنو پیسی استعمالیدلی سی؟

جواب: د زکوٰة او د قربانی د څرمنو پیسی د ډسپنسری په تعمیر د کور په کرایه یا د ډاکټر، کمپوډر حضراتو په تنخواګانو باندی خو خرڅ کیدلی نسی خو دا کیدی سی چي په دی پیسو دوایانی واخلی او دا دوایانی د زکوٰة په مستحقینو کی تقسیم کړی. (۲) خو واضحه دی وی چي په زکوٰة باندی اخستل سوی دوایانی د زکوٰة په مستحقینو باندی خرڅ کیدی سی، په نورو خلګو نه، لهٰذا د دی شعبه به بیل ساتل وی او په دی شعبه کی به د دوایی هیڅ قیمت وصولول جائز نه وی، هو! د ډاکټر د معائنی فیس کیدلی سی.

والله سبحانه اعلم ۲/ ۹/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۹۸۹/ ۲۸ج)

(۱)...

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (طبع سعید کراچی) مصرف الزکوٰة، (هوفقیر وهو من له ادنی شی) وفیه ایضا ج: ۲ ص ۳۴۴ (طبع ایضا) ویشترط ان یکون الصرف (تملیکا) لا اباحة کمامر لایصرف الی بنا مسجد وکفن المیت رحمه الله..... الخ همدارنګه وګوری د تیری صفحي حاشیه)

د زکوة، عُشر او د قربانی د څرمنی مستحقین

سوال: په یوکلی کی د قرآن حافظ د مدرسی کاروبار شروع کړی دی، د هغه حافظ قرآن هیڅ آمدنی نسته، او نه یې تنخواه مقرره ده، د کلیوالو څخه عشر اخلی، او په خپل ژوندی مصرف کوی، یا دی حافظ له دا عشر اخستل جائز دی او که نه؟

١: آیا حافظ د قرآن د قربانی څرمنی په خپل استعمال کی راوستی سی؟

٢: د سایی پیسی د مدرسی په عمارت، د مدرس په تنخواه او د کوهی په جوړولو باندی خرڅ کولی سی او که نه؟

جواب: که دغه حافظ قرآن سره دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا د هغه قیمت د ضرورت څخه زیات سامان موجود نه وی د هغه د پاره عشر اخستل جائز دی. (١) البته دادی واضح وی چي عشر به هغه ته بطور د تنخواه نسی (٢) ورکولی، بلکي هغه دی ماشومانو ته د ښوونی خدمت بغیر د معاوضی نه کوی، او کلیوال دی وقتاً فوقتاً د هغه امداد کوی نو صحیح ده.

٢: د قربانی د څرمنو هم دغه حکم دی چي بره د عشر په حصه کی بیان سو.

٣: د سرسایی پیسی د مدرسی په تعمیر کی، په مرمت یا په کوهی باندی نسی لګیدلی، بلکی دا ضروری دی چي هغه پیسی کوم غیر صاحب نصاب ته د مالك او قابض جوړولو سره ورکول سی. (٣)

والله سبحانه اعلم

٢٣/ ٢/ ١٣٩٢هـ

(فتوی نمبر ٢٧/٢٨٢٥و)

---

(١) فی التنویر مع شرحه ج: ٢ ص ٣٣٩ (طبع سعید کراچی) مصرف الزکوة.... (وهوفقیر وهومن له ادنی شی) ای دون نصاب او قدر نصاب غیرنام مستغرق فی الحاجة (ومسکین من لاشی له) علی المذهب

(٢) : حوالی د پاره وګوری ص حاشیه نمبر ٤ تر ٤ پوری.

(٣) فی التنویر مع شرحه ج: ٢ ص: ٣٤٤ (طبع ایضاً) ویشترط ان یکون الصرف (تملیکا) لا اباحة کمامر (لا) یصرف (الی بناء) نحو (مسجد) ولا الی (کفن میت وقضاء دینه) وفی الشامیة (تحت قوله نحو مسجد) کبناء القناطر والسقایات واصلاح الطرقات وکری الانهار والحج والجهاد وکل مالا تملیك فیه

١: سادات او ملازم ته د زکوة ورکولو حکم:

٢: زکوة په رفاهی تعمیراتو کی لګول ممنوع دی:

سوال: محتاج سید خواه که خپلوان وی او که غیر خپلوان د زکوة مستحق جوړیدلی سی او که نه؟

٢: خپل ملازم یا ملازمه چي ضرورتمند وی نو د زکوة مستحق کیدی سی؟

٣: د خپل ملازم یا ملازمی اولاد چي د هغوی د پرورش څخه وروسته واده سوی وی په ځه طریقی سره ژوند تیروی د پیسو د جمع وارمی صلاحیت پکښی نسته په داسی حالت کی د زکوة پیسی د هغوی انجلی مالکانه د اوسیدلو ځای د پاره ورکولی سی؟

٤: لوړ ذکرسوی خاندان ته د اوسیدلو ځای جوړول د زکوة په ذریعه او د ورځنی ژوند د اسانتیا په خاطر د کپړو، پیسو په شکل کی د زکوة پیسی ورکولی سی؟

٥: آیا د زکوة په پیسو بان.ی د جومات د تعمیر څخه علاوه د تعمیراتو د قسم څخه شفاخانه او نور عمارتونه درفاه د پاره تړول ممنوع دی؟

٦: د یوسړی (د نصاب خاوند) پسمانده یعنی جمع سوی پیسی چي یاهر ملك په بینکونو کی وی نو هم په یوملك کی د مروجه زر مبادلی مطابق تړولی واجب الاداء پیسی زکوة کی، ورکولی سی؟

جواب: سیدانو ته زکوة نسی ورکولی (١) هدیی سره د هغوی امداد اوکړی.

٢: ملازم ته زکوة ورکولی سی خو په دی شرط چي اُجرت کی ورته حساب نکړی سی او نه وربانَدی د دی احسان او اضباطی. (٢)

٣: که هغه د نصاب مالك نه وی نو هغوی ته د زکوة پیسی ورکول او د هغوی د اوسیدلو د ځای مالکانه انتظام کول بالکل درست دی.

---

(١) وفی مشکوة المصابیح باب من لاتحل له الصدقة ج: ١ ص: ١٢١ (طبع قیمی کتب خانه) عند عبد المطلب بن ربیعة قال: قال رسول الله ﷺ: ان هذه الصدقاة انما هی اوساخ الناس وانها لاتحل لمحمد ولا لال محمد. رواه مسلم.

وفی الدر المختار ج: ٢ ص: ٣٥٠ (طبع سعید کراچی) ولا الی بنی هاشم الامن ابطل النص قرابته وهم بنولهب.

وفی البحر الرائق ج: ٢ ص: ٢٤٢ (باب المصرف) قوله: (وبنی هاشم ومواليهم) ای لایجوز الدفع لهم.

(٢) وفی الهندیة ج: ١ ص: ١٩٠ (مکتبه رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره إن کان الخلیفة بحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضا اجزاه والا فلا.

۴: که هغه د نصاب مالك نه وی نو ورکولی یی سی.
[1] که هغه د نصاب مالك نه وی نو ورکولی یی سی. (۱)
۵: په هرقسم تعمیر کی د زکوٰة لګول ممنوع دی.
۲: ورکولی سی.

والله سبحانه اعلم
۱۰/ ۹/ ۱۳۹۷ھ

مقروض ته په زکوٰة ورکولو کی تفصیل

سوال: ناچیز ته یوه کوشنی مسئله پیښه سوی ده چي ستاسو څخه د هغه د تصدیق کولو خواهش لرم امید دی چي خصوصی توجه به اوکړی.

مسئله: څه فرمایی مفتی حضرات د دی مسئلی په باره کی چي یوسړی چي بی حده مقروض دی، ضعیف العمر دی، د هغه صرف یو مشر ځوی دی، چي د قرآن حافظ دی، صاحب مقروض د صوبه سرحد په یوکوشنی غونډی جومات کی امام دی، اوناګهانه په یووخت کی په څلور قسمه بیمارو کی اخته سو، چي په هغه کی د ټولو څخه لویه بیماری یی د (ټی بی) ده.

صاحب مقروض د امامتی په حالت کی هم تنګدسته دی، د خپلو بیماریو علاج او د کور خرچه د یوبل څخه په قرض اخستلو سره کوی، تردی چي پاوکم دوه لکه روپی مقروض سو. دا کورنی په لسو کسانو باندی مشتمله ده، مشر ځوی یی د قرآن مجید د حفظ کولو څخه وروسته د درس نظامی کورس کولو اراده کړی ده، د قرضی معلومیدلو په صورت کی هغه خپل تعلیم موقوف کی او د ښوونی اراده یی اوکړله، خو دا یوسړی به د میاشتی زیات څخه زیات دوه زره روپی اوګټی، چي په هغه سره به د کور خرچه چلیږی، لیکن د قرضی اداء کولو څه صورت په نظر نه راځی، چي د هغه د پاره دکور هرتن پریشانه دی، ورځ په ورځ قرضه زیاتیږی، آیا د هغه د قرضی د اداء کولو د پاره زکوٰة یا بل څه مدکی پیسی ورکول جائز دی؟ که جائز دی نو مهربانی اوکړی داسی تصدیق اوکړی چي د هغه سره صاحب د خیر پوره تعاون اوکړی چي دا کورنی د قرضی د بوجه څخه خلاصه سی، احقر د دغه کورنی څخه ښه واقف دی، او ورسره ذمه واری هم اخلی چي ستاسو په تصدیق باندی د هر مد څخه ملاویدونکی هره پیسه به مقروض ته رسوم، امید دی چي ضرور به تصدیق اوکړی، الله جل جلاله دی تاسو ته

(۱) اوګوری د ص حاشیه نمبر ٤.

د دی اجر درکړی. فقط والسلام.

جواب: که دا صاحب کوم چي پاوکم دوه لکه روپی مقروض دی، د هغوی سره څه ذریعه او نور املاك دومره نسته، چي د هغه څخه دا قرض اداسی نو دی د زکوٰة مستحق دی، او هغه ته زکوٰة ورکولی سی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۷/ ۸/ ۱۴۱۸ھ
(فتوٰی نمبر ۲۹۰۳۰)

د فیکتری غریب چوکیدار ته د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: یوسړی دی چي د هغه خپل څه جایداد نسته په مشکله سره خپل ژوند تیروی، بس سفیر پوشی قائمه ده، ډیر نژدی پیژندونکی د هغه د حال څخه واقف دی، دا صاحب چي په کومه فیکتری کی چوکیدار دی، فیکتری والا دی د چاسره ټیچ کوی، او سعودی عرب ته یی لیږی او په دی سره د هغه د مالی حالت د بهتر کیدلو امید دی او دی د نصاب مالك هم نه دی آیا د کرایی د پاره هغه ته د زکوٰة پیسی ورکولی سی؟

جواب: که دی واقعی صاحب د نصاب نه وی یعنی د هغه په ملکیت کی دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر، یا د هغه قیمت په قدر نقدی روپی یا د ضرورت څخه زیات سامان نسته نو هغه ته زکوٰة ورکولی سی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۲۲/ ۹/ ۱۳۹۷ھ
(فتوٰی نمبر ۹۹۳/ ۲۸ج)

د دری تولو سرو زرو مالکی ښځی ته د زکوٰة ورکولو حکم

سوال: د یوه سړی دوی انجونی دی، هغه د هغوی واده کول غواړی او هغه پوره بالغی سوی دی، څه سها رایه نسته، پلار یی قرضدار دی، د شرم د وجی چاته ذکر نه کوی، په هغه کی یوه زماخواته راغلی وه چي ماته دی زکوٰة راکول سی ماتری پوښتنه وکړه،

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۳ (ایچ ایم سعید) ومدیون لایملك نصابًا فاضلاً عن دینه وفی الشامیة تحت (قوله مدیون)..... فانما جاز الدفع الیه لانه فقیر یدا.

(۲) وفی التنویر مع شرحه ج: ۲ ص: ۳۳۹ (ایچ ایم سعید) مصرف الزکوٰة..... (هوفقیر وهو من له ادنی شی) دون نصاب او قدر نصاب غیرنام مستغرق فی الحاجة، ومسکین من لا شی له..... الخ.

هغې ووئي: د پلار راکول سوی څه سپین زر، سره زر څومره دی؟ او نقدی څومره دی؟ هغې ووئي: د پلار راکول سوی څه
سپین زر، سره زر څومره دی؟ او هغه می د مور سره دی او پلار د امداد
سره زر دی، چي د هغه وزن دری تولی دی، او هغه می د مور سره دی او پلار د امداد
په طور انجونو ته کپړی جوړی کړی دی؟ داپته نسته چي د زکوٰة څخه یی جوړی کړی
دی یا د خپله اړخه؟ انجلی ووئیل: زه په خرچه کی ډیره تنګدسته یم، ماته دی زکوٰة
راکول سی، آیا دی ته یا د دی مورته زکوٰة ورکول کیدی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی که دری تولی سره زر تراوسه د مور په ملکیت کی وی او
هغه انجونو ته یی نه وی ورکړی، نو مور ته یی زکوٰة نسی ورکولی، ([1]) هو! که انجلی
صاحب د نصاب نه وی نو هغوی ته یی زکوٰة ورکولی سی، خو که سره زر یی مورکومی
انجلی ته هبه کړی وی او هغه ته یی په قبضه کی ورکړی وی، نو زکوٰة هغه انجلی ته
نسی ورکول کیدی، خو په دی صورت کی مورته زکوٰة ورکول کیږی.

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۹۹۳/ ۲۸ج)

قرضه معاف کولو سره زکوٰة نه اداء کیږی

سوال: زید په بکر باندی مال خرڅ کی چي د هغه د پیسو اداء کولو بکر وروسته وعده
اوکړله، خو ناڅاپی د بکر حالت خراب سوو ورسره بکرته د زړه بیماری سوه چي د هغه
ذوجی د کورنی اخراجاته څخه هم تنګه سو، د بکر کوشنی کوشنی بچي دی، ایا زید
داپیسی چي د بکر په ذمه باندی قرض دی د زکوٰة کهاتی په نوم باندی اولیکی، او
وصول یی وګڼی نو داجائز دی او که نه؟ د بکر څخه یی هم څوك د ګټی والا نسته.

جواب: که واقعتاً بکر صاحب نصاب نه دی یعنی د هغه سره دوه پنځوس نیمی تولی
سپین زر یا د هغه قیمت یا د دی قیمت سامان چي د ضرورت څخه زیات وی موجود نه
دی، نو هغه ته زکوٰة ورکولی سی، خو کوم رقم چي په ده باندی واجب الاداء دی محض
دا معاف کول کافی نه دی، بلکی د دی دی داطریقه کوی، چي زید به بکر ته د خپل اړخ
څخه څه پیسی د زکوٰة په طور باندی مالك او قابض جوړولو سره ورکړی، بیا د هغه

([1]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۷ (طبع ایضاً) ولا الی غنی یملك قدر نصاب فارغ عن حاجته
الاصلیة من ای مال کان کمن له نصاب سائمة لاتساوی مائة درهم.

څخه وروسته که غواړی نو خپله قرضه دی وصول کړی. ([1])

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۱۹۲/ ۲۸ ج)

د کاروبار د ترقی د پاره د زکوٰة ورکولو حُکم

سوال: زموږ د برادری یو انجمن دی چي په هغه کی موږ د برادری څخه زکوٰة راجمع
کوو او مستحقو کسانو ته یی تقسموو، د برادری بعضی کسان داسی دی چي خپل
ورکوټی کاروبار غټول غواړی او دا خلګ د زکوٰة مستحق نه دی، موږ غواړو چي د
برداری د جمع سوی زکوٰة څه حصه په ذریعه د شرعی حیلی په جنرل فنډ کی تبدیل کړو
چي مستحقو کسانو ته قرض ورکول سی، د دی مقصد د پاره د زکوٰة د پیسو څه حیله
کیدی سی؟

جواب: د زکوٰة د پاره داضروری دی چي هغه کوم غیر صاحب د نصاب سړی ته مالك او
قابض جوړولو سره ورکول سی، ([2]) لهذا د کومو کسانو سره چي په قدر د نصاب مال
موجود وی، هغوی ته محض د کارو بار د ترقی د پاره زکوٰة ورکول جائز نه دی، البته
که دبرادری مستحقو کسانو ته د زکوٰة د پیسو مالك او قابض جوړولو څخه وروسته که
هغوی په خپله خوشحالی سره بغیر د څه د باو څخه د هغه پیسو څه حصه په فنډ کی
ورکړله نو هغه قبلول جائز دی، خو هغوی ته دانبه باور کول پکار دی چي د زکوٰة
داپیسی ستاسو دی او هغوی هغه په خپله مرضی سره چیری چي اوغواړی خرڅ کولی
یی سی ([3]) محض د حیلی په طور یی هغوی نه ورکوی، د دی څخه وروسته که یی
هغوی په خوشحالی ورکړی نو بیا دی واخستل سی.

([1]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۷۱ (ایچ- ایم- سعید) وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه الفقیر زکوته
ثم یأخذها عن دینه، وفی الشامیة (قوله وحیلة الجواز) ای فیما اذا کان له دین علی معشر واراد ان
یجعله زکوٰة عن عین عنده... الخ.

([2]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (ایچ ایم سعید) مصرف الزکوٰة (هوفقیر وهو من له ادنی شیئ)
وفیه ایضاً ج: ص: ۳۴۴ (طبع ایضاً) ویشترط ان یکون الصرف تملیکا لا اباحة.

([3]) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۵۴ (طبع سعید کراچی) وقدمنا الحیلة ان یتصدق علی الفقیر ثم
یأمره بفعل هذه الاشیاء وهل له ان یخالف امره؟ لم اره، والظاهر نعم، وفی الشامیة قول الظاهر نعم...

والله سبحانه اعلم
۱۱/ ۳/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۳۲۳/ ب)

د زوم لور ته چي (حقیقي نوسی یی نه وی) د زکوٰة ورکولو حُکم

سوال: سائل د خپلو والدینو، وروڼو او خوندو او نورو خپلوانو او ټولو مرحومینو د پاره صدقه جاریه ورکول غواړی.
۲: چونکی سائل د زړه په بیماری او د متیازو په تکلیف کی د لس یوولسو کالو څخه اخته دی، د رمضان شریف روژی یی نه ونیولی. نو د دی کفاره هم ورکول دی.
۳: زکوٰة او سرسایه هم ورکول دی. زما د لور میرنی د ځوان عمر انجلی ده، د هغه مورهم نسته، پلار یی د معمولی حیثیت دی، د هغه په واده کی برنی ذکر سوی رقوم ورکولی سی او که نه؟ مرحومینو ته به ثواب رسی او زکوٰة سرسایه او کفاره به هم اداء سی؟ جواب ژر غواړم.
جواب: د خپلی لور د خاوند لور چي حقیقي نوسی نه وی که د زکوٰة مستحقه وی نو هغه ته زکوٰة، سرسایه، او کفاره د فدیی پیسی ورکولی سی، نفلی صدقه هم ورکولی سی.
لانه لیس بین السائل وبینها ولاد ولا زوجیة. (۱)

والله سبحانه اعلم
۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۱۰۱۴/ ۲۸ج)

مقروض ته زکوٰة ورکول او پخپل قرض کی تری د اخستلو حکم

سوال: یو سړی ته زما پنځه سوه روپی بقایه دی او هغه د نورو څخه هم قرضداره دی، خو هغه اقرار کوی چي ستا په ماباندی پنځه سوه باقاده، خو مجبوره یم که زکوٰة کی وصول سی نو بنه به وی، د دی څه حکم دی؟

لانه مقتضی صحة التملیك قال الرحمتی والظاهر انه لاشبهة فیه لانه ملکه اباه عن زکوة وشرط علیه شرطا فاسداً الخ.
(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۲ (طبع ایضاً) ولا الی من بینها ولاد ولو مملوکا الفقیر او بینهما زوجیة ولومبانه.. الخ

جواب: که دغه مقروض سره واقعی دوه پنځوس نیمی تولی سپینو زرو په مقدار روپی نسته نو هغه ته زکوٰة ورکولی سی، خو په دی صورت کی به دا کول وی چي اول دی هغه ته د زکوٰة روپی ورکولو سره هغه مالك جوړ سی، او د هغه روپو قبضه دی هم ورکول سی او بیا دی د هغه څخه خپل قرض کی وصول سی. (۱) او محض زبانی طور هغه د قرض څخه خلاصیدل به کافی نه وی.

والله سبحانه اعلم
۲۲/ ۹/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۹۹/ ۲۸ ج)

په رفاهی کارونو باندی د زکوٰة خرڅ کولو حُکم

سوال: یوه رفاهی اداره ده، د ټولو څخه اهم خدمت چي سرته رسوی نو هغه د زکوٰة اخستلو او تقسیمولو کار دی، د اداری منتظمین په شرعی اعتبار سره د هغه شرطونو نشاندی غواړی چي د کمیتی منتظم زکوٰة صحیح اولګوی او د غلطی د عذاب څخه محفوظ سی؟
جواب: د زکوٰة مستحق هغه سړی دی: د چاسره چي دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر یا د هغه د قیمت نقدری روپی یا د تجارت سامان یا د ضرورت څخه زیات ساز او سامان موجود نه وی، د زکوٰة د پاره داضروری دی چي داسی سړی مالك او قابض جوړولو سره اداء سی، عام رفاهی کار مثلاً د جومات یا شفاخانی په تعمیر یا د ملازمینو په تنخواه وغیره کی د زکوٰة پیسی خرڅ کول جائز نه دی، بلکی کوم مستحق مالك جوړول ضروری دی.
دا خو د زکوٰة یوحکم دی، د دی څخه علاوه نورهم مفصل احکام په جنتی کال یا (رساله احکام الزکوٰة) مولفه حضرت مولانا محمد رفیع عثمانی صاحب کی بنه مطالعه کړی، بلکی بهتره خو داده چي د کوم مستند عالم څخه یی باقاعده ووایی.

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۳/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۸۲۶)

---

(۱) وفی در المختار ج: ۲ ص: ۲۷۱ (ایچ ایم سعید) وحیلة الجواز ان یعطی مدیونه الفقیر زکوته ثم یاخذها عن دینه.

د زکوٰة او سرسایی پیسی خپل کلی ته د لیږلو حکم

سوال: د یوفیډریشن د اهتمام لاندی ټولی سوسائټیانی د خپلو خپلو ارکانو څخه په رمضان کی سرسایه وغیره جمع کوی او بیا دزکوٰة جمع کولو څخه وروسته هره سوسائټی په خپله طریقه باندی په اجتماعی صورت کی د سرسایی ټولی پیسی د خپلو کلو غریبو، بی وسه، یتیمانو او کنډوته د لیږلو انتظام کوی او د اختر څخه مخکی د صدقی پیسی رسیږی آیا د زکوٰة او سرسایی پیسی کلی ته لیږل صحیح دی؟

جواب: د زکوٰة او سرسایی پیسی خپل کلی ته لیږل بالکل درست دی او جائز دی.

فی رد المختار: وکره نقلها الا الی القرابة.... او احوج او اصلح او اورع او انفع للمسلمین الخ. وقال الشامی قوله: وکرة نقلها ای من بلد الی بلد آخر لانه فیه رعایة حق للجوار فکان اولی (زیلعی) والمتبادر منه ان الکراهة تنزیهیة تامل، فلو نقلها جاز لان المصرف مطلق الفقراء. (۱)

والله سبحانه وتعالی اعلم
۷/ ۹/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۹۱۷/ ۲۸ ج)

زکوٰة او سرسایی د سیلاب زپلو او زلزله زپلو د امداد حُکم

سوال: آیاکومه فلاحی اداره چي د خپلو ممبرانو څخه زکوٰة، سرسایه، او د قربانی څرمنی اخلی، غریبو، کنډو، محتاجو او مستحقینو اعانت کوی، آیا هغه د دی پیسو څخه د سیلاب زپلو او زلزلی د متاثرینو امدادی فنډ کی پیسی ورکولی سی؟ په مصیبت زپلو کی د هرقوم خلګ شامل وی، ورسره حکومت هم د امدادی فنډ څخه کورونه، نهرونه، سړکونه دریل پټلی وغیره مرمت کوی.

جواب: په زکوٰة، سرسایه او د قربانی د څرمنو د خرڅولو څخه په حاصل سوو پیسو کی داضروری دی چي هغه کوم داسی سړی ته مالك جوړولو سره ورکول سی (۲) چي د نصاب مالك نه وی، او د سیلاب زپلو او زلزله زپلو په امدادی فنډ کی چي کومی

(۱) فتاوی شامیه ج: ۲ ص ۳۵۳ (ایچ ایم سعید) وفی الهندیة کتاب الزکوٰة الباب السابع فی المصارف ج: ۱ ص: ۱۹۰ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) ویکره نقل الزکوٰة من بلد الی بلد الا ان ینقلها الانسان الی قرابته او الی قومهم احوج الیها من اهل بلده.... الخ.
(۲) وګوری د ص حاشیه نمبر ع.

پیسی جمع کیږی، په هغه کی د دی اهتمام نه وی چي هغه دی مستحقینوته مالك جوړولو سره ورکول سی، بلکی ډیر واره د سیلاب زپلو د پاره په رفاهی کارونو کی مثلاً: سړك جوړولو بند تړلو وغیره کی هم خرڅ کیږی، لهٰذا د زکوٰة، سرسایی او د قربانی د څرمنو پیسی په دی پنډ کی ورکول صحیح نه دی، بلکی په دی فنډ کی جداګانه امداد کول پکار دی، د مسلمان کار دانه دی چي هغه د زکوٰة څخه علاوه یوه پیسه هم خرڅ نه کړی، بلکی په داسی کارونو کی د زکوٰة څخه علاوه په نورو مدونو کی ښه په زور شور سره حصه اخستل پکار دی.

والله سبحانه اعلم
۱/ ۱۰/ ۱۳۹۶ھ
(فتوی نمبر ۲۳۵۴/ ۲۷ھ)

د زکوٰة پیسی په جوماتـ، مدرسی یا جنازه ګاه په تعمیر باندی نسی خرڅ کیدلی

سوال: زما د یوخپلوان سره د زکوٰة ډیرشی پیسی موجودی دی، په کلی کی د جنازی ځای جوړیږی، چهار دیوالی، فرش او برانډه به وی چي د لمر او باران څخه محفوظ سی آیا د زکوٰة پیسی په هغه تعمیر کی لګیدلی سی؟

جواب: د زکوٰة پیسی د کوم جومات یا مدرسی یا د جنازه ګاه په تعمیر کی نه سی ورکولی، ځکه چي د زکوٰة د پاره ضروری دی چي کوم غیر صاحب د نصاب د زکوٰة مستحق مالك او قابض جوړولو سره ورکول سی، د جنازه ګاه په تعمیر کی د زکوٰة څخه علاوه چنده ورکول پکار دی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۲۸/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۷۰/ ۲۸ ب)

د زکوٰة په پیسو د تبلیغی لټریچر د شائع کولو حُکم

سوال: د سوال خلاصه داده چي یوی تعلیمی اداری ته زکوٰة یا خیراتـ ورکول څنګه دی؟ چي د هغه واحد مقصد د تبلیغ په سلسله کی لمونځو حج، روژه، اودس، غسل

(۱) وګوری د ص حاشیه نمبر ع.

تیمم او نورو لټریچر شائع کول وی او هغه لټریچر مفت تقسیمیږی، ایا د اداری معاونین او غیر معاونین د دی لټریچر څخه استفاده کولی سی؟ چي صرف د زکوٰة او عطایاوو د مال څخه شائع کیږی؟ دا لټریچر د دینی مسایلو په زده کولو کی ډیر مفید ثابتیږی، نو آیا کوم خلګ چي د دی څخه د استفادی حق لری په هغوی باندی واضحه سی، او کوم خلګ چي د هغه څخه د استفادی حق نه لری په هغوی باندی واضحه سی چي زکوٰة په صحیح مصرف کی استعمال سی.

جواب: په زکوٰة کی د جمهورو علماوو په نزد کوم غریب شخص مالك جوړول شرط دی، لهذا د زکوٰة د پیسو د وصولولو سره بیا په دی سره تبلیغی لټریچر شائع کول جائز نه دی، د تبلیغی کارونو د پاره د زکوٰة څخه علاوه د نورو عطیاتو څخه فائده لوړه ول پکار دی، خو که په غلطی سره د زکوٰة په پیسو داسی لټریچر شائع سوی دی نو بیادی هغه لټریچر لره په غریبانو او بی وسه (غیر صاحب نصاب) کسانو باندی تقسیم سی، د غیر مستحقو کسانو د پاره دی د دی څه قیمت مقرر سی او کله چي قیمت حاصل سی نو هغه دی غریبو او بی وسه خلګوته تقسیم سی، د دی څخه به بغیر زکوٰة نه اداء کیږی.

الجواب الصحیح (محمد عاشق الهی بلند شهری)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۱/ ۹/ ۱۳۸۷هـ

(فتوی نمبر ۴۱۸/ ۱۸ الف)

په زکوٰة کی ورکول سوی پلاټ باندی د جومات جوړولو حکم

سوال: جمعیت تعلیم القرآن (ټرسټ) ته یوصاحب یو پلاټ عطیه کی او وی ویل چي زه د دی پلاټ په عوض کی خپل زکوٰة اداء کول غواړم، او د دی خواهش اظهار یی اوکی چي تاسو په دی پیسو اندرون سنده، بلوچستان وغیره کی جوماتونه جوړ کړی، چیری چي ضرورت وی، او د یوجومات خرچه تقریباً پنځوس شپیته زره پکار ده، موږ فتوی طلب کړله، او د هغه په رڼا کی مو ورته ووئیل: چي زکوٰة په مشروط طور باندی نسی ورکولی، خو ستا د خواهشاتو احترام به اوسی، هغوی هغه پلاټ غیر مشروط طور باندی زموږ په یقین دهانی کی راکی، جمعیت پلاټ خرڅ کی بیایی د خپلو بناخونو څخه د داسی جوماتونو درخواستونه طلب کړل چي په هغه ډیر شی درخواستونه رالل، په جمعیت کی اکثره آمدنی د زکوٰة د فنډ که کیږی، هغه په کار کی راوستو د پاره

تاسوته رجوع اوسوه، تاسو چي څه فیصله راکړی وه د هغه کاپی ورسره ده ګوانکی موږ په دی طریقه په ګنو طالبانو کی وظیفه ورکړو بیا د هغوی څخه فیس اخلو، او بیا د جمعیت په ټولو کارونو کی هغه پیسی خرڅ کیږی ایا داشان هغه روپی چي هغوی د پلاټ په ذریعه زکوٰة اداء کړی دی، او موږ خرڅ کړو، حسب معمول موطالبانو ته وظیفه ورکړله، کله چي موږ ته فیس واپس رالی، هغه سره د هغه د خواهش مطابق جوماتونه جوړولی سی او که نه؟ که جوماتونه جوړولی سو، او عطیه کننده ګان خواهش اوکړی چي تاسو ماته خپل رقم واپس کړی ایا موږ د هغه د رقم د واپس کولو اختیار مند یو؟

جواب: عطیه ورکوونکی څخه د پیسو د اخستلو په وخت کی چي څه خبره هم سوی وه، د هغه پابندی ضروری ده؟ لهذا په خپل طور د هغه د خواهش د احترام کولو د پاره څه بی غباره د تملیك شکل اوسی، نو جومات باندی جوړکړه، ورنه ورته ووایه! چي د جومات په تعمیر کی د زکوٰة رقم نسی لګیدلی [۱] اوس ستاسو خوښه ده که پیسی مو بیرته اخلی، او که غواړی نو د زکوٰة په مصرف کی به یی موږ دلته ولګوو.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۲/ ۱۴۱۷هـ

(فتوی نمبر ۴۷/ ۲۲۴)

زکوٰة سرسایه به د مدرسینو په تنخواه، دکور په کرایه او د بجلی نه بل کی د خرڅ کولو حکم

سوال: د زکوٰة او سرسایی پیسی مهتمم د مدرسی سره چي کله هیڅ هم نه وی، د مدرسینو په تنخوانګانو کی، د کور په کرایه کی د بجلی په خرڅ کی، د طالبانو د بسترو وغیره، د مدرسی په ضروریاتو کی خرڅ کولی سی او که نه؟

جواب: د زکوٰة او سرسایی د پیسو څوك مستحق بغیر د معاوضی څخه مالك جوړول ضروری دی، د دی څخه بغیر زکوٰة یا سرسایه نه اداء کیږی لهذا د مدرسی په تعمیراتو کی، د کور په کرایه کی د بجلی په خرڅ کی او په سوال باندی ورکول سوو بسترو او کتابونو باندی د زکوٰة پیسی نسی خرڅ کیدلی، ځکه چي په دی کی تملیك مفقود دی،

[۱] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۲۰۰ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکًا لا اباحة کمامر لا یصرف الی بناء نحو مسجد .... الخ، همدارنګه وګوری د صـــ حاشیه نمبر ع.

داشان د مدرسینو او ملازمینو د تنخواګانو په مد کی هم زکوة نسی ورکول کیدی.[۱]

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۸/ ۱۰/ ۱۳۸۷ھ

زکوة د جومات امام ته د تنخواه یا نذرانی په طور د پیش کولو حکم

سوال: د جومات یو امام صاحب دی، د محلی په مدرسه کی مدرس هم دی، د سرسایی پیسی د هغوی په خدمت کی د نذرانی په ډول پیس سی نو آیا دا صحیح ده؟

جواب: د زکوة او سرسایی پیسی د جومات یا مدرس ته د هغه د خدمت په عوض کی ورکول جائز نه دی [۲]، هغه ته تنخواه د جدا فنډ څخه ورکول پکار ده، هو! که تنخواه ځانته په قدر د ضرورت مقرر وی او د هغه باوجود هم هغه صاحب د نصاب نه وی، نو کله کله د هغه امداد په زکوة او سرسایی سره په کولو کی څه خبره نسته، خو د زکوة او سرسایی دا پیسی دی د تنخواء جزء جوړوی او نه دی د تنخوأ د مقررولو په وخت کی دا خبره پیش نظر ساتی چي دومره پیسی به ده لره د زکوة او سرسابی څخه هم ورکول کیږی.

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۲۴ ۲۸ الف)

دینی مدرسوته علی الاطلاق زکوة ورکول جائز دی یا د څه شرطونو سره؟

سوال: د سوال خلاصه داده چي په عربی مدرسو کی زکوة ورکول جائز دی او که نه؟ که جائز وی نو علی الاطلاق جواز دی یا د څه شرطونو سره؟ اوریدلی می دی چي د زکوة د

[۱] ......

[۲] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۴ (طبع سعید کراچی) ویشترط ان یکون الصرف تملیکًا لا اباحة کمامر لایصرف الی بناء نحومسجد... الخ. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۹۰ (مکتبه رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة بحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضًا اجزأه والا فلا..... الخ.

مال څخه د مدرسینو تنخواه تعمیر وغیره کول جائز نه دی لهذا ما خبر کړی، چیری داسی نه وی چي موږ زکوة هم اداء کوو، او د آخرت مواخذه دی هم باقی وی.

جواب: هغه دینی مدارس چي د غریبو طالب علمانو د خوراك وغیره بندوبست کوی هغوی ته په دی تصریح سره زکوة ورکول جائز دی چي دا پیسی به غریبو طالب علمانو ته د نقدو یا د خوراك یا کپړو په صورت کی ورکول سی.[۱] د کومی مدرسی په باره کی چي دا اطمینان حاصل وی نو هغه ته به د زکوة ورکولو څخه وروسته به ته عندالله بری یی، خو چي د کومی مدرسی په باره کی دامعلوم نه وی چي په دی کی د زکوة مدات په صحیح مصرف کی نه خرڅ کیږی، هغوی ته پیسی ورکولو سره به ته نه بری کیږی هسی خوعام طور سره وقیع دینی مدرسو کی زکوة په صحیح مصرف باندی د لګولو اهتمام کیږی.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی

والله سبحانه اعلم بالصواب

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۲/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۴۲۹/ ۱۸ الف)

اولاد ته د زکوة ورکولو حُکم

سوال: د یوسړی لور ده چي واده سوی ده، او د بچو مور ده، خو غریبه ده، که والدین هغه ته زکوة ورکړی نو جائز به وی؟

جواب: مور او پلار اولاد ته او اولاد مور او پلار ته زکوة نسی ورکولی دغه شان ښځه خاوند او خاوند ښځی ته زکوة نسی ورکولی [۲] د دی څخه علاوه نورو خپلوانو ته زکوة ورکولی سی.

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه)

[۱] وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۹۰ (مکتبه رشیدیه کویته) ولونوی الزکوة بمایدفع المعلم الی الخلیفة ولم یستأجره ان کان الخلیفة یحال لولم یدفعه یعلم الصبیان ایضًا اجزاه والا فلا. وکذا فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۲ ص: ۲۱۰، ۲۱۲.

[۲] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۴۲ (ایچ ایم سعید) ولا الی من بینهما ولاد ولو مملوکًا لفقیر او بینهما زوجیة ولو مبانة.... الخ.

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳/ ۲/ ۱۳۸۸ھ
(فتوی نمبر ۲۳۸/ ۱۸ الف)

۱: په بنی هاشمو باندی د زکوة مال ولی حرام دی؟

۲: په موجوده زمانه کی د (تالیف قلب) مصرف څه دی؟

۳: د زکوة اجتماعی نظام قائمول د حکومت ذمه واری ده.

۴: په فقیر او مسکین کی فرق

۱: سوال: په خاندان بنی هاشم باندی د زکوة مال ولی حرام دی؟
۲: په موجوده زمانه کی د (تالیف قلب) مصرف څه کیدی سی؟
۳: ایا د زکوة د نظام د قیام ذمه واری د اسلامی حکومت څخه علاوه د بل سړی یا اداری په ذریعه هم کیدی سی؟
۴: په فقیر او مسکین کی څه فرق دی؟ او د مساکینو اطلاق په سورة توبه آیت نمبر ۶۰ کی په کومو خلګو باندی کیږی؟
جواب: د هغوی د شرافت او احترام پیش نظر نبی کریم ﷺ هغوی د زکوة اخستلو څخه منع کړی دی. (۱)
۲: که د کوم غریب مسلمان تالیف قلب ضرورت وی نو هغه ته زکوة ورکولی سی کافر یا

(۱) وفی المشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۱۲۱ (طبع قدیمی کتب خانه) قال رسول الله ﷺ ان هذه الصدقات انما اوساخ الناس وانها لا تحل لمحمد ولا لآل محمد (ﷺ) وفی الطحاوی الصدقة علی نبی هاشم ج: ۱ ص: ۳۵۳ قال ابو جعفر..... فهذه الاثار کلها قدجأت بتحریم الصدقة علی بنی هاشم، ولا نعلم شیأ نسخها ولاعارضها.... الخ. وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۲۰۲ (طبع شرکت علمیه ملتان) ولا تدفع الی بنی هاشم لقوله ﷺ: یابنی هاشم! ان الله تعالی حرم علیکم غسالة الناس واوساخهم. وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۵۰ (ایچ ایم سعید) ولا الی بنی هاشم الامن ابطل النص قرابته، وهم بنولهب... ثم ظاهر المذهب اطلاق المنع، وقال الشامی: یعنی سواء فی ذالك کل الا زمان، وفی البحر الرائق ج: ۲ ص ۲۴۷ (طبع مکبه رشیدیه کویته) اطلق الحکم فی بنوهاشم ولم یقیده بزمان ولا یشخص للاشارة الی رد روایة ابی عصمة..... الخ. وکذا فی مجمع الانهر شرح ملتقی الابحر ج: ۱ ص ۲۲۴

صاحب مسلمان ته د تالیف قلب د پاره زکوة ورکول جائز نه دی، تفصیل د پاره معارف القرآن ج: ۴ ص: ۴۲ څخه تر ج: ۴ ص: ۴۰۴ پوری وګوری.
۳: اجتماعی حیثیت سره صحیح نظام زکوة د نفاذ ترحده پوری خو ذمه واری د حکومت ده، (۱) خو په هر سړی یا اداری باندی د خپلو وسائلو ترحده پوری په دی سلسله کی سعی ضروری ده.
۴: د فقیر او مسکین په اصل معنی کی که څه هم فرق دی د یوه معنی ده چي د چاسره هیڅ هم نه وی، د دوهم معنی ده چي د چاسره د نصاب څخه کم وی، (۲) خو د زکوة په حکم کی دواړه برابر دی، د کوم سړی سره چي د هغه د ضرورت اصلیه څخه زیات په قدر د نصاب مال نه وی، هغه ته زکوة ورکولی سی.

والله سبحانه اعلم
۶/ ۷/ ۱۴۰۸ھ
(فتوی نمبر ۱۳۳۱۰/ ۵۳۹)

د مځکی پیداوار هاریانو ته د زکوة په نیت د ورکولو حکم او د هغه جائز طریقه

سوال: زید خپله مځکه د کنبت د پاره هاریانو ته حواله کړی ده اول هغوی هرکال د پیداوار نیمه حصه راکوله، خو د څو کالو څخه یی راکول بند کړل، زید خپله مځکه نسی حاصلولی، ځکه چي مقدمه او ټوله عدالتی کار روایی کولو څخه وروسته هم د راخلاصولو صورت په نظر نه راځی، آیا زید د دغه پیداوار په قدر هرکال د زکوة مال څخه نیت کولو سره منها کولی سی او که نه؟

(۱) آیت الَّذِينَ إِن مَّكَّنَّاهُمْ فِي الْأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلَاةَ وَآتَوُا الزَّكَاةَ وَأَمَرُوا بِالْمَعْرُوفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنكَرِ. آیت نمبر ۴۱ سورة حج پاره ۱۷ کی د اصلی اقتدار او سلطنت د پاره د زکوة د نظام مضبوطولو هدایت ذکر سوی دی، د تفصیل د پاره وګوری معارف القرآن ج: ۶ ص: ۲۷۱ (محمد زبیر).
(۲) فقیر هغه دی چی د هغه سره د نصاب څخه کم مال وی او مسکین هغه دی چی د چاسره هیڅ هم نه وی، وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳۹ (ایچ ایم سعید) مصرف الزکوة والعشر..... (هوفقیر وهو من له ادنی شئ) ای دون نصاب او قدر نصاب غیرنام مستغرق فی الحاجة (و مسکین من لاشیئ له) علی المذهب، او همدارنګه وګوری فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص ۱۸۷، او معارف القرآن ج: ۴ ص: ۳۹۴ او فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۶ ص: ۱۹۴.

جواب: که مقصد داوی چي خومره حصه زید ته ورکول کیږي زید دی دانیت اوکړي چي دومره مقدار پیداواری کاشتکارته پخپل زکوٰة کي ورکړل، نو داطریقه صحیح نه ده، د دی سره زکوٰة نه اداء کیږي د دی په ځای داکولی سی چي کاشتکار که څه پیسی په طور د زکوٰة ورکړي بیا د هغه څخه خپله حصه د پیداوار وصول کړي، د دی غرض د پاره کاشتکار اول پوهه کولی هم سی چي دا شان کولو سره به ته هم ګنهګار نه یی، او زموږ زکوٰة به هم اداء سی.

وفی الدر المختار وفی صورتین لایجوز الاولی اداء الدین عن العین کجعل مافی ذمة مدیونه لماله الحاضر.... وحیلة الجواز (ای فیما اذا کان له دین علی معسر واراد ان یجعله زکوٰة من عین عنده) ان یعطی مدیونه الفقیر (کانه لم یأخذها عن دینه (شامی بتصرف ج: ۲) [1]

والله سبحانه اعلم
۲۹۰/۱۱/۱۳۹۶ھ
(فتوی نمبر ۲۷۲۹/۲۷و)

د زکوٰة پیسی د مدرسی په تعمیر بلندی لګولو د پاره طالبانو څخه د تملیک صحیح طریقه

د زکوٰة پیسی د ورکولو په وخت کی د زکوٰة نوم اخستل ضروری نه دی.

سوال: زموږ په کلی کی اوس یوه مدرسه قائمه سوی ده، چي په هغه کی شل طالبان سبق وایی، د مدرسی مهتمم غریب دی چي طالبانو ته سبق ښایی او چونکی اوس لامدرسه د تعمیر (جوړیدو) په حال کی ده، نو د مدرسی د پاره چي کوم خلګ د زکوٰة پیسی ورکوی، نو دا مهتمم صاحب پخپله یا د دار العلوم په طالبانو د زکوٰة د رقم ایجاب او قبول کولو څخه وروسته د دار العلوم د تعمیر په مد کی خرځ کوی، نو دا شان د زکوٰة پیسی ایجاب او قبول کول او د دار العلوم په تعمیر باندی خرځ کول د شریعت د مخ څخه جائز دی او که نه؟

۲: سوال: د زکوٰة د پیسو ورکولو په وخت ورکوونکی ته دا وئیل ضروری دی چي دا د زکوٰة پیسی دی یا ورته وئیل ضروری نه دی، وضاحت اوکړي؟

---

[1] فتاوی شامیه ج: ۲ ص: ۲۷۱ (ایچ ایم سعید) (محمد زبیر حقنواز)

جواب: که د زکوٰة پیسی د زکوٰة مستحقو طالبانو ته داشان ورکول کیږي چي هغوی د دغه پیسو مکمل مالك او مختار ګڼی او بیا په خوشحالی د څه با و څخه بغیر هغه پیسی یا د هغه څه حصه مدرسی ته د چندی په طور ورکوی نو دا پیسی بیا په چندی کی خرځ کول جائز دی، [1] خو که محض بناوټی حیله کول کیږي، یایی د دباو د وجی ورکوی نو داسی کول هیڅکله هم جائز نه دی، او مهتمم صاحب مستحق ګڼلو سره ورکړی وی، نو هغه پیسی که وغواړي نو مدرسه کی یی داخلولی سی، خو کومی پیسی چي د مدرسی په نوم یی د زکوٰة په طور ورکړي وی، د هغه مالك خپل ځان جوړول او مدرسه کی داخلول صحیح نه دی.

۲. جواب: نه ورته وئیل ضروری دی، د هدیی په نوم سره یی هم ورکولی سی او د څه وئیلو څخه بغیر یی هم ورکولی سی په دی شرط چي د ورکولو په وخت یی د زکوٰة نیت وی. [2]

والله سبحانه اعلم
۸/۱/۱۴۱۲ھ
(فتوی نمبر ۷۵/ ۵۸)

مقروض ته د زکوٰة ورکولو حکم او ایا قرض په زکوٰة کی کټ کولی سی؟

سوال: د راولپنډی مین مارکیټ کی د یوصاحب سره موږ کاروبار کوو، د لکونو روپو کارو بار په لین دین کی یکړي، داصاحب چي کافی مالداره او د جائداد مالك وو، په هغه باندی زوال راغلی، هرڅه یی ختم سول، کارو بار یی تباه سوو جائیداد یی خرځ کی. د خلګو قرضی اداء کړي، هغه ساټ باټ ختم سو، اوس صورت حال دادی: چي داصاحب د چاسره ملازمت کوی او ډیر په مشکله سره وخت تیروی، محترم مفتی صاحب! زه ستاسو څخه دا معلومول غواړم چي د همدی سړی موږ ته دروشپیته زره ۶۳۰۰۰ روپی راکول دی، او هغه د دی قابل نه دی، چي زموږ دغه قرض چي د هغه په ذمه

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۷۱ (طبع سعید) وحیلة التکفین بها التصدق علی فقیر ثم هو یکفن فیکون الثواب لهما وکذا فی تعمیر المسجد.... الخ. همدارنګه د تفصیل د پاره وګوری امداد المفتیین ص: ۲۶۴ سوال نمبر ۳۲۵.

[2] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۶۸ (طبع سعید) وشرط صحة ادائها نیة مقارنة له (ای للاداء) وفی الشامیة (قوله نیة) اشار الی انه لا اعتبار للتسمیة فلوسماها هبة ا، قرضًا تجزیة فی الاصح (محمد زبیر حقنواز).

د زکوة په صورت کی دا پیسی د برقرار ده، اداء سی، آيا داسی کيدلی سی چي موږ د زکوة په صورت کی دا پيسی د هغه د ذمی څخه کټ کړو آيا په داسی صورتحال کی به زموږ دذمی څخه زکوة اداء سی؟ او د هغه صاحب قرض به هم اداء سی؟ که اوسی نو زموږ د دواړو پارټو به فائده وی، ستاسو د فتوی په شدت سره انتظار دی چي د هغه د پاره د زړه څخه شکر ګذاره يم. (طلعت محمود راولپنډی)

جواب: عزيز او ګرانه وروره!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته!

که د هغه سړی قرضه دومره ده چي که هغه قرض اداء کړی نو د هغه سره دوپنځوس نيمی تولی سپينو زرو قيمت روپی يا زيور يا د ضروروت څخه زيات سامان د هغه سره پاته نسی نو تاسو هغوی ته زکوة ورکولی سی (۱) ليکن قرض صرف کټ کول صحيح نه دی، د دی طريقه داده: چي تاسو هغوی ته پيسی ورکړی، بيا د هغه څخه د خپل قرض مطالبه اوکړی چي اوس ستاسره دومره پيسی راغلی دی هغه قرض اداء کړه (۲) که پخپله داسی نسی کولی نو د بل چاپه ذريعه پيسی ورکړه او قرض تری پخپله وصول کړه. والسلام.

والله اعلم

۱۴۱۵/۴/۲۰ھ

(۱) تيره حواله وګوری ص: حاشيه نمبر ٤.

(۲) دا فتوی د حضرت والا دامت برکاتهم د يوجوابی خط په صورت کی ورکړله. (محمد زبير)

كتابُ الصَّوم

د روژی مسائل

فصل فی رؤیة الهلال

د رمضان د میاشتی د لیدلو متعلق د مسائلو بیان

د حسابونو په بنیاد د قمری میاشتو تعین کول څنګه دی؟

سوال: یوضروری علمی سوال چي ستاسو د خصوصی توجه مستحق دی، زید وایی چي په عرب ملکونو کی د میاشتی لیدل نظری او بصری ضروری نه ګڼی بلکي د علم هیئت او نجوم په ذریعه سره کومه چي د نور او سپوږمی قرآن کیږی، یعنی د آسمان په یوه درجه باندی د لمر او سپوږمی اجتماع کیږی، هم په هغه ورځ په دی شرط چي قرآن مجید د غرمی څخه مخکی وی، د سپوږمی اولنی شمیرل کیږی، زید د دی جهان بیان خو واره کړی دی، که ضروری خیال اوکړی نو تاسوبه هم د دی تحقیق اوکړی.

مثلاً: راروانه میاشت یعنی د محرم میاشت د انګریزی تاریخ ۱۰/ ۱۱/ نومبر د غرمی څخه مخکی د نور او سپوږمی قرآن دی، لذا مخکی ذی الحجه د ۱۳۹۷ھ شمارېږی حالانکی د روئیت قانون دادی چي د شمس او قمر اجتماع څخه کم ترکمه شل ګهنټی بعد په صورت هلال شفق غربی باندی په نظر راځی، ځکه چي په دغه وخت کی هغه د لمر څخه دولس درجی لری مخکی وتلی وی او د شعاع د لاندی څخه کیدلو په سبب په نظر راځی، د دی څخه مخکی هغه د لمر د شغلو لاندی وی او د هغه په نظر باندی راتلل ممکن نه وی، که د ګرهن شمسی وخت هم د نور د اجتماع وی په داسی وخت کی په مخکه باندی د لمر او رڼا په دی وجه چي د لمر مخ ته سپوږمی راځی، نو مخکی والاوو ته نه معلومیږی، او موږ هغه ډوبه سوی وینو، چي علم هیئت کی دی ته نوی میاشت وایی، یعنی د دی څخه وروسته سپوږمی د لمر څخه مخکی وتل او لوی کیدل شروع کیږی، تردی چي د ګرهن وخت څخه کم او زیات ۲۴ ګهنټی وروسته هلال په نظر راځی، او همدی ته روئیت هلال وایی. اوس سوال دادی چي کله په عرب ملکونو کی د روئیت هلال په ځای نوی میاشت د علم هیئت د مخه بنیاد ګرځولی ده، نو ایا د دی شرعاً څه ګنجایش سته؟

جواب: د سعودی عرب او مصر په باره کی موږ ته په تحقیق سره معلوم دی چي هلته په حساباتو باندی مدار نسته، بلکی د هلال په روئیت باندی دی، او همدا طریقه شرعاً درسته ده، د حساباتو په بنیاد باندی د قمری میاشتو تعین شرعاً درست نه دی، د دی

تفصیل د مفتی اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب قدس سره په رسال (روئیت هلال) کی درج دی هغه وګوری.

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱۰/ ۱۳۹۹ھ

(فتوی نمبر ۱۲۸۸/ ۳۰ د)

د مستندو علماوو (رویت هلا) (کمیتی) که د شاهدانو په بنیاد باندی فیصله اوکړی نو عوامو ته په هغه عمل کول لازم دی

سوال: په کویټ کی د رویت هلال اعلان د حکومت د اړخه کیږی او د هغه د پاره حکومت یوه کمیتی تشکیل کړی ده، په نورو ورځو کی د هغه د کار کردګی سره زموږ د عوامو څه خاص تعلق نه وی، خو د رمضان او شوال د پاره د هغوی د اعلان انتظار وی بنده ته دری رمضانه په کویټ کی د تیرولو موقع ملاو سوه او بعضی ملګری د ډیرو کلونو څخه په کویټ کی دی، خپله دری کلنه تجربه او د نورو ملګرو د څو کالو مشاهده داده، چي په کویټ کی هم چي کله رمضان المبارك د دیرشو ورځو نه دی سوی او هرکال د یوکم دیرشو وی، تیرکال نه هغه بل کال یعنی ۱۳۹۵ھ د سهار لمانځه څخه وروسته یوکم دیرشم باندی رمضان المبارك ته په مشرق کی میاشت اولیدل سوه چي د کورونو د چتونو د پاسه وه او د محتاط اندازی مطابق د سپوږمی طلوع د لمر د طلوع څخه ۱/ ۴ ګنټه مخکی وه او د هر چا همدا ګمان وو چي داوار به دیرش روژی پوره سی او تقویم کی هم دیرشم رمضان څخه وروسته د شوال د میاشتی غروب د لمر څخه شپږ منټه وروسته دی، خو د ماخستن د لمونځ څخه لږ وخت وروسته د حکومت د اړخه اعلان اوسو چي میاشت اولیدل سوه او په (V.T) تلویزون باندی د څو دوستانو شکلونه یی هم اوښوول چي دی خلکو میاشت لیدلی ده مطلع په دغه ورځ صفاوه، او د کوشش باوجود څخه خو په هغه ورځ چاته میاشت په نظر راغله او نه بله ورځ په نظر راغله.

تیرکال د رمضان په آخری ورځو کی اعلان اوسو چي د شوال میاشت به د کویټ په افق باندی به نظر نه راځی، ځکه چي د هغه غروب د نُور د غروب څخه څو منټه مخکی دی، اول شوال ته به هم میاشت واضحه نه وی، په ورپسی ورځ به میاشت صفا لیدلی سی. رمضان المبارك د (۲۹) ورځو سو.

د دی کال په تقویم کی خو روژی د دیرش ورځو دی، خو د میاشتی غروب د لمر د غروب څخه دری منټه مخکی دی، یعنی د میاشتی ګواهی به بیاهم نه وی، او عین ممکن دی، چي د تیرو روایاتو قائم ساتلو سره / ۲۹ رمضان باندی د شوال د میاشتی اعلان اوسی، پورته ذکرسوی کوائف په نظر کی ساتلو سره په شرعی نقطه نظر د مخه د اختر څه حکم دی؟ تیرکال نه هغه بل کال یعنی **۱۳۹۵**ھ کی څه خلګو د حکومت په اعلان باندی اختر اونکړو، او د هغوی استدلال داوو چي کله په مشرق کی میاشت سهار وخت کی دومره لوړه وی، نو دا ممکن نه دی چي تر مابنامه لمر د سپوږمی څخه مخکی څخه مخکی وځی، او کله چي مطلع صفاوه، نو په دی سهار کی یو چانه چاته په نظر راتلل پکارو، د دی پرخلاف د اکثرو دوستانو رایه داوه، چي اختر خو د حکومت په اعلان باندی عوامو سره یوځای پکار وو، او خپل د یوڅی نیمی انچي جومات بیل جوړول نه دی پکار، د دی اختلاف رایی په وجه ماحول کی ډیر تریخوالی او ګړبړ وو، تاسو امر او فرمایاست چي څه حکم؟

تنقیح: د لاندینی سوالونو جواب د استفتاء سره را اولیږه نو د دی مسئلی جواب به در کول سی.

۱: آیا د رویت هلال کمیتی کی علماء شامل دی؟ یا محض د انتظامیی کسان وی؟

۲: د کمیتی طریقه کار څه دی؟ یعنی هغوی د شهادتونو په بنیاد فیصله کوی، یا د تقویم په حساب سره؟

۳: په ۱۳۸۵ھ کی چي د رمضان اعلان اوسو، هغه د څو شاهدانو په بنیاد باندی اوسو یا په تی وی باندی د څومره کسانو شاهدی اوښو ه؟

۴: د کویټ د عامو اوسیدونکو فقهی مسلك څه دی؟

د مستفتی څخه د تنقیح جواب:

۱: رویت هلال کمیتی په پنځو کسانو باندی مشتمل ده چي په هغه کی یو عالم دی، چي مستند قاضی دی، د کمیتی سربراه د انتظامیی سره متعلق دی.

۲: د کمیتی فیصله په شاهدانو باندی کیږی، د رمضان د میاشتی د پاره په یو ګواه باندی فیصله کیږی، او د شوال د میاشتی د پاره په دوو شاهدانو باندی، مطلع که خړه وی او که صفاوی، که په سعودی عربیه کی د شوال د میاشتی اعلان اوسی نو کویټ کی هم بغیر د شاهدانو څخه د اختر اعلان کول کیږی.

۳: د مخکی حصی جواب نمبر ۲ کی دی او د دوهمی حصی جواب می په دی وخت کی معلوم نه سو.

۴: د کویټ عام اوسیدونکی مالکی او حنبلی مسلك باندی دی.

جواب: کله چي د هلال کمیتی په مستندو علماوو باندی مشتملهده او د هغوی د شاهدانو په بنیاد باندی فیصله وی نو چي د حساباتو په بنیاد باندی، نو بیا عواموته د دی فیصلی مطابق عمل کول پکار دی او په زیات جنجال سره انتشار پیداکول مناسب نه دی، که چیری د کمیتی په فیصله کی څه شبهه پیښه سی نو مقامی علماوو ته یا د کمیتی علماوو ته رجوع کول پکار دی، مثلاً د مطلع صفا کیدلو په صورت کی د جم غفیرشهادت پکار وو، (۱) د دی خبری طرف ته دی کمیتی متوجه سی، لری اوسیدونکی علماء صحیح اندازه نسی لګولی نو ځکه مقامی علماوو ته رجوع کول پکار دی که څه هم هغه د حنفی مسلك څخه وی.

والله سبحانه اعلم
۱۶/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۱۹/ ۲۸ ب

د وریځی د وجی که سپوږمی په نظر رانسی نو څه حکم دی؟

سوال: د برما په ملك کی د برسات او وریځ د وجی میاشت په نظر نه راځی، نو آیا څلور سره میاشتی د دیرشو، دیرشو شمار سی، د برما په حساب کی دریم تاریخ ته د میاشت لیدلو (د میاشتی ۲۹ تاریخ د حکم) لګولی سی، هرکله چي مطع صفا نه وی.

جواب: شریعت د میاشتو دار مدار په روئیت باندی ایښی دی: لقوله عليه السلام: صومو الرؤیته وافطرو الرویته فان غم علیکم فاکملوا العدة ثلاثین، (۲) لهذا که د وریځی د وجی میاشت په نظر رانسی نو دیرش ورځی پوره کول پکار دی، (۳) د حسابونو په

---

(۱) کذافی رد المختار کتاب الصوم ج: ۳ ص: ۳۸۷، ۳۸۸.

(۲) وفی سنن النسائی ص ۳۰۱ (قدیمی کتخانه) کتاب الصوم اکمال الشعبان ثلاثین اذاتم، عن ابن عباس رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: صوموا لرؤیته وافطرو الرؤیته فان غم علیکم فاکملوا العدة ثلاثین وسره د دی معنی حدیث وګوری صحیح بخاری کتاب الصوم ج: ۱ ص: ۲۵۵، ۲۵۶ (طبع قدیمی کتبخانه)

(۳)....

ذریعه یا د برما میاشتو اندازه کولو سره روژه نیول یا افطار کول قطعاً جائز نه دی، [۱] د دی مسئلی مکمل تفصیل د حضرت مولانا مفتی محم شفیع صاحب په رساله (رؤیت هلال) کی موجود دی.

والله سبحانه اعلم
۲۳/ ۱۲/ ۱۳۹۲ھ
(فتوی نمبر ۲۸۲۶/ ۲۷و)

د دوو ښځو د اړخه د رویت هلال د شهادت حُکم

سوال: د رمضان المبارك هلال څه مشتبه سوه، د دی صراحت اوکړی چي د جمعی په شپه دوو لمونځ ګذارو ښځو میاشت اولیدله، او نورو ته یی هم اوښووله خو نور مطمئن نه سول، ماسوا د دوو ښځه، چي په هغه باندی ځوکسانو روژه اونیوله، باقی منتظروو، بیا په جمعه یو معتمد لمونځ ګذاره شاهدی ورکړله چي ما د سهار په غاړه د ښو ریبلو په وخت میاشت لیدلی وه، معتمد لمونځ ګذار کلی ته رالل او تراویح یی هم اوکړی او روژه یی هم اونیوله، بیا د ورځی خلګو په اوبو کی اولیدله، ټولوته په نظر راله، اوس به د دی ورځی قضاء وی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که مطلع بالکل صفاده، نو بیا خو صرف د دوو ښځو شاهدی کافی نه ده او رمضان د دی سره نسی ثابت کیدلی، او په بله ورځ میاشت لیدل معتبر نه دی، خو که مطلع صفانه وه، نو د دغه د وو ښځو د خبر په اوریدلو سره په کلیوالو باندی روژه نیول ضروری وو، اوس چ ، کومو خلګو روژه نه ده نیولی هغوی دی د دی قضاء اوکړی. کمافی العالمګیریه:

ان کان بالسماء علة فشهادة الواحد علی هلال رمضان مقبولة اذاکان عدلا مسلما. عاقلاً، بالغاً، حراً، کان او عبدا ذکرا کان او انثی (وفیه ایضاً) اما فی السواد اذا رأی

---

[۱] وفی التاتار خانیة کتاب الصوم قبیل الفصل الثالث ج: ۲ ص ۳۵۷ (طبع ادارة القرآن کراچی) یجب صوم رمضان برویة الهلال او باستکمال شعبان ثلاثین ولایجوز تقلید المنجم فی حسابه لافی الصوم ولافی الافطار

وفی البدائع کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۸۰ فان کانت السماء مصحیة یعرف برویة الهلال وان کانت متغیمة یعرف باکمال الشعبان ثلاثین یومًا لقول النبی ﷺ: صومو الرویته وافطرو لرویته، فان غم علیکم فاکلموا شعبان ثلاثین یوما ثم صوموا.

احدهم هلال رمضان یشهد فی مسجد قریتهِ وعلی الناس ان یصوموا..... اذا لم یکن هناك یشهد عنده. (عالمګیریه) [۱]

والله سبحانه اعلم
۱۱/ ۱/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۵/ ۲۸ الف)

د پاکستان د رویت هلال کمیټی طریقه کار په باره کی د یوڅو سوالونو جوابونه

سوال: په تیرو څو ورځو کی په مسائل جدیده باندی د غور او خوض د پاره زمونږ په صوبه ګجرات (انډیا) د مشاهیر اهل علم او ارباب فتوی یومیټنګ د حضرت مفتی محمود الحسن ګنګوهی مدظلهم (صدر مفتی مظاهر العلوم سهارنپوری) د صدارت لاندی منعقد سوی وو، چي په هغه کی منجمله د نورو امورو سره د رویت هلال مسئله هم د بحث باندی راله، د بحث په دوران کی د پاکستان رویت هلال کمیټی د شرعی حیثیت معلومولو د پاره د دی امورو معلومیدل ضروری دی، چي د دی افراد څوك او کوم قسم افراد دی؟ د شرعی ثبوت ورکولو طریقه کار څه دی؟ په ریډیو باندی اعلان څوك او څنګه یی کوی، وغیره تفصیلاتو علم ضروری دی، د دی ځخه وروسته د پاکستان د رویت هلال کمیټی د اعلان ځخه د استفادی په مسئلی باندی سوچ کیدلی سی.

لهذا د جناب والا ځخه عرض دی چي د پاکستان د رویت هلال کمیټی متعلق په لاندی ډول تفصیلات که ستاسو په علم کی به وی او که نه وی، خو برائی کرم د تکلیف برداشت کولو سره د چا ځخه معلومات حاصل کړی او مونږ خبر کړی چي په هندوستان کی د پاکستان د رویت هلال کمیټی د اعلان ځخه د استفادی کولو موقعه شرعی نقطه نظر سره په لاس راسی.

۱: د پاکستان د رویت هلال کمیټی په کومو علماوو، د اعیانو او د امت په صالح او متدین افرادو باندی مشتمل ده؟ او د کمیټی صدر څوك دی؟

۲: ایا د ثبوت هلال ټول شرعی اصول او ضوابط کمیټی ملحوظ ساتی.

۳: ایا دا کمیټی د رویت د شرعی ثبوت د ملاویدو ځخه وروسته پخپله پوره ذمه داری سره په ریډیو باندی اعلان کوی.

---

[۱] فتاوی عالمګیریه ج: ۱ ص: ۱۹۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه).

او که سکرټری دی؟

۴: اعلان کوونکی د کمیټی صدر دی چي اعلان به فلانی فلانی صاحب کوی.

۵: ایا د دی خبری څخه خلګ مخکی خبر وی د محکمه موسمیات د حساب کتاب څه دخل سته

۶: د رویت هلال کمیټی فیصلی کی د صدر ایوب خان په دور حکومت کی د رؤیت اعلان اختیار د

او که نه؟ ځکه چي د صدر ایوب خان په دور حکومت کی د رؤیت اعلان اختیار د علمائی کرامو څخه اخستل سوی وو، او محکمه موسمیاتو ته حواله سوی وو. چي شرعًا نه صحیح کیدلو په وجه د پاکستان ذمه وارو علماوو په دی اعتراض اوکی او هلته دوه اخترونه وسول، یو سرکاری او یو عوامی، د دی څخه وروسته شاید چي څه اصلاح سوی وی، اوس څه صورتحال دی؟

مصلح الدین

دار الافتاء اصلاح المسلمین مانډوی

ګجرات، هندوستان

جواب: مکرمی او محترمی!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط د رؤیت هلال په کمیټی په سلسله کی د دی څخه مخکی هم احقر ته ملاو سوی وو او احقر په هغه وخت کی د هغه مفصل جواب هم درلیږلی وو، افسوس دی چي هغه جواب تاسو ته ملاو نسو.

به هرحال د سوالونو مختصر جوابونه دوباره عرض کوم.

۱: د پاکستان د رویت هلال کمیټی د دی ځای مختلف مکاتب فکر علماوو باندی مشتمله ده، چي په هغه کی د یوبندیان، بریلیان، اهل حدیث او شیعیه حضرات شامل دی، د دی مخکی چیرمین مولانا احتشام الحق تهانوی وو، د هغوی څخه وروسته دوه بریلیان علماء چیرمینان سول، اوس هم یو بریلوی عالم د دی چیرمین دی، تر اوسه پوری د کمیټی ټولی فیصلی د ارکانو په اتفاق سره کیږی.

۲: ماته د کمیټی چیرمین ووئیل چي د رؤیت هلال د کمیټی طریقه کار په بنیادی طور باندی هغه دی کوم چي حضرت مفتی محمد شفیع صاحبو حضرت مولانا ظفر احمد عثمانی صاحب، حضرت مولانا سید یوسف بنوری صاحب مضبوط کړی دی او دا طریقه کار ښکاره دی چي د شرعی اصولو او ضوابطو مطابق وه.

که چیری په یوه معامله کی لږ شان فرق سوی دی، او هغه داچي د مذکوره حضراتو په بیان کی سوی طریقه کار کی دا درج وو، چي که کومه ذیلی رؤیت هلال کمیټی پخپل

ښار کی د رویت یا د هغه د شرعی شهادت په وجه باندی فیصله اوکړی، نو داسی ذیلی کمیټی ته د پوره ملك د فیصلی ولایت دی ورکول سی، او اعلان دی هم د هغوی په اواز کی نشر سی، خو اوس عمل په دی کیږی چي مرکزی رؤیت هلال کمیټی د ذیلی کمیټی د فیصلی خبر په ټیلیفون باندی حاصلوی او د هغه د فیصلی ذکر کولو سره پخپله اعلان کوی.

ما یووار د کمیټی چیرمین ته وئیلی وو، چي هغه دی په ټیلیفون باندی د خبر د اخستلو په وخت کم ترکمه دا احتیاط ضرور کوی چي دا خبره د استفاضی ترحده اورسیږی، په دی باندی هغوی د اتفاق اظهار اوکی.

۳: کمیټی د مذکوره طریقه کار مطابق ثبوت ملاویدلو باندی پخپله په ریډیو اعلان کوی.

۴: دا اعلان د کمیټی د چیرمین په آواز کی براه راست د کمیټی د اجلاس د ځای څخه نشر کول کیږی.

۵: هوجی! دا خبره ټولو ته معلومه ده او اخباراتو کی هم راځی چي اعلان به د کمیټی چیرمین کوی.

۶: د کمیټی په فیصلی کی د موسمیاتو حساب کتاب ته هیڅ دخل نسته. والسلام.

احقر محمد تقی عثمانی

۱۴۰۳/۸/۱۰هـ

(فتوی نمبر ۱۴۷۳/ ۳۴ د)

د رویت هلال په سلسله کی د مستندو علماوو د اړخه د شرعی شهادت مطابق سوی فیصلی باندی عمل کول پکار دی

سوال: سږکال په کوشنی اختر کی پیښور ډویژن کی په ډیرو تحصیلونو کی په اول جنوری سنه ۱۹۶۸ کوشنی اختر اوسو، او د پیښور ډویژن څخه علاوه پوره مشرقی او مغربی پاکستان کی په دوهم جنوری سنه ۱۹۶۸ باندی اختر اوسو، اول جنوری سنه ۱۹۶۸هـ د ورځی لس بجی موږ د خپل اهل وعیال سره روژه وه چونکی زموږ په کلی کی هم په دغه ورځ یعنی اول جنوری باندی د اختر کولو فیصله سوی وه، نو موږ هم په هغه ورځ اختر اوکی، با وجود د دی چي دلته پیښور، نوښار او مردان ښارونو کی د نیم څخه زیاتو خلګو اول جنوری اختر اونه کی موږ د خپلو کلیوالو سره

اختر کول پکار وو، او که د ښار والاوو سره چي هغوی دوهم جنوری باندی اختر کړی وو؟

جواب: ستاسو په کلی کی که مستند عالم دین د میاشت شاهدی اخستی وی او یکم جنوری ته یی د اختر کولو فیصله کړی وی نو تایکم جنوری باندی اختر کولو سره صحیح کار کړی دی، خو که د میاشت لیدلو څه صحیح شاهد ستاسو په کلی کی پیش نه سو محض د عامو خلکو په فیصله کولو باندی اختر نه کیږی، تاته د یوی روژی قضاء راګرځول پکار دی.

۲. سوال: همداشان په عید الاضحی کی هم صرف د چارسدی په تحصیل کی نهم مارچ باندی عید الاضحی اوسو، په دی حساب سره چي دلته ۲۸/ ۲/ ۱۹۹۸ھ کی د میاشت لیدلو شاهدی ورکول سوی وه، د دی تحصیل څخه علاوه پوره پیښور ټلویژن کی چیری هم په ۹/ ۳/ ۱۹۹۸ باندی اختر نه دی سوی، اوس هم زموږ کلی والاوو ۹/ ۳/ ۱۹۹۸ھ باندی اختر اوکی. لهٰذا موږ د هغوی ملګرتیا اوکړله، ځکه چي د کلیوالو ملګرتیا ضروری وه، دا موږ صحیح اوکړل او که غلط؟

جواب: که واقعاً په چارسده کی د رویت هلال د شهادت په بنیاد باندی ۹ مارچ ته د عید الاضحی اعلان وسو، او تاسو ته د دی اعلان قابل اعتماد اطلاق راورسیدله نو ستاسو نهم مارچ باندی اختر کول صحیح سول، او آینده د پاره داخبره یاد ساته! چي رویت هلال یوه خالص دینی معامله ده او د دی د شهادت په شریعت کی یوخاص ضابطه ده، چونکی عام خلګ د دی ضابطی څخه واقف نه دی لهٰذا تاسوته نژدی چي کوم مستند علماء د شهادت د ضابطی څخه واقف وی، همیشه هغوی ته رجوع اوکړی، او صحیح صورة حال معلوم کړی.

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۲۳/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۱/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

(فتویٰ نمبر ۱۵۰/ ۱۹ الف)

فصل فی مسائل المتعلقه بالصوم

د روژی متعلق د مختلفو مسائلو بیان

په سفر کی به حضور ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم روژه نیوله او که نه؟

سوال: مولانا مودودی صاحب په تفهیم القرآن حصه اول صــ ۱۴۲ باندی لیکلی دی. چي نبی کریم ﷺ کله په سفر کی روژه نیولی ده او کله یی نه ده نیولی ایا دا تفسیر صحیح دی؟

۲. صحابه کرامو رضي الله عنهم د حضور ﷺ سره په جنګونو کی پاته سوی دی ایا صحابه کرامو رضي الله عنهم به د جنګ په دوران کی روژه نیوله؟ ځنګه چي مولانا مودودی صاحب په صــ ۱۴۲ باندی وئیلی دی: چي داسی صحابه کرام د نبی کریم ﷺ سره وو، چي چابه روژه نیوله او چابه نه نیوله د جنګ په دوران کی ایا داصحیح دی؟

جواب: دا بالکل درست دی چي نبی کریم ﷺ په سفر کی کله روژه نیولی ده او کله یی افطار کړی دی، (۱) او مسافر د پاره دواړی طریقی جائز دی، (۲) او که د غیر معمولی مشقت بیره نه وی نو روژه ساتل افضل دی، (۳) لقوله تعالی: وَاَنْ تَصُوْمُوْا خَيْرٌ لَّكُمْ (۴)

د صحابه کرامو رضي الله عنهم اجمعین په باره کی هم دا صحیح دی، چي د سفر په حالت کی به بعض صحابه کرامو رضي الله عنهم روژه نیوله او بعضو به افطار کوی. (۵)

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۱۲/ ۱۳۹۲ھ

(فتویٰ نمبر ۲۸۳۹/ ۲۷ و)

---

(۱) وفی الصحیح للامام مسلم باب جواز الصوم والفطر فی شهر رمضان للمسافر ج: ۱ ص: ۳۵۶ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: سافر رسول الله ﷺ فی رمضان فصام حتی یبلغ عسفان ثم دعاء باناء فیه شراب فشربه نهاراً لیراه الناس ثم افطر حتی دخل المکة قال ابن عباس رضي الله عنهما فصام رسول الله ﷺ وافطر من شاء صام ومن شاء افطر، وفی مجموع الزوائد للهیثمی ج: ۳ ص: ۱۵۸، ۱۵۹ ان رسول الله ﷺ کان یصوم فی السفر ویفطر.... الخ. (قال الهیثمی) رواه احمد وابویعلی والبزار بنحوه ورجال احمد الصحیح

(۲) ...

(۳) د مذکوره حدیث څخه علاوه مزید حواله جات د راتلونکی فتویٰ په حاشیه کی ملاحظه کړی

(۴) سورة البقرة: ۱۸۴

(۵) وفی جامع الترمذی ج: ۱ ص: ۸۹ (طبع فاروقی کتب خانه) عن ابی سعید قال: کنا نسافر مع رسول الله ﷺ فی شهر رمضان فما یعاب علی الصائم صومه ولا علی المفطر فطره... الخ. وجاء فی حدیث باب ماجاء فی کراهیة الصوم فی السفر ج: ۱ ص: ۸۹ (قبل الحدیث السابق) فافطر بعضهم وصام بعضهم.

په سفر کی د روژی نیولو حکم

سوال: که څوک په سفر باندی دی یابیمار دی آیا هغه سړی روژه پرېښوولی سی او که نه؟

جواب: په سفر کی روژه پرېښوول جائز دی خو که د غیر معمولی مشقت خطره نه وی نو روژه نیول افضله ده.[1] په بیماری کی د روژی پرېښوولو د پاره شرط دادی چي کوم ماهره او دیانتداره معالج دا ووایی چي په دی حالت کی روژه نیولو سره د تکلیف زیاتیدلو یا داوږدیدلو خطره ده نو روژه پرېښوولی سی.[2]

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۱/ ۱۳۹۶ھ

(فتوی نمبر ۱۲۰۱/ ۳۰ ج)

قصداً تر څوکلو پوری د روژی نه نیولو په صورت کی د تولی مودی قضاء لازمه ده

سوال: زما ترور (خاله) چي د هغه عمر په دی وخت کی د شپیتو کالو خواو شادی اول به یی د صحت د خرابتیا د وجی د رمضان روژی نسی نیولی تردی چي هغه ته روژو باندی د پابندی څخه د بچ کیدلو عادت جوړسو، اوس تقریباً د څلویښتو کالو څخه هغه دافرض اداء نکړل او نه یی کفاره اداء کړی ده، ځکه چي توفیق ورته نه وو، بیا چي توفیق اوسو، نو د دی خیال یی نه وو، اوس هغه ته د دی احساس کیږی او کفاره اداء کول غواړی نو په کوم حساب سره یی اداء کړی؟ چي د خدای جل جلاله د عذاب څخه بچ سی.

---

[1] وفی مشکوة المصابیح ج: ۱ ص: ۱۷۷ (طبع قدیمی کتب خانه عن عائشة قالت: ان حمزة بن عمرو الاسلمی قال النبی ﷺ اصوم فی السفر؟ وکان کثیر الصیام فقال: ان شئتَ فصم وان شئت فاخطر متفق علیه، وکذافی جامع الترمذی ج: ۱ ص ۱۵۳، او همداشان د تفصیل د پاره وګوری عمدة القاری: باب الصوم بالسفر والافطار ج: ۱۱ ص: ۴۳، وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۲۳، ۴۲۱ لمسافر سفرا شرعیاً ولو بمعصیة..... الفطر ..... ویندب لمسافر الصوم (لایه) وان نصوموا خیرلکم والخیر بمعنا البر، لا افعل تفضیل ان لم یضره فان شق علیه..... فالفطر افضل وفی الشامیة قوله: ان لم یضره ای بمالیس فیه خوف هلاك والا وجب الفطر..... الخ.

[2] وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۲۲ فصل فی العوارض المبیحة لعدم الصوم..... او مریض خاف الزیادة لمرضه وصحیح خاف المرض..... الخ. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۰۷ وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذالك عندنا..... الخ.

جواب: ستا ترور صاحبی ته پکار دی چي هغه دی اول د پرېښوول سوو روژو درست حساب ولګوی او په خپله وصیتنامه کی دی اولیکی: چي زما څخه دومره روژی پاته سوی دی که زه د دی د اداء کولو څخه بغیر مړه سوم نو د هغه فدیه دی اداء سی.[1] د دی څخه وروسته په هغه باندی فرض دی، چي د پرېښوول سو روژو قضاء راګرځول شروع کړی، او د څومره روژو چي قضاء کولی سی هغه دی اداء کړی.[2] او څومره روژی چي نیسی د هغه حساب دی هم په وصیت نامی کی درج کړی) او کله چي د عمر د زیاتوالی او کمزوری والی او بیماری په وجه روژه نیول د هغه د پاره ممکن پاته نسی نو چي څومره روژی د هغه پاته وی د هغه فدیه دی پخپله ورکړی[3] او فدیه دی په دی حساب سره اداء کړی: چي د هری روژی په بدله کی دمی یو سیر دولس نیم چټاکی غنم دی کوم فقیر ته ورکړی، یا دی د هغه قیمت اداء کی[4]، بیا که قوت برحال سی نو دوباره د قضاء روژی نیول شروع کړی، واضحه دی وی چي د فدیی اداء کول به صرف په هغه وخت کی کافی وی چي کله د روژی نیولو طاقت بالکل نه وی ورنه خپله روژه نیول ضروری دی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۸/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۸۹۴/ ۲۸ ج)

---

[1] ...

[2] فی جامع الفصولین کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۲۳۱ (ناشر اسلامی کتبخانه بنوری ټاون) ولوافطر المریض یقضی بلافدیة ولومات قبل البرء لاشیئ علیه اذا لم یدرك عدة من ایام اخر، وعلیه ان یوصی بفدیة مکان لکل یوم نصف صاع من بر یجوز فیها ما یجوز فی صدقة الفطر، وفی الهندیة الباب الخامس فی الاعذار التی تسبیح الافطار ج: ۱ ص: ۲۰۷ قال بری المریض او قدم المسافر وادرك من الوقت بقدر مافاته فلیزمه قضاء جمیع ما ادرك، فان لم یص[illegible] ادرکه الموت فعلیه ان یوصی بالفدیة وکذا فی در المختار ج: ۲ ص: ۴۲۴ والبحر الرائ[illegible] فی العوارض (طبع مکتبه رشیده کویټه)

[3] وفی الهندیة الباب الخامس ج: ۱ ص[illegible] لکل یوم مسکینا کما یطعم بالکفار[illegible] العاجز عن الصوم الفطر ویغدی و[illegible]

[4] ص: ۱۹۸ دریمه حاشیه و[illegible]

د روژی او ظهار دکفاری تفصیل

سوال: د قرآن مجید د حکم مطابق د کفاری اداء کول په صورت د خوراك کولو په (۶۰) مسکینانو باندی، آیا د خوراك معیار د صاحب کفاری د نجی متوسط معیار دی؟

۲: د دار العلوم په طالبانو کی (۶۰) طالبانو ته یووخت داشان خوراك که هغوی مستحق وی که په هغوی باندی وخوړل سی نو کفاره به اداء سی او که نه؟

۳: د کفاری د خوراك په سلسله کی د شپیتو مسکینانو تعین چي قرآن مجید کړی دی، د دری څخه علاوه د پنځه لس شلو کسانو په تعداد کی (بل نست سره مثلاً ایصل ثواب د پاره د والدینو) اضافه کیدی سی؟

جواب: د روژی یا د ظهار په کفاری کی شپیتو مسکینانو باندی خوراك کول په هغه وخت کی جائز دی، کله چي د شپیتو پرله پسی روژو نیولو طاقت یی نه وی یعنی متواتر د بیماری یا د بوډاوالی د وجی روژی نسی نیولی، او که روژی نیولی سی نو پرله پسی شپیته روژی نیول ضروری دی، خوراك خورول نه کافی کیږی او که روژی نسی نیولی، نو په شپیته مسکینانو باندی دی ډوډی وخوروی، (۱) په دی صورت کی شپیتو مسکینانو ته دوه وخته په مړه خیټه کم ترکمه ډوډی او ترکاری وخوروی او بهتر همدا دی چي د خوراك معیار د صاحب کفاری د نجی متوسط معیار وی د کومی دینی مدرسی د زکوة مستحق طالبانو انتخاب کولو دوه وخته ډوډی خورولو سره به هم کفاره اداء سی، او دوهم صورت دادی، چي د خوراك خورولو په ځای دی د هغه قیمت صدقه کړی، په دی صورت کی هرمسکین ته پاوکم دوه سیره غنم او یا د هغه د قیمت اداء کول ضروری دی، (۲) او د کفاری د خوراك خورولو په وخت د شپیتو څخه زیات کسان په بل نست سره شریك کولو کی څه خبره نسته،

والله سبحانه اعلم ۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ (فتوی نمبر ۱۲- ۱ / ۲۸ ج)

---

(۱) وفی خلاصة الفتاوی ج: ۱ ص: ۳۶۱ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) ثم لابد من کفارة فنقول کفارة الفطر وکفارة الظهار واحدة وهی عتق رقبة مومنة او کافرة وان لم یقدر علی العتق نعلیه صیام شهرین متابعتین، وان لم یستطع فعلیه اطعام ستین مسکنا کل مسکین صاعًا من تمرة او شعیر او نصف صاع من حنطة علی مایأتی فی صدقة الفطر وفی الدر المختار مع رد المختار باب الکفارة ج: ۲ ص: ۴۷۸ فان عاجز عن الصوم اطعم ستین مسکینًا کافطرة (قوله کالفطرة.... قدر ای نصف صاع من بر او صاع من تمر او شعیر.

(۲) ایضا

د سفر په وجه د رمضان یودیرش کیدلو په صورت کی یودیرشمه روژه هم فرض ده

سوال: یوسړی په سعودیه کی د قاضی په فیصلی سره روژه ونیوله، بیا پاکستان ته رالو هغه هلته په سعودی کی دیرش روژی پوره کړی او پاکستان کی د اختر حکم نسته، مفتی رشید احمد صاحب په احسن الفتاوی جدید جلد ۴ ص ۴۲۳، په عنوان د سفر د وجی رمضان د یو دیرش یا اته ویشتو —— نو لیکی چي دا سړی به یودیرش روژه هم نیسی، ورسره که دا سړی یودیرشمه روژه او نه نیسی نو په ده باندی به د هغه روژی قضاء وی او که نه؟ برایی کرم زموږ تسلی اوکړی؟

جواب: احسن الفتاوی خو په دی وخت کی مخ ته نسته، خو حضرت والد صاحب حضرت مفتی اعظم قدس سره) فتوی هم داوه چي پاکستان ته د رسیدلو څخه وروسته د دی ځای اتباع کولو سره به یودیرشمه روژه هم پوره کوی، او وجه یی دا وفرمائیله چي (شهو د الشهر) موجب د روژی د فرضیت دی، او شهود الشهر په هره علاقه کی د هغه ځای معتبر دی، پاکستان کی هغه میاشت تراوسه موجوده ده، ځکه فرضیت د روژی د هغه په حق کی مستحق دی، پاته سو هغه حدیث چي په هغه کی د میاشت د دیرش ورځو ذکر دی، نو هغه د دی په باره کی قطعی الثبوت والد لالة نه دی، بلکی په دی کی احتمال موجود دی، او (فمن شهد منکم الشهر.... الخ (۱) حکم قرآنی قطعی الثبوت والدلالة دی، مزید دا چي احتیاط هم په دی کی دی، او کله چي روژه فــرض

---

(۱) سورة البقره: ۱۸۵، وفی جامع الترمذی ج: ۱ ص: ۸۸ (طبع فاروقی کتبخانه) الصوم یوم تصومون والفطریوم تفطرون.... الخ. وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۳۸۴ تنبیه. لوصام رایی هلال رمضان واکمل العدة لم یفطر الامع الامام لقوله ﷺ: صومکم یوم تصومون وفطرکم یوم تفطرون، رواه الترمذی. وفی بدایع الصنائع کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۸۰، واماصوم رمضان فوقته شهر رمضان لایجوز فی غیره فیقع الکلام فیه فی موضعین احدهما فی بیان وقت صوم رمضان، والثانی فی بیان مایعرف به وقته، امالاول: فوقت. صوم رمضان شهر رمضان لقوله تعالی: فمن شهد منکم الشهر فلیصمه، ای فلیصم فی الشهر، وقول النبی ﷺ: وصوموا شهرکم، ای فی شهرکم لان الشهر لایصام وانما یصام فیه..... الخ.

سوه نو د نه نيولو په وجه به يې قضاء هم لازمه وی.

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۱۱/ ۱۴۰۸ھ

(فتوی نمبر ۳۹/۲۴۱۱ ح)

۱: د پاکستان څخه سعودی عرب ته او د سعودی عرب څخه پاکستان ته د راتلونکی سړی روژو او په اختر کی تفصيل:

۲: د روژی په حالت کی حيض شروع کيدل:

سوال: يوسړی د سعودی عرب څخه په روژی نيولو سره رالی او دلته هم روژی نيسی د پاکستان په لحاظ سره د هغه دوی روژی زياتيږی په داسی حالت کی څه حکم دی؟

۲: برعکس يوسړی پاکستان کی روژی نيولو سره سعودی عرب ته ولاړسی نو د هغه دوی روژی به د سعودی عرب په لحاظ سره کمی سی، په داسی صورت کی څه شکل اختيار کړی؟

۳: که د يوی ښځی روژه وی او د ورځی په څه حصه کی هغه ناپاکه حيض يا نفاس سره سی، نو هغه څه وکړی؟

۴: که يوه ښځه په حيض يانفاس سره ناپاکه سوه، د څو ورځو څخه وروسته هغه ته معلومه سوه چی هغه به د ورځی په څه حصه کی پاکه سی، نو هغه به د هغه ورځی روژه نيسی، او په ورځ کی به غسل وکړی، او که د غسل کولو څخه وروسته په دوهمه ورځ روژه اوساتی؟

۱: جواب: پاکستان ته د رارسيدلو څخه وروسته چی ترڅو روژه باقی وی ترهغه وخته پوری به د روژی ساتل په هغه باندی فرض وی ([1]).

۲: په مسئوله صورت کی هرکله چی هغه پاکستان کی صرف اته ويشت روژی نيولی وی او سعودی عرب ته چی ورسيدی، نو رمضان ختم سوی وو، نو هغه به دوی روژی قضاء راګرځوی.

۳: د هغه ورځی روژه يی اونه سوه، وروسته دی قضاء را وګرځوی. ([1])

---

[1] د (۲۰۱) صفحی اوله حاشيه وګوری. (محمد زبير).

۴: ترڅو چی پاکه سوی نه وی په ورځ کی خوراك څښاك کولی سی او د پاکيدو څخه مخکی د روژی نيت هم صحيح نه دی، د پاکيدلو سره هم د روژی نيت درست نه دی، که چيری په کوم وخت کی چی پاکه سوه، د هغه څخه وروسته ټوله ورځ خوراك څښاك د هغه د پاره جائز نه دی ([2]) او د هغه ورځی قضاء هم واجب ده. ([3]) او که په غلطی سره خوراك څښاك وکړی نو بيابه هم ورباندی کفاره نه راځی. ([4]) قضاء کافی ده.

والله سبحانه اعلم

۴/ ۱۰/ ۱۳۹۷

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۰۵ ج)

د روغ شخص د پاره روژه ساتل ضروری دی کفاره کافی نه ده

سوال: د رمضان المبارك مياشت ده خو ډير خلګ داسعادت قصداً او عمداً پريږدی (د بيماری څخه علاوه) او وايی چی وروسته به کفاره ورکړو، که کفاره اداء سی نوڅومره بايد اداء سی؟

جواب: د قوی او تندرسته سړی د پاره څه کفاره يا فديه نسته په هغوی باندی د روژی نيول فرض دی، کفاره د داسی بوډاګانو د پاره ده چی د کمزوری د وجی روژی نسی نيولی ([5])، او هغوی ته د قوت دوباره راتلو اميد هم نه وی داسی بوډاګان به د يوی

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۲۹۰، ۲۹۱ (يمنع الصلوة) مطلقًا ولوسجدة شكر (وصوم) وجماعا (وتقضيه) لزوما دونها للحرج، وفی الشامية تحته قوله وتقضيه ای الصوم علیٰ التراخی فی الاصح.
وفی الهداية ج: ۱ ص ۲۲۴ (مكتبه شركت علميه ملتان) واذا حاضة المراة او نفست افطرت وقضت.
وفی الجوهرة النيرة ج: ۱ ص: ۱۷۷ كتاب الصوم واذا حاضت المراة افطرت وقضت وكذا اذا نفست.... الخ. وكذا فی الهندية كتاب الصوم الباب الخامس ج: ۱ ص:۳۰۷.

[2] ...

[3] وفی الهداية ج: ۱ ص: ۲۲۵ (طبع مكتبه شركت علميه ملتان) واذا قدم المسافر او طهرت الحائض فی بعض النهار امسكا بقية يومهما... الخ.

[4] وفی الهداية ج: ۱ ص: ۲۲۳ (مطبع مذكور) واذا بلغ الصبی او اسلم الكافر فی رمضان امسكا بقية يومهما قضاء الحق الوقت بالتشبه ولو افترافيه لاقضاء عليهما لان الصوم غير واجب فيه.

[5] وفی كشف الاسرار للبزدوی ج: ۱ ص: ۱۵۱ تحت قوله تعالی (وعلی الذين يطيقونه فدية طعام مسكين) قرآء ابن عباس يطوقونه ويطيقونه. ای يكفلونه علی جهذه منهم وعشروهم الشيوخ والعجائز وحكم هؤلاء الافطار والفدية.... وفی قرآة ابن عباس: رضی الله عنه وعلی الذين يطقونه ای يكفلونه

روژی په عوض کی پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه قیمت دی صدقه کړی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۷/ ۹/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۰۴ج)

دکمزوری په وجه د روژی فدیه ورکول، په روژه کی د نامه څخه لاندی وربښته صفاکول

سوال: یوه ښځه چی د هغه ماشوم سوی دی، په رمضان کی روژی نسی نیولی او د هغه د پاره په ټول کال کی د روژی نیول مشکل دی آیا هغه د روژی فدیه ورکولی سی؟ او که روژه نیول ورته ضروری ده؟

۲: په روژه کی د نامه څخه لاندی وربښته صفا کولی سی؟

جواب: د تندرستی څخه وروسته روژی نیولو سره قضاء راګرځول ضروری دی (۲) تنها فدیه اداء کول کافی نه دی، فدیه د هغه بوډاګانو د پاره ده چی د هغوی د صحت او قوت د واپس راتلو امید نه وی (۳).

۲: بالکل یی لری کولی سی څه حرج نسته.

والله اعلم

۱۳/ ۹/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۹۵۱ج)

۱: د طبی هدایاتو په وجه پائیلټانو د پاره د روژی څخه شرعی حیثیت

۲: اکسیجن ماسک سره روژه فاسدیږی او که نه؟

فلایطیقونه وفی قرآة حفصة: وعلی الذین لایطیقونه وقیل هو الشیخ الفانی.... الخ. وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۲۷ ولشیخ الفانی العاجز عن الصوم الفطر ویفدی وجوبا..... الخ.

(۱) وفی الدر المختار باب الکفارة: ج: ۳ ص: ۴۷۸، ۴۷۹ فان عجز عن الصوم اطعم ستین مسکینًا کالفطرة، وفی الشامیة (قوله کالفطرة قدراً) ای نصف صاع عن بر او صاع من تمر او شعیر.... الخ.

(۲) د حوالی د پاره وګوری د ص حاشیه نمبر ع

(۳) وګوری تیره حواله ص: ( ) حاشیه نمبر ( ) او ص نمبر حاشیه ع وامداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۲۵۰، ص: ۲۵۱.

سوال: پائیلټانو ته د بعضی طبی وجوهاتو په وجه د روژی په حالت کی د پرواز کولو ممانعت دی، د ډاکټرانو هدایت داوی چی د جهاز الوزولو څخه دی مخکی دی پائیلټ ضرور څه ناڅه اوخوری، او د پرواز څخه په بیرته راتلو سره دی هم څه اوخوری. ورنه طبی نقطه نظر سره د هغوی په صحت ډیر خراب اثر غورځیدی سی ایا په دی صورت کی د پائیلټ روژه نه ساتلو اجازت د شرعیت د مخی کیدی سی؟ ورسره په هغه صورت کی چی کله پائیلټ جنګی جهاز الوزوی او د هغوی د تربیت په پروګرام کی لازمی وی، نو ایا د روژو په ورځو کی د هغوی الوتل او مسافت د خپل ځای څخه دومره لری وی چی هغه د پرواز کولو سره د مسافر په حکم کی راځی، نو آیا په دی صورت کی که هغه روژه اونه ساتی او وروسته یی قضاء راوړی نو داجائز دی او که نه؟

۲: د پائیلټانو د پاره اکسیجن ماسك لګول لازمی وی نو آیا د اکسیجن ماسك لګولو سره روژه باقی پاته کیدی سی او که نه؟

جواب: د ډاکټرانو بعضی هدایات محض د احتیاط په وجه باندی وی چی د هغه د خلاف ورزی د وجی واقعی څه نقصان عمومًا نه کیږی د داسی هدایاتو په وجه روژه پریښوول درست نه دی، لیکن که هدایات واقعًا داسی وی چی د هغه په خلاف ورزی سره د نقصان غالب ګمان وی، نو په داسی صورت کی پائیلټ د روژو پریښوول او په نورو ورځو کی د هغه قضاء اداء کول به جائز وی، د سفر د وجی بلاشبه د روژی د قضاء کولو اجازت سته. (۱) خو د سفر څخه مخکی په وطن کی خوراك شروع کول د ضرورت د شرط سره تړلی دی.

۲: اکسیجن ماسك لګولو سره که د خوا څخه ماسوا یا د هغه د څه جزء څه بل شی حلق ته نه ځی نو د دی په لګولو سره روژه نه ماتیږی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۹/ ۱۳۹۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۱۳۳ھ)

(۱) د حوالی د پاره وګوری د ص حاشیه ع

د فديې رقم څومره دی؟

د فديې رقم نن صبا حساب سره څومره دی؟

سوال: د روژې د فديې رقم نن صبا حساب سره څومره دی؟

جواب: د نن په حساب سره فی روژه پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه قیمت اداء کول دی.

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ

د روژې د فديې تفصیل

سوال: زید د اتیا کالو بوډا سړی دی چې هغه په خپل ژوند کې ترننه پورې روژه نه ده پرېښې، د روژې او لمونځ پابنده دی، خو په اتفاق سره د پرېوتلو د وجې د هغه یوه پونبې ماته سوله، او په هغه کې درز راغلی دی، صرف مخکنی پنځه واره روژې یې اونیولې د روژو د فدیې وس یې سته د روژې فدیه څه ده؟

جواب: که د عمر د زیاتوالی او د بیمارۍ په وجه آینده کله د روژو نیولو د طاقت د واپس کېدلو امید یې نه وي، نو د روژو فدیه ورکولی سي. خو که د طاقت واپس کېدلو امیدیې وي نو هم قضاء واجب ده، د فدیې ورکولو باوجود که هغه ته د روژې په نیولو طاقت پیداسو، نو قضاء نیول به ورته واجب وي، او د یوې روژې فدیه پاوکم دوه سیره غنم یا د هغه قیمت دی (۱) (چې نن صبا تقریباً پاوکم درې روپۍ دی) اوپوره درې روپۍ احتیاط اداء کولو پکار دی)

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۰۲۰ ۲۸ ج)

انجکشن سره د روژې څخه د ماتیدلو حکم

سوال: سیدنا المحترم زادت معالیکم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو په عالیه خدمت کې عرض دادی چې سنه ۱۹۹۲ھ کې زموږ یو استاد صاحب د ټیکې لګولو سره د روژې د نه ماتیدلو په سلسله کې ستاسو په خدمت عالیه کې یوه مراسله درلیږلې وه، چې د هغه جواب پیدانه سو، چنانچې اوس کله موقرجدیده البلاغ جنوري / شعبان په شماره کې بیا د روژې د مسائلو په ضمن کې داخبره شائع سوه نو

(۱) د صـ ۲۰۵ دوهمه حاشیه وګوری

هغوی د پخوانی تحریر فوټوسټیټ عکس بنده ته حواله کې، چې ستا په توجه سره د هغوی تحقیق پیش کوی، که څه هم ماته ستاسو په شعبه افتاء کې لیږل مناسب وو. خو ستاسو د ملاقات شرف حاصلولو په غرض یې ستاسو خدمت نه درلیږم، یوه جوابی لفافه ورسره ده، حضور والاته درخواست دی چې په خپل لیټرپیډ باندې بنده ته د دې جواب راولیږی او احسان مندمی کړې، د ټولې اداری د پاره دعاء کوم او ستاسو څخه په خصوصی اوقاتو کې د دعاء دست بسته استدعاء کوم. فقط والسلام. نصیر احمد طاهر.

هغه مضمون دادی:

د روژې په حالت کې ټیکې لګولو سره روژه ماتیږی

الحمد لله رب العالمین، والصلوٰة والسلام علی سید الانبیاء والمرسلین. وعلی اله وصحبه الطیبین والطاهرین.

امابعد: د روژې په حالت کې ټیکه لګول روژه فاسدوی، د شرعی دلائلو څخه په دې خبرې باندې ځان پوه کول په یوڅو مقدماتو باندې موقوف دی.

۱: الله تعالی فرمائیلی دی: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ وَمِنْ رِبَاطِ الْخَيْلِ تُرْهِبُونَ بِهِ عَدُوَّ اللهِ وَعَدُوَّكُمْ وَآخَرِينَ مِنْ دُونِهِمْ لَا تَعْلَمُونَهُمُ اللهُ يَعْلَمُهُمْ وَمَا تُنْفِقُوا مِنْ شَيْءٍ فِي سَبِيلِ اللهِ يُوَفَّ إِلَيْكُمْ وَأَنْتُمْ لَا تُظْلَمُونَ.

څومره چې قوة وي وساتی تاسې اسونه د دې کافرانو د جنګ د پاره چې د دې په ذریعه د الله ﷻ دښمنانو ته او خپلو دښمنانولره تاسو مرغوبه کړې، او د دې څخه علاوه هغه خلګ هم مرغوبه کړې چې تاسو یې نه پیژنې، هغوی الله ﷻ پیژنی، او د الله ﷻ په لاره کې چې څه هم خرڅ کوی نوتاسوته به د هغه اجردرکول کیږی او په تاسو به څه قسم ظلم هم نه کیږی.

(اخرج احمد ومسلم وابوداؤد وابن جریر، وابن منذر وابن ابی حاتم وابوالشیخ وابن مردویه وابو یعقوب اسحق بن ابراهیم القراب فی کتاب فضل الرمی والبیهقی فی شعب الایمان، عن عقبة بن عامر الجهنی رضی الله عنه قال سمعت النبی ﷺ یقول وهو علی المنبر: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ، اَلَا ان القوة الرمی. الا ان القوة الرمی قالها ثلاثًا. (الدر المنثور)

د عقبه بن عامر جهنی څخه روایت دی چې ما د نبی ﷺ څخه واوریدل چې په

منبرباندې يې فرمائيل: وَأَعِدُّوا لَهُمْ مَا اسْتَطَعْتُمْ مِنْ قُوَّةٍ، خبردار چې قوت چلول دی.
دري واره وفرمائيل، په دې آيت کې چې د قوة کوم لفظ دی د دې په تفسير کې نبی
کريم ﷺ د تيرچلولو فرمائيلی دی، د دې ټول تفسير باوجود په بيان القرآن کې ليکل
سوی دی چې اوس توپ او ټوپک د تيرقايم مقام دی، يعنی چلول به پريږدو او د هغه په
ځای د ټوپک وغيره چلول مشق کوو، اوس سوچ داکول دی چې د نبی کريم ﷺ بيان
سوی تفصيل بدلول ولی جائز سول؟

د دې جواب فقط همدا ممکن دی چې تيز چلول مقصود بالذات نه وو، بلکې د مقصود
حاصلولو په هغه وخت کې واحده ذريعه وه، مقصود بالذات په دې آيت کې صرف دا
امر وو چې د لرې ځخه د اسلام د دښمنانو د وژلو مشق وکړی، او د ليرې ځخه د دښمن
د وژلو په هغه زمانه کې ذريعه تيزچلول وو، بل څه ذريعه نه وه، او کله چې نوری
ذريعې د دې ځخه بهتری پيداسوی، نو د تير چلول ترك کول، او نور موجود ذرائع
وغيره اختيارول فرض سوی دی، ځکه چې تيزچلول مقصود بالذات نه وو، په حقيقت
کې حکم داوو، چې دښمنانو له د ليرې ځخه د وژلو مشق اوسی.

۲: کله چې د شارع ﷺ د ژبې مبارکې ځخه داسې الفاظ صادر سوی وی چې د ډيرو
معناوو محتمل وی، د ډيرو معناوو او د شارع ﷺ ځخه د يوی معنٰی تعين ثابت نه
وی او مجتهد په خپل اجتهاد سره د يوی معنٰی تعين وکړی او په دې تعين کې کوم
عين نه وی نو هغه متجد د ملامتيا قابل نه دی، بلکې د اجر مستحق دی، لکه چې
يوصحابی آيت (حتٰی يتبين لکم الخيط الابيض من الخيط الاسود) واوريدی، دوه
تارونه يوسپين او يو تور يې د شپې د بالښت لاندې کښې ښوولی وه، او امهات
المؤمنين رضی الله تعالی عنهنّ (اطولکن يدا) واوريدل نو د يو بل لاسونه يې ناپ کړل،
نو حضرت سوده رضی الله تعالی عنها د دې مصداق وګرځوله.

۳: کوم شې چې موږ خورو هغه په ميده کې پوخ سی، د آشجو مشابه شې چې هغه ته
کيموس وايې، بيا په هغه کې لطيفه ماده ماساريقا په ذريعه د زړه طرفته راځی، دی
لطيفی مادی ته کيلوس وايې بيا دا کيلوس په زړه کې پخيږی د پخيدلو په وخت کې د
هغه ځخه زګ پيداکيږی او څه ماده ته نشين کيږی دازګ ژړوی او ته نشين ماده
سوداء، کوم شې چې پوره پوخ سی هغه وينه وی، او څه چې کچه پاته سی هغه بلغم
وی، بيازړه دا څلور واره خلطی د رګونو په ذريعه هغه مقاماتو ته رسوی، د صفراء مقام
پته دی، او د سوداء مقام تلی، او د بلغم مقام پهيپهړی، بيا ځيګر دا وينه طرف ته

رسوی، او زړه په دې وينه کې روح حيوانی پيداکولو سره شريانونو لره يعنی پيږ
کيدونکی رګونو کې تقسيموی او هغه رګونه په پوره جسم کې وينه خوروی، همدا
وينه د جسم غذا ده، کله چې دا وينه په پوره طور سره جسم ته رسيږی نو د دې بعضې
اجزاء تحليل سی او صفاء کيږی او باقی اجزاء يې شعريه عروق جذب کوی او وريدونو
کې يې ساکن رګونو ته راوړی، او بيا د دې ساکن رګونو ځخه د جذب کيدو سره
ځګرته رسی او ځګر بيادانوی او رنړه وينه زړه طرفته منتقل کوی، د وينې دا چکر په
جسم انسانی کې ترژونده پوری جاری وی، زموږ د خوراك څښاك انجام همداوينه ده
چې د ټول جسم غذاء ده.

الشروع فی المقصد: الله جل جلاله فرمائيلی دی: يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا
كُتِبَ..... الخ.

ترای د ايمان خاوندانو! په تاسو باندې روژه نيول داشان فرض سوی دی لکه څنګه چې
ستاسو ځخه مخکې خلګو باندې فرض سوی دی لکه چې ستاسو ځخه مخکې خلګو
باندې فرض سوی وه، او په دوهم ځای کې يې فرمائيلی دی: (كُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ)
يعنی ترصبح صادق پوری خوری او څښی، په اول آيت کې يې د روژی حقيقت نه دی
بيان کړی په دوهم آيت کې په طريقه د مفهوم مخالف د اکل او شرب ترك طرفته يې
اشاره کړی ده، په لغت کې د صوم معنٰی امساك ده، او شرعی معنٰی يې ده د صبح
صادق ځخه د لمر ترپريوتو پوری د خوراك، څښاك او جماع ځخه امساك مع النيت د
روژی دا شرعی معنٰی په قرآن مجيد کې ذکر نه ده، بلکې دا معنٰی د سنت نبويه ځخه
ماخوذ ده، د مسلمانانو په اجماع سره اکل، شرب او جماع د روژی مقصد ګرځول سوی
دی، په نورو الفاظو سره د صائم د پاره داضروری اوګرځيدل چې د روژی په حالت کې
شهوت بطن او شهوی فرج د پوره کولو ځخه پرهيز وکړی، فقهاء کرامو په تفصيل سره
په احکام الصيام کې د معدی او د ماغ حفاظت ضروری ګرځولی دی، ځکه چې بدن ته
د غذاء رسولو واحده ذريعه معده ده، او فرج ته قوت شهوانيه ورکولو والا ذريعه فقط
دماغ دی، حفظ معده او حفظ دماغ لره د صوم بقاء ګرځول او په دې دواړو کې يوه ته
داسې شې رسول چې په هغه کې د بدن صلاح ده د صوم فساد شميرل په طبی نظريې
باندې مبنی دی، په دې باندې هيڅ شرعی دليل موجود نه دی، په دغه شان معدی او
دماغ پوری رسيدونکی شې د منافذو په لاره فطريه کې محصور کول هم د څه شرعی

دليل نه ماخوذ نه دی.

فتاوی عثمانی دوهم جلد د دی مسائلو بنیاد اینبی دی، د سنت نبویه څخه دلیل نه ماخوذ نه دی. فقهائی کرامو په امور معتاده کی د دی مسائلو بنیاد ایښی دی، د سنت نبویه څخه
نقهائی کرامو په امور معتاده کی فساد صوم کوم معیار چی ورکول سوی دی هغه بالکل ساده او
موږ ته د بقائی صوم او فساد صوم کوم معیار چی ورکول سوی دی هغه بالکل ساده او
عام فهمه دی، په طبی باریکی کی د ننبلیدو حاجت نه پاته کیږی، هغه دادی چی په
جسم کی داخلیدونکی شی سره روژه ماتیږی، که څه هم د دی حدیث په رفع باندی
محدثینو کرامو بحث کړی دی، او دایی حدیث موقوف ګرځولی دی، خو د دی د حکما
مرفوع کیدلو څخه څوك عالم هم انکار نسی کولی، د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنه
قول چی عبد الرزاق په خپل مصنف کی په پوره سند سره لیکلی دی هغه دادی: قال
انما الوضوء مماخرج ولیس مما دخل والفطر فی الصوم مما دخل ولیس مماخرج.
حضرت ابن عباس رضی الله عنه اوفرمائیل: چی اودس د بهروتونکی شی سره ماتیږی او دننه
تلونکی شی سره نه ماتیږی، او روژه دننه تلونکی شی سره فاسدیږی د وتونکی شی
سره نه ماتیږی په دی اثر کی یی د روژی او اودس بقاء او فساد یو دبل تضاد وښوول.
د دی تقابل څخه داخبره ثابته او واضحه سوه، چی د ننه تلونکی شی مفسد د روژی
دی، د دی د دخول د پاره د منافذ فطریه څه قید نسته، برابره خبره ده که دخول منافذ
سره وی یا غیر منافذ سره، ځکه چی په دی اثر سره باتقابل د اودس فساد یی د خروج
سره ښوولی دی. برابره خبره ده که هغه خروج منافذو سره وی یا غیر منافذو سره. لکه
چی د بدن په څه حصه کی ازغی ننوځی، او وینه څنی جاری سی نو اودس به مات سی
حالانکی وینه د غیر منفذ څخه اوځی، دغه شان د څه شی دخول برابره خبره ده که هغه
دخول منفذ شی سره وی او که غیر منفذ سره نو د روژی مفسدیی ګرځولی دی. داهم د
دی امر تائید دی چی د دخول د پاره منفذ فطری شرط نه دی، دغه شان د فقهائی کرامو
بیان سوی ډیرشی مسائلو کی تضاد پیداکیږی.

راغلو د مطلب خبری ته: په دریم نمبر مقدمه کی داذکر سویدی چی هره غذا یا دواء
چی معدی ته ځی د دری هضمونو څخه وروسته مستحیل الی الدم کیږی او همداوینه
په حقیقت کی د پوره جسم غذاده، د معدی او ځیګر په مینځ کی اعضاء خادمه دی.
اوس نوی طب ټیکه ایجاد کړیده، د یوی پوهتنی په ذریعه براه راست دواء یا غذا په
وینه کی داخلیږی، په وینه کی دا دواء یاغذا ملاویدو سره د معدی والا دواء یا غذا
څخه ډیر ژر فائده حاصلوی، نو ښکاره ده چی د حدیث شریف په بیان سوی معیار
مطابق ټیکه لګولو سره دواء یا غذاء دننه داخلیږی لهذا د دی سره به روژه فاسده سی؟

د روژی په حالت کی د ټیکی مجوزین دی غور وکړی چی د روژی علت د شهوت ماتول
دی ټیکه لګولو سره د روژی په حالت کی په شهواتو کی قوت پیداکیږی، نو روژه به
عبادت پاته نسی.

د دی مجوزینو څخه موږ دا پوښتنه کوو، چی د روژی څخه علاوه په عامو حالاتو کی د
نشی ټیکه لګول جائزده او که نه؟ که ووائی چی جائز ده، نو بیا ستاسو دافتوی (کل
مسکر حرام) خلاف ده، لهذا باطل ده، او که هغوی جواب ورکی چی جائزه نه ده، نو
موږ د هغوی څخه د دلیل پوښتنه کوو، دلیل د بیانولو سره به هغوی لامحاله وایی چی
د نشه آوری دواټیکه لګول د نشه آوری دواء خوړلو یا څښلو حکم لری. هذا
هوالمطلوب.

موږ هم داخبره کوو، چی د ټیکی لګولو حکم د خوراك څښاك په شان دی الحاصل: حق
خبره داده: چی لکه څرنګه د قوت تفسیر څه زمانی وروسته د رمی په عوض په ټوپك او
توپ چلولو سره سوی دی، بعینه همداشان د تغذیی او مداوی په معدی او دماغ کی
حصر باقی پاته نه دی، بلکی نوی طب ثابت کړل، چی تغذیه او مداوی د معدی او د
ماغ په ذریعه هم کیږی، او براه راست د ستنی په ذریعه دواء یا غذا وینی ته رسولو
سره هم کیږی، اوس د امساك عن الاكل والشرب معنی امساك عن التغذیه والمداواه
به وی، کله چی د قوة تفسیر د هغه په علت غائیه سره سوی دی یعنی قتل الاعداء من
بعید، دغه شان د اکل او شرب تفسیر د هغه په علت غائیه سره کیدی سی یعنی تغذیه
ومداواة مطلقا.

علامه الوسی په روح المعانی کی آیت (وَاِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ) لاندی په
صوفیانو کرامو باندی سوی د اعتراض په جواب کی فرمایی:

فیجوز ان یعطی الله تعالی لبعض خواص عباده فهما یدرك به من الكتب والسنة مالم
یقف علیه احد من المفسرین والفقهاء والمجتهدین فی الدین، دا ممکنه ده چی الله
جل جلاله خپلو خاصو بنده ګانوته داسی فهم ورکړی چی د هغه په ذریعه سره هغوی د کتاب
او سنت داسی داسی معانی معلومی کړی چی په هغه باندی، په مفسرینو، فقهاوو،
مجتهدینو کی یوهم نه وی خبرسوی، لهذا دا اعتراض ختم سو چی کوم مفسر د اکل او
شرب معنی مطلقا تغذیه او مداواة نه ده لیکلی، فقهاء کرامو اکل او شرب معتاد ته
کتلو سره معدی او د ماغ ته منافذ فطریه په ذریعه کومه دواء یا غذا رسیدلوته د
روژی د فساد شرط په دی وجه ګرځولی دی، چی د اکل او شرب متبادر مفهوم هم

دادي: که څه هم (کلوا واشربوا حتی یتبین) کې دامتبادر مفهوم مراد نه دی بلکې مطلقاً تغذیه او مداواة دي، برابره خبره ده که هغه د معدي او دماغ په ذریعه په لاره د منافذ فطریه وي یا د منفذ مصنوعي، په ذریعه په مستقیم ډول په وینه کې د یوځای کیدلو سره وي.

د فقهائی کرامو دا عدم اصابت د هغوی د رفعت علم د پاره قادح نه دی لکه چې د امهات المومنین د طول د لفظ څخه طول حسی ګڼل او د صحابي رضی الله عنه خیط الابیض او خیط اسود په متبادر تار باندی حمل کول د هغوی د علمی لوړوالی د پاره صفت کوونکي (قادح) نه وو، که څه هم که امهات المؤمنین او صحابي په معنایي مرادي باندي پوه نه سول، د اتمام حجت د پاره داکربښي کافي دي.

د دي کرښو څخه داخبره واضحه سوه چې ټیکه لګولو سره روژه فاسدیږي، او په دې سره صرف د روژې قضاء لازمه ده کفاره نه، ځکه چې په دې فساد کې لذات نفسانیه نشته، د علمائي کرامو ﷺ په خدمت کې خواست دی چې هغوی دې په دې خبره باید سوچ وکړي، چې په کوم ځای دلائل د اباحت او د لائل د تحریم متعارض وي هلته د جانب تحریم ترجیح لازمه ده، د دې تفکر څخه وروسته دي اعلان وکړي چې د روژې په حالت کې ټیکه لګول د روژې مفسد دی، چې صبا د احکم الحاکمین په دربار کې داونه وئیل سي: ربنا انا اطعناسادتنا وکبراء نا فاضلونا السبیلا. والسلام وماعلینا الاالبلاغ.

جواب: محترمی ومکرمی! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط او د هغه سره د مولانا عبد الرزاق هاشمي صاحب مضمون په سلسله (روژه) ملاوسو، د دې څخه مخکې دا مضمون ویل راته یاد نه دی. احقر اوس ولیدلو. خو د دې طرز استدلال سره اتفاق اونسو، د تفصیل موقعه نه ده خو مختصراً عرض دادي: چې په منسلک تحریر کې استدلال حکمت د علت سره خلط ملط کولو نتیجه ده، د شهوت ماتول لکه چې صاحب د تحریر لیکلی دی د روژې علت نه دی حکمت دی او د حکمت په هره جزئیې کې پیداکول ضروري نه دي، که د منافذ اصلیه او غیر اصلیه فرق اونه سي، نوبیا وئیل پکار دي چې کوم سړی په روژې کې غسل وکړي او په هغه سره د هغه د تندې څه تسکین اوسي نو په هغه سره د هغه روژه ماته سوه، ځکه چې شرب ما، کې چې کوم تسکین د عطش مقصود دی، هغه داشان هم حاصل سو، که د غیر اکل او شرب څخه حاصلیدونکي تغذیه د روژې ماتوونکي وي، نو نص صریح دی

چې (ربي یطعمني ویسقیني) [1] د اسقی او اطعام ولی د روژې ماتونکی نه دي، د صوم اصل مقصود اتباع ده او هغه په امساك عن الاكل والشرب والجماع سره حاصلیږي که په کومې بلې ذریعې سره تغذیه وي نو هغه د دې منافي نه ده، او که اکل او شرب پیداکولي سي او تغذیه نه وي، لکه د کاني د تیریدلو په صورت کې نو روژه ماتیږي. لهذا د روژې مدار په تغذیه باندې نه دي په اکل او شرب باندې دي. [2] والسلام.

(حضرت مولانا مفتي)

محمد تقي عثماني (مدظلهم)

بقلم محمد عبدالله میمون

۱۱/ ۹/ ۱۴۱۵هـ

د روژې په حالت کې د زړه دوره راتلو په وجه که اوبه وچښل سي نو څه حکم دی؟

سوال: چاته چې د پیشلمي څخه وروسته د زړه سخته دوره راغله، د ډیر کوشش څخه وروسته هم په هوش کې رانغلی مجبوراً مو د اوبو یوه قاشوغه ورکړله چې د هغه په وجه پنځلس (۱۵) منټه وروسته په هوش کې راغلی، چاچي مي روژه پرېښوول نه برداشت کول، بغیر د پیشلمي څخه هم روژه نیسي، موږ هغه ته د بیهوشي په حالت کې یوڅو قاشوغې اوبو ورکولو سره روژه مو باندې ماته کړله او هغه په هوش کې نه وو د دې به څه کفاره اداء کول وي؟

جواب: په مسئوله صورت کې چاته چې پکار دي چې د هغه روژې قضاءدې راوړي، په

---

(۱) وفي صحیح البخاري کتاب الصوم باب الوصال.... الخ. ج: ۱ ص: ۲۲۳ (طبع قدیمي کتب خانه) عن عائشة قالت: نهی رسول الله ﷺ عن الوصال رحمةلهم، فقالوا: انك تواصل! قال: اني لست کهیئتکم، اني یطعمني ربي وسقیني.... الخ. همدارنګه: یطعمني ربي ویسقیني او د دي مفهوم مختلف الفاظ په صحیح البخاري کې دې باب او ج: ۱ ص: ۲۲۳، ۲۲۴ (طبع قدیمي کتب خانه) مختلف روایتونه وارد سوي دي.

(۲) د دې مسئلې د مزید تفصیل د پاره د حضرت مولانا مفتي محمد رفیع صاحب کتاب ضابط المفطرات، او البلاغ شماره رمضان ۱۴۲۲هـ کې وګورئ (از مرتب عفي عنه).

مذکوره صورت کی کفاره واجب نه ده. [۱]

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۱۰۳۱ ج)

د لمر د غروب څخه مخکی د افطار کولو حکم

سوال: پرون مورخه ۲۹/ اګست سنه ۱۹۷۷ د مابښام څخه مخکی په ریډیوباندی د غلطی څخه اذان اوسو. او ما دا اوګڼل چی د افطار وخت اوسو افطارمی اوکی، د حلق څخه تذالږ کښته سوی وه. نومعلومه سوه چی آذان د وخت څخه مخکی نشر سوی دی، ګذارش دادی چی د فقه حنفی د مخی د دی روژی څه حکم دی؟ قضاء راوړل به وی او که بری ذمه یم؟

جواب: په مسئوله صورت کی تا د غروب آفتاب څخه مخکی څه اوخوړل نو ستا روژه ماته سوه، ستا په ذمه د هغه روژی قضاء راوړل واجب دی، البته کفاره واجب نه ده. لمافی المتون او تسحر او افطرظن الیوم لیلا والفجر طالع والشمس لم تغرب قضی فقط. (شامی ج: ۲ ص: ۱۰۵) [۲]

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/ ۹۲۰ ج)

د صبح صادق څخه وروسته په پیشلمی کی د اخته اوسیدلو حکم

د ریډیو د غلط اعلان په وجه د غروب د لمر څخه مخکی د افطار کولو حکم

---

[۱] وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۰۷ المریض اذاخاف علی نفسه التلف او ذهاب عضو یفطر بالاجماع وان خاف زیادة العلة وامتداده فکذالك عندنا وعلیه القضاء اذا افطر وکذا فی البحر الرائق فصل فی العوارض ج: ۱ ص: ۲۸۱، ۲۸۲ والشامیة ج: ۲ ص: ۴۲۲.

[۲] فتاوی شامیه ج: ۲ ص: ۴۰۵ وفی الهدایة باب مایوجب القضاء ج: ۱ ص: ۲۲۵ (طبع شرکت علمیه) واذا تسحر وهویظن ان الفجر لم یطلع فاذا هوقدطلع..... علیه القضاء...... ولاکفارة علیه لان النجایة قاصرة لعدم القصد وفی تبیین الحقائق شرح الکنز کتاب الصوم ج: ۱ ص: ۳۴۱، ۳۴۲ (طبع مکتبه امدادیه ملتان) ولو..... تسحرظنه لیلا والفجر طالع او افطر کذالك والشمس حیة امسك یومه وقضی ولم یکفر..... الخ. او همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۱۲۸.

سوال: د پیشلمی آخری وخت ۴۵: ۴ دی او اذان په پنځه بجی کیږی، ایا موږ ترپنځو پوری پیشلمی خوړلی سو؟ او د پنځو څخه وروسته هم خوړلی سو؟ او آخری وخت څه دی؟ او د پنځو بجوپوری خوړلو سره به په روژه څه اثر پریوځی؟

۲: د پیر د ورځی روژه چی پنځه منټه مخکی د ریډیو والا څخه په غلطی سره خلاصه سوی ده او ایا دابه دوباره بیانیول وی؟

جواب: د صبح صادق د ختلو څخه وروسته که دی یومنټ نوره هم وخوړله نوروژه فاسده سوه، لهذا که پاوکم پنځه بجی صبح صادق کیږی نوتر پنځوبجو پوری څنګه خوړلی سی؟ [۱] هو! بعضی اوقات په هغه نقشو کی د سهار دختمیدو وخت د صبح صادق څخه څومنټه مخکی لیکلی وی د دومره منټه ناوخته پوری خوړلو سره به روژه نه ماتیږی، لهذا اصل شی صبح صادق دی، او د دی صحیح معلومات ساتل پکار دی، د دار العلوم په نقشه کی د صبح صادق وخت دی.

۲: هوجی! کومو خلګو چی په دغه اعلان باندی د غروب څخه مخکی افطار اوکی [۲] په هغوی باندی قضاء لازمه ده.

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/ ۹۵۵ ج)

په کینیډاکی د روژی ساتلو د پاره د بیماری سرټیفیکیټ اخستلو حکم

سوال: دلته په کینیډاکی روژه اووه لس نیمی ګینټې وی په بعضو فکټریانو کی د مشقت زیاتیدلو په وجه د کمزوری سړی د پاره روژه سرته رسول مشکل کیږی بلکی بعضی خلګ خو روژی هم پریږدی، که کوم سړی د روژی نیولو د پاره د ډاکټر څخه د ناجوړی سرټیفیکټ اخلی او هغه بیمار نه وی او چوټی کوی، آیا هغه ته په دی چټیانو کی د بیماری الاونس اخستل جائز دی؟

جواب: په مسئوله صورت کی د روژی د پاره د بیماری سرټیفیکټ اخستل په دی تاویل سره کیدی سی چی د روژی په حالت کی د انسان صحت عمومًا بالکل په اعتدال کی نه وی کم ترکمه کمزوری ورته وی نو په دی تأویل سره الاونس هم اخستلی سی خو

---

[۱] ایضًا.

[۲] د تفصیل د پاره پورتنی اوله حواله وګوری.

دادی په هغه وخت کی اوسی کله چی د چتی څخه بغیر روژه نیول بالکل ممکن نه وی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۷/ ۹/ ۱۳۹۹هـ

(فتوی نمبر ۱۲۵۰/ ۳۰ د)

د وخت څخه مخکی عمداً د افطار په صورت کی قضاء او کفاره دواړی لازمی دی

سوال: مسمٰی حبیب الرحمٰن امام مسجد د رمضان په میاشت کی دوی ورځی د ضد په وجه د وخت څخه مخکی په خلګو باندی روژه ماته کړله، د هغه په دی جرم باندی شریعت کی دعوه پیش سوه چی د هغه په جواب کی هغه تحریری خط راولیږی چی د هغه مضمون په لاندی ډول دی.

نمبر ۱: د ټولو څخه اول حضرت ادم ؑ غلطی کړی ده او مسلسل نورو پیغمبران هم غلطی کولو سره راروان دی نو ماځه غتهٔ غلطی کړی ده چی په خلګو باندی می د وخت څخه مخکی روژه ماته کړی ده.

نمبر ۲: په ماېو عالم باندی د دروغو او بی بنیاده الزام او بهتان ولګول سو اوس پوښتنه داکول دی چی د جرائمو مرتکب په خلاف څه حکم دی، روژه مخکی د وخت څخه ماتول، د پیغمبرانو سره غلطی منسوب کونکی د پاره د قرآن مجید او د مجتهدینو په نزد څه حکم دی؟

او کوم مسلمانان چی په داسی امام پسی وی د هغوی په باره کی څه حکم دی؟

جواب: د وخت څخه مخکی روژه ماتول پابل څوک په روژه ماتولو باندی مجبوره کول ډیره لویه ګناه ده، او کومو خلګو چی قصداً چی تراوسه د روژه ماتی وخت یعنی د لمر غروب نه وو سوی او روژه یی ماته کړله، په هغوی باندی قضاهم واجب ده او کفاره هم، او کوم سړی چی محض د ضد د وجهی داسی غلطی کړی ده، نو په هغه باندی واجب

(۱) یستانس ویوید فیها بهذه العبارة: وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۴۲۰ (طبع سعید) وقال الرملی وفی جامع الفتاوی ولوضعف عن الصوم لاشتغاله بالمعیشة فله ان یفطر ویطعم لکل یوم نصف صاع ای اذا لم یدرک عدة من ایام اخر یمکنه الصوم فیها ولاوجب علیه القضاء وعلی هذا الحصاد اذالم یقدر علیه مع الصوم ویهلك الزرع بالتأخیر لاشك فی جواز الفطر والقضاء وکذا الخباز..... الخ.

دی چی د خپلی ګناه څخه توبه وکاږی، د دی عمل تاویلونه کول او د پیغمبرانو په صف کی هغه درول بدترینه ګستاخی ده، داسی سړی ته فوراً د خپلی ګناه څخه توبه کاږل پکار دی او که توبه اونه باسی نو په هغه پسی لمونځ کول مکروه تحریمی دی.

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۱۱/ ۱۴۰۱هـ

(فتوی نمبر ۱۱۹۵/ ۳۲ ج)

د پیشلمی د خوړلو په وختونو کی د امداد الفتاوی او د شامی په عبارت کی هیڅ تعارض نسته

سوال: په فتاوی امدادیه کتاب الصوم ج: ۱ ص: ۱۲۷ کی دی چی فقهاوو احتیاط کړی دی چی د غروب څخه ترطلوع پوری څومره وخت دی هغه یی په اوو حصو تقسیم کړی دی په شپږو حصو کی پیشلمی خوړلی سی، تفسیر تنویر الایمان پ۲ ع۷ کی هم داشان دی، په حواله د درمختار خوما په درمختار کی نه دی کتلی خو په هندیه او شامی کی دی چی د پیشلمی خوړلو مستحب وخت د شپی آخری حصه ده یعنی آخری شپږمه حصه، د دی عبارت څخه معلومیږی چی د غروب څخه ترطلوع د شمس پوری ټول وخت چی څومره دی هغه دی په شپږو حصو تقسیم سی، په شپږو حصو کی پیشلمی خوړلی سی په اوو باندی تقسیمول نه معلومیږی، په ظاهره تعارض معلومیږی داختم کړی.

جواب: په امداد الفتاوی او شامی کی هیڅ تعارض نسته امداد الفتاوی کی یی لیکلی دی چی د غروب شمس څخه ترطلوع شمس پوری وخت اوو حصو کی تقسیم کړه په دی کی په شپږو حصو کی پیشلمی خوړلی سی او اوومه حصه شروع کیدو باندی احتیاط پیشلمی خوړل بند کړی او په شامی کی لیکلی دی چی د غروب شمس څخه د صبح صادق ترطلوع پوری چی کوم وخت دی هغه په شپږو حصو باندی تقسیم کړه نو په شپږمه حصه کی پیشلمی خوړل مستحب دی، لهٰذا هیڅ تعارض نسته ځکه چی اول الذکر کی طلوع الشمس پوری وخت تقسیمولی سی او ثانی الذکر کی د صبح صادق پوری وخت ته. (وګوری شامی ج: ۲ ص: ۱۱۴ او آخر باب مایفسد الصوم (۱) امداد

(۱) وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۴۱۹ (طبع سعید) (سحر)..... وهواسم للماکول فی السحر وهوالسدس الاخیر من اللیل..... الخ.

الفتاوی کتاب الصوم ج: ۲ ص: ۷۵ (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱/۲۵ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۳۵، الف)

په روژه کې د مسواک جويښلو حکم

سوال: په روژه کی د مسواک جويښل جائز دي او که نه؟

جواب: مسواک کول خو جائز دي خو د جويښلو څخه يې حتی السوع پرهيز کول پکار دي، بنه داده چې مسواک دی د اول څخه جوړسي، خوبياهم روژه د مسواک په جويښلو سره نه ماتيږي ترڅو چې عرق حلق ته اونه رسيږي في الدر المختار: وکره مضغ علك، وقال الشامي رحمه الله تحته: ولان العادة مضغة خصوصاً للنساء لانه سواكن کمايأتی، ج: ۲ ص: ۱۱۲ (۲)، وقد صرح الشامي ان الكراهة تنزيهية.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۱۰/۱۲ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۵۱، ج)

د روژې نيت ترڅه وخته پورې کولی سی؟

سوال: که په رمضان کی د نيمی ورځی څخه مخکی نيت کول هيرسی، د نيمی ورځی تيريدلو څخه لږوخت وروسته ورته راياد سول او نيت يې وکړی نو دابه جائز وی؟او روژه به يې صحيح سی او که نه؟

جواب: د روژې د صحت د پاره د نيمی ورځی د تيريدلو څخه مخکی مخکی نيت کول ضروري دی، د دی څخه بغير روژه نسی کيدی خو دادی هم واضح وی چې د نيت مطلب د زړه اراده ده په ژبی سره څه وئيل ضروری نه دی لهٰذا که اراده يې د روژې وه او په ژبی سره يې څه الفاظ نه وه وئيلی نو روژه صحيح سوه.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۱/۱۰/۲۱ھ

---

(۱) امداد الفتاوی کتاب الصوم والاعتکاف ج: ۲ ص: ۹۵، ۹۶ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)

(۲) المختار ج: ۲ ص: ۴۱۲ (طبع سعيد) همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۱۴۰، ۱۴۱ (محمد زبير)

د روژې د فديئی مقدار او د هغه د اداء کولو مختلف احکام

سوال: د زړه د ناجوړی په وجه او د جسم او ځان د کمزوری او ورسره د ډاکټر په ايمانی باندی می د رمضان روژی اونه نيول سوی اوس د روژو فديه فرض ده او که واجب؟ د تولی مياشتی فدية به څومره پيسی وی؟ دا په يوځای ورکړو او که لږ لږ اداء سی؟ د رمضان په مياشت کی اداء سی ياترکومی مودی پوری اداء کولی سو؟

جواب: که مرض داسی دی چې د قابل ډاکټر په رايه کی دوباره د دومره قوت راتلو اميد دی چې په هغه کی روژی نيولی سی نوفديه کافی نه ده، او د هغه روژو قضاء ضروری ده، خو که د داسی قوت راتلو اميد نه وی نو فديه ورکولی سی (۱) د يوی روژې فديه يوسير او دولس نيمی چيټاکی غنم يا د هغه قيمت دی، (۲) او د ديرشو روژو فديه داشان درو پنځوس سيره اونه چيټاکی غنم جوړيږی، د دی قيمت د بازار په معلومولو سره هم اداء کولی سی (خوقيمت د غنمو معتبر دی نه د وړو) هره ورځ دی د پاوکم دوه سيره غنمو قيمت ورکوی، (۳) او د فديئی مستحق هم هغه دی کوم سړی چې د زکوٰة مستحق دی يعنی هغه سړی چې د چاسره دوه پنځوس نيمی تولی سپين زر يا د هغه قيمت برابرڅه شی د ضرورت څخه زيات نه وی، فديئی د پاره ضروری نه ده چې هم په رمضان کی دی اداء سی، وروسته هم ورکولی سی خو چې څومره جلتی وکړی هغونډی بهتره ده. والسلام.

۱۳۸۸/۹/۲۹ھ

(فتوی نمبر ۲۹/۲۰۱۱ ج)

---

(۱) وفی الرد المختار ج: ۲ ص: ۴۲۷، المريض اذا تحقق اليأس من الصحة فعليه الفدية ليكل يوم من المرض.

(۲) وفی تنوير الابصار ج: ۲ ص: ۷۲ واوصی بالكفارة يعطی لكل صلوٰة نصف صاع من برّ كالفطرة، او همدارنګه وګوری کفاية المفتی (جديد ايډيشن، دار الاشاعت) ج: ۴ ص: ۱۷۸.

(۳) وفی الهندية ج: ۱ ص: ۵۱۳ ولواعطی مسكينا واحدا كله فی يوم واحد لايجزيه الاعن يومه ذالك وهذا فی للاعطاء بدفعة واحدة واباحة واحدة من غيرخلاف واما اذا ملكه بدفعات فقد قيل يجزيه وقيل لايجزيه الا عن يومه وذالك هو الصحيح كذا فی التبيين، وفی الشاميه ج: ۱ ص: ۷۲۵ لو اعطی مسكينا واحدا فی عشرة ايام نصف صاع ويجوز ولو اعطاه فی يوم واحد بدفعات فی عشرساعات قيل يجوز، وقيل لا، رجّح الصحيح، وكذا فی فتاوی قاضی خان علی هامش الهندية ج: ۲ ص: ۱۸-۱۹ والتاتار خانية ج: ۵ ص: ۶۰.

د نسوارو په استعمال سره روژه فاسديږي

سوال: نسوار چې په هغه کې چونه وغيره اچوي او په خُله کې يې ايږدي د دې شرعي حکم څه دی؟ بعضې خلګو دې ته حرام او بعضې دې ته مباح وايي آيا په دې سره روژه ماتيږي؟

جواب: د تنباکو، نسوارو وغيره استعمال مباح دی او په دې سره به روژه فاسديږي ځکه چې نسوار په خوله کې اېښوول عملاً د خوړلو په حکم کې دي.

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه ۱/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

احقر محمد تقی عثمانی

(والله اعلم)

۱/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

(فتویٰ نمبر ۲۳۲/ ۱۹- الف)

د يوم الشک د روژې حکم

سوال: بعضې خلګ د يوم الشك روژې ته مکروه وايي: عن عمار بن ياسر قال: من صام اليوم الذی يشك فيه فقد عصیٰ ابا القاسم ﷺ (۱)، او بعضې وايي چې د يوم الشك روژه جائز ده او دا حديث ضعيف ګرځوي، لهٰذا تاسو ووایاست چې څنګه کول پکار دي؟

جواب: دا حديث که څه هم مرفوع نه دی خو موقوف دی او موقوف د مرفوع په حکم کې دی: لان الصحابی لايقول ذالك من قبل رايه فيكون من قبيل المرفوع، (بذل المجهود ج: ۴ ص: ۱۳۴) (۲) په همدې وجه د احنافو مسلك دادی، چې عوام دې په دې ورځ روژه نه ساتي، خو د نورو دلائلو په رڼا کې د خواص اهل فتویٰ د پاره اجازت ورکول سوي دي: قال فی رد المختار: استحب صومه للخواص. قال فی الفتح وقيده فی التحفة بكونه علی وجه لايعلم العوام ذالك كی لايعتادوا صومه، فيظنه الجهال زيادة علی رمضان ويدل عليه قصة ابی يوسف المذكورة فی الامداد. (شامي ج: ۲ ص:

---

(۱) مشكوٰة المصابيح، كتاب الصوم، باب رؤية الهلال ج: ۱ ص: ۱۷۴ (طبع قديمی كتب خانه)

(۲) بذل المجهود ج: ۲ ص: ۱۳۴ (طبع مكتبه قاسميه ملتان)

۳۸۲) (۱) او که خواص هم د دغه حديث په وجه روژه اونه ساتي، نو څه حرج نسته، هو! که د چاعادت وي چې هغه کومه خاص ورځ روژه نيسي او هغه ورځ په يوم الشك کې راغله نو بيانولی سي، قال عليه السلام: لاتقدموا رمضان بصوم يوم ولايومين الارجل كان يصوم صوما فيصومه رواه الستة. (فتح القدير ج: ۲ ص: ۵۴) (۲)

والله اعلم

۳/ ۱۱/ ۱۳۸۷هـ

(فتویٰ نمبر ۱۳۳۴/ ۱۸- الف)

د ريډيو په غلط اعلان بلندی د غروب لمر څخه مخکی د افطار کولو حکم

سوال: يوه ورځ ريډيو پاکستان کراچی د ماښام اذان د وخت څخه پنځه منټه مخکی ورکی چی د هغه په وجه د اکثرو خلګو روژی خرابی سوی، او هغوی روژه ماته کړله، بيا اذان بندسو، خلګو خوراك کول پريښوول بيا اذان اوسو، ډيرو خلګو روژه ماته نه کړله. د دې دواړو څه حکم دی؟

جواب: کومو خلګو چی د غروب څخه مخکی روژه ماته کړله که څه هم د ريډيو د غلط اعلان په وجه يې ماته کړی وه، په هغوی باندی د دغی روژی قضاء واجب ده، که څه هم د صحيح وخت معلوميدلو څخه وروسته انتظار سوی وی يايې خوراك څښاك جاری ساتلی وی، قضاء په دواړو صورتونو کی واجب ده (۳).

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۹۷۷/ ۲۸- ج)

---

(۱) ردالمختار ج: ۲ ص: ۳۸۲ (طبع ايچ ايم سعيد)

(۲) فتح القدير ج: ۲ ص: ۲۴۵ (طبع مكتبه رشيديه كويټه)

(۳) وګورئ د تيری صفحی ع۔۲ ۲۰۲ حاشيه ع۔۳ او امداد الفتاویٰ سوال: ۱۸۵ ج: ۲ ص: ۱۲۸.

باب الاعتکاف

د اعتکاف مسئلی

د رمضان د اخری عشری اعتکاف بغیر د روژی څخه نسی کیدی

سوال: څوکسان په یوجامع مسجد کی د رمضان په آخری عشره کی د اعتکاف د پاره ناست وه، په هغوی کی یوسړی د اعتکاف په حالت کی په تبه کی مبتلاء سو، د نه رغیدلو په صورت کی علاج معالجی ته ضرورت سو مجبوراً تارك الصوم سو او اعتکاف یی پرېښوی، او د علاج د پاره د اهل او عیال خواته ولاړی، اوس پوښتنه داکول دی چی د رمضان په اخری عشره کی بغیر د روژی څخه اعتکاف کیدی سی؟ او که نه؟

۲: که بغیر د روژی څخه اعتکاف کیږی نو د هغه اعتکاف مات سو او که نه؟

جواب: ۱: د رمضان المبارك د آخری عشری اعتکاف چی مسنون دی د هغه د پاره روژه شرط ده، لهٰذا په کومه ورځ چی روژه ماته سوه د هغه ورځی څخه اعتکاف هم مات سو: لمافی رد المختار ومقتضی ذالك ان الصوم شرط ایضًا فی الاعتکاف المسنون، لانه مقدر بالعشر الأخیر حتیٰ لواعتکفه بلاصوم لمرض او سفر ینبغی ان لایصح عنه.... وسکتوا عن بیان حکم المسنون لظهور انه لایکون الا بالصوم عادة. (شامی ج: ۲ ص: ۱۳۰)[1]

۲: په کومه ورځ چی روژه ماته کړی نو د هغه ورځی څخه اعتکاف مات سو، د یوی ورځی د اعتکاف قضاء وربانديٰ واجب ده، کمامرّ.

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۶هـ

[1] رد المختار باب الاعتکاف ج: ۲ ص: ۴۴۲ (طبع سعید) وفی الهدایة باب الاعتکاف ج: ص ۲۱۱ والصحیح انه سنة مؤکدة لان النبی ﷺ واظب علیه فی العشر الا واخر من رمضان والمواظبة دلیل السنة وهو اللیث فی المسجد مع الصوم.... والصوم منی شرطه.... الخ. وفی بحر الرائق ج: ۲ ص: ۲۹۹، ۳۰۰ (طبع رشیدیه کویته).... الاعتکاف المسنون سنة مؤکدة وهو العشر الأخیر من رمضان فان الصوم منی شرطه حتی لواعتکفه من غیر صوم لمرض او سفر ینبغی ان لایصح.... الخ. وکذافی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۱۱ (طبع رشیدیه کویته) (محمد زبیر حقنواز).

(فتوی نمبر ۲۷/۲۵۵۷ - و)

د مرض د وجهی د اعتکاف ماتولو حکم

سوال: یوسړی د اعتکاف په حالت کی په تبه مبتلاء سو، د نه رغیدلو په وجه یی علاج معالجی ته ضرورت سو، مجبوراً تارك الصوم سو نو آیا په دی صورت کی د علاج او خدمت په خاطر اعتکاف ماتول او د اهل وعیال خواته کورته تللی سی او که نه؟

جواب: مرض او د هغه علاج داسی عذر دی چی د هغه په وجه اعتکاف ماتول جائز دی: ولافرق (ای فی القضاء) بین فساده بصنعه بلاعذر کالجماع مثلا الا الردّة او لعذر کخروجه لمرض (شامی ج: ۲ ص: ۱۳۳) البته د یوی ورځی اعتکاف قضاء به واجب وی.[1]

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۶هـ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۵۵۷ و)

په مسنون اعتکاف کی د جمعی غسل یا د یخوالی د پاره د غسل په خاطر د جومات څخه د باندی وتل

سوال: د حضرت مولانا تقی عثمانی صاحب په خدمت کی!

د اعتکاف د احکامو د رسالی په ۳۹ صفحه کی تاسو د معتکف د غسل لاندی لیکلی دی چی معتکف ته د جمعی غسل یا د یخوالی د پاره غسل ته د جومات څخه د باندی وتلو اجازت نسته، خو په جومات کی د ننه په ټب کی یا دجومات په غاړه باندی غسل کولی سی. په دی کی د یوی خبری وضاحت پاته دی چی د جوماتونو غسلخانی چی د جومات د حدودو څخه بهر دی، ځکه چی هغه د جومات د حدودو د تعین په وخت کی د لمانځه د پاره نه، بلکی د غسل او استنجاء د پاره جوړوی، او د جومات حدود هم هغه دی چی د حدودو د معلومولو په وخت کی د لمانځه د پاره متعین سی، لکه چی تاسو د حدود مسجد مطلب (لاندی بحث کړی دی) اوس د نزاع او جګړی باعث مسئله داده چی د جومات غسلخانی که څه هم د جومات د حدودو څخه بهر وی، خو د جومات په

[1] رد المختار باب الاعتکاف ج: ۲ ص: ۴۴۷ (طبع سعید)

ملکیت او د هغه په احاطه کی شامل وی په دی کی د یخوالی د پاره غسل یا د جمعی د غسل اجازت سته او که نه؟ براه کرم د دی خبری وضاحت وکړی؟

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

جواب: مکرمی او محترمی! ستاسو خط ملاو سو (احکام اعتکاف) کی چی کومه مسئله لیکل سویده، د هغه حاصل همدادی چی د جومات سره ملحق غسلخانی چی په جومات کی نه دی خو د جومات ملکیت وی، هغه ته هم د جمعی د غسل یا د یخوالی د غسل په خاطر په اعتکاف مسنون کی تلل جائزنه دی، ([1]) لهذا په جائز طریقی باندی د غسل صورت هم هغه دی چی جومات کی دی ټب کښیږدی، په هغه کی دی غسل وکړی، یا د جومات غاړی ته دی داسی کښینی چی مستعملی اوبه جومات کی ونه غورځیږی ([2]).

ترڅو چی د دی مسئلی د دلیل تعلق دی هغه د احکام اعتکاف په ضمیمی کی لیکل سوی دی، ([3]) د هغه مطالعه وکړی.

واضحه دی وی چی نن صبا بعضی علماوو د جُمعی د غسل د پاره د جومات څخه د باندی وتل جائز ګرځول دی، خو د دی څه اطمینان بخښه دلیل احقرته تراوسه نه دی ملاو سوی، او کوم دلائل چی پیش کولی سی د هغه څخه اطمینان نه کیږی، او د فقهائی کرامو په مینځ کی مشهوره او مسلمه مسئله هم هغه ده، چی احقر په احکام الاعتکاف کی لیکلی ده.

والله سبحانه اعلم

([1]) ایضاً.

([2]) وفی الدرالمختار ج: ۲ ص: ۴۴۴، ۴۴۵ وحرم علیه الخروج الا لحاجة الانسان طبیعة کبول والغائط وغسل لو احتلم ولایمکنه الاغتسال فی مسجد. وفی الشامیة (قوله ولایمکنه ..... الخ) فلوامکنه من غیر ان یتلوث المسجد فلاباس بده، بدایع ای بان کان فیه برکة ماء او موضوع معداً للطهارة او اغتسل فی انا بحیث لایُصیب المسجد الماء المستعمل قال فی البدایع: فان کان بحیث یتلوث بالماء المستعمل یمنع منه لان التنظیف المسجد واجب.... الخ. وفی الهندیة کتاب الصوم، الباب السابع فی الاعتکاف ج: ۱ ص: ۲۱۳ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) ثم ان امکنه الاغتسال فی المسجد من غیر ان یتلوث المسجد فلاباس والا فیخرج ویغتسل ویعود الی المسجد.

([3]) صـ۲۱ الی ۲۵ (طبع دار العلوم کراچی) په اعتکاف کی د جمعی د غسل مسئلی، لاندی حضرت والا دامت برکاتهم تفصیلی دلائیل د جمعی د غسل په خاطر د خروج د جواز قائلینو جوابونه ذکر کړی دی، د تفصیل د پاره هغه وګوری.

۲۷/ ۸/ ۱۴۰۵ھ

(فتوٰی نمبر ۱۴۷۲/ ۳۵و)

د مسنون اعتکاف د ماتولو په صورت کی د قضاء حُکم

سوال: که بغیر د روژی څخه اعتکاف نه کیږی او اعتکاف باطل سوی وی نوبرنی حالت کی خپله خیمه جومات کی پریښوول او کورته د تلو اجازت شرعًا سته او که نه؟ او څومره ورځی د تندرستی په حالت کی د اعتکاف تیری سی آیا هغه به په اعتکاف مسنونه یانافله کی شمارل کیږی او که نه؟

جواب: څومره اعتکاف چی هغه د روژی په حالت کی وکړی، هغه به په اعتکاف کی شمیرل کیږی، او د هغه یوی ورځی قضاء به راګرځوی، د قضاء راګرځولو د پاره رمضان ضروری نه دی.

قال فی الشامیة: اذا فات عن وقته المعین، فان فات بعضه قضاه لاغیر ولایجب الاستقبال. (شامی ج: ۲ ص: ۱۳۳) ([1])

والله سبحانه اعلم

۱۷/ ۱۱/ ۱۳۹۲ھ

(فتوٰی نمبر ۲۵۵۷/ ۲۷-و)

د مشرک د پاره په اعتکاف کی د ناستی حُکم

سوال: آیا د مشرك د پاره په اعتکاف کی کښنی نستل جائز دی؟

([1]) رد المختار باب الاعتکاف ج: ۲ ص: ۴۴۷ (طبع سعید) وفی رد المختار ج: ص: ۴۴۴، ۴۴۵ (طبع سعید) فیظهر من بحث ابن الهمام لزوم الاعتکاف المسنون بالشروع وان لزوم قضاء جمعیه او باقیه مخرج علی قول ابی یوسف اما علی قول غیره فیقضی الیوم الذی افسده لاستقلال کل یوم بنفسه وانما قلنا ای باقیه بناء علی ان الشروع ملزم. کالنذر وهولونذر العشر یلزمه کله متتابعاً ولوافسد بعضه قضاء باقیه علی مامرَّ فی نذر صوم شهرمعین والحاصل ان الوجه یقتضی لزوم کل یوم شرع فیه عندهما بنا علی لزوم صومه بخلاف الباقی لان کل یوم بمنزلة شفع من النافلة الرباعیة وان کان المسنون هوالاعتکاف العشر بتمامه تامل- وفی التتار خانیة الفصل الثانی عشر فی الاعتکاف ج: ۲ ص ۴۱۴ ولوشرع فیه ثم قطع لایلزمه القضاء فی روایة الاصل، وفی روایة الحسن یلزمه وفی الظهریة عن ابی حنیفة انه یلزمه یوما.... الخ.

جواب: اعتکاف هغه عبادت دی چې د اسلام څخه بغیر نسی اداء کیدلی، فلهذا غیر مسلم په اعتکاف کی نسی کښی نستی. (۱) الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۳۰/ ۱۲/ ۱۳۸۷ه

تحقیق و تعلیق

مولانا القاری عبدالاحد الحقاني غفره له

(۱) وفی الدرالمختار ج: ۲ ص: ۴۴۱ (طبع سعید) والنية من مسلم طاهر عاقل.... الخ، وفی الشامیة تحته: لان النیة لاتصح بدون الاسلام.... الخ

کتاب الحج

﴿د حج مسائل﴾

فصل فی من یفرض علیه الحج

حج په چافرض دی؟

غیر محرم سره د حج د سفر حُکم

سوال: زمامور چې د هغه عمر پنځوس کاله دی اوکنډه ده هغه دخپل یوه همسایه سره دحج دپاره تلل غواړی موصوف دخپلی ښځی سره ځی ایازه د هغوی سره خپله مور او د مور او لادونه لیږلی سم اوکه نه؟ شرعی حکم څه دی؟

جواب: حنفی مسلك کی که ښځه ځوانه وی اوکه بوډی وی د هغه سره د حج د تللو د پاره د محرم ملګرتیا شرط دی (۱) لهٰذا په صورت مسئوله کی که دغه همسایه د دی کنډی محرم نه وی نودهغه سره حج ته نسی تلی.

د حج په شرائطو کی دی: ومنها المحرم للمرآة شابة كانت اوعجوزاً اذا كانت بينها وبين مكة مسيرة ثلاثة ايام. (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۲۱۸) (۲).

لهٰذا په حنفی مسلك کی حکم دادی چې ترڅو محرم ملاو نسی نوحج ته دی نه ځی او که د اخری عمر پوری ملاو نسی نو وصیت دی وکړی چې زما د خوا څخه دی حج بدل اداء سی. (۳)

---

(۱) وفی صحیح البخاری ج: ۱ ص: ۱۴۷ (طبع قدیمی کتب خانه عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال: لاتسافر المرأة ثلاثا الا معها ذومحرم، وفی الدرالمختار ج: ۲ ص: ۴۲۷، ۴۲۵ (طبع سعید) ..... ومعها زوج او محرم بالغ.... ولوحجت بلامحرم جاز مع الکراهة. وفی الشامية (قوله مع الکراهة) ای التحریمیة للنهی فی حدیث الصحیحین: لاتسافر امرأة ثلاثًا الا ومعها محرم (زاد مسلم فی روایة) او زوج، وفی بدایع والصنایع ج: ۲ ص: ۱۲۳ (طبع سعید) (واما) الذی یخص النساء فشرطان احدهما ان یکون معها زوجها او محرم لها، فان لم یؤجد احدهما لایجب علیها الحج.... وهذا عندنا وعند الشافعی هذالیس بشرط.... ولنا ماروی عن ابن عباس رضی الله عنه عن النبی ﷺ ان قال: الدلا تحجن امرأة الا ومعها محرم، وعن النبی ﷺ ان قال: لاتسافر امرأتًا ثلاثة ايّام الا ومعها محرم او زوج ولانها اذالم یکن معها زوج ولامحرم لایؤمن علیها.... الخ.
وکذافی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۳۱۵ (طبع سعید)

(۲) ج: ۱ ص: ۲۱۸، ۲۱۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویته).

(۳) وفی رد المختار ج: ۲ ص: ۴۲۵ (طبع سعید) والذی اختاره فی الفتح انه مع الصحة وامن الطریق شرط وجوب الاداء فیجب الایصاء ان منع المرض وخوف الطریق او لم یوجد زوج ولامحرم... الخ. وفی

والله سبحانه اعلم
۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۵۸۲/ ۲۸ ب)

د خاوند د اجازت څخه بغیر حج ته د تلو حُکم

سوال: جناب والا! زه د خپلی یوی دینی خور حالات لیکم: د ویلو څخه وروسته د هغه د سوالونو جوابونه د شریعت د مخه اولیکی، د خپلی دینی خور حالات د هغه د خپلی ژبی څخه لیکم ځما خور فرمایی چې ځما خاوند په ډیر خرابو عادتونو کی مبتلادی، د هغه ذکر زما د پاره اذیت ناك دی، خرابو ښځو او شرابو کی مبتلاوی، زه پخپله د لمانځه او روژی پایبنده یم، ما او زما بچو ډیر کوشش وکی چې هغه په مینه او محبت سره پوه سی، خو هغه په هیڅ صورت کی خرابو عادتونو پریښوولو ته تیاره نه دی، زما خاوند د سترګو ډاکټر دی، او زما دوه ځامن هم ډاکټران دی، زما خاوند د حج او عمری طرفته فکر هم نه کوی او نه ماته د حج او عمرت په سفر باندی د خپلو ځامنو سره د تللو اجازت راکوی، په کور کی ټول شیان موجود دی. مثلاً بنګله سته، ګاډی هم ده، او هرشی په کور کی موجود دی خو زه د دی ټولو شیانو باوجود پریشانه یم. ما خپل خاوندته داهم ووئیل: چې هغه غلط کار پریږده او یو واده دی وکړی خو هغه زماخبری ته خیال هم.

۱: ما د خپل خاوند دپاره ډیرشی وظیفی او تسبیحات هم وکړل چې زما خاوند صحیح سی، خو هغه د ټس څخه مس کیږی نه، آیا زما د پاره دا وظیفی کول جائز دی؟ او که نه؟

۲: آیازه د خپل ځوی سره د خاوند د اجازت څخه بغیر حج او عمری ته تلی سم او که نه؟ ځکه چې زماخاوند اجازت نه راکوی.

۳: مهربانی وکړی ماته داسی وظیفه وښایاست چې په هغه باندی عمل کولو سره زما خاوند په سمه لاره باندی راسی،او زما پریشانی هم لری سی، او دا جواب هم مطلوب دی چې ماتراوسه پوری فرض حج هم نه دی اداء کړی نو په دی حالت کی زما د پاره د

الفتاوی الاخانیة علی هامش الهندیة ج: ۱ ص ۳۰۸ (طبع رشیدیه کویته) المرأة اذا لم تجد محرما لاتخرج الی الحج الا ان تبلغ الوقت الذی تعجز عن الحج فحینئذٍ تبعث من یحج عنها اما قبل ذالك لایجوز الحج لتوهم وجود المحرم... الخ. (محمد زبیر حقنواز)

خاوند ښځه اجازت اخستل او تلل ضروري دي او که په دې حالت کې د خپل خاوند د اجازت ښځه بغیر هم د فرض حج اداء کولو د پاره د خپل ځوی سره تلی سم؟

جواب: ستا د پریشانۍ د لرې کیدلو د پاره د زړه ښخه دعاء کوم، تاسو د هرلمانځه ښخه کم ترکمه دری واره ووایی:

رَبَّنَا هَبْ لَنَا مِنْ أَزْوَاجِنَا وَذُرِّيَّاتِنَا قُرَّةَ أَعْيُنٍ وَاجْعَلْنَا لِلْمُتَّقِينَ إِمَامًا [1]

که تافرضی حج کړی وی نو د نفلی حج یا عمری د پاره د خاوند د اجازت ښځه بغیر تلل جائز نه دی، تاسوته به په کور کی ناست په دی نیت سره د حج او عمری ثواب ورکول کیږی، او که په تاباندی حج فرض سوی وی او ته د خپل ځوی سره حج ته ځی نو خاوند دی د فرضی حج ښځه نسی ایسارولی او که خاوند دی ایساره کړی نو ښځه د هغه د اجازت ښځه بغیر هم تلی سی، فی الدار: ولیس لزوجها منعها عن حجة الاسلام، فی الشامیة: ای اذاکان معها محرم والا فله منعها کما یمنعها عن غیر حجة الاسلام ج: ۲ ص: ۴۶۵) [2]

والله سبحانه اعلم

۱۸/ ۹/ ۱۴۲۰هـ

(فتوی نمبر ۴۹/ ۱/ ۴۰)

په خُله باندی د جوړ سوی ځوی سره حج ته د تللو حکم

سوال: یوسړی د خپل ځان د پاره په خُله باندی خور جوړه کړی ده، ایا د داسی خور سره د حج سفر کولی سی؟

جواب: که کومی غیر محرمی ښځی ته په خُله باندی خور ووئیل سی، نو هغه شرعًا د خور په حکم کی نه وی، نو ځکه د هغه صرف په خُله باندی جوړسوی ځوی سره د حج په سفر باندی تلل جائز نه دی. [3]

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه)

---

[1] سورة الفرقان: آیت ۷۴.

[2] (طبع ایچ ایم سعید) وفی غنیة الناسك ص: ۱۲ (طبع قدیم ادارة القرآن کراچی) ولیس للزوج منعها عن حجة الاسلام اذا کان معها محرم والا فله منعها کما یمنعها عن غیر حجة الاسلام.... الخ.

[3] د غیر محرم سره د سفر د ممانعت دلائل سابقه صفحی ۲۲۹ اوله حاشیه کی وګوری. (محمد زبیر حقنوان)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۴/ ۵/ ۱۳۸۸هـ

(فتوی نمبر ۱۹/ ۲۱۷- الف)

د انجونو د واده کولو ښځه به بغیر حج فرض وی او که نه؟

سوال: زما عمر یوشپیته (۶۱) کاله دی، د حج تمنالرم، ماتقریبًا پنځه زره روپی جمع کړی حکومت لس زره روپی کړی، زما څلور لونی او دوه هلکان دی، د دوو انجونو ودونه می کړی دی دوی۲ په کور باندی دی چی د هغوی عمر ۲۲ کاله دی غټ هلك د ۲۲ کالو او کوشنی هلك د شپاړس کالو دی، دواړه د کور ښځه تښتیدلی دی، سوال دادی چی د دوو انجونو د واده کولو ښځه بغیر حج ته تلی سم او که نه؟

جواب: که ستاسره دومره پیسی وی چی په هغه حج کیدی سی نو په تاباندی حج فرض دی [1]، د حج د فرضیت د انجونو د ودونو سره څه تعلق نسته، د حج د اداء کولو د پاره د هغوی د واده انتظار کول درست نه دی.

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۹/ ۱۳۶هـ

(فتوی نمبر ۲۳۱۰/ ۲۷هـ)

د جهاز په اکانومی کلاس کی د ټکټ نه ملاویدلو په وجه د فرسټ کلاس ټکټ اخستل او حج ته تلل فرض دی

سوال: زه تاسوته تکلیف ځکه درکوم چی زما عمر ۶۳ کاله دی او په ماباندی حج فرض دی، چنانچی ما د مشهد ښځه حج ته د تلو د پاره دری واره درخواست ورکړی دی، خوقرعه اندازی کی زمانوم نه راوځی معامله په قسمت باندی پریږدم او که د اوبو د جهاز په فرسټ کلاس کی درخواست ورکړم؟ په داسی کولو کی تیرکال ډیر امکان وو، خو په دی کی دوی خبری دی:

---

[1] وفی تنویر الایضاح ج: ۲ ص: ۴۵۹ (طبع ایچ ایم سعید) ... ذی زاد و راحلة فضلاً عما لابدمن ونفقة عیاله الی عوده.

۱: داچی که حکومت پاکستان علاوه د عرشی ځخه او د ټولو درجو مسافرونه ډیرلوی رقم د بونس دو اوچرپه نامه باندی اخلی، اوس پوښتنه داکول دی چی دارقم اخستل او ورکول مذهباً ترکومی صحیح دی؟ په حج کی خوبه څه نقصان نه کیږی؟

۲: دوهمه خبره داه چی څما څلور بچی دی په هغه کی یوه انجلی ځوانه ده، او باقی نوری ټولی د واده په عمر کی دی، که زه د عرشه په ځای په فرسټ کلاس کی ولاړسم، نو اخراجات به دومره زیات سی چی د اولاد په ودونو کی به تاخیر او تکلیف وی، داخبری نظرلاندی ساتلو سره اوفرمایاست چی ماته څه کول پکار دی؟

جواب: که ستاسره د خپلو ضروریاتو په اصلیه نه زائد دومره پیسی وی چی د هغه په ذریعه ته بونس واوچر باندی حج کولی سی، نو په تاباندی د هغه په ذریعه حج کول واجب دی، د اولاد واده په اصلیه ضروریاتو کی حساب نه دی، او که دومره روپی درسره نه وی نو د عرشی په ذریعه د تلو د پاره درخواست ورکوه، کله چی دی نوم راووځی نو ولاړسه، که تر آخری عمر پوری اونه سی نو د حج بدل وصیت کول به ضروری نه وی، د فقهائی کرامو لاندینی درج سوی تصریحات د دی مسئلی سره متعلق دی:

۱: وهل مایؤخذ من المکس والخفارة عذر قولان ولمعتمد لاکما فی القنیة والمجتبی، وعلیه فیحتسب فی الفاضل عمّا لابدّ منه القدرة علی المکس ونحوه کمافی مناسك الطرابلسی، وکذا فی الدر المختار، وقال الشامی: المکس مایاخذه العشار والخفارة مایاخذه الخیر وهو المجیر ومثله مایاخذه الاعراب فی زماننا من المصر المعین. (شامی ج: ۳ ص: ۱۹۸) ([1])

۲: وعلی تقدیر اخذهم الرشوة فالاثم فی مثله علی الاخذ المعطی علی ماعرف من تقسیم الرشوة فی کتاب القضاء ولایترك الفرض المعصیة عاص (البحر الرائق ج: ۲ ص: ۳۳۸) ([2])

۳: اذا وجد مایحج به وقدقصد تزویج به ولا یتزوج لان الحج فریضة او جبها الله تعالی علی عبده کذا فی التبیین. (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۲۳۱) ([1]) فقط والله سبحانه وتعالی اعلم.

([1]) ج: ۲ ص: ۴۲۳، ۴۲۴ (طبع سعید)

([2]) ج: ۲ ص: ۳۱۴ ایضاً.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۷/۸/۷هـ

آیا په عمری کولو سره به حج فرض سی؟

سوال: یوغیر مستطیع سړی د ایام حج څخه علاوه په نورو ورځو کی د عمری د پاره ولاړسی نو آیا په هغه باندی به حج فرض سی؟ داچی مشهور دی چی چاحج نه وی کړی هغه دی د حج بدل د پاره نه ځی، آیا دا صحیح دی؟

جواب: د آیام حج څخه بغیر د عمری په کولو سره حج نه فرض کیږی ترڅو چی د حج په میاشتو کی هغه ته د حج کولو طاقت نه وی پیداسوی او دا صحیح دی چی چا خپل حج

([1]) وفی الغنیة ص: ۸ (طبع ادارة القرآن) السابع الوقت ای وجود القدرة فیه وهو اشهر الحج او وقت خروج اهل الهلة ان کانوا یخرجون قبلها، فلایجب الا علی القادر فیها او فی وقت خروج اهل بلده فان ملك المال قبل الوقت فله صرفه حیث شاء... الخ

وفی ارشاد الساری ص: ۳۳ (طبع مصطفی محمد مصر) السابع من شرائط الوجوب الوقت، وهو اشهرالحج او وقت خروج اهل بلده.... فان ملکه ای المال قبل الاشهر، او قبل ان یتاهب اهل بلده فله صرفه حیث شاء ولاحج علیه.

وفی الغنیة ص: ۴ (طبع ادارة القرآن کراچی) (السادس) الاستطاعة وهی القدرة علی زاد، یلیق بحاله.... الخ وفیها ایضاً (ص: ۲) والراحلة شرط فی خق الافاقی فقد قدر علی المشی اولا، اما الملکی ومن حولها وهو من کان داخل المواقیت الی الخرم فلایشترط فی حقه الراحلة اذا کان قادراً علی المشی بلا مشقة زائدة والا فکالا فاقی واماالزاد فشرط لابدمنه قدرمایکفیه وعیاله فی ایام اشتغاله بنسك الحج..... الخ.

وفی رد المختار: ج: ۲ ص: ۴۶ (طبع سعید) والحاصل ان الزاد لابدمنه ولولمکی کماصرّح به غیر واحد کصاحب الینابیع والسراج ومافی الخانیة والنهایة من ان المکی یلزمه الحج ولو فقیر الازادله بنظرفیه ابن الهمام الا ان یراد ما اذاکان یمکنه الاکتساب فی الطریق... وبعد اسطر..... (تنبیه) فی اللباب، الفقیر الافاقی اذا وصل الی میقات فهو کالمکی قال شارحه ای حیث لایشترط فی حقه الا الزاد والراحلة.... الخ. (والراجع للتفصیل الیها).

او په زبدة المناسك ص: ۲۱ (ضروری فائدی) لاندی دی..... لکه چی په مکه مکرمه کی داخل سو او کعبة الله شریفی ته را اورسیدی نو اوس به په هغه باندی فرضیت د حج متعین شی بالاتفاق خو په دی فقیر به دافرضیة د حج بالاتفاق حله وی کله چی د حج په میاشتو کی راغلو او کعبة الله شریفی ته را اورسیدی او د ایام حج د خوراك خرچه هم لری او عرفات ته د پیدل تلو قدرت هم لری.... الخ. او وررسره وگوری حیاة القلوب ص: ۷۲۲.

نه وی کړی. د هغه د پاره د بل چا د طرفه حج بدل کول درست نه دی، خو بیاهم که داسی د حج بدل په نیت حج وکړی نو د هغه ځخه به هم حج بدل اداء کیږی د هغه خپل حج به نه کیږی. (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتویٰ نمبر ۲۳۹/ ۲۸- الف)

د ضرورت ځخه زیاته زراعتی مځکه خرڅول او حج ته تلل فرض دی

سوال: فتاویٰ هندیه اوردو جلد دوهم صـ ۴۵ کی لیکلی دی: که کوم سړی د زراعتی مځکی مالك وی او د هغه سره دومره مځکه ده چی که په هغه کی لږ مځکه خرڅه کړی نو د حج د اخراجاتو د پاره او د بچو د ضرورت د پاره کافی وی. او بیاهم دومره مځکه پاته کیږی چی د هغه په حاصل اخستلو سره ژوند تیریدلی سی نو په دغه سړی به حج فرض وی؟ تاسو وفرمایاست چی په دی صورت کی حج فرض ذی او که نه؟

جواب: د حج د فرضیت د پاره د زکوٰة په شان د مال کافی کیدل شرط نه دی (۲) لهذا په مسئوله صورت کی چی د کوم سړی سره نقدی روپی نه وی که د ژوند تیرولو د پاره د ضرورت ځخه زیاته مځکه یاکور وی چی هغه خرڅ کړی نو حج باندی کولی سی نو په هغه باندی حج فرض دی، د فتاویٰ هندیه عبارت ذادی: وان کان صاحب ضبعة ان كانه من الضیاع مالوباع مقدار ما یکفی الزاد والراحلة ذاهبًا وجائیا ونفقة عیاله و اولاده ویبقی له من الضیعة قدر ما یعیش بغلة الباقی یفترض علیه الحج والا فلا. (فتاویٰ عالمگیریه) (۳).

---

(۱) وفی التاتار خانیه ج: ۲ ص: ۵۴۲ (طبع ادارة القرآن) والافضل للانسان اذا اراد ان یحج رجلا عن نفسه، ان یحج رجلا قدحج عن نفسه فان الذی لم یحج عن حجة الاسلام عن نفسه لم یجز حجته عن غیره عند بعض الناس ومع هذا لواحج رجلا ثم یحج عن نفسه حجة الاسلام یجوز عندنا..... الخ او همدارنگه ذحج ضرورت متعلق د حضرت امت برکاتهم تفصیلی فتویٰ په راتلونکی صـ کی وګوری.

(۲) ص: ۲۱

(۳) ج: ۲ ص: ۴۵۹ (ایچ ایم سعید) وفی غنیة الناسك ص: ۹ (مطبع ادارة القرآن کراچی) واما شرائط وجوب الاداء، فخمسة علی الاصح الاول: الصحة... فلایجب الحج علی المقعد والزمن والمفلوج ومقطوع الرجلین او الیدین او الرجل الواحدة والاعمی والمریض والمغضوب وهو الشیخ الکبیر الذی لایثبت علی الراحلة بنفسه وان ملکوا مابه الاستطاعة فلیس علیهم الاحجاج او الایصاء

والله سبحانه اعلم
۲۰/ ۱/ ۱۳۹۷ھ
(فتویٰ نمبر ۱۲۶/ ۲۸- الف)

۱: ایا د عمری کولو ځخه وروسته حج فرض کیږی

۲: که کوم سړی په بوډاوالی کی مالداره سی نو په هغه به حج فرض وی؟

سوال: ایا عمرې کولو ځخه وروسته حج کول فرض کیږی؟ هرکله چی په هغه باندی حج نه وی فرض سوی.

۲: که کوم سړی په زیات عمر کی یا د کمزوری په زمانه کی مالداره سی نو ایا په هغه باندی حج فرض کیږی؟ هرکله چی کمزوری د هغه مانع وی؟

جواب: ۱: که عمره د ایّام حج ځخه علاوه په نورو ورځو کی اوسی نو په هغه سره حج نه فرض کیږی خو د حج په ورځو کی مکی مکرمی ته رسیدلو سره حج فرض کیږی کذا فی عمدة المناسك مع زبدة المناسك: ۳۱.

۲: که د صحت او قوت په حالت کی حج فرض نه وو. او کله چی دومره بوډاسو چی په سورلی باندی بغیر د سخت مشقت ځخه نسی سوریدلی او په دغه وخت کی ورته د حج کولو لائق پیسی حاصل سوی نو په دی باره کی د فقهائی حنفیه اختلاف دی. د امام ابوحنیفه رحمه الله په نزد باندی داسی سړی ته حج بالکل فرض نه دی، نه باندی پخپله فرض دی او نه په بل چاباندی کول باندی فرض دی، خو د صحابینو په نزد باندی په داسی سړی باندی پخپله حج کول فرض نه دی خو په بل چاباندی باندی د حج کول فرض دی، مشائخ حنفیه کی بعضی حضراتو اول قول اختیار کړی دی او بعضو دوهم احتیاط هم په دی کی دی چی داسی سړی دی د صاحبینو په قول باندی عمل وکړی او په بل سړی باندی دی د خپل طرف ځخه حج وکړی یاکم ترکمه د دی و[...] چی زما د اړخه دی حج اوسی فی رد المختار: فلایجب علی مقعد و[...]

وعندهما یجب الحج علیهم اذا ملکوا الزاد والراحلة و[...]
الاداء بانفسهم فعلیهم الاحجاج او لایصاء به عند ا[...]
المشائخ، منهم ابن الهمام، واما ظاهر المذهب فصح[...]
الصحیح فقد اختلف التصحیح، وان ملکوا الزاد و[...]
الحج فی قولهم..... الخ. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص[...]

لايثبت على الراحلة بنفسه.... لا بانفسهم ولابالنيابة فى ظاهر المذهب عن الامام وهو رواية عنهما وظاهر الرواية عنهما وجوب الاحجاج عليهم...... وظاهر التحفة اختيار قولهما وكذا الاسبيجابى وقواه فى الفتح.... وحكى فى اللباب اختلاف الصحيح
(شامی ج: ۲ ص: ۱۴۳)

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۲/ ۱۳۹۲/ هـ
(فتوی نمبر ۲۷/ ۲۷۲۱ و)

فصل فی المواقیت

(د میقات سره د متعلق مسئلوبیان)

جدی پوری بغیر د احرام څخه تلونکی مسافر که د بل میقات څخه احرام وتړی نو په هغه باندی دم نسته

(جواهر الفقه، د یوعبارت تحقیق)

سوال: د جواهر الفقه (لاندی عبارت) د دی دپاره اهل پاکستان او هندوستان د پاره، خو احتیاط هم په دی کی دی چی په هوائی جهاز کی د سپریدلو په وخت احرام وتړی، که د احرام تړلو څخه بغیر د هوائی جهاز په ذریعه جدی ته ورسیدی نو د هغوی په ذمه دم یعنی د یوی بزی قربانی به باندی واجب سی، په دی کی اشکال دی. چی د میقات څخه بغیر د احرام څخه اوړیدلو سره چی کوم دم لازمیږی هغه په عود الی المیقات سره ساقطیږی، نو په هوائی جهاز کی که په مسافر کوم دم واجب سو، نو چی کله هغه جدی ته ورسیدی او احرام یی د هغه ځای څخه وتړی نو پکارده چی هغه دم ساقط سی، ځکه چی په درمختار کی دی: وحرم تاخير الاحرام عنها. (درمختار) وقال عليه المحشى نعليه العود الى ميقات منها وان لم يكن ميقاته ليحرم منهم والا فعليه دم كما سياتى بيانه فى الجنايات (تحت مطلب فى المواقيت ج: ۲) فان عاد الى ميقات ماثم احرم الى توله.... سقط دمه. (درمختار باب الجنايات)

خو په دی کی داخبره هم په ذهن کی راغله چی دم چی بغیر د احرام څخه په میقات باندی تیریدلوسره لازمیږی هغه به هلته ساقطیږی کله چی دی یومیقات ته رجوع وکړی، او جده میقات نه دی، لهذا د دی ځای څخه احرام تړلو سره هغه دم نه ساقطیږی، لهذا د جواهر الفقه عبارت په ظاهره کی صحیح دی که څه هم د جدی څخه احرام تړل په دی وجه صحیح دی چی هغه د میقات محاذی دی، نو حاصل دا را ووتی چی میقات او محاذی د میقات دواړو څخه احرام تړل درست دی خو که د میقات څخه بیغر د احرام تړلو په تریدو سره دم واجب سی نو هغه به عود الی المیقات سره ساقط سی خو د عود

الی المحاذی المیقات سره به نه ساقطیږی، مؤدبانه ګذارش دی چی زما د دی رایی د تردید یا تصحیح ځخه می خبر کړی؟

جواب: عزیز ګرامی قدر مولانا محمد سردار صاحب سلمه!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ډیره موده مخکی تاسو یوسوال رالیږلی وو. چی د احرام ځخه بغیر جدی پوری د رارسیدلو متعلق وو، چونکی معامله لږ د غور او فکر او د مراجعت محتاجه وه نو ځکه می فوراً جواب درنه کړل سو. اوس راته لږ د غور موقع پیداسوه نو جواب عرض دی.

په جواهر الفقه [1] کی د هوائی جهاز د مسافرو د پاره د جدی پوری بغیر د احرام ځخه تلو باندی چی د کوم دم وجوب لیکلی دی د غور او فکر، او د علماوو سره د مشوری کولو ځخه وروسته ظاهر همدا معلومیږی چی په دی کی تسامح سویده. شاید چی په هغه وخت کی ذهن دی طرف ته تللی وی چی مجاوزت قرآن المنازل ځخه بغیر احرام اوسو، لهذا بیا هغه طرف ته اونسو، بلکی د دوهم میقات محاذات طرف ته عود سوی دی، ځکه دم ساقط نسو خو د تحقیق ځخه معلومه سوه، چی که عود بل میقات طرفته سوی وی نوبیا هم دم ساقطیږی چنانچی په بدائع کی دی: ولوعاد الی میقات غیر الذی جاوزه قبل ان یفعل شیئًا من افعال الحج سقط عنه الدم وعوده الی هٰذا المیقات اٰخر سواء (بدایع الصنایع ج: ۲ ص: ۱۲۵ (مطبع رشیدیه کویټه)

او تاسو چی کوم احتمال لیکلی دی چی د دم سقوط میقات ته په راګرځیدلو سره کیږی محض محاذات طرفته ګرځیدلو سره نه ساقطیږی، نو دا احتمال د احقر په نظر کی او د نورو علماوو (د چاسره چی مشوره وسوه) په نظر کی هم صحیح نه دی ځکه چی محاذات په جمیع احکام کی د میقات قائم مقام دی، که ځه فرق وی، نو فقهاء کرامو به ضرور تصریح کړی وه [2].

---

[1] جواهر الفقه ج: ۱ ص: ۴۷۵ (مطبع مکتبه دار العلوم کراچی)

[2] بلکی حضرات فقهائی کرامو رحمهم الله په محاذات میقات باندی عود کولو سره هم د سقوط دم تصریح کړی ده، چنانچی غنیة المناسك باب مجاوزت المیقات بغیر احرام. فصل فی مجاوزت الافاقی وقته ص: ۲ (طبع ادارة القرآن کراچی) کی دی، وعن ابی یوسف رحمه الله تعالی: ان کان الذی یرجع الیه محاذیا لمیقاته الذی جاوزه او ابعد منه سقط الدم والا فلا، فان لم یعد ولا عذرله اثم اخری لترکه العود الواجب... الخ دغه شان مناسك ملاعلی القاری باب المواقیت ص: ۸۴ (طبع ادارة القرآن

لهذا صحیح مسئله اوس داسی معلومیږی چی په هوائی جهاز کی تلونکی که د قرن المنازل د محاذات ځخه بغیر د احرام ځخه د دی ګناه خو ورته ضرور وسوه. خودم واجب نسو، ځکه چی هغه بل میقات طرف ته وتلی دی او د هغه ځای ځخه احرام وتړی.

هذا ماظهرلی. والله اعلم.

که بله خبره ستا په ذهن کی راسی نو احقر تری خبر کړه. والسلام

محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴۰۳/۸/۱۷هـ

(فتوی نمبر ۸۲۰/۳۴ و)

فصل فی الاحرام وماهو محذور فیه او مباح

احرام او په هغه کی د مباحاتو او ممنوعاتو بیان

د احرام د پاره ګنډل سوی کپړی او د ټیټرون استعمالولو حکم

سوال: د احرام د پاره د ګنډل سوی کپړی اچول درست دی او که نه؟ او دوهمه خبره داده چی ټیټرون د احرام د پاره استعمالولی سی او که نه؟

(عبد الوحید. ریاض، سعودی عرب)

جواب: شاید چی تاسوته معلومه نه ده چی حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله لسم او یوولسم شوال په مینځومی شپه کی مړسوی دی. انا لله وانا الیه راجعون، د هغوی د پاره د مغفرت دعاء او زموږ د پاره د صبر او سکون او د هغوی په نقش قدم باندی د تلو دعاء وکړی، د احرام د پاره د ګنډل سوی کپړی استعمال درست نه دی. [1] د ټیټرون استعمال په احرام کی ځه حرج نسته خو په دی شرط چی ګنډل سوی نه وی.

والسلام

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

ابن حضرت مفتی صاحب

۱۳۹۲/۱۱/۲۰هـ (فتوی ۲۵۷۷/۲۷ و)

کراچی) په حاشیه کی د فتح القدیر په حوالی سره دی: قال فی فتح القدیر وعن ابی یوسف رحمه الله ان کان الذی رجع الیه محاذا یالمیقاته او ابعد منه، فکمیقاته...... الخ. (محمد زبیر)

[1] وفی بحر الرائق ج: ۲ ص: ۳۲۳ (طبع سعید) قوله فاتق الرفث.... قوله ولبس القمیص والسراویل..... وفیه ص: ۳۲۴ وذکر الحلبی فی مناسکه أن ضابطه لبس کل شیئ معمول علی قدر البدن او بعضه بحیث یخیط به بخیاطة او تلزیق بعضه ببعض.. الخ.

فصل فی القرآن والتمتع

د حج قرآن او حج تمتع سره د متعلق مسئلو بیان

په سعودی عرب کی د مقیم سړی د پاره د حج قرآن حکم

سوال: زمايوخوی په سعودی عرب کی مقیم دی، هغه آخری عمره په تیر رمضان المبارك د جمعة المبارك په ورځ باندی کړی ده، آیا هغه اوس حج قِران کولی سی یا بايد حج تمتع کول وی؟ د دی د شرعی حکم څخه موخبر کړی؟

جواب: په مسئله صورت کی که ستاخوی د میقات په حدودو کی مقیم نه دی نو هغه حج قران کولی سی (۱) په رمضان المبارك کی په عمره کولو سره څه فرق نه پریوځی.

والله سبحانه اعلم
۲۹/ ۱۱/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۷۲۷/ ۲۷ و)

د حج په میاشتو کی عمره کوونکی په جده کی د مقیم سړی د پاره د حج قِران حکم

سوال: زید په جده کی مقیم دی، د حج په میاشتو کی یی عمره هم کړی ده، د حج قران احرام تړلی سی او که نه؟

جواب: کوم سړی چی د حج په میاشتو کی د عمری افعال وکړی او د وقوف عرفی څخه مخکی حلال سوی وی، د هغه د پاره حج قران جائز نه دی، (کذا فی زبدة المناسك ص: ۲۸۴) (۲) او د جدی مقیم حلی میقانی په حکم کی دی، د دی وجی څخه هم هغه د قِران

---

(۱) (وهو) ای القران (ان یجمع الافاقی ای لا المکی والمیقاتی لیکون قرانه مسنونًا بین الحج والعمرة (مناسك ملاعلی القاری ص: ۲۵۲ طبع ادارة القرآن) وکذا فی غنیة الناسك ص: ۱۰۹ (طبع ادارة القرآن کراچی)

(۲) زبدة المناسك مع عمدة المناسك د قران بیان مسئله نمبر ۲ ص: ۲۹۳. وفی الدرالمختار ج: ۲ ص: ۵۳۹ (طبع سعید) والمکی ومن فی حکمه یفرد فقط ولوقرن او تمتع جاز واساء وعلیه دم جبر، وفی رد المختار: ومن فی حکمه ای من اهل داخل المواقیت (قوله یفرد فقط) هذا مادام مقیما... قال

او تمتع جائز نه ده، لهٰذا په مسئوله صورت کی په جده کی د هغه مقیم سړی د پاره د قران إحرام تړل جائز نه دی.

والله سبحانه اعلم
۲۰/ ۱/ ۱۳۹۷هـ

فصل فی العمرة

د عمری متعلق مسئلو بیان

اول د حج د پاره پیسی جمع کول پکار دی یا عمری ته ترجیح ورکړی؟

سوال: ایا څوك سړی په عمری باندی اکتفاء کولی سی یاهم د حج د پاره پیسی جمع کړی، ایا هغه عمری ته ترجیح ورکولی سی؟

جواب: کوم سړی چی حج نه وی کړی هغه ته هم د حج د پاره پیسی جمع کول پکار دی خو که فرض حج یی کړی وی نو اوس په عمری باندی اکفتاء کول درست دی.

والله سبحانه اعلم
۲/ ۱۲/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۷۲۱/ ۲۷ و)

المحبوبی هذا اذا خرج الی الکوفة قبل اشره الحج واما اذا خرج بعدها فقد منع من القران فلا یتغیر بخروجه من المیقات کذا فی العنایت وقول المحبوبی هو الصحیح.... وفی الهدایة ج: ۱ ص: ۲۲۳ لیس لاهل مکة تمتع ولاقران وانمالهم الافراد خاصتًا خلافا للشافعی والحجة علیه قوله تعالی: ذَالِكَ لِمَنْ لَمْ يَكُنْ أَهْلُهُ حَاضِرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ، ولان شرعهما للتفرفه باسقاط احدی السفرتین وهذا فی حق الافاقی ومن کان داخل المواقیت فهو بمنزلة المکی حتی لایکون له متعه ولاقران، وفی فتح القدیر نقلا عن البدایع.... ان العمرة دخلت فیها رخصة للافاقی ضروة تعذر ان شاء سفر للعمرة نظراً له وخذا المعنی لایوجد فی حق اهل مکة ومن بمعناهم فلم تکن العمرة مشروعة فی اشهر الحج فی حقهم وفی غنیة الناسك ص: ۲۱۹ لاتمتع ولاقران، ولا جمع بینهما فی غیر اشهر الحج لاهل المکة واهل المواقیت الخمسة ومن دونها الی مکة سواء کان بینه وبین مکة مسیرة سفر اولا.... الخ. او زبدة المناسك ص: ۳۰۵ (طبع سعید) کی دی: په مکه مکرمه کی اوسیدونکو او په میقات باندی یا د میقات په داخلی حصه کی اوسیدونکی د پاره حج قران او حج تمتع کول جائز نه دی. (محمد زبیر حقنواز عفا الله عنه)

فصل فی الحج عن الغیر والبدل والوصیّة

حج بدل او د نفلی حج سره د متعلقه مسئلو بیان

۱: چاچی خپل فرض حج نه وی کړی په هغه باندی حج بدل کولو حکم

۲: د حج بدل د پاره مکی مکرمی ته په تلوسره پخپل ځان حج فرض کیږی

سوال: زما په پلار مرحوم باندی حج فرض نه وو ځه د ایصال ثواب په غرض د هغوی د پاره حج بدل کول غواړم یو عالم په دی کار باندی اماده دی خو هغوی خپل حج نه دی کړی او نه په هغوی باندی حج فرض دی آیا داسی سړی چاچی خپل حج نه وی کړی د بل چا د اړخه حج کولی سی؟

۲: او په کوم سړی چی حج فرض نه وی او د حج په زمانه کی مکی معظمی ته اورسیږی آیا په هغه باندی حج فرض کیږی؟

جواب: افضل او بنه خو د ټولو فقهاوو په نزد دادی چی حج بدل دی د هغه سړی په ذریعه اوسی چی خپل فرضی حج یی اداء کړی وی او چاچی خپل فرضی حج نه وی اداء کړی د هغه په ذریعه حج بدل اداء کول مکروه تنزیهی دی، او کوم سړی چی په حج بدل باندی استه یی که د هغه په ذمه پخپله حج فرض وی او هغه یی نه وی اداء کړی نو د هغه د پاره حج بدل باندی تلل مکروه تحریمی او ناجائز دی (۱)، خو د لیږونکی حج به په هرصورت کی اداء سی. لهٰذا بنه خو همداده چی د حج بدل د پاره دی د داسی سړی

(۱) وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۲۰۳ (طبع سعید) قال فی البحر: والحق انها تنزیهیة علی الامر لقولهم والافضل... الخ تحریمیة علی الصرورة المامور الذی اجتعمت فیه شروط الحج ولم یحج عن نسفه لانه اثم با التاخیر الخ.

وکذا فی فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۶ ص: ۵۷۳.

وفی حاشیه البحر الرائق ج: ۲ ص: ۶۹، ان الحج الصرورة عن غیره ان کان بعد تحقق الوجوب علیه بملك الزاد والراحلة والصحة فهو مکروه کراهة تحریم علیه لانه یتضیق علیه

وفی البحر الرائق ج: ۳ ص: ۷۰ والحق انها تنزیهیة علی الامر تحریمیة علی الصرورة المامور الذی اجتمعت به شروط الحج ولم یحج عن نفسه لانه اثم باالتاخیر.

انتخاب وکړی چی اول یی خپل حج کړی وی (۱) د فرض حج مسئله خامخا په خطری کی اچول مناسب نه دی.

۲: کوم سړی چی خپل حج نه دی کړی او په هغه باندی خپل حج فرض نه وو نو د بعضی علماوو په نزد خاص د حج بدل د پاره مکی معظمی ته ورسیدی نوپه هغه باندی حج فرض کیږی، خو راجح قول دادی چی په هغه باندی حج نه فرض کیږی. کذافی جواهر الفقه (ج: ۱ ص: ۵۰۷) (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۵/۹ھ

(فتوی نمبر ۴۷۶/ ۲۸ ب)

د حج صرورة مسئله

(د حج صرورة مفصل او مدلل تحقیق)

سوال: صَرورة څه ته وائی؟ او آیا چاچی خپل حج نه وی کړی هغه ته د بل چا د اړخه حج تہ لیږل جائز دی؟ که اولیږل سی نو حج به اداء سی او که نه؟ او که داسی سړی د بل چا د اړخه حج وکړی نو آیا په دی سره به په هغه پخپله حج فرض سی؟

براه کرم دا مسئله مفصله او مدلله بیان کړی؟

جواب: کوم سړی چی خپل حج نه دی اداء کړی هغه ته (صَرورة) وایی، او که د بل چا د اړخه حج وکړی نو د احنافو په نزد اداء کیږی، علامه علاء الدین حصکفی لیکلی دی چی: فجاز حج الصَرورة بمهملة من لم یحج. (درمختار مجتبائی ص: ۸۱۲) (۳) په دی شرط چی حج کوونکی ته څه داسی عذر لاحق نه وی چی ترمرګه مستمر وی. خوزائل

(۱) فی الفتاوی تاتار خانیه ج: ۲ ص: ۵۴۶ (طبع ادارة القرآن کراچی) والافضل للانسان اذا اراد ان یحج رجلا عن نفسه (ان یحج رجلا قد حج عن نفسه) فان الذی لم یحجج عن حجة الاسلام عن نفسه لم یجز حجته عن غیره عند بعض الناس ومع هذا لواحج رجلا لم یحج عن نفسه حجة الاسلام یجوز عندنا... الخ.

وفی بحر الرائق ج: ۳ ص: ۴۹ والافضل احجاج الحرَ العالم بالمناسك الذی حج عن نفسه.

(۲) همدارنګه د حج صَرورة متعلق د حضرت والا دامت برکاتهم راتلونکی نفصیلی فتوی کی د فریقینو دلائل او راجح قول وګوری

(۳) الدرالمختار ج: ۲ ص: ۲۰۳ (طبع سعید).

کیدل یې ممکن وي، ځکه چې حج یوداسې عبادت دی چې مالي هم دی او بدني هم، او د داسې عبادت په باره کې فقهاوو هم دا حکم ورکړی دی، په درمختار کې دي: والمرکبة منهما کحج الفرض تقبل النیابة عند العجز فقط لکن بشرط دوام العجز الی الموت. (ص: ۱۸۱ مجتبائی) [1] او (بذل المجهود) کې دي: ومرکبة من البدنیة والمالیة کالحج لاتجزی فیها النیابة فی غیر عذر (بذل المجهود ج: ۳ ص: ۱۱۲) [2] ومثله فی کتب الفقه علی المذاهب الاربعة. (جلد ۱ ص: ۷۰۷) [3] لیکن د یوشي اداء کیدل ځانته شی دی او فی نفسه مکروه کیدل ځانته شی دی، نو دلته هم حج صرورة فی نفسه خو مکروه دی، خو که څوك یې وکړي نو اداء به سي.

اوس د دې کراهت په نوعیت کې لږغوندې تفصیل دی، که حج بدل کوونکی داسې سړی دی چې په هغه باندې حج فرض وو خو هغه اونه کې نو اوس د هغه د پاره حج بدل کول مکروه تحریمي دی، او په هغه باندې حج کوونکي د پاره مکروه تنزیهي دي (شامي ج: ۲ ص: ۲۳۱) [4] او که په حج بدل کوونکي باندې حج فرض نه وي نو بیا د دواړو د پاره مکروه تنزیهي یعنې خلاف اولی دی، په هرحال افضل همدادی چې حج بدل دی په هغه سړي باندې اوسي چاچې خپل حج کړی وي لکه چې عالمګیریه کې دي (والافضل للانسان اذا اراد ان یحج رجلا عن نفسه ان یحج رجلا قدحج عن نفسه ومع هذا لواحج رجلا لم یحج عن نفسه حجة الاسلام یجوز عندنا) (عالمګیریه ج: ۱ ص: ۲۷۴) [5] او په فتاوی قاضیخان کې دي: قالوا وینبغی ان یکون الحاج رجلا حج مرة. (فتاوی خانیه: ج: ۱ ص: ۲۶۰) [6]

او په تنقیح حامدیه کې دي: یجوز لمن لم یکن حج عن نفسه ان یحج عن غیره لکنه خلاف الافضل. (العقود الدریة ج: ۱ ص: ۱۳) [7] الغرض د دې څخه او د دې په شان

---

[1] ج: ۲ ص: ۵۹۸ (ایضاً).
[2] طبع مکتبه قاسمیه ملتان.
[3] طبع شرکت فن الطباعة مصر. (محمد زبیر حقنواز).
[4] رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۳.
[5] ج: ۱ ص: ۲۵۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)
[6] الفتاوی الخانیة علی هامش الهندیة ج: ۱ ص: ۳۰۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)
[7] کتاب الحج ج: ۱ ص: ۱۴ (طبع دار المعارفة، بیروت)

نورو نصوونه داخبره ثبوت ته رسیدلې ده چې حج صرورة عن الغیر خلاف اولی دی خو اداء کیږي.

باته سوه دا مسئله چې: که کوم سړي حج صرورة وکړي نو په هغه باندې خپل جج فرض کیږي او که نه؟ نو د دې مسئلې په سلسله کې د فقهاء کرامو په رایو کې اختلاف په نظر راځي، تردې چې علماوو په دې مستقلې رسالې لیکلې دي چې په هغه کې سید عبد الغني نابلسي اوسید احمد بادشاه رحمهما الله د رسالو ذکر علامه شامي رحمه الله کړی دی: (العقود الدریة ج: ۱ ص: ۱۳، [1] او شامي ج: ۱ ص: ۲۳۲) [2]

او دا اختلاف هم په متقدمینو کې نسته بلکې په متاخرینو مشائخو کې دی، لکه چې د علامه حامد آفندي عمادي د دې خبرې څخه معلومیږي: **وهل یجب علیه ان یمکث بمکة حتی یحج عن نفسه لم اره الی فی فتاوی ابی السعود. (تنقیح الحامدیة ج: [3] ص: ۱۳)** [4]

تنقیح خلاف:

د مجمع الانهر مصنف لیکي: ویجوز احجاج الصرورة.... ولکن یجب علیه عند رؤیة الکعبة الحج لنفسه وعلیه ان یتوقف الی عام قابل ویحج لنفسه او ان یحج بعد عوده اهله بماله وان فقیرا فلیحفظ والناس عنها غافلون. (مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۳۰۸) [5]

ملاعلي قاري هم په شرح منسك کبیر کې د دې په تائید کولو سره لیکلي دي: انه بوصله لمکة وجب علیه الحج (بحواله العقود الدرایة ج: ۱ ص: ۱۳) [6] سید احمد پادشاه رحمه الله هم یوه مستقله رساله لیکلې ده، او د دې تائید یې کړی دی لکه چې علامه شامي رحمه الله لیکلي دي (په مذکوره حوالې سره) [7]

علامه ابن همزه نقیب رحمه الله هم په نهیج النجات کې په دې باندې فتوی ورکړې ده.

---

[1] کتاب الحج ج: ۲ ص: ۱۴ (طبع دار المعارفة بیروت.
[2] ج: ص ۴۰۲ (طبع سیعد)
[3] ج: ۱ ص ۱۳
[4] کتاب الحج ج: ۱ ص: ۱۴ (طبع دار المعارفة بیروت.
[5] ج: ۱ ص: ۴۵۶ (طبع دار الکتب العلمیه، بیروت)
[6] ج: ۱ ص: ۱۴ (طبع دار المعرفة بیروت)
[7] رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)

شامی ج: ۲ ص: ۲۳۲) (۱)، علامه ابو السعود (۲) او صاحب نسك الانهر هم په دی فتوی ورکړی ده. (رد المختار ج: ۲ ص: ۲۳۲) (۳)

د دی په خلاف لاندینی علماوو د عدم وجوب قول اختیار کړی دی.

۱: علامه سید عبد الغنی نابلسی رحمه الله په دی مسئلی باندی مستقله رساله لیکلی ده او ثابت کړی یی دی چی حج به واجب نه وی. (العقود الدریة ج: ۱ ص: ۱۳) (۴) وشامی ج: ۲ ص: ۲۳۲ (۵).

۲: علامه ابن عابدین شامی رحمه الله په رد المختار کی هم داقول د لالهٔ اختیار کړی دی. وګوری (شامی ج: ۲ ص: ۲۳۲) (۶)

د واجب ویونکو دلائل:

ترڅو چی احقر تلاش کړی دی د واجب ویونکو دلائل په مجموعی اعتبار سره دا په نظر راغلل.

۱: حج بدل کوونکی یووار کعبی شریفی ته په رسیدلو باندی قادر سوی دی لهذا په (من استطاع الیه سبیلا) (۷) کی د داخلیدو په وجه په ده باندی به اینده کال حج فرض سی.

۲: لکه څنګه چی علامه شامی رحمه الله نقل کړی دی، (۸) علامه ابن حمزه نقیب په نهج النجاة کی دا دلیل پیش کړی دی چی بدائع الصنائع کی دی: یکره احجاج الصرورة لانه تارك فرض الحج. (۹) د دی څخه دا مستفاد کیږی چی د هغه سړی دخول مکی ته د خپل

---

(۱) رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۳، ۲۰۴ (ایضا)

(۲) دافتوی علامه افندی په خپله فتوی کی بخنسه نقل کړی ده لیکن غالبًا هغه په تُرکی ژبه کی ده په دغه وجه په پوهه کی نه راځی. (حاشیه د حضرت والا دامت برکاتهم)

(۳) ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)

(۴) کتاب الحج ج: ۲ ص: ۱۴ (طبع دار المعرفة بیروت)

(۵) ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)

(۶) ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)

(۷) سورة العمران: ۹۷

(۸) رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید

(۹) رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)

نفس څخه په حج کولو باندی قادر سوی دی که څه هم په دی وخت کی د بل چا د پاره په حج کولو باندی مسئول دی.

۳: علامه شامی رحمه الله د لباب څخه نقل کړی دی: الفقیر الافاقی اذا وصل الی میقات فهو کالمکی قال شارحه ای حیث لایشترط فی حقه الا الزاد والراحلة ان لم یکن عاجزاً عن المشی. (رد المحتار ج: ۲ ص: ۱۹۵) (۱)

که یو افاقی فقیر ترمیقاته پوری اورسیږی نو دا هغه احکام د مکی په شان کیږی نو څنګه به د صرورة فقیر هم دا حکم وی.

د قائلین وجوب جوابونه:

خو داتول دلائل په حیز قبول کی نه دی بلکی د دی په خلاف نور قوی دلائل موجود دی، چنانچی د مخکی دلیل جواب دادی چی دا استطاعت معتبر نه دی، څکه چی د دی مثال بالکل همداسی دی چی کوم امیر سړی کوم غریب د زکوٰة د اداء کولو وکیل جوړکړی او هغه وکیل زکوٰة اداء کړی نو څوك هم ورته دانه وایی چی دی قادر سو لهذا په ده باندی خپل زکوٰة اداء کول واجب دی بعینه همداشان یوصرورة فقیر که حج بدل د پاره مکی ته اورسیږی نو که هغه آمر بالحج په ځای خپل حج شروع کړی نو دا تصرف فی مال الغیر بغیر د اذن څخه دی، او که خپل حج هم وکړی او د هغه بل سړی هم نو دا د تداخل راتلو په وجه محال دی، او که د یوکال پوری هم هلته پاته سی نو حرج عظیم دی، څکه چی هغه فقیر دی او عادتًا انسان په سفر کی د یوکال خرچه د ځان سره نه ساتی او بیابه د هغه اهل وعیال په وطن کی بی سهاری وی خصوصیت سره په دی زمانه کی چی د یوملك حکومت غیر ملکی ته په خپل ملك کی د ډیری مودی د پاته کیدلو اجازت هم نه ورکوی، او که په هغه وخت کي بیرته راسی او بل کال ته بیا ولاړ سی نو دابه د دوو حالتونه خالي نه وی، یو داچی په دی موده کی هغه غنی سی، نو په دی صورت کی موږ هم د وجوب حج قائل یو، او هغه په دی وجه نه چی هغه مخکی حج ته تللی وو، بلکی په دی وجه چی هغه غنی سو، دوهم داچی که هغه غنی نه وی نو حج بغیر د غنا څخه څنګه کولی سی؟

غرض دا چی دا آیت په وجوب حج باندی دلیل پیش کول صحیح نه معلومیږی بلکی داخو په عدم وجوب باندی دال دی، لکه څنګه چی موږ به انشاء الله عنقریب بیان کړو.

---

(۱) ج: ۲ ص: ۴۶۰ (ایضًا)

پاته سو دوهم دلیل نو په اصل کی هغه د صرورة غنی په باره کی دی، لکه چی د ابن همام صنیع په دی باندی دال وی، چی هغوی د صاحب بدائع دا جمله نقل کولو څخه وروسته د حج صرورة په صحت باندی استدلالات پیش کړی دی او بیایی لیکلی دی: والذی یقتضیه النظر ان حج الصرورة عن غیره ان کان بعد تحقیق الوجوب علیه بملك الزاد والراحلة والصحة فهو مکروه کراهة تحریم لانه یتضیق علیه.... الخ (فتح القدیر ج: ۲ ص: ۲۳۱) ([1]). او علامه شامی رحمه الله همدا عبارت صرورة په غنی باندی محمول ګرځولی دی. (وګوری رد المختار ج: ۲ ص: ۳۳۱- ۳۳۲) ([2])

پاته سو دریم دلیل، نو د هغه جواب دادی: چی دا قیاس مع الفارق دی، ځکه چی صرورة فقیر قادر بقدرة غیره دی، او قدرت بقدرت غیره معتبر نه دی، کما قررنا. په خلاف د افاقی فقیر چی هغه قادر په قدرت بنفسه دی، نو ځکه یو په بل باندی قیاس کولو صحیح نه دی، همدا وجه ده چی علامه شامی رحمه الله چی چیری دافاقی فقیر مسئله بیان کړی ده هلته خویی د هغه څخه هم دا مسئله اخذ کړی ده: چی: ان المامور بالحج اذا وصل الی مکة لزمه ان یمکس لیحج الحج الفرض عن نفسه لکونه صار قادرا علی مافیه. (شامی ج: ۲ ص: ۱۹۵) ([3]) لیکن باب الحج عن الغیر کی یی دادلیل رد کړی دی. (شامی ج: ۲ ص: ۳۳۲) ([4])

په عدم وجوب باندی دلائل:

یو هغه آیت چی د قائلین وجوب په استدلال کی لیکل سوی وو په اصل کی په عدم وجوب باندی دال دی ځکه چی په هغه کی دابیان سوی دی چی حج په خلګو باندی په هغه وخت فرض کیږی چی د قطع سبیل استطاعت وی او صرورة فقیر په دی کی داخلیږی نه لکه موږ پورته عرض کړل، که هغه هلته اوسیږی نو تکلیف دی او که بیرته راځی نو د هغه په سابقه او موجوده کیفیت کی څه فرق نسته که هغه فقیر دی نو په من استطاع الیه سبیلا ([5]) کی داخل نه دی، لهذا آینده کال هم په ده باندی حج فرض کیدل

---

[1] ج: ۳ ص: ۷۹ (طبع مکتبه رشدیه کویټه).
[2] رد المختار ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید)
[3] ج: ۲ ص: ۴۲ (طبع سعید).
[4] ج: ۲ ص: ۲۰۴ (ایضاً)
[5] سورة العمران: ۹۷.

نه دی پکار، او که شبه اوسی چی هغه قرض اخستلو سره تلی سی؛ نو جواب دادی: چی په دی صورة کي هم قدرت بقدرة غیره به وی چی معتبر نه دی.

۲: لا یکلف الله نفسا الا وسعها ([1])، مجمع الانهر وغیره کی صرورة فقیر ته د دی خبری اختیار ورکول سوی دی چی هغه دی یا خو په مکه کی پاته سی او د آینده کال انتظار دی وکړی، یادی وطن ته بیرته ولاړ سی او بیادی دوباره راسی، نو د دی حاصل دادی چی که هغه په دواړو کی کوم یومشق اختیار کړی نو جائز دی که اوس هغه قصداً یا خطأ د هغه ځای څخه رالی او موږ په هغه باندی د حج فرض کیدلو حکم ولګوی، نو دا تکلیف مالا یطاق دی ځکه چی صرورة د هغه طاقت نه لری او دا د مذکورة الصدرالیت دوجهی صحیح نه دی.

په دی آیت کی (الا وسعها) الفاظ په خاص طور د غور قابل دی، ځکه چی دلته د وسعت لفظ استعمال سوی دی د امکان نه، نو ځکه هغه شبهه هم د دی دلیل سره لری سوه کومه چی په اول دلیل کی وسوه چی هغه قرض اخستلی سی او حج ته تلی سی.

۳: که علی السبیل التنزیل دا ومنل سی چی امکان یاوسعت سته نو په دی کی هیڅ شك نسته چی مشقت او حرج عظیم دي چی: ان الدین یسر ([2]) وغیره د خلاف کیدلو په وجه احکام شرعیه کی د تخفیف باعث جوړیږی، که په دی باندی دا اعتراض اوسي چی حرج او مشقت په هرځای کی معتبر نه دی، نو د دی جواب دادی چی علامه ابن نجیم لیکلی دی: المشقت والحرج انما یعتبر فی موضع لانص فیه. (الاشباه والنظائر ج: ۱ ص: ۱۱۷) ([3])

د بحث لاندی مسئله کی هم څه نص نسته، تردی چی د احنافو امامانو ته بلکی د مشائخو څخه هم څه قول منقول نه دی لکه چی علامه حامد آفندی په خپله فتاوی کی د دی تصریح فرمائیلی ده: لم آره الا فی فتاوی ابی السعود (عقود الدریه ج: ۱ ص: ۱۳) ([4]) نو ځکه دلته د تخفیف باعث د جوړیدلو کی څه مانع په نظرباندی نه راځی.

---

[1] سورة البقره: ۲۸۶
[2] فی صحیح البخاری باب الدین یسر..... الخ. (ج: ۱ ص: ۱۰) طبع قدیمی کتب خانه عن ابی هریرة عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: ان الدین یسر ولن یشآء الدین احداً الاعلیه فسددو او قاربوا وابشروا واستعینو بالغدوة والروحة وشیء من الدلجة.
[3] ص: ۴۳ (طبع سعید)
[4] ج: ۱ ص: ۱۴ (طبع دار المعرفة بیروت.

دا چې د تول بحث څخه د خلاصې په طور دانتیجه را اوځی چې حج

خلاصه: غرض داچې د تول بحث څخه د خلاصې په طور دانتیجه را اوځی چې حج ... ضرورة اداء کیږی خو په دی وجه په کوم فقیر باندی حج نه واجبیږی: هذا ماظهرلی بعد بحث وتفتیش ونظر وتفحص کثیر والعلم الصحیح عند الله اللطیف الخبیر اذهو اعلم بما هوصواب والیه مصیرنا والماٰب واٰخر دعوانا ان الحمدلله رب العٰلمین وسلم علی المرسلین والعاقبة للمتقین.

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه)
احقر العباد محمد تقی العثمانی غفرالله له وهداه الی الصواب
۲۷/ ۱۱/ ۱۳۷۹ه [1]

۱: د بیماری په وجه بل څوک په حج بدل باندی د لیږلو حکم

۲: کوم سړی چې خپل حج نه وی کړی هغه حج بدل باندی لیږل نه دی پکار

سوال: د تیری میاشتی څخه د عرق النساء په تکلیف کی مبتلایم، تکلیفونه د برداشت څخه بهر دی، زیات ګرځیدلی راګرځیدلی نسم آیا په دی حالت کی خپله اهلیه د حج بدل د پاره لیږلی سم او که نه؟ د هغه څوک محرم نسته.
۲: د دواړو حج په برنی شکل کی کیږی او که نه؟ یا حج زماکیږی او اهلیه ته به ثواب ورکول کیږی؟

جواب: که ته پخپله دومره بیمار یی چی پخپله حج نسی کولی نو څوک په حج بدل باندی لیږلی سی [2]، لیکن د کوم داسی سړی په ذریعه حج بدل اوکړه چی هغه خپل حج اداء کړی وی [3].
چاچی خپل حج نه وی کړی هغه په حج بدل باندی لیږل مکروه دی خو که وی لیږلو نو حج به یی اداء سی. [1]

---

[1] دا فتویٰ د حضرت والا دامت برکاتهم د درجه تخصیص، (د افتاء د تمرین) د کاپی څخه اخستل سوی ده. (محمد زبیر حقنواز)
[2] وفی الشامیة ج: ۲ ص: ۵۹۸ (طبع سعید) حج الفرض تقبل النیابة عند العجز فقط لیکن بشرط دوام العجز الی الموت..... الخ.
[3] ایضاً.

۲: که ستا اهلیی خپل حج نه وی کړی نو په هغه حج بدل مه کوه، هو! که هغه خپل حج کړی وی نو هغه د خپل محرم سره په حج بدل لیږی سی [2].

والله سبحانه اعلم
۲۸/ ۹/ ۱۳۹۲ه
(فتوی نمبر ۱۰/ ۲۳۱/ ۲۷ه)

د والدی مرحومی د پاره د نفلی حج حُکم

سوال: که کوم سړی خپل حج مخکی کړی وی نو د دوهم حج په موقعه باندی د خپلی مور د پاره حج کولی سی؟
جواب: هوجی! کولی یی سی [3].

والله سبحانه اعلم
۲۱/ ۹/ ۱۳۸۸ه

۱: په حج بدل کی د تمتع احرام تړلو حُکم

۲: آیا حج بدل کولو سره حج فرض کیږی؟

سوال: زید په حج بدل کی د تمتع احرام تړلی وو، او اوریدلی می دی چی په حج بدل کی د افراد احرام د میقات څخه تړل پکار دی.
۲: او آیا حج بدل کولو سره حج فرض کیږی؟ اول په هغه باندی فرض نه وو؟ او د حج بدل د پاره څه شرائط دی؟ په مذکوره صورة کی د تمتع احرام سره که څه خراجی راځی نو د هغه څه تدارك کیدلی سی؟
جواب: ۱: په حج بدل کی د تمتع احرام تړل که د لیږونکی (آمر) په مرضی او اجازت سره وی نو جائز دی خو په دی صورت کی به د قربانی رقم د حج کوونکی په ذمه وی د

---

[1] ایضاً.
[2] د دی مسائلو د مکمل تفصیل او دلائلو مخکینی فتویٰ وګوری.
[3] وفی الغنیة ص: ۷۶ اتبرع الولد بالاحجاج او الحج بنفسه عن احد ابویه اذامات وعلیه حج الفرض ولم یوص به مندوب الیه جدا، وفی التاتار خانیه ج: ۲ ص: ۲۶۴ من مات وعلیه فرض الحج ولم یوص به یلزم الوارث ان یحج عنه وان احب یحج عنه حج وأر جوأن یجزیه انشآء الله تعالی..... الخ. (محمد زبیر حقنواز)

لیږونکی په ذمه د دی ورکول ضروری نه دی او که لیږونکی د تمتع اجازت نه وی ورکړی او حاجی حج تمتع اوکی نو دابه د لیږونکی د حکم مخالفت ګڼل کیږی او د هغه حج به اداء نه وی او د تلونکی په ذمه به وی چی خرچه بیرته راکړی، ځکه خو فقهاوو لیکلی دی: چی لیږونکی ته پکار دی چی د هرقسم احرام مأمور ته اجازت ورکړی: ودم القِران والتمتع والجناية على الحاج ان اذن له الامر بالقِران والتمتع والا فيصير مخالفًا فيضمن (درمختار مع الشامی ج: ۲ ص: ۳۳۹) [1] فلو امره بالافراد او العمرة فقرن او تمتع ولو للميت لم يقع حجه عن الامر ويضمن النفقة. (حاشية البحر ج: ۳ ص: ۶۸) [2]

۲: کوم سړی چی خپل حج نه وی کړی هغه په حج بدل باندی لیږل نه دی پکار او که وی لیږلو نو د لیږونکی د اړخه به حج اداء سی، او که د تلونکی په ذمه اول حج فرض نه وو، نو تحقیق همدادی چی صرف حج بدل کولو سره به حج فرض نه وی ترڅو چی د هغه خپل استطاعت پیدا نسی. (وګوری العقود الدريه ج: ۱ ص: ۱۳ [3] او شامی ج: ۲ ص: ۲۳۲) [4].

الجواب الصحیح (محمد عاشق الٰہی)

واللہ سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتویٰ نمبر ۱۴۵/ ۱۸- الف)

آیا کمزوری سړی بل څوک پخپل ځای د حج د پاره لیږلی سی؟

سوال: آیا کمزوری سړی پخپل ځای بل څوك د حج د پاره لیږلی سی؟

جواب: که ضعیف سړی پخپله په حج کولو باندی قادر نه وی نو هغه داسی سړی د خپل

---

[1] ج: ۲ ص: ۶۱۱ (طبع سعید)

[2] ج: ۳ ص: ۶۳ (طبع رشیدیه کویټه) او همدارنګه په دی مسئله کی د زیات تحقیق او تفصیل د پاره امداد الاحکام ج: ۲ ص: ۱۸۲ تر ۱۸۷ پوری وګوری.

[3] کتاب الحج ج: ۲ ص: ۱۴ (طبع دار المعرفة بیروت)

[4] ج: ۲ ص: ۲۰۴ (طبع سعید).

طرف څخه د حج د پاره لیږلی سی چاچی پخپله حج کړی وی. [1]

واللہ سبحانه اعلم

۲/ ۱۲/ ۱۳۹۶ھ

(فتویٰ نمبر ۲۷۶۱/ ۲۷و)

فصل فی المسائل المتفرقة المتعلّقة بالحجّ

د حج سره متعلق د متفرقو مسئلو بیان.

که د حج په ورځوکی ښځی ته حیض راسی نو هغه څه وکړی؟

سوال: که یوه ښځه د حج کولو د پاره ولاړه سی او د حج په ورځو کی ورته د حیض راتلل شروع سی نو هغه څه وکړی؟

جواب: د طواف څخه ماسوا د حج ټول کارونه د حیض په حالت کی کولی سی زیارت طواف دی د پاکیدو څخه وروسته وکړی. [2]

واللہ سبحانه اعلم

۲۵/ ۵/ ۱۳۸۸ھ

مسجد نبوی کی څلویښته لمونځونه کولو سره به حج کی څه فرق نه وی؟

سوال: زید په سعودی عرب کی ملازم دی هغه ته د حج کولو موقع ورکول کیږی خو د حج اداء کولو څخه وروسته فوراً یا د څه مودی څخه وروسته وطن ته راتلل وی چی د هغه د وجی په مدینه منوره کی څلویښت لمونځونه نسی اداء کولی که یی پریږدی نو حج به یی اوسی او که نه؟

---

[1] فی الدرالمختار ج: ۲ ص: ۵۹۸ (طبع سعید) حج الفرض تقبل النيابة عند العجز فقط..... الخ. وفی الهندية ج: ۱ ص: ۲۵۷ (طبع رشيديه كويټه) والافضل للانسان اذا اراد ان يحج رجلا عن نفسه ان يحج رجلا قد حج عن نفسه.

[2] وفی الهداية ج: ۱ ص: ۲۵۲ (طبع شركت علميه ملتان) (باب التمتع...) واذا حاضت المرأة عند الاحرام اغتسلت واحرمت وصنعت كما يصنعه الحاج غير انها لاتطوف بالبيت حتى تطهر لحديث عائشة، وكذا فی فتاوىٰ دار العلوم ديوبند ج: ۲ ص: ۵۴۲

جواب: کوشش خودی حتی الامکان دا وکړی چی کم ترکمه ځلوېښت لمونځونه اوسی ځکه چی دا سعادت عظیم (۱) بیا بیانه ورکول کیږی، خو که د څه مجبوری په وجه زر راتلل وی نو بیاهم په حج کی څه کراهت وغیره نه پیدا کیږی.

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۹/ ۱۳۹۸ھ

(فتوی نمبر ۲۹/۱۰۷۴ ب)

چاته چی د حج د پاره پیسی ورکول سوی وی او د هغه نوم قرعه کی را اونه وتی نو د هغه پیسو څه حکم دی؟

سوال: یو سړی بل چاته پیسی ورکړی چی حج وکړی ورکوونکی سړی حاجی دی هغه ځوکاله متواتر کوشش وکی خو د هغه نوم د حج په فهرست کی رانه لی بیا ژر مبادله زیاته سوه په داسی صورت کی داپیسی د چادی؟

جواب: که داپیسی ورکوونکی د خپله اړخه یا د بل د طرفه د حج بدل د پاره ورکړی وی نو دا بیرته واپس کول واجب دی او که د امداد په طور یی ورکړی وی او هبه کړی یی وی نو واپس کول یی واجب نه دی.

والله اعلم

۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

(۱) وفی الترغیب والترهیب ج: ۲ ص: ۱۳۹ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) عن انس بن مالك عن النبی ﷺ قال: من صلی فی مسجدی اربعین صلوة لاتفوته صلوة کتبت له برائة من النار وبرائة من العذاب وبری من النفاق. وکذا فی مسند احمد ج: ۲ ص ۱۵۵ رقم الحدیث: ۱۲۲۰۵ (طبع قرطبه مصر).

کتاب النکاح

د نکل مسائل

فصل فی وعد النکاح

د کوزدی د مسائلو بیان

دکوزدی شرعی حیثیت او دکوزدی څخه وروسته د انجلی د نکاح څخه انکار کول

سوال: که یوه مسلمانه ښځه یاسړی دری واره قرآن شریف په لاس کی واخلی الله او رسول خپل شاهد جوړکړی او وعده وکړی: که په ژوند واده کوم نو ستاسره به یی کوم، که نه یی نو واده به نه کوم، که د بل سړی سره واده وکړم نو، قرآن زما خلاف شاهدی ورکوی هغه ښځی یاسړی دری واره په لاس کی لاس ورکولو سره وعده وکړه. د نن څخه دوه کاله مخکی زه نابالغه وم زما د والدینو په جولی کی یاسین دری واره قرآن کښی ښووی او خپل واده یی خنی وغوښتی او صفایی ورته ووئیل چی زمابله ښځه ژوندی ده خو د هغه سره می سلوك ښه نه دی زما ورسره د قطع تعلق اراده ده وروسته د اختر په موقعه باندی زموږ د پاره او تقریبًا د ټول کور والا د پاره کپړی او زما د پاره یی د کوزدی ګوتمی راوړه، زما مور زما پلار ته ووئیل: که داشیان قبلول دی نو په سوچ او فکر سره یی قبول کړه څکه چی داسړی غرضی دی زما په موجودګی کی زما پلار ووئیل: چی څه خبره نه ده الله مالك دی، زه نابالغه ضرور وم، خو زه په ټولو خبرو باندی پوهیدم، څلور پنځه ورځی وروسته زمامور زما مشر وروز ته ووئیل: چی داسامان یسین راوړی دی، ستا پلار قبول کړی دی، زما ورور ووئیل: موری! دا سامان ستا په مشوری سره راغلی دی، څکه چی دا خو د کوزدی سامان دی او د مور په شان کی یی ډیره ګستاخی وکړله او روته یی ووئیل چی موری! ته بیغیرته یی. په بله ورځ یسین ته معلومه سوه، هغه زما د موز څخه حقیقت معلوم کړ، زمامور ورته په ژړاکی ووئیل: چی زماځوی نن ماته بیغیرته وئیلو سره زه بالکل لسه کړم داخبره یاسین واوریدله، او وی وئیل: کله چی ما درته مور وئیلی دی نو د سکه مور څخه به ستا زیات عزت کوم، د شپی یاسین زمت د ورور په جولی کی خپله لور وغورزوله (چی د هغه عمر نه کاله وو) چی ددی سره ته د خپل ورور واده اوکړه، د بدلی په طوریی درکوم، او د دی رشتی په بدله کی ستا څخه هیڅ هم نه غواړم د تحریر لیکلو او دستخط کولو سره یی خط ورکی، مور او پلار می مشوره وکړله چی د یاسین لور همداسی نه اخلو. بلکی د دی

په بدله کی رشته ورکړه، یاسین یی را وغوښتی او ورته یی ووئیل: چی ته زما کوشنی لور د خپل ځوی د پاره واخله په دی باندی یاسین ووئیل که رشته راکوی نو خپله مشره لور زما د پاره راکړه که نه یی نو ماخپله لور تاسوته درکړی ده. د دری څلورو ورځو څخه وروسته زما والدین زما په رشته ورکولو باندی رضامند سول، او زما مشوری مور زما مشر ورورته په صفا الفاظو باندی ووئیل: چی سوچ اوکړه د خپل د پاره د مشری انجلی رشته وغواړی، صبا په ماباندی الزام مه لګوه چی مور موږ ته دوکه راکړه او داپیغور راکوی چی انجلی یی په بن باندی ورکړله.

په اخترکی زما والدینو د کوزدی جامی واغوستی او د یاسین کورته ولاړل چی یاسین قبول کړی، د اختر څخه وروسته یاسین د خپلی لور د کوزدی اعلان زما د حقیقی ماما مشر ورور او زما د مور او نورو خپلوانو په مخکی اوکی. د خیر دعاء هم وسوه، وروسته د یاسین حالت خراب سو، د هغه خپلوان طاقتور دی د هغه لوریی بغیر د اجازت څخه خپل کورته بوتله، وروسته د یاسین خوانبی مړه سوه، نو یاسین خپله انجلی او هلك هم هلته پریښوول، دری څلوز وارو اخستو د پاره ورلی نو هغوی ووئیل چی ترڅو کوزده ماته نه کړی، بچی به درته واپس نه درکول کیږی. یاسین ووئیل چی ماقرآن اخستلو سره انجلی ورکړی ده، زما قدم نسی وروسته کیدلی، زما په ژوندانه کی زما د لور بل خاوند نسی کیدی، زما کور والاوو د یاسین ملګرتیا وکړله، نو یاسین تردی ووئیل: چی هلك به ورسره در ولیږم او هلته به شرعی نکاح وکړم، خو زما پلار او ورور نکاح اوکړه، د سرګودهی څخه د مفتی سید احمد صاحب څخه موفتوی طلب کړله، هغوی ولیکل: چی د نابالغی انجلی پلار په کوم ځای او په کوم وخت چی وغواړی نکاح کولی سی، زما پلار او ورور هغه هم مسترد کړل، زه اوس بالغه یم او د خپلی مرضی مختاره یم، د دی څخه علاوه ما پخپله دری واره قرآن لوړولو سره وعده کړی ده او وعده په ماګرانه ده او ماته قرآن او ایمان ګران دی، آیا وعده پورکول پکار دی او که نه؟ دا بیان وکړی چی په سیده لاره باندی په تللو کی کامیابه سم.

جواب: شرعًا د کوزدی حیثیت د یوی وعدی دی [1] چی د هغه پوره کول واجب دی او بغیر د څه عذره د هغه خلاف ورزی کول جائز نه دی، لهذا ته اوس د بالغ کیدو څخه

[1] وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۱۲، وان للوعد فوعد، وفی الشامیة ص: ۱۱، لوقالو: هل اعطیتنیها فقال اعطیت ان کان المجلس للوعد فوعد وان کان للعقد فنکاح. همدارنګه وګوری کفایة المفتی ج: ۵ ص: ۴۸-۵۱.

وروسته مختاره یی، که د یاسین سره نکاح کولو کی تاته څه خرابی محسوسیږی نو انکار کولی سی خو که په دی کی څه خرابی نه پیداکیږی نو د هغه سره کړی وعده پوره کول(۱) او د هغه سره نکاح کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/۹/۱۳۹۷ھ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۹۴۰ ج)

دکوزدی شرعی حیثیت او آیا دکوزدی ماتول جائز دی؟

سوال: عرض دادی چی زمامور او پلار پنځه کاله مخکی زما کوزده خپل ډیر نژدی خپلوانو کی کړی وه او دری کاله زه د ملك څخه وتلی په سعودی عرب کی وم او اوس خپل ملك ته بیرته راغلی یم، او واده هم تیار دی خو زما والدین اوس په عین وخت کی د واده په حق نه دی، هغوی وایی که تا په دی ځای کی واده وکی، نو ته به زموږ خوی نه یی، ما د رضاء کولو ډیر کوشش وکی، مغززینو ډیر پوه کړل خو هغوی نه منی آخر زه مجبوره سوم اوس د شریعت مطهره طرف ته رجوع کوم، دی رشتی ماتیدو سره به د دوو وړونو سره قطع تعلق شی یعنی زما په والدینو او خسرګنی کی، زما خیال دی چی واده وکړم او د والدینو حقوق هم اداء کوم، او د نورو وړونو می زیات خدمت کړی دی او کوم به یی، خو والدین د دی رشتی په ماتولو باندی زیاتی کوی، څه خاص شرعی وجه هم نسته چی د هغه په وجه رشته پریږدم اوس تاسوماته ووایاست چی څه وکړم؟

جواب: کوزده د نکاح وعده ده (۲) او ترڅو چی څه معقول عذر نه وی پیښ سوی نو دا وعده پوره کول دیانتاً ضروری دی.(۳) که څه معقول عذر پیښ سی نو کوزده ماتولی هم سی، اوس که ستا والدین د څه معقول عذر په وجه کوزده ختمول غواړی نو ته په دی باندی په یخ زړه سره سوچ اوکړه او که د والدینو خبره معقوله معلومه سوه او څه عذر مخ ته راسی نو ته د هغوی په وینا باندی عمل کولو سره کوزده ختمولی سی خو که والدین د څه معقول عذر څخه بغیر کوزده ختمولو باندی اصرار کوی نو ستا دپاره په

---

(۱) وفی صحیح البخاری کتاب الایمان باب علامة المنافق ج: ۱ ص: ۱۰ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریره ﷺ عن النبی ﷺ قال: آیة المنافق ثلاثة: اذا حدث کذب واذا وعد اخلف، واذا اوتمن خان.

(۲) ایضاً.

(۳) ایضاً.

دی معامله‌می د هغوی اطاعت کول واجب نه دی، د هغوی حتی الامکان د راضی کولو کوشش کوه.او نکاح وکړه خو د دی فیصلی کولو څخه مخکی په ذهن کی داخبره کښیږده چی عموماً والدین د خپلو بچو د خیر خبره سوچ کوی، لهٰذا د هغوی خبره سرسری طور باندی نظر انداز کول نه دی پکار.

والله سبحانه اعلم

۱۰/۴/۱۴۰۸ھ

(فتویٰ نمبر ۳۹/۲۹۵ ج)

دکوزدی څخه وروسته د انکار کولو حُکم

سوال: زید د خپلی لور په باره کی په یومجلس کی بکرته ووئیل چی زه خپله لور ستاخوی ته درکوم خو نکاح به وروسته کیږی صرف خبره سوی ده نکاح نه ده سوی، اوس د کورنی اختلافاتو په وجه بکر انکار کوی، آیا اوس د هغه انکار کول صحیح دی؟ او آیا نکاح سوی ده او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی د بکر د خوا د زید د لور سره نکاح منعقده سوی نه ده صرف د نکاح وعده وه (۱)، اوس که زید د خپلی لور واده بکرته یا د هغه څوی ته د اطلاع ورکولو څخه بغیر بل ځای کوی نو هغه ته به د خلاف ورزی ګناه وی (۲) خو دانکاح صحیح ده.

الجواب الصحیح (بنده محمد شفیع عفا الله عنه)

والله اعلم وعلمه اتم واحکم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۳۰/۱۰/۱۳۸۷ھ

(فتویٰ نمبر ۱۸/۱۳۲۹ الف)

دکوزدی څخه وروسته د انکار کولو حکم

سوال: دوی فریقی خپل په مینځ کی د امام مخامخ، به مجلس دا فیصله وکړی یابیان ورکړی چی ما د فلانی نوم انجلی رشته د فلانی نوم هلك ته ورکړه مجلس کی بیا دعاء

---

(۱) وګوری د تیری صفحی اوله او د دوهمی حواله.

(۲) وګوری امداد الفتن صـ ۵۸۳، ۵۸۴ سوال نمبر: ۴۴۲، ۴۴۸.

وغوښتل سوه او شیریني تقسیم سوه، د دي څخه وروسته د لږ خفګان د وجي یي د انجلی رشته بل ځای وکړله د داسي کوونکو په باره کي څه رایه ده؟

جواب: د نکاح رشته ورکول د نکاح وعده ده او د وعدي خلاف ورزی بغیر د سخت عذر څخه ناجائز دی، خو د سخت عذر په صورت کي ګنجائش دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۸/۲۷۰ الف)

د معقول عذر په وجه کوزده ماتولی سی

سوال: یوصاحب د خپل ځوی کوزده کړی ده او د هلك پلار په قرآن پاك باندي لاس کښی ښووئ او وعده یي وکړه چي دا انجلی ستاده او دا هلك زمادی د کوزدی دارسم داشان اداء سوی وو، اوس لږ موده وروسته دواړو فریقینو کي څه اختلافات دی. اوس د انجلی والا د رشتي ورکولو څخه انکار کوی اوس په موږ باندی د شریعت په مخ کي څه کفاره خونه لازمیږی؟

جواب: شرعاً د کوزدی حیثیت د یوی وعدي دی (۲) او حتی الامکان د وعدي پابندي ضروري ده، (۳) خو که څه معقول عذر پیښ سی مثلاً انجلی د هغه هلك سره په نکاح راضي نه وي یا د هلك د عاداتو او اخلاقاتو څخه څه داسي خبري مخ ته راغلي وي چي اول معلوم نه وي نو کوزده ماتول جائز دي. او که د کوزدي په وخت کي یي په ژبي سره څه قسم نه وي اخستي نو په هغه باندي کفاره هم واجب نه ده

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۸/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۸/ ۸۲۸ ج)

د هلك طور طریقي نه صحیح کیدل د کوزدي ماتولو د پاره معقول عذر دی

(۱) ایضاً.
(۲) ایضاً.
(۳) وګورئ امداد الفتن ص: ۵۸۲ تر ۵۸۴ سوال نمبر ۴۴۲ تر ۴۴۸.

سوال: په علاقه راجستان کي د سائل د نیکونو څخه یورسم راروان دی چي موږ خلګ د خپلو بچو د پاره د تی رودلو د زماني څخه داشان کوزده کوو، چي په ماشومانو باندی رسماً چیني څښو، دی رسم ته د چیني څښلورسم وئیل کیږی او داشان د دوو ماشومانو رسم طی کیږی او په بلوغت باندی د هغوی عقد شرعی کول کیږی، چنانچي د دی زوړ علاقه یی رسم مطابق سائل په کراچي کي (۱) د خپلی کوشني خور جمیله (کله چي د هغه عمر یونیم کال وو) د بشیر د ځوی بوری شاه، ساکن نزد بارود خانه ولایت آباد نمبر ۲ منګوپیر روډ کراچي سره (هرکله چي د هغه عمر پنځه کاله وو) کوزده یی کړی وه، او د چیني څښلو رسم او عمل تړل سوی وو، اوس دواړه بالغ دی، د هلك طور او طریقي لیدلو سره سائل د انجلی کوزده ناقابل قیام او د نکاح د رشتي قابل نه ګڼي او شرعاً د هغه سره عقد کول نه غواړي آیا سائل دانسبت د کټ کولو حقدار دی؟ آیا هغه لورته د سائل د رضائیت خلاف د هغه سره د عقد کولو یا هغه زوجه جوړولو شرعاً مستحق دی او که نه؟

جواب: کوزده برابره خبره ده که زباني سوی وی یا عملي سوی وی (مثلاً په مسئوله صورت کي (چیني څښلو سره) هغه نکاح نه ده بلکې محض د نکاح وعده ده چي په دی سره کوم عقد نه سی منعقد کیدی (۲) خو د وعدي خلاف ورزی بغیر د عذر څخه ناجائزده او که څه معقول عذر وی نو جائزده او د هلك طور او طریقي څخه درست کیدل یا د انجلی په هغه رشتي باندی نه راضي کیدل معقول عذر دی او که د دی په وجه ته کوزده ختمه کړی نو په دی کي شرعاً څه حرج نسته د هلك والاوو ته په دی شرعاً د څه اعتراض حق نسته.

والله سبحانه اعلم

۱۶/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۵۵۹/ ۲۸ ب)

خطبه څه ته وائی؟ او کوزده یا د سلامتي په عنوان سره د اجتماع شرعي حیثیت

سوال: په شریعت اسلامیه کي د کوزدی (یاسلامتي) څه حکم دی؟

(۱) ایضاً.
(۲) وګورئ تیره حواله تیره صفحه. (۱۲۳)

د دی صورت دادی چی د هلك والا د انجلی والا کره بذات خود یا د کوم نماینده په ذریعه د نکاح پیغام لیږی، که د انجلی والا دا پیغام قبول کړی نو د هلك مور او پلار یا ذمه دار حضرت د انجلی د مور او پلار یا ذمه دارو حضراتو سره اولاً د نکاح په سلسله کی د مهر مقدار او د نکاح د تاریخ وغیره تعین کوی لکه چی د نکاح خبره پخه سوه د دی څخه وروسته د مزید تشهیر د پاره د نکاح د ورځی څخه مخکی د انجلی په کور کی د کوزدی (سلامتی) په نوم یوه ورځ مقرر وی، یومجلس جوړوی چی په هغه کی د خپل خپل حیثیت موافق پنځوس، سل یازر، دوه زره د طرفینو د متعلقینو او خپلوانو ته دعوت ورکول کیږی، مقرب تاریخ کی یعنی د سلامتی په ورځ چی ټول خلګ جمع کیږی نو یوسړی ولاړیږی او اعلان کوی چی دا د فلانی او فلانی سلامتی ده، د فلانکی هلك د فلانی انجلی سره په دومره دومره مهرباندی سلامتی سویده او د انجلی د پاره د مهر متعین زیورات وغیره د مجلس په مخکی د انجلی والاوو ته حواله کیږی، او د انجلی والا داټول سامان په خپل تحویل کی اخلی، او کوم سامان چی انجلی ته ورکول کیږی زیورات وغیره د مجلس په مخکی د انجلی والا د دی ټول سامان باضابطه نمایش (ښودنه) کوی او اهل شرکاء کی یی بعضو ته ښائی، د دی څخه وروسته امام صاحب دعاء کوی او د انجلی والاو د طرفه ټولو شریکانو ته د خپل حیثیت موافق میلمستیا کوی.

اوس پوښتنه داکول دی چی د نکاح د پیغام قبلولو څخه وروسته او د جانبینو د رضامندی سره د نکاح په سلسله کی د مهر د مقدار او د نکاح د تاریخ وغیره متعین کولو څخه وروسته داشان د سلامتی په نوم سره خلګ جمع کول او د مجلس جوړول جائز دی او که نه؟ زموږ خواته یومستند عالم چی د دیوبند د دار العلوم فارغ التحصیل دی هغه وائی چی د جانبینو د رضامندی څخه وروسته داشان د سلامتی په نامه سره مجلس جوړول شرعًا جائز دی، بلکی د ثواب کار دی، حدیث شریف کی چی څه ته خطبه وایی هغه هم ورته وائی، د دغه عالم صاحب وینا شرعًا صحیح ده او که نه؟ په مسئوله صورت کی چی دوه صورتونه پیش سوی دی اول صورت ته خطبه وائی او که دوهم صورت ته؟

جواب: شرعًا د خطبی حاصل صرف دومره دی چی سړی یا د هغه خپلوان ښځی یا د هغه خپلوانو ته د نکاح پیغام ورکړی، د دی غرض د پاره څه اجتماع یا د تحفو تبادله د خطبی د پاره هیڅکله ضروری نه ده لهٰذا د کوزدی یا د سلامتی په نوم سره د کومی

اجتماع چی سوال کی یی ذکر اوسو، هغه ته سنت ویل بالکل غلط دی بلکی سنت ګڼل داسی کول بدعت دی او واجب الترک دی.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۱۲/ ۱۴۰۴ هـ

(فتوٰی نمبر ۲۰۷۸/ ۳۵ هـ)

کوزده د نکاح د خطبی قائم مقام نسی کیدی

سوال: زما عمر (۷۲) دوه اویاکاله دی الله ﷻ دری ځامن او لونی راکړی دی، د دری واړو انجونو د ودونو څخه زما مالك زه خلاص کړی یم اوس صرف د یوی ملکانو او دری انجونو د ودونو څخه زما مالك زه خلاص کړی یم اوس صرف د یوی لور فریضه اداء کول زما په ذمه باندی باقی ده، د هغه انجلی عمر نه ویشت کاله دی د لمونځ او روژی پابنده ده او د کور په کارونو کی مقبول مهارت لری، د والدی د وفات څخه وروسته خاموشه ده او د هغه خاموشی په ماباندی ګراته تیریږی زما د ژوند د ملګری یونیم کال وسو چی مړه سوی ده، او د مناسب رشتی تلاش یی کوی او دا ارمان یی په زړه کی د ځان سره وی وړی، د لور خفګان زه مجبوره کړی یم چی د هغه واده ژر وکړم او د دی فرض څخه خلاص سم، چنانچی په سنه ۱۹۷۲ کی د یوه نژدی خپلوان په ذریعه می د دی ماشومی کوزده وکړله، کله چی می هلك ته د هغه د خپلوانو په ذریعه د واده پیغام ولیږی نو هغه جواب راکی چی کم ترکمه دوه کاله انتظار وکړه، که نه یی په بل صورت ته چی چیری غواړی د خپلی لور واده کولی سی، په دی ناګفته بهِ حالاتوکی زما ضمیر د دی خبری اجازه نه راکوی چی زه د هغه هلك منت سماجت وکړم آیا د کوزدی رسم ته د نکاح مقام ورکولی سی؟ که کوم بل موزون هلك پیداسی نو آیا موږ د هغه سره نکاح کولی سو، کوزده خو به خنډ نه جوړیږی؟

جواب: کوزده د نکاح د خطبی قایم مقام نسی کیدی او نه په دی سره نکاح منعقد کیږی هغه محض د نکاح یوه وعده ده ([1]) او د وعدی خلاف ورزی بغیر د څه عذر څخه جائز نه ده ([2])، هو! که څه عذر وی مثلاً په هلك کی څه عیب وی چی د اول څخه معلوم

[1] فی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۱۲ (طبع سعید) وان للوعد فوعد. وفی الشامية ص: ۱۱ لوقال هل اعطیتنیها فقال اعطیت ان کان المجلس للوعد فوعد وان کان للعقد فنکاح.

[2] وفی صحیح البخاری باب علامة المنافق ج: ۱ ص: ۱۰ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابی هریرة عن النبی ﷺ قال: آیت المنافق ثلاث: اذا حدث کذب واذا وعد اخلف واذا اوتمن خان. (الحدیث)

نه وی او اوس معلوم سی یا انجلی دغه رشته نه خوښوی نو په داسی صورت کی کوزده ماتول جائز دی، خو د دی اطلاع دوهم فریق ته کول ضروری دی [۱].

والله سبحانه اعلم

۲۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۴۱/ ۲۸ ب)

د کوژدی په عوض کی د انجلی والا وو پیسی اخستل

سوال: یو سړی مسمی سلمان په یو ځای کی د خپل ځوی مسمی عبد الستار کوزده کړی ده او د انجلی والاوو ته یی حسب دستور یوویشت سوه روپی هم ورکړی دی، خو د دی څخه وروسته چی مسمی عبد الستارته کله معلومه سوه نو هغه سمدستی په مجمع کی اعلان وکی او د واده څخه یی انکار وکی، بیا تقریباً دوی میاشتی وروسته هغه انجلی مړه سوه چی د چاسره یی واده کیدونکی وو، اوس چی کله مور د انجلی والاوو څخه د خپلو ورکول سوو یوویشت سوو روپو مطالبه کوو، هغوی داوایی چی زموږ لور مړه سوه، لهذا اوس ستاسو پیسی هم نه درکوو، د پیسو واپس کولو څخه انکار کول، آیا داپیسی موږ ته بیرته راکول کیدی سی او که نه؟

جواب: په بعضو ځایونو کی د انجلی د کوزدی په معاوضه کی چی کومی پیسی اخلی هغه شرعاً د رشوت په حکم کی دی چی د هغه اخستل او ورکول دواړه ناجائز دی، لهذا که د انجلی انتقال کیدو او که نه کیدو، په هرحال کی د انجلی والاوو باندی دا واجب وو چی دا پیسی بیرته ورکړی [۲] هو! که داپیسی د مهر جزء جوړولو سره ورکړی نو دا بیا انجلی ته ورکول پکار وو [۳] خو د نکاح منعقد کیدلو څخه مخکی د انجلی انتقال اوسو، نوځکه اوس د مهر هم څه سوال پاته نسو، لهذا په انجلی والاوو باندی په هرصورت کی واجب دی چی دغه پیسی بیرته ورکړی.

والله سبحانه اعلم ۵/ ۱۰/ ۱۳۹۲ھ (فتوی نمبر ۲۳۲۹/ ۲۷ ھ)

---

[۱] د تفصیل د پاره وګوری امداد الفتن ص: ۵۸۳ تر ۵۸۴ پوری سوال نمبر ۴۴۲ پوری.

[۲] وفی الدر المختار کتاب النکاح باب المهر ج: ۳ ص: ۱۵۲ (طبع سعید) اخذ اهل المراٴة شیئاً عند التسلیم فلزوج ان یسترده لانه رشوة... الخ.

[۳] وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۵۱ ولوبعث الی امراته شیئًا ولم یذکر جهة عند الدفع غیر جهت المهر... فقالت هو ای المبعوث هدیة وقال هو من المهر او من الکسوة او عاریة فالقول له بعینه

فصل فی المحرمات

(د چاسره نکاح جائزده او د چاسره حرام؟ د قرابت او رضاعت د رشتو بیان)

رضاعی وریری او رضاعی خورزی سره نکاح جائز ده

سوال: یو شیدو چښونکی ماشوم چی د لوری یا د بل څه په وجه یی ژړل او د هغه مور په بل څه کار کی مصروفه وه، په دی دوران کی د ماشوم انا راځی او په ماشوم باندی خپلی شیدی چښی آیا د دی په وجه د بچی د مور او پلار په رشته کی څه فرق راځی؟ او د ماشوم پلار به د ده رضاعی ورور جوړسی؟

جواب: په مسئوله صورت کی د دی ماشوم نیا د هغه رضاعی موجوړه سوه لهذا فرق دا معلوم سو چی اول د دی نیا د ځوی د اړخه لمسی او د لور د اړخه لمسی د دی هلك بابا د اکا لونی وی یا د خاله لونی وی او د هغوی سره یی نکاح جائز ده، خو اوس د دی رضاعی وریری او خورزی جوړی سوی اوس یی د هغوی سره نکاح جائز پاته نسوه. [۱]

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۸/ ۱۳۹۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷۷۹/ ۲۷ و)

د ښځی د شیدو په چښلو سره ښځه نه حرامیږی

سوال: زید د خپلی ښځی شیدی په غلطی سره وچښلی یایی قصداً عمداً وچښل، دواړو صورتونو کی دافعل حرام دی او که مکروه؟ د دی سره خو نکاح نه ماتیږی؟

---

[۱] فی سنن ابی داؤد. کتاب النکاح. باب یحرم من الرضاعة ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع سعید) عن عایشه زوج النبی ﷺ ان النبی ﷺ قال: یحرم من الرضاعة مایحرم من الولادة.

وفی جامع الترمذی باب ماجاء یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ج: ۲ ص: ۲۱۷ (طبع سعید) عن علی قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله حرم من الرضاع ماحرم من النسب، وفی المشکوة، کتاب النکاح، باب المحرمات ص: ۲۷۳ عن علی انه قال: یارسول الله! هل لك فی بنت عمك حمزة فانها اجعل فتات فی قریش، فقال له، اما علمت ان حمزة اخی من الرضاعة. وان الله حرم من الرضاعة ماحرم من النسب. رواه مسلم.

جواب: د خپلی ښځی شیدی جائز نه دی (۱) خو که څوك داسی وکړی نو په دی سره نکاح نه ماتیږی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۸/ ۱۳۹۲ھ
(فتوی نمبر ۲۷۷۹/ ۲۷ و)

د رضاعی خور سره نکاح جائز نه ده

سوال: د منسمات حلیمه شیدی محمد عمر او محمد هارون یوځای وچښلی مسمات حلیمه د محمد عمر خاله ده او د محمد هارون حقیقی مور ده، د دی ځخه وروسته د مسماة حلیمی یوه لور رشیده پیداسوه آیا د رشیدی نکاح د محمد عمر سره کیدی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی مسماة رشیده د محمد عمر رضاعی خورده لهٰذا د ده سره د هغی نکاح نسی کیدی (۳).

والله سبحانه اعلم
۲۲/ ۱/ ۱۳۹۷ ھ
(فتوی نمبر ۱۴۴/ ۲۸، الف)

د رضاعی خور سره نکاح جائز نه ده

سوال: زبیر احمد په کوشنی والی کی د خپلی خاله شیدی چښلی وی، دا شیدی صرف د دوو ورځو د پاره چښل سوی وی، اوس زبیر احمد ځوان سو او د هغه کوزده د خاله د لور (د حمید د خورسره) سوی ده، اوس به دا واده شرعًا جائز دی او که نه؟ د دی ځخه علاوه د حمید کوزده د زبیر د خور سره سوی ده آیا د حمید واده به د زبیر د خور سره جائز وی او که نه؟

---

(۱) وفی در المختار. کتاب النکاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۱ (طبع سعید) ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء ادمی والانتفاع به لغیر ضرورت حرام علی الصحیح.

(۲) وفی الخانیة علی هامش الهندیة ج: ۱ ص: ۴۱۷ (طبع ماجدیه کتب خانه) اذا مس الرجل ثدی امراته وشرب لبنها لم تحرم علیه امراته لما قلنا انه لارضاع بعد الفصال.

(۳) حرمت علیکم امهاتکم.... واخواتکم من الرضاعة (الآیة) سورة النساء (آیت: ۲۳).

جواب: په مسئوله صورت کی زبیر احمد د حمید د خور رضاعی ورور دی، لهٰذا د حمید د خور نکاح د هغه سره نسی کیدی (۱) خو که د زبیر خور د حمید د مور شیدی نه وی چښلی نو د هغه نکاح د حمید سره کیدی سی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۳۷/ ۲۸- الف)

د اغواکوونکی لمسی سره د مغویی د هلک نکاح صحیح ده

سوال: یوسړی د زید منکوحه ښځه اغواء کولو سره راوستله او د خپل ځان سره یی دوی میاشتی وساتله، د هغه سره یی کور والی هم وکی چی د هغه په ژبه هم اقرار کوی، اوس ښځه د مخکی خاوند سره ده او هلته یی هلك پیداسو، تقریبًا یوه نیمه میاشت وروسته اوس د دی اغوا کننده سړی د لمسی سره د مغویی د هلك نکاح سوی ده آیا داشرعًا جائز سوه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که د حرمت څه بل شرعی وجه نه وی نو محض د مذکوره اغواء په وجه په نکاح کی څه خبره نسته، د اغواء کننده د لمسی سره د مغویی د ځوی نکاح درست سوه (۳).

والله سبحانه اعلم
۳۰/ ۲/ ۱۳۹۸ھ
(فتوی نمبر ۲۳۵۹/ ۲۷ ھ)

د مرضعی د کومی لور سره د شیدو چښونکی نکاح نسی کیدلی

سوال: زید د بنت عدی شیدی وچښی د بنت عدی د خیتی ځخه ډیر لونی دی آیا زید شرعًا د بنت عدی په لونو کی د چاسره واده کولی سی؟

جواب: که زید د دونیمو کالو ځخه په کم عمر کی د بنت عدی شیدی چښلی وی نو د

---

(۱) د تیری صفحی (۲۶۹) آخری حاشیه ...

(۲) واحل لکم ماوراء ذالکم (الآیة) ...

(۳) ویحل الاصول الزانی وفرو... د المختار باب المحرمات ج: ۳ ص: ۳۲)

بنت عدی د یوی لور سره هم د زید نکاح جائز نه ده. حدیث.... لقوله عليه السلام: یحرم من الرضاع مایحرم من النسب.... [۱]

والله سبحانه اعلم

۳۰/ ۲/ ۱۳۹۸هـ

(فتوی نمبر ۲۹/۷۲۲ ب)

د بل د منکوحی سره د نکاح حکم

سوال: زید یوه ښځه وتښتوله په بل ځای کی یی د بکر څخه دوه زره روپی واخستی او ورته یی په نکاح کړله، د ښځی د اغواکیدو علم بکرته نه وو او نه د کلی معززین خبروو او د نکاح تړونکی او شاهدان هم اګاه نه وه، د ښځی په خرڅولو کی هاشم او سرور شریك وه چی د بکر د کلی وو، هغوی د پیژندګلو ثبوت ورکی چی زید مورد پیژنو، هغه انجلی د بکر کلی ته راله د کلی معززینو او نکاح تړونکی او بکر او د هغه د کور خلګ د نکاح د پاره مدعوکړل، د ښځی څخه بیان واخستل سو چی د څه جبر په وجه خو نکاح نه کوی ښځی د رضامندی اظهار کولو سره د نکاح، اجازت ورکی، زید ښځه د خپل مر ورور ښځه ښایی، او ښځی هم هغه لیور ومنی د دی واقعی په دریمه ورځ د هغه خاوند منشی محمد د پولیس سره چاپه واچوله او ښځه یی را جلاکړه، او وی وئیل چی دا زما ښځه ده چی بال بچ داره ده.

اوس تاسو ووایاست: چی زید کومه ښځه اغوا کړی ده آیا هغه وکیل وو، د هغه د پاره شرعی حکم څه دی؟

۲: د شاهدانو د پاره شرعی تعذیر څه دی؟

۳: نکاح تړونکی چی واده نه لری د هغه د پاره څه حکم دی؟

۴: شاهدانو او نمبردار چاچی بیانات واخستل او د نکاح اجازت یی ورکی د هغوی څه حکم دی؟

۵: چاچی په دی خرڅولو کی حصه اخستی ده او هغوی ته علم هم وو د هغوی د پاره څه سزاده؟

---

[۱] سنن ترمذی ج: ۱ ص: ۲۱۷ (طبع سعید) وکذا فی سنن ابی داؤد، کتاب النکاح باب یحرم من الرضاعة ج: ۱ ص: ۲۸ (طبع سعید) وفی الهندیة کتاب الرضاع ج: ۱ ص: ۳۴۳ (طبع ماجدیه) یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعًا..... الخ.

جواب: په صورت مسئوله کی د بکرسره د دغی مغویی ښځی کومه نکاح چی سوی ده، هغه شرعًا بالکل باطله ده. ([۱]) او زید چی کومه ښځه اغواء کړه او د بکر سره یی په نکاح کړله، هغه سخت ګنهګار سول خو کومو خلګو چی د بی خبری په وجه په نکاح کی شرکت وکی هغوی معذوره دی ([۲]). او د مذکوره ګناه د پاره په شریعت کی څه حد مقرر نه دی، قاضی د خپل صوابدید موافق هغوی ته سزا جاری کولی سی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۱/ ۱۳۹۶هـ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۵۳۸ و)

د بل چا د ښځی سره د نکاح کولو حُکم

سوال: یوه سړی خپله کوشنی لور د بل سړی کوشنی ځوی ته د نکاح کولو سره ورکړله، او یو دوهم مولوی صاحب په پټه باندی د ځان د پاره نکاح وتړله. اوس هغه هلك او انجلی د (۱۳) او اتلس (۱۸) کالو دی، او مولوی صاحب هغه انجلی په خپل کورکی ساتلی ده، او هلك خپلی منکوحی ته طلاق نه ورکوی، اوس سوال دادی چی د مولوی صاحب دوهمه نکاح صحیح سوه او که غلطه؟ او اوله نکاح د کوشنی والی د وجی خو د دواړو ولیانو کړی ده صحیح سوه او که نه؟

جواب: اوله نکاح صحیح سوه، او دوهمه نکاح د مولوی صاحب کالعدم ده، ([۳]) هغه ته پکار دی چی انجلی سمدستی خپل خاوند ته حواله کړی او کوم سړی چی قصدًا او عمدًا د بل چاښځه د ځان سره ساتی هغه فاسق دی لهٰذا په مولوی صاحب پسی لمونځ کول مکروه دی ترځو چی علانیه توبه اونه باسی ترهغه وخته پوری هغه امام جوړول جائز نه دی.

---

[۱] وفی التفسیر المظهری ج: ۲ ص: ۶۴ تحت قوله تعالی: (وَالْمُحْصَنٰتُ مِنَ النِّسَآءِ) عطف علی امهتکم یعنی حرمت علیکم المحصنت من النساء ای ذوات الازواج لایحل للغیر نکاحهن مالم یمت زوجها او یطلقها وتنقضی عدتها من الوفات او طلاق. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۸ اسباب التحریم انواع، قرابة، مصاهرة، رضاع... وتعلق حق الغیر نکاح، وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الثالث القسم السادس المحرمات التی یتعلق بها حق الغیر، ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع ماجدیه) لایجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذالك المعتدة.

[۲] وګوری کفایت المفتی جواب نمبر ۱۰ ج: ۵، ص: ۳۵ (جدید ایډیشن دار الاشاعت).

[۳] وګوری د ۲۷۳ صفحی اوله حاشیه)

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی
والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۷/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ
(فتوی نمبر ۳۱/ ۱۴/ ۱۸- الف)

د پلار د کوزدې کړې انجلۍ سره د پلار د مرګ څخه وروسته پخپله ورسره د نکاح کولو حکم

سوال: د زید ښځه مړه سوه، د دغه ښځې څخه د زید یوځوی خالد دی، زید په بل ځای کی کوزده وکړله ایجاب او قبول سوی دی اوس زید مړسو د زید ځوی د هغه ښځې سره نکاح کولی سی؟ د چاسره چې زید کوزده کړې وه؟

جواب: که زید د هغه انجلۍ سره صرف کوزده کړې وه او باقاعده نکاح نه ده سوې نو د زید د ځوی د پاره د هغه سره نکاح جائز ده (۱). خو که نکاح یې سوې ده نو جائز نه ده (۲). خواه که رخصتي یې نه وي سوې، او د نکاح مطلب دادی چې د دوو شاهدانو په موجود ګۍ کی په سړي او ښځې کی یو یا د هغوی وکیل دا ووایي: چې ما د فلانۍ سره نکاح وکړله یامې وکړه، دوهم په جواب کی ووایي چې ماقبوله کړه او کوزده صرف د نکاح د وعدې ته وایي.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه
والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲/ ۹/ ۱۳۸۸
(فتوی نمبر ۲۱۳/ ۱۹- الف)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۲ وان للوعد فوعد. وفی الشامیة صـ ۱۱ لوقال هل اعطیتنیها للوعد فوعد وان کان للعقد فنکاح.

(۲) ولاتنکحوا مانکح اباؤکم من النساء (الآیة) سورة النساء ۲۲. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۷۴ نساء لاباء، والاجداد من جهت الاب او الام وان علوا فهؤلاء محرمات علی التأبید نکاحًا ووطأً. وفی الدر المختار کتاب النکاح فصل فی المحرمات: وتحرم موطوأت ابائه واجداده وان علم ولوبزنا والمعقودات لهم علیهن بعقد صحیح.

د منکوحې غیر مدخل بها انجلۍ سره د خاوند د نکاح حُکم

سوال: د مسماة هندې خاوند مړسو او د همدې خاوند څخه یې یوه انجلۍ رابعه ده، هندې په بل ځای کی واده وکی خود دخول څخه مخکې هنده مړه سوه یا مخکې د دخول څخه خاوند: هغې ته طلاق ورکی آیا د همدې خاوند سره د مسماة رابعه نکاح چې د دغې منکوحې غیر مدخول بها لورده صحیح ده او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی د رابعې نکاح د هندې د خاوند سره درست ده، ځکه چې د هندې سره د هغه د خول نه دی سوی. په قرآن کریم کی دی: وَرَبَائِبُكُمُ اللَّاتِي فِي حُجُورِكُمْ مِنْ نِسَائِكُمُ اللَّاتِي دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَإِنْ لَمْ تَكُونُوا دَخَلْتُمْ بِهِنَّ فَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ...... (۱) الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲/ ۹/ ۱۳۸۸
(فتوی نمبر ۲۱۳/ ۱۹- الف)

د غیر مطلقه منکوحې سره د بل سړي د نکاح حُکم

سوال: د ښځې او خاوند په مینځ کی د څه جنګ په وجه د انجلۍ والدینو د انجلۍ د قوم په اختیار کی ورکړله او قوم ته یې پوره اختیارات ورکړل چې قوم څه غواړي نو اودې کړي، قوم مالك دی، د دې څخه وروسته د قوم یوسړي چې د قوم صدر هم دی هغه قوم خپل امین ګڼلو سره د امانت په طور کښېنوله، خو هغه امین د قوم څخه د پوښتنې کولو بغیر د انجلۍ نکاح د خپل وراره د اخښې د ځوی سره وکړله، ځکه چې په هغه کی د امین خپله ذاتي فائده وه آیا په شرع کی دا سړی خپل امین وګڼل سي او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی چې کله د انجلۍ نکاح د خپل خاوند سره قائمه وه نو د صدر د خپل وراره سره د نکاح کولو په وجه سخت د ګناه کړی دی، (۲) دانکاح باطله او

---

(۱) سورة النساء آیت: ۲۳.
(۲) ایضًا.

حرامه ده. (۱) د انجلی نکاح بدستور د خپل اصلی خاوند سره قائمه ده، کوم سړی چې داحرکت کړی دی هغه ته توبه او استغفار کول پکار دی، او ترڅو چې هغه خپله اصلاح اونکړی، نو مسلمانانوته د خپلی ذمه واری کومه وعده هغه ته ورکول پکار نه دی په دی شرط چې دا واقعات صحیح وی کوم چې په سوال کی لیکل سوی دی.

والله سبحانه اعلم

۴/ ۲ .۱۳۹۰ھ

(فتوی نمبر ۸۲۳/ ۲۱ الف)

صرف تی په خُله کی اخستلو سره رضاعت نه ثابتیږی

سوال: موږ اووه وروڼه خوندی وو، دری وروڼه یوه خور موږ د مور د اړخه وو، او موږ دری وروڼه مسمی سلطان محمد خان؛ شیرباز، محمد نواز د دوی ځخه کوشنی وو، کله چې زمامور زما د پلار سره واده وکی، دری څلور اسلامی میاشتی وروسته والد فوت سو، د هغوی پرورش د دنیا په ذمه وو، شیدی به یې د بزی د نیپل په ذریعه باندی چښل، هغه وخت زما والده صرف د هډوکو یوه ډانچه وه، په بدن باندی یې د وینی غوښتی پوټی هم نه وو، کله کله به نیا د والدی حرمت پوره کولو د پاره به یې ماشوم اخستی ځکه چې هغه به چغی سوری وهلی چپ کولو به یې خو په قسم سره یې د تیڼونو ځخه شیدی څه چې اوبه به هم نه وتلی، زما د ورور محمد نواز لور ځوانه وه، زما د ځوی چې د هغه عمر دوه کاله د مادر زاد اکا په کور د شلو کالو واده سوی دی د اولاد ځخه محرومه دی زما د ورور لور سره زما د ځوی په نکاح کی خوځه خلل نسته جائز ده؟

جواب: که داصحیح وی چې ستا ځوی ستا د مور تی صرف په خُله کی اخستی وی او

---

(۱) وفی الهندية كتاب النكاح الباب الثالث ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع ماجديه) لايجوز للرجل ان يتزوج زوجة وغيره وكذالك المعتدة... الخ. وكذا فی كفايت المفتی ج: ۵ ص: ۲۸۵ (دار الاشاعت جديد ايډيشن)

وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۸ اسباب التحريم أنواع، قرابة، مصاهرة، رضاع.... وتعلق حق الغير بنكاح او همدارنګه وګوری تفسير مظهری ج: ۲ ص: ۲۴ تحت قوله تعالی: (والمحصنت من النساء) (الآيه) وفی رد المختار ج: ۳ ص: ۱۳۲. اما نكاح منكوحة الغير ومعتدته فالدخول فيه لايوجب العدة أن علم انها للغير لانه لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً

شیدی یې نه وی راوتلی نو ستا د ځوی واده ستا د ورو د لور سره کیدلی سی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۷۹۳/ ۳۲ ج)

د رضاعی خورزی سره د نکاح حُکم

سوال: د هندی شیدی د هغه حقیقی لمسی وچښلی نو آیا د هندی حقیقی لمسی یعنی د هندی د سکه لور ځوی سره د هغه شیدی چښونکی انجلی نکاح جائز ده؟

جواب: په صورت مسئوله کی د هندی د لمسی نکاح د هندی د لمسی سره نسی کیدی ځکه چې دا لمسی د انجلی عارضی خوریی دی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۹/ ۱۳۹۶ھ

(فتوی نمبر ۲۷۸/ ۲۷ و)

د رضاعی اکا سره د نکاح حکم

سوال: د جمال خان دوه ځامن دی غلام علی او نور الدین، د غلام علی د ښځی زینت شیدی نور الدین چښلی دی د جنت سره چې د غلام علی لور ده، اوس د غلام علی ځوی عبد الکریم چې د جنت لور ځخه وروسته ورکره پیداسوی دی. دا عبد الکریم اوس د نور الدین د لور فاطمی سره نکاح کول غواړی آیا دانکاح به اوسی؟

جواب: په صورت مسئوله کی که عبد الکریم د زینت د خیتی ځخه دی نو هغه د فاطمی د رضاعی اکا کیدلو په وجه د فاطمی د پاره حرام دی او د دواړو نکاح نسی کیدلی

---

(۱) وفی الشامية كتاب النكاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۲ (طبع سعيد) لو ادخلت الطمة فی الصبی وشكت فی الارتضاع لاتثبت الحرمة بالشك. وفی الدر المختار، كتاب النكاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۲ فلو التقم الحلة ولم يدر ادخل اللبن فی حلقه ام لا؟ لم يحرم.

(۲) حرمت عليكم امهتكم وبناتكم.... وبنات الاخ وبنات الاخت. الايه سورة النساء: ۲۳. وفی الحديث: عن علی ؓ قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله حرم من الرضاعة ماحرم من النسب. (جامع الترمذی) ابواب الرضاع. باب ماجاء يحرم من الرضاع مايحرم من النسب ج: ۱ ص: ۲۱۷. او همدارنګه وګوری كفايت المفتی (جديد ايډيشن دار الاشاعت) ج: ۵ ص: ۱۷۲ او فتاوی دار العلوم ديوبند ج: ۷ ص: ۴۰۱.

[1] او که عبد الکریم د زینت ښځه علاوه د غلام علی د بلی ښځی د خیتی ښځه دی او هغه د زینت شیدی هم نه دی چښلی، نو د فاطمی او عبد الکریم ترمینځه هیڅ رضاعی رشته نسته او حقیقی رشتی سره هغه د ده د اکا ځوی دی نو ځکه د دواړو په مینځ کی نکاح کیدی سی.

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۲/ ۱۳۸۸ه

ښځی ته د طلاق ورکولو ښځه وروسته د عدی په دوران کی د هغه د خور سره د نکاح کولو حکم

سوال: د یوی ښځی سره د یوه سړی نکاح وه، هغی ته یی طلاق ورکی، هم په هغه ځای کی هم په هغه وخت یی د هغه د حقیقی خور سره نکاح وکړله آیا دا دوهمه نکاح جائز ده او که نه؟

جواب: دانکاح جائز نه ده ترڅو چی د اولی ښځی عده تیره نسی (یعنی هغی ته دری واره حیض رانسی او که حیض یی نه راځی نو چی دری میشاتی یی پوره نسی) ترهغه وخته پوری د هغی د خور سره نکاح جائز نه ده او داسی نکاح به کالعدم وی.

لمافی البدایع: وکما لایجوز للرجل ان یتزوج المراة فی نکاح اختها لایجوزله ان یتجوزها فی عدة اختها. (بدایع الصنایع ج: ۲ ص: ۲۶۳) [2]

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

---

[1] عن علی ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: ان الله حرم من الرضاع ماحرّم من النسب (جامع الترمذی باب ماجاء یحرم من الرضاع مایحرم من النسب ج: ۱ ص: ۲۱۷ (طبع سعید) وفی سنن ابی داود کتاب النکاح باب یحرم من الرضاعة. ج: ۱ ص: ۲۸ (طبع سعید) عن عایشة زوج النبی ﷺ ان النبی ﷺ قال: یحرم من الرضاعة مایحرم من الولادة، او همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۳۱۴ (د رضاعی اکا او ماماسره نکاح حرامه ده.

[2] (طبع سعید) وفی المبسوط للسرخسی، کتاب النکاح ج: ۴ ص: ۲۰۴ (طبع دار المعرفة بیروت) وعدة الاخت تمنع نکاح الاخت. وفی الهدایة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۰۹ - ۳۱۰. (طبع شرکت علمیه) واذا طلق الرجل امراته بائنا او رجعیًا لم یجزله ان یتزوج باخته [illegible]

۲/ ۷/ ۱۳۸۸ه

(فتویٰ نمبر ۲۰۳/ ۱۹ الف)

د رضاعی خور سره نکاح جائز نه ده

سوال: د زید یوه حقیقی خاله ده، زید د خاله د لور سره نکاح کول غواړی. زید د خپلی خاله شیدی هم شپږ میاشتی چښلی دی آیا دا نکاح کیدی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید د خاله لور د هغه رضاعی خور ده ځکه یی نکاح جائز نه ده. [1]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۱/ ۱۳۸۸ه

(فتویٰ نمبر ۲۵/ ۱۹- الف)

د ورور د ځوی سره د خپلی لمسی د نکاح کولو حُکم

سوال: یوه ښځه ده د هغه یوسکه ورور دی او د هغه ځوی دی د ورور د ځوی سره د خپل د ځوی د لور نکاح کول غواړی آیا دا جائز ده؟

جواب: د ورور د ځوی سره د خپلی لمسی نکاح کول جائز دی [2] خو په دی شرط چی د شیدو چښلو څه رشته نه وی.

والله سبحانه اعلم

۲۷/ ۱۱/ ۱۳۹۰ه

(فتویٰ نمبر ۲۱۳/ ۲۱- الف)

د ښځی تی په خُله کی نیولو سره په نکاح باندی څه اثر نه پریوځی

---

[1] ولاحل بین رضیعی امرأة لکونهما اخوین وان اختلف الزمن (الدر المختار. کتاب النکاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۷. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۴۳ (طبع ماجدیه) یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعًا... الخ

[2] واحل لکم ماوراء ذالکم (الأیه) (سورة النساء: ۴) کی داخل دی. وګوری فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۷ ص: ۱۹۴، سوال نمبر ۲۷۰)

خپلی ښځی سینی جوینبل په وجه د غلطو خبرو چا د ما دی سوی واده زما سوال: ده؟ صحیح دا ایا ماتیږی نکاح سره دی په چی وویل: راته خلکو څه خو کړل، شروع

جواب: په صورت مسئوله کی ستا نکاح نه ماتیږی (۱) او د ښځی سینی په خله کی اخستل شرعاً ممنوع هم نه دی، په دی شرط چی د هغه څخه په خله شیدی نه راځی که شیدی په خله کی داخلی سول نو د یوناجائز شی د چښلو ګناه به وی (۲) خو نکاح به بیاهم نه ماتیږی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۲۲هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۲۸۳ الف)

د ناسکه خور د لمسی سره د نکاح حکم

سوال: څه فرمائی د دین علماء په دی مسئله کی چی زما پلار زما د ناسکه خور واده د خپل اکا د خوی سره کړی دی او د هغه د اکا د خوی د هغه ښځی څخه یوهلك پیداسوی دی اوس ددغه هلك یوه انجلی ده چی زما د دی ناسکه خور لمسی جوړیږی. اوس سوال دادی چی زما نکاح د هغه انجلی سره چی زما د خور لمسی دی جائز ده او که نه؟

جواب: ستا د پاره د خپلی ناسکه خور (یعنی ستا پلار شریکه) د لمسی سره نکاح کول حلال نه دی. قال فی العالمګیریه: جلد: ۲ ص: ۵ فی بیان المحرمات النسبیة: وکذابنات الاخ والاخت وان سفلن (۳).

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

والله سبحانه اعلم

---

(۱) وفی الدر المختار، کتاب النکاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۲۵ (طبع سعید) مص رجل ثدی زوجته لم تحرم.

(۲) وفی الدر المختار، کتاب النکاح باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۱ ولم یبح الارضاع بعد مدته لانه جزء ادمی والانتفاع به لغیر ضرورة حرام علی الصحیح. وکذافی کفایت المفتی ج: ۵ ص: ۱۲۲.

(۳) الفتاوی الهندیة، کتاب النکاح الباب الثالث فی بیان المحرمات ج: ۱ ص: ۲۷۳ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) وفیها ایضاً الباب الثالث القسم الاول ج: ۱ ص: ۲۷۳ (طبع ماجدیه) وبنات الاخت فهن محرمات نکاحاً ووطأً ودواعیه علی التأبید..... الخ. وفی تفسیر المظهری ج: ۲ ص: ۵۲ تحت قوله تعالی: وبنت الاخ وبنت الاخت یعنی فروع الاخت والاخت بناتهما وبنات ابنائهما، وان سلفن سواء کان الاخ والاخت لابوین او لاحدهما وکذافی معارف القرآن ج: ۲ ص: ۳۵۸.

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۰/۱۲/۲۳هـ

(فتوی نمبر ۲۴۵/ ۲۱ الف)

د ناسکه پلار د مخکنی ښځی د لور سره نکاح جائز ده

سوال: یوسړی خپلی ښځی ته طلاق ورکی، کوم وخت یی چی طلاق ورکړی وو، په هغه وخت د هغه ښځی انجلی پیداسوه چی وروسته د خپلی مور سره اوسیدله او هغه سړی د یوی بلی ښځی سره نکاح وکړله، او د کومی ښځی سره یی نکاح کړی وه، د هغی د مخکنی خاوند څخه وو، اوس هغه انجلی او داهلك دواړه ځوانان سول، آیا د دوی خپل په مینځ کی نکاح درسته ده؟

جواب: په صورت مسئوله کی د دواړو نکاح کیدی سی. (۱) فقط والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۲۹/۲هـ

د رضاعی خور سره د نکاح حکم

سوال: دوه سکه وړونه دی، د مشر ورور پنځه هلکان او دوی انجونی دی د کشر ورور یوهلك او ځلور انجونی دی، په ماشوموالی کی د کشر ورور ښځی خپلی لور باندی د مشر ورور د ښځی شیدی وچښلی، اوس هغوی ځوانان دی د مشر ورور کور والا غواړی چی په کومی انجلی باندی یی د هغه شیدی چښلی دی د هغی واده د خپل ځوی سره وکړی. د هغه هلك سره یی واده نه کوی چی انجلی ته.د شیدو ورکولو په وخت یی په غیږ کی وو، بلکی د هغه د مشر ورور سره یی واده کول غواړی، د دی انجلی واده د شیدو ورکونکی ښځی د کوم ځوی سره کیدی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی چی انجلی د کومی ښځی شیدی چښلی دی د هغه ټول ځامن د دی انجلی رضاعی وړونه دی او د هغوی سره د دی انجلی نکاح نسی کیدی (۱)

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ج: ۳ ص ۳۱ (طبع ایچ ایم سعید) امابنت زوجة ابیه او ابنه فحلال.

برابره خبره ده که د انجلی د شیدو چښلو په وخت هغوی شیدی چښلی وی او که نه لهذا مجوزه نکاح شرعاً جائز نه ده.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۵/۳ھ
(فتوی نمبر ۳۰۰/۲۸ الف)

د دوو (۲) رضاعي خوندو سره په یووخت نکاح کول حرام دي

سوال: د نمی الدین نوم سړی په کورکی هلك نه پیداکیدی، نو د ډیری مودی څخه وروسته هغه د یوی انجلی پرورش وکی د الله ﷻ په حکم سره پنځه لس ورځی وروسته د مذکور سړی د ښځی چی حامله وه یوه انجلی پیداسوه اوس دواړی خوندی سوی، په مزه مزه په هغوی کی یوه بالغه سوه، او هغی د نذیر احمد نوم سړی سره واده اوسو او ورسره دوهمه انجلی هم بالغه سوه، او د اخښی کورته راله، خلګوته چی د زنا خطره پیداسوه نو د هغوی په زجر او توبیخ باندی پلار خپله لور کورته بوتله، بیا د څو ورځو څخه وروسته معلومه سوه، چی موصوفه انجلی بیا اوځی، د کور څخه تللی ده، خلګو د هغی څخه پوښتنه وغیره وکړه، هغی اقرار وکی چی زه حامله یم، وروسته یی د اخښی څخه پوښتنه وسوه هغه هم د زنا اقرار وکی، وروسته زوم خسرته سل روپی ورکړی د روغی خبری کولو د پاره، نو پلار د پیسو په حرص کی ووئیل چی دا انجلی رضیعه نه ده، یومجلس طلب سو، په هغه کی شاهدان پیش سول چی دا انجلی رضیعه نه ده، خو د دی خاله دا انجلی د موصوفی دایی خواته بی ولی وه، د هغه انجلی پلارته یی ووئیل: چی ته د لږو پیسو د بیری دروغ خبره د خُلی څخه وباسی په دی هغه خاموشه سوه اوس شرعاً اوسیا ستا څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی چی کله دوه معتبر شاهدان د دی خبری موجود دی، چی دی دواړو انجونو د یوی ښځی شیدی چښلی دی، نو د دی دواړو سره په یووخت د یوسړی سره نکاح کول حرام دی. (۱) او کومی شاهدانی چی رضعیه نه کیدلو باندی معلومی سوی هغه قابل د قبول نه دی، ځکه چی (المثبت مقدم علی النافی) نذیر احمد نه پکار دی چی سمدستی دوهمه ښځه پریږدی او د دی ګناه څخه دی توبه او استغفار وکړی او که هغه په پریښوولو اماده نه وی نو د عدالت په ذریعه هم په دواړو کی تفریق کولی سی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۰/۱۲/۱۲ھ
(فتوی نمبر ۲۳۴/۲۱- الف)

د پلار شریکي خور سره د نکاح کولو حُکم

سوال: د زید سره دوی ښځی دی، زید دواړی پریښوولی، بیا هغه دواړو ښځو د بیل بیل سړی سره نکاج وکړله، د یوی ښځی څه اولاد پیدانسو، خو د هغی د خاوند د مخکی ښځی څخه یوځوی دی، د دوهمی ښځی یوه انجلی پیداسوه، اوس د دی انجلی نکاح د دی هلك سره کیدی سی چی لوړ ذکر سوه؟

جواب: سوال په پوره ډول واضح نه دی، که مذکوره هلك او انجلی خپل په مینځ کی پلار شریك ورور او خور دی نو بیا خو د دوی په مینځ کی نکاح نسی کیدی. (۲) او که د دواړو مور او پلار جلاوی نو په مسئوله صورت کی بیانکاح جائزده په دی شرط چی د حرمت کوم بل سبب موجود نه وی، خو بهتره داده چی همدا سوال د هرسړی او ښځی او د انجلی او هلك نوم لیکلو سره په وضاحت سره دوباره پوښتنه وکړی او په هغه عمل وکړی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۹/۲ھ
(فتوی نمبر ۹۰۹/۲۸ ج)

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب الرضاع ج: ۱ ص: ۲۱۷ ولاحل بین رضیعی امرأه لکونهما اخوین وان اختلف الزمن. وفی الهندیة کتاب الرضاع ج: ۱ ص: ۳۴۳ (طبع ماجدیه) یحرم علی الرضیع ابواه من الرضاع واصولهما وفروعهما من النسب والرضاع جمیعاً..... الخ.

(۱) وفی الشامیة، کتاب النکاح، باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۲۴ وهی شهادة عدلین ای من الرجال وافاد انه لایثبت یخبر الواحد امرأة کان او رجلاً. وفی الهندیة کتاب الرضاع ج: ۱ ص: ۳۴۷ (طبع ماجدیه) ولایقبل فی الرضاع الاشهادة رجلین او رجل او امرأتین عدول.

(۲) وفی التفسیر المظهری ج: ۲ ص: ۵۲ (طبع دهلی) تحت قوله تعالی: حرمت علیکم امهتکم وبنتکم واخواتکم، تعم ماکانت منها لأب او الام او لهما.. الخ.

د رضاعی خاله سره نکاح جائز نه ده

سوال: د زید د مور محمودی شیدی خالد وچښی بیا تقریباً شپاړلس کاله وروسته د خالد د ښځی شیدی ظفر وچښی، اوس د ظفر نکاح د زید د حقیقی خور صاعقی سره کیدی سی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی صاعقه د ظفر د رضاعی پلار رضاعی خور سوه نو ځکه د دی دواړو په خپل مینځ کی نکاح نسی کیدی هغه د رضاعی رشتی د وجی د ظفر خاله ده. ویحرم من الرضاعة مایحرم من النسب (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۷/ ۶/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۲۲/ ۱۹- الف)

د زناکار سره د نکاح کولو حُکم

سوال: یوهلك او انجلی په خپل مینځ کی په رشته کی ورور او خور دی یعنی د ماما لور او د خاله ځوی، د دی دواړو ناجائز تعلقات جوړ سول چی د هغه په وجه انجلی حامله سوه، مشرانو ته په ښکاره کیدو باندی د دواړو یی د واده فیصله وکړه چی د هغه انعقاد صبا ۱۵ جون دی. ستاسو څخه پوښتنه کول دی چی آیا داواده جائز دی؟ او پیداکیدونکی ماشوم به جائز وی؟

جواب: په مسئوله صورت کی هلك او انجلی زناکولو سره سخته ګناه کړی ده، په دواړو باندی واجب دی چی د زړه په صدق سره توبه او استغفار وکړی، او په مسئوله صورت کی د دواړو په مینځ کی نکاح صحیح ده (۲) او که ماشوم شپږ میاشتی وروسته پیداسوی وی نو ماشوم به هم ثابت النسب ګڼل کیږی. (۱)

---

(۱) سنن ابی داؤد، کتاب النکاح باب یحرم من الرضاعة ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع سعید) وجامع الترمذی ج: ۱ ص: ۲۱۷ (طبع سعید)

(۲) وفی الدر المختار کتاب النکاح. فصل فی المحرمات ج: ۳ ص: ۴۸ وصح نکاح حبلی من زنی وفی الشامیة تحته (وصح نکاح حبلی من زنی) ای عندهما- وقال ابویوسف: لایصح. والفتوی علی قولهما.... الخ

والله سبحانه اعلم

۲۶/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۲۰/ ۲۸ ب)

زناکاری سره د نکاح حُکم

سوال: که کوم هلك زنا وکړله او انجلی حامله سوه، هلك غواړی چی د هغه انجلی سره نکاح وکړی نو آیا د حمل په دوران کی نکاح کیدی سی؟

جواب: هوجی! نکاح کیدی سی (۲).

والله سبحانه اعلم

۷/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۲۷۲/ ۳۲ ج)

د زناکاری سره د نکاح کولو څخه وروسته د وطی حکم

سوال: هندی منکوحی د رخصتی څخه مخکی زنا وکړله او حمل یی جوړسو اوس د هندی پلار د هندی رخصتی وکړله نو اوس د هندی خاوند ته د هغی سره وطی کول جائزدی او که نه؟ که د هندی خاوند د هندی سره وطی وکړی نو څه قسم ګناه خو به نه وی؟

جواب: که خاوند دغه حمل خپل طرف ته منسوب کولو څخه انکار کوی. نو ترڅو چی د حمل وضع نه ده سوی د هغه د پاره وطی جائز نه ده. (۳)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی عنه

والله اعلم

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۹ لونکحها الزانی حل له وطؤها اتفاقًا والولد له ولزمه النفقة. وفی الشامیة تحته قوله والوالد له ای ان جائت بعد النکاح لستة اشهر مختارات النوازل فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لایثبت النسب ولایرث منه.

(۲) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب المحرمات ج: ۳ ص: ۴۸ (طبع ایچ ایم سعید) (وصح نکاح حبلی من زنی لا) (احبلی) (من غیره) ای الزنی لثبوت نسبه.... الخ. وفی الشامیة تحته ای عندهما وقال ابویوسف: لایصح، والفتوی علی قولهما.... الخ.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۴۸- ۴۹ (و) صح نکاح (حبلی من زنی) لاحبلی (من غیره) ای الزنی..... (وان حرم وطؤها) ودواعیه (حتی تضع) متصل بالمسئلة الاولی لئلا یسقی ماؤه زرع غیره

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۴/ ۱۱/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۳۵۷/ ۱۸ الف)

د رضاعت یوه مسئله

سوال: زید او بکر دواړه د پلار د طرفه حقیقي وروڼه نه دي د مور د طرفه دي، یعنی موربې یوه او پلرونه یې جلا دي، زید د مخکې پلار څخه دي او بکر د دوهم پلار څخه، د زید انتقال سوی دی چې هغه د عمرو سره د هغه د مور شیدې چنبلي وي. اوس مسئله داپیښه سوې ده چې آیا د شریعت د مخه بکر عمرو ته خپله لور په عقد نکاح کې ورکولی سي او که نه؟ د مهربانۍ د مخې پورتني دواړو صورتونو کې بیل بیل وضاحت وکړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کې د بکر او عمرو ترمینځ څه د رضاعت رشته نه ده قائمه، ځکه چې د رضاعت رشته د زید او عمرو په مینځ کې ده د بکر او عمرو په مینځ کې نسته، لهٰذا د عمرو مور د بکر رضاعي مورنه ده، لقوله فی الدر المختار: فیحرم مایحرم من النسب..... الا ام اخیه واخته..... فان حرمة ام اخته واخیه نسبًا لکونها امه او موطوئة ابیه وهذا المعنی مفقود فی الرضاع (شامی جلد: ۲ ص: ۴۰۷) (۱) او کله چې د عمرو د مور د بکر سره څه نسبي یا رضاعي تعلق نسته، نو هغه د بکر د لور سره نکاح کولی سي.

په نورو الفاظو سره د بکر لور د عمرو رضاعي ورور زید وریره ده او د رضاعي ورور د نسبي خور سره هم نکاح جائز ده، کمافی قالوا: وتحل اخت اخیه رضاعًا (شامی ج: ۲ ص: ۴۰۸) (۲) نو د رضاعي ورور د وریرې سره به په طریقه اولی نکاح جائز وي، لهٰذا په صورت مسئوله کې عمرو د بکر د لور سره شرعًا نکاح کولی سي.

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۸/ ۱۳۹۱ھ

(فتوی نمبر ۹۹۱/ ۲۲ ب)

(۱) الدر المختار باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۳ الی ۲۱۵ (طبع ایچ ایم سعید)

(۲) الدر المختار باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۷.

د غیر ثابت النسب انجلی سره د نکاح حکم

سوال: یوصاحب د خپل خوی واده د داسی انجلی سره کول غواړي چې د هغی متعلق دا معلوم دی چې دغه انجلی د خپلو والدینو ناجائز یعنی حرامي اولاد دی د هغی د مور نکاح د هغه د پلار سره نه وه سوی، د اسلامي شریعت د مخه یوی حرامي انجلی سره به نکاح کول جائز وي او که نه؟

جواب: که د حرمت بله څه وجه نه وي نو محض د انجلی غیر ثابت النسب کیدلو په وجه د هغی نکاح حرامه نه ده نکاح کیدی سی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱۲/ ۱۳۹۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷۴۲/ ۲۷ و)

د اکا د لور سره د نکاح حکم

سوال: آیا د اکا د لور سره په مذهب اسلام کې نکاح کول جائز دي؟ او که نه؟

جواب: د اکا د لور سره نکاح جائزده خو په دې شرط چې د حرمت بل څه سبب یعنی رضاعت یا مصاهرت نه وي.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۱۲/ ۱۳۹۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷۸۳/ ۲۷ و)

د رضاعي خور سره د نکاح حکم

سوال: زما د خاله لور په هغه وخت زما د مور شیدې چنبلي وي کله چې زما څخه پنځه کاله کشر زما یو ورور زما د مور شیدي چنبلي، د خاله شیدي مې هم کمې وي او زما مور شیدي باندې وچنبلي، کومې انجلي چې زما د مور شیدې چنبلي دي د هغه انجلي سره زمانکاح کیدی سی؟ ما د هغی سره شیدي نه دي چنبلي؟

جواب: که ستا د خاله لور ستا د مور شیدي د رضاعت په مده کې یعنی د دوو کالو څخه په کم عمر کې چنبلي وي. (۱) نو هغه ستا رضاعي خور سوه او د هغې سره ستا

(۱) ځکه چې دا په محرماتو کې داخل نه دی (واحل لکم ماوراء ذالکم) سورة النساء: ۲۵.

نکاح نسی کیدی. (۱) شیدی که یی ستاسره چنلی وی او که ستا د کشر ورور سره یی
چنلی د دی سره څه فرق نه پریوځی. (۲)

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۸/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۸۲۲/ ۲۸ ج)

غیر مطلقی منکوحی سره د بل سړی د نکاح حکم

سوال: د قاضی بشیر احمد ښځه هروخت د خپل خاوند سره محض بی وقوفی او سخت
مزاجی سره ملاویږی. لهذا مذکوره خاوند د عدالت د وجی د منکوحی څخه تنګ سو
او د هغی مور یی را وبلله، منکوحه یی کورته ولیږله چی زه فی الحال داهټ درمی د
برداشت څخه بهر ګڼلو سره ستا په حواله کوم او څنګه چی په رغیدو سره تاسو حکم
کوی زه به یی منم. لهذا د هغه منکوحی سره یوه دوی میاشتی وروسته فوری طور بغیر
د څه طلاق څخه مولوی عبد الله نکاح وکړله ایا دا صحیح ده او که نه؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست وی او قاضی بشیر احمد خپلی ښځی
زلیخی بیبی ته هیڅ طلاق نه دی ورکړی، نو هغه بدستور د قاضی بشیر احمد ښځه ده،
او مولوی عبد الله سره د هغه نکاح شرعاً باطل او کالعدم ده. (۴) څومره موده چی
زلیخا بی بی د مولوی عبدالله سره وسیدلی ده، په ناجائزه طور باندی پاته سوی ده.
اوس د هغوی فوراً جلا کیدل ضروری دی، دواړه دی توبه او استغفار وکړی، او زلیخا

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب الرضاع ج: ۳ ص: ۲۱۱ (طبع سعید) ویثبت التحریم فی المدة فقط. وفی الشامیة تحته اما بعدها فانه لایوجب التحریم.

(۲) حرمت علیکم امهاتکم.... واخواتکم من الرضاعة (الایه) (سورة النساء: ۲۳)

(۳) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب الرضاع ج: ۱ ص: ۲۱۷ (طبع سعید) ولاحل بین رضیعی امرأة لکونهما اخوین وان اختلف الزمن.

(۴) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۲۸- اسباب التحریم انواع، قرابة، مصاهرة، رضاع..... وتعلق حق الغیر بنکاح... الخ. وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۱۳۳ اما نکاح منکوحة الغیر ومعتدته فلا دخول فیه لایوجب العدة ان علم انها للغیر، لانه لم یقل احد بجوازه فلم ینعقد اصلاً.
وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الثالث ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع ماجدیه) لایجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذالك المعتدة..... الخ- همدارنګه وګوری کفایت المفتی ج: ۵ ص: ۲۸۵ (جدید ایډیشن دار الاشاعت)

بی بی دی خپل اصلی خاوند قاضی بشیر احمد ته بیرته راسی. او د محمد عبد الله سره
د زلیخی نکاح هیڅکله صحیح نه ده، نو د طلاق تحریر بی کاره دی، قاضی بشیر احمد
د عدالت په ذریعه خپله ښځه دوباره راتلو باندی مجبوره کولی سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۱/ ۵/ ۱۳۹۱ھ

(فتوی نمبر ۲۰۲/ ۲۲ ب)

فصل فی احکام الحرمت المصاهرة

د مصاهرت د حرمت احکام

د اینگور سره زناکولو باندی په ځوی باندی خپله ښځه حرامه سی

سوال: که د چا د خپلی اینگور سره ناجائز تعلقات پیداسول او خسر د اینگور سره صحبت وکی نو څه حکم دی؟ او که صحبت یی نه وی کړی نو څه حکم دی؟

جواب: که کوم سړی د خپل ځوی د ښځی سره زنا وکړی نو هغه ښځه د هغه په ځوی باندی حرامیږی (۱)، په داسی صورت کی په خاوند باندی واجب دی چی هغه خپلی ښځی ته دا ووایی چی سمدستی جلاسه! ماته پرینښی یی. (۲) او که پوره صحبت یی نه وی کړی نو د واقعی صحیح صحیح تفصیل ولیکه او راوی لیږه چی د هغه په کتلو سره حکم وښوول سی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۳/۲۱ھ

(فتوٰی نمبر ۲۸/۳۳۲ ب)

د خوښنی سره زناکولو باندی حرمت مصاهرت نه ثابتیږی

سوال: یوسړی د خپلی خوښنی سره (د ښځی د خور سره) د زنا مرتکب سوی دی، آیا د هغه نکاح ماته سوه او که نه؟ یا په نکاح کی څه خلل واقع سوی دی او که نه؟ (محمد ریاض حفر الباطن، سعودی عرب)

---

(۱) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۳۲ (طبع سعید) قال فی الحبر: اراد بحرمت المصاهرة الحرمات الاربع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسباً ورضاعاً. وکذافی البحر الرائق: ج: ۳ ص: ۱۰۱. والهندیة ج: ۱ ص: ۲۷۵ الباب الثالث فی المحرمات.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۷ وبحرمة المصاهرة لایرتفع النکاح حتی لایحل لها التزوج باخر الا بعد المشارکة. وفی الشامیة تحته..... وقد علمت ان النکاح لایرتفع بل یفسد وقد صرحوا فی النکاح الفاسد بان المتارکة لا یتحقق الا بالقول ان کانت مدخولاً بها کترکتك او خیلت سبیلك. او همدارنگه وگوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۳۲۳. (محمد زبیر عفی عنه).

جواب: دغه شخص د سختی گناه ارتکاب کړی دی چی په هغه باندی هغه ته توبه کښل پکار دی او د اینده د پاره دی د هغه خوښنی ځخه د پردی اهتمام کوی خو په دی عمل سره د هغه سړی ښځی سره په نکاح باندی څه اثر نه غورځیږی هغه بدستور د هغه منکوحه ده. (۱) والله سبحانه اعلم ۱۴۰۲/۴/۱ھ (فتوٰی نمبر ۳۳/۴۹۴ - الف)

---

(۱) خو بیا هم د خوښنی استبراء یعنی د هغه یوحیض تیریدلو پوری یا د هغه د حامله کیدو په صورت کی د هغه د وضع حمل پوری د خپلی ښځی سره جماع کول جائز نه دی بلکی جلا اوسیدل واجب دی په اصل کی په دی مسئله کی په مذکوره صورت کی د مزنیی استبراء واجب ده، د تفصیل د پاره د حضرت والا دامت برکاتهم مصدقه راقم لاندی لیکل سوی فتوٰی وگوری.

د مذکوره مسئلی سره متعلق عبارتونو کی په غور کولو سره معلومیږی چی په دی مسئله کی د متقدمینو حضراتو مختلف اقوال دی چنانچی د امام احمد بن حنبل رحمه الله ځخه دوه قوله مروی دی:

۱: د خوښنی سره د زنا کولو په صورت کی د خوښنی دری حیضه تیریدو پوری د ښځی ځخه بیل اوسیدل واجب دی، یعنی په مذکوره صورت کی د عدی زمانه د نکاح د عدی په شان ده.

۲: یوحیض تیریدل واجب دی

۳: حنابله فقهاوو یو دریم قول د احتمال په طور ذکر کړی دی چی د هغه ضعف طرف ته اشاره ده او هغه دادی چی په داسی صورت کی هیڅ واجب نه دی بلکی بعضی حنابله فقهاوو دا دریم قول یی ذکر کړی نه دی.

فی المغنی لابن قدامه تحت رقم المسئلة: ۱۱۳۹ ج: ۹ ص: ۴۷۹، ۴۸۰ (طبع دار العلوم الکتب ریاض) وان زنی بامرأة فلیس له ان یتزوج اختها حتی تنقضی عدتها وحکم العدة من الزنا والعدة من وطأ الشبهة کحکم العدة من النکاح، فان زنی باخت امراته فقال احمد یمسك عن وطأ امرأته حتی تحیض ثلاث وقد ذکر عنه فی المزنی بها انها تستبراء بحیضة لانه وطأ فی غیر نکاح ولا احکامه احکام النکاح ویحتمل ان لاتحرم بذالك اختها ولا اربع سواها لانها لیست منکوحة ومجرد الوطأ لایمنع بدلیل الوطأ فی ملك الیمین لایمنع اربع سواها.

تنبیه: اذا وطأ بشبهة او زنی لم یجز فی العدة ان ینکح اختها ولوکانت زوجته نص علیه وفیه احتمال. المبدع فی شرح المقنع ج: ۷ ص: ۶۲ (طبع المکتبة الاسلامی بیروت) (وکذا فی الفقه الاسلامی وادلته ج: ۷ ص: ۱۲۵ طبع دار الفکر د مشق).

د امام شافعی رحمه الله ځخه استراکیدل مستحب معلومیږی ځکه چی د هغوی په نزد په ملك یمین کی هم استبراء مستحب ده. (مغنی المحتاج ج: ۳ ص: ۱۸۰ طبع دار الاحیاء التراث العربی) (وکذا فی التهذیب ج: ۵، ص: ۳۲۱ طبع دار الکتب العلمیه بیروت)

د امام مالك رحمه الله مسلك په دی مسئله کی معلوم نه سو، او ترڅو چی د احنافو تعلق دی نو د هغوی په نزد هم په دی مسئله کی دوه قوله پیداکیږی، یوقول په شامی کی نقل سوی دی چی استبراء مستحب ده یعنی: اذا زنی باخت امرأته او بعمتها او بخالتها او تبت اختها او اختها بلاشبهة فان

الافضل ان لا یطاء امرأته حتی تستبرأ المزنیة… الخ. شامی ج: ۲ ص: ۳۸۰ باب الاستبراء (طبع سعید) او همدا قول جامع الرموز للقهستانی کتاب الکراهیة ج: ۲ ص: ۳۱۴ (طبع سعید) کی هم مذکور دی وکذا فی شرح الملتقی ص ۲۱۱ علی مجمع الانهر). مګر یو دوهم تول د واجب کیدلو هم دی کوم چی په درایة عن الکامل پوره عبارت (لوزنی باحد الاختیین لایقرب الاخری حتی تحیض الاخری حیضة… الخ) څخه علاوه (النتف فی الفتاوی کتاب النکاح ص ۱۸۹ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) کی داسی ذکر سوی دی.

والخامس عشر: اذا اوطاء ذات محرم من امرأته ممن لایحرم علیه بزنا فانه لایطأ امرأته حتی یستبرائی الموطوئة بحیضة لانه لایحل له رحمان محرمان فیهما ماؤه (ورسره علامه عبد الرحمن شیخی زاده آفندی په مجمع الانهر ج: ۱ ص: ۴۷۹ (طبع دار الکتب العلمیه بیروت) کی صرف درایه عن الکامل عبارت یی ذکرکړی دی، په هغه کی یی څه اشکال وغیره نه دی ذکر کړی) د دی څخه معلومه سوه چی د احنافو په نزد یوقول د استبراء د وجوبی هم دی، لهذا د حنبلیانو په نزد مطلقاً د استبراء د واجب کیدو او د احنافو د یوقول مطابق واجب کیدو په وجه محتاط خبره هم هغه معلومیږی کومه حضرت مفتی اعظم پاکستان رحمه الله ونور الله مرقده په امداد الفتن ص: ۵۵۳ کی لیکلی ده چی کم ترکمه د یوحیض تیریدو پوری د ښځی څخه جلا اوسید یی واجب ګرځولی دی. په خاص طور چی معامله د فروجو سره متعلق وی په هغه کی د احتیاطًا والا. ارخ ملحوظ ساتل ضروری وی، یُعمل بالاحتیاط حصوصاً فی باب الفروج (شامی ج: ۳ ص: ۲۸۳ طبع سعید) فی الفقه الاسلامی وادلة ج: ۷ ص: ۱۲۵ (طبع دار الفکر دمشق) وان زنی الرجل بامراة فلیس له ان یتزوج باختها حتی تنقضی عدتها وحکم العدة من الزنا والعدة من وطأ الشبهة کحکم العدة من النکاح.

(والله سبحانه اعلم وعلمه اتم واحکم)

محمد زبیر عفی عنه

۱۲ ۱ ۱۴۲۲ھ

الجواب الصحیح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه — الجواب الصحیح احقر محمود اشرف غفرالله له. — الجواب الصحیح محمد عبد الله عفی عنه — الجواب الصحیح محمد عبدالمنان. — الجواب الصحیح اصغر علی ربانی

د خوښنی سره په زناکولو باندی ښځه نه حرامیږی

سوال: آیا د خوښِنی سره د ناجائزه تعلقات ساتلو په وجه نکاح برقرار وی او که نه؟

جواب: د خوښِنی سره زناکول یا ناجائز مقاربت کول سخته ګناه ده خو په دی سره ښځه نه حرامیږی ([1]).

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۷۲۷/ ۲۸ ج)

د مزنیی د لور سره نکاح جائز نه ده

سوال: د کومی ښځی سره چی ناجائز تعلقات پاته سوی وی د هغه ښځی د لور سره واده جائز دی او که نه؟ (د انجلی نطفه د دغه سړی څخه نه ده)

جواب: د کومی ښځی سره چی زنا کړی وی یا په ناجائز طریقی سره بی بوس وکنار کړی وی د هغی د لور سره نکاح حرامه او باطله ده ([2])، که څه هم هغه انجلی د هغه زانی د نطفی څخه نه وی.

والله سبحانه اعلم

۲۲/ ۸/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۸۲۷/ ۲۸ ج)

صرف د شهوت په شبهی سره مصاهرت نه ثابتیږی

سوال: اکثره مه ته شبهه کیږی چی په فلانی خبری سره ایا څه طلاق واقع سوی دی یا په فلانی خبری سره حرمت مصاهرت سوی دی برای کرم د لاندی مسئلو جواب راکړی:

۱: د خوابنی سره په شهوت لاس ومنبلی یا د خوابنی د مورسره په شهوت لاس ومنبلی

---

[1] د تفصیل د پاره مخکښی تیره سوی فتوی او د هغه حاشیه وګوری. (مرتب عفی عنه)

[2] وفی الدر المختار کتاب النکاح فصل فی المحرمات ج: ۳ ص: ۳۲ (طبع سعید) : (و) حرم ایضاً بالصهریة (اصل مزنیة)… الخ. وفی الشامیة: قال فی البحر: اراد بحرمة المصاهرة الحرماتالابع حرمة المرأة علی اصول الزانی وفروعه نسبا ورضاعًا کما فی الوطء الحلال… الخ. وکذا فی البحر الرائق فصل فی المحرمات ج: ۳ ص: ۱۰۱. وانفتاوی الهندیه الباب الثالث فی المحرمات ج: ۱ ص: ۲۸۵ (محمد زبیر حقنواز)

په دواړو صورتونو کی حرمت مصاهرت کیږی او که نه؟ البته په شهوت کی د سړی په آله تناسل کی حرکت راسی.

معیار دادی چی د هغه په آله تناسل کی حرکت راسی. معیار دادی چی د هغه په اله تناسل نو ځما لاس د هغی د لاس سره ولګیدی، نو یووار زما خوابنی ماته د چای پیاله راکړه نو ځما لاس د هغی د لاس سره ولګیدی، نو فوراً د شبهی د وجی می فکری تناسل اله.ته ولاړی په آله تناسل کی حرکت نه وو سوی لکه ځنګه چی حرکت ښځی ته لاس لګولو سره د شهوت په خیال سره راتلل شروع کیږی البته زما د عادت په طور آله تناسل طرف ته د زړه د حرکت سره معمولی حرکت غالباً دوه واره د شهوت خیال وسو خو چونکی په آله تناسل کی حرکت نه وو سوی نو غالباً په دی سره د حرمت مصاهرت سوال نه سی پیداکیدی، دوی دری ورځی مخکی زما د خوابنی بوډی مور محترمی زمالاس مچ کی بیا مذکوره صورتحال پیداسو، د خوف د بیری می آله تناسل ته سوچ سو په هغه کی حرکت جسمانی محسوس نه سو صرف کمزوری او ډیر معمولی حرکت وسو، خو په آله تناسل کی جسمانی حرکتِ شهوت والا نه دی راغلی، زما چی په کومی ښځی نظر پریوځی نو آله تناسل ځخه د زړه طرف ته د تیریدوسره (خفیف) حرکت دوه، دری، ځلور واره اندرونی طور باندی معلومیږی دا خبره د ذکر وړ ده چی شهوت ماته ډیر راځی او په مذکوره صورت کی هغه حرکت په آله تناسل کی نه رالی ماسوا د آله تناسل د معمولی حرکت ځخه لکه چی د سوچ ځخه معلومیږی چی هغه سر پوری رسیږی، د خوابنی سره لاس د لاس لګیدو او د هغی د مور محترمی د مچولو په وخت بیره غوندی راسره پیداسوه چی حرمت مصاهرت اونسی او د بیری د وجی په آله تناسل کی حرکت نه راځی، حرکت به شهوت ګڼلی سی؟

۲: که یوسړی د جنسیاتو بیمار وی او د چاسره په لاس لګیدلو یی فوراً په آله تناسل کی حرکت راځی نو که د دی سړی لاس د خوابنی د لاس سره ولګیږی او په آله تناسل کی یی حرکت راسی او د هغه سړی اراده د شهوت او بدی نه وی نو د دی بیماری په وجه به حرمت مصاهرت لازمیږی او که نه؟

جواب: تاسو د وسوسو د لری کولو د پاره (قل اعوذ برب الناس) آخر د سورت پوری ډیر ډیر ووایاست او کوم صورت حال چی تاسو په سوال کی لیکلی دی نو د هغه سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی، مس چی بغیر د حائل شهوت سره وی د هغه سره حرمت مصاهرت ثابتیږی او د شهوت د پاره په آله تناسل کی په جسمانی طور باندی انتشار پیداکیدل شرط دی، محض د انتشار د شبهی سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی، وحد الشهوت فی الرجل أن تنتشر الته او تزداد انتشاراً ان کانت منتشرة کذا فی التبیین

وهو الصحیح، وکذا فی جواهر الاخلاطی وبه یفتی، وکذا فی الخلاصة..... هذا الحد اذاکان شاباً قادراً علی الجماع. (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۲۷۵)[1]

۲: که داواقعه د چاسره پیښه سوی وی نو اول دا ووایه! چی جنسی بیماری د دی قسمه ده چی کوم سړی یابل شی ته لاس لګولو سره هم په آله تناسل کی حرکت راځی یاصرف د ښځی په لاس لګیدلو باندی حرکت راځی؟ د دی ځخه وروسته به جواب ردکول کیږی.

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۲۸۵۹۱ ب)

فصل فی المناکحة بالکفار واهل الکتاب والفِرَق الضالة

د کافرانو، اهل کتابو او ګمراه ډلو سره د نکاح بیان

د عیسائی ښځی سره د نکاح حُکم

سوال: زما د یو دوست واده د یوی عیسائی انجلی سره سوی دی د انجلی پلار مسلمان دی او مور یی عیسائی ده، پلار یی د هندوستان په فوځ کی منیجر وو، او د مذهب او شرافت ځخه په لاتعلقی په وجه یی د یوی انجلی سره محبت سو، هغوی د مشرانو په رضاء او خوښی سره سوله میرج وکی، د انجلی مور به وئیل چی زه به نکاح نه ورکوم او د هلك پلار په نکاح کولو باندی اصرار کوونکی وو، د انجلی پلار ووئیل: چی اوس د انجلی د مور وینا ومنه، ځکه چی هغه ډیره ضدی ده، ته یی خپل کورته بوځه او نکاح یی وتره نو همداسی وسول ټولو داګڼل چی هلك مسلمان دی، نو لهٰذا انجلی به هم مسلمانه وی، کله چی یی دوه بچی پیداسول، نو معلومه سوه چی انجلی د مور په مذهب باندی ده یعنی عیسائی ده، او انجلی هم اقرار وکی چی زه عیسائی یم، اوس شرعاً آیا داواده جائز دی او که نه؟

[1] (طبع مکتبه رشیدیه کویته) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۳۳ (طبع سعید) وحدها فیهما تحرکه او زیادته به یفتی، وفی الشامیة قال فی الفتح ثم هٰذا الحد فی حق الشارب..... الخ.

جواب: د عیسائی ښځی سره د مسلمان نکاح شرعًا منعقد کیږی، خو شرط دادی چی ښځه واقعًا په عیسوی مذهب باندی وی [۱]. د نن صبا د عیسایانو په شان نه وی چی په نوم خو عیسایی وی او عقاید یی د دهریانو وی چی خدای او رسول هیڅوك هم نه منی. ورسره دوهم شرط دادی، چی نکاح یی په شرعی طریقی سره د دوو شاهدانو په مخکی سوی وی [۲]. که دا دواړه شرطونه موجود وی نو نکاح یی صحیح سوی ده.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۳/۷هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۳۱۱ ب)

لامذهبه او شیعه سره د نکاح حُکم

سوال: عرض دادی چی د یوی داسی انجلی سره چی د هغه د مور او پلار تعلق د دیوبندی مسلك سره دی د هغی واده د یوداسی هلك سره سویدی چی د هغه مور او پلار شیعه ګان دی. او هلك د هغوی سره په مذهبی تقریباتو کی شرکت نه کوی. ورسره د نکاح د ترلو د پاره به قاضی هم د دیوبندی مسلك راغوښتل کیږی آیا دانکاح جائز ده؟ او هلك او انجلی دواړه بالغ دی او انجلی نیکه صالحه، قرآن خوانه او لمونځ ګذاره ده او دیوبندی مسلك والاده. او د هلك وینا داده چی زه نه شیعه یم او نه سُنی زه څه مذهبی تقریب ته نه ځم کله چی مور د هلك د کور خلګو ته ووئیل چی که هلك اخبار کی پوره د سنی کیدو اعلان وکړی نو کیدی سی چی څه خبره جوړه سی خو هم په هغه وخت د هغه مور ووئیل: چی دا څنګه کیدی سی چی د هلك پلار شیعه دی. زه پخپله شیعه یم. دا اعلان څنګه کولی سی؟ په هغه وخت هلك هم د دی تردید ونهکی، بلکی د مور د خبری سره یی اتفاق وکی، زموږ مخکی د هغه حالات مشکوك دی. په دی وخت کی د رشتی خبره مخ ته ده، ځکه چی موږ څه لیکل غواړو هغه به په لیکلو سره راکوی او

---

[۱] وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۵ (طبع ایچ ایم سعید) (وصح نکاح کتابیة) وان کان کره تنزیها (مؤمنة بنبی) مرسل (مقرة بکتاب) منزل وان اعتقدوا المسیح الها. وفی الشامیة (قوله مقرة بکتاب) فی النهر عن الزیلعی، واعلم ان من اعتقد دینًا سماویًا وله کتاب منزل کصحف ابراهیم وشیش وزبور داؤد فهو من اهل الکتاب فتجوز مناکحتهم.

[۲] وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر.... وشرط حضور شاهدین حریم او حر وحرتین مکلفین سامعین قولهما معًا. (الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص ۹ و ۲۱ طبع سعید)

د هرسوال جواب به په هو سره راکوی، خو موږته د هغه په خبرو اطمینان نسته. زموږ رشته کیدی سی؟

جواب: په مسئوله صورت کی هرکله چی هلك صراحتًا د سُنی کیدو څخه انکار کوی. او د هغه والدین په واضح طور باندی شیعه ګان دی، نو اوس د شیعه کیدلو څخه د انکار مطلب یا خو داکیدی سی چی هغه تقیتًا داسی کوی او په حقیقت کی هغه شیعه دی او یا بیا هغه څه نه لری بی مذهبه دی او په دواړو صورتونو کی د هغه نکاح د سنی صحیح العقیده انجلی سره جائز نه ده. [۱]

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۸/۱۰/۲۰هـ

(فتوی نمبر ۳۹/۲۱۵۹ ز)

د قادیانی سره د نکاح حُکم او آیا د مسلمانیدو د پاره هم سرټیفیکیټ ضروری دی؟

سوال: عرض دادی چی یوسړی د قادیانی جومات سره تعلق ساتی، په کوټه کی د جعل سازی او خورد برد په مقدماتو کی ملوث وو را وتښتیدی او کراچی ته رالی. او دلته جعلی ډاکټر جوړیدو سره ډاکټر کیپټن ایم ای صابر په نوم سره په ملیرستی کراچی کی خپل کلینیك چلوی، حالانکی دا سړی نه ډاکټر وو، او نه کیپټن وو. بلکی په کوټه کی د یوکلرك په حیثیت یی کار کوی، چی هلته یی د خپلو اختیاراتو څخه تجاوز کولو

---

[۱] که بی مذهبه وی او یاکفریه عقیده لرونکی شیعه وی نو په دواړو صورتونو کی د هغه د کافر کیدلو په وجه به دا نکاح منعقد نه وی او که کفریه عقیده لرونکی شعیه نه دی نو بیاهم د هغه سره د سنی مذهبه انجلی نکاح کول جائز نه دی ځکه چی هغه د سنی انجلی کفو نه دی. وفی الشامیة کتاب النکاح فصل فی المحرمات ج: ۳ ص: ۴۶ وبهذا ظهر ان الرافضی ان کان ممَن یعتقد الا لوصیة فی علی او ان جبریل غلط فی الوحی او کان ینکر صحبة الصدیق او یقذف السقیدة الصدیقة فهو کافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدین بالضرورة. وفی البحر الرائق کتاب السیر باب احکام المرتدین ج ۳ ص: ۱۲۱ (طبع سعید) ویکفر من اراد بعض النبی ﷺ .... وبعد اسطر بقذفه عائشة رضی الله تعالی عنها من نسائه ﷺ فقط و بانکاره صحبة ابی بکر رضی الله عنه. وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الثالث (طبع ماجدیه) ج: ۱ ص: ۲۸۲ ولایجوز تزوج المسلمة من مشرك ولاکتابی. وفی البدایع ج: ۲ ص: ۲۷۱ (طبع سعید) ومنها اسلام الرجل اذاکانت المرأة مسلمة فلایجوز النکاح المؤمنة الکافر. لقوله تعالی: ولاتنکحوا المشرکین حتی یؤمنوا. ولان فی النکاح المؤمنة فی الکفر.... الخ.

سره ډیری پیسې خورد برد کړی وی، چې د هغه په وجه د هغه په خلاف د جعل سازی، دوکه ورکولو فراډ او خورد برد ګڼ مقدمات قائم سول چې د هغه څخه را وتښتیدی، کراچی ته رالی، او هلته اشتهاری مجرم وګرځول سو، د خپل مجرمانه ضرورت د وجی په یې خپل نوم او مذهب بدلوی، لږ موده مخکی زموږ د کورسره نژدی زما د خاله په کورکی د ظفر هسپتال په نوم سره یې خپل کلینیک چلوی، د کرایه وغیره په سلسله کی جنګ شروع سو او خبره عدالت ته ورسیده، هغه د کرایه داری مقدمه دائرکړله، د عدالتی معاملاتو د نسبالولو د پاره زما والد صاحب د خپلی خور یعنی زما د امه مدد وکی، نو دغه سړی زما د پلار دښمن سو، او په مختلفو حیلو او بانو سره یې دواړه خاندانونه تنګول، زما د پلار څخه د بدلی اخستو په وجه هغه روزانه کالج ته تلو راتلو کی په ماپسی سو ډیر واره په لاره کی په لیدو سره به یې ماته د خپل محبت یقین راکوی، وقتی جذباتو کی راتلو سره زه د هغه په خبرو کی رالم، او یوه ورځ هغه زه یوهوټل ته بوتلم او د نکاح نامی په یوه ساده فارم باندی یې رانه دستخط واخستی، او ورسره په دوه سټامپ کاغذونو باندی یې هم رانه دستخط وکی، د نکاح نامی د فارم او سټامپ کاغذونه وروسته ډک سول، د دغه نکاح خبر زما مور او پلار او نورو خپلوانو ته نه وو، او نه پکښې د هغوی رضا شامله وه، د نکاح د دی کار روایی په وخت کی نه څوك نکاح تړنکی یاقاضی موجود وو او نه پکښې څوك شاهد موجود وو. بلکی په هغه وخت کی زموږ د دوو کسانو څخه علاوه دریم سړی څوك موجود نه وو. ما په ژبې سره اقرار کړی وو او نه هغه د خپلی ژبې څخه څه الفاظ اداء کړی وه، بس د هغه په وینا ما په فارم باندی دستخط وکی او خپل کورته بیرته رالم د دی څخه وروسته د کار روایی علم ماته نسته، د واده د ټولو شاهدانو نومونه او د مهر د پیسو تعین وروسته هغه په خپله مرضی سره وکی تردی چې د ناوی د شاهدانو د نوم په ځانو کی چې د کومو کسانو نومونه لیکل سوی وه زه د هغوی څخه قطعی طور باندی ناواقفه یم، د دی څخه وروسته د دغه کاغذونو په وجه به یې زه بلیك میل کولم زماکور والاوو ته په زوره باندی زمابوتله دمکیانی به یې راکولی، او دوه واره د څوکسانو سره کورته راننوتل او په زوره د بوتلو کشش یې وکی، زه د هغه سره په تلوباندی راضی نه وم، نو ځکه می په عدالت کی د خلع مقدمه دائرکړله چې اوس زیرسماعت ده، داسړی د قادیانی جماعت سره تعلق ساتی، د هغه پوره خاندان سخت قادیانی دی او خپل ځان د مسلمان ظاهرولو د پاره هغه د کوم مولانه د قادیانی مذهب د پرېښوولو او

مسلمانیدو سرټیفیکیت حاصل کړی دی دا سرټیفیکیټ هغه زماسره د نکاح کولو څخه شل ورځی مخکی حاصل کی، او ماته یې د دی خبری یقین راکی چې هغه مسلمان سوی دی، حالانکی هغه د دی څخه مخکی د یوی مسلمانی انجلی سره واده کړی دی او د هغه څلور بچی دی د هغه اصل نوم خالد سیف الله ولد عطاء الرحمن دی او زما په نکاح نامه کی هغه خپل نوم منور احمد لیکلی دی او د خپل پلار نوم یې محمد عظیم لیکلی دی او د مسلمانیدو په سرټیفیکیت کی هغه خپل نوم نور احمد ولد عطاء الرحمن ایم ای لیکلی دی.

زما د خاندان نور خلګ تنګولو د پاره یې هم په هغوی نور مقدمات دائر کړی دی، او د خلع یوه مقدمه زما د جعلی دستخط سره یې زما د اړخه پخپله په عدالت کی دائره کړی ده او د هغه په جواب کی یې په ما او زما په کور والاوو باندی د دروغو الزامونه لګولی دی، د خپل کاغذ د مضبوطولو د پاره یې زما یو شناختی کارډ د جعلی دستخط سره جوړکړی دی چې په هغه کی زمانوم نفیس فاطمه زوجه منور احمد درکړی دی، د دی څخه علاوه یې د خپل یودوست مسمی عبد الرشید په حق کی یې یوفرضی او د دروغو امانت نامه مالیاتی څلویښت زره روپی زما په جعلی دستخط سره تیار کړی دی او دا ټول جعلی دستاویزات یې په عدالت کی پیش کړل چې په هیڅ صورت کی هم زه د دغه درواغجن، دوکه باز قادیانی څخه خلاص نه سم، د کویټی اداره تحفظ ختم نبوت د اطلاع مطابق دی سړی هلته هم یوه انجلی اغواکړی او د هغه جعلی نکاح نامه یې تیاره کړی ده. اوس سوال دادی چې:

۱: د نکاح بیان سوی صورتحال کی زما نکاح د دغه سړی سره وسوه او که نه؟ په نکاحنامه کی هغه غلط نوم او ولدیت استعمال کړی دی او د نکاح کار روایی په تنهایی کی زموږ د دووکسانو په مینځ کی سویده.

۲: او آیا دغه سړی د قادیانی څخه مسلمان سوی دی؟ او د هغه د مسلمانیدو په سرټیفیکټ کی خپل نوم او ولدیت هم غلط استعمال کړی دی او د مسلمانیدو د سرټیفیکټ د حاصلولو څخه مخکی په ټولو کاغذاتو کی یې خپل ځان مسلمان د ظاهرولو شرعی حکم څخه می خبر کړی.

جواب: که په سوال کی ذکرسوی واقعات درست وی نو د مسماة نفیس فاطمه نکاح د مذکوره سړی. خالد سیف الله سره نه ده سوی د نکاحنامی په ساده فارم باندی صرف دستخط کولو سره نکاح شرعًا نه منعقد کیږی، بلکی د دی د پاره کم ترکمه د دوو

شاهدانو په موجودګی کی ایجاب او قبول ضروری دی. (۱) د دی څخه علاوه که هغه سړی اوس هم قادیانی دی او د مسلمانی سرټیفیکیټ یی دروغجن دی نو د قادیانی سړی سره د مسلمانی ښځی نکاح شرعًا نه سی کیدی. (۲) که څه هم د دوو شاهدانو په موجودګی کی یی ایجاب او قبول کړی وی لهذا که په سوال کی ذکرسوی واقعات درست وی نو نفیس فاطمی ته د هغه خلاف د خلع څخه بلکی انخلاء زنا سوی مقدمه کول پکار دی.

۲: د قادیانی څخه مسلمان کیدل په حقیقت کی د خپلو عقائدو په تبدیل او د هغه په اعلان باندی موقوف دی که یوسړی د قادیانی عقائدو څخه واقعًا توبه ګارسی او په ژبی سره د دی اعلان وکړی نو هغه مسلمان کیدی سی که څه هم د هغه سره سرټیفیکیټ نه وی او که د زړه په اخلاص سره توبه ګار سوی نه وی نو محض د دروغو سرټیفیکیټ جوړولو سره مسلمان کیدی نسی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۸/۸/۱۵ھ

(فتوی نمبر ۱۲۵۷/ ۳۹ و)

د شیعه سره د نکاح حکم

سوال: رافضی شیعه او اثناعشری کی که څه فرق وی نو وی لیکی ورسره د داسی عقائدو لرونکو سره د کومی سنی العقیدی ښځی یا سړی نکاح جائزده او که نه؟ هرکله چی په خلفائی ثلاثه باندی تبرأکوی حالانکی د حضور ﷺ حدیث شریف دی. چچی زما صحابی رضی الله عنه ته تکلیف ورکی هغه ماته تکلیف راکی او چاچی ماته تکلیف راکی ګوانکی هغه خدای جل جلاله ناراضه کی، د دی ارشاداتو په رڼا کی د نکاح څه حکم دی؟

---

(۱) وفی الدر المختار كتاب النكاح ج: ۳ ص: ۹۔ ۲۱ وينعقد بايجاب من احدهما وقبول من الاخر وشرط حضور شاهدين حرين او حر وحرتين مكلفين سامعين قولهما معًا ... وفی الهداية ج: ۲ ص: ۳۰۲ (طبع مکتبه شرکت علمیه) ولاينعقد نكاح المسلمين الا بحضور شاهدين مسلمين حرين عاقلين. بالغين مسلمين.

(۲) وفی الهندية كتاب النكاح الباب الثالث (طبع ماجدیه) ج: ۱ ص: ۲۸۲ ولايجوز تزوج المسلمة من مشرك ولاكتابی. وفی البدائع ج: ۲ ص: ۲۵۳ (طبع سعید) ومنها الاسلام فی نكاح المسلمة، او همدارنګه وګوری کفایت المفتی ج: ۵ ص: ۱۹۲ (جدید ایډیشن د [illegible] الاشاعت)

جواب: د شیعه ګانو ډیری فرقی دی هغوی ټول خپل ځان ته شیعه او اثناعشری وایی او اهل سنت دی ټولوته رافضی وائی ټولی فرقی علی الاطلاق کافری نه دی، بلکی په دوی کی چی ځوك د حضرت علی رضی الله عنه د خدایی قائل وی یا قرآن کریم تحریف سوی منی یاپه ام المؤمنین حضرت عائشی رضی الله تعالی عنها باندی تهمت لګوی او یا د دی په شان د نورو کافرانه عقیدو معتقد وی نو هغه کافر دی او د هغوی سره نکاح نه کیږی (۱) او ځوك چی داقسم کفریه عقاید نه لری هغوی کافر نه دی د هغوی سره نکاح کیږی خو مناسب نه وی

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۰/۵ھ

(فتوی نمبر ۱۰۳۰/ ۲۸ الف)

د حاجی عثمان پیروکارو سره د نکاح حکم

سوال: یوسړی د حاجی عثمان صاحب معتقد دی، د هغه خانقاه ته ځی. د هغه په باره کی پوښتنه کول دی:

۱: د هغه سره رشته کول جائز دی او که نه؟

۲: که رشته یی ورسره وکړه نو نکاح به یی صحیح سی او که نه؟

جواب د مولانا مفتی عبد الرحیم صاحب مدظلهم د دار الافتاء والارشاد څخه:

د اکابرو حضراتو مفتیانو فیصله ده چی حاجی عثمان ګمراه دی. ۵ شوال سنه ۱۴۰۸ھ باندی اکابرو مفتیانو حاجی عثمان دار الافتاء والارشاد ناظم آبادته را وغوښتو د هغه سره یی مفصل ګفتګو وکړله د هغه په نتیجه کی چی د حاجی عثمان

---

(۱) وفی الشامية كتاب النكاح فصل فی المحرمات ج: ۳ ص: ۴۶ وبهذا ظهر ان الرافضی ان كان ممن يعتقد الالوهية فی علی او ان جبريل غلط فی الوحی او كان ينكر صحبة الصديق او يقذف السيدة الصديقة فهو كافر لمخالفته القواطع المعلومة من الدين بالضرورة. وفی البحر الرئق. كتاب الجهاد باب احكام المرتدين ج: ۳ ص: ۱۲۱ (طبع سعید) ويكفر من اراد بغض النبی ﷺ ... وبعد اسطر وبقذفه عائشة رضی الله تعالی عنها من نسائه ﷺ فقط وبانكاره صحبة ابی بكر رضی الله عنه او همدارنګه وګوری کفایة المفتی ج: ۵ ص: ۱۹۵

کوم نظریات مخ ته راالل د هغه په باره کی تولو حضراتو د حاجی عثمان په نوم باندی یوه نصیحت نامه د خپلو دستخطونو سره ولیکله، د هغه یوڅو اقتباسات دادی:

۱: په تاکی د بیعیت او ارشاد اهلیت نسته.

۲: که تا د بیعیت او ارشاد سلسله جاری وساتله نو د دی څخه د سختی ګمراهی پیښیدلو خطره ده.

۳: ستاسو بعضی معتقدات د اهل حق د معتقداتو څخه خلاف دی، ۱: خپل تحقیق یا استخاره بالکل قطعی ګڼل. ۲: د یو خلیفه د مشاهدی په وجه د یوصحیح حدیث څخه انکار کول.

۴: داتول ډیر خطرناك او ګمراهانه خیالات دی چی د هغه د زندیقی لاره خلاصه کیږی.

۵: د مکاشفی یا مشاهدی یا د الهام په وجه د شریعت د یوحکم یا د یودلیل څخه انکار کول ښکاره ګمراهی ده.

۶: ستا د یوخلیفه مشاهده د یوصحیح حدیث خلاف سوه نو تاته څه تردد پیدانه سو. خو چی کله ستا د یومرید زاده (چاندمیان) د واده په باره کی د هغه خلیفه مشاهده ستا د استخاری خلاف سوه نو تردد پیداسو، تا د خپلی استخاری نتیجی ته د یوصحیح حدیث څخه هم زیات فرقیت ورکی.

۷: کوم خلیفه چی پخپله ستا د ویناتو کلونو پوری په حضور ﷺ باندی بهتانونه تړل هغه ته دی د خپل طرف څخه، نه صرف د کامل کیدو، بلکی اکمل ته د نژدی کیدو شاهدی ورکړله، بلکی هغه ته دی داسند هم ورکی چی هغه (غوث) او فرد منزلونه هم طی کړی دی او د قطب وحدت منصب ته رسیدلی دی.

۸: د مریدانو د اصلاح او تربیت او د نګرانی اهلیت په تاکی نسته.

۹: حضرت مولانا فقیر محمد صاحب چی ستا څخه خلافت واخستی نو بیا تا د حضرت مولانا طرفته رجوع کولو سره د هغه اسبابو د ازالی کوشش دی ونکړو چی د څه په وجه چی درنه خلافت سلب سوی دی، بلکی تا د بیعت سلسله بدستور جاری وساتله. ستا دا طرز العمل د طریقت او سلوك د اصولو هم خلاف دی، د شیخ د ناراضګی اسباب د لری کولو په ځای د هغه د حکم خلاف ورزی کولو سره د بیعت سلسله جاری ساتل د طریقت او سلوك د ابجدو څخه هم خلاف ده، کوم سړی چی د خپل شیخ د حکم اطاعت نه کوی هغه د خپلو مریدانو څخه د اطاعت کولو اصل څنګه کیدی سی؟

۱۰: ستا طرز العمل د طریقت او سلوك د مسلم د بنیادی اصولو خلاف دی

۱۱: ستاسره دومره علم نسته چی د یوشیخ د طریقت د پاره ضروری دی

۱۲: په طریقت او سلوك کی د راتلونکو مراحلو په باره کی ستا خیالات او تصوورات او معتقدات درست نه دی.

۱۳: ته د مریدانو د اصلاح او تربیت د بنیادی تقاضو څخه واقف نه یی.

۱۴: تا د کوم محقق شیخ سره تاکومه رابطه نه ده کړی.

۱۵: ستا د پاره د اصلاح او ارشاد سلسله جاری ساتل هیڅکله شرعًا جائز نه دی.

۱۶: د کوم مسلمان د پاره داجائز نه دی چی ستاسره د مریدی تعلق قایم کړی.

۱۷: ته د خپل غلطو خیالاتو او طرز عمل څخه توبه ګار سه.

۱۸: د خانقاه داسلسله او بیعت اخستل موقف کړه او د دی اعلان وکړه.

۱۹: د نورو د اصلاح په فکرکی د پریوتلو په ځای د خپل ځان د اصلاح فکر وکړه.

۲۰: د خلګو د اصلاح خیال د زړه څخه وباسه خالص د خپلی اصلاح د پاره خپل ځان کوم شیخ ته حواله کړه او صرف د رسمی تعلق په ځای خپله معامله هغوی ته پیش کړه او د هغوی څخه هدایات واخله او د هغوی مکمله اتباع وکړه که څه هم هغه هدایات ستا د خپلی رایی، تحقیق، مکاشفات وغیره څخه هرڅومره خلاف وی همدا ستاسو د پاره د نجات لاره ده ورنه ته په ډیره خطرناکه لاره کی یی.

۲۱: ستا د پاره د عزت لار همداده چی پخپله په دی مشوره عمل وکړی.

حاجی عثمان صاحب دی نصیحت نامی طرف ته څه توجه ورنکړله، خو د دوی شیخ دوباره د خلافت د سلب کولو اعلان وکی او حاجی عثمان ته یی د توبی تلقین ورکی، هغه په دی هم توبه ګار نسو، نو شیخ ولیکل:

که حاجی عثمان تکبر کوی او فساد کوی نو د فساد د بندولو د پاره د حکومت په ذریعه انتظام وکړی.

د دی تفصیل څخه وروسته د سوالونو جوابونه لیکل کیږی:

۱: د داسی ګمراه سړی د مرید د معتقد سره رشته کول جائز نه دی.

۲: د یو ناجائز او حرام کار په باره کی دا پوښتنه کول که اوسی نو څه به اوسی او که نه نو سخته ګناه ده، بلکی په دی باندی د کفر خطره ده ځکه چی د نفس پرستی د پاره د حرامو په ارتکاب کی د شریعت د احکامو تحفیف او توهین دی،

د دی څخه علاوه حاجی عثمان چی په کومه لار باندی روان دی بیا د دومره لویو علماوو او مفتیان کرامو څخه علاوه پخپله خپل شیخ په پوه کولو سره هم نه منع کیږی

او د دی ځخه علاوه مریدینو او معتقدینو په هیڅ وخت کی کفرته رسیدل څه بعید نه دی العیاذ بالله په داسی حالت کی به د دی د نکاح څه انجام وی؟ ټول عمر حرام کاری اولاد ولد الزنا

والله تعالی اعلم

الجواب الصحیح رشید احمد (دار الافتاء والاشاد ناظم اباد کراچی)

الجواب الصحیح ولی حسن (جامعة العلوم الاسلامیه بنوری ټاون کراچی)

عبدالرحیم (نائب مفتی دار الافتاء والارشاد

۴ ربیع الاٰخر ۱۴۰۹ھ

جواب: د حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم

۱: زموږ د دی خبری سره اتفاق دی چی د حاجی عثمان صاحب د عقائدو متعلق کوم امور چی په جواب کی بیان سوی دی هغه ګمراهانه عقاید دی د داسی ګمراهانه عقائدو د حامل کوم سړی یا د هغه د پیروکار سره نکاح کول جائز نه دی.

۲: که نکاح یی وکړله که څه هم هغه منعقد سی نو سخت ګناه کار به وی.

الجواب الصحیح محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه (دار الافتاء دار العلوم کراچی) ۲/ ۴/ ۱۴۰۹ھ

والله سبحانه وتعالی اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۴/ ۱۴۰۹ھ

(فتوی نمبر ۲۱۱/ ۴۰ ب)

کافر خاوند ته د اسلام د پیش کولو ځخه وروسته که هغه مسلمان سی نو دانکاح به برقراره وی

سوال: د غیر مذهبه یوه ښځه ده (یعنی ذکری) د هغی ښځی خاوند هم غیر مسلم دی، اوس هغه ښځه مسلمانیدل غواړی او هغه ښځه وایی چی مازما خاوند ناجائزه تنګوی، زما ځوی هروخت شراب څښی اوتنګوی می، هلك څه کار نه کوی، سهار او ماښام پیسی غواړی، که پیسی ورنه کول سی نو ماوهی ټکوی چی د هغه په وجه زه تنګه سوم، هغی ښځی یو مسلمان سړی ته ووئیل: چی ته ماکورټ ته بوځه، هلته به زه بیان ورکړم چی زه مسلمانیږم، هغه سړی ورته ووئیل چی تاته خاوند طلاق نه دی درکړی نو زه درسره څنګه نکاح وکړم؟ د دی شرعی حکم څه دی؟

جواب: په مسئوله صورت کی دی اول ښځه مسلمانه سی، د دی ځخه وروسته دی عدالت کی دعوی وکړی عدالت دی د دی خاوند ته اسلام پیش کړی که خاوند مسلمان سو نو د دوی نکاح برقراره ده او که هغه د اسلام قبلولو ځخه انکار وکی نو عدالت به د دواړو نکاح فسخ کړی، د دی فسخ نکاح ځخه وروسته دی د طلاق عده تیره کړی نو د یومسلمان سره نکاح کولی سی.(۱)

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۱/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۳۲/ ۲۸ - الف)

د کافر خاوند د نکاح ځخه د وتلو طریقه

سوال: یوه غیر مسلمه ښځه مسلمانیږی د هغی ښځی خاوند هم ژوندی دی هغه هم غیر مسلم دی، د هغی یو هلك دی چی شراب څښی او موږ وهی، ښځه خاوند ته وایی چی دا هلك پوه کړه، نو خاوند یی وایی چی زه ورته هیڅ نه وایم چی چیری ځی نو ولاړه سه. دغه ښځه په مسلمانیدوسره د یومسلمان سره یی د واده اقرار کړی دی. د هغه په جواب کی تاسو لیکلی دی چی ښځه دی مسلمانه سی او په عدالت کی دی دعوی دائره کړی بیادی عدالت د هغه خاوند ته د مسلمانیدلو پیشکش وکړی که خاوند مسلمان سو نو د دواړو نکاح به برقرار وی، او که نه نو د طلاق عده په تیریدلو سره د یو مسلمان سره نکاح کولی سی، خلګوته هم د هغه مسلمانیدو علم سوی دی، اوس به یی مړه کړی، لهذا عده تیرول او په عدالت کی مقدمه پیش کول د خطری ځخه خالی نه دی ایا داښځه د مسلمانیدلو سره د یومسلمان سره نکاح وکړی داصورت به جائز وی او که نه؟

جواب: د کافر خاوند د نکاح ځخه د وتلو د پاره دا ضروری دی چی په عدالت کی دعوی کولو سره خاوندته یی اسلام پیش سی که هغه انکار وکړی نو قاضی دی د دوی جدائی وکړی.(۲) د دی ځخه بغیر د ښځی بل ځای کی نکاح نسی کیدی او که ښځی ته

(۱) د دی فتوی تفصیلی حواله جات په همدی جواب باندی د دوباره راتلونکی سوال په جواب کی لیکل سوی د راروانی فتوی په حاشیه باندی وګوری. (محمد زبیر)

(۲) د تفصیل د پاره وګوری: تفسیر معارف القرآن ج: ۸ ص: ۴۱۳. او حیله ناجائزه، ص: ۱۰۵ وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۸۸ واذا اسلم احد الزوجین المجوسیین او امرأة الکتابی عرض الاسلام

د خاوند ښځه د خپل ځان خطره وي نو د مسلمانانو پناه دي حاصله کړي: ومالم یفرق القاضی فهی زوجته. (شامی ج: ۲ ص: ۳۸۹) (۱) . هو! که خاوند پخپله طلاق ورکړي وي نو د اسلام راوړلو سره نکاح کولی سي خو صرف د کور ښځه په واستلو سره طلاق نه واقع کیږي، ترڅو چي د خاوند په مذهب کي دا طلاق نه ګڼل کیږي، او که د ملکي قوانینو په وجه څه داسي طریقه کار نه وي موجود چي د هغه په ذریعه عدالت خاوند راوغواړي په هغه باندي اسلام پیش کړي نو په دي صورت کي د عدی تیرولو سره به بل ځای د نکاح کولو ګنجایش وي. امّا لانه فی حکم دار الکفر فی هٰذه الجزئیة بخصوصها، واما عملاً بمذهب الائمة الاخرٰی عند الضرورة. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۳/۲هـ

(فتوٰی نمبر ۵۸۷/۲۸ ب)

علی الآخر، فان اسلم فبها والا بان ابی او سکت فرق بینهما، وکذا فی الهدایة علی فتح القدیر ج: ۳ ص: ۲۸۸، والتاتار خانیة ج: ۳ ص: ۱۸۱، والهندیة ج: ۱ ص: ۳۳۸ وفی اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۹۸.... اذا اسلمت المرأة فی دار الاسلام وفیهما دلالة علی انها فی نکاح زوجها حتٰی یعرض علیه الاسلام فیأبی فیفرق القاضی او الامام بینهما. وراجع ایضاً للتفصیل فتح القدیر ج: ۳ ص ۱۸۸ والبحر الرائق ج: ۳ ص: ۲۱۱ والنتف فی الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۳۰۹.

(۱) ج: ۳ ص: ۱۸۹ (طبع سعید)

(۲) د امام مالك امام شافعی او امام احمد حنبل رحمهم الله په نزد کله چي د یوغیر مسلم ښځه مسلمانه سي نو د هغی د عدی تیریدو سره به د هغی نکاح د سابقه خاوند سره پخپله فسخ سی د فسخی د پاره عدالت ته تلل ضروری نه دي فی المغنی لابن قدامة مع الشرح الکبیر ج: ۷ ص: ۵۳۶ (طبع دار الفکر بیروت) کی دی. اذا اسلم احد الزوجین وتخلف الاٰخر حتٰی انقضت عدة المرأة انفسخ النکاح فی قول عامة العلماء.... الخ. د دی مسئلی تحقیق او ائمه اربعه د مذاهبو د تفصیلی د پاره د حضرت والا دامت برکاتهم په دی موضوع باندی عدالتی فیصله وګوری چي په P-L-D ص ۷۱۰ څخه تر ص ۷۲۱ پوری موجود دی. (محمد زبیر حقنواز)

فصل فی الانکحة الفاسدة والصحیحة

فصل د صحیح او فاسدی نکاح په بیان کي

د شپږو میاشتو حاملی ښځی سره د نکاح حُکم

سوال: آیا د شپږو میاشتو حاملی ښځی سره نکاح جائز ده؟

جواب: که حمل د مخکنی کوم خاوند څخه دی نو ترڅو چي والادت اونسی نکاح درسته نه ده (۱). او که حمل د زنا دی نو نکاح به اوسی. (۲) خو که نکاح کونکی هغه نه وي چي د چاسره یی زنا کړی ده نو د نکاح څخه وروسته صحبت کول ترهغه وخته جائز نه دی ترڅو چي د ماشوم ولادت اونسی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۱/۱۱/۱۵هـ

(فتوٰی نمبر ۱۷۱۳/۳۲ ج)

د حیض په ورځو کی نکاح جائز ده

سوال: آیا د حیض په زمانه کی شرعی عقد کیدی سی او که نه؟

جواب: د حیض په زمانه کی نکاح منعقد کیږی، خو په داسی حالت کی د خاوند د پاره جماع جائز نه ده، نو د حیض په ورځو کی رخصتی کول د احتیاط خلاف دی او که د څه مجبوری په وجه رخصتی هم اوسی نو خاوند ته د جماع څخه پرهیز لازم دی. (۳)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۰/۱۲/۲ هـ (فتوٰی نمبر ۲۱۵/۲۱- الف)

---

(۱) ځکه چي په داسی صورت کی به هغه په عده کی وی او د حاملی عده د حمل وضع ده لهذا د حمل د وضع څخه مخکی د بل چاسره نکاح جائز نه ده. وَلَاتَعۡزِمُوۡا عُقۡدَةَ النِّکَاحِ حَتّٰی یَبۡلُغَ الۡکِتَابُ اَجَلَهٗ (البقرة: ۲۳۵) وفی الهندیة کتاب النکاح البا الثالث ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع ماجدیه) لایجوز للرجل ان یتزوج زوجة غیره وکذا المعتدة.... الخ.

(۲) د حوالی د پاره وګوری سابقه صـ حاشیه ع.

(۳) فاعتزل النساء فی المحیض ولا تقربوهن حتٰی یطهرن (الآیه) البقرة، ۲۲۲.

د نکاح تړونکی په جواب کی (انجلی می ورکړه) لفظ سره په نکاح منعقده سی

سوال: عرض دادی چی یوی انجلی د خپلی نکاح وکیل یو سړی مقرر کی چی د هغه محرم نه وو، نکاح تړونکی د ایجاب او قبول کولو په وخت د انجلی. وکیل مخاطب کولو سره دا الفاظ ووئیل چی فلانی انجلی د فلانی لور فلانی هلك د فلانکی ځوی تا په عوض د دومره روپو مهر قبول کی؟ د دی په جواب کی وکیل ووئیل چی قبول می کی. یوبل سړی د صحیح وئیلو په غرض ووئیل چی داشان ووایه! چی تا د فلانی انجلی د فلانکی لور فلانکی هلك ته ورکړی ده، وکیل ووئیل ورکړی می ده، د دی څخه وروسته په هلك باندی قبول اوسو، آیا په دی صورت کی د نکاح انعقاد په کوم سره اوسو؟ د وکیل د وئیلو سره او که د هلك د وئیلو سره؟

جواب: په صورت مسئوله کی نکاح تړونکی چی دوهم وار کومه جمله وکیل ته مخاطب کیدلو سره وئیله او وکیل د هغه په جواب کی ووئیل (ورمی کړله) په دی سره نکاح منعقد سوه. (۱) او هم د هلك سره بی نکاح وسوه د وکیل سره نه، دا په هغه صورت کی دی چی انجلی نکاح تړونکی وکیل جوړی کړی وی. (۲) ورنه د مذکوره جملی څخه وروسته په هلك باندی چی کوم ایجاب او قبول اوسو د هغه سره نکاح منعقد سوه.

والله سبحانه اعلم
۲۲/۱/۱۴۰۸ھ
(فتوی نمبر ۱۵۱/۳- الف)

---

(۱) وفی رد المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۱۱، لوقال هل اعطیتها فقال اعطیت ان کان المجلس للوعد فوعد وان کان للعقد فنکاح. وفی رد المختار ایضًا ج: ۳ ص: ۱۲ (قوله ان المجلس للنکاح) ای لانشاء عقده لانه یفهم منه التحقیق فی الحال فاذا قال الاخر اعطیتکها او فعلت لزم.... الخ.

(۲) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۹ (طبع سعید) وینعقد متلبسًا بایجاب من احدهما وقبول من الاخر.... کزوجت نفسی او بنتی او موکلتی منك. وفی الشامیة (قوله کزوجت نفسی) اشار الی عدم الفرق بین ان یکون الموجب اصیلاً او ولیًا او وکیلاً.

د نکاح د منعقد کیدلو د شاهدانو ایجاب او قبلو اوریدل لازم دی

سوال: (د عقد په سلسله کی موصوله تحریر) زه مسمی عبد الرحمن خان بن عبد الرحیم خان چی د مسماة صوفیه افضال بنت افضال الله خان د اړخه د هغه د نکاح خوانی د تکمیل د پاره وکیل مقرر سوی یم، د شریعت اسلامی مطابق د ایجاب تکمیل می کړی دی او د پاکستان د مسلم فیملی لاء د دستور مطابق دا تحریر جناب ارشاد علی خان ولد جناب جواد علی خان ته لیږم چی هغه زما د فریضی سرته رسولو د پاره د نکاح خوانی متعلق د وکیل نیابت قبول کړی او د نکاح خوانی مجلس منعقده لطیف آباد (حیدر آباد) پاکستان کی مسمی معید الظفر خان عرف مموخان بن جناب عبد الرشید خان صاحب څخه قبولیت وکړی.

۱: داچی زه مهر موجل نه زره روپی پاکستانی سکی په عوض کی خپله موکله مسماة صوفیه افضال بنت افضال الله خان صاحب ته په حق مسمی معید الظفرخان عرف مموخان بن عبد الرشید خان صاحب په نکاح او زوجیت کی ورکوم.

۲: چی زه د مهر موجل نه زره روپو د پاکستانی سکی په عوض کی خپله موکله مسماة صوفیه افضال بنت افضال الله خان صاحب ته مسمی معید الظفر خان عرف مموخان بن عبد الرشید خان صاحب په نکاح او زوجیت کی ورکوم.

۳: چی زه د مهر موجل نه زره روپو د پاکستانی سکی په عوض کی خپله موکله مسماة صوفیه افضال بنت افضال الله خان صاحب ته مسمی معید الظفر خان عرف مموخان بن عبد الرشید خان صاحب ته په نکاح او زوجیت کی ورکوم. (عبد الرحمن خان وکیل) برنی تحریر د انجلی د پلار د طرفه لیکل سوی دی او دستخط د عبد الرحمن خان صاحب دی لهٰذا معلومول دادی چی د دی تحریر مطابق نکاح خوانی سرته رسیدلی سی؟

جواب: په نکاح کی دا ضروری دی چی د نکاح شاهدان ایجاب او قبول دواړه واوری. (۱) لهٰذا دا تقریر د نکاح د انعقاد د پاره کافی نه دی، البته دا کولی سی چی د انجلی

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۹ (طبع سعید) وینعقد متلبسًا بایجاب من احدهما وقبول من الاخر وفیه ایضًا ج: ۳ ص: ۲۱ وشرط حضور شاهدین حرّین او حرّ وحرتین مکلفین سامعین قولهما معًا.

کوم وکیل پخپله حیدر اباد ته ولاړسی د انجلی د اړخه ایجاب وکړی او هلك هم پرهغه مجلس کی قبول وکړی او شاهدان ایجاب او قبول واوری.(۱)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۸/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

د ګواهانو فسق د نکاح په انعقاد کی مانع نه دی خو د نکاح په ثبوت کی مانع دی

سوال: څه فرمائی علمائی دین او مفتیان د شرع متین په دی مسئله کی چی یو سړی د خپلی لور کوزده د یورشته دار هلك سره وکړله د کوزدی په وخت هلك او انجلی دواړه نابالغه وه، د څه مودی څخه وروسته د بی اتفاقی په وجه د انجلی والا وو جواب ورکی چی موږ ستاسو سره دوستی کول نه غواړو، څه چی د کوزدی په وخت د هلك کور والا ورکړی وه، هغه یی بیرته ورکړل او هغوی خپل شیان واخسته او تراوسه یی د نکاح څه تذکره نه ده کړی، د څه مودی څخه وروسته د انجلی والاوو د انجلی په بل ځای کی دوستی کول وغوښتل، نو د هلك کورنی ووئیل: چی د دی انجلی سره زموږ نکاح سوی ده، چی د هغه یی دوه داسی شاهدان مقرر کړل چی د هغوی سیرت په حرام کاری کی ډیر زیات داغداره دی یعنی د ډیری کښته درجی دا غداره، فاجران، فاسقان دی، ورسره هغه دواړه شاهدان د هلك د پلار د هغه یو وراره دی، او بل یی اخښی دی چی یو په څوارلس میله فاصله کی او بل په اته میله فاصله باندی اوسیږی د هغوی دعوی داده، چی موږ د شپی تللی وو، او هغوی د خپل انجلی نکاح وکړله، د انجلی کور حلفًا بیان کوی چی موږ هیڅ نکاح نه ده کړی، دا خلګ صرف زموږ د بدنامولو او زموږ د کار خرابولو د پاره پرپیګنډه کوی، ورسره د انجلی والا د کور خواو شاه همسایه ګان خپلوان دی او که د بل قوم خلګ دی ټول داوایی چی د دی نکاح په باره کی موږ ته علم نشته، ورسره د کوم نکاح تړونکی نوم چی د هلك کورنی اخلی، چی فلانی سړی نکاح تړلی ده هغه سړی هم د نن څخه څلور پنځه کاله مخکی مړسوی دی، حاصل داچی د هغوی سره سوا د هغه دوو شاهدانو څخه د نکاح بل څه ثبوت نشته، اوس معلومول

---

(۱) د تیری صفحی ۳۱۱ حاشیه وګوری.

ادی چی د دی انجلی نکاح د هلك د کورنی د دعوی مطابق به شرعًا ثابته وی او که نه؟

۲: کوم قسم چی دا شاهدان دی د داسی قسم فاسق او فاجر شاهدانو شاهدی شرعًا نبوله ده او که نه؟ هرکله چی هغوی پخپله په حرام کاری کی مبتلاء دی او بی نکاح ښځی په کورکی د کښنی نولو عادت دی، که دانکاح شرعا ثابته نه ده نو د دی انجلی نکاح بل په بل ځای کی کیدی سی او که نه؟

۳: د هلك د کورنی د وراره او د اخښی شاهدی شرعًا معتبره ده او که نه؟ که شرعًا د دی انجلی نکاح د هغه شاهدانو په شاهدی سره ثابت سی نو د انجلی د کور والاوو د باره څه حکم دی؟ آیا د هغوی په قسم باندی به اعتبار کولی سی؟ یا به انجلی ورکولی سی؟ د دی جواب د حنفی فقهی مطابق مفصل ولیکی د فقهی کتابونو په حوالی سره مو مشکور کړی.

جواب: مفتی عالم الغیب نه وی بلکی د هغه څخه چی څه سؤال اوسی د هغه د حکم مطابق جواب ورکولی سی، معامله د حلالو او حرامو ده لهٰذا دواړی ډلی دی ښه ځان پوه کړی که نکاح واقعًا سوی وی نو د انجلی رخصتی لازمه ده، صرف د دروغو قسم اخستل سره د آخرت عذاب نسی لری کیدی، لهٰذا دواړو ډلوته خپل قبر او آخرت مخ ته اینوولو سره فیصله کول پکار دی داحکم خو د دیانت دی، او که معامله شرعی عدالت ته ولاړه سی نو په صورت مسئوله کی چونکی دواړه شاهدان فاسقان فاجران او دروغ وئیلو کی مشهوره دی نو ځکه صرف د هغوی په شاهدی باندی د نکاح فیصله نسی کیدی، هو: که په دی شاهدانو کی شرعی شرطونه پیداوی نو د هغوی د شاهدی په وجه قاضی د نکاح فیصله کولی سی، واضحه دی وی چی د شاهدانو فسق د نکاح د انعقاد د پاره مانع خونه دی خو د نکاح د ثبوت د پاره قابل اعتماد شاهد کیدل ضروری دی.(۱)

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۲۱. ۲۳ (طبع سعید) وشرط حضور شاهدین مسلمین لنکاح المسلمة ولوفاسقین او محدودین فی قذف.... الخ وفی رد المختار قوله (ولوفاسقین) اعلم ان النکاح له حکمان: حکم الانعقاد، وحکم الاظهار. فالاول ماذکره والثانی انما یکون عند التجاهد فلایقبل فی الاظهار الا شهادة من تقبل شهاده فی سائر الاحکام... الخ وفی الدر المختار کتاب الشهادات ج: ۵ ص: ۴۶۵ (طبع سعید) ونصابها لغیرها من الحقوق سواء کان الحق مالا او غیره نکاح وطلاق ووکالة.... رجلان او رجل وامرتان ولزم فی الکل لفظ اشهد لقبولها

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۹/۹/۲۵ھ
(فتوی نمبر ۳۰/۱۷۱۲)

د بالغ هلك د عدم منظورۍ په وجه نكاح نه منعقد كیږي

سوال: د یوی بالغی انجلی د پلار په موجودګی کی اکا د یوبل سړی سره نکاح وکړه. او د هلك پلار د انجلی د اړخه یې قبول وکی، هلك په هغه وخت بالغ وو، نه یې هلك ته داپیغام ویلی دی، او نه خاوند منکوحه لیدلی ده، او انجلی هغه لیدلی دی. او عین د نکاح په وخت یې یوه تولہ سره زر انجلی ته حواله کړل، څو میاشتی وروسته د انجلی والدینو دبرمانه د هجرت قصد وکی، نو د هلك مور او پلار ته یې ووئیل: څو هغوی انکار وکی (په هغه وخت کی نکاح نه ده سوی) په هغه کی د اختلاف د وجی مذکوره ورکول سوی مهر یې بیرته ورکی، او د هلك والدینو واخستی، کله چی د انجلی والدین کراچی ته رالی، نو د هغه هلك اکا یوخط برماته ولیږی چی په هغه کی یې لیکلی وو، چی انجلی د بل سړی په نکاح کی ورکړم، په کراچی کی یې پلار د بل سړی سره خبری اتری کړی وی، څو انجلی چی کله بالغه سوه، نو هغه په هغه سړی باندی راضی نه وه، چی: هغه په وجه انجلی د والدینو د کور څخه ولاړه او په خپله خوښه یې د یوهلك سره نکاح وکړله، اوس والدین په انجلی باندی زور اچوی چی د انجلی اوله نکاح تراوسه باقی ده، ایا اوله نکاح تراوسه باقی ده؟

تنقیح: ۱. د انجلی پلار دغه نکاح منظوره کړی ده؟
۲. هلك په ژبه سره دا نکاح منظوره کړی وه؟ او که نه؟
۳. په کوم وخت کی چی دغه انجلی بالغه سوه په هغه وخت هغه د خپلی نکاح په باره کی څه رویه اختیار کړله؟ د دی سوالونو جواب راتلو باندی به د اصل سوال جواب درکولی سی.

د تنقیح جواب: په کوم وخت چی اکا انجلی په نکاح ورکړی وه، پلار باندی راضی وو.
۲: هلك په ژبه سره دانکاح نه ده منظوره کړی صرف د هلك د اړخه پلار منظوره کړی وه.

والعدالة لوجوبه فی الینا بیع العدل من لم یطعن علیه فی بطن ولافرج. وفی الشامیة (قوله العدل) قال فی الذخیرة، واحسن ماقیل فی تفسیر العدالة ان یکون مجتنبًا للکبائر. ولایکون مصراً علی الصغائر ویکون صلاحه اکثر من فساده وصوابه اکثر من خطئه.... الخ.

۳: کله چی انجلی بالغه سوه هیڅ رویه یې اختیار نه کړله، صرف د هلك د طرفه څه خبری اتری سوی وی، او یو مهریې ورکړی وو، هغه یې بیابیرته ورکی.

جواب: هلك د نکاح په وخت کی بالغ وو او هغه پخپله نه په مجلس کی شرکت وکی او نه یې وروسته منظوره کړی ده نو دا نکاح شرعًا منعقد سوی نه ده، لهٰذا انجلی آزاده ده چیری غواړی نکاح کولی سی. والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳۸۸/۲/۶ھ
(فتوی نمبر ۱۹/۲۵۲ - الف)

د بالغی انجلی نکاح د هغی د اجازت څخه بغیر درسته نه ده

سوال: که د یوی بالغی انجلی نکاح وتړل سی او په هغه کی د انجلی څخه هیڅ پوښتنه نه وی کړی او انجلی په موقعه موجود هم نه ده او نه د انجلی باقاعده د شریعت مطابق کوم وکیل سته په دی حالت کی به نکاح منعقد سی او که نه؟
۲: کله چی انجلی ته د دی نکاح اطلاع ورکول سی نو هغی انکار وکی، او اوس دری کاله د تیریدلو څخه وروسته انکار کوی.
۳: هلك چی د هغه پلار د نکاح دعوی دار دی، هغه هلك په دی وخت کی پوډر څکه یی، د چرسو او د هرقسم نشو او د جواری عادی دی او فی الحال د دی جرم په سزا کی په جیل کی بندپروت دی، آیا د پورته لیکل سوی تفصیل سره نکاح وسوه؟ که ونه سوه نو د خلاصون د پاره طلاق اخستل خوبه نه وی؟ که نکاح ثابته سوی ده نو په نمبر ۳ کی د بیان سوو وجوهاتو په وجه هغه انجلی سره واده کولی سی؟ یا د انجلی والدینو ته دا حق حاصل دی چی د انجلی واده ونکړی او د هغه څخه خلاصون حاصل کړی؟

جواب: که داصحیح وی چی د نکاح په وخت کی نه د انجلی څخه پوښتنه سوی وه. او نه انجلی ځوك د نکاح وکیل جوړکړی وی او نه یې د نکاح اجازت ورکړی وی او نه هغه د نکاح په وخت موجوده وه او وروسته هم کله چی هغه ته د نکاح اطلاع وسوه نو هغی

نکاح منظوره نه کړله نو دانکاح د سره څخه شرعًا منعقد سوی نه ده. (۱) لهذا انجلی چی چیری غواړی خپله نکاح کولی سی.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۴۰۷۵هـ

(فتویٰ نمبر ۷۴۹/ ۳۸- ب)

د بل چا د سوی نکاح عملی اجازت ورکولو سره به نکاح منعقده سی

سوال: د یوسړی د پاره د هغه ورور نکاح وکړه کله چی هغه رالی نو هغه انکار وکی او وی وئیل چی ماته خو بالکل معلومه نه ده او نه زما څخه چاپوښتنه کړی ده نو آیا دانکاح صحیح ده؟ او د دی څخه وروسته دغه سړی د خپلی ښځی د راوستو د پاره تللی دی.

جواب: په صورت مسئوله کی کله چی د نکاح عقد د هغه سړی وړونو د هغه په عدم موجودګی کی وکی نو که د هغه په اجازت سره یی داسی کړی وی نو هغه ورور یی د نکاح وکیل سو، او د هغوی ایجاب او قبول کافی سو او که وړونو یی د نکاح کولو په وخت د هغه څخه اجازت نه وو اخستی نو دا نکاح فضولی سوه او د دی څخه وروسته چی کله داسړی د خپلی ښځی د اخستلو د پاره تللی دی، نو د هغه تلل او ښځه راوستل عملاً د نکاح اجازت دی، ځکه چی د نکاح عقد خو د تعاطی سره نسی کیدی. خو د فضولی سوی نکاح اجازت په عمل سره کیدی سی. قال الشامی رحمه الله: وهل یکون القبول بالفعل کالقبول باللفظ کما فی البیع. قال فی البزازیة.... انه یکون قبولاً وانکره صاحب المحیط وقال الامام مالم یقل بلسانه قلت بخلاف البیع.... وبخلاف اجازة نکاح الفضولی بالفعل لوجود القول ثمه اه (شامی ج: ۲ ص: ۲۲۵) (۲). لهذا دا نکاح صحیح

---

(۱) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۷ (طبع ماجدیه) لایجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیبًا فان فعل ذالك فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته وان ردته بطل.... الخ. وفی الدر المختار، کتاب النکاح، باب الولی ج: ۳ ص: ۵۸ (طبع سعید) ولاتجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ. وفی الهدایة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها..... الخ.

(۲) رد المختار کتاب النکاح قبیل مطلب التزوج بارسال کتاب ج: ۳. ص: ۱۲ (طبع سعید).

سوه او اوس بیا د سرڅخه د ایجاب او قبول ضروة نسته، خوداحکم په هغه وخت کی دی کله چی وړونو د نکاح عقد د شاهدانو په موجودګی کی ایجاب او قبول کړی وی او که بل صورت سوی وی نو دوباره د مسئلی پوښتنه وکئ.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۴/ ۴/ ۱۳۹۱هـ

(فتویٰ نمبر ۴۲۲/ ۲۲- الف)

د بالغی انجلی د نکاح منظوری ورکولو څخه وروسته انکار کول

سوال: څه فرمایی علمائی کرام او مفتیان عظام د شرع متین د دی مسئلی په باره کی چی فتویٰ غواړم؟

مسئله: فرض موکړل چی یوه عاقله بالغه او مسلمانه انجلی د جرګی په مخکی یا د عدالت په مخکی د نکاح څخه وروسته دابیان ورکوی چی هغه نکاح خپل بلوغت په عمر کی په خپله مرضی نه ده کړی، بلکی د خپلی حقیقی مور د زړه ساتلو د پاره می کړی وه، نو د دی نکاح د قرآن او سنت په رڼا کی څه حیثیت دی؟ او د دی بیان څه حیثیت دی؟ زما په خیال کی د انجلی دابیان په هغه صورت کی د قبلولو قابل دی کله چی د انجلی نکاح د بالغ کیدو د عمر څخه مخکی سوی وی، او انجلی د بالغ کیدو څخه وروسته دهوش او حواس خمسه په ځای کیدلو څخه وروسته پورتنی بیان ورکړی نو بیا د قبلولو قابل نه دی پکار، فتویٰ صادره کړئ او داهم ووایاست چی په دی حالاتو کی د اسلامی قانون په رڼا کی د انجلی او د هغه برانګیخته کوونکو د پاره څه سزا مقرره ده؟

جواب: کله چی انجلی بالغه وی او هغی د نکاح منظوری ور کړی وی نو نکاح وسوه

وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع فی الاولیاء ج: ۱ ص: ۲۹۹ (طبع ماجدیه) وتثبت الاجازة لنکاح الفضولی بالقول والفعل. کذا فی البحر الرائق.

وفی البحر الرائق کتاب النکاح باب الاولیاء والاکفاء ج: ۳ ص: ۱۲۳ (طبع بیروت وفی طبع مکتبه رشیدیه رشیدیه کویته ج: ۳ ص: ۱۱۵) رجل زوج رجلاً بغیر امره فهنّاه القوم وقبل التهنئة فهو رضا لان قبول التهنئة دلیل الاجازة.

نکاح منظوره نه کړله نو دانکاح د سره څخه شرعًا منعقد سوی نه ده. (۱) لهٰذا انجلی چی چیری غواړی خپله نکاح کولی سی.

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۱۴۰۷۵ه
(فتویٰ نمبر ۷۴۹/ ۳۸- ب)

د بل چا د سوی نکاح عملی اجازت ورکولو سره به نکاح منعقده سی

سوال: د یوسړی د پاره د هغه ورور نکاح وکړه کله چی هغه رالی نو هغه انکار وکی او وی وئیل چی ماته خو بالکل معلومه نه ده او نه زما څخه چاپوښتنه کړی ده نو آیا دانکاح صحیح ده؟ او د دی څخه وروسته دغه سړی د خپلی ښځی د راوستو د پاره تللی دی.

جواب: په صورت مسئوله کی کله چی د نکاح عقد د هغه سړی وړونو د هغه په عدم موجودګی کی وکی نو که د هغه په اجازت سره یی داسی کړی وی نو هغه ورور یی د نکاح وکیل سو. او د هغوی ایجاب او قبول کافی سو او که وړونو یی د نکاح کولو په وخت د هغه څخه اجازت نه وو اخستی نو دا نکاح فضولی سوه او د دی څخه وروسته چی کله داسړی د خپلی ښځی د اخستلو د پاره تللی دی، نو د هغه تلل او ښځه راوستل عملاً د نکاح اجازت دی، ځکه چی د نکاح عقد خو د تعاطی سره نسی کیدی. خو د فضولی سوی نکاح اجازت په عمل سره کیدی سی. قال الشامی رحمه الله: وهل یکون القبول بالفعل کالقبول باللفظ کما فی البیع. قال فی البزازیة.... انه یکون قبولاً وانکره صاحب المحیط وقال الامام مالم یقل بلسانه قلت بخلاف البیع.... وبخلاف اجازة نکاح الفضولی بالفعل لوجود القول ثمه اه (شامی ج: ۲ ص: ۲۶۵) (۲). لهٰذا دا نکاح صحیح

---

(۱) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۷ (طبع ماجدیه) لایجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیبًا فان فعل ذالك فالنکاح موقوف علی اجازتها فان اجازته وان ردته بطل.... الخ. وفی الدر المختار، کتاب النکاح، باب الولی ج: ۳ ص: ۵۸ (طبع سعید) ولاتجبر البالغة البکر علی النکاح لانقطاع الولایة بالبلوغ. وفی الهدایة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها..... الخ.

(۲) رد المختار کتاب النکاح قبیل مطلب التزوج بارسال کتاب ج: ۳. ص: ۱۲ (طبع سعید).

سوه او اوس بیا د سرڅخه د ایجاب او قبول ضروة نسته، خوداحکم په هغه وخت کی دی کله چی وړونو د نکاح عقد د شاهدانو په موجودګی کی ایجاب او قبول کړی وی او که بل صورت سوی وی نو دوباره د مسئلی پوښتنه وکئ.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۴/ ۴/ ۱۳۹۱ه
(فتویٰ نمبر ۴۲۶/ ۲۲- الف)

د بالغی انجلی د نکاح منظوری ورکولو څخه وروسته انکار کول

سوال: څه فرمایی علمائی کرام او مفتیان عظام د شرع متین د دی مسئلی په باره کی چی فتویٰ غواړم؟

مسئله: فرض موکړل چی یوه عاقله بالغه او مسلمانه انجلی د جرګی په مخکی یا د عدالت په مخکی د نکاح څخه وروسته دابیان ورکوی چی هغه نکاح خپل بلوغت په عمر کی په خپله مرضی نه ده کړی، بلکی د خپلی حقیقی مور د زړه ساتلو د پاره می کړی وه، نو د دی نکاح د قرآن او سنت په رڼا کی څه حیثیت دی؟ او د دی بیان څه حیثیت دی؟ زما په خیال کی د انجلی دابیان په هغه صورت کی د قبلولو قابل دی کله چی د انجلی نکاح د بالغ کیدو د عمر څخه مخکی سوی وی، او انجلی د بالغ کیدو څخه وروسته دهوش او حواس خمسه په ځای کیدلو څخه وروسته پورتنی بیان ورکړی نو بیا د قبلولو قابل نه دی پکار، فتویٰ صادره کړئ او داهم ووایاست چي په دی حالاتو کی د اسلامی قانون په رڼا کی د انجلی او د هغه برانګیخته کوونکو د پاره څه سزا مقرره ده؟

جواب: کله چی انجلی بالغه وی او هغی د نکاح منظوری ور کړی وی نو نکاح وسوه

وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع فی الاولیاء ج: ۱ ص: ۲۹۹ (طبع ماجدیه) وتثبت الاجازة لنکاح الفضولی بالقول والفعل. کذا فی البحر الرائق.

وفی البحر الرائق کتاب النکاح باب الاولیاء والاکفاء ج: ۳ ص: ۱۲۳ (طبع بیروت وفی طبع مکتبه رشیدیه رشیدیه کویته ج: ۳ ص: ۱۱۵) رجل زوج رجلاً بغیر امره فهنّاه القوم وقبل التهنئة فهو رضا لان قبول التهنئة دلیل الاجازة.

وروسته د هغې داوینا چې ما د مور د زړه ساتلو د پاره وئیلې وه نو په دې سره په نکاح هیڅ اثر نه غورځیږي نکاح قائمه ده.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۴/ ۱۴۲۰ھ

(فتویٰ نمبر ۱۰/ ۳۷۳)

آیا د خاوند د وژلو څخه وروسته به د ښځې په بل ځای کې نکاح اوسی؟

سوال: څه فرمائی علمائی کرام او د شرع متین مفتیان د دې مسئلې په باره کې چې فتویٰ غواړم؟

مسئله: فرض کړئ که زمانښځه او د هغه کور والا دامحسوس کړي چې اوس په هیڅ طریقې سره هم او د عدالت په ذریعه سره د دې خاوند څخه خلاصون نسته نو که زما ښځه او د هغه کورني د خپلې لور یعنې زما د ښځې د بل واده کولو د پاره ماقتل کړي، نو سوال دادې چې په دې حالاتو کې د قتل کبیره ګناه به زما په ښځې او د هغې په کورني وي خو زما د وژلو څخه وروسته زما ښځه چې کونډه به وي، نو د هغې نکاح به د بل سړي سره جائز وي او که نه؟

جواب: د قتل به سخته ګناه وي (۱) خو د عدې تیرولو څخه وروسته به یې د بل سړي سره نکاح اوسی.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۴/ ۱۴۲۰ھ

(فتویٰ نمبر ۱۱/ ۳۷۳)

د پلار د طرفه د نابالغې انجلۍ سوی نکاح صحیح ده

سوال: زید د خپلې کوشنی لور د نکاح عقد د بکر د خوی سره په خپله رضا او رغبت سره

---

(۱) وفی الهدایة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها. وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الاول ج: ۱ ص: ۲۶۹ (طبع ماجدیه) ومنها رضا المرأة اذاکانت بالغة بکرًا کانت او ثیبًا... الخ.

د قتل ګناه به سخته ګناه وي: وَمَنْ يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُتَعَمِّدًا فَجَزَاؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا عَظِيمًا. (سورة النساء آیت: ۹۳).

وکي، اوس مذکوره صغیره انجلۍ د بلوغ حدته ورسیدله او د بکر ماشوم صغیر د بلوغ حدته نه دی رسیدلی خو ترڅلورو پنځو کالو پوري به بالغ سی، لهذا زید اوس دا غواړي چې زه به اوس د دومره اوږدې مودې پوري خپله بالغه لور څنګه کنبې نوم په شریعت شریف کې زما د پاره د نجات څه صورت کیدی سی او که نه؟ بغیر د طلاق څخه د خپلې لور نکاح د کوم ځوان سره کولی سم یابغیر د طلاق څخه دوهم عقد نسی کیدی د داسې مجبوري په حالت کې د نورو امامانو تقلید کول شرعًا جائز دی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کې چې زید د خپلې نابالغې لور کومه نکاح چې د بکر د نابالغ خوی سره کړي ده، هغه شرعًا منعقده سوی ده اوس د هلك د بالغ کیدو پوري د طلاق (۱) یا د نکاح د فسخ کولو څه صورت نسته.

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتویٰ نمبر ۷۳۶/ ۲۸- ب)

د نابالغه په ایجاب او قبول سره نکاح نه معقده کیږي

سوال: زید د خپلې کوشنی لور د نکاح عقد د بکر د نابالغ خوی سره په عام مجلس کې په خپل ولایت سره او په خپله رضا او رغبت سره کړي دی، اوس انجلۍ بالغه سوی ده او د بکر خوی ته لږ وخت سته یعنې شپږ اووه کاله وروسته به بالغ کیږي، د انجلۍ د بالغ کیدو څخه وروسته یو اختلاف پیدا سو چې په وخت د ایجاب نکاح بکر قبول کړي نه وه، بلکې بکر د خپل کوشنی خوی په ژبه سره یې ایجاب او قبول کړي دی، د مجلس بعضې حضرات د دې تصدیق کوي او اکثره عوام الناس د دې تردید کوي، چې ایجاب او قبول پخپله بکر کړي وو، هو! خدای ناخواسته که د بکر څخه سهوًا داسې سوی وي

---

(۱) وفی الفتاوی الهندیة کتاب الطلاق الباب الاول فصل فیما یقع طلاقه وفیمن لایقع طلاقه ج: ۱ ص: ۳۵۲ (طبع ماجدیه کویته) یقع طلاق کل زوج اذاکان بالغًا عاقلاً.... ولایقع طلاق الصبی وان کان یعقل.

وفی الهدایة کتاب الطلاق ج: ۲ ص: ۳۵۸ (طبع شرکت علمیه ملتان) ویقع طلاق کل زوج اذاکان عاقلاً بالغًا ولایقع طلاق الصبی والمجنون والنائم لقوله عليه السلام: کل طلاق جائز الا طلاق الصبی والمجنون ولان الاهلیة بالعقل الممیز وهما عدیم العقل والنائم عدیم الاختیار.... الخ.

یائی عمداً داسی کړی ؤی چی د صغیر په ژبه یی په خپله موجودګی کی ایجاب او قبول کړی وو، نو شرعاً دانکاح منعقده سوه او که نه؟

جواب: د نابالغه ایجاب او قبول معتر نه دی، لهٰذا که بکر د خپل نابالغه بچی نکاح کولو په وخت پخپله ایجاب او قبول کړی وی نو نکاح صحیح سوه او که پخپله کولو په ځای یی په نابالغه ماشوم وکړله نو دغه نکاح صحیح نسوه (١).

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۷۳۷/ ۲۸ ب)

د وټی سټی د نکاح شرعی حیثیت

سوال: زید د عمر څخه د خپل ځوی د پاره انجلی وغوښتله حسب الرواج زید په عوض کی انجلی طلب کړله، عمر هم هغه ته د انجلی ورکولو وعده ورکړله او د عمر دری ځلور ځامن وه، عمر ووئیل که زما دوهم نمبر ځوی راضی سو، نو د هغه سر به یی نکاح کوم او که نه وی نو بیا چی می کوم هلك ته ورکړله، تاته به د اعتراض حق نه وی، زید رضامند سو، د زید لور نابالغه وه خو د زید ځوی او د عمر لور دواړه بالغ وه، د هغوی نکاح وسوه، اوس عمر د خپل دوهم ځوی واده بل ځای کی وکی، د زید لور هم ځوانه سوه، عمر د وعدی مطابق انجلی طلب کړله، د دریم هلك د پاره د زید ښځی د رواج مطابق کوزده وغیره هم وکړله، خو یا د دی وی چی تراوسه شرعی نکاح نه ده سوی، کله چی زید د لور څخه اجازت وغوښتی، نو انجلی صفا انکار وکی، نو زید هم په عوض کی د لور د ورکولو څخه انکار وکی اوس شرعی حکم څه دی؟

جواب: په نکاح کی د انجلی په بدله کی د انجلی معاوضه په شریعت اسلامی کی هیڅ حیثیت نه لری (٢). نوځکه په مسئوله صورت کی که د زید بالغه لور د عمر د ځوی سره

---

(١) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب الولی ج: ۳ ص: ۵۵ (طبع سعید) وهوأی الولی شرط صحة نکاح صغیر ومجنون.... الخ. وفی الهندیة کتاب النکاح، البا الاول ج: ۱ ص: ۲۲۷ (طبع ماجدیه) واما شروطه فمنها العقل والبلوغ والحریه فی العاقد الأ ان الاول شرط الانعقاد فلاینعقد نکاح المجنون والصبی الذی لایعقل.

(٢) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۰۲ ووجب مهر المثل فی الشغار هوان یزوجه بنته علی ان یزوجه الاخربنته او اخته له مثلاً معاوضة بالعقدین وهو منهی عنه لخلوه عن المهر، فاوجبنا فیه مهر المثل فلم یبق شغاراً. وفی الشامیة (قوله هوأن یزوجه) قال فی النهر: وهوان یشاغر الرجل ای یزوجه حریمته

په واده کولو باندی راضی نه وی نو هغه په واده باندی نسی مجبوره کولی (١)، چونکی انجلی عاقله او بالغه ده نو ځکه د هغی د مرضی خلاف نکاح کول جائز نه دی (٢).

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی

والله اعل بالصواب

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۳/ ۱۲/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۳۹۱/ ۱۸ الف)

د اصل ولدیت نه ښکاره کولو په صورت کی د نکاح حُکم

سوال: د مسماة مهر النساء انجم بنت سید شاکر علی مرحوم نکاح د عشرت علی ولد انور علی سره وسوه، د عشرت علی حقیقی پلار خو بل څوك وو، انور علی د عشرت علی میرنی پلاردی آیا شرعاً په نکاح کی څه سقم سته؟ که وی نو د هغی تلافی به څنګه کیدی سی؟

جواب: عشرت علی صاحب ته همیشه خپل ولدیت اصلی پلار ښوول پکار دی (٢) میرنی پلارته نسبت کول د خلاف واقعه کیدلو په وجه جائزنه دی خو که د نکاح په وخت غلط ولدیت وښوول سی خو که ښځی یا د هغی وکیل پیژندلو چی د دی څخه مراد کوم یو عشرت علی دی. نوکاح وسوه.

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱۲/ ۱۴۰۱ھ (فتوی نمبر ۱۸۰۱/ ۳۲ ج)

علی ان یزوجه الآخر حریمته ولامهر الاهذا. وفی الشامیة ایضاً قوله وهومنهی عنه لخلوة عن المهر. هو ای النهی محمول علی الکراهة ای والکراهة لاتوجب الفساد.... فیکون الشرع اوجب فیه امرین الکراهة ومهر المثل.... الخ.

(١) ایضاً.

(٢) وقال الله تعالی: اُدْعُوْهُمْ لِاٰبَائِهِمْ هُوَ اَقْسَطُ عِنْدَ اللهِ. (سورة الاحزاب: آیه ۵)

(٢) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب الولی ج: ۳ ص: ۵۸ (طبع سعید) ولاتجبر البالغة البکر علی النکاح انقطاع للولایة بالبلوغ. وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۷ (طبع اماجدیه) لایجوز نکاح احد علی بالغة صحیحة العقل من اب او سلطان بغیر اذنها بکراً کانت او ثیباً.... الخ. وفی الهدایة کتاب النکاح باب فی اولیاء ج: ۲ ص: (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها... الخ.

د شپاړلسو کالو شاهد د شاهدی سره به نکاح صحیح سی

سؤال: یوسړی د خپلی مطلقی لور ځخه اجازت اخستلو سره یوځای کور کی د دوو شاهدانو په مخکی یی د نکاح ایجاب او قبول وکی (بغیر د خطبی وغیره ځخه) په ذکر سوی کور کی صرف ځلور کسان وه، باقی ښځه وغیره څوك موجود نه وه، په کور کی یوخسر دوهم خاوند او دوه شاهدان وه، په شاهدانو کی د یوعمر شپاړلس کاله وو، چی د هغه په مخ باندی د ږیری څه آثار نه وو، د دی کم عمره شاهد کیدو په وجه نکاح صحیح ده؟

جواب: نکاح درسته ده هلك چی کله پنځلس کالوته ورسیدی نو بالغ شمیرل کیږی. [1]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۷/ ۲/ ۱۳۹۱ھ

(فتوی نمبر ۲۷۹/ ۲۲- الف)

د حلالی په نیت د سوی نکاح شرعی حیثیت او هغه مورد د لعنت ګرځولو حُکم

سوال: که حلاله کوونکی سړی او ښځی ته د یوبل د نیت علم وی خو په عقد کی د دی تصریح نه کوی نو آیا دانکاح هم ناجائزه او مورد د لعنت ده؟ احسن الفتاوی ج: ۵ ص: ۱۵۵ کی دی.

داسی نکاح د حرمت او مورد د لعنت کیدو د پاره د تحلیل د شرط تصریح ضروری نه ده بلکی د یوبل نیت هم په قاعده (المعروف کلمشروط) کی داخل دی.

وهو مفهوم قوله: اما اذا اضمر ذالك لایکره

---

(1) وفی الدر المختار، کتاب الحجر فصل فی بلوغ الغلام (طبع سعید) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والجاریة بالاحتلام والحیض والحبل فان لم یوجد فیهما شئی فحتی یتم لکل منهما خمس عشر سنة به یفتی

وفی الهندیة کتاب الحجر الفصل الثانی فی معرفة حد البلوغ ج: ۵ ص: ۲۱ (طبع رشیدیه) والسن الذی یحکم ببلوغ الغلام والجاریة اذا انتهیا الیه خمس عشرة سنة عند ابی یوسف ومحمد رحمهماالله وهورواية عن ابی حنیفة وعلیه الفتوی.

د حضرت والا په دی باره کی څه رایه ده؟

(مولانا) محمد عامر (استاد جامعة الرشید کراچی)

جواب: احوط خوبیشکه هم هغه دی چی حضرت په (احسن الفتاوی) کی لیکلی دی، خو دامورد د لعنت ګرځول محل د نظر دی (1). د فقهاوو د کلام ځخه د دی تائید نه کیږی. د علم کیدو او (معروف کامشروط) (2) کیدلو کی په ظاهره فرق دی، معروف به ورته هغه وخت وایو چی د کوم عرف په وجه باندی څه خبره بغیر د صراحت ځخه هم مشروط ګڼل کیږی، محض د متعاقدینو په علم سره داخبره نه حاصلیږی په ټولو مباحه حیلو کی متعاقدینوته علم وی خو هغه مشروط نه ګڼل کیږی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۲/ ۱۴۲۴ھ

(فتوی نمبر ۳/ ۲۲۳)

---

(1): حوالی د پاره صـ ۵۰۲ حاشیه ۱ او صـ ۵۲۹ حاشیه ۲ وګوری.

(2) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۱۳۰ (طبع سعید) ان المعروف کالمشروط. وکذافی البحر الرایق ج: ۲ ص: ۱۲۴ (طبع دار المعرفة بیروت).

فصل فی الولایة والکفائة وخیار البلوغ

ولایت، کفائت (په رشتو کی برابری او یوشان والی)
او د خیار بلوغ متعلق د مسئلو بیان

د معرف بسوء الاختیار د نکاح حکم

سوال: د یوبدکاره سړی ناجائزه تعلق د خاله لور واده سوی ښځی سره وو، د دی ناجائز تعلق په دوران کی بچی هم پیداسو، لږ موده وروسته دا سړی چی د کومی ښځی سره ناجائز تعلقات ساتلی وو، د هغه د سکه خور سره یی واده وکی چی د هغه د خیټی څخه انجلی پیداسوه او دواده څخه وروسته هغه سړی ناجائز تعلقات چی د هغه ښځی سره یی قائم کړی وو قطع کړل، او هغه ښځی د یوبل د غیرقوم د سړی سره ناجائز تعلقات وابسته کړل، چی د هغه څخه هلکان او انجونو پیداسوی، اوس هغه مخکی سړی چی د خپلی ښځی سکه خور سره یی د واده څخه مخکی ساتلی وو د یوڅو معتبرو کسانو په مجبوره کولو باندی د خپلی نابالغی لور د نکاح عقد (د پخوانی معشوقی د خیټی څخه چی د غیر قوم د سړی د نطفی څخه هلك پیداسوی دی) کله چی انجلی بالغه سوه او د ټولو واقعاتو څخه خبره سوه، نو انجلی د واده کولو څخه انکار وکی چی زه د دی هلك سره واده کول نه غواړم، انجلی دینداره ده او دینی تعلیم هم ورسره سته، او هلك بدکرداره دی، کلمه طیبه هم نه پیژنی اوس د شریعت مطابق څه حکم دی؟ عقد صحیح دی او که نه؟ که صحیح دی او انجلی راضی نه وی نو څه طریقه اختیارول پکار دی؟

جواب: د انجلی د پلار حالات چی د نکاح څخه مخکی بیان سوی دی، که هغه درست وی نو د هغه پیش نظر هغه ته معروف بسوء الاختیار وئیل کیدی سی او په دی صورت کی کله چی هلك د انجلی کفو نه دی په هیڅ طریقی سره هم، نو انجلی ته وروسته د بلوغ څخه خیار د فسخ حاصل دی، په دی شرط چی کوم وخت اثار د بلوغ ظاهرسی،

نو فوراً بغیر د تأخیر څخه په زبه باندی ووایی چی ماخپله نکاح فسخه کړله او په دی شاهد هم جوړ کړی او بیا د کوم مسلمان جج په عدالت کی دعوی دائره کړه، او باقاعده نکاح فسخ کړی ([1]). وفی الدر المختار (لم یعرف منهما سوء الاختیار) مجانتاً وفسقاً (وان عرف لا) یصح نکاح اتفاقًا وکذا لوکان سکران فزوجها من فاسق او شریر او فقیر اوذمی حرفة دنیئیة لظهور سوء اختیاره فلاتعارضه شفقته المظنونة بُحر وقال الشامی والحاصل ان المانع هوکون الاب مشهوراً بسوء الاختیار قبل العقد فاذا لم یکن مشهوراً بذالك ثمَ زوج بنته من فاسق صح وان تحقق بذالك انه سیئ الاختیار شامی ([2]) وفیه ایضاً ثم اعلم ان مامرعن النوازل من ان النکاح باطل معناه انه سیبطل. ([3])

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴/ ۱/ ۱۳۸۸هـ

(فتوی نمبر ۵۷/ ۱۹- الف)

د عجمیانو په مینځ کی په نسب کی د کفائت اعتبار نسته

سوال: یوسړی عاقله، بالغه انجلی اغواء کړه او هغه یی وبیروله او نکاح یی ورسره وکړه، د انجلی مور او پلار ناراضه دی، ځکه چی انجلی د آرائین د قوم څخه ده او د هلك تعلق د شیخ قوم سره دی (د شیخ څخه مراد کوجه قوم دی) او د دواړو قومونو د شرافت په مینځ کی فرق دی، ارائین قوم معزز ګڼل کیږی او شیخ قوم ذلیل، آیا په دی صورت کی نکاح کیدی سی؟

جواب: آرائین او کوجه دواړه عجمی نسلونه دی او په عـــجمیانو کی پـــه نسب کی د

---

[1] مخکی د حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله هغه تحقیق مخ ته رالی چی په دی صورت کی عدالت ته د تللو ضرورت نسته نکاح د اصل څخه باطله ده داتحقیق مخکی ص باندی راروان دی. (حاشیه د حضرت والا دامت برکاتهم)

[2] ایضاً.

[3] فتاوی شامیه ج: ۳ ص: ۶۶- ۶۷ (طبع سعید)

کفائت اعتبار نسته (١). او مذکوره نکاح چونکې عاقلې، بالغې پخپل اجازت او رضامندۍ سره کړی ده نو ځکه شرعًا نکاح منعقد سوه، اوس که انجلۍ یا د هغه خپلوان نکاح ختمول غواړي نو د دی څخه ماسوا بله لار نسته چی هغه د هلك څخه طلاق واخلي. قال فی الدر المختار واما فی العجم فتعتبر حرية واسلاما. (شامی ج: ٢ ص: ٣١٩) (٢) والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱/۵/۲۴هـ

(فتوی نمبر ۲۲/۱۰۳ ب)

د حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها اولاد آل رسول دی او آیا د سید نکاح د غیر سید سره کیدی سی؟

سوال: زید وايي چی سید څه قوم ته دی ځکه چی نسب د نارینه اولاد نه چلیږي او د حضور ﷺ کوم هلك صاحب د اولاد څخه وو، آیا د زید دا وینا صحیح ده؟ او آیا د سید نکاح د غیرسید سره کیدی سی؟

جواب: د زید خیال غلط دی د حضرت فاطمی رضی الله تعالی عنها اولاد آل رسول دی او غیر سید خو پرشی قومونه کیدی سی. بعضی د ساداتو کفو دی او بعضی نه دی. (٣) او په غیر کُفو کی د انجلی او اولیاوو په مرضی سره نکاح کیدی سی. (٤) خو ښه داده چی نکاح په کفو کی وی.

---

(١) وفی شامية ج: ٣ ص: ٨٧ (طبع سعيد) فالنسب معتبر فی العرب فقط واسلام الاب والجد فی العجم فقط، والحرية فی العرب والعجم.... الخ.

(٢) فتاوی شامیه ج: ٣ ص: ٨٧ (طبع ایچ ایم سعید)

(٣) د سادات په کفو قومونو کی صدیقی، فاروقی، عثمانی، علوی، عباسی، زبیری یعنی د قریشو شیخان وغیره شامل دی د تفصیل د پاره وګوری کفایت المفتی ج: ٥ ص: ٢٠٦ (طبع دار الاشاعت جدید ایډیشن)

(٤) وفی المبسوط کتاب النكاح جلد: ٥ ص: ٢٢ (طبع دار المعرفت بیروت) واذا تزوجت المرأة غير كفء فرضی به احد اولياء جاز ذالك.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۵/۱۰هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۲۹ ج)

د سوء اختیار ثابتولو څخه بغیر د پلار نیکه سوی نکاح نسی فسخ کیدلی

سوال: زید د پنځو کالو په عمر او سعیده د دوو کالو په عمر کی نکاح سوی دی، بالغیدلو سره سعیدی د نکاح د تسلیمولو څخه انکار وکی، زید د نوټس په ذریعه د سعیدی د رخصتی مطالبه وکړله، نو سعیدی د نوټس په جواب کی د خپلی فیصلی څخه خبر کی، او عدالت عالیه ته یی درخواست ورکی چی د دی داحق دی تسلیم سی او نکاح دی منسوخ سی د اووه کاله مقدمه بازی څخه وروسته عدالت داحق تسلیم کی او د دی خبری تصدیق یی وکی چی نکاح منسوخ سوی ده، د دی خلاف یی اپیل وکی چی مسترد سو، اوس تاسو وواياست چی نکاح شرعًا منسوخ سوی ده او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که د سعیدی نکاح پخپله د هغه پلار کړی ده نو اوس د بالغیدو څخه وروسته سعیدی ته د هغه د فسخ کولو اختیار نسته (١). ترڅو چی هغه سوء اختیار ثابت نه کړی او که د سعیدی نکاح کوونکی پخپله د هغه پلار نه وو، که څه هم د پلار وکیل ولی نه وی، نو انجلی ته د نکاح د فسخ کولو اختیار دی. (٢) په دی صورت کی د عدالت منسله فیصله (٣) به د شریعت مطابق وی. ولزم النكاح ولوبغبن فاحش او بغیر کفوان کان الولی المزوج بنفسه بغبن أبا اوجدا لم یعرف منهما سوء الاختیار... وان کان المزوج غیرهما ای غیر الأب وابیه لوالأم او القاضی او وکیل الأب

---

(١) وفی الهندية ج: ١ ص: ٢٨٥ فان زوجهما الاب والجد فلا خيار لهما بعد بلوغ هما وان زوجهما غير الاب والجد فلكل واحد منهما الخيار. وفی البحر الرائق كتاب النكاح باب الاولياء ج: ٣ ص: ١٢٨ (طبع بیروت وفی مكتبة الرشيديه کویټه ج: ٣ ص: ١٢٠)

(٢) وفی الهندية (ج: ١ ص: ٢٨٥) فان زوجهما الاب ولجد فلاخيار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غير الاب والجد فلكل واحد منهما الخيار. وفی البحر الرائق كتاب النكاح باب للاولياء ج: ٣ ص: ١٢٨ (طبع بیروت وفی مكتبة الرشيديه کویټه ج: ٣ ص: ١٢٠)

(٣) د فتاوی د نقل په راجستر کی دا پخپله موجود نه ده د سوال او جواب څخه معلومیږی چی عدالت د فسخ نکاح فیصله کړی ده. (محمد زبیر)

لایصح من غیر کفو او بغبن فاحش اصلاً وان کان من کفوءٍ وبمهر المثل صح ولهما خیار الفسخ. (الدر المختار بالاختصار مع الشامی ج: ۲ ص: ۴۱۷ الی ۴۲۰) [۱]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۱/ ۱/ ۱۳۸۸هـ

(فتوٰی نمبر ۳۲/ ۱۹ - الف)

د پلار منعقد سوی نکاح نسی فسخ کیدلی

سوال: مسمٰی رحیم بخش د خپلی حقیقی لور نکاح د نابالغتوب په حالت کی (نه لس کاله عمر کی) په خوشحالی او رضامندی سره د شیر محمد سره وکړه، څه موده وروسته شیر محمد بهرته ولاړی او عدم الخبر سو، د څلور پنځه کالو څخه وروسته د انجلی پلار په عدالت کی د فسخ نکاح دعوٰی دائرکړله، عدالت کی مقدمه اووه اته میاشتی چلیدله، په دی دوران کی عدالت د شیر محمد وارثانوته حکم وکی چی هغوی دی شیر محمد په دری میاشتو کی دننه عدالت کی حاضر کړی ورنه د فسخ حکم به اوسی، چنانچی په دی لږ وخت کی هلك عدالت څخه حاضر نه سو نو عدالت د فسخ نکاح حکم ورکی، د تنسیخ څخه مخکی عدالت څخه حاضر نه سو نو عدالت د فسخ نکاح حکم ورکی، د تنسیخ څخه مخکی عدالت په سرکاری طور باندی شیر محمد تلاش نه کی، نه خو عدالت څه نوټس ورکی او نه څه اعلان یا اخبار کی اشتهار ورکول سو، د تنسیخ څخه وروسته یی د دوهم واده اجازت ورکول سو، د عدی دری میاشتی تیریدلو څخه وروسته د انجلی پلار د هغه واده د یوبل سړی مسمٰی محمد شفیع سره وکی، د دوهمی نکاح څخه دوی دری میاشتی وروسته شیر محمد مذکور رالی او هغه د خپلی ښځی مطالبه وکړله، خو د انجلی پلار انکار وکی او وی وئیل چی انجلی د خپلی ښځی مطالبه وکړله، خو د انجلی پلار انکار وکی او وی وئیل چی انجلی د بل سړی مسمٰی محمد شفیع په کورکی پاته کیږی، ځکه چی عدالت د دوهمی نکاح حکم او اجازت ورکړی دی او تراوسه په خپل ضد ولاړ دی، لهٰذا په صورت مذکوره کی اولنی نکاح منسوخه سوه او که نه؟

[۱] الدر المختار ج: ۲ ص: ۶۶ تر ۶۹ پوری (طبع ایچ ایم سعید).

جواب: د دی سوال سره چی د عدالت کومه فیصله منسلك ده په هغه کی د نکاح فسخ یی د خیار بلوغ په وجه کړی ده چی په هغه باندی تنقیحات وسول د هغه تنقیحاتو څخه لاندی لیکل سوی امور ثابت سول.

۱: د انجلی نکاح پخپله پلار کړی ده.

۲: د انجلی د بلوغ د اثارو په ظاهریدلو سره د نکاح د نامنظوره کیدلو د پاره څه اقدام نه دی کړی،

لهٰذا خو دانکاح د پلار په واسطه سوی وه (او د هغه شی الاختیار کیدلو دعوٰی انجلی نه کوی) نو ځکه په دی کی انجلی ته هډو خیار بلوغ حاصل نه دی (کما هو مصرح فی سائر کتب الفقه) [۱] دوهم داچی که حاصل هم وی نو انجلی د خیار بلوغ د حق استعمالولو وخت تیر کی، لهٰذا شرعًا د خیار بلوغ په وجه عدالت ته د نکاح فسخ کولو اختیار نه وو او د شریعت د مخه عدالتد نکاح فسخ کیدل درست نه سو، لهٰذا د محمد شفیع سره نکاح باطله او کالعدم ده، او اصلی خاوند شیر محمد د انجلی خاوند دی، خو که محمد شفیع د انجلی سره صحبت کړی وی نوترڅو چی د هغه څخه دری حیضه نیرنسی، د شیر محمد د پاره د هغه سره صحبت کول جائز نه دی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۴/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

(فتوٰی نمبر ۲۱۲/ ۱۹ - الف)

د ثیّبی د نکاح د پاره د هغی صراحتًا رضامندی شرط ده

سوال: کتاب تجرید صحیح بخاری په دوه شپیتمه صفحه باندی می دا حدیث د نظر څخه تیرسو امید دی چی تاسو به د دی په باره کی پوره تشریح وکړی (نابالغی ته په بالغیدلو سره د فسخ نکاح اختیار) حضرت خنساء بن خدام انصاری رضی الله عنه وائی: چی زما پلار زما نکاح د کوم سړی سره کړی وه، د دی څخه مخکی زما یووار واده سوی وو،

[۱] وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع ماجدیه) فان زوجهما الاب والجد فلاخیار لهما بعد بلوغهما وفی البحر الرائق کتاب النکاح باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۲۰ (طبع رشیدیه کویټه) ولهما خیار الفسخ بالبلوغ فی غیر الاب والجد .... الخ.

خدمت ته پیغله نه وم، او په دغه نکاح سره زه خوشحاله نه وم، زه د حضور ﷺ حاضره سوم، حضور ﷺ نکاح ناجائز وگرځوله او ختمه یې کړله د دی څخه علاوه د نورو کتابونو څخه سن بلوغ او د نکاح د فسخ په اختیار باندی رڼا واچوی او مشکورمی کړی.

جواب: داحدیث صحیح دی او د همدی حدیث په وجه په اسلامی فقه کی داخبره منل سوی ده چی کومه ښځه ثیّبه وی یعنی اول یې یووار واده سوی وی، نو د هغی نکاح ترهغه وخته پوری نسی منعقد کیدی، ترڅو چی هغه په صریحو الفاظو کی خپله رضامندی ښکاره نه کړی. (۱) او دغه شان د رضامندی د حاصلولو څخه بغیر نکاح نه منعقد کیږی، په ذکرسوی حدیث کی چونکی حضرت خنساء رضی الله عنها ثیّبه وه او د هغی پلار د هغی د خوښی څخه بغیر نکاح کړی وه ځکه حضور ﷺ هغه نکاح ناجائز وگرځوله. (۲) خو د دی حدیث د نابالغی انجلی د نکاح د فسخ کولو د حق سره څه تعلق نسته دی د نابالغ د فسخی حق د نورو روایاتو څخه ثابت دی او د هغی تفصیل دادی چی که د انجلی نکاح د پلار یانیکه څخه علاوه بل کوم سړی کړی وی د نابالغتوب په حالت کی نو انجلی ته داحق حاصل دی چی د بالغ کیدلو سره فوراً د نکاح د نامنظوری اعلان وکړی نو د هغی نکاح ختمیږی (۳) چی هغه بیا د عدالت په ذریعه ثابتولی سی او د بالغ کیدلو مطلب دادی چی د انجلی حیض راتلل شروع سی یا شرعی عمر پوره پنځلس کاله سی. (۴)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۲.... بل لابد من القول (کالثیّب) البالغة... الخ.

(۲) وفی صحیح البخاری ج: ۲ ص: ۷۷۱ (طبع قدیمی کتب خانه) باب اذا تزوج ابنته وهی کارهة فنکاحه مردود عن خنساء بنت حزام الانصاریة ان ابا زوجها وهی ثیب فکرهت ذالك فاتت رسول الله ﷺ فردّ نکاحها.

(۳) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع ماجدیه) فان زوجها الاب والجد فلاخیار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غیر الاب والجد فالکل واحد منهما الخیار.... ویشترط فیه القضاء.

وکذافی البحر الرائق کتاب النکاح باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۲۰ (طبع رشیدیه کویټه)

(۴) وفی الدر المختار کتاب الحجر، فصل فی بلوغ الغلام ج: ۲ ص: ۱۵۳ والجاریة بالاحتلام والحیض والحبل فان لم یوجد فیهما شیئ فحتیٰ یتم لکل منهما خمس عشرة سنة، وبه یفتی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۷/ ۱۳۸۸ھ

(فتویٰ نمبر ۲۱۲/ ۱۹ - الف)

د اولیاوو د رضامندی څخه بغیر د انجلی په غیر کفو کی نکاح کول

سوال: د سوال خلاصه داده چی د پلار د مرضی خلاف زما یوی لور یوځای کی یوداسی سړی سره نکاح کړی ده چی نیك سیرته نه دی مزید په دی چی د دی څخه مخکی د هغه یوه ښځه او څلور بچی موجود دی، په کورکی د جنگ په وجه اوس زه هغه انجلی عاق کوم راهنمائی می وکړی؟

جواب: د سوال څخه داسی معلومیږی چی انجلی د کوم سړی سره واده کړی دی هغه د انجلی پلار خپل کفو نه گڼی او شرعاً انجلی ته دا اختیار نسته چی هغه د پلار د اجازت او رضامندی څخه بغیر په غیر کفو کی نکاح وکړی، لهٰذا که هغه سړی واقعاً کفو نه وی نو د هغی نکاح منعقده سوی نه ده (۱) خپلوانو ته پکار دی چی هغوی انجلی په نرمی باندی پوهه کړی چی دانکاح درسته نه ده او د ده سره په پاته کیدلو به همیشه د حرامو مرتکبه یی: لمافی درالمختار: فلاتحل مطلقة ثلاثًا نکحت غیر کفوء بلارضاء ولی بعد معرفة ایّاه فلیحفظ. (شامی ج: ۲ ص: ۴۰۹) (۲) خو د عاق کولو په شریعت کی هیڅ اصل نسته، پلار ته په هیڅ حال کی دا اختیار نسته چی هغه خپل اولاد د

وفی الحبر الرائق ج: ۸ ص: ۸۵ باب الحجر بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال..... والجاریة بالحیض والاحتلام والحبل، ویفتی بالبلوغ فیهما بخمسة عشرة سنة. وکذا فی البدایع ج: ۷ ص: ۱۷۱

(۱) وفی در المختار کتاب النکاح (باب الولی) ج: ۳ ص: ۵۲ ویفتیٰ فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهوالمختار للفتویٰ لفساد الزمان. وفی المبسوط (باب الاکفاء ج: ۵ ص: ۲۵ (طبع دار المعرفت بیروت) واذا زوجت المرأة نفسها عن غیر کفؤ فللاولیاء أن یفرقوا بینهما، لانها الحقت العار بالاولیاء.

(۲) الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۷ (طبع سعید).

میراث څخه محروم کړي.

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقي عثماني عفي عنه

۱۶/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۲۲۳/ ۱۹- الف)

که د نابالغی انجلی نکاح پلار کړی وی نو وروسته پلار پخپله هغه نکاح نسی فسخ کولی

سوال: زید د خپلی نابالغی لور نوم د بکر سره د خپل وکیل په ذریعه وکړله او د ایجاب او قبول په مجلس کی مؤکل (یعنی پلار) موجود وو او مهر او خطبه هم، وویل سره، خوکاله وروسته زید د خپلی لور د نکاح ذ ایجاب او قبول څخه انکار کوی خو د اولی نکاح وکیل او شاهد موجود دی او اقرار هم کوی، اوس د زید او د هغه د معین فی هذا عند الشرع څه حکم لری او کوم مولوی صاحب چی نکاح تړلی ده هغه څه حکم لری؟

جواب: په مسئوله کی د نابالغی انجلی نکاح په کفؤکی د مهر سره سوی ده نو دانکاح منعقد سوی ده اوس زید ته د دی نکاح د فسخ کولو اختیار نسته (۱). خو انجلی ته به د بالغ کیدلو په وخت دا اختیار وی چی د بلوغت سره سم فوراً دغه نکاح نامنظوره کړی، په دی صورت کی به نکاح فسخ سی. لمافی الدرالمختار: وان المزوج غيرهما ای غير الاب وأبيه ولو الامام او القاضی او وكيل الاب..... لايصح النكاح من غير كفوء او بغبن فاحش اصلاً، وان كان من كفوء وبمهر المثل صح ولهما خيار الفسخ. (شامی ج: ۲ ص: ۴۱۹- ۴۲۰) (۲)

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

---

(۱) وفی الدر المختار المختار ج: ۳ ص: ۲۳۰ كتاب الطلاق واهله زوج عاقل. وفی الشامية احترز بالزوج عن سيد العبد ووالد الصغير.

(۲) الدر المختار كتاب النكاح باب الولی ج: ۳ ص: ۶۷ الی ۶۹ (طبع سعيد) وفی الهندية كتاب النكاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع مكتبه ماجديه) وان زوجها غير الاب والجد فالكل واحد منهما الخيار اذابلغ..... الخ. وكذا فی بحر الرائق كتاب النكاح باب الاولياء ج: ۳ ص: ۱۲۸ (طبع بيروت، وفی طبع مكتبه رشيديه كويته ج: ۳ ص: ۱۲۰)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقي عثماني عفي عنه

۳/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۲/ ۱۹- الف)

په ماشوموالی کی د نکاح په صورت کی د بالغ کیدلو څخه وروسته انجلی ته به خیار بلوغ حاصل وی

سوال: زید د خپلی نابالغی لور د ایجاب او قبول د پاره د بکر د ځوی سره یوسړی وکیل جوړکی، وکیل زید (مؤکل) په مخکی ایجاب او قبول وکی، نکاح خوانی هم وسوه څه موده وروسته انجلی انکار وکی (یعنی د ځوانیدو څخه وروسته) او زید هم انکار وکی او شاهد اقرار کوی د ایجاب او قبول، آیا په دی صورت کی زید د خپلی لور نکاح په بل ځای کی کولی سی؟

اوکوم مولوی صاحب چی نکاح تړلی وه په هغه پسی لمونځ کول څنګه وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید د لور نکاح د بکر د ځوی سره منعقده سوه خو انجلی ته به د بلوغ خیار حاصل وی (۱). چی د هغی تفصیل به هغه وخت ښوولی سی کله چی ته د لاندی سوالونو جوابونه ولیکی:

۱: کله چی د زید په لورباندی د بالغ کیدلو آثار ظاهرسول نو هغی د خپلی نکاح په باره کی څه رویه اختیار کړله؟

۲: انجلی د بلوغ څخه څومره موده وروسته د نکاح څخه انکار کړی دی؟

والله سبحانه اعلم

۲/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

انجلی د بالغیدلو سره خپل اختیار استعمال نکړو نو وروسته ورته د فسخی نکاح اختیار نسته

سوال: د نابالغی انجلی نکاح خپل اکا وکړه کله چی د دوه ویشت کالو سوه نو هغی د

---

(۱) وفی الهندية كتاب النكاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع ماجديه) وان زوجها غير الاب والجد فالكل واحد منهما الخيار اذا بلغ..... الخ.

فسخ نکاح دعوی دائره کړله چی زما اکا زما د مرضی مطابق زما نکاح نه ده کړی آیا اوس دانکاح د صحیح کیدلو قابل ده او که نه؟

جواب: انجلی ته د خیار بلوغ لاندی د نکاح د فسخ کولو اختیار هغه وخت حاصل وو، کله چی په هغه باندی د بالغ کیدلو آثار (حیض) ظاهر سوی وو، کله چی هغی په هغه وخت نکاح فسخه نه کړله نو د هغی څخه وروسته د کلونو تیریدلو څخه وروسته هغه د خیار بلوغ حق نسی استعمالولی. (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

د اولیاوو په رضامندی سره غیر قوم کی د نکاح کولو حُکم

سوال: مسماة بی بی حنیفه د سید خاندان سره تعلق لری او ځوانه ده، هغه په غیر قوم کی نکاح کول غواړی آیا هغی ته داحق سته؟

جواب: که د انجلی اولیاء په غیر قوم کی په واده باندی خوشحاله وی او راضی وی او انجلی هم راضی وی نو بغیر د شبهی څخه هغه نکاح کولی سی (۲) او که اولیاء یی راضی نه وی نو د غیر قوم تفصیل ولیکی په کوم قوم کی چی انجلی واده کول غواړی هغه کوم یوقوم دی او اولیاء د هغوی سره په نکاح کولو باندی ولی راضی نه دی؟

---

(۱) وفی قاضیخان کتاب النکاح فصل فی الخیارات ج: ۱ ص: ۲۸۲ (طبع ماجدیه) اذا بلغت وهی بکر فسکتت ساعة بطل خیارها فان اختارت نفسها کمابلغت واشهدت علی ذالك صحَ. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۷۴ (ولا یمتد الی اخر المجلس) وفی الشامیة تحته ای مجلس بلوغها او علمها بالنکاح کمافی الفتح: ای اذا بلغت وهی عالمة بالنکاح او علمت به بعد بلوغها فلابد من الفسخ فی حال البلوغ او العلم فلوسکتت ولو قلیلاً بطل خیارها ولوقبل تبدل المجلس.

(۲) وفی الهدایة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحره العاقلة البالغة برضائها. وفی البحر الرائق کتاب النکاح باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۱۷ (طبع بیروت وفی طبع مکتبه الرشیدیه کویټه ج: ۳ ص:۱۰۹) نفذ نکاح حرة مکلفة بلاولی، لانها تصرفت فی خالص حقها وهی من اهله لکونها عاقلة بالغة.... وانما یطالب الولی بالتزویج کیلا تنسب الی الوقاحة.... الخ. وفی الهندیة کتاب النکاح الباب الاول ج: ۱ ص: ۲۲۹ (طبع ماجدیه) ومنها رضاء المرأة اذاکانت بالغة بکراً کانت او ثیبا.... الخ.

بیابه جواب درکول سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۳/ ۱/ ۱۳۸۸ھ

بالغه انجلی خپله نکاح پخپله کولی سی

سوال: زما په پلار کی ډیر بد او خراب عادتونه موجود دی چی زموږ د پاره د تکلیف باعث کیدلو سره سره د خپلو عزتونو په حفاظت کی خنډهم دی، د نشی عادی دی په کورکی خرچه نه ورکوی، د مور سره موپه ښکنځلو خبری کوی څو واره د خودکشی د پاره هغه نشه آوری دوایانی خوړلی دی، څو خدای ﷻ یی هروار څنی وساتی خاندان والاوو هغه د خپل خاندان څخه ایستلی دی، د ښه نه ښه نوکری والد صاحب ته ورکول کیږی، خو د شپږو اوومیاشتو څخه زیاته نوکری نه کوی څه ناڅه داسی حرکت کوی چی د نوکری څخه ایستل کیږی، د اوو اتو میاشتو مخکی خبره ده چی ناګاه د کور څخه غائب سو ټوله شپه رانه لی په بله ورځ زموږ کورته سړی راللی او وی وئیل چی ستاسو پلار زموږ څخه څو زره روپی بهرته د لیږلو د پاره اخستی دی په وعده کولو سره یی راغوښتی یم چیری دی؟ د دی ټولو واقعاتو په رڼا کی اوس سوال دادی چی زما یوه کوشنی خورده، د هغی عمر څوارلس کاله دی د هغی د واده خبری اتری روانی دی، تراوسه پوری زما ماما سرپرست دی، زموږ خرچه هم برداشت کوی، زما والد صاحب ته یی ووئیل: چی زه د خپلی خور دوستی په فلانی ځای کی کوم، هغه ووئیل چی زما د مرضی څخه بغیر واده نسی کیدی الدر المختار ج: ۲ ص: دا واده به رانه اونکړی، ایا شرعًا سرپرست د والد د اجازت څخه بغیر زموږ نکاح کولی سی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی که انجلی بالغه وی نو خپله نکاح پخپله کولی سی خو په دی شرط چی د کوم هلك سره نکاح وکړی هغه خاندانی نسبی او دینی اعتبار سره د هغه کفووی نو په داسی صورت کی د پلار څخه اجازت اخستل ضروری نه دی (۱) خو بهتره خبره به داوی چی هغه پلار هم په څه طریقی سره راضی کړی.

---

(۱) وفی الهدایة، کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها وان لم یعقد علیها ولی بکراً کانت او ثیبًا.

والله سبحانه اعلم
۱۷/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتویٰ نمبر ۲۵۴/ ۲۸ - الف)

د حضرت مفتي رشيد احمد صاحب رحمه الله رساله (کشف الغبار عن مسئلة سوء الاختيار)

په باره کې د حضرت والا دامت برکاتهم رايې

سوال: جناب مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دام ظلهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
د حضرت څخه ګذارش دادی چې د حضرت مفتی رشید احمد صاحب دامت برکاتهم رساله (کشف الغبار عن مسئلة سوء الختیار) په باره کې ستاسو څه رائی ده وی لیکی چې آینده پکار راسی، او په دار الافتاء کې محفوظ وی.
جواب: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم، امابعد!
احقر په احسن الفتاویٰ پنځم جلد کې د حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب دامت برکاتهم تحریك سوی رساله (کشف الغبار عن مسئلة سوء الاختیار) مطالعه وکړله او په متعلقه عبارتونو باندی بی فکر وکی، حضرت مفتی صاحب چې په دغه رساله کی کوم تحقیق کړی دی هغه درست دی، د هغه متعلق د سوء الاختیار په صورت کی چې کومه نکاح په غیر کفؤ کی یا په غبن فاحش سره سوی وی هغه اصلاً باطله ده او غیر منعقد ده لهذا د دی د فسخ د پاره د قاضی قضاء ته ضرورت نسته، البته کومه نکاح چې په کفؤکی وی یا د مهر مثل سره وی هغه منعقد کیږی، خوپه دی صورت کی هم څه ناګواره او ناقابل برداشت صورتحال وی، مثلاً په عمر کی ډیر زیات فرق وی، چې د هغه په وجه د انجلی خاوند سره نه سی جوړیدی نو هلته هم د سوء اختیار د واضح

وفی البحر الرائق، کتاب النکاح باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۱۷ (طبع بیروت وفی طبع مکتبة رشیدیه کویته ج: ۳ ص ۱۰۹ نفذ نکاح حرة مکلفة بلاولی ولانها تصرفت فی خالص حقها وهی من اهله لکونها عاقلة، بالغة... وانما یطالب الولی بالتزویج کیلا تنسب الی الوقاحة..... الخ. وکذا فی الهندیة، کتاب النکاح، الباب الاول ج: ۱ ص: ۲۲۹ (طبع ماجدیه).

کیدو په صورت کی انجلی ته د خیار بلوغ په حاصلیدو باندی غور کول پکار دی، خو په دی صورت کی د عدالت څخه نکاح فسخ کول هم ضروری پکارده، لکه چې د دی رسالی په آخر کی درج دی او د دی یوبنیاد داهم کیدی سی چې د پلار نیکه د شفقت مظنونه په وجه د نکاح د انعقاد چې کوم حکم وو، هغه د سوء الاختیار واضح کیدلو په صورت کی کله چې په غیرکفوء یا د غبن فاحش صورت وی نو مرتفع سو، اوس پلار نیکه او ولی غیراب برابر سول چې د دواړو سوی نکاح غیر منعقد سوه نو د کفوٴ او مهر مثل په صورت کی هم کله چې سوء اختیار واضحه وی نو د پلار حکم د ولی غیر اب په شان پکار دی چې په هغه کی خیار البلوغ ورکول کیږی، نودلته هم پیداکول پکار دی خو داخبره فی الحال حتمی نه ده محض یوخیال دی او د مزید تحقیق ضرورت دی.

والله سبحانه اعلم
۲۵/ ۱/ ۱۴۱۲ھ
(فتویٰ نمبر ۱/ ۲۰)

د پلار او نیکه سوی نکاح کی د انجلی د خیار بلوغ حکم

سوال: پلار د خپلی لور نکاح په داسی ځای یاخاندان کی وکړله چې هلته د پردی څه انتظام نسته او نه د انجلی او د هغی خاندان په رهن سهن کی مطابقت سته د هغی انجلی پلار د هغی د واده څخه مخکی د انجلی ماماته وئیلی وو چې ته د خپل ځوی واده دی د دی انجلی سره په بدل وکړه خو په دی کی یوشرط دی چې د مهاجرو سره دوستی مه کوه، خو د انجلی پلار پخپله د دی خلاف اوکی او د انجلی نکاح یی د مهاجر سره وکړله او د هغه کاروبار زمینداری ده.
۲: انجلی په بالغیدلو سره په خپله نکاح فسخ کول منظور کړل.
۳: انجلی بالغیدلو سره یوه ورځ هم د خپل خاوند خواته آباده نسوه، نو آیا په دی صورت کی نکاح باقی ده؟
جواب: د پلار نیکه په سوی نکاح کی انجلی ته هغه وخت خیار بلوغ حاصل وی چې کله: هغی پلار فاسق او فاجر وی یا غوره مال وی او د هغه سوء الاختیار معروف او

مشهوره وی (۱) او هغه په غیر کفؤ کی نکاح کړی وی، او د دی خبری ثبوت څه معلومیږی چی هغه دانکاح خاص د لالچ په وجه باندی کړی ده، په بدلون باندی نکاح کول د عام رواج په وجه. د دی کافی وجه نه ده، نو ځکه په مذکوره صورت کی د خیار بلوغ په وجه د نکاح د فسخ کولو ګنجایش نه معلومیږی، اوس که په دواړو کی دروغ څه صورت ممکن نه دی نو د دی ښځه ماسوا بل څه صورت نسته چی د خاوند ښځه په څه معاوضه باندی طلاق حاصل سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۲/ ۵/ ۱۳۹۱ھ

(فتوی نمبر ۲۹۱/ ۲۲ ب)

بالغه انجلی د والدینو د مرضی ښځه بغیر نکاح کولی سی او که نه؟

سوال: مسماة ګلزار د ملکی امان لور شل کلنه ده او حلفیه بیان یی ورکړی دی چی زما عمر تقریباً شل کاله دی، زه د میرمحمد سره واده کول غواړم ما په خپله مرضی باندی د والدینو کور پریښوی، زه چا اغواکړی نه یم زما والدین زما د مرضی خلاف زما واده کول غواړی ځکه می د هغوی کور پریښی دی.

جواب: په استفتاء کی د سوال وضاحت نسته که دا پوښتنه کول مطلوب وی چی مذکوره بالغه انجلی د خپلو والدینو د مرضی خلاف واده کولی سی او که نه؟ نو د دی جواب دادی چی بهتره خو همداده چی د والدینو د رضاء حاصولو سره نکاح وکړی بیا هم چونکی هغه بالغه ده نو که د والدینو د رضاء ښځه بغیر په خپله کفؤ کی په شرعی طریقی سره نکاح وکړی نو نکاح به اوسی. (۲) او که په غیر کفو کی نکاح وکړی نو هغه به د والد د رضاء ښځه بغیر منعقد نه وی. (۱)

---

(۱) وفی رد المختار کتاب النکاح، باب الولی ج: ۳ ص: ۶۶، ۶۷ (طبع سعید لوعرف من الاب سوء الاختیار لسفهه او لطمعه لایجوز عقده اجماعاً. او همدارنګه وګوری مخکنی فتوی.

(۲) وفی الهندیة کتاب النکاح ج: ۲ ص: ۳۱۳ (طبع شرکت علمیه) وینعقد نکاح الحرة العاقلة البالغة برضائها وفی الحبر الرائق کتاب باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۱۷ (طبع بیروت وفی طبع مکتبه رشیدیه

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۰/ ۱۳۹۶ھ

(فتوی نمبر ۲۴۳۱/ ۲۷ھ)

د پلار نیکه سوی نکاح انجلی د بالغیدلو ښځه وروسته نسی فسخ کولی

سوال: زید د خپلی شپږ کلنی لور نکاح د یو نابالغ هلك سره وکړله تراوسه پوری د بلوغ حد ته نه وه رسیدلی چی هغه ته د خپلی نکاح حکم وسو، نو هغی د ناخوښی اظهار وکی او د بالغ کیدو ښځه وروسته هم هغه په دی باندی اصرار کوونکی ده چی ماته دغه نکاح منظوره نه ده، ایا په دی صورت کی د انجلی پلار د هغه نکاح بل ځای کی کولی سی او که نه؟ او مخکی نکاح به پخپله فسخه سی او که نه؟

جواب: د پلار نیکه سوی نکاح انجلی د بلوغ ښځه وروسته هم نسی فسخ کولی. (۲)، لهذا هغه نکاح درسته سوی ده او د انجلی په انکار سره نسی فسخ کیدی، خو که د انجلی د بالغ کیدلو ښځه وروسته دا دعوی کوی چی زما پلار د څه لالچ په وجه زما د خیرخواهی ښځه خلاف زما نکاح کړی ده، نو په داسی صورت حکم به په هغه صورت کی بنوول کیږی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۳/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۳۲۱/ ۲۸ - الف)

کویته ج: ۳ ص: ۱۰۹ نفذ نکاح حرة مکلفة بلاولی لانها تصرفت فی خالص حقها وهی من اهله لکونها عاقلة بالغة.

(۱) وفی الدرالمختار کتاب النکاح (باب الولی) ج: ۳ ص: ۵۶، ۵۷ ویفتی فی غیر الکفؤ بعدم جوازه اصلاً وهو المختار للفتوی لفساد الزمان. وفی المبسوط باب الاکفأ ج: ۵ ص: ۲۵ دار المعرفة بیروت) واذا زوجت المرأة نفسها من غیر کفؤ فللاولیاء ان یفرقوا بینهما، لانها الحقت العار بالاولیاء.

(۲) وفی الهندیة کتاب النکاح، الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع ماجدیه) فان زوجهما الاب والجد فلاخیار لهما بعد بلوغما وفی البحر الرائق، کتاب النکاح باب الاولیاء ج: ۳ ص: ۱۲۸ (طبع بیروت وفی طبع مکتبه رشیدیه کویته، ج: ۳ ص: ۱۲۰) ولهما خیار الفسخ بالبلوغ فی غیر الاب والجد... الخ

د پلار سوی نکاح نسی فسخ کولی

سوال: زید د خپل د ژوند ملگری زیب الهی په سفارش باندی د خپل اخښی د کوشنی خوی سره د خپلی صغیری نابالغی لور د نکاح عقد په عام او خاص مجلس کی په رضاء او رغب سره وکی، اوس انجلی ځوانه سوی ده هلك تراوسه پوری ځوان سوی نه دی خو د لسو کالو پوری به ځوان سی، اوس زید دا عذر پیش کوی چی ماپه رضا او رغبت سره د خپلی صغیری لور نکاح نه ده کړی او د دومره اوږدی مودی تکلیف متحمل کیدی هم نسم (چی مزید لس کاله د هلك د بالغ کیدو انتظار وکړم، لهذا په عدالت عالیه کی دعوی دائرکولو سره د خپلی لور طلاق اخلم او په بل ځای کی د هغی نکاح کول غواړم نن د تنسیخ نکاح دعوی رائجواب: سوی ده آیا دابه شرعًا درست وی؟

جواب: د پلار سوی نکاح کی د عدالت په ذریعه د فسخ نکاح څه سوال نسته شرعًا به د نکاح داسی فسخ معتبره نه وی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۷/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۷۳۵/ ۲۸ ب)

د اولیاؤ د رضامندی ښخه بغیر په غیرکفوکی د نکاح حُکم

سوال: یوسړی د احمد په نوم چی د هغه لورده کله چی هغه انجلی بالغه سوه نو احمد د پنځه شپږ شاهدانو په مخکی خپله لور د خپل د اکا د ځوی سره د کوزدی کولو په ژبه اقرار اوکی، او واقعی وعده یی وکړله، او د اکا ځوی چی د هغه نوم غلام قادر دی هغه قبول وکی او د کوزدی شرطونه یی د شاهدانو په مخکی قبول کړل، د دی ښخه وروسته د انجلی مور د خلگو په دوکه کولو سره د خاوند کور پرینښوولو سره او د انجلی په تگ سره هغه کورته ولاړه، هلته په رسیدلو سره د انجلی مور ووئیل، چی زما خاوند چیری زما لور وزکول غواړی، هلته باندی زه راضی نه یم، او نه زما لور راضی ده، ځکه چی هغه هلك د اول ښخه واده سوی دی، د کوم غیر قوم کورته چی مور اولور تللی وه،

(۱) وفی الفتاوی الهندیة، کتاب النکاح الباب الرابع ج: ۱ ص: ۲۸۵ (طبع ماجدیه) فان زوجهما الاب والجد فلاخیار لهما بعد بلزومها وان زوجها غیر الاب والجد فلکل واحد منهما الخیار..... الخ وکذافی الشامیة ج: ۲ ص: ۶۸.

د هغه غیرقوم خلگو په مشوری سره د انجلی نکاح د احمد د مرضی خلاف وکړله، د کوم هلك سره چی نکاح وسوه هغه د احمد او د احمد د ښځی د ماماځوی دی، د دی ښخه وروسته احمد خپل دوه سکه ځامن د خپل ورور سره پرینښوول، او د خپلی ښځی او خلگو ښخه ناراضه سو او سینده ته ولاړه ځکه چی دانکاح د هغه د مرضی په خلاف سوی وه، د نکاح په وخت انجلی د نکاح ولی خپل ماما جوړکی، ماماولی جوړیدلو سره نکاح وتړله، دانکاح د شپی کله چی خلگ بیده وه نو اوسوه، او په کوم قوم کی چی دا انجلی ورکول سوه هغه قوم د احمد د کور والاوو د احمد د ښځی او د موږ او دنیا د خاندان سره تعلق ساتی باقی د احمد پلار او نیکه د بل خاندان سره تعلق لری، د پلار نیکه نسب یی څوارلس پنځلس پشته تیریدو ښخه وروسته د هغه قوم سره ملاویږی، آیا دانکاح جائز سوه او که نه؟

تنقیح: د احمد لور چی د کوم هلك سره نکاح کړی ده هغه د قومی او خاندانی په لحاظ سره د احمد کفو دی او که نه؟ آیا په خاندانونو کی دومره فرق دی چی یوخاندان په بل خاندان کی واده ښادی کول عرفًا عار او عیب نه گڼی؟ او که دومره فرق نسته او دواړو خاندانونو کی بغیر د عار ښخه واده ښادی کیږی؟

۲: ایا د دینداری په لحاظ سره د احمد د کورنی او د هغه سړی په کورنی کی فرق دی؟
د دی دوو سوالونو جواب هم په دی کاغذ باندی ولیکه او راوی لیږه د دی سوالونو په جواب راتلو باندی به د اصلی مسئلی جواب درکول سی. (محمد تقی عثمانی)

د تنقیح جواب: د هغه سړی او د هغه په کورنی کی د دینداری په اعتبار سره دومره فرق دی چی احمد او د آحمد کورنی مؤحد دی او د کوم سړی سره چی د احمد د لور نکاح سوی ده هغه سړی او د هغه کورنی بدعتیان دی او په هغوی کی مشرکانه صفتونه هم دی، څه صفتونه یی دادی: چی حضور ﷺ لره حاضر او ناظر گڼی، په مشکلاتو کی پیرته آواز کوی د مرگ ښخه وروسته عهدنامه په قبرکی دفن کوی د جنازی په لمونځ کولو سره دائره جوړوی او حیله د اسقاط کوی، او احمد د دی خبرو خلاف دی.

جواب: په مسئوله صورت کی د احمد د لور نکاح چی د کوم سړی سوی ده، هغه د احمد کفو نه دی. (لمافی رد المختار: فانهم قالوا لایکون الفاسق کفوأ لبنت الصالحین

او اعتقادی فسق د عملی فسق څخه زیات (شامی جلد: ۲ ص: ۳۲۰، باب الاکفاء) [1]
لهٰذا په مذکوره صورت کی چی د احمد د رضامندی څخه بغیر کومه نکاح سوی دی [2]
ده هغه باطله ده، د احمد لور ته پکار دی چی هغه دی سمدستی د هغه هلك څخه بیله
سی، لمافی الدر المختار: وله اذاکان عصبة الاعتراض فی غیر الکفؤ مالم تلد منه
ویفتی بعدم جوازه اصلاً وهوالمختار للفتوٰی لفساد الزمان. (شامی ج: ۲ ص: ۲۹۷) [3]

والله سبحانه اعلم
۱۴/ ۱۱/ ۱۳۹۲ھ
(فتوی نمبر ۲۵۲۱/ ۲۷ھ)

په هندوستان کی مقیمه انجلی په پاکستان کی څوک د نکاح د پاره وکیل مقررولی سی؟

سوال: نفس مسئله پوره واضحه نه سوه لهٰذا د وضاحت د پاره د معاملی وضاحت بیانوم.
انجلی په هندوستان کی ده چی هلته د اسلامی شریعت مطابق د ایجاب تکمیل سوی دی مقرر سوی وکیل جناب عبدالرحمن صاحب چی په هندوستان کی مقیم دی، ارشاد علی خان چی په پاکستان کی مقیم دی، د دی تحریر په ذریعه هغی خپل وکیل مقرر کی چی هغه د نکاح خوانی د مجلس منعقده لطیف آباد (حیدر آباد) کی د نکاح خوانی متعلق د وکیل نیابت قبول کړی، په داسی صورت کی معلومول دی، چی جناب ارشاد علی صاحب د وکیل په حیث سره د انجلی د اړخه ایجاب کولی سی؟ او مجلس منعقده لطیف آباد (په حیدر آباد کی) د هلك په قبلولو باندی د نکاح تکمیل به د اسلامی شریعت مطابق وی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی ارشاد علی خان صاحب د انجلی د اړخه ایجاب کولی سی خو په دی شرط چی انجلی د هغه په وکیل جوړولو باندی راضی وی.

---

[1] فتاوی شامیه ج: ۳ ص: ۸۹ (طبع ایچ ایم سعید)

[2] وفی حلبی کبیر شرح المنیه ص: ۵۱۴ (طبع سهیل اکیډمی لاهور)..... فاسق من حیث الاعتقاد وهواشد من الفسق من حیث العمل.

[3] الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۶، ۵۷ (طبع سعید).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲۱/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

آیا په غیر کفو کی نکاح نه کیږی؟ او په کفو کی د نکاح شرعی حیثیت او حکمت

سوال: آیا نکاح په خپله کفو کی کول ضروری دی؟ د دی څخه بغیر په بل خاندان کی نکاح نسی کیدی؟ په کفو کی ولی نکاح کول پکار دی؟ او هم په خپل خاندان کی د نکاح کوشش کول څنګه دی؟

جواب: نکاح په هرذات کی د دواړو خاندانونو په رضامندی سره کیدی سی. [1] خو په کفو کی نکاح کول ځکه ښه دی چی په دی کی عمومًا طبیعتونه پیداکیږی که په دی خیال سره په خپله کفو کی د نکاح کوشش اوسی نو شرعًا څه حرج نسته.

والله سبحانه اعلم
(۲۸/ ۶/ ۱۴۱۰ھ) [2]

---

[1] د تیری صفحی د تیره سوی حواله حاشیه ۲ او د ۳ حاشیه نمبر ۲.

[2] دافتوی حضرت والادامت برکاتهم په یوجوابی خط کی لیکلی ده.

فصل فی الجهاز والمهر

د جهیز او مهر متعلق د مسئلو بیان

که نکاح کی مهرنه وی مقررسوی نو څه حکم دی؟

سوال: د یوسړی د واده دوه کاله سوی دی هغه ته داپته نسته چی حق مهر څه شی وی؟ نه هغه مهر ورکړی دی، هغه سړی د پنجاب دی بانډیچی دی، اوس هغه ته معلوم سول چی حق مهر ورکول ضروری دی، اوس هغه څه وکړی؟

جواب: که د نکاح په وخت کی څه مهر مقرر سووی وو نو مقرر سوی مقدار او د تفصیل مطابق دی هغه مهر اداء سی او که څه مهر نه وی مقرر سوی نو د ښځی د خاندان د ښځو چی په عام طور سره څومره مهر نه وی مقرر سوی نو د ښځی د خاندان د ښځو چی په عام طور سره څومره مهر مقررېږی هغومره مهر به په ده هم واجب وی چی هغی ته مهر مثل وایی. (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۹/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۷۷۲/ ۳۲ ج)

مهر ورکول واجب دی

سوال: جناب عالی! گذارش دی چی محمد فرید خان ولد شیرزمان قوم سنی تحصل کوه مری ضلع راولپنډی خپلی ښځی ته طلاق ورکی، د هغی څخه یی پنځه هلکان دی. اوس خبره داده چی عدالت لیکلی دی چی د دی مهر حقداری باقی ده، اوس مهر حقداری جناب مځکه، کورباغ وغیره دی، د محمد فرید خان ښځه افراز جان بی بی د خپل مهرحق اخستلو په شریعت کی حقداره ده او که نه؟ ضروری خبره داده چی یوکال او شپږ میاشتی موده تیره سوی ده، د افراز بی بی د پاره دی شرعی فتوی جاری سی چی په ټول وطن کی د دین قانون جاری سی.

جواب: که محمد فریدخان د طلاق ورکولو څخه مخکی ښځی ته مهرنه وی اداء کړی نو

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۹۸ (طبع ایچ ایم سعید) (وکذایجب) مهر المثل (فیما اذا لم یسم مهرا) وفی الشامیة قوله: فیما اذالم یسم مهراً ای لم یسمه تسمیة صحیحة او سکت عنه نهر.

په هغه باندی واجب دی چی سمدستی فیصله سوی مهر اداء کړی برابره خبره ده که هغه مهر د نقدو روپو په صورت کی وی یا د مځکی اوباغ په شکل کی، نو سمدستی اداء کول واجب دی. (۱) او د نابالغ ماشومانو نفقه هم په هغه باندی واجب ده (۲).

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۱/ ۱۳۹۹ھ

(فتوی نمبر ۱۸۰۳/ ۳۲ ج)

د برادری د مهر مقدار مقررول او د مهر ذکرسره سوی نکاح باندی رضا مندی به په مهر باندی رضامندی وی

۲: د خاوند او ښځی د والدینو د اړخه انجلی ته د روکول سوی سامان حکم

سوال: زموږ د میمن په برادری کی د ښځو مهر د نکاح په وخت پنځه سوه ۵۰۰ روپی مقرری وی، د دی څخه مخکی ۱۲۵ روپی، او د دی څخه مخکی پنځه ویشت روپی وی، دارقم د برادری مجلس عامه د اړخه مقرر کولی سی. آیا د سړو یا د یوی کمیتی د ښځو څخه پوښتنه کولو څخه بغیر مهر مقرر کول شرعًا صحیح او جائز دی؟ ورسره آیا د ښځی رضامندی ضروری ده؟

۲: ناوی ته د خاوند د اړخه یا د زلمی د خاندان د اړخه د سروزرو زیورات ورکول کیږی

(۱) وفی الدرالمختار، کتاب النکاح باب المهر ج: ۳ ص: ۱۰۲ وتجب... عند وطء او خلوة صحت من الزوج اوموت احدهما او تزوج ثانیًا فی العدة، وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۱۰۲ واذا تأکد المهر بماذکر لایسقط بعد ذالك وان کانت الفرقة من قبلها. لان البدل بعد تأکده لایحتمل السقوط الا بالابراء. وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه) والمهر یتاکد باحد معان ثلاثة الدخول والخلوت الصحیحة، وموت احد الزوجین سوأ کان مسمّی او مهر المثل حتی لایسقط من شیئ بعد ذالك الا بالابراء من صاحب الحق.

(۲) وفی الفتاوی الهندیة، کتاب الطلاق، الباب السابع عشر فی النفقات ج: ۱ ص: ۵۶۰ (طبع ماجدیه کویته) نفقة [illegible] الصغار علی الاب لایشارکه فیها احد. وفی الدر المختار، کتاب الطلاق. باب النفقة ج: ۳ ص: ۶۱۲ (طبع سعید) وتجب النفقة بأنواعها علی الحر لطفه بعم الانثی والجمع الفقیر الحر. وفی الشامیة تحت (قوله الفقیر) ای ان لم یبلغ حد الکسب... الخ

اختستل کیږی په دی باندی د مطلقی حق نه که طلاقه سوه نو هغه زیورات بیرته ځنی اختستل کیږی په دی باندی د مطلقی حق نه منی. نتیجه داوی چی د ښځی سره هیڅ هم نه پاته کیږی، هغه د بی سر او سامانی په حالت کی د پلار کره لیږی، که مطلقه د بچو والاوی نو ژوند یی نورهم سخت وی په دین کی د داسی مطلقی د پاره څه رعایت حاصل دی؟

جواب: د مهر مقرر کولو د پاره د ښځی رضامندی ضروری ده خو د نکاح په وخت چی کله دهغی څخه اجازت اختستل کیږی په هغه وخت کی دا وئیل کیږی چی ستا نکاح د فلانی سړی سره په دومره مهرباندی کول کیږی، که هغی په هغه وخت کی خپله رضامندی ښکاره کړله نو په مهربانی هم رضامندی وسوه، ترڅو چی د برادری د اړخه د مهر د تعین تعلق دی، ښځه د هغی پابنده نه ده که وغواړی نو د هغی څخه زیات مهر هم مقررولی سی.

۲: که دازیورات مالك (خاوند) جوړولو سره نه وی ورکړی نو هغه هم د خاوند ملکیت دی (۱)، او د جدایی په وخت کی یی خاوند بیرته اخستی سی، خو په ده باندی د مهر اداء کول واجب دی او انجلی ته چی څه د والدینو د اړخه اختستل سوی دی هغه د هغی ملکیت دی (۲). د جدایی په وخت کی یی د ځان سره وړی سی.

خلاصه داچی د طلاق څخه وروسته د خاوند د اړخه د مهر اداء کول واجب دی (۳) په ی شرط چی هغه یی اول اداء کړی نه وی، دوهم داچی د عدی په دوران کی د هغی نفقه واجب ده. (۱) د دی څخه علاوه څه بل شی د هغه په ذمه باندی واجب نه دی.

---

(۱) وفي الدرالمختار كتاب الهبة ج: ۵ ص: ۶۸۸ (طبع سعيد) وشرائط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضا... وركنها هو الايجاب والقبول.... وحكمها ثبوت الملك للموهوب له.. وتصح بايجاب كوهبت ونحلت... الخ.

(۲) وفى در المختار ج: ۳ ص: ۵۸۵ (طبع سعيد) ان الجهاز ملك المرأة وانه اذا طلقها تأخذه كله واذاماتت يورث عنها.

(۳) وفى الدر المختار . كتاب النكاح، باب المهر ج: ۳ ص: ۱۰۲ (طبع سعيد) وتجب... عند وطء او خلوة صحة من الزوج او موت احدهما او تزوج ثانيًا فى العدة.... الخ. وفى الهندية، كتاب النكاح الباب السابع الفصل الثانى ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجديه) والمهر بتأكد باحدمعان ثلثة الدخول والخلوة الصحيحة وموت احد الزوجين سواء كان مسمى او مهر المثل حتى لايسقط شيئ بعد ذالك الا بابراء من صاحب الحق.... الخ

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱۲/ ۱۴۰۰هـ

(فتوی نمبر ۱۸۰۳/ ۳۲ ج)

د پلار د کوره او د خسرګنی د اړخه انجلی ته ورکول سوی سامان د چاملکیت دی؟

سوال: زما وریره چی هغی ته دری طلاقه ورکول سوی دی هغه خپل کور ته بیرته راله او د طلاق په وخت چی زما وریری کومی کپړی او څه زیورات اچولی وه د هغی سره راله، او هغه ټول د جهیز سامان چی د انجلی مور او پلار د واده په وخت ورکړی وو. او هغه ټول سامان چی سابقه خاوند او د هغه والدینو (یعنی د سابقه خاوند مور او پلار) په واده کی ورکړی وو، دا ټول سامان د سابقه خاوند سره دی. طلاق مورخه ۸/ ۸/ ۱۹۷۶ باندی ورکول سوی وو، په هرحال چی کوم سامان د سابقه خاوند او د هغه والدینو د واده په موقعه باندی ورکړی وو هغه د چاملکیت دی؟

جواب: کوم سامان چی سابقه خاوند یا د هغه والدینو د واده په موقعه ورکړی وو که هغه یی ستا وریری ته د هبه کولو سره مالکه جوړولو صراحت یی کړی وی نو هغه ستا د وریری ملکیت دی (۲). او که داسی صراحت نه وی سوی، کوم چی زموږ په زمانه کی داعرف دی چی هغه هم د خاوند په ملکیت کی وی، لهذا د دی عرف مطابق به هغه د

---

(۱) وفى الفتاوى الهندية، كتاب الطلاق الباب السابع عشر فى النفقات. الفصل الثالث فى نفقة المعتدة. ج: ۱ ص: ۵۵۷ (طبع ماجديه) المعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسكنى كان الطلاق رجعيًا او بائنًا او ثلاثًا حاملاً كانت المرأة اولم تكن، كذافى فتاوى قاضيخان. وفى الدر المختار. كتاب الطلاق، باب النفقة ج: ۳ ص: ۶۰۹ (طبع سعيد) وتجب المطلقة الرجعى والبائن والفرقة بلامعصية.... الخ.

(۲) وفى الدر المختار، كتاب الهبة ج: ۵ ص: ۶۸۸ (طبع سعيد) وشرائط صحتها فى الموهوب ان يكون مقبوضًا غير مشاع مميزًا غير مشغول:... وركنها هو الايجاب والقبول.... وحكمها ثبوت الملك للموهوب له.... وتصح بايجاب كوهبت ونحلت... الخ.

خاوند ملکیت وی (۱). خو چی کوم جهیز انجلی ته د هغی والدینو ورکړی وو هغه د انجلی ملکیت دی او په خاوند باندی واجب دی چی هغه بیرته ورکړی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۳۴/ ۲۸ - الف)

مهر د ښځی د پاره (اعزازیه) دی یا (عوض) او (اجرت)؟

(د حضرت والا دامت برکاتهم مضمون) د مهر شرعی حقیقت په تناظر کی حضرت مولانا عتیق الرحمٰن سنبلی مدظلهم سوال)

سوال: مکرمی محترمی جناب مولانا محمد تقی عثمانی زید مجدهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د ۱۲ نومبر (جنګ) (لندن ایډیشن) کی ستا د محترم کالم (د مهر شرعی حیثیت) په عنوان سره چاپ سوی وو، ما هغه مضمون د هغه وخت څخه مخ ته ایښی وو، ځکه چی هغی د څوکالو مخکی زوړسوال تازه کی، خو په دی سلسله کی چی څه لیکل مقصود وه، د هغه نمبر راتلو راتلو کی دومره وخت ولګیدی چی دلته یو تعلق والا په انګریزی کی د اسلام ترجمانی په سلسله کی لیکل کول یووار د مهر په باره کی هغوی همدا د اعزازیه (Honorarim) تعبیر اختیارولو خیال زما په مخکی ظاهرکی. کوم عنوان چی تاسو اختیار کړی دی، نوماته دا اشکال اوسو چی عنوان خو ډیرښه دی خو د مهرشرعی حکم او شریعت بیان سوی نوعیت د دی تعبیر سره سمون نه خوری ځکه چی دا د منکوحی ښځی حق دی، او نوعیت د دی حق هغه دی چی د قرآنی تعبیر (اُجُورَهُنَّ) څخه ظاهریږی، او د دی په تشریح کی تاسو حضرات (یعنی فقهائی کرام) د دی څخه (عوض ملك بضع) بنایی، ستاسو په مضمون کی می دا تعبیر پیداکی، نو همدا اشکال اوسو، بل څه جواب هلته په نظر کی رانه لی، صحیح داده چی د ناقص فهم په روسره د

---

(۱) وفی الشامیة ج: ۵ ص: ۸۸ والعرف فی الشرع له اعتبار. لذا علیه الحکم قدیدار.
(۲) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۵۸۵ (طبع سعید) فان کل احد یعلم ان الجهاز ملك المرأة وانه اذا طلقها تأخذه کله واذا ماتت یورث عنها... الخ. او همدارنګه د والدینو او خسرګنی د اړخه انجلی ته ورکول سوی سامان د ذکرسوی حکم د مزید تفصیل د پاره وګوری امداد المفتین ص: ۵۲ ۔ ۵۲۱ (محمد زبیر)

مهر نوعیت د (اعزازیی) دی، نو بیا که مخکی څه اشکال نه پیداکیږی، برابره خبره ده که د خاوند دمالی حیثیت د کمزوری په وجه چی مهر هرڅومره کمور وی خو د اجر او عوض په صورت کی د دی د پاره (کل ماجآء ان یکون ثمنًا وقیمةً لشئٍ) کافی کیدل یا د مالکیه او حنفیه په نزد باندی دری درهم یا د لسو درهمو کافی کیدل، په دی کی می دی الله معاف کړی، د خپل ناقص عقل مطابق د ډیری کمزوری اړخ را وځی. او شریعت الهی یقینًا د دی څخه بری او پاك دی. کشکی! چی ستاسو په ذریعه په دی مسئله کی مدد ملاوسی.

والسلام ستاسو مخلص او محب عتیق الرحمٰن سنبلی (لندن)
رجب ۱۴۱۲ھ

جواب: بګرامی خدمت جناب مولانا عتیق الرحمٰن سنبلی صاحب! مدظلهم العالی!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط ملاو سو چی زموږ د افتخار او خوشحالی باعث جوړسو په اتفاق سره زه د څه مودی څخه د ملا په تکلیف کی یم چی د هغه په وجه په ناسته باندی کارنسم کولی نو ځکه درته په پروتی باندی داکرښی املاء کوم او براه راست د کاتبت شرف می حاصل نه سو امید دی چی معذور به می وګڼوی.

د مهر د پاره د (اعزازیی) تعبیر اختیارولو په وخت کی زما په ذهن کی د صاحب هدایی یو عبارت وو چی په هغه کی هغوی فرمایی:

(ثم المهر واجب شرعًا ابانة لشرف المحل) بیا د یوڅو کرښو څخه وروسته فرمایی: (ولانه حقّ الشرع وجوباً اظهاراً لشرف المحل، فیقدر بماله خطر) او علامه ابن همام رحمة الله تعالی علیه فرمایی: واما انه ابانة بشرفه فلعقلیة ذالك أذ لم یشرع بدلاً کالثمن والاجرة والا لوجب تقدیم تسمیته، فعلمنا ان البدل النفقة، وهٰذا لاظهار وخطره، فلایستهان به واذاً فقد تأکد شرعًا با اظهار شرفه مرةً باشتراط الشهادة، ومرة بالزام المهر. (فتح القدیر مع الکفائة ج: ۳ ص: ۲۰۵) (۱).

په نصوص شرعیه باندی د فکر کولو څخه هم داخبره واضحه کیږی چی د مهر دوه حیثیتونه دی، یوحیثیت یی دادی چی هغه د عقد نکاح لازمی غوښتنه ده او داشان په دی کی د عوض کیدلو یومشابهت دی، د دی حیثیت په لحاظ قرآنکریم کی په دی

---

(۱) طبع مکتبه رشیدیه کویټه

باندی د (اجورهن) لفظ اطلاق سوی دی، خوبل طرفته حقیقت دادی چی هغه په تیتِ معنی کی د څه مادی شی معاوضه نه ده بلکی هغه د ښځی د اعزاز د پاره مشروع سوی دی، ځکه خو په سورة النساء کی فرمائیل سوی دی: وَاٰتُو النِّسَآءَ صَدُقٰتِهِنَّ نِحلَة. (۱) دلته یی د مهر د صدقی په لفظ سره ذکر سوی دی. ملاعلی قاری رحمة الله علیه د مشکوة په شرح مرقات کی فرمائی: وسمی به لانه یظهر صدق میل الرجل الی المرأة. زما والد ماجد قدس الله سره د ملاعلی قاری رحمة الله علیه د عبارت نقل کولو څخه وروسته فرمایی:

یعنی مهرته (صداق) او (صدقه) ځکه وایی چی صدق په دی ماده کی د (رښتیا) په معنی دی او په مهر سره هم د خاوند خپلی ښځی ته رښتني میلان ظاهریږی، ځکه نو په دی مناسبت سره یی مهرته صدق وئیلی دی. (معارف القرآن ج: ۲ ص: ۲۹۹ طبع ادارة المعارف کراچی)

ورسره قرآنکریم لفظ د (نِحلة) استعمال کړی دی چی عطیی ته وایی او امام ابوبکر جصاص رحمة الله تعالی علیه د دی تشریح کولو سره فرمائی:

انما سمی المهر نحلة والنحلة فی الاصل العطیة والهبة فی بعض الوجوه، لان الزوج لایملک بدله شیاءً، لان البضع فی ملک المرأة بعد النکاح کهوقبله، الاتری انها لو وطئت بشبهة کان المهر لها دون الزوج، فانما سمی المهر نحلة لانه لم یعتض من قبلها عوضاً یملکه، فکان فی معنی النحلة التی لیس باذائها بدلاً، وانما الذی یستحقه الزوج منها بعقد النکاح هو الاستباحة لا الملک. (احکام القرآن للجصاص ج: ۲ ص: ۵۷) (۲)

تقریبا همدا خبره امام رازی رحمة الله تعالی علیه هم لیکلی ده. (تفسیر کبیر ج: ۹ ص: ۱۸۰)

د قرآنکریم د دی تعبیر جصاص رحمة الله علیه او د امام رازی رحمة الله علیه د تشریح څخه داخبره واضحه کیږی چی اصلاً مهر د کوم شی معاوضه نه ده بلکی د عقد النکاح یوه داسی غوښتنه ده چی د هغه منشاء د محل عقد تکریم او اعزاز دی، خو د دی بعضی احکام داسی دی چی په عام طور باندی د معاوضو دی. مثلاً ښځه د دی مطالبه کولی سی او دایی ورته د خاوند په ذمه باندی دین وګرځولو، نو ځکه د دی مشابهت د وجی په قرآن کریم کی په بعضو ځایونو کی د دی څخه په (اُجرت) سره تعبیر سوی دی. او د

(۱) سورة النساء: ۴

(۲) طبع سهیل اکیډمی لاهور.

معاوضی د احکامو جاری کولو په وخت بعضی فقهاء کرامو هم د دی مشابهت د وجی دی ته د ملك بضع بدل وئیلی دی، خو لکه څنګه چی په دی تعبیر کی د (ملك) لفظ په خپله حقیقی معنی کی نه دی استعمال سوی، بلکی د دی څخه مراد حق انتفاع دی، دغه شان د (بدل) لفظ هم من کل الوجوه په حقیقی معنی کی نه دی. بلکی د ذکرسوی مشابهت د وجی مجازاً یی دا تعبیر اختیار کی چی د هغه دلایل په لاندی ډول دی:

۱: په عقد د معاوضه کی د بدل تعین د عقد د صحت د پاره شرط دی خو په نکاح کی د مهر تعین څه ضروری نه وی، نکاح د دی څخه بغیر هم کیږی او مهر مثل واجبیږی.

۲: که په بیع کی داشرط ولګول سی چی اخستونکی به هیڅ قیمت نه اداء کوی نو بیع نه صحیح کیږی خوکه په نکاح کی داشرط ولګول سی چی هیڅ مهربه نه وی نونکاح کیږی او مهر مثل واجبیږی.

۳: په معاوضاتو کی د بدل دکم نه کم او د زیات څخه زیات څه مقدار مقرر نه وی، خو د مهر کم نه کم مقدار د احنافو او مالکیانو په نزد مقرر دی.

۴: په عقود معاوضه کی که معقود علیه دوهم فریق ته حواله نکړی سی نو عوض واجب الاداء نه وی، خوکه په نکاح کی د رخصتی څخه مخکی طلاق واقع سی نو نیم مهر به واجب وی.

د دی په شان نورهم زیات امر د دی خبری د ثابتولو د پاره کافی دی چی په مهر کی د عوض کیدو مشابهت ضرور دی، خو د عوض ټول احکام په دی کی موجود نه دی، بلکی حقیقت دادی، چی دا یوه اعزازیه ده، خو د دی اداء کول د خاوند په ذمه شرعاً لازم دی، او ښځی ته د دی د مطالبی حق هم حاصل دی، د معاوضی په مشابهت او په تکریم باندی مبنی کیدلو دواړو حیثیتونه لره د تعبیر کولو د پاره ماته د (اعزازئی) څخه بهتر څه لفظ ملاو نسو، او داخو ستاسو په علم کی دی چی (اعزازیه) په بعضو اوقاتو کی واجب الاداء او د مطالبی لائق وی.

ترڅو چی د لسو درهمو یا د درو درهمو د بی وقعتی تعلق دی نو دا خبره ماپخپل مضمون کی عرض کړی ده چی د ښځی اصل حق شرعاً مهر مثل دی، خوکه هغه خپل حق په څه وجه کمول غواړی نو کم نه کم داسی حدشریعت مقرر کړی دی چی فی الجمله معتد به وی او چونکی دا د کم نه کم حد دی او د مهر مطلوب مقدار نه دی نو ځکه په دی کی د بی وقعتی هیڅ اړخ نسته. والسلام

۲۸ رجب/ ۱۴۱۲هـ (۱)

فصل فی احکام الولیمه

د ولیمی مسایل

د ولیمی شرعی حیثیت او د هغه مسنون وخت

سوال: په دی استطاعت باندی ولیمه کول سنت مؤکده ده او که غیرمؤکده؟ او داسی ولیمه چی د نکاح څخه لس ورځی یا څلور پنځه ورځی وروسته وسی دابه هم مسنون او جائز وی او که نه؟ او د داسی ولیمی د خوراك د پاره تلل جائز دی او که نه؟ او ولیمه ترکومی پوری کولی سی؟

جواب: ولیمه کول سنت مؤکده دی، د دی مسنون وخت د زفاف څخه وروسته دی خومره چی ژر اوسی هغوندی به سنت ته نژدی وی څلور پنځه ورځی وروسته چی ولیمه اوسی نو د ولیمی سنت به اداء سی (۲). والله سبحانه اعلم

د ولیمی مسنون وخت کوم یودی

سوال: ناوی مازیگر څلور بجی په وخت راوړل سوه، نکاح ماښام اووه بجی منعقده سوه آیا د اوو او پنځو بجو ترمینځ د ولیمی خوراك به په ولیمه کی شمار وی او که نه؟ زید وایی چی ولیمه بعد الدخول او بعد النکاح سنت ده، او بکر وایی چی بعد الدخول او بعد النکاح او بعد الزفاف ټول سنت ده، ځکه چی: قال فی الفتح: وقد اختلف السلف فی وقتها عند العقد او عقبه او عند الدخول او عقبه او موسع من ابتداء العقد الی انتهاء الدخول علی اقوال، انتهی. والفرق بینهما ان عند یشترط فیه الحضور. د دی څخه هم معلومه سوه چی لفظ د (عند) د عقد څخه وروسته او ماقبل ته هم شامل دی، کمافی الحدیث: انه قالت ثلاث اوقات نهانا رسول الله ﷺ ان نصلی فیها وان لانقبر موتانا عند طلوع الشمس وعند غروبها وعند الاستوا، جزئیة ومنع عن الصلوة وسجدة التلاوة وصلوة الجنازة عند طلوع الشمس وعند الغروب والاستواء، د دی څخه هم معلومه سوه چی (عند) عام دی، ورسره ناوی خپل ځان د عقد نکاح د پاره حواله کونو

---

(۱) داجواب حضرت والادامت برکاتهم د سائل موصوف په جوابی خط کی ولیکی.

(۲) د حوالی او تفصیل د پاره راروانه فتوی او د هغی حواشی وګوری. (مرتب عفی عنه)

داتول وخت د عقد نکاح د پاره صالح دی، او همدارنګه نکاح، صدقه او د هبی سره کیدلی سی، کله چی ناوی یاولی خاوند ته په ښځی تسلط ورکی، نو تملیك او قبضه هم راغله، د ایجاب او قبول ضرورت نسته لکه چی په حیله کی وی نو طعام مذکور به هم په (ولیمه) کی شمار وی یعنی د څلور څخه تر اووپوری

جواب: د ولیمی مسنون وخت د دخول څخه وروسته دی. قال السیکی: والمنقول من فعل النبی ﷺ انها بعد الدخول، وفی حدیث انس رضی الله عنه عند البخاری وغیره التصریح بانها بعد الدخول لقوله اصبح عروسا بزینب فدعا القوم. (بذل المجهود ج: ۲ ص: ۳۲)(۱) السنة فی الولیمة ان تکون بعد البناء وطعام ماقبل البناء لایقال له: ولیمة عربیة. (فیض الباری ج: ۴ ص: ۳۰۰) (۲)

کومو حضراتو چی عند العقد او عقب العقد ولیمی ته مسنون وئیلی دی د هغوی مطلب دامعلومیږی چی په دی وختونو کی ولیمه کولو سره د ولیمی سنت اداء کیږی لکه د مسواك په مسئله کی (چی د برش کولو سره د مسواك سنت اداء کیږی، سنت د

---

(۱) بذل المجهود کتاب النکاح ج: ۴ ص: ۳۲ (طبع مکتبه قاسمیه ملتان) وکذا فی نیل الاوطار ج: ۶ ص ۱۵۰.

(۲) طبع مکتبه اسلامیه شارع کاسی کویته.

: حضور اقدس ﷺ څخه وروسته د زفاف د شی څه ولیمه کول ثابت وی. لکه چی لاندی لیکل سوی حدیث بخاری شریف کی تشریح ده او همدا د جمهورو مسلك دی بیاهم د لاندی لیکل سوی مختلفو اقوالو په وجه د ولیمی سنت د نکاح څخه وروسته یا د رخصتی څخه مخکی یا وروسته په څه وخت کی کولو سره اداء کیږی وفی الصحیح البخاری ج: ۲ ص ۷۷۲ باب الولیمة حق.... وکان اول ما انزل فی متبنی رسول الله ﷺ بها عروساً فدعا القوم فأصابوا من الطعام.... الحدیث: وفی هامشه، وقد اختلف السلف فی وقتها. هل هو عند العقد او عقبه او عند الدخول او عقبه؟.... واسحب مالك کونها اسبوعا. وفی اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۲ حدیث انس فی هذا الباب صریح انها ای الولیمة بعد الدخول لقوله فیه اصبح عروسا بزینب فدعا القوم، وفی التاج الجامع للاصول فی احادیث الرسول للشیخ منصور علی ناصف ج: ۲ ص ۲۷۹ فصریح الحدیث ان الولیمة کانت صباح لیلة الدخول فیکون وقتها بعد الدخول عند الجمهور. وقال جماعة عند الدخول وقال آخرون عند العقد، والظاهر ان وقتها موسع من العقد الی الدخول ففی ای وقت عملت کفی لانها نوع من اعلان النکاح ومن انواع البر والاکرام. والله اعلم وفی المرقات رقم الحدیث: ۳۲۱۰ ج: ۶ ص: ۳۶۶ (طبع مکتبه حقانیه پښاور) قیل انها تکون بعد الدخول، وقیل عند العقد، وقیل عندهما، واستحب اصحاب مالك ان تکون سبعة ایام والمختار انه علی قدر حال الزوج وکذا فی فتح الباری ج: ۹ ص: ۱۹۹. وفتح الملهم ج: ۳ ص: ۴۸۹ واوجز المسالك ج: ۴ ص: ۳۱۸. او همدارنګه وګوری فتاوی دار العلوم دیوبند ج: ۷ ص: ۱۶۷

آلی څخه اداء کیږی) دغه شان دلته د ولیمی سنت اداء سو، خو د وخت سنت اداء نه سو. یعنی ولیمه به په مسنونه وخت کی نه وی اداء سوی، خو د عقد د نکاح څخه مخکی د ولیمی اصل هیڅ نسته، د دی چی کوم دلائل بیان سوی دی هغه ټول محل د نظر دی (عند) او (لدی) فرق په هغه وخت کی دی کله چی (عند) په مکان کی مستعمل وی، دظرف په وخت اطلاق د قبل په معنی باندی نه کیږی، عند الطلوع او بعد الطلوع، عند الغروب، عند الاصفرار کی لوی فرق دی، نه (هبی) سره د نکاح منعقد کیدل دا معنی لری. فالحاصل:

ان النکاح ینعقد بالهبة اذاکان علی وجه النکاح. (بحر ج: ۳ ص: ۲۲) (۱)

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱۱/ ۱۳۸۷ھ

(فتوی نمبر ۱۳۲۸/ ۱۸- الف)

فصل فی المتفرقات النکاح والمسائل الجدیدة المتعلقة بالنکاح

د نکاح د جدیدو او متفرقو مسائلو بیان

په ټیلی فون باندی د نکاح شرعی حیثیت

سوال: نن صبا په ټیلی فون باندی نکاح کیږی آیا دا صحیح ده، او نکاح به درسته وی؟

جواب: چونکی په نکاح کی داضروری ده چی دوه شاهدان د نکاح په مجلس کی حاضر وی او ایجاب او قبول واوری (۲). نوځکه په ټیلی فون باندی نکاح درسته نه ده، که بل

---

(۱) بحر الرائق ج: ۳ ص ۸۷ (طبع ایچ ایم سعید). وفی الشامیة (قوله کهبة) ای اذاکانت علی وجه النکاح.

(۲) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۹ وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر، وفیه ایضاً ج: ۳ ص: ۲۱ وشرط حضور شاهدین حرّین او حرّو حرّتین مکلفین سامعین قولهما معاً. وفی الهدایة ج: ۲ ص: ۳۰۶ (طبع شرکت علیه) ولاینعقد نکاح المسلمین الا بحضور شاهدین حرین

بنار یا ملک کی نکاح کول وی نو د هغه صحیح طریقه داده چی په دغه بنار کی څوک د خپلی نکاح وکیل مقرر کړئ، وکیل به دده د اړخه د دوهم فریق سره د دوو شاهدانو په موجودگی کی ایجاب او قبول وکړی او داشان به نکاح صحیح سی.

والله سبحانه اعلم

۲۶/ ۱۰/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۲۱۲/ ۳۲ ج)

د نکاح خطبه د ایجاب او قبول څخه مخکی وی او که وروسته؟

سوال: د نکاح په وخت کی د نکاح خطبه د ایجاب او قبول څخه مخکی وئیل سنت دی او که د ایجاب او قبول څخه وروسته سنت دی؟

جواب: د نکاح خطبه د ایجاب او قبول څخه مخکی وئیل سنت دی (۱)

والله سبحانه اعلم

۲۴/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۷۴۸/ ۳۲ ج)

آزاد سړی خلور ودونه کولی سی

سوال: په موجوده زمانه کی د غلامی نظام ختم سوی دی صرف د غلام او آقا نوم باقی دی، د یوغلام په کورکی دوی ښځی دی، چی د اول څخه یی د نکاح کولو سره ساتلی وی، اوس د دغه دووښځو څخه علاوه هغه د یوی آزادی ښځی سره دریم واده کړی دی چی: هغه د خاندان څخه نه ده، هغه خو پخپله عبد دی خو دریمه ښځه یی آزاده ده آیا دانکاح صحیح سوه؟ اکثره وخت په کتابونو کی لیدل سوی دی چی یوغلام د دوو ښځو څخه زیاتی ښځی نسی ساتلی.

عاقلین بالغین مسلمین. وفی الهندیة کتاب النکاح الفصل الاول ج: ۱ ص: ۲۶۸ ومنها سماع الشاهدین کلامهما معاً. هکذا فی الفتح القدیر.

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۸ ویندب اعلانه وتقدیم خطبة. وفی الشامیة (وتقدیم خطبة) بضم الخاء مایذکر قبل اجراء العقد من الحمد والتشهد..... الخ. وفی بحر الرائق کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۸۱ (طبع مکتبه رشیدیه کویته)

یستحب ان یکون النکاح ظاهراً وان یکون قبله خطبة.

جواب: نن صبا د شرعي غلامانو او مینځو وجود نسته، که د چاپلار نیکه ګان غلامان پاته سوي وي نو خاص په دومره خبرې سره هغه غلام نه وي نن صبا ټول احرار دي لهٰذا د څلورو پوري ښځي ساتل د هغوی د پاره جائز دي (۱).

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۲/ ۲۸- الف)

په ټیلی فون باندي د نکاح حُکم

سوال: په ټیلی فون باندي نکاح کیدی سي او که نه؟ که کیدی سي نو د کومو شرطونو لاندي؟

جواب: په ټیلی فون باندي نکاح نسي کیدی ځکه چي د دوو شاهدانو په موجودګی کی ایجاب او قبول په دی کی د شرعي شرطونو مطابق ممکن نه دي (۲). که چیري په غیر ملکونو کی اوسیدونکی نکاح کول غواړي نو د هغه داصورت ممکن دي چي په کوم ښار کی چي انجلي موجوده وي د هغه ښار کوم سړی خپل وکیل جوړ کړی او هغه ته ووایي چي زمانکاح د فلاني انجلي سره وتړه، نو اوس به دا وکیل د دوو شاهدانو په موجودګی کی د انجلي یا د هغی د وکیل سره ایجاب او قبول وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۱۱/ ۱۴۰۱ھ

(فتوی نمبر ۱۷۱۴/ ۳۲ ج)

د دوو اخترونو ترمینځ نکاح بغیر د شبهی څخه جائزده

سوال: د ډیرو خلګو څخه می اوریدلی دي چي د عید الفطر او عید الاضحی په مینځ کی نکاح منعه ده او جائز نه ده، که د دواړو اخترونو په مینځ کی څوك واده کوی نو هغه ۲۷ رمضان المبارك باندي نکاح کوی آیا داصحیح دی؟

جواب: په شرعي اعتبار سره داخبره بالکل بی بنیاده او خطاده چي د دوو اخترونو په مینځ کی نکاح جائز نه ده، پخپله د حضور ﷺ نکاح د حضرت عائشي صدیقی رضی

(۱) قال الله تعالی: فَانكِحُوا مَا طَابَ لَكُم مِنَ النِّسَاءِ مَثْنَى وَثُلَاثَ وَرُبَاعَ. (سورة النسآء: ۳).
(۲) د تفصیل د پاره وګوری د ۳۵۵ صفحی اول نمبر حاشیه.

الله تعالی عنها سره د شوال په میاشت کی سویده (۱). په داسی بی بنیاده خبرو باندي یقین کول نه دي پکار، د دوو اخترونو په مینځ کی نکاح د امت په اجماع سره جائزده. او د دی د پاره ۲۷ رمضان المبارك کی د نکاح کولو هم څه قید نسته.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۹۱۸/ ۲۸ ج)

د رخصتي څخه انکار کولو سره به نکاح ختمه نه وی

سوال: محمد عمر د خپل خوریی یامین واده په شهداد پور کی د محمد یوسف د لورسره کړی دی او د دی په بدله کی محمد عمر د خپلی لور واده د محمد یوسف د ځوی سره کړی دی، د دی واده پسمنظر دادی چي کله محمد عمر د خپل خوریی کوژده د محمد یوسف د لورسره وکړله نو په هغه وخت د محمد یامین عمر څلویښت کاله وو او د انجلي عمر تقریباً شپاړلس کاله وو نو محمد عمر په بدله کی خپله لور چي د اتو نهو کالو وه د محمد یوسف د ځوی په نکاح کی یی ورکړی وه، د هغه عمر لس یوولس کاله وو، کله چي محمد یامین واده وکی، وروسته معلومه سوه چي یامین خپل خسرته دوه نیم زره روپی ورکړی وی، د دی دپاره چي محمد یوسف ژر واده وکړی او څوك پکښی خنډ جوړنسی، کله چي محمد عمرته دا معلومه سوه چي یامین پیسی ورکړی دی، نوځه انجلي په بدل کی ولي ورکړم؟ د محمد یامین د واده څخه دوی ورځی وروسته محمد یوسف د خپل ځوی جنج ولاړی رالی خلګو محمد عمر ډیرپوه کی خو هغه اونه منل، خلګو ووئیل چي بیابه محمد یوسف خپله لور بوځی او طلاق به واخلی او ستا د خوریی محمد یامین پیسی به هم ډوبی سی، لهٰذاته د خپلی لور نکاح وکړه خو د وړونو په پوه کولو سره محمد عمر ووئیل چي څه! نکاح کوم خو انجلي چي ترڅو خوانه سوی نه وی هغه به خسرګنی ته نه لیږم، وړونو ورته وویل چي هغه خو وروسته خبری دی لهٰذا باقاعده د قاضي په ذریعه ایجاب او قبول اوسو او مهر دوودیرش روپی

(۱) وفی مشکوة المصابیح: کتاب النکاح باب اعلان النکاح والخطبة والشرط ج: ۲ ص: ۲۱۷ (طبع قدیمی کتب خانه) عن عائشة قالت: تزوجنی رسول الله ﷺ فی شوال وبنی بی فی شوالو فایَ نسآ رسول الله ﷺ کان احظی عنده منی، رواه مسلم. وفی حاشیة المشکوة تحته: فایَ نساء انما قالت هذا رادًا علی اهل الجاهلیة فانهم کانوا لایرون الیمن فی التزوج والعرس فی اشهر الحج.

محمد عمرقبول وکی، دواړه شاهدانو په مخکی د انجلی د اړخه او اته آنی مقرر سو، د شاهدانو په مخکی د انجلی د اړخه محمد عمرقبول وکی، دواده لس دولس کاله سوی دی، انجلی بالغه سوی ده اوس محمد یوسف مرحوم چې د هغه انتقال سوی دی، وړونو محمد عمرته د انجلی رخصت کولو وویل محمد عمر وائی چې زه به همیشه همدا وایم چې زما د انجلی نکاح نه ده سوی، لس کالو کی په دواړو فریقینو کی څه لین دین نسته، بیاجرګه وسوه، خلګو وویل چې زموږ په مخکی نکاح سوی ده، محمد عمر وایی چي د وړونو د مجبورولو په وجه می نکاح وکړله، ځکه چې د انجلی نکاح نه ده سوی، فتوی وغواړه چې نکاح سوی ده او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی کله چې محمد عمر د خپلی لور نکاح باضابطه د دوشاهدانو په مخکی د قاضی په ذریعه ایجاب او قبول کولو سره ورکړله نونکاح منعقده سوه (۱). او هغه چې د رخصتی څخه انکار کړی وو په دی سره به د نکاح په انعقاد څه فرق نه راځی، لهٰذا په هغه واجب دی چې انجلی ورکړی یایی د خاوند څخه طلاق واخلی.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۹/ ۱۳۹۶ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۳۲۱/ ۲۷ هـ)

د دوهم واده د پاره د مخکی ښځی څخه اجازت اخستل ضروری نه دی

سوال: د مطلقی ښځی نکاح لس میاشتی او اته ورځی وروسته وسوه د مخکنی ښځی په موجودګی کی د مخکی ښځی څخه د دوهمی نکاح کولو په شرعی طور باندی اجازت اخستی وی او مخکی ښځه دی خبری ته تیاره وی چې یوځای دی پاته کیږی نو آیا دانکاح درسته ده؟

جواب: که خاوند ته اطمینان وی چې هغه به د یوه څخه زیاتی ښځی د ساتلو په صورت کی په شرعی طور سره عدل او انصاف قایم وساتی نو هغه به د مخکی ښځی په

(۱) وفی الدر المختار، کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۹ (طبع سعید) (وینعقد) (بایجاب) من احدهما (وقبول) من الاخر.

موجودګی کی دوهمه نکاح کولی سی (۱) او د دی د پاره د مخکی ښځی څخه اجازت اخستل هم ضروری نه دی.

والله سبحانه اعلم

۳/ ۱۲/ ۱۴۰۱ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۸۰۹/ ۳۲ ج)

د هندو د مړی سوزلو منظر کتلو سره نکاح نه ماتیږی

سوال: یوه ورځ می په زړه کی خیال رالی چې هندوان خپل مړی څنګه سوزی، کتل پکار دی، د یوډیر لوی جاګیردار هندو انتقال وسو زید د دی د کتلو د پاره سان ګاټ ته ولاړی، د لری څه یی کتل، د څوکالو څخه وروسته زید خپلو دوستانوته د دی ذکر وکی یودوست وویل: چې ستا نکاح فسخ سوه لهٰذا ته بیا دوهم وار نکاح وکړه آیا شرعاً داصحیح دی؟

جواب: د غیر مسلمو د مذهبی او معاشرتی رسمونو د کتلو د پاره هم شرکت کول پکار نه دی، خو په داسی کولو نکاح نه ماتیږی، لهٰذا په صورت مسئوله کی د زید نکاح نه ده فسخ سوی.

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۰/ ۱۳۹۶ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۴۲۲/ ۲۷ هـ)

خاوند ته ورور یا پلار ویلو سره په نکاح څه اثر نه راځی

سوال: د ښځی او خاوند په جنګ کی ښځی خپل خاوند ته ورور او پلار ووایه، وروسته یی افسوس وکی ځکه چې هغی په درد کی وئیلی وه، اوس شرعی حکم څه دی؟

جواب: ښځی د هډو پکار نه دی چې هغه خپل خاوند ته ورور یاپلار ووایی، خو په

(۱) فانکحوا ماطاب لکم من النسآء مثنٰی وثلاث وربٰع، سورة النساء: ۳. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۷ ومکروها لخوف الجور، وفی الشامیة.... وترك الشارح قسمًا سادسًا ذکره فی البحر عن المجتبی وهو الاباحة ان خاف العجز عن الایفاء بموجبه ای خوفًا غیر راجح ولاکان مکروها تحریما لان عدم الجور من مواجبه.

داشان ونیلو سره په نکاح باندې څه اثرنه راځي (۱) هغوی به بدستور ښځه او خاوند پاته کیدی سي.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۱۰/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۱۰۳۴ ج)

د انجلي واده کم ترکمه په څومره عمر کې کولی سي

سوال: د انجلي واده کم ترکمه په څومره عمر کې کولی سی د شریعت د مخه می د جواب څخه خبر کړئ؟

جواب: د واده د پاره څه عمر مقرر نه دی په هرعمر کې نکاح کول، جائز دی خو ښه داده چې د بلوغ څخه وروسته نکاح اوسی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۳/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

د ښځې د اړخه خاوند ته کافر وئیلو باندې نکاح نه ماتیږي

سوال: یوسړی د خپلې ښځې څخه خوابدی سو او خپل سامان یې واخستی او ولاړی ښځې ته درد ورلی نو د کور کیړی یې وسوزلي او وی ویل چې (کافر ولاړې) او څو واره یې داسې ووئیل، ښځې ته د خپل خاوند په باره کې د بلې ښځې سره د تعلق شبه ده، آیا د ښځې خپل خاوند ته کافر وئیلو سره نکاح ماته سوه او که نه؟

جواب: ښځې خاوند ته کافر وئیلو سره د سختې ګناه ارتکاب وکی (۲) هغې ته پکار دی چې په دی عمل خپل توبه او استغفار ووایي او د خاوند څخه هم معافي وغواړي خو په دی سره نکاح نه ماتیږي نکاح به برقراره وي.

والله سبحانه اعلم

---

(۱) وګورئ فتاوی دار العلوم دیوبند باب الظهار ج: ۱۰ ص: ۲۱۱.

(۲) وفی مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۴۱۱ (طبع قدیمی کتب خانه) عن ابن عمر رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ: ایما رجل قال لاخیه کافر، فقدباء بها أحدهما، متفق علیه. وفیه ایضاً بعده رقم الحدیث (۴۸۱۴) باب المسلم فسوق وقتاله کفر.

۷/ ۲/ ۱۳۹۷هـ

(فتویٰ نمبر ۲۸/۵۵۵ ب)

د دوهم واده د پاره د مخکې ښځې څخه اجازت اخستل ضروري نه دي

سوال: که یوسړی د یوه ښځه د زیاتو ښځو د نکاح کولو خواهشمند وي نو آیا د مخکې ښځې څخه اجازت اخستل ورته ضروري دي یا صرف برابري کول ضروري دي او اجازت نسته؟

جواب: د مخکې ښځې څخه اجازت اخستل ضروري نه دي خو ښه دي خو د ښځو ترمینځه به هرقسم انصاف ساتل لازمي دي که په دی کې د یوې ذرې بې انصافۍ خطره وي نو دوهم واده جائز نه دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۸هـ

(فتویٰ نمبر ۲۹/۲۰۷ ب)

۱: په واده کې د فائرنګ رسم واجب الترک دی

۲: د ناجائزو رسوماتو په واده کې علماوو ته شرکت کول لازم نه دي

سوال: په واده کې خلګ د فخر او شهرت د پاره فائرنګ کوي د فایرنګ دارسم تبذیر دی او که نه؟

۲: آیا په داسې واده کې چې په هغه کې رسومات وي په هغه کې چاته شرکت او خاصکر د علماوو شرکت جائز دی؟

جواب: د فائرنګ دارسم فضول خرچي ده او په ګنو منکراتو باندې د مشتمل کیدو د وجې واجب الترک دی.

۲: په کوم واده کې چې شرعي منکرات وي په هغه کې مقتداء علماوو ته شرکت کول

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۷ (ایچ ایم سعید) (ومکروها لخوف الجور) فان تیقنه حرم ذالك. وفی الشامیة (قوله فان تیقنه) ای تیقن الجور حرم لان النکاح انما شرع لمصلحة تحصین النفس وتحصیل الثواب وبالجور یأثم ویرتکب المحرمات فتنعدم المصالح لرجحان هذه المفاسد. بحر. وترك الشارح قسماً ساد سأذکره فی البحر عن المجتبی وهو الاباحة ان خاف العجز عن الایفاء بموجبه اه. ای خوفاً غیر راجح والأ کان مکروهاً تحریماً لان عدم الجور من مواجبه... الخ.

پکار نه دی.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱/ ۱۴۱۲هـ

(فتوی نمبر ۷۳/ ۵۸)

خاوند څومره موده د ښځې څخه جلا پاته کیدی سی؟

(د ملازمت یاتعلیم او تبلیغ د پاره اوږده موده د ښځې څخه د جلا پاکیدو متعلق د مولانا ډاکټر عبدالواحد صاحب مدظله د سوال جواب)

سوال: د جناب مولانا عبدالله میمن صاحب په خدمت کی:

مزاج گرامی!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو د رالیږل سوی کتابونو د هدیې دریم قسط را ورسیدی، چی اصلاحی خطبات او د ښځې په حقوقو باندی مشتمل وه، په دی ډیرعنایت او کرم فرمایی باندی ډیر مشکور او احسان مندیم او دعاء گویم چی الله ﷻ د جناب په ځوانی، مال او علم کی برکت عطاء کړی.

د جناب د هدیې په مناسبت سره یوسوال د قلم په څوکه باندی رالی خو د دی جواب د جناب او د حضرت مولانا مفتی عثمانی مدظله په طیب خاطر باندی موقوف کوم.

رساله (د ښځې حقوق) کی مولانا مدظله تحریر فرمایی چی:

فقهاء کرامو تردی لیکلی دی چی د سړی د پاره د څلورو میاشتو څخه زیات د کور څخه د باندی اوسیدل د ښځې د اجازت او خوشدلی څخه بغیر جائزنه دی (ص ۲۱) مفهوم مخالف دارا ووتی چی د ښځې په اجازت سره کال دوه کاله د باندی پاته کیدی سی.

د اردو په بعضی کتابونو کی خو دامسئله همداسی لیکلی ده خو آیا عربی فتاوی او فقهی په کتابونو کی هم د احنافو په نزد د مسئلی همداشان کیدی تصریح، موجود ده. داتصریح خو موجود ده چی د ښځې په رضامندی او خوشدلی سره وطی د څلور میاشتو څخه زیاته مؤخر کولی سی، خو د دی څخه دامطلب رااېستل چی کوم سړی د خوانی ښځې څخه اجازت اخستل د کال دوه کالو او د زیات وخت د پاره د باندی تلل مشکل دی، بیاچیری یوه، نیمه واقعه داسی وی نو شاید چی په غیر معمول حالاتو باندی محمول سی، لیکن په موجوده دور کی په لویې پیمانی باندی د ملازمت، تعلیم

او تبلیغ د پاره داسی وتل د پوهی څخه بهر دی.

به هرحال که څه داسی حواله د جناب مولانا مدظله څخه حاصل کړئ او راوی یی لیږی نو لوی احسان به مووی.

د دی څخه ماسوا که داسی څه حواله موجوده وی نو بیابه د دی څه توجیه وی؟ چی حضرت عمر رضی الله عنه داحکم جاری کی چی مجاهدین دی د څلورو میاشتو څخه زیات د کور څخه د باندی نه پاته کیږی، او داحکم یی ولی ورنه کړی چی د څلورو میاشتو څخه د زیات وخت تیرولو د پاره د ښځو څخه اجازت واخلی او ځی.

ما د خپل اشکال خلاصه لیکلی ده، که په دی باره کی څه لار ښوونه میسرسی نوممنون به یو.

په اخرکی یووار بیاشکریه قبوله کړئ، د مولانا مدظله په خدمت کی سلام پیش کړئ.

والسلام علیکم.

مولانا ډاکټر عبدالواحد (جامعه مدنیه لاهور)

جواب: گرامی قدر مکرم

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط د مولانا عبدالله میمن په نامه باندی موصول سو او تاسو چی کوم ارخ ته زه متوجه کړی یم په هغی می فکر وکی، تاسو صحیح لیکلی دی چی د څلورو میاشتو څخه زیات د کور څخه بهر اوسیدلو د جواز د پاره د ښځې اجازت او خوشدلی کافی نه ده پکار، په دی مسئله کی د فقهاوو څه تصریح خو پیدانه سوه، ماسوا د درمختار د دی عبارت څخه چی:

ویسقط حقها بمرة ویجب دیانة احیانًا ولایبلغ مدة الایلأ الابرضاها.

د دی لاندی علامه شامی د فتح القدیر لاندینی عبارت نقل کړی دی.

ویجب ام لایبلغ به مدة الایلاء الا برضاها وطیب نفسهابه.

(درمختار مع شامی ج: ۳ ص: ۲۰۲) (۱)

خو دامسئله د جماع د حق سره متعلقه ده او په دی کی داتصریح ده چی ښځه په خپله رضامندی سره خپل داحق ترک کولی سی، خو داصحیح ده چی د مطلقی سفر په باره کی د فقهائی کرامو هیڅ تصریح د احقر د نظر څخه هم نه ده تیره سوی، خو د حضرت

(۱) (طبع سعید کراچی).

فاروق اعظم رضی الله عنه د واقعی څخه علی الاختلاف الروایات څلور میاشتی یا پنځه
میاشتی یا د شپږ میاشتو پوری په سفر باندی د پاته کیدلو اجازت معلومیږی خو ظاهر
همداده چی دا د ښځی د حق د وجی دی. او کله چی دا د هغی حق دی نو هغه د دی
دست برداره کیدلی هم سی. پاته سوه دامعامله چی حضرت فاروق اعظم دا ولی وند
وئیل چی د ښځو په اجازت سره سپاهیان د څلورو میاشتو څخه زیات په سفر باندی
لیږلی سی، خو د دی په باره کی دامعلومیږی چی حضرت فاروق اعظم رضی الله عنه نه د خپل
لښکر د سپاهیانو د پاره یوه ضابطه مقررول وو چی دوی څومره موده وروسته بیرته را
وغوښتل سی نو د دی د پاره هغوی علی الاطلاق څلور میاشتی مقرری کړی، چنانچی
د هغوی څخه دا الفاظ منقول دی:

لا احبس الجیش اکثر من هذا. (سنن بیهقی، کتاب السیر ج: ۹ ص: ۲۹) (۱)

او: فکتب عمر ان لاتحبس الجیوش فوق اربعة اشهر.

(مصنف عبد الرزاق ج: ۷ ص: ۱۵۱، ۱۵۲) (۲)

چونکی د سپاهیانو د پاره څه ناڅه مدت مقرر کول وو، نو ځکه حضرت عمر رضی الله عنه علی
الاطلاق څلور میاشتی وخت مقرر کی، او د دی تدقیق ضرورت یی ونه ګڼی چی د چا
ښځه د دی څخه د زیات وخت د پاره راضی ده او د چا ښځه راضی نه ده.

که چیری دا ټول تفصیل په هغه صورت کی وی چی کله د کور څخه د باندی پاته کیدلو
کی د څه فتنی خطره نه وی، او چیری چی د څه فتنی خطره وی هلته صرف د ښځی
اجازت د کور څخه د باندی پاته کیدلو د پاره کافی نه دی او د فتنی په دی دور کی د
دی طرز العمل بالکل حوصله افزائی پکار نه ده، ستاسو داوینا هم په ځای او صحیح
ده چی احیانا د ضرورت په مواقعو باندی اوږد سفر اختیارول بیله او جدا خبره ده. او
چونکی په داسی صورت کی د فتنی امکانات ډیر قوی کیږی نو ځکه د دی څخه احتراز
کول پکار دی. خلاصه داچی چیری د فتنی ظن (ګمان) غالب وی نو هلته خو د ښځی په
اجازت سره هم سفر اختیارول نه دی پکار او په دی کی د مودی هیڅ قید نسته، او
چیری چی ګمان غالب نه وی خو معتد به احتمال وی، هلته هم حتی الامکان د دی څخه
احتراز لازم دی چی د هغه حاصل دادی چی فقهاء کرامو د څلورو میاشتو کوم ذکر کړی

(۱) طبع نشر السنة ملتان
(۲) ناشر مجلس علمی

دی هغه د عوارضو څخه په قطع نظرکولو سره محض د ښځی د حق په بنیاد باندی
فرمائیل سوی دی، خو چیری چی د فتنی عوارض موجود وی هلته په دی تفصیل باندی
عمل پکار دی، کوم چی پورته عرض سو.

هذا ماظهرلی

والله سبحانه وتعالی اعلم

والسلام

محمد تقی عثمانی عفی عنه

(۹/۴/۱۴۱۴هـ) (۱)

(۱) دا فتوی د حضرت والادامت برکاتهم د جوابی خط څخه لیکل سویده.

کتاب الطلاق

د طلاق مسئلی

باب الایقاع الطلاق

د طلاق ورکولو او طلاق واقع کیدو بیان

د لیونتوب او خوب په حالت کی د طلاق حُکم

د نابالغه د طلاق حُکم

سوال: څه فرمایي علمائی کرام او مفتیان عظام د شریعت متین د دی مسئلی په باره کی؟ فتوی غواړم د حنفی فقهی په رڼاکی.

مسئله: که یوبالغ مسلمان د لیونتوب په حالت کی یاد پاګلتوب په حالت کی او یا د نشی په حالت کی، یا د خوب په حالت کی، یا د غصی په حالت کی یا په ټوکو او مذاق سره یا د دمګی ورکولو په انداز کی خپلی ښځی ته دری واره طلاق ورکوی نوآیا دا طلاق واقع کیږی او که نه؟ یاکه یوسړی مرګ ته نژدی وی او هغه د نزع په حالت کی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی نو آیا طلاق واقع کیږی او که نه؟

جواب: په پاګل توب او خوب په حالت کی طلاق نه واقع کیږی (۱) ورسره د نابالغه طلاق هم نه واقع کیږی (۲) باقی په ټولو صورتونو کی د حنفی فقهی په لحاظ سره طلاق کیږی.

والله سبحانه اعلم

---

(۱)...

(۲) وفی تنویر الابصار کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۴۲ لایقع طلاق المولی علی امراة عبدهِ والمجنون والصبی... والمدهوش. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۵۳ (طبع رشیدیه کویټه) ولایقع طلاق الصبی وان کان یعقل والمجنون والنائم والمبوسم والمعنی علیه والمدهوش... الخ. وفی البدایع ج: ۳ ص: ۱۰۰ ومنها لایکون معشوها ولامدهوشا ولامبرسما ولا معمی علیه ولانائما فلایقع طلاق هٰئولاء لما قلنا فی المجنون... الخ. وفی شرح وقایة ایقاع الطلاق ج: ۲ ص: ۲۳ (طبع سعید) لاطلاق صبی ومجنون ونائم وکذا فی البحر الرائق ج: ۳ ص: ۲۴۹ وفتح القدیر ج: ۳ ص: ۳۵۰ وفی فتح القدیر ج: ۳ ص ۳۴۳ ویقع طلاق کل زوج اذاکان عاقلاً بالغًا ولایقع طلاق الصبی والمجنون والنائم

۷/ ۴/ ۱۴۲۰ھ
(فتویٰ نمبر ۱۲/ ۳۷۳)

د مدهوش د طلاق حکم

سوال: زید د دوو شپو شوګیروو د نوکرۍ په سلسله کی د سخت محنت څخه فارغ شو، کله چې کورته راغی نو په کورکی د خپلی ښځی سره د ملاویدلو څخه مخکی څه خلګو (هم د کور) هغه سره په غوږ کی پسپسی وکی چې د هغه د ښځی خلاف وو، زید مشتغل شو او په بنده کمره کی یی په ښځی باندی رابانډی کړل، د زید د ښځی وهل و زید ورونو ولیدل، نو ورونو یی مداخلت وکی چې په هغه باندی زید نور هم مشتعل شو او د تکرار په حالت او د درد جنون په شان کیفیت کی یی د ورونو سره تکرار وکی او په همدی حالت کی خپلی ښځی ته د دری وارو څخه زیات طلاق ورکوی آیا د هغه د جنون او د درد په حالت کی ورکول سوی طلاق درست دی؟ زید دوی ګهینتی وروسته راویښ سو، نو د هغه حالت بدل وو او په خپل کار پریشانه نه بلکی ژاړی او وایی چې زما په دی لوی کارکی زما د دماغو دخل نسته، ماته علم نسته چې ماڅه وئیلی دی؟

جواب: د جواب تنقیح دبیاناتو څخه معلوم سول چې د طلاق په وخت د خاوند هوش او حواس بالکل معطل وو، او په خپله قابوکی نه وو، تردی چې هغه والدین هم ونه پیژندل، اوس که خاوند داحلیفه بیان ورکړی چې په کوم وخت هغه د طلاق الفاظ د ژبی څخه ایستلی وو، په هغه وخت هغه ته معلومه نه وه، چې هغه څه وایی او د دی نتائج به څه وی نو په صورت مسئوله کی طلاق نه واقع کیږی او د ده ښځه به بدستور د ده په نکاح کی وی. (فی الشامیة والذی یظهرلی ان کلاً من المدهوش والغضبان لایلزم فیه ان یکون بحیث لایعلم مایقول بل یکتفی فیه بغلبة الهذیان واختلاط الجد بالهزل کماهو المفتی به فی السکران علی مامرَ ولاینافیه تعریف الدَهش بذهاب العقل فان الجنون فنون. (شامی ج: ۳ ص: ۲۴۴ (طبع جدید) [۱]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

۵/ ۷/ ۱۳۹۱ھ

(۱) تحت مطلب فی طلاق المد هوش (طبع سعید)

(فتویٰ نمبر ۸۵۲/ ۲۲ ب)

د طلاق واقع کیدو د پاره د عدالت د تصدیقنامی ضرورت نسته

سوال: یوه انجلی چی هغی ته دری طلاقه ورکول سوی دی د هغی انجلی دوباره دواده کولو په صورت کی د عدالت څخه د کوم قسم سرټیفیکیټ ضرورت دی؟ چې طلاق کله په عدالت (Confirm) کی سوی وی څکه چې سابقه خاوند ۱۳/ ۱۰/ ۱۹۷۶ء کی چیرمین ته نوټس ورکولو سره طلاق ورکړی دی چې هغه خپلی ښځی ته طلاق ورکړی او طلاق دی یقینی (Confirm) سی، د عدالت څخه طلاق تراوسه پوری یقینی سوی نه دی او د پیښی تاریخ ۷/ ۲/ ۱۹۷۷ مقرر سوی دی.

جواب: طلاق واقع کیدل شرعًا د عدالت په تصدیق باندی موقوف نه دی، په کومه ورځ چې طلاق سوی دی د هغه څخه وروسته چې دری واره د حیض ورځی تیری سی، بیاچې ښځه چیری غواړی نکاح کولی سی.

والله سبحانه وتعالی اعلم

۱۳/ ۲/ ۱۳۹۷ھ

محض په زړه کی خیال راتلو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: عرض دادی چې زید د یوکتاب مطالعه وکړله چې په هغه کی د نکاح او طلاق مسئلی درج وی او زید واده سوی سړی دی هغه د دی په باره کی کافی محتاط سو احتیاط یی دومره زیات سو چې اکرام او سکون یی هم ختم سو، کله یی په زړه کی داخیال راځی که ځنبی می فلانی کار وکی نوطلاقه صرف خیال یی راځی په خُله څه نه وائی کله یی بل خیال راځی که مافلانی کار وکی نو ښځی ته می طلاق، بیاتوبه کوی او د خدای څخه مغفرت غواړی چې ای خدایه! زمازړه د دی خیالاتو څخه صفاکړی، عرض دادی چې قسم قسم خیالات د هغه په زړه کی راځی او توبه کاږی، بلکی بعضی اوقات یی داسی خیال هم راځی که توبه می وکاږله نو طلاق، بیایی توبه هم وکاږله او د خدای څخه یی مغفرت وغوښتی، جناب عالی په دی خیالاتو سره چې صرف په زړه کی دی او په خُله یی نه راوړی، د زید په نکاح کی څه فرق رانه لی؟ وړسره خدای ناخواسته که د زید په زړه کی داخیال پیداسی، که ښځی می ډوډی پخه کړله نو طلاق، او ښځی یی

دودي پخه کړله، نو آيا په دی سره په نکاح کی فرق راځي او که نه؟ زيد هروخت د خپل ذهن سره جنګ کوی چی د ده په ذهن کی داخيالات ولی پيداکيږي؟

جواب: محض په زړه کی خيال راتلو سره طلاق نه واقع کيږي ترڅو چی د طلاق الفاظ په ژبه باندی ونه وايي (۱) لهٰذا د زيد په زړه کی چی کوم خيالات راغلی دی په هغه سره د هغه په نکاح کی څه اثر نه دی پريوتلی مطمئن دی اوسی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۸/۷/۱۱هـ

(فتوی نمبر ۱۳۴۲/ ۳۹هـ)

د حمل په حالت کی طلاق واقع کيږي

سوال: زما او زما د ښځی په مينځ کی جنګ سوی وو او ماخپلی ښځی ته لفظ د طلاق په ليکلو سره ورکی چی هغه وخت زماښځه حامله وه، ستاسو څخه معلومول غواړم چی طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: د حمل په حالت کی هم طلاق واقع کيږي (۲) لهٰذا اطلاق واقع سو، کوم قسم طلاق واقع سو داخبره د طلاق په وخت کوم الفاظ چی تاخومره واره وئيلی دی هغه ليکلی راوليږه نو د هغه حکم به در وښوول سی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۱۵هـ

(فتوی نمبر ۹۵۴/ ۲۸ ج)

د رسمی طلاق ورکولو سره به هم طلاق واقع کيږي

سوال: مسمی عبدالله دوهم عقد کذبانو سره وکی، د واده څخه وروسته ناوی زلمی

---

(۱) وفی الدر المختار کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۳ (طبع سعيد) (وركنه لفظ مخصوص) وفی الشامية: (قوله وركنه لفظ مخصوص) هوماجعل دلالة علی معنی الطلاق من صريح اوكناية.... واراد اللفظ ولوحكما ليدخل الكتابة المستبينة واشارة الأخرس.... الخ. وفيه ايضاً ج: ۳ ص: ۲۴۷ (طبع سعيد) واراد بما اللفظ اومايقوم مقامه من الكتابة المستبينة او الاشارة المفهومة.... لان ركن الطلاق اللفظ اومايقومقامه مماذكر كمامرّ.

(۲) وفی الهداية كتاب الطلاق السنة ج:۲ ص: ۳۵۲ (طبع شركت علميه ملتان) وطلاق الحامل يجوز عقيب الجماع.

پخپل ځای پدری وساتله او خسرګنی کره داخل نه سوه ځکه چی د عبدالله د مخکنی ښځی وارثانو هغه ورټله او جبراً يی په عبدالله باندی طلاق ورکی يعنی د طلاق رسم يی پوره کی، زه (سائل) د هغه خواته ولاړم، هغه قسم واخستی چی مارسمی (رواجی) طلاق ورکړی وو، آيا داطلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات صحيح دی نو په کذبانو باندی طلاق واقع سوی دی (۱) او د طلاق څخه وروسته هغه ته دری واره حيض راغلی وی نو د هغی عده هم ختم سوه (۲) اوس چی چيری وغواړی نکاح کولی سی.

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۸هـ

(فتوی نمبر ۲۲۴/ ۱۰۹ - الف)

د ناپوهی او مفلسی د وجی ورکول سوی طلاق هم کيږي

سوال: زما زاده مسماة حسينه سره ۱۷/ اګست ۱۹۶۲ء کی وسو. کال يونيم کال څخه مخکی څه معمولی جګړی وسوی لږ د معاشی تنګسيا د وجی زما دماغ خراب سوی وو، او په دی مينځ کی بعضی احباب چی په دی عقد باندی خوشحاله نه وه. په مينځ کی سول او د جدائی په چکرکی پريوتل او مسماة مذکوره يی هم دوکه کړله، يوه ورځ مجبوره سوم، تاؤن کميټی ته يی سره د دوو شاهدانو په مخکی د دروطلاقو يوه طلاقنامه يی وليکله، زما څخه يی باندی دستخط واخستی، مسماة مذکوره هم مهر معاف کی، ما د ناپوهی او غريبی په وجه داحرکت وکی او مسماة هم د دی معاملی څخه خوشحاله نه وو خو د هغه خلګو د رعب د وجی چُپ پاته سوه د هغه وخت څخه

---

(۱) عن ابی هريره رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم: ثلاث جدهن جدّوهزلهن جدّ: النكاح والطلاق والرجعة (جامع الترمذی باب ماجاء فی الجد والهزل فی الطلاق ج: ۱ ص: ۲۲۵ (طبع سعيد). وكذافی ابی داؤد (باب فی الطلاق علی الهزل ج: ۱ ص: ۳۰۵ طبع حقانيه ملتان) وكذافی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۳۵ والبحر الرائق ج: ۳ ص: ۲۴۴).

(۲) وفی الدر المختار باب العدة ج: ۳ ص: ۵۲ (طبع سعيد) ومبدأ العدة بعد الطلاق وبعد الموت علی الفور وتنقضی العدة وان جعلت المراة بهما.

تراوسه پورې زه او هغه دواړه پریشانه یو، په قانوني طور باندې نه چیرمین زما ښځه بیان اخستې دې او نه یې د مسماة حسینه ښځه بیان اخستی دی. که بیان یې اخستی وي نو مونږ به ضرور انکار کوي، اوس مونږ د یوبل سره ملاویدوته تیاریو او د مسماة مذکورې څوک کفیل هم نشته اوس که څه صورت وي نو وي لیکي او احسان راباندې اوکړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کې په حسینه درې طلاقه واقع سول اوس هغه ستا د پاره بغیر د حِلالې ښځه نسي حلالیدی. (۱) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثماني عفی عنه

۱/ ۲/ ۱۳۸۸هـ

د خاوند د کور ښځه وتلې ښځې ته د طلاق ورکولو حُکم او د طلاق ورکولو صحیح طریقه

سوال: یوسړی دوهم واده د مخکې ښځې په رضامندی سره وکې، د دوهم واده ښځه یوکال وروسته اوله ښځه د پلار کره ولاړه خوابدې سوه، خاوند یې د بیرته راوستو ډیر کوشش وکې. خپلوان یې د جرګې په طور وراوستول خو بیرته رانغله اوس د دې واقعې پنځه کاله تیرسول، اوس که د هغې خاوند څه طلاق ورکړي نو څه حرج به وي؟

جواب: که په سوال کې درج سوي واقعات صحیح وي نو خاوند ته پکار دی چې اول دې په خپل طرز عمل باندې نظر وکړي، دادې وګوري چې د مخکې ښځې د تللو سبب څه بې انصافي خوبه نه وي؟ که څه ناانصافي وي نو هغه دې لرې کړي او د هغې د بیرته راوستلو کوشش دې وکړي که هغه بیاهم بیرته رانغله نو هغه دې په تحریري طور سره خبرداره سي چې که ته بیرته رانغلې نو تاته به طلاق درکړم که د دې باوجود هم هغه بیرته رانغله، نوبیا که طلاق ورکوی (۲) خودایاد ساتل پکار دي چې د طلاق ورکولو صحیح طریقه داده چې کله ښځه د حیض څخه پاکه وي نو هغې ته دې صرف یو طلاق

---

(۱) د حوالې د پاره د تیرې سوې صفحې دوهمه حاشیه او د صـ ۴۰۳ حاشیه نمبر ع ۲ وګورئ؟

(۲) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۴۴۱ (طبع سعید) السنة اذا وقع بین الزوجین اختلاف ان یجتمع اهلهما لیصلحوا بینهما فان لم یصطلحا جاز الطلاق والخلع..... الخ.

ورکړي او پریدې ښوول سي (۱) درې طلاقه په یووخت ورکول ګناه ده د عدې تیریدلو سره به هغه پخپله د نکاح څخه ووځي. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۹۵۴/ ۲۸ ج)

محض په وهم سره طلاق نه واقع کیږي

سوال: مسمی اکبرخان څلور کاله سوې دي چې واده یې کړی وو. کورنی تعلقات یې ډیرښه وه، ناګاه اکبرخان ته دوهم مرض لاحق سو چې ماخپلې ښځې ته طلاق بائن ورکړی دی او د امرض د اکبرخان د بیان مطابق تردې حده پورې دی، که د یوکار تصور په ذهن کې رالې او هغه یې ونه سو نو بیا داګنې چې د دې کار د نه کیدو په وجه به زما ښځې ته طلاق بائن اوسي. چنانچې د اکبرخان خسرګنۍ د دې رویې څخه تنګ سول او د اکبر خان ښځه یې خپل کور ته بوتله، اکبرخان وایي چې په شریعت کې زما په شان دوهم سړي د پاره د خلاصی قانون سته، ځکه چې د ښځې څخه جدائي هم برداشت نه ده. ځکه چې بال بچ داره یم، او په دې حالت کې داخوف هم وي چې د الله ﷻ په عذاب کې ګیرنسم. آیا که زه د طلاق حق خپلې منکوحې ته ورکړم نوشرعًا به جائز وي؟ د دې څخه علاوه که بل څه صورت وي چې په هغه سره دوهم او ګمان په صورت کې هم دې معتوب نه وي نو ارشاد وفرمایاست؟

جواب: که اکبرخان په ژبه باندې کلمه هم طلاق نه وي ورکړې نو د طلاق محض په وهم سره طلاق نه واقع کیږي (۳). اکبر خان ته پکار دی چې د زړه څخه وهم وباسي او په

---

(۱) ایضًا.

(۲) وفی مصنف ابن ابی شیبه ج: ۴ ص: ۵ عن ابراهیم قال: کان یستحبون ان یطلقها واحدة ثم یترکها حتی تحیض ثلاثة حیض. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۳۰ (طبع سعید) واقامه ثلاثة حسن واحسن وبدعی..... طلقة رجعیة فقط فی طهرلاوطئ فیه وترکها حتی تمضی عدتها احسن... الخ. وفی الهدایه ج: ۲ ص: ۳۵۴ (طبع شرکت علمیه ملتان فاحسن ان یطلق الرجل امرأته تطلیقة واحدة فی طهرلم یجامعها فیه ویترکها حتی تنقضی عدتها..... الخ.

(۳) وفی الدر المختار کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۳ (طبع سعید) (ورکنه لفظ مخصوصی) وفی الشامیه (قوله ورکنه لفظ مخصوص) هو ماجعل دلالة معنی الطلاق من صریح او کنایة... واراد اللفظ ولوحکما لیدخل الکتابة المستبینة واشارة الآخرس... الخ وفیه ایضًا ج: ۳ ص: ۲۴۷ (طبع سعید)

اطمینان سره خپله ښځه په کور کی وساتی او د هغی سره پاته کیږی او د خپل وهم علاج دی وکړی، د طلاق حق ښځی ته ورکولو سره ښځی ته د طلاق ورکولو حق خو ورکول کیږی (۱) خو د خاوند حق د طلاق څخه ختمیږی لهٰذا د مذکوره وجی سره د طلاق حق ښځی ته د ورکولو ضرورت نسته. د دی حل دوهم علاج کول دی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۴ھ

(فتوٰی نمبر ۵۴۵/ ۲۸ ب)

د مذاق، درد او حمل په حالت کی طلاق واقع کیږی د چا د طلاق واقعه یا شرعی حکم بیانولو سره طلاق نه کیږی

سوال: د دی څخه مخکی مایوه فتوٰی راغوښتی وه چی د هغه جواب ماته راکول سوی دی، دامعلومول دی که آینده ما په ژبه باندی د طلاق لفظ اداء کی برابره خبره ده که په درد کی وی یا په سنجیدگی کی، د دی په باره کی به دامعلومول وی چی: ۱: که ښځه حامله وی نو آیا طلاق کیدی سی؟

۲: که ذکرًا یا مذاقًا د طلاق لفظ د ژبی څخه اداء سی نو آیا هغه په دی مسئلی باندی صادق راځی؟

۳: ستاسو په جواب کی د دی جملی مطلب می په ذهن کی رانه لی لږ تصریح وکړی هغه جمله داده، که آینده په دریم وار زما د ژبی څخه د طلاق لفظ ووتی، برابره خبره ده که په درد کی وی او که په سنجیدگی کی په هرحالت کی به ستا ښځه په تاباندی طلاقه سی او دوباره نکاح هم بغیر د حلالی څخه نسی کیدی.

جواب: هوجی! د حمل په حالت کی هم طلاق واقع کیږی (۲).

واراد بما اللفظ او مایقوم مقامه من الکتابة المستبینة او الاشارة المفهومة..... لان رکن الطلاق اللفظ او مایقوم مقامه مماذکر کمامر.

(۱) وفی الدر المختار کتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج: ۳ ص: ۳۱۵ (طبع سعید) قال لها (اختاری او امرك بیدك) ینوی تفویض الطلاق او (طلقی نفسك) فلها ان تطلق فی مجلس علمها به الخ.

(۲) وفی الهدایة کتاب الطلاق. باب الطلاق السنة ج: ۲ ص: ۳۵۶ (طبع شرکت علمیه. ملتان) وطلاق الحامل یجوز عقیب الجماع.

۱: په ټوکو کی طلاق ورکولو سره هم طلاق واقع کیږی. (۱)

۲: د طلاق لفظ د ژبی څخه د وتلو سره مطلب دادی چی ته خپلی ښځی ته ووایی چی ماتاته طلاق درکی، یاتاته طلاق دی، یابل چاته ووایی، چی زمانبځی ته زما د اړخه طلاق دی، د دی مفهوم جملی که په درد کی ووئیل سی او که په ټوکو کی، او که په حالت د حمل کی په هرحال په دی سره طلاق واقع کیږی (۲). لهٰذا د داشان جلمو د ونیلو څخه احتیاط کول ضروری دی، هو! که د بل چاپه باره کی ته دانقل وکړی چی فلانی خپلی ښځی ته طلاق ورکړی دی (۳) یا د طلاق ورکولو په شریعت کی داحکم دی نو په دی سره طلاق نه واقع کیږی (۴).

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۲/۱۲/۱۴ھ

(فتوٰی نمبر ۲۷۹۴/ ۲۷ و)

---

(۱) ایضًا.

(۲) وعن ابی هوریرة رضی الله عنه قال: قال رسول الله ﷺ ثلاث جدهن جدٌ وهزلهن جدٌ: النکاح والطلاق والرجعة: (جامع الترمذی باب ماجاء فی الجد والهزل فی الطلاق ج: ۱ ص: ۲۲۵ طبع سعید) وابوداؤد باب فی الطلاق علی الهزل ج: ۱ ص: ۳۰۵. طبع حقانیه ملتان) وفی الدرالمختار کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۳۵، ۲۳۲ ویقع الطلاق کل زوج بالغ عاقل ولوعبدًا اومکرها اوهازلًا لایقصد حقیقه کلامه. وفی ایضًا ج: ۳ ص: ۲۴۲ بخلاف الهازل والاعب فانه یقع قضاء ودیانتًا لان الشارع جعل هزله به جدًا وفی البحر الرائق کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۴۴ ولم یشترط ان یکون جادا فیقع طلاق الهازل به والاعب للحدیث المعروف ثلاث جدهن جد والهزلهن جد..... الخ. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۵۳ وطلاق والاعب والهازل به واقع. وکذافی فتح القدیر ج: ۳ ص: ۳۴۴.

(۳) ایضًا.

(۴) وفی الشامیة کتاب الطلاق باب الصریح مطلب فی قول البحر ان الصریح یحتاج فی وقوعه دیانتًا الی النیة ج: ۳ ص: ۲۵۰ (طبع سعید) (قوله اولم ینوشیئًا) لمامر ان الصریح لایحتاج الی النیة ولکن لابدفی وقوعه قضاء ودیانةً من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالمًا بمعناه ولم یصرفه الی مایحتمله کما افاده فی الفتح وحققه فی النهر احترازًا عمالوکررا مسائل الطلاق بحضرتها او کتب ناقلاً من کتاب امرأتی طالق مع التلفظ اوحکی یمین غیره فانه لایقع اصلاً مالم یقصد زوجته..... الخ (محمد زبیر حقنواز)

غیرمحرم سره سفرکوونکی د نافرمانی ښځی اصلاح او هغی ته د طلاق ورکولو حُکم او طریقه

سوال: د زید ښځی وویل چی زمامور او پلار ناجوړه دی ما د ملاقات د پاره کراچی ته ولیږه، څه ورځی وروسته یی بیا ووئیل زما مینځی ورور پرمټ جوړ کی او راوی لیږی. تاسو ماته خرچه راکړی، سیټونه بُک کړی او موږ سواره کی چنانچی زید خرچه ورکړله او سیټونه یی بُک کړل او سواره یی کړل، هغه کراچی ته راغله د کراچی څخه د یوغیرمحرم سره عراق ته د تفریح د پاره ولاړه بیا د هم هغه غیر محرم سره بمبی ته د تفریح د پاره ولاړه او تقریباً یوه میاشت وروسته کراچی ته راله، د دی څخه وروسته زید هم کراچی رالی. ټول برنی حالات ورته معلوم سول، د هغی مینځمی ورور د انډیا پرمټ جوړکړی وو، او رالیږلی یی وو، په هغه کی یی هغه کنډه ښکاره کړی وه او هغه پخپله هم ځان کنډه شکاره کوی، د زید څه میلمانه د لاهور څخه راغلی وه. زید غیرمحرم وګټل نوځانته کمره یی ورکړله، دوی دری ورځی دوی هلته اوسید. یوه ورځ زید د شپی کمری ته ولاړی نو وی لیدل چی په تخت باندی مخامخ غیر محرم او د زید دوکه بازی ښځی کمبل اغوستی ناست دی او خبری اتری کوی، تخت صرف دومره اوږد دی چی کله غیر محرم پښی غزوی د هغه په شرمګاه سره پاته کیدی.

دوی ورځی وروسته میلمه ولاړی نو زید خپلی ښځی ته بدرد ووئیل، هغه د قرآن قسم واخستی، حالانکی د زید د مخ واقعه وه، شرعًا د دی حکم صادر کړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کی که د سائل بیان صحیح نو د زید ښځی د سختی ګناه ارتکاب کړی دی هغی ته فوراً توبه کاړل پکار دی او د خپل خاوند څخه معافی غوښتل پکار دی خاوند ته پکاردی چی هغه خپله ښځه اول په نرمی سره په خپلو غلطیانو باندی پوه کړی که نه یی منی نو د هغه څخه دی جلا بیده کیږی که په دی سره هم سمی لاری ته رانغله نو د تأدیب د پاره د دومره وهلو اجازت سته چی د په هغه سره نښان جوړنسی (۱). که د دی باوجود اصلاح اونسی نو د فریقینو اهل خاندان دی جمع کړی او د خرابیانو اصلاح دی وکړی که بیاهم اصلاح اونسی نوکه خاوند داسی ښځه نه

(۱) وَاللاَّتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ. الآیه سورة النساء: ۳۴. دتفصیل د پاره وګوری معارف القرآن. نافرمانه ښځه او د هغی د اصلاح طریق ج: ۲ ص: ۳۹۹.

ساتی نو طلاق دی ورکړی (۱) خودری طلاقه ورکول په یوه وخت جائز نه وی (۲) د دی څخه پرهیز اوکړئ. هکذا امرنا الله تعالی فی القرآن الکریم ورسول الله ﷺ فی الاحادیث الکثیرة المعروفة.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۷/۹ھ
(فتوی نمبر ۲۸/۷۲۲ ب)

د خلکو طلاق ورکولو باندی برانګیخته کول او بلاوجه د طلاق ورکولو حُکم

سوال: د انجلی مور او پلار خپله لور د پیسو ګټلو په خاطر خلګوته ورکوی نکاح په شرعی طور باندی جائز وی، دانجلی راخلاصولو د پاره برانګیخته کوی او غلط بیان باندی ورکوی چی د دی دروغو بیانونو سره انجلی را آزاده سی. د انجلی والدینو څنګه چی د مخکی دوو خاندانونو ته طلاق حاصل کړی دی، د دریم خاوند څخه هم طلاق غواړی او خاوند د خپلی ښځی په پریښوولو باندی تیار نه دی د خپل ځان د پاره د پیسو ګټلو په خاطر د مظلومو انجونو سره داکاروبار چلوی. په دی حالاتو کی د قرآن او سنت په رڼا کی د ښار قاضی، چیرمین ته، د انجلی والدینوته او انجلی ته د سزاورکولو حق سته او که نه؟

(۱) وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا. (سوره النساء: ۳۵) وفی رد المختار باب الخلع ج: ۳ ص: ۴۴۱ (طبع سعید) السنة اذا وقع بین الزوجین اختلاف ان یجتمع اهلهما لیصحلوا بینهما فان لم یصطلحا جاز الطلاق والخلع. وفی الدر المختار ج ۲ ص: ۵۰ (طبع سعید) الا اذاخافا ان لایقیما حدود الله فلابأس ان یتفرقا. وفی رد المختار لان التفریق حینئذ مندوب بقرینة قوله فلابأس لکن سیأتی اول الطلاق انه یستحب لومؤذیة او تارکة صلوة ویجب لوفاة الامساك بالمعروف.

(۲) وفی سنن النسائی کتاب الطلاق ج: ۲ ص: ۹۹ (طبع قدیمی کتب خانه کراچی) اخبر رسول الله ﷺ ان رجل طلق امرأته ثلاث تطلیقات جمیعا فقام غضبانًا ثم قال: ایلعبُ بکتاب الله وانابین اظهرکم؟ حتی قام رجل وقال: یارسول الله! الا اقتله؟ وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الاول ج: ۱ ص: ۳۴۹... ان یطلقها ثلاثا فی طهرواحد بکلمة واحدة او بکلمات متفرقة... فاذا فعل ذالك وقع الطلاق وکان عاصیاً... الخ

د نافرمانی ښځی اصلاح او غیرمحرم سره سفرکوونکی ښځی ته د طلاق ورکولو حُکم او طریقه

سوال: د زید ښځی وویل چی زمامور او پلار ناجوړه دی ما د ملاقات د پاره کراچی ته ولیږه، څه ورځی وروسته یی بیا ووئیل زما مینځی ورور پرمټ جوړ کی او راوی لیږی. تاسو ماته خرچه راکړی، سیټونه بُک کړی او موږ سواره کی چنانچی زید خرچه ورکړله او سیټونه یی بُک کړل او سواره یی کړل. هغه کراچی ته راغله د کراچی څخه د یوغیرمحرم سره عراق ته د تفریح د پاره ولاړه بیا د هم هغه غیر محرم سره بمبی ته د تفریح د پاره ولاړه او تقریبًا یوه میاشت وروسته کراچی ته راله، د دی څخه وروسته زید هم کراچی رالی، ټول برنی حالات ورته معلوم سول، د هغی مینځمی ورور د انډیا پرمټ جوړکړی وو، او رالیږلی یی وو، په هغه کی یی هغه کنډه ښکاره کړی وه او هغه پخپله هم ځان کنډه شکاره کوی، د زید څه میلمانه د لاهور څخه راغلی وه. زید غیرمحرم وګڼل نوځانته کمره یی ورکړله، دوی دری ورځی دوی هلته اوسید، یوه ورځ زید د شپی کمری ته ولاړی نو وی لیدل چی په تخت باندی مخامخ غیر محرم او د زید دوکه بازی ښځی کمبل اغوستی ناست دی او خبری اتری کوی، تخت صرف دومره اوږد دی چی کله غیر محرم پښی غزوی د هغه په شرمګاه سره پاته کیدی.

دوی ورځی وروسته میلمه ولاړی نو زید خپلی ښځی ته بدرد ووئیل، هغه د قرآن قسم واخستی، حالانکی د زید د مخ واقعه وه، شرعًا د دی حکم صادر کړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کی که د سائل بیان صحیح نو د زید ښځی د سختی ګناه ارتکاب کړی دی هغی ته فوراً توبه کاول پکار دی او د خپل خاوند څخه معافی غوښتل پکار دی خاوند ته پکاردی چی هغه خپله ښځه اول په نرمی سره په خپلو غلطیانو باندی پوه کړی که نه یی منی نو د هغه څخه دی جلا بیده کیږی که په دی سره هم سمی لاری ته رانغله نو د تأدیب د پاره د دومره وهلو اجازت سته چی د په هغه سره نښان جوړنسی (۱). که د دی باوجود اصلاح اونسی نو د فریقینو اهل خاندان دی جمع کړی او د خرابیانو اصلاح دی وکړی که بیاهم اصلاح اونسی نوکه خاوند داسی ښځه نه

(۱) وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ. الأیه سورة النساء: ۳۴. دتفصیل د پاره وګوری معارف القرآن نافرمانه ښځه او د هغی د اصلاح طریق ج: ۲ ص: ۳۹۹.

...ساتی نو طلاق دی ورکړی (۱) خودری طلاقه ورکول په یوه وخت جائز نه وی (۲) د ...څخه پرهیز اوکړئ. هکذا امرنا الله تعالی فی القرآن الکریم ورسول الله ﷺ الاحادیث الکثیرة المعروفة.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۷۲۲/ ۲۸ ب)

د خلکو طلاق ورکولو باندی برانګیخته کول او بلاوجه د طلاق ورکولو حُکم

سوال: د انجلی مور او پلار خپله لور د پیسو ګټلو په خاطر خلګوته ورکوی نکاح ... شرعی طور باندی جائز وی، دانجلی راخلاصولو د پاره برانګیخته کوی او غلط ... باندی ورکوی چی د دی دروغو بیانونو سره انجلی را آزاده سی. د انجلی والدینو څخ... چی د مخکی دوو خاندانونو ته طلاق حاصل کړی دی، د دریم خاوند څخه هم طلا... غواړی او خاوند د خپلی ښځی په پرېښوولو باندی تیار نه دی د خپل ځان د پاره ... پیسو ګټلو په خاطر د مظلومو انجونو سره داکاروبار چلوی. په دی حالاتو کی د قر... او سنت په رڼا کی د ښار قاضی، چیرمین ته، د انجلی والدینوته او انجلی ته ... سزاورکولو حق سته او که نه؟

(۱) وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللَّهُ بَيْنَهُمَا. (سو... النسآء: ۳۵) وفی رد المختار باب الخلع ج: ۳ ص: ۴۴۱ (طبع سعید) السنة اذا وقع بین الزوج... اختلاف ان یجتمع اهلهما لیصلحوا بینهما فان لم یصطلحا جاز الطلاق والخلع. وفی الدر المختار ... ۲ ص: ۵۰ (طبع سعید) الا اذاخافا ان لایقیما حدود الله فلابأس ان یتفرقا. وفی رد المختار ... التفریق حینئذ مندوب بقرینة قوله فلابأس لکن سیأتی اول الطلاق انه یستحب لومؤذیة او تار... صلوة ویجب لوفاة الامساك بالمعروف.

(۲) وفی سنن النسائی کتاب الطلاق ج: ۲ ص: ۹۹ (طبع قدیمی کتب خانه کراچی) اخبر رسول ... ﷺ ان رجل طلق امرأته ثلاث تطلیقات جمیعا ... ثم قال: أیلعب بکتاب ... اظهرکم؟ حتی قام رجل وقال: یارسول الله ... ۳۴۹ ... ان یطلقها ثلاثا فی طهرواحد ... وکان عاصیًا ... الخ.

جواب: ترڅو چې خاوند پخپله طلاق ورنکړی ترهغه به هغه د هغه ښځه وی. او خاوند ته پکاردی چې د خلګو په بی بنیاده خبرو کی راتلو سره دی خپلی ښځی ته طلاق نه ورکوی (۱). او کوم خلګ چې هسې په هسی خاوند په طلاق ورکولو باندی آماده کوی هغوی ګناهګار دی، که څوك شرعی قاضی وی نو داسی خلګوته تعزیرآ سزاهم ورکولی سی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۱/۱۲/۳ھ

(فتوی نمبر ۱۸۰۹/ ۳۲ ج)

د مُکره د طلاق حُکم

سوال: د مکره طلاق په باره کی زید وائی چې نه واقع کیږی.او په دلیل کی د مشکوٰة حدیث (لاطلاق ولاعتاق فی اغلاق) (۲) پیش کوی، د احنافو په نزد مکره طلاق واقع کیږی، نو د احنافو په نزد کوم حدیث دلیل دی؟

جواب: د احنافو په نزد مکره طلاق واقع کیږی. د احنافو دلائل په لاندی ډول دی:

حدیث مبارك:

الف: قوله ﷺ ثلاث جدهن جد وهزلهن جد النکاح والطلاق والرجعة، اخرجه الترمذی وقال حسن غریب (۳) وقد اخرج الجصاص فی احکام القرآن عن سعید بن المسیٔب عن عمر قال: اربع واجبات علی کل من تکلم بِهِنَّ العتاق والطلاق والنکاح والنذر.

د دی احادیثو څخه معلومه سول چې محض تلفظ د طلاق د طلاق د واقع کیدلو موجب

(۱) وفی سنن ابی داؤد کتاب الطلاق باب فی کراهیة الطلاق ج: ۱ ص: ۲۹۶ (طبع سعید) عن محارب قال: قال رسول الله ﷺ: ما احل الله شیئًا ابغض الیه من الطلاق (وبعده) عن ابن عمر عن النبی ﷺ قال: ابغض الحلال الی الله عزوجل الطلاق. وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۲۲۸ (طبع سعید) واما الطلاق فان الاصل فیه الحظر بمعنی انه محظورا الاعارض یبیحه وهو معنی قولهم الاصل فیه الحظر والاباحة للحاجة الی الاخلاص فاذاکان بلاسبب اصلا لم یکن فیه حاجة الی الاخلاص بل یکون عمقا وسفاهة رای ومجرد کفر ان النعمة واخلاص الایذاء بها وباهلها واولادها..... فحیث تجرد من الحاجة المبیحة له شرعًا یبقی علی اصله من الحظر..... الخ.

(۲) سنن ابی داؤد ج: ۱ ص: ۳۰۵ (طبع مکتبه حقانیه ملتان).

(۳) جامع الترمذی باب ماجاء فی الجد والهزل فی الطلاق ج: ۱ ص: ۲۲۵ (طبع سعید) وابوداؤد باب فی الطلاق علی الهزل ج: ۱ ص: ۳۰۵ (طبع حقانیه ملتان).

دی که څه هم نیت او اراده یی د طلاق د واقع کیدلو نه وی او په اکراه کی هم داصورت وی.

ب: عن صفوان بن عمران الطائی انّ رجلا کان نائمًا فقامت امراته فاخذت سکینًا فجلست علی صدره فقالت: لتطلقَنِی ثلاثًا اولاذبحنّك. فطلّقها ثم أتی النبی ﷺ فذکره له ذالك. فقال: لاقبلولة فی الطلاق اخرجه الامام محمد والعقیلی. (مرقاة المفاتیح ج: ۶ ص: ۲۸۸) (۱)

او علامه ظفر احمد عثمانی رحمة الله علیه په اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۲۵ (۲) کی په دی خبره دلائل ورکړی دی چې داحدیث سندًا د استدلال قابل دی.

ج: په مصنف عبد الرزاق کی د حضرت عبد الله بن عمر رضی الله عنه څخه مروی دی چې هغه به د مکره طلاق واقع ګرځولو. او همدا مذهب په مصنف عبد الرزاق کی د امام شعبی رحمه الله. امام نخعی رحمه الله د حضرت قتاده رضی الله عنه او د حضرت ابوقلابه رضی الله عنه څخه هم مروی دی (۳) او د حضرت ابوداؤد رحمه الله حدیث (لاطلاق ولاعتاق فی اغلاق) توجیه احناف حضرات داسی کوی چې د (اعلاق) لفظ د اکراه په معنٰی کی صریح نه دی. بلکی د دی معنٰی د عقل د غلبی هم ده لهٰذا د دی مطلب دادی چې د مغلوب العقل کیدلو په حالت کی طلاق نه واقع کیږی (۴)، اوکه بالفرض د اکراه په معنٰی کی واخستل سی نو د مصنف عبد الرزاق د یوروایت څخه د دی منسوخ کیدل په ذهن کی راځی (۵) او هغه روایت دادی:

(۱) د دی الفاظو سره د اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۷۷! (طبع ادارة القرآن) کی نقل سوی دی د یوڅو الفاظو په بدلون سره. مرقاة المفاتیح ج: ۶ ص: ۲۸۸ (طبع مکتبه امدادیه ملتان) او لسان المیزان ج: ۴ ص: ۱۲۴ او نصب الرایه ج: ۳ ص: ۲۲۲ کی هم ذکرسوی دی.

(۲) وګوری اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۷۷ (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۳) وګوری مصنف عبد الرزاق ج: ۶ ص: ۴۰۲ الی ۴۱۱ (طبع مجلس علمی) او اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۷۷) او سنن ابی داؤد ج: ۱ ص: ۳۰۵.

(۴) وګوری د اغلاق د معنٰی توجیه او د هغه په معنٰی کی د مختلفو احتمالاتو تفصیل (اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۸۰ (طبع ادارة القرآن کراچی).

(۵) وفی حاشیه اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۷۸ (طبع ادارة القرآن کراچی، قال الشیخ العثمانی رحمه الله علیه، قلت وعلی هذا فحدیث عائشة رضی الله تعالیٰ عنها (لاطلاق ول اعتاق فی اعلاق) منسوخ ولعله کان قبل الهجرة.

(عن سعید بن جبیر انه بلغه قول الحسن لیس طلاق المکره بشیئ. فقال: یرحمه الله انماکان اهل الشرك یکرهون الرجل علی الکفر والطلاق، فذالك الذی لیس بشئی واما ماصنع اهل الاسلام بینهم فهوجائز. حکاه الزیلعی فی نصب الرایة والحافظ فی الدرایة وسکتا علیه. (راجع اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۲۵) ([1])

والله سبحانه اعلم

۷/ ۹/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۹۲۴/ ۲۸ ج)

نافرمانی ښځی ته د طلاق ورکولو حکم او د طلاق ورکولو صحیح طریقه

سوال: یونیك او دینداره مسلمان شپږ کاله مخکی د یوی ښځی سره واده وکی د هغی ښځه یی دوه بچی دی مذکوره ښځه د واده ښځه وروسته څو ورځی لمونځ کوی. کله چی یی ماشوم پیداسو نو لمونځ کول یی پریښوول او بی پردی یی بازار ته تلل شروع کړل، د خاوند نافرمانی یی شروع کړله، د هغه حکم یی نه منی. سړی ورته د لمانځه متعلق وایی د پردی ورته وایی، خو ښځه یی نه منی، په فارغ وختونو کی د قرآن د تلاوت کولو ورته وایی او خاوند ورته وایی چی د څه شی ضرورت وی هغه به زه راوړم او درکوم به یی خوبی پردی کیږه مه، د الله او د الله د رسول د دین مطابق چلیږه خو هغه نه پوهیږی اوس سړی غواړی چی بل واده وکړی او دغه ښځی ته طلاق ورکړی خو دا ښځه نه طلاق اخلی او نه طلاق منظور کوی، خلګ وایی چی د ماشومانو ژوند به خراب سی څه حکم دی؟

جواب: ښځی ته د طلاق ورکولو په حدیث کی (ابغض المباح) ([2]) وئیل سوی دی یعنی په مباحاتو کی داشی اله ﷺ ته ډیر ناخوښه دی، لهذا حتی الامکان د دی خبری کوشش پکار دی چی منکوحی ښځی ته طلاق ورنکړی سی. د قرآنکریم حکم دادی: چی که ښځه نافرمانی کوی نو اول یی په نرمی باندی پوه کړه. که منع نسی نو د خپل خوب ځای څنی جلاکړه، که په دی سره هم په هغه څه اثر اونسی نو د تأدیب د پاره په

([1]) وګورد اعلاء السنن ج: ۱۱ ص: ۱۷۷، ۱۷۸ (طبع ادارة القرآن کراچی)

([2]) وفی سنن ابی داؤد کتاب الطلاق باب فی کراهیة ج: ۱ ص: ۲۹۲ (طبع سعید) عن محارب قال: قال رسول الله ﷺ: ما احل الله شیئًا ابغض الیه من الطلاق (وبعده) عن ابن عمر ﷺ عن النبی ﷺ قال: ابغض الحلال الی الله عز وجل الطلاق.

مزه مزه د وهلوهم اجازت سته، ([1]) (خو تکلیف رسوونکی وهلو ښځه په حدیث کی ممانعت سوی دی) که په دی سره هم کار اونسی نو د خاوند او ښځی د خپلوانو څخه یویوسړی په مینځ کی راتلو سره دی د جنګ تصفیه وکړی، په قرآن مجید کی دی: که فریقین اصلاح کول غواړی نو الله ﷻ به د دواړو د خیر صورت پیداکړی ([2]). لهذا د طلاق ورکولو څخه مخکی اول د اصلاح د پاره داټول کارونه کول ضروری دی که په دی سره اصلاح اوسی نو د طلاق اقدام کول پکار نه دی، خو که د اصلاح هیڅ امید باقی پاته نسی نو په هرحال شریعت سړی ته د طلاق ورکولو اختیار ورکړی دی. ([3]) او د بچو د وجی دا اختیار نه ساقطیږی، خو د بچو عام مصلحت هم په دی کی دی چی طلاق ورنه کول سی لهذا د طلاق اقدام د سختی مجبوری څخه بغیر نه دی کول پکار او که د طلاق ورکولو عزم وکړی نو ښه طریقه داده چی په کوم طهرکی چی د ښځی سره یی جماع نه وی کړی په هغه کی دی صرف یوطلاق ورکول سی ([4]) د عدی تیریدو څخه وروسته به پخپله د نکاح څخه وځی. ([5]) او دوهم واده شرعا جائز دی، خو د اولی ښځی په موجودګی کی د دوهم واده د جواز د پاره شرط دادی چی انسان ته په خپل ځان پوره اعتماد وی چی زه به د دواړو ښځو په مینځ کی په هراعتبار سره مکمل د برابری سلوك او انصاف اوسم، که د بی انصافی لړ غوندی خطره هم وی نو بیاشرعًا دوهمه نکاح جائز نه ده خو نن صبا د ښځو په مینځ کی د برابری سلوك ډیر مشکل وی خو ځکه د دوهم واده اقدام هم د ډیرسخت ضرورت په موقع باندی کول پکار دی هو! که اولی ښځی ته

([1]) وَاللَّاتِي تَخَافُونَ نُشُوزَهُنَّ فَعِظُوهُنَّ وَاهْجُرُوهُنَّ فِي الْمَضَاجِعِ وَاضْرِبُوهُنَّ. (الأیه سورة النساء: ۳۴) د تفصیل د پاره وګوری تفسیر معارف القرآن، نافرمانه ښځه او د هغی د اصلاح طریقه ج: ۲ ص: ۳۹۹.

([2]) وَإِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوا حَكَمًا مِنْ أَهْلِهِ وَحَكَمًا مِنْ أَهْلِهَا إِنْ يُرِيدَا إِصْلَاحًا يُوَفِّقِ اللهُ بَيْنَهُمَا. الأیه (سورة النساء: ۳۵).

([3]) ایضًا.

([4]) وګوری سابقه حواله صـ ۳۷۴ حاشیه ۲. ۳.

([5]) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۷ ومکروها لخوف الجور فان تیقنه حرك ذالك، وفی ردالمختار تحته: قوله ومکروها ای تحریمًا بحر (قوله فان تیقنه) ای تیقن الجور حرم لان النکاح انما شرع لمصلحة، تحصین النفس وتحصیل الثواب. وبالجور یأثم ویرتکب المحرمات فتخدم لمصالح لرجحان هذه المفاسد بحر..... الخ.

طلاق ورکړی او دوهمه نکاح وکړی نو داجائزده او د ماشومانو د وجی د دی اجازت نه ختمیږی.

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۲/ ۱۳۹۷هـ
(فتوٰی نمبر ۲۲۷/ ۲۸ ب)

محض خیال راتلو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علمائی کرام او مفتیان د شرع متین د دی مسئلی په باره کی چی زید ته د شپږو میاشتو څخه د وهم او وسوسی بیماری ده، او هغه داده چی زید ته د شپږو میاشتو څخه زیات د طلاق وهم او وسوسه کیږی اکثره ورته په غیر ارادی طور باندی د طلاق وهم راځی د توجه اخوا دیخوا کولو څخه وروسته بیا ناڅاپه همدغه د طلاق د وهم غیر اختیاری سوچ ورته راځی، او په دی کی دومره شدت وی چی د خبرو کولو په وخت کی داسی محسوسیږی چی د طلاق الفاظ را اوځی حالانکی د زید قطعا داشان اراده نسته، اوس هم په دی حالت کی یووار ناڅاپه په غیر ارادی طور سره د مسلط خیال د وجی د طلاق تلفظ کیږی، فوراً زید کلمه وایی چی داسی خو نسی کیدی، د مهرباندی د مخه وفرمایی چی څه خوبه نه واقع کیږی، مهربانی د مخه به داهم راته وښایی چی د دی وهم علاج او د دی څخه د بچ کیدلو څه طریقه ده؟ اکثره او پیشتر هم د دی وسوسی تسلط وی.

جواب: که په سوال کی بیان سوی واقعات درست وی، نو داخبره په ذهن کی ساتل پکار دی چی محض د طلاق خیال راتلو سره طلاق نه واقع کیږی (۱)، د همدی خیال په دوران کی که څه لفظ هم داشان د ژبی څخه را اوځی چی هغه پخپله ویونکی هم وانه اوری نو په دی سره طلاق نه کیږی او که الفاظ داشان د ژبی څخه ووتی چی په یقینی طور باندی یی پخپله هم واوریدل نو په دی صورت کی د مسئلی بیا پوښتنه وکړه او د پوښتنی په وخت هغه الفاظ ولیکه چی په ژبی سره اداء سوی دی او هغه دی پخپله اوریدلی دی، ورسره داهم ولیکه چی داشان الفاظ هم غیر اختیاری طور سره د ژبی

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۳۰ (طبع سعید) (ورکنه لفظ مخصوص) وفی الشامیة تحته هو ماجعل دلالة علی معنی الطلاق من صریح او کنایة... واراد اللفظ ولوحکما لیدخل الکتابة المستبینة واشارة الاخرس..... الخ. همدارنګه وګوری تیره سوی فتوٰی صـ ۳۷۱ حاشیه نمبر ۱

څخه وځی او که نه؟ او دوهم د بیماری د لری کولو د پاره کوم طبیب یا ډاکټرته رجوع وکړه.

والله سبحانه اعلم
۲۶/ ۳/ ۱۴۲۳هـ
(فتوٰی نمبر ۹۷/ ۵۴۳)

د نشی په حالت کی د طلاق حُکم

سوال: د شرع محمدﷺ د مخه یو سړی غلام مصطفٰی په نوم واده وکی او ښځه یی نه میاشتی وساتله بیایی د والدینو په مخکی ووئیل چی ما ښځه پریښوولہ طلاق می ورکی، زه یی نه ساتم والدین وایی، چونکی زموږ هلك د چرسو وغیره د نشی عادی دی، موږ وګڼل چی داهرڅه د بکواس په شکل کی هغه ووئیل: خو هغه د دوومیاشتو څخه ښځی ته رجوع نه کوی او خپل سامان یی خرڅ کی او چیری د باندی وتلی دی د دوو کالو څخه غیب دی، د بهرتلو په وخت کی داسی معلومیدل چی د هغه دماغی توازن خراب دی اوس د هغه ښځه د والدینو د وینا مطابق مطلقه ده او په بل ځای کی دانکاح کولی سی؟ مهربانی وکړی او د مسئلی وضاحت وکړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کی که د هغه غلام مصطفٰی د خپلی ښځی په باره کی هغه الفاظ ووئیل چی په سوال کی مذکور دی او هغه په هغه وخت لیونی نه وو که څه هم په نشی کی وی (۱) او د هغه په ښځی باندی طلاق واقع سوی (۲) دی او د کوم وخت څخه چی خاوند هغه الفاظ وئیلی دی د هغه څخه وروسته دری واره حیض کیدو باندی د ښځی عده پوره سوه، په هرصورت د عدی پوره کیدلو څخه وروسته مذکوره ښځه په بل ځای کی نکاح کولی سی.

والله سبحانه اعلم

(۱) ایضاً.

(۲) وفیه الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۳۹ (طبع سعید) او سکران ولوبنبیذ او حشیش او افیون او بنج زجرابه یفتی تصحیح القدوری... الخ. وفی الهندیة کتاب الطلاق فصل فی من یقع طلاقه وفیمن لایقع طلاقه ج: ۱ ص: ۳۵۳ (طبع ماجدیه) وطلاق سکران واقع اذا سکر من الخمرا والنبیذ. وهومذهب اصحابنا رحمهم الله تعالی کذا فی المحیط. ومن سکر من البنج یقع طلاقه ویحد لفشو هذا الفعل بین الناس وعلیه الفتوٰی فی زماننا... الخ.

۲۸/ ۲/ ۱۳۹۸ھ

(فتوی نمبر ۷۱۰/ ۲۹ ب)

په زبردستی د طلاق الفاظ وئیلو سره هم طلاق واقع کیږی

سوال: څه فرمائی علمائی کرام او مفتیان د شرع متین د دی مسئلی په باره کی چی فتوی غواړم؟

مسئله: جناب مفتی صاحب! تاسو زما د درخواست مؤرخه ۳۰/ ۲/ ۱۹۹۹ په شاه باندی لیکلی وو چی زه د فقه حنفی په رڼاکی د طلاق په باره کی پوښتنه کول غواړم که په زبردستی د طلاق په باره کی وربانددی ووئیل سی نو د فقه حنفی د اړخه طلاق کیږی. مفتی صاحب! زه د فقه حنفی په دی خبری سره متفق نه یم، ځکه چی د خاوند غریب څه قصور دی په هغه باندی خو په زبردستی سره د طلاق الفاظ وئیل سوی دی. زما د علم مطابق د فقه شافعی، فقه مالکی، فقه حنبلی او د فقه جعفری والا فقهاوو هم نیک او متقی خلګ وه، په دی کی د هری فقهی د اړخه په زبردستی د طلاق الفاظ د خاوند په ژبه باندی وئیلی سی نو طلاق نه واقع کیږی، نوکه یو حنفی مسلمان لکه چی زه یم هغه متعلقه فقه یابرنی مذکوره فقهاء د دی مسئلی سره اتفاق وکړی چی په ژبه باندی په زبردستی سره د طلاق الفاظ وئیلو باندی طلاق واقع ونه ګڼی. نو آیا د یو حنفی مسلمان د پاره اسلام داسی دین نه دی چی په هغه کی یوه ذره هم ظلم وی. لهذا زه بالکل د دی خبری سره متفق نه یم، تاسو وضاحت اوکړئ؟

جواب: تاسو د فقه حنفی مطابق جواب غوښتی وو، د فقه حنفی مطابق د دار الافتاء څخه چی کوم جواب درکول سوی دی هغه صحیح دی په فقه حنفی کی په زبردستی د طلاق الفاظ وئیلو سره هم طلاق واقع کیږی (۱).

والله سبحانه اعلم

۷/ ۴/ ۱۴۲۰ھ

(فتوی نمبر ۱۳/ ۳۷۳)

(۱) وفی الدر المختار مع رد المختار، کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۳۵ (طبع سعید) ویقع طلاق کل زوج بالغ عاقل ولوعبداً او مکرها فان طلاقه صحیح.... الخ. وفی الهندیة: ج: ۱ ص: ۳۵۳ (طبع ماجدیه) یقع طلاق کل زوج اذاکان بالغاً، عاقلاً سواء کان حراً او عبداً طائعًا او مکرهًا.

د واده څخه مخکی زناکولو څخه وروسته توبه کوونکی ښځی ته د طلاق ورکولو حُکم

سوال: یوه انجلی چی د ډیر شریف او لوی خاندان سره تعلق لری نیک سیرته او د لمانځه او روژی پابنده ده د یوهمداسی هلك سره یی واده اوسو د شلو کالو په عمرکی، دری میاشتی یی په خوشحالی سره ژوند تیرولو دری میاشتی وروسته هلك انجلی ته ووئیل: چی رښتیا ووایه چی تاخو چیری د چاسره بدفعلی نه ده کړی، په دی باندی انجلی ووئیل: چی د نن څخه خلور کاله مخکی ما د یوهلك سره بدفعلی کړی ده چی د هغه ،چاته معلومه نه ده د هغی ورځی څخه داهلك د خپلی ښځی څخه نفرت ښکاره کوی او د طلاق اراده لری. آیا په دی حالت کی طلاق ورکول صحیح دی؟

جواب: که توبه د زړه په اخلاص سره اوسی او آینده د ګناه نه کولو عزم هم په زړه کی وی نو الله ﷻ ګناه معاف کوی، لهذا که انجلی توبه ویستی وی او اوس د هغه حالات صحیح وی نو خاوند ته هم د هغه معاف کول ښکاری او په دی وجه طلاق ورکول نه دی ښکاری. فقط والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۶/ ۲/ ۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۱۹۷ / ۱۹ الف)

فصل فی طلاق الصّریح

د صریح طلاق بیان

د یو طلاق رجعی حُکم

سوال: څه فرمائی د دین عالمان او د شرع متین مفتیان په لاندی صورت کی چی څه خلګو زه مجبوره کړم چی ته خپلی ښځی ته طلاق ورکړه چی د مجبوری په حالت کی می یو طلاق ورکی بیا د هغه څخه وروسته هغوی زما څخه دستخط واخستی چی د هغه د مضمون ماته علم نه وو، آیا په داسی صورت کی طلاق واقع سو؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست دی نو ستا په ښځی یو طلاق رجعی واقع سو چی د هغه حکم دادی چی د کومی ورځی څخه تا په ژبه طلاق ورکړی وو. د هغه ورځی تیریدو څخه وروسته د دری حیضه تیریدلو څخه مخکی که نه په ژبه دا ووایی چی ما د طلاق څخه رجوع وکړله نو ښځه به بدستور ستا ښځه پاته وی [1] خو که د رجوع کولو څخه بغیر د ښځی دری واره حیض تیرشو نو نکاح به ختمه سی، خو د دی څخه وروسته بیا د دواړو په رضامندی سره نکاح کیدی سی. [2]

والله سبحانه اعلم

۱۳/۲/۱۳۸۸ھ

(فتوی نمبر ۲۳۸ ۱۹ – الف)

د دوو طلاقو ورکولو څخه وروسته د رجوع بهتره طریقه

---

[1] وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة ج: ۳ ص: ۳۹۴ (طبع شرکت علمیه ملتان) واذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یرجعها فی عدتها. وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۳۹۹ (طبع ایچ ایم سعید کمپنی) والمستحب ان یرجعها بالقول فافهم. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۶۸ (طبع رشیدیه کوئټه) فالسّنی ان یراجعها بالقول.

[2] وفی الهدایة باب الرجعة ج: ۲ ص: ۳۹۴ اذا طلق الرجل امراته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها رضیت بذالك او لم ترض، لقوله تعالی: فَاَمْسِكُوْهُنَّ بِمَعْرُوْفٍ، م غیر فصل ولابد من قیام العدة لان الرجعة استدامة الملك الاتری انه سمی امساکًا وهو الابقاء، وانما یتحقق الاستدامة فی العدة لانه ملك بعد انقضائها.... الخ. وفقه السنة کتاب الطلاق بحث حکم الطلاق الرجعی ج: ۲ ص: ۲۷۴ (طبع دار الکتاب العربی بیروت) فاذا انقضت العدة ولم یراجعها بانت منه.... الخ.

سوال: څه فرمائی علمائی کرام په دی مسئله کی چی د خاوند او ښځی په مینځ کی په کورنی جګړه کی خاوند ښځی ته د درد په حالت کی دوه الفاظ د طلاق تکرار کړل، چی زه تاته طلاق درکوم، ایا دوه واره برنی الفاظو وئیلو سره طلاق صریح او که مغلظ سو؟ او که طلاق بائین واقع سو؟ که طلاق بائین وی نو خاوند ترکومی پوری خپلی ښځی ته رجوع کولی سی؟ که رجوع کولی سی نو آیا نکاح ضروری ده؟

جواب: که د سائل دابیان صحیح وی چی هغه دوه واره د ابرنی د طلاق الفاظ وئیلی وه، دری واره یی نه وه وئیلی نو په صورت مسئوله کی د هغه په ښځی دوه رجعی طلاقه واقع سول چی د هغه حکم دادی: چی د طلاق ورکولو د وخت څخه ښځی ته دری واره د حیض راتلو پوری د هغه عده ده [1] د دی عدی په دوران کی که خاوند وغواړی نو د طلاق څخه رجوع کولی سی [2]. او د رجوع بهتره طریقه داده چی د دوو شاهدانو په مخکی ښځی ته دا ووایی چی ماتاته رجوع وکړله [3] د دی څخه وروسته هغه دواړی ښځی او خاوند په شان پاته کیدی سی. خو آینده طلاق ورکولو څخه سخت احتیاط لازم دی ځکه که یووار هم طلاق ورکړی نو ښځه به په ده باندی د همیشه د پاره حرامه سی او په خپل مینځ کی به یی دوباره نکاح د حلالی څخه بغیر نسی کیدی [4]. واضحه دی وی چی دا جواب په هغه صورت کی دی چی کله خاوند دوه واره د طلاق الفاظ وئیلی وی، که خاوند دری واره د طلاق الفاظ وئیلی وی او غلط بیانی سره یی فتوی حاصله کړه نو د دې ذمه واری په مفتی باندی نه ده، په داسی کولو سره به هغه ټول عمر په حرام کاری کی مبتلا وی او د دروغو ګناه به جلاوی.

والله سبحانه اعلم

---

[1] وفی الدر المختار باب العدة ج: ۳ ص: ۵۱۲ (طبع سعید) وهوفی حق حرة بعد الدخول حقیقة او حکمًا ثلاث حیض کوامل... الخ.

[2] وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة ج: ۲ ص: ۳۹۴ (طبع شرکت علمیه) واذا اطلق الرجل تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی العدة.

[3] فی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۰۱ وندب اعلامها بها..... وندب الاشهاد بعدلین. فی الشامیة تحت قوله ولوبعد الرجعة بالفعل.... فالسُنی ان یراجعها بالقول ویشهد علی رجعتها ویعلمها. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۶۸ (طبع رشیدیه کویته) فالسُنی ان یراجعها بالقول ویشهد علی رجعتها شاهدین.

[4] د حوالی د پاره راتلونکی ص ۵۲۴ فتوی او حاشیه نکبر ۱ - ۳ ملاحظه کړئ (محمد زبیر حقنواز)

۱۲/ ۴/ ۱۳۹۸ھ

(فتوی نمبر ۴۳۴/ ۲۹ - الف)

دا لفظ (ولاړه سه ماتاته طلاق درکړي) دوه واره وئیلو حکم او د رجوع بهتره طریقه

سوال: یو سړي د جګړي په حالت کي خپلي ښځي ته دوه واره دا الفاظ ووئیل چي (ولاړه سه ماتاته طلاق درکي) آیا د ده په ښځي باندي طلاق واقع سو؟ او څومره طلاق به شمار کیږي؟ دا ښځه د موجوده خاوند په زوجیت کي بغیر د حلالي څخه شرعًا پاته کیدی سي؟ د شریعت مطهره مطابق راته مسئله واضحه کړئ؟

جواب: که واقعًا صرف دوه واره یې طلاق ورکړی وی په دریم وار یې الفاظ نه وی وئیلی نو په صورت مسئوله کي د دغه سړي په ښځي باندي دوه طلاقه رجعي واقع سول چي د هغه حکم دادی: چي که خاوند وغواړي د عدي په دوران کي (یعني د طلاق د وخت څخه د دري حیضه تیریدلو څخه مخکي مخکي) ښځي ته رجوع کولی سي[1]. او د رجوع طریقه داده: چي د دوو شاهدانو په موجودګي کي هغه ته دا ووائي چي ماتاته رجوع وکړله[2] د دي څخه وروسته بیا دواړه د ښځي او خاوند په شان پاته کیدی سي، او که د رجوع څخه بغیر عده تیره سوه، یعني وروسته په رضامندي سره د نوي مهر په مقررولو سره نکاح کیدی سي.[3] برابره خبره ده که رجوع اوسي او که دوهمه نکاح، په دواړو صورتونو کي خاوند ته د یو طلاق حق باقي پاته سو یعني اوس که هغه صرف یووار هم طلاق ورکړي نو ښځه به ورباندي مغلظه سي او حرامه به سي او بغیر د حلالي څخه دوهمه نکاح هم نسي کیدی[4]. لهٰذا آینده د دطلاق لفظ په استعمالولو کي ډیر احتیاط ساته.

والله سبحانه اعلم

۱۷/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

---

[1] وګوری سابقه حواله صـ ۳۸۹ حاشیه نمبر عـ ۱ ۲

[2] وګوری سابقه حواله صـ ۳۸۹ حاشیه عـ۳

[3] وګوری صـ ۳۷۲ حاشیه نمبر عـ ۱ او راتلونکی صـ ۳۹۳ حاشیه نمبر عـ ۳

[4] وګوری صـ ۴۹۴ فتوی او د هغه حواشی عـ۱ تر عـ۲ پوری.

(فتوی نمبر ۷۵۰/ ۲۸ ب)

دا (ماتاته طلاق درکی) الفاظ یووار وئیلو حکم او د رجوع کولو طریقه

سوال: زه خدای ﷻ حاضر ناظر ګڼلو سره چي کوم بیان ورکوم هغه زما د علم مطابق بالکل صحیح دی، زما او زما د ښځي جګړه په هلك باندي وسوه ماهلك ته په مري باندي زور ورکړی وو. بیا ما هغه پرېښوو‌ی او ښځي ته مي ووئیل: ما تاته طلاق درکی، د دي څخه وروسته ماهغه ته ووئیل: چي نه داسي نسي کیدی. هغه زما په څله باندي لاس کښېښوو‌ی. او زه په صوفه باندي کښېناستم. بیا د هغه مور راله نوما هغي ته ووئیل چي ما ستالوزته طلاق ورکړی دی، اوس دابوځه. بیامي خپل پلار ته ووئیل: چي مانفیسي ته طلاق ورکړی دی، تاسو د هغي د کور والاوو سره فیصله وکړئ، زما په خیال کي داوو چي ماهغي ته دري طلاقه ورکړي دي، خو ما دوي ورځي سوچ وکي، بیامي د خپلي ښځي څخه پوښتنه وکړه، بلکي هغه قرآن مجید را لوړ کي. هغي هم دا ووئیل چي تا یووار طلاق راکړی وو. دوهم وار د پاره درته ما په څله باندي لاس کښېښوو‌ی، ماته د خپلي ښځي په خبره باندي یقین دی. په دي مسئله کي به شرعي طور سره طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کي که د سائل بیان درست وی او واقعي سائل خپلي ښځي ته یووار طلاق ورکړی وی او وروسته یې د ښځي والدینو ته هم خبر ورکړی وو[1] نوی طلاق مقصود نه وو نو د هغه په ښځي باندي یو طلاق رجعي واقع سوی دی[2]. چي د هغه حکم دادی: که د عدي په دوران کي خاوند رجوع کول غواړي نو کولی یې سي[3] چي د هغه صورت دادی: چي د دوو شاهدانو په مخکي دي ښځي ته دا ووایي چي (ماتاته رجوع کړی ده)[4] او که د عدي تیریدلو پوري یې رجوع ونکړه نو د عدي

---

[1] ایضًا.

[2] وفی الشامیة واذا قال: انت طالق: ثم قیله له: ماقلت: قدطلقتها. او قلت هی طالق. فهی طالق واحدة لانه جواب. کذافی کافی الحاکم. وفی الهندیة: ج: ۱ ص: ۳۵۵ لوقال لامراته: انت طالق: فقال له رجل ماقلت؟ فقال: طلقتها. اوقال: قلت هی طالق، فهی واحدة فی القضاء. کذافی البدایع.

[3] وګوری سابقه حواله صـ ۳۸۸ حاشیه نمبر عـ ۱. عـ ۲.

[4] وګوری تیره سوی حواله صـ ۳۸۹ حاشیه عـ ۳.

تیریدلو سره به ښځه بائنه سی یعنی د سر څخه د نکاح کولو څخه بغیر به په نکاح کی نسی راتلی [1]. دادی واضحه وی، که خاوند رجوع وکړله، او که د عدی څخه وروسته یی نوی نکاح وکړله، نو اوس هغه ته صرف د دوو طلاقو اختیار باقی پاته دی یعنی په آینده کی که هغه صرف دوه واره د طلاق الفاظ ووئیل: بیابه هم ښځه مغلظه سی او بغیر د حلالی څخه به یی بیانکاح نسی کیدی. لهذا آینده سخت احتیاط لازم دی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۱۰/ ۱۴۰۰ھ

(فتوی نمبر ۱۲۹۳/ ۳۱ د)

د یورجعی طلاق څخه وروسته د طلاق ورکولو خبر سره مزید طلاق نه واقع کیږی

سوال: ماخپلی ښځی ته په درد کی ووئیل چی ته تولو خپلوانو کره ولاړه سه ماته ستا ضرورت نسته. ماتاته طلاق درکی، د هغی وروڼو ووئیل: چی دی نه طلاق ورکړه ماجواب ورکی چی ماطلاق ورکړی دی بیامی په دریم وار د ښځی اکاته ووئیل: چی ماهغی ته طلاق ورکړی دی شرعاً څومره طلاق سول؟

جواب: که په صورت مسئوله کی چی کله تا د خپلی ښځی ورور او اکاته دا ووئیل: چی ما طلاق ورکړی دی، که ستانیت د نوی طلاق ورکولو نه وو. بلکی ښځی ته د ورکول سوی طلاق واضح کول مقصود وو، نو ستا په ښځی باندی یو طلاق رجعی واقع سو چی د هغه مطلب دادی چی عده یعنی دری واره حیض تیریدلو څخه مخکی که په ژبی سره یی رجوع وکړله نو ستانکاح به بدستور قایم وی [2]. بهتره داده: چی په دی رجوع شاهد هم جوړسی. [3] او که نیت دی د درو طلاقو ورکولو وو، نو طلاق مغلظ واقع سو او ستا ښځه د حلالی څخه بغیر ستا د پاره هیڅکله حلالیدی نسی. [4] والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

---

[1] فی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۰۹ (طبع سعید) وینکح مبانة بمادون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع.

[2] وګوره سابقه حواله ص ۳۸۹ حشایه ع ۱ او ع ۳.

[3] وګوره سابقه حواله ص ۳۸۹ حاشیه ع ۳.

[4] وګوره ص ۴۹۵ فتوی او حاشیه ع۱ او ع ۲.

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

(فتوی نمبر ۲۴۷/ ۱۹- الف)

(ماتاته طلاق درکی) دوه واره دوئیلو حکم او د رجوع طریقه

سوال: یوسړی د کورنی جګړی د وجی خپلی منکوحی ته هم په یومجلس کی اول دا ووایی: چی که تاژبه بنده نه کړه نو زه به تاته طلاق درکړم، او د دی څخه وروسته فوراً وایی دوه واره (چی ماتاته طلاق درکی) اوس هغه سړی بیرته خپلی ښځی ته رجوع کول غواړی، په دی سلسله کی د شریعت مطهره، قرآن او حدیث په رڼا کی د جواب بالصواب څخه موخبر کړئ؟

جواب: که داصحیح وی چی هغه سړی اول دا الفاظ وئیلی وه چی که تاژبه بنده نه کړله نو زه به طلاق درکړم. او د دی څخه وروسته صرف دوه واره ووئیل: (چی ماتاته طلاق درکی) نو دده په ښځی باندی دوه طلاقه رجعی واقع سول چی د هغه حکم دادی چی عده یعنی دری واره حیض تیریدلو څخه مخکی مخکی خاوند رجوع کولی سی [1]. چی د هغه بهتره طریقه داده چی د دوو شاهدانو په مخکی ښځی ته دا ووائی چی ماتاته رجوع وکړله [2]. او که عده تیره سوه نو بیاهم په خپله رضامندی سره د نوی مهر مقررولو سره دوباره نکاح کیدی [3]. خو واضحه دی وی، چی اوس خاوند ته صرف د یوطلاق اختیار پاته سو، اوس که یی یووار هم طلاق ورکی ښځه به باندی مغلظه کیدو سره حرامه سی او بغیر د حلالی څخه یی دوهمه نکاح نه سی کیدی. [4]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۶/ ۷/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۷۸۵/ ۲۸ ج)

---

[1] وګوره سابقه حواله ص ۳۸۹ حاشیه ع ۱ ع ۲.

[2] وګوره سابقه حواله ص ۳۸۹ حاشیه ع۳.

[3] د حوالی د پاره ص ۳۳ حاشیه ع ۲- ۳ وګورئ.

[4] وګوری ص فتوی او حواشی نمبر ع او ع.

د یوطلاق رجعی ښځه وروسته د رجوع ښه طریقه او د رجوع ښځه وروسته په ښځې باندې د خاوند کورته راتلل لازم دي

سوال: مسمی سلیمان ولد محمد حبیب خپلی منکوحی ښځې مسماه بی بی سکینه بنت محمد صاحب د ناراضګی په وجه یوطلاق ورکی مورخه ۲۸/ اپریل سنه ۱۹۷۷ مسمی محمد سلیمان خپلی ښځې ته د طلاق ورکولو ښځه وروسته د رجوع کولو د پارعه ګړ د محلی سړی او ښځې د خپلی ښځې د راغوښتلو د پاره لیږلی دی خو د بنده خسرګنی د هغه د ښځې د رالیږلو ښځه انکار کړی دی، په داسی صورت کی دری طلاقه کیږی او که نه؟

جواب: که واقعتاً صرف یوطلاق یې ورکړی وی او دری واره یې د طلاق لفظ نه وی وئیلی نو د عدې په دوران کی (یعنی طلاق ورکولو ښځه وروسته د دری حیضه تیریدو ښځه مخکی مخکی خاوند رجوع کولی سی (۱) چی د هغه ښه طریقه خوداده چی د دوو شاهدانو په مخکی دا ووایی چی ما د طلاق ښځه رجوع وکړله (۲) خو که د شاهدانو ښځه بغیر ووایی بیاهم رجوع صحیح سوه. (۳) د دی ښځه وروسته په ښځې باندی واجب دی چی هغه د خپل خاوند کره راسی، د ښځې د پلار کور والا یې د خپل خان سره نسی پاته کولی خوکه د طلاق ښځه وروسته دری حیضه راغلی وه او خاوند رجوع نه وی کړی نو په خپل مینځ کی په رضامندی سره نوی نکاح کیدی سی (۴). خاوند ښځه په بیرته راتلو باندی نسی مجبوره کولی، او داجواب په هغه صورت کی دی چی کله یې صرف یو طلاق ورکړی وی که دری طلاقه یې ورکړی وی نو داحکم نه دی، ښه خان پوه کړه.

والله سبحانه اعلم
۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ
(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۵۷ ج)

(۱) وګوری حواله سابقه ص حاشیه ع او ع.
(۲) ایضاً.
(۳) وګوری سابقه حواله ص حاشیه ع او ع.
(۴) ... حاشیه ع وګوری.

د یوطلاق ښځه وروسته د رجوع ښه طریقه او د حاملی عده

سوال: مسمی قاسم عمر ۸۵ کلن خپلی ښځې مسماة خدیجه بائی بنتاګل محمد ته د غصې په حالت کی (لسم جولائی سنه ۱۹۷۶) یوطلاق ورکی. د هغه ښځه موجوده نه وه، دواړه جلاجلا اوسیږی، خو د صلح کولو نیت یې دی. د دی شرعی حکم ارشاد وفرمایی؟

جواب: که دا درست وی چی قاسم خپلی ښځې ته صرف یو طلاق ورکړی وو. نو داطلاق رجعی دی چی د هغه حکم دادی چی د عدې په دوران کی خاوند رجوع کولی سی. (۱) د هغه ښه طریقه داده چی د دوو شاهدانو په مخکی دا ووایی چی ما د طلاق ښځه رجوع وکړله. (۲) او عده دری میاشتی نه ده بلکی دری حیضه دی (۳) او که ښځه حامله وی نو د ماشوم پیداکیدل دی (۴) د عدې ښځه وروسته رجوع نسی کیدی د دواړو په رضامندی د نوی مهری مقررولو سره دوباره نکاح کیدی سی (۵) اینده طلاق ورکولو کی احتیاط ساتل دی، ځکه که اوس دوه طلاقه هم ورکړی نو ښځه به باندی مغلظه سی او دوباره نکاح به نسی کیدلی.

والله سبحانه اعلم
۲۰/ ۱۰/ ۱۳۹۶ھ
(فتوی نمبر ۲۴۰۷/ ۲۷ ھ)

دوه واره دا (طلاق می ورکی) الفاظو وئیلو حکم

سوال: مایو. د درد په حالت کی خپلی ښځې ته دوه طلاقه ورکړل طلاق می داشان روایه: طلاق می ورکی، طلاق می ورکی، د دی ښځه وروسته ډیرپښیمانه سوم او هم په هغه وخت می د ښځې خوشامندی وکړله او معافی می تری وغوښتله، په خپله کورکی ډیره په خوشحالی او محبت سره اته ورځی پاته سوه او بیا د پلار کره ولاړه.

(۱) وګوری سابقه حواله ص حاشیه ع
(۲) وګوری حواله سابقه ص حاشیه ع
(۳) وګوری حواله سابقه ص حاشیه ع
(۴) وګوری حواله سابقه ص حاشیه ع
(۵) وګوری حواله سابقه ص حاشیه ع

کورته می راوستله، مابنځی ته ووئیل: چې ماخو ستا نوم اخستی نه دی، په خسرګنی کی هم موږ دواړه په خوشحالی او محبت سره ملاویدلو، شپږ ماشومان او ښځه خاوند اوس هم هره ورځ محبت سره ملاویږو ماځه تحریر هم لیکلو سره هغه ته نه دی ورکړی چې د هغه سره طلاق واقع کیږی اوس د دی شرعی حکم څه دی؟

جواب: که داصحیح وی چې طلاق دی صرف دوه وار ورکړی وی او دری واره نه وی. نو ستاپه ښځی باندی دوه طلاق رجعی واقع سوی دی چې هغه حکم دادی: چې عده (دری حیضه) تیرسوی وی نو رجوع نسی کیدی خو خپل په مینځ کی په رضامندی سره په نوی مهر دوباره نکاح کیدلی سی. (۱) په هرصورت رجوع وکړی او که نوی نکاح وکړی، اینده تاته صرف د یو طلاق اختیار باقی دی یعنی که اینده تایووار طلاق هم ورکی برابره خبره ده که هغه زبانی وی یاتحریری (۲) په درد کی وی (۳) او که په مذاق کی (۴) نو ښځه به په تاباندی حرامه سی او د حلالی څخه بغیر به دوهمه نکاح هم نه کیږی. (۵)

والله سبحانه اعلم

۴/ ۱۰/ ۱۳۹۷هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۰۲ ج)

د خلکو په دباؤ باندی د خپلی ښځی په ځای د هغی د خور نوم اخستو سره د طلاق ورکولو حکم

سوال: د یوسړی سلطان نکاح مسماة صاحبزادی سره وسوه او خاندان هغه مجبوره کی چې هغه دې ښځی ته طلاق ورکړی د سختی مجبوری د وجی یی هغه ته ووئیل چې (ته صاحبزادی ته طلاق ورکړه) سلطان وایی چې زما د ښځی نوم صاحبزادی ده. د هغی د بلی خور نوم نواب زادی ده، زما اراده دا وسوه چې د خاندان د دباوو څخه بچ سم او د خپلی ښځی د طلاق څخه هم بچ سم هغوی ووئیل چې د هغه د ښځی نوم څه دی؟ (په

(۱) د حوالی د پاره د صـ حاشیه نمبر ع وګوری.

(۲) د حوالی د پاره د صـ حاشیه نمبر ع وګوری.

(۳) د حوالی د پاره د صـ حاشیه نمبر ع وګوری.

(۴) د حوالی د پاره د صـ حاشیه نمبر ع وګوری.

(۵) د حوالی د پاره د صـ حاشیه نمبر ع وګوری.

هغه وخت د انجلی پلار موجود نه وو) او نورو خلګوته د هغه نوم معلوم نه وو، هغوی د سلطان څخه پوښتنه وکړه چې ستا د ښځی نوم څه دی؟ هغه قصداً نوابزادی ووئیل: هغوی ورته چې دی ته ته طلاق ورکړه، سلطان ووئیل جی ما نواب زادی پریښی ده، دری واره یی ووئیل، هغوی خوشحاله سول کورته راله دوو درو کسانوته یی ووئیل: چې ماخپلی ښځی صاحبزادی ته طلاق نه دی ورکړی، بلکی نواب زادی ته می طلاق ورکړی دی، د هغه خلګو څخه د بچ کیدلو د پاره فرضی طور باندی می د پریښوولو لفظ استعمال کړی دی، د دی شرعی حکم څه دی؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعه صحیح وی نو د سلطان په مذکوره جملی سره د هغه په ښځی باندی طلاق واقع نسو (۱) هغه بدستور د سلطان په نکاح کی ده خوآینده د داشان خبرو څخه احتیاط کول پکار دی او که د دباؤ خطره وی نو اول د کوم مفتی عالم څخه د داسی طریقی پوښتنه کړه، چې د هغه سره دباؤ هم ختم سی او طلاق هم واقع نسی ځکه چې داشان په بعضی صورتونو کی هم طلاق واقع کیږی.

ځه تاته طلاق دی طلاق د دی الفاظو حُکم

سوال: بیان حق نواز ولدفیض قوم بلوچ ۲/ ۷/ ۱۹۸۰م د هفتی په ورځ واقعه ده. زما او زما د ښځی په مینځ کی جګړه وسوه، زما ښځی د خفګان د وجی د خپل واده سوی خور کورته ولاړله او زما خوابښی هم راغلی وه، زه د خپلی خوښینی کورته ولاړم او خپله خوابښی می پوه کړله چې د خدای د پاره ته خپله لور مسماة افضل پوه کړه، هغه ماته سخت الفاظ ووئیل، زما د هغه سره سختی خبری وسوی، ماورته ووئیل: نه خو هغه زما ډوډی پخوی، او نه زما ځاروو ته اوبه ورکوی په دی کی هغه یعنی زماښځه راله، هغه ماته سخت بدرد ووئیل، او ښکنځل یی راته وکړه زه په درد کی رالم داسی می ورته ووئیل: ځه! تاته طلاق دی، طلاق دی، په موقعه باندی زماښځه، زماخوښینه نذیران، مریم، سکینه او زما زوجه موجوده وی د نذیران، مریم، سکینی په بیاناتو کی د دریوو طلاقو ذکر دی، د حقنواز خوښینی د دولس طلاقو ذکرکړی دی، د حقنواز په مخالفت کی مخکی مخکی ده، داشان د حقنواز خوښینه هم د خپلی مور په حمایت کی

(۱) فی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۵۸ ولوقال امراته الحبشیة طالق ولانیة له فی طلاق امرأته وامراته لیست بحبشیة لایقع علیها وعلی هذا اذا سمی بغیر اسمها ولانیة له فی طلاق امراته. وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۳۵۸ قال امراته عمرة بنت صبیح طالق وامراته عمرة بنت حفص ولانیة له لاتطلق امراته..... الخ.

ده، صرف دوی ښځي غیر جانب داره دي.

جواب: په صورت مسئوله کي د حقنواز بیان درست وي نو د هغه په ښځي باندي دوه طلاقه واقع سوي دي، د هغه حکم دادی که د عدي په دوران کي حقنواز خپلي ښځي ته رجوع ونکړي نو د عدي په تیریدو سره به د هغه ښځه بائنه سی. (١) او چیري چي وغواړي نو نکاح کولی سی خو په عده کي حقنواز ته د رجوع کولو حق حاصل دی (٢) که هغه رجوع وکړه نو هغه به بدستور د حقنواز ښځه وي. که چیري اینده هغه یووار هم طلاق ورکي نو هغه به د همیشه د پاره په حقنواز حرامه سی او بغیر د حلالي څخه به بي نکاح جائز نه وي (٣).

والله سبحانه اعلم

۲۱/ رمضان المبارك ۱۴۰۰ھ

(فتوی نمبر ۱۲۲۶/ ۲۱ د)

زه ستالورته طلاق ورکوم د دا الفاظو حُکم

سوال: نن زه ستالورته طلاق ورکوم زماهغی ته د طلاق ورکولو وجوهات دادي: هغی زمابی عزتی د دوو هلکانو سره چي ذات یي ګوجر وخی د خور خاوند باندي کړی ده، د دي بي عزتی وجه صرف د هغی بدمعاشی وه، ځکه چي هغی د هغوی سره ناجائز تعلقات ساتلي وه، ماهغه د دي خبری څخه منع کړله، خو هغی زماپرواد اونه ساتله. ستا د لور ځوقسمه فوټوان هم د هغه هلك سره دي چي هغه ماته ښوولي هم وه. خو ماخبره برداشت نه سوه ځکه ما د هغی د طلاق. طلاق پخه اراده کړی ده. آیا په دي صورت کي طلاق واقع سو؟

جواب: د پورته لیکل سوی تحریر سره د لیکونکي په ښځي باندي یورجعي طلاق واقع سو چي د هغه حکم دادی چي خاوند د عدي په دوران کي رجوع کولی سی (٤) او د عدي تیریدو څخه وروسته په خپل مینځ کي د رضامندی سره دوباره نکاح هم کیدی

---

(١) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه نمبر ع.

(٢) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.

(٣) د حوالی د پاره راتلونکی صـ فتوی او حواشی نمبر عـ ع.

(٤) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة ج: ۲ ص: ۳۹۴ (طبع شرکت علمیه) واذاطلق الرجل امرانه تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها... الخ.

سي. (١) په مذکوره تحریرکی که څه هم لفظ د طلاق دری واره استعمال سوی دي خو آخری دوه الفاظ د طلاق ورکولو د پاره نه دي، د طلاق د وجی د بیانولو د پاره دي په دی سره بیل طلاق واقع نسو.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفاالله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۷/ ۱۰/ ۱۳۹۰ھ

(فتوی نمبر ۵۷۹/ ۲۱ الف)

ماستالورته طلاق ورکی او زه هغی ته ورکوم د دا الفاظو حکم

سوال: ۲۵/ نومبر باندی زما ښځه خالده بیګم او د هغی مور زما د اجازت څخه بغیر د خپلی خور د خاوند کره ولاړی، هغوی ته د کورنګی څخه کپړه راوړل وو، زه د دفتر څخه تقریبًا اووه بجی کورته را ورسیدم په معلومات کولو سره راته کوشنی خوښیني ووئیل چي امی او باجی کورنګی ته تللی دی، د شپی نه بجی دی، زماسره پریشانی سوه، کوشنی ماشوم ورسره دی، به هرحال نه نیمی بجی په اِسکوټر باندی د خپلی خور د خاوند سره رالی زه د درد د وجی په پلنګ باندی پریوتم، د ساهډو د تللو څخه وروسته زماښځه اوړتله چي کپړو اخستوله نه وی تللی او د خور کورته تللی وی، په دی باندی هغی وویل چي د رخسانی خور طبیعت ټیك نه وو، د هغه د لیدلو د پاره تللی وو، زه د کور څخه ولاړم او ووتم، نو زماخسر زما د راګرځولو کوشش وکی، زه په درد کی وم ماهغوی ته ووئیل چي ماستا لورته طلاق ورکی.

۲: زه هغی ته طلاق ورکوم او بیا زما د ژبی څخه د دی الفاظو اداء کیدلو سره زما ښځي خالده بیګم مخ وګرځولو، دکمری څخه ووته، زه فوراً د کور څخه د باندی ووتلم او د خپلو خپلوانو اصرار دی چي داستا خپله غلطی ده، ښځه می د دوومیاشتو حامله هم ده، د جواب څخه می خبر کړه چي د شریعت مطابق عمل وکړم؟

جواب: که تاسو د سوال مطابق صرف دوه واره د طلاق الفاظ په ژبه استعمال کړی وه، نو ستا په ښځي باندی دوه رجعی طلاقه واقع سول چي د هغه حکم دادی چي د عدی په دوران کی ته رجوع کولی ســـــی. (١) چي د هغه طریقه داده چي د دووشـــاهدانو په

---

(١) د حوالی د پاره د صـ حاشیه عـ وګوری.

موجودگی کی (۲) په ژبه باندی دا ووایی چی ما خپلی ښځی ته رجوع وکړله (۳)، د دی
څخه وروسته به هغه بدستور ستا ښځه وی خو اینده به تاته صرف د یوطلاق حق باقی
وی یعنی که په آینده کی یووار هم ستا د خولی څخه ووتی برابره خبره ده که هغه په درد
کی هم وی او یا که په سنجیدګی کی وی په هرحالت کی به ستا ښځه په تاباندی حرامه
سی (۴)، او دوباره نکاح به د حلالی څخه بغیر نسی کیدی (۵) لهذا آینده د طلاق په
معامله کی د ډیر احتیاط څخه کار اخله.

والله سبحانه اعلم

۸/ ۱۲/ ۱۳۹۶ھ

(فتوی نمبر ۲۷۸۲/ ۲۷ و)

(زه تاته طلاق درکوم) دوه واره د وئیلو حکم او د رجوع ښه طریقه

سوال: مسمی محمد تقی ولد حاجی عبد الغنی مرحوم ساکن ۸/ C۵۲ - ۴ لانډهی
کالونی کراچی دوی میاشتی مخکی خپلی منکوحی ښځی نورجهان بیگم بنت نواب
بیگ ته د درد په حالت کی او د کور څخه د باندی په سړک باندی ولاړه د دوو بالغو
شاهدانو په موجودګی کی او د کور طرفته مخ کولو سره لکه چی د خپلی ښځی سره
مخاطب وی دوه واره یی په لوړ آواز باندی ووئیل چی زه تاته طلاق درکوم، زه تاته
طلاق درکوم، ښځی ووئیل: ما د خاوند د طلاق ورکولو جملی بالکل نه دی اوریدلی،
نورجهان بیگم د خپل پلار نواب بیگ په کورکی وسیږی او د ښځی او خاوند په مینځ
کی جدائی راغلی ده، که طلاق نه دی واجب سوی نو آیا څه کفاره واجب ده؟

جواب: که داصحیح دی چی مسمی محمد تقی صرف دوه واره خپلی ښځی ته داجمله
وئیلی ده، نو د هغه په ښځی باندی دوه رجعی طلاقه واقع سول چی د هغه حکم دادی:

---

(۱) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه نمبر ع.
(۲) ایضاً
(۳) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه نمبر ع.
(۴) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.
(۵) د حوالی د پاره وګوری ص ع فتوی او د هغی حواشی ع.

چی د عدی په دوران کی (یعنی د طلاق څخه وروسته د دری واره حیض تیریدلو څخه
مخکی مخکی) که خاوند رجوع کول غواړی نوکولی سی (۱). او د رجوع ښه طریقه داده
چی د دووشاهدانو په مخکی خپلی ښځی ته ووایی چی ماستا د طلاق څخه رجوع
وکړله (۲). او د عدی تیریدلو څخه وروسته خاوند خو رجوع نسی کولی خو خپل په
مینځ کی په رضامندی سره په نوی مهر دوهمه نکاح کیدی سی (۳) او د دی هیڅ کفاره
نسته واضحه دی که خاوند رجوع وکړله اوکه نوی نکاح، په هرصورت کی اوس صرف
د یوطلاق اختیار پاته دی او که آینده یی یووار هم طلاق ورکی نوښځه به باندی بالکل
حرامه سی او د حلالی څخه بغیر به یی دوهمه نکاح هم جائز نه وی (۴).

والله سبحانه اعلم

۱۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۰۲۲/ ۲۸ ج)

د (طلاق درکوم) الفاظو حکم او په ژبی سره د رجوع طریقه

سوال: یوسړی خپلی ښځی ته طلاقنامه ولیږله چی د هغه الفاظ دادی: زه محمد انور
والد گل محمد عثمانی باوانی مسماة مهر النساء بنت عثمانی نور محمد باوانی ته
طلاق ورکوم اوس هغه زما ښځه نه ده، په دی طلاقنامی باندی د دوو شاهدانو
دستخطونه هم موجود دی داطلاقنامه مدنظر ساتلو سره مو د شرعی فیصلی څخه
احسانمند کړی؟

جواب: په صورت مسئوله کی په مهر النساء باندی یورجعی طلاق واقع سو چی د هغه
حکم دادی چی د عدی یعنی طلاق څخه وروسته د دری حیضه تیریدلو څخه وروسته
هغه چی چیری وغواړی نو رجوع کولی. (۵) که په ژبی سره ووایی چی ما (د طلاق څخه
رجوع وکړله) نو مهر النساء به دوباره د هغه ښځه سی. (۶) خو د عدی تیریدلو څخه

---

(۱) د حوالی د پاره وګوری صـ حاشیه ع.
(۲) د حوالی د پاره وګوری صـ حاشیه نمبر ع.
(۳) د حوالی د پاره وګوری صـ حاشیه نمبر ع.
(۴) د حوالی د پاره وګوری صـ فتوی او د هغی حواشی ع.
(۵) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.
(۶) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.

وروسته په هغه ته دا اختیار باقي نه وي. (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

فقط والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۱۲/ ۱۳۸۷هـ

ماهغه پریښووله د وئیلو حکم

سوال: د یوی نابالغی ماشومی نکاح په دری ځلوروکالو کی وسوه، د دی ځخه وروسته هغه سړی (د چاسره چی د دغی نابالغی انجلی نکاح سوی وه) هغه د شاهدانو په مخکی دا ووئیل: مادارښته نه ده اخستی، چیری چی بی خوښه وی واده دی وکړی، ځکه چی انجلی زما خوښه نه ده، شاهدان موجود دی چی داشاهدی وکوری چی دی سړی یووار نه بلکی ځوواره په ښکاره سره د کورنی ځخه وئیلی دی چی، ما هغه پریښووله چی چیری بی خوښه وی وردی کړی، آیا د دی سړی نکاح د هغی انجلی سره پاته سوه او که نه؟ ماشومه اوس ځوانه ده، د عصمت خطره بی ده، برنی بیان حلیفه دی.

جواب: که دابیان درست وی چی سړی د رخصتی ځخه مخکی د هغه د منکوحی په باره کی داوئیلی وی چی (ماهغه پریښووله) نو په صورت مسئوله کی د هغه په ښځی باندی طلاق بائین واقع سوی دی. (۲) او چونکی رخصتی نه ده سوی نوځکه عده هم باندی واجب نه ده هغه چی چیری وغواړی نو نکاح کولی سی، خو واضحه دی وی چی داجواب په هغه صورت کی دی چی کله خاوند واقعًا دا الفاظ وئیلی وی (چی ماهغه پریښووله) که نورځه الفاظ بی وئیلی وی نو هغه ولیکه راوی لیږه جواب به درکول سی.

والله سبحانه اعلم

(۱) د حوالی د پاره وګوری ص۔ حاشیه ع.

(۲) وفی رد المختار کتاب الطلاق باب الکنایات ج: ۳ ص: ۲۹۹ (طبع سعید) فان صرحتك كناية لكنه فی عرف الفرس غلب استعمال فی الصریح فاذا قال: (رهاکردم) ای صرحتك یقع به الرجعی مع ان صله كناية ايضًا وماذاك الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق وقدمرّ ان الصریح مالم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغة كانت... الخ. همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۴۲۵. امداد المفتین ص: ۲۱۲) امداد الاحکام ج: ۲ ص: ۴۴۳ او راتلونکی ص۔ حاشیه.

۲۹/ ۲/ ۱۳۹۸هـ

(فتوی نمبر ۷۲۳/ ۲۹ ب)

میمنی ژبه کی زه تاته رجاء درکوم د دا الفاظو حکم

سوال: محمد طبیب خپلی ښځی ته د درد په حالت کی دا لفظ ووایه، زه تاته اجازت درکوم او د دی ځخه مراد د هغه طلاق وو، اوس په شریعت کی طلاق واقع کیږی او که نه؟ که واقع کیږی نو کوم طلاق به واقع کیږی؟ (او دا الفاظ په ګجراتی ژبه کی) زه تاته رضاء درکوم، دری واره بی وئیلی دی.

تنقیح: اول راته دا ووایه! چی په ګجراتی ژبه کی کله چی ووئیل سی چی زه تاته رضاً درکوم، نو آیا دالفظ صرف د طلاق په معنی کی استعمالیږی، او که د دی ځه بل مطلب هم کیدی سی، د دی سوال واضحه جواب په همدی کاغذ باندی ولیکه نو د اصل مسئلی جواب به درکول سی.

د تنقیح جواب: د جګړی په مینځ کی خاوند ووئیل چی زه تاته رضا درکړم او په دی باندی خاوند دری واره ووئیل: زه تاته رضاء درکوم د رضاء معنی اجازت هم راځی لکه چی په واده کی چیری تلل وی، نو ښځه رضاء غواړی په هغه وخت هم خاوند وائی چی زه تاته رضاء درکوم، خو داچی د کومی موقعی خبری دی، په هغه وخت هم د طلاقو نیت ور او هم د هغه د پاره یی دا الفاظ استعمال سوی دی.

جواب: د تحریری او زبانی جواب تنقیح نه ورسره د میمنی ژبی د نورو اهل زبان ځخه تحقیق کولو سره معلوم سول چی په میمنی ژبه کی د لفظ (رجاء) معنی نوری هم دی خو د طلاق ځخه ماسوا بله معنی مراد اخستلو د پاره د قرینی یا د لالت حالت ضرورت دی، او د ځه قرینی یا د لالت حال ځخه بغیر که کوم خاوند خپلی ښځی ته ووایی چی (ماتاته رجاء درکړی ده) نو د دی ځخه به د طلاق معنی مراد اخستل کیږی او داعلامه د دی لفظ د طلاق صریح کیدلو دی. (۱) او د دی نظیر په پښتوکی (پریښی می ده) (۱) او

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۵۲ (طبع سعید)... فیقع بلانیة للعرف. وفی الشامیة (قوله فیقع بلانیة للعرف) ای فیکون صریحًا لاکنایة.... وقد مرّان الصریح ماغلب فی الحرف استعماله فی الطلاق بحیث لایستعمل عرفًا الافیه من ای لغة كانت، وهذافی عرف زماننا كذالك فوجب اعتباره صریحًا

په فارسی کی «رهاکردم» (۲) که دا د طلاق څخه ماسوا ووئیل سی نو هم د طلاق په معنی کی راځی، لهذا په صورت مسئوله کی چونکی دری سره صحیح طلاقونه دی نوځکه دری طلاقه واقع سول او د محمد طیب ښځه مغلظه چی د هغه حکم دادی چی شرعی حلالی څخه بغیر هغه د محمد طیب د پاره حلاله کیدی نسی (۳)، او نه یې د حلالی څخه بغیر دوباره نکاح کیدی سی (۴).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۲/ ۴/ ۱۳۹۷ھ

والله سبحانه وتعالی اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۴/ ۱۳۹۹ھ

(فتوی نمبر ۳۷۷/ ۲۸ ب)

(یوطلاق درکوم) الفاظو سره به یورجعی طلاق واقع کیږی

سوال: زموږ خور افشین اعجاز چی د محمد یوسف په نکاح کی وه د محمد یوسف په هغه خط باندی چی په هغه کی هغه دی ته طلاق ورکړی دی، ایا د پرچی په حساب سره کوم تاریخ چی هغه ورکړی دی د تاریخ په تیریدلوسره په هغه باندی طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: په کوم تاریخ چی محمد یوسف منسلکه پارچه ولیکله په هغه تاریخ باندی د هغی ښځی افشین اعجاز باندی یوطلاق رجعی واقع سو چی د هغی عده دری واره حیض تیریدل دی (۵) که د عدی په دوران کی محمد یوسف د هغه طلاق څخه رجوع

کما افتی المتأخرون فی (انت علی حرامی) بانه طلاق بائن للعرف بلانیة مع ان المنصوص علیه عند المتقدمین فوقفه علی النیة.

(۱) ایضاً.

(۲) لفظ د پری می ښوولە، د طلاق صریح کیدلو د تفصیل د پاره وګوری صـ فتوی نمبر عـ او د هغی حاشیه عـ او د راروانی صـ فتوی او د هغی حاشیه عـ.

(۳) ایضاً.

(۴) د حوالی د پاره وګوری صـ او د هغی حاشیه عـ.

(۵) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه عـ.

ونکړله، نو د عدی تیریدلو سره افشین اعجاز د هغه د نکاح څخه خارج کیدلو سره به بېل ځای کی د نکاح کولو د پاره آزاده وی (۱)، خو که ښځه او خاوند په خپله خوښه باندی دوباره د نوی مهرسره د عدی څخه وروسته د نوی ایجاب او قبول سره نکاح کولی سی (۲).

والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۱/ رمضان المبارك/ ۱۴۱۸ھ

(فتوی نمبر ۷۴/ ۲۹۵)

طلاقنامه

زه محمد یوسف د محمود احمد ځوی ستا او ستا د والدینو د پیداسوو نامناسبو حالاتو او ناخوښه جابرانه سلوك او زبردستی او بار بار ستا او ستا د والدینو د اړخه د طلاق برناحقه او ناجائزه غوښتنی په وجه فیصله کوم چی زه تاته د تنبیه د پاره یوطلاق د شریعت مطابق درکړم، ځکه چی ستاسو د خلګو څخه تحریری او زبانی څوڅو واره په څو مواقعو باندی د طلاق مطالبه سوی ده او تاسو ټول په دی خبره په ضد یاست، حالانکی زموږ د اړخه د نکاح قائم ساتلو داټول کوشش‌ونه تاسو ضائع کوئ، چی د هغه جواب د دنیاوالوته او د الله ﷻ په حضور کی زه یا زماخاندان والا هیڅکله نه دی. د دی مکمله ذمه داری په تا اوستا په والدینو باندی راځی، زموږ په خاندان کی خو طلاق ته د نفرت په نظرسره کتل کیږی، او څوك باشعوره سړی دالفظ په ژبه باندی د راوړلو برداشت هم نه کوی، او د دی څخه لویه خبره داچی په جائز او حلال شیانو کی د ټولو څخه زیات ناخوښه شی الله ﷻ ته طلاق دی.

یوطلاق زه ځکه درکوم چی کیدی سی چی په نژدی راتلونکی وخت کی ته په سمه لاره باندی سی او د پردو په خبرو کی ځان په ځای زمافرنبرداره سی، او زما خبری واوره او کومی غلطیانی پیداسوی دی هغه لری کړه او فی الحال کوښنی کوښنی مسائلی او د فضول خبرو څخه چی قانوناً زما منکوحه ښځه یی. دازه ځکه وایم چی ته اوس هم شرعاً او قانوناً زما منکوحه ښځه یی.

---

(۱) وګوری حواله سابقه صـ حاشیه عـ.

(۲) د حوالی د پاره وګورئ صـ حاشیه نمبر عـ.

نوځکه د اول قدم په طور زه تاته یوطلاق درکوم، چی کیدی سی د دی تنبیه یا (Warning) په وجه به انشاء الله ته خپله رایه بدله کړی او زماسره د یوښه او خوږ ژوند په نژدی راتلونکی وخت کی د تیرولو د پاره راضی سی. که تاپه نن کی د دی خبری جواب راکی نو زه ستا ځخه د همیشه همیشه د پاره د تعلق ختمولوته مجبوره سم. ماته امید دی چی ته به دامعامله په سنجیدګی او فراخدلی سره د نظرلاندی وساتی، ستا د جواب انتظار به تریوی میاشتی پوری کوم. فقط محمد یوسف ۳ نومبر سنه ۱۹۹۷ء

دری واره لفظ د (پرینبووله) استعمالولو حُکم

سوال: زید د درد په حالت کی خپلی ښځی ته دا الفاظ ووئیل: پرینبووله، پرینبووله، پرینبووله، آیا په دی سره طلاق واقع سو؟

جواب: د سائل ځخه زبانی دامعلومه سول چی د طلاق د ماحول پیش نظر د (پری ښووله) اضافت هم د ښځی طرفته وو، او (پرینبووله) زموږ په عرف کی طلاق صریح دی [1] لهذا په صورت مسئوله کی طلاق مغلظ واقع سو، اوس د حلالی ځخه بغیر هیڅکله نکاح نسی کیدی.

والله سبحانه اعلم

۲۱/۲/۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۳۱/ ۱۹- الف)

---

[1] فی الشامیة ج: ۳ ص: ۲۹۹ (طبع ایچ ایم سعید) بخلاف فارسیة قوله سرحتك وهو (رهاکردم) لانه صار صریحاً فی العرف علی ماصرح به نجم الزاهدی الخوارزمی فی شریح القدوری.... فان سرحتك کنایة لکنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصریح فاذا قال (رهاکردم) ای سرحتك یقع به الرجعی مع ان اصله کنایة ایضاً وماذاك الا لانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق وقدمر ان الصریح مالم یستعمل الا فی الطلاق من ای لغة کانت.
وفیها ایضاً ج: ۳ ص: ۲۵۲ (طبع ایچ ایم سعید) (قوله فیقع بلانیة للعرف) ای فیکون صریحاً لاکنایة.. وقدمران الصریح ماغلب فی العرف استعماله فی الطلاق بحیث لایستعمل عرفا الأ فیه من ای لغة کانت ولوهذا فی عرف زماننا کذالك فوجب اعتباره صریحا کما افتی المتأخرون فی انت علی حرام بانه طلاق باین للعرف بلانیة مع ان المنصوص علیه عند المتقدمین توفقه علی النیة. اوهمدارنګه وګورئ امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۴۲۵، امداد المفتیین ص: ۲۱۲، امداد الاحکام ج: ۲ ص: ۴۴۲.

یووار د طلاق لفظ د وئلو حکم

سوال: یوسړی د خپل درد په حالت کی د ژبی ځخه د طلاق لفظ ووتی یعنی طلاق یی ووایه، عده یی استعمال نه کړه، آیا اوس په مذکوره صورت کی طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع وی نو کوم طلاق به واقع وی؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست وی او د طلاق لفظ یی د یووار ځخه زیات نه دی استعمال کړی، نو په مذکوره صورت کی د هغه ښځی ته یورجعی طلاق واقع سو، چی د هغه حکم دادی: چی د عدی په دوران کی یعنی د دری حیضه تیریدلو ځخه مخکی که خاوند وغواړی نو رجوع کولی سی ([1]) چی د هغه طریقه داده: چی د دوو شاهدانو په موجودګی کی ښځی ته دا ووایی، چی ماتاته رجوع وکړله ([2])، او د عدی تیریدلو ځخه وروسته د دواړو په رضامندی سره په نوی مهر باندی نکاح هم کیدی سی ([3]) خو په دواړو صورتونو کی اوس هغه ته صرف د دوو طلاقو اختیار باقی پاته دی، یعنی که آینده هغه صرف دوه واره هم طلاق ورکړی نو ښځه به باندی مغلظه کیدوسره ورته حرامه سی، او بیا د حلالی ځخه بغیر نوی نکاح نسی کیدی ([4]). لهذا آینده د طلاق په معامله کی د ډیر احتیاط ځخه کار اخستل پکار دی.

والله سبحانه اعلم

۱/ ۱/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۱/ ۲۸ - الف)

طلاق به درکړم الفاظو سره طلاق نه واقع کیږی

سوال: دری میاشتی مخکی زماخسر زما ځخه خپله لور حمیده بیګم دختر تکاخان په نوم باندی د باؤ اچولو سره زرعی مځکه لیکل غوښتل ما انکار وکی او ومی وئیل: په داسی صورت کی به ستالورته طلاق ورکوم، نورمی څه ونه وئیل په دغه وخت کی د درد حالت وو، آیا طلاق واقع سو او که نه؟

---

[1] وګوری سابقه صـ حاشیه نمبر ع.
[2] وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.
[3] د حوالی د پاره وګوری صـ حاشیه ع.
[4] د حوالی د پاره وګوری د صـ فتوی او د هغی حاشیه ع.

جواب: که واقعاً همدغه لیکل سوی الفاظ دی وئیلی وی کوم چې په سوال کې لیکلی دی یعني چې: طلاق به ورکړم، نو په دې سره طلاق نه واقع کیږي (۱). آینده د طلاق الفاظ په وئیلو کې سخت احتیاط لازم دی، او که نورڅه الفاظ دې وئیلي وه، نو الفاظ صحیح صحیح یاد کړه او راوی لیکه او د مسئلې دوباره پوښتنه وکړه.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۲ ھ

(فتوی نمبر ۹۱۱/۲۸ ج)

د طلاق څخه وروسته که په تعداد کې شک وي نو څه حکم دی؟

سوال: تقریباً څلور نیم کاله مخکې زه (محمود شوکت) زمانبځه او یوه لور چې عمریې شپږ میاشتې وو، په خسرګنی پاته کیدی، زما خپل کور په پنجاب کې دی، او موږ دلته په کراچۍ کې پاته کیدو په وجه ماته اکثره د تربیل ګیس تکلیف وی، یوه ورځ ماته د سخت تکلیف دوره وسوه او په همدې دوران کې د یوې معمولي خبرې په وجه مې د کوشنی خوښینی سره تکرار وکې، د هغې خبرې مې خپل توهین ګڼلو سره د خپلې ښځې سره په جنګ سوم د دې څخه مخکې مې د خپلې ښځې سره تعلقات ښه وه. څه جنګ نه وو خو په هغه وخت د سخت درد په حالت کې او د خپل مرض په تکلیف کې د اخته کیدلو سره د ناپوهي په وجه مې تحریراً طلاق ولیکی او داعمل مې صرف په خسرګنی باندې د دباؤ اچولو د پاره وو، څکه ماته د طلاق د تعداد کامل یقین نسته، چې څو واره کړی دی، په بله ورځ په خپل حرکت باندې دومره پریشانه سوم. او خپل خسرته مې د خپلې پښیمانۍ اظهار وکې د ښځې څخه مې هم معافي وغوښتله. هغه مې د خپل ځان سره پنجاب ته په تللو باندې تیاره کړله، زما په بار بار اصرار باندې ښځې معافي وکړله، چونکې د خپلې ښځې سره د تعلقاتو په ختمولو باندې اماده نه وم، نو څکه مې خپله ښځه او لور د خپل ورور کورته بوتلل او خط (طلاقنامه) مې هم وشلوله، د دې واقعې په څلورمه ورځ زه پخپله د مفتي شفیع صاحب قیام ګاه ته

---

(۱) وفی الفتاوی الحامدیة کتاب الطلاق ج: ۱ ص: ۳۸ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) صیغة المضارع لایقع بها الطلاق الا اذا غلب فی الحال کماصرح به الکمال بن الهمام.

وفی الدر المختار کتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج: ۳ ص: ۳۱۹ (طبع سعید)...... بخلاف قوله طلقی نفسك فقالت انا طالق، او انا اطلق نفسی، لم یقع لانه وعد..... الخ.

ورسیدم، هغوی د تعداد د تعین په باره کې زما څخه پوښتنه وکړه، خو ماپخپله هم د تعداد په باره کې یقین نه درلودی، او هم په هغه ورځ مې خپله ښځه اولور پنجاب ته بوتلل، نن د هغې واقعې تقریباً څلور نیم کاله تیر سوی دی، خو زما خسر تراوسه مطمئن سوی نه دی او هغه زمانه او د خپلې لور څخه تعلقات منقطع کړي دي، داحالات زموږ د خاندان د رسوائی موجوب جوړسوی دی، زموږ حالات او نیت ته کتلو سره یوه شرعي فیصله راکړه چې موږ خپل آینده ژوند په سکون سره تیر کې، که زمانبځې ته د تعداد یقین دی چې څوواره مې لیکلی دی، دوه واره او که دری واره؟

جواب: په صورت مسئوله کې محمود شوکت او فرحت څخه پوره احتیاط غور او فکرسره یادول پکار دي چې څومره طلاقه یې لیکلي دي، او نور خلګ چې په هغه وخت موجود وه، یاهغوی تحریر ویلی وو، د هغوی څخه هم تحقیق کول پکاردي که پخپله درته رایاد سی نو د نورو ویونکو د بیان څخه به داګمان غالب قائم سی چې دری طلاقه یې ورکړي وه نوفرحت په خپل خاوند باندې حرامه سوه، په هغه باندې دری طلاقه واقع سول او د حلالې څخه بغیر د دواړو په مینځ کې بله نکاح هم نسی کیدې، په دواړو باندې فرض دی چې سمدستي د یوبل څخه جدائي اختیار کړي او څومره موده چې یې د طلاق څخه وروسته یوځای تیره کړې ده، په هغه دې توبه او استغفار وکړي خو که د غور او فکر او پوره تحقیق څخه وروسته هم ورته رایاد نسی چې څومره طلاقه مې لیکلي وه او نه یې کوم طرف ته غالب ګمان وي، نو د صورت مسئوله حکم دادی چې د محمود شوکت په ښځې باندې دوه طلاقه رجعي واقع سوي دي او چونکې محمود شوکت عملاً هغه ته رجوع کړې ده نوځکه به یې فرحت بدستور ښځه وي، خو اوس محمد شوکت ته صرف د یوطلاق اختیار باقي پاته دی، یعني که اوس هغه یوطلاق هم ورکړي برابره خبره ده که هغه په درد کې اویا په مذاق کې وي نو د هغه ښځې به په هغه حرامه سي او د حلالې څخه بغیر به هیڅکله حلاله نه وي.

په مذکوره صورت کې که څه هم محمود شوکت ته د خپلې ښځې د ساتلو اختیار دی، خوچونکې د حلالو او حرامو معامله نازکه ده او ده ته تردد پیداسوی دی، او بعضې فقهاء په داسې صورت کې د دریوو طلاقو د وقوع فتوی ورکوي، لهٰذا احتیاط هم په دې کې دی چې هغه دې په هرصورت کې د ښځې څخه جدائي اختیار کړي او د هغه عده دې تیره کړي، ښځه دې په بل ځای نکاح وکړي، بیاکه په څه وجه دوهم خاوند طلاق ورکړي نو د هغه د عدې څخه وروسته محمود شوکت هم د هغه سره نکاح کولی سي.

والدلیل علی کل ذالك مایأتی

۱: قال الله تعالی: فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ. (۱)

۲: عن علی ﷺ قال: سمع النبی ﷺ رجلاً طلق البتة فغضب وقال: تتخذون آیت الله هزواً او دین الله هزواً او لعباً؟ من طلق البتة الزمناه ثلاثا لاتحل له حتی تنکح زوجاً غیره... وفی حدیث ابن عمر ﷺ قال قلت: یارسول الله! ارأیت لوطلقتها ثلاثاً، قال: اذاعصیت ربک وبانت منك امرأتك. (المغنی لابن قدامه ج: ۷ ص: ۱۰۳) (۲)

وقد اخرج البیهقی قصة الطلاق الحسن بن علی امرأته ثلاثاً وفیه حدیث مرفوع الی النبی ﷺ.

۳: قال ابن نجیم: شك انه طلق واحدة او اکثر بنی علی الاقل کماذکر الاسبیجابی الا ان یستقین بالاکثر او یکون اکبر ظنه علی خلافه وان قال الزوج عزمت علی انه ثلاث یترکها. (الاشباه والنظائر، مجتبائی ج: ۱ ص: ۸۱، القاعدة الثالثة) (۳)

۴: وعن الامام الثانی اذاکان لایدری أثلاث ام اقل یتحری وان استویا عمل باشد ذالك علیه اشباه عن البزازیة قال ط وعلی قول الثانی اقتصر قاضی خان ولعله لانه یعمل بالاحتیاط خصوصاً فی باب الفروج ۱ه. قلت ویمکن حمل الاول علی القضأ والثانی علی الدیانة. (شامی ج: ۲ ص: ۴۵۴) (۴)

په آخرکی دا وضاحت ضروری دی چی مفتی ته علم غیب نه وی، د هغه په مخکی چی څنګه سوال وسی هغه به د هغه مطابق جواب ورکوی د سوال د صحت ذمه واری په سائل باندی ده او چونکی معامله د حلالو او حرامو ده، او هرسړی به په آخرت کی جواب ورکوی، لهٰذا په ډیر احتیاط او غورسره دی متعین سی چی څومره طلاق یی ورکړی وو؟ که لږګمان غالب هم د درو طلاقو وی نو د دواړو یوځای پاته کیدل هیڅکله جائزنه دی.

والله سبحانه اعلم

---

(۱) سورة البقرة: ۲۳.

(۲) کتاب الطلاق تحت مسئلة ۱۲۴۸ ج: ۱۰ ص: ۳۳۲ (طبع دار عالم الکتب ریاض)

(۳) الاشباه والنظائر الفن الاول القاعدة الثالثة ص: ۹۱ (طبع ادارة القرآن کراچی و ص: ۶۴ (طبع قدیمی کتب خانه)

(۴) رد المختار قبیل باب الطلاق غیرالمدخول بها ج: ۳ ص: ۲۸۳ (طبع سعید).

۱۸/۷/۱۳۹۸ ه

(فتوی نمبر ۲۸/۸۰۵ ب)

ما د هغه خور پرېښووله دا الفاظ دوه واره وئیلو څخه وروسته د طلاق خبر چاته ورکولو سره د مزید طلاق نه کیدلو حکم او د رجوع طریقه

سوال: د زید وهل ټکول د اجنبی سره کیږی، زما د ښځی او خاوند څه جګړه نسته، ماطلاق ورکړی وو، او زما ښځه دننه په کمره کی ده، مادوه واره اجنبی ته دا ووئیل (ما د هغه خور پرېښووله) فوراً یی ښځی زما په خله باندی لاس کښی ښووی، همدغه ښځه د دی خبری شاهده ده، زه د اجنبی دوکان ته ولاړم، هلته می څه شور جوړکی (ما د هغه خور پرېښووله) او داما په نورو ځایونو کښی هم وئیلی دی داخبره د اتو ورځو څخه مخکی ده، هغه خلګو زما د ښځی ښکړی هم وکښل، آیا په دی صورت کی طلاق واقع سو

جواب: په صورت مسئوله کی د سائل په ښځی باندی دوه طلاقه واقع سول (۱)، د دی دوو طلاقو څخه وروسته د اجنبی په دوکان کی چی سائل کوم الفاظ، یعنی (ما د هغه خور پرېښووله) د نوی طلاق انشاء نه ده، بلکی د سابقه دووطلاقو خبردی د اردو محاوری په لحاظ سره (پرېښی می ده) همدامفهوم دی او د سائل څخه هم زبانی پوښته وسره نو هغه هم د دی مراد اظهار کړی دی لهذا د دی جملی سره دریم طلاق نه دی واقع سوی، د دری حیضونو څخه مخکی که خاوند د طلاق څخه رجوع کول غواړی نو کولی سی (۲). او د رجوع کولو ښه طریقه داده چی د دووشاهدانو په موجود ګی کی ښځی ته ووایی چی ما ستا د طلاق څخه رجوع وکړله (۳) د دی څخه وروسته به یی بدستور ښځه وی، خوکه طلاق یی ورکی نوښځه به یی بالکل حرامه سی او بغیر د حلالی څخه به یی دوباره نکاح نسی کیدی. والله اعلم

---

(۱) حوالی د پاره وګوری صـ فتوی او د هغی حاشیه نمبر ع او تیره سوی صـ فتوی او د هغی حاشیه ع.

(۲) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه نمبر ع او ع.

(۳) وګوری سابقه حواله صـ حاشیه ع.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۲/ ۷/ ۱۳۹۱ هـ
(فتوی نمبر ۸۹۵/ ۲۲ ب)

دا (طلاق واخله) الفاظو حکم د (المرأة کالقاضی) مطلب د طلاق په عدد کی د زوجینو د اختلاف حکم

سوال: په زوجینوکی د الفاظو او وقوع الطلاق کی د اختلاف فیصلی او د تحکیم شرعی حیثیت متعلق د حضرت مولانا سیاح الدین کاکاخیل د سوال مفصل او مدلل جواب.

سوال: د لاندینی مسئلی په باره کی تحقیقی او د فقه حنفی د کتابونو په حوالوسره جواب ولیکی؟ ډیره مهربانی به مووی.

د یوی انجلی دعوی داده (چی ماته خپل خاوند دوه واره طلاق راکړی وو، چی د هغه څخه وروسته یی زه د ځان سره وساتلم، ماته معلومه نه وه چی طلاق په کومو الفاظو سره واقع کیږی، او د دی اثر څه وی؟ ځکه ماوالدینوته څه ذکر نه وکی، او د خاوند سره اوسیدم، څه موده وروسته یی په درد کی یووار دری طلاقه راکړل ماته د دی علم نه وو چی په داسی وئیلوسره ښځه مستقل په سړی باندی حرامیږی، نوځکه می په عام طورسره نه چاته ذکر وکی، او نه می داګنڼل چی ماته دری طلاقه سوی دی او زه په دغه خاوند باندی حرامه سوی یم، که چیری مورته می د دی ذکر کړی وو، خو بیره راسره ده چی والد صاحب ته می د زوم د داسی خبرو او درد معلومات وسی نو د هغه څخه به ناراضه سی او جګړه به اوسی نو ځکه می والدصاحب خبر نه کی، او والدی هم ددی ذکر ونه کی، د څه مودی څخه وروسته د بل چا څخه دامسئله معلومه سوه او د بهشتی زیور کتلوسره پخپله هم راته د دی علم وسو چی په داسی صورت کی نکاح ماتیږی او ښځه د سړی د پاره حرامیږی، اوس د خدای ﷻ د بیری د وجی زه د هغه سړی سره نسم پاته کیدی، او اوس می والد صاحب ته هم دا واقعه ښوولی ده (د انجلی خپل لیکل سوی تفصیلی بیان تاسو وګوری) د دی په جواب کی خاوند وائی: چی هو! ماپه اول وار درد راتلوسره وئیلی وه، زما څخه طلاق واخله، بیا پښیمانه سوم او هغه می طلاق نه وګڼی، بیاپه یوه بله موقع باندی په درد کی راغلم او ومی وئیل چی (طلاق واخله)

داهم ماطلاق نه ګڼی او ښځه می د ځان سره وساتله، بیا په یوه موقع باندی درد کی راتلو سره د طلاق الفاظ دوه واره صرف د ښځی د بیرولو په ارادی سره ووئیل (د خاوند لیکل سوی بیان هم تاسو وګورئ) اوس صورت حال دادی چی انجلی وایی زمانکاح ماته سوی ده، زه د دی خاوند سره نسم پاته کیدی، هلک وایی چی ماطلاق نه دی ورکړی، ځکه چی ما دا الفاظ طلاق نه ګڼل، او که آخری الفاظ طلاق هم سی نو بس دوه واره می وئیلی دی او مارجوع کړی ده، او ښځه می د هغه څخه وروسته خپل ځان سره ښځه جوړولو سره ساتلی ده اوس هم هغه زماښځه ده، د دی دواړو تحریری بیان ورکولو سره یوعالم دین ته یی د فیصلی کولو اختیار ورکړی دی، څه چی هغه فیصله وکړی، نو دواړه به یی منی، د هغه والدهم وایی چی د حق واضح کیدلو څخه وروسته به د شریعت فیصله منم او څه فیصله چی په شرعی طور سره صادره سی، هغه به منم، په دی معامله کی په خصوصی اهمیت باندی دا فیصله وسوه چی د نورو علماؤ کرامو او د شریعت د احکامو مفتیانو په خدمت کی د پیش کولو سره د هغوی څخه استفاده وسی او بیا د هغه فتوی په رڼا کی څه فیصله وسی، لهٰذا تاسوته عرض دی چی برنی صورت کی شرعی حکم څه دی؟

۱: آیا صرف دوه طلاقه واقع سوی دی او سړی رجوع کولو سره ښځه ساتلی سی؟

۲: آیا دری طلاقع واقع سوی دی او حرمت مغلظه ثابت سوی دی؟

۳: که سړی قسم واخلی چی ماصرف دوه طلاقه ورکړی دی نو د هغه د خلف په اعتبار کولو سره به د هغه قول معتبر ګرځولی سی؟ او که نه؟

۴: ظاهره ده چی شاهد خوبالکل نسته، نو په دی صورت کی د قضاً او دیانتاً حکم یودی او که مختلف؟

۵: ښځه به په هغه حکم عمل کوی چی د قضاء وو او که په هغه حکم چی دیانتاً دی؟ یومفتی به ده ته څه مسئله ښائی؟

۶: فقهاء کرام چی عموماً (المرأة کالقاضی) لیکی: د دی څخه دامراد دی چی په داسی صورت کی د قضاء چی کوم حکم کیدی سی نو ښځه به هم په هغه عمل کوی او که د دی جملی څه بل مطلب دی؟

۷: کوم عالم ته چی دواړو د دی معاملی د فیصلی اختیار ورکړی دی. د هغه حیثیت د حاکم او قاضی دی، او هغه به قضاءً فیصله کوی، او که د هغه حیثیت د یومفتی دی او هغه دواړو ته فیصله واوروی چی دیانتاً شرعی حکم دی د دی مسئلی په ټولو اړخونو

غورکولو سره د فقهي کتابونو مفصلو، کولو موقع ورکول سي او هغه عند الله مأخوذ نه وي.

سائل: حضرت مولانا سید سیاح الدین کاکاخیل مدرسه اشاعت دار العلوم کنتهه گهر کچهری بازار فیصل آباد.

د انجلی بیان

ماته خپل خاوند یووار په خپل کور کی ووئیل (ولاړه سه! ماتاته طلاق درکړی دی) په دی باندی ماهغه ته ووئیل: چی ته دالفظ ولی استعمالوی نور ډیر الفاظ دی د دی څخه علاوه د استعمال د پاره، لهٰذا د څو ورځو څخه وروسته یی ماته ووئیل، یعنی ماهغه پخپله را وغوښتله په دوهم وار هغه ماته په راهووالی کی ووئیل: ولاړه سه ماتاته طلاق در کړی دی، صرف ستا د والد انتظار کوم چی هغه راسی ته د هغه سره ولاړه سه، ماته ستاضرورت نسته، که اوس تلل غواړی نو اوس ولاړه سه زه درته سیټ بُک کوم. ته یواځی ولاړه سه زه به درسره نه ځکم د دی څخه وروسته په جهاز کی خوابدی سو، ماته یی ډیری ناجائزی خبری وکړی، ماورته ووئیل: چی په سوچ او فکرسره الفاظ راوباسه، نو وی وئیل: چی بکواس بند کړه ماپه هرڅه باندی سوچ کړی دی، ولاړه سه ماتاته یوطلاق درکړی دی، ولاړه سه ماتاته طلاق دری کړی دی، دوه (ولاړه سه ماتاته طلاق درکړی دی) دری یعنی ورسره یی شمارل هم، نو لهٰذا زه خاموشه سوم، داسوچ می وکی چی کورته به ولاړه سم، هرڅه به والدینوته ووایم، او ورسره می داسوچ هم کوی چی د نیکه تازه غم هغه ته رسیدلی دی اوس به دا دوهمه صدمه څنګه برداشت کوی؟ د دی څخه وروسته یی په لاره کی ماته ډیر تأکید وکی چی ګوره! که تاڅه خبره خپل مور او پلارته وکړله یعنی څه چی می په جهاز کی درته وئیلی وه، زه د هغه د خبری څخه وبیریدم، کورته ولاړم چاته می څه خبره ونکړله، مورته می دوی دری ورځی وروسته داخبره وکړله، داپه هغه وخت کی کله چی دوباره هغه زماسره جنګ وکی، او ورسره یی ماته دا تأکیدهم وکی چی پلارته مه وایه کنی نوښه به نه وی، ما خومور ته ووئیل، خو دا تأکیدمی وکی چی پلارته مه وایه! ځکه چی د هغه طبیعت سخت دی، په دی سره به فتنه پیداسی، ماته په هغه وخت دامعلومه نه وه چی داشان طلاق ورکولوسره طلاق کیږی، ماخو داګڼل چی طلاق خو هغه وی چی د شاهدانو په مخکی ورکول سی اویا په لیکلو سره ورکول سی پنځه میاشتی تیریدلو څخه وروسته ماته د صحیح مسئلی

معلومات وسو، نومامورته ووئیل: چی اوس هغه ټول واقعه پلار ته ووایه! چی هغه د مفتی صاحب څخه د صحیح فیصلی پوښتنه وکړه، د دی څخه وروسته ماپخپله د خپل خاوند څخه پوښتنه وکړه چی تاماته په جهاز کی دری طلاقه راکړی وه، نو وی وئیل: چی ولی پوښتنه کوی؟ ماورته وئیل: چی ته زما د خبری جواب راکړه، بیابه درته وجه وښایم، لهٰذا هغه وویل: چی هو! یعنی دری واره می طلاق درکړی وو، ماورته وویل: اوس زماپاته کیدل ستاسره ناجائزدی، صبابه مفتی صاحب تاته فیصله درکړی، کله چی مفتی صاحب پوښتنه وکړه نو هغه انکار وکی او وی وئیل چی هغه خوصرف دوه واره وئیلی دی، حالانکی د شپی ماتصدیق کړی وو، د دی څخه وروسته ماهغه ته ووئیل: چی تا د مفتی صاحب په مخکی دروغ ولی ووئیل؟ وی وئیل چی دا خبره پریږده، خلګ خوداسی خبری پټوی اوته یی ظاهروی، ماورته ووئیل ترڅوچی زما تعلق دی، دنیاوی معامله خو زه پټولی سم، داخو د الله حکم دی، دابه زه په هیڅ صورت کی نه پټووم، لهٰذا ته به هم اقرار کوی، ماته یی زما د پلار او وړونو خوندو واسطه راکړله چی د مفتی صاحب په مخکی هم دوه واره ووایه! ماونه منل، په دریمه ورځ یی ماته ووئیل: چی په خدای می دی قسم وی چی تاته به ګوتی هم نه دروړم، خو زماسره خبری خنداکوه، خوچاته دامه ښکاره کوه چی مادری واره وئیلی دی، ماورته ووئیل: چی زماخبری او خنداهم حرامه ده او تادری واره وئیلی دی، بیایی ووئیل چی ته دروغجن یی، ماستا په مخکی اقرار نه دی کړی، ماورته وئیل: چی داخو د یوڅو ورځو مخکی خبره ده، د خدای څخه وبیریږه او د آخرت سوچ وکړه، نو وی وئیل: ښه که داخبره ده نو زه به د دووکالو هلك بوځم خو د دی خبری اعتراف به هیڅکله ونکړم، ته غواړی چی زه د دنیا په مخکی ذلیله سم، زه په قسم سره وایم چی هغه ماته دری واره په جهاز کی وئیلی دی اوس داپه درغو قسم اخلی چی مادوه واره وئیلی دی. دی په درغو ډیرقسمونه اخلی. والله یشهد علی ما اکتب وهوعلی کلّ شیئٍ شهید.

د هلک بیان

څه چی څه لیکم د خدای حاضر ناظر ګڼلوسره یی لیکم چی جهاز ته د ختلو په وخت زما ښځی پرده نه وه کړی، په جهاز کی کښنی نستوسره ماهغی ته د پردی کولو دپاره ووئیل: معلومه نه ده چی هغی واوریدل او که نه؟ دوباره ورته مابیا ووئیل: نو هغی ووئیل چی (ښه) ښه یی داسی ووئیل چی په مباندی بد ولګیدل، نو لږوخت وروسته

بياما په دريم وار د پردي د پاره ورته ووئيل، هغي خوپرده وکړله خو په درد سره او عجيبه شان يې وکړه، چې په هغې باندې ماته درد رالي په هغه وخت ماهغې ته ووئيل: ته ولاړه سه زه تاته طلاق درکوم په دوهم وار لږ وخت وروسته بياما ووئيل: ولاړه سه زه تاته طلاق درکوم، د دې ځخه وروسته زه چپ سوم، او په زړه کې مې ووئيل چې اې الله! څه چې ما د درد په حالت کې وئيلي دي هغه چيري رښتياونه ګڼي. هسې مې هم دوه واره وئيلي وه، ځکه چې ماته معلومه وه که په دريم وار يې ووايم نو طلاق به يقيناً واقع سوي واى، نو ځکه د دوو وارو ځخه وروسته زه چپ سوم خو وروسته نوري خبري په درد کې کيدلې، لهذا زه قسم اخلم چې مادوه واره وئيلي دي، او هغه مې هم په زړه سره نه دي وئيلي، د دې واقعې ځخه مخکې يووار خپل مينځ کې خبري اوريدلي وې، نو په هغه وخت ماخپلې ښځې ته وئيلي وه چې آياته زماسره پاته کيدل نه غواړې، نو زما ځخه طلاق وغواړه، ولاړه سه طلاق واخله ماهسې وئيلي وه، د زړه ځخه مې نه وه وئيلي، او په هغه وخت لږساعت وروسته خپل په مينځ کې بالکل صحيح سوي وو، زه بياعرض کوم چې د جهاز ځخه ماسوا د وئيلو اراده لرم او دعاء وکړئ چې الله جل جلاله موږ ته په آينده کې په اتفاق سره د پاته کيدلو توفيق راکړي.

په جهاز کې هم د وئيل سوي خبري تقريباً شپږ مياشتې تيري سوي دي بالکل ټيک ټاک په خوشحالي سره وسيدي، معلومه نه ده چې څه خبره وسوه چې هغه داسې وئيل شروع کړل چې ماته يې دري واره وئيلي دي خو زه وايم چې مادوه واره وئيلي دي، تاسوهم د دې مسئلې فيصله وکړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کې مخکې د غور قابله مسئله داده چې خاوند د جهاز د واقعې ځخه مخکې چې خپلې ښځې ته وئيلي دي چې آياته زماسره پاته کيدل نه غواړې، نو زما ځخه طلاق واخله او ولاړه سه طلاق واخله، په دې سره طلاق واقع سو او که نه؟ په ظاهره خوداجمله د عربي جملې د (خذى طلاقك) فقالت: (اخذت) اختلف فى اشتراط النية. وصحح الوقوع بلااشتراطها اه. وظاهره انه لايقع حتى تقول المرأة (اخذت) ويكون تفويضا وظاهر ماقدمناه عن الخانية خلافه. وفى البزازية معزيا الى فتاوى صدر الاسلام: والقاضى لايحتاج الى قولها اخذت. (البحر الرائق ج: ٣ ص: ٢٧٠) (١)

(١) باب الطلاق الصريح (طبع دار المعرفة بيروت) وفى مطبعة مكتبة سعيد كراچى ج: ٣ ص ٢٥١

علامه شامي رحمه الله د بحر د دې عبارت ځخه دانتيجه راووته چې:

ومنه خذى طلاقك، فقالت: أخذت، فقدصحح الوقوع به بلا اشتراط نية كمافى الفتح وكذا لايشترط قولها (اخذت) كما فى البحر (شامى ج: ٢ ص: ٤٣٠) باب الصحيح تحت قول الدر ومابمعناها من الصريح) (١)

ليکن په کوم سياق کې چې خاوند مذکوره جملې وئيلي دي د هغه پيش نظر په هغه کې او عربي جملو (خذى طلاقك) کې فرق دى، او هغه فرق دادى چې د اردو په محاوره کې د ذکرسوي جملې دوه مطلبه کيدى سى، يوداچې: ته زماسره اوسيدل نه غواړې. نوبيازه تاته طلاق درکوم طلاق واخله، او دوهم مطلب د اردو په معاوري کې داهم کيدى سى، چې کله ته زماسره نه پاته کيږې نو بيا زما ځخه طلاق وغواړه يعنې زما ځخه طلاق طلب کړه، د اردو محاوري په لحاظ سره په مذکوره جمله کې د دواړو معناوو يوشان احتمال دى، د دې برخلاف (خذى طلاقك) کې د عربي محاوري په لحاظ سره بل احتمال نسته، بلکې هغه په اولنى معنى کې صريح دى نو ځکه هلته د نيت ضرورت نسته.

اوس د اردو محاوري په لحاظ سره که د متکلم مراد او د معنى وى نو بياخو (خذى الطلاق) په معنى کيدلو سره، دى سره به يوطلاق واقع سى، خو که بله معنى مرادوى نو بيابه په دې کلموسره طلاق نه واقع کيږې، ځکه چې هغه د طلاق ايقاع نه ده، بلکې ښځې ته د خپل ځان ځخه د طلاق د طلب کولو امردى، په دې صورت کې د فقهي نژدي نژدي جزئيات دادى:

امرأة طلبت الطلاق من زوجها فقا لها: (سه طلاق بردار وفتى، لايقع ويكون هذا تفويض الطلاق اليها، وان نوى يقع (عالمگيريه ج: ١ ص: ٣٨٢) (٢)

رجل دعا امرأته الى الفراش فأبت، فقال لها: اخرجنى من عندى، فقالت: طلقنى حتى اذهب، فقال الزوج (اگرارزوئى توچنين است چنين گير) فلم تقل شيئًا وقامت) لاتطلق. كذافى المحيط. (عالمگيريه ج: ١ ص: ٣٨٢) (٣)

(١) رد المختار ج: ٣ ص: ٢٤٨ (طبع سعيد). وكذا فى الشامية ج: ٣ ص: ٢٤٨ (طبع سعيد).

(٢) ايضاً

(٣) (طبع رشيديه كويټه)

او هرکله چې د خاوند په مذکوره جُملوکې د دواړو معناوو احتمال دی نو د یوې معنی په تعین کې به د هغه قول معتبروی، او په دې الفاظو سره به طلاق نه واقع کیږي. خوخاوند د جهاز په واقعې کې چې د کومو الفاظو د تکلم اقرار کړی دی یعنی بیاته ولاړه سه! زه تاته طلاق درکوم، او لږ وخت وروسته بیاولاړه سه! زه تاته طلاق درکوم په الفاظو سره دوه طلاقه رجعي واقع سول، خو په دې کې مشکل دادی چې خاوند د جهاز په واقعه کې صرف د دوو وارو د طلاق اقرار کوی، او د ښځې دعوی داده چې هغه صرف په هغه وخت دری طلاقه راکړي دي، بلکې وروسته په یوځای والی کې یې د دې دری طلاقو اقرار هم کړی دی او دائي هم وئیلي دي چې د مفتی په مخکې د اصلی واقعې د پټولو د پاره صرف د دوطلاقو اقرار کړی دی، اوس که د ښځې سره د دې خبرو شاهدان موجود وه، نو بیا خو د هغه د پاره خپله دعوی ثابتول آسانه وو، خو د هغه سره شاهدان موجود نه دی او داټولی خبری په یوازې والی کې سوی دي، نوځکه په داسې صورت کې چې کله قاضي ته معامله ولاړه سی نو هغه به په خاوند باندی قسم اخلی او که هغه په دې خبره قسم واخلی، چې هغه د دوو طلاقو څخه زیات نه دی ورکړي، نوقضاءً به د هغه په حق کې فیصله اوسی، خوښځې په خپلو غوږونو دری طلاقه اوریدلی دي، نو ځکه د هغې په حق کې داجائز نه دی، چې هغه سړي ته د مقاربت موقع ورکړي، او د دې عملی تفصیل دادی، که د جهاز د واقع حضرت وروسته (چې په هغه کې خاوند د وو طلاقو ورکولو اقرار کړی دی) د عدی تیریدو پوری خاوند زبانی یاعملی رجوع ونکړله، نو بیاخو د عدی تیریدو سره هغه د خاوند د نکاح څخه ووتله، اوس د هغې ښځې د پاره د حلالې څخه بغیر به هغه سړي سره دوباره نکاح کول جائزنه وی، او خاوند قضاءً هم هغه په نکاح باندی نسی مجبوره کولی، هو! که خاوند د جهاز د واقعې څخه وروسته د عدی تیریدلو څخه مخکې مخکې زبانی یاعملی رجوع کړې وه نو په دې صورت کې هغه قضاءً ښځه د خپل ځان سره په پاته کولو باندی مجبوره کولی سی، نو په دې صورت کې ښځې ته داپکار دی چې اول خوخاوند ته د خدای ﷻ څخه خوف ورمخکې کړي او د آخرت د عذاب څخه یې وبیروی هغه دی په دې خبره باندی اماده کولوته مجبوره کولو کوشش وکړي چې هغه غلط بیانی کولو سره د ټول عمر د پاره په حرام کاری کې د مبتلا کیدلو په ځای یاخودی د دریم طلاق اقرار وکړي یادی کم ترکمه ښځه جلاکړي.

اوکه هغه دی ته هم تیارنه وی، نو د هغه مهر دی معاف کړی یادی روپی ورکړی او د هغه څخه دی خپل ځان خلاص کړی (۱). او که داهم ممکن نه وو، نو د هغه د پاره داهم جائز دی، چې هغه دی د خاوند کور پریږدی او مور او پلار کره دی اوسیږی او په هری ممکنی طریقی باندی دی هغه د مقاربت څخه منع کړی او که ډیره موده داشان وسیدل ممکن نه دی، نو دیانتاً د دې هم ګنجائش سته چې هغه دی د عدی د زمانی د تیریدلو څخه وروسته د هغه په غیر موجودګی کې یالاعلمی کې دوهمه نکاح وکړي او کله چې دوهم خاوند طلاق ورکړي نو د هغه څخه دی عده تیره کړی او اول خاوند ته دی ولاړه سی او د هغه څخه دی د تجدید نکاح مطالبه وکړي چې ماته په نکاح کې شبهه پیښه سوې ده نوکه زه دوباره عقد کول غواړم، کمافی العبارة الاولی والثانیة) او که په دې یوې خبرې هم ښځې ته عمل کول ممکن نه وی، نوچونکې ښځه مجبوره ده او د قاضی سره د خاوند د قسم اخستلو څخه وروسته قاضي د خاوند په حق کې فیصله کړی ده نو ځکه که هغه د خاوند څخه په څه صورت کې هم د ځان په خلاصولو باندی قادره نه وی، نو ټوله ګناه به په سړي باندی وی، اوښځه به عندالله معذوره ګڼل کیږي. کمافی العبارة الثالثة) خو په دې شرط چې هغې د ځان خلاصولو د پاره ټول ممکن تدبیرونه اختیار کړي وی او د ځان په خلاصولو قادره سوې نه وی. (کمافی العبارة الرابعة) په دې سلسله کې د علماوو عبارتونه په لاندی ډول دي:

۱. په بحر الرائق کې دي:

ولهذا قالو لوطلقها ثلاثًا وانکر، لها ان تتزوج باٰخر وتحلل نفسها سرًامنه اذا غاب فی سفر، فاذا رجع التمست منه تجدید النکاح لشك خالج قلبها. لا لانکار الزوج النکاح. وقد ذکر فی القنیة خلافًا فرقم للاصل بانها ان قدرة علی الهروب منه لم یسعها ان تعتدو تتزوج باٰخر، لانها فی حکم الزوجیة الاول قبل القضاء ولها ذالك دیانتًا وکذالك ان سمعته طلقها ثلاثا ثمّ جحدو حلفا انه لم یفعل وردها القاضی علیه لم یسعها المقام معه ولم یسعها ان تتزوج بغیرهِ ایضًا. قال یعنی البدیع. والحاصل انه علی جواب شمس

(۱) نن سبا په عدالتونوکې د جبری خلعو په غیرشرعی قانون باندی عمل کیږي د داسې جبری خلعی فیصلې شرعًا قابل د قبول نه وی خو که په مذکوره صورت کې ښځه د عدالت څخه جبری خلع وکړي او جدائی نو دافیصله که څه هم شرعًا نافذه نه وی خو ښځې ته دیانتًا د جدائی حکم دی نو د هغې جدائی ته به سرکاری تحفظ داشان حاصل سی او په دې موقع ښځې ته د دې ګنجایش معلومیږي. فلیتأمل والله اعلم (حاشیه د حضرت والادامت برکاتهم).

الاسلام الاوزجندی ونجم الدين النسفی والسيد ابی شجاع وابی حامد السرخسی يحل لها ان تتزوج بزوج آخر فيما بينهما وبين الله تعالى وعلى جواب الباقيين لايحل..... حلف بثلثة فظن انه لم يحنث وعلمت الحنث، وظننت انها لواخبرته ينكر اليمين. فقال انه لايجوز، وظاهر انه انما اجاب فی امرأة لايوثق بها. (البحر الرائق ج: ۴ ص: ۵۷، ۵۸ فصل فيما تحل به المطلقة) ([1])

۲: وفی التاتار خانيةگ

وسئل الشيخ الامام ابوالقاسم عن امرأة سمعت من زوجها انه طلقها ثلاثا وتقدر ان تمنع نفسها منه هل يسعها أن تقتله؟ قال: لها ان تقتله فی الوقت الذی يريد ان يقربها ولاتقدر على منعه الا بالقتل، وهكذا كان فتوی شيخ الاسلام ابی الحسن عطأ بن حمزة والامام ابی شجاع، وكان القاضی الامام الاسبيجابی يقول: ليس لها ان تقتله وفی الملتقط وعليه الفتوی. (ايضاً ص: ۵۸) ([2])

۳: وفی الفتاوی بزازية کی دی ([3])

سمعت بطلاق زوجها اياها ثلاثًا ولاتقدر على منعه الاّ بقتله ان علمت انه يقربها تقتله بالدواء، ولاتقتل نفسها، وذكر الا ورجندی رحمهم الله تعالى انها ترفع الامر الى القاضی فان لم تكن لهابينة تحلفه، فان حلف فلااثم عليه.... وفی النوازل: حرمت عليه الثلاث ويمسكها يباح لها ان تزوج بأخر من غير علم الزوج، ولايطلق لها، وقال الامام صاحب النظم (التاسع فی الحظر والاباحة من الطلاق)

۴: علامه شامی رحمه الله ليکی:

والفتوی على انه ليس لها قتله ولاتقتل نفسها، بل تفدی نفسها بمال او تهرب... وفی البزازية عن الاوزجندی انها ترفع الامر للقاضی فان حلف لابينة لها فلااثم عليه اه .... قلت: ای اذالم تقدر على الفداء او الهرب ولاعلى منعه فلاينافی ماقبله. (شامی ج: ۲ ص: ۴۳۲ (باب الصريح تحت قوله ولوصرح به دين فقط) ([4])

---

[1] طبع مكتبه رشيديه كويته.

[2] التاتار خانية ج: ۳ ص: ۲۰۹ (طبع ادارة القرآن كراچی) وكذافی البحر الرائق ج: ۴ ص: ۵۸ (طبع مكتبه رشيديه كويته)

[3] فتاوی بزازيه على هامش الهنديه ج: ۴ ص: ۲۲۰، ۲۲۱ (طبع رشيديه كويته)

[4] شاميه ج: ۳ ص: ۲۵۱ (طبع ايچ ايم سعيد)

د پورتني ذكر سوی تفصيل څخه د جناب د سوالونو د نمبرانه تر نمبر ۴ پوری جواب وسو، چی د هغه خلاصه داده چی:

که سړی په دی خبره قسم واخلی چی هغه د دوو څخه زيات طلاقونه نه دی ورکړی نوقضاء به هم دوه طلاقه واقع کيږی، خو د ښځی په حق کی ديانتًا دری طلاقه سوی دی.

اوس د باقی سوالونو جوابونه په لاندی ډول دی:

۵: ښځه دی د ديانت په حکم باندی عمل وکړی او مفتی به هم هغه ته د ديانت حکم وښايی، چی په پورته ډول په تفصيل سره ذکرسوی دی، او د مفتی اصل منصب هم د ديانت حکم ښوول دی، البته متأخرينو فقهاوو چی کله دا وليدل چی په قاضيانو کی جهالت عام سوی دی نو هغوی داحکم ورکی چی مفتی ته د ديانت د حکم سره د قضاء حکم هم ضرور ليکل پکار دی علامه شامی رحمه الله ليکی:

ليكن يكتب (المفتی) بعده ولايصدق قضاء لان القضاء تابع للفتوی، فی زماننا لجهل القضاة. فربما ظن القاضی انه يصدق قضاء ايضا. (رد المختار كتاب الحظر والاباحة) ([1])

ورسره په تنقيح الحامديه كي دی:

المراد من قولهم يدين ديانتًا قلاقضاء انه اذا استفتى فقيها يجيبه على وفق مانوی، ولكن القاضی يكحم عليه بوفق كلامه ولايلتفت الى نية اذاكان فيما نوی تخفيف عليه.... جری العرف فی زماننا ان المفتی لايكتب للمستفتی مايدين به بل يجيبه عنه باللسان فقط لئلا يحكم له القاضی لغلبة الجهل على قضاة زماننا. (تنقيح الحامديه ج: ۱ ص: ۳) ([2]).

۶: د فقهاء کرامو د (مقولی) (المرأة كالقاضی) ([3]) دامطلب نه دی، چی هغه دی په هرحال کی په هغه حکم عمل کوی چی قضاءً کيدسی بلکی د دی مطلب دادی چی لکه څنګه د قاضی دافريضه ده چی هغه دی د الفاظو په ظاهری او کثير الاستعمال مفهوم

---

[1] ج: ۲ ص: ۴۲۱ (طبع ايچ ايم سعيد)

[2] (طبع دار المعرفة بيروت)

[3] رد المختار مطلب فی قول البحر ان الصريح يحتاج فی وقوعه ديانتًا الى النية ج: ۳ ص: ۲۵۱ طبع سعيد)

ولی عمل وکړي او د خلاف ظاهر د نیت اعتبار دی نه کوی، دغه رکم د ښځی هم
باندی عمل وکړی او د خلاف ظاهر د نیت اعتبار دی نه کوی، دغه رکم د ښځی هم باندی عمل وکړی او د خپل خاوند د الفاظو ظاهرته وګوری، د هغه په خلاف په دافرض دی، چی هغه دی د خپل خاوند د الفاظو ظاهرته وګوری، د هغه په خلاف په نیت دی باور نه کوی، لهٰذا د بحث لاندی مسئله کی د (المرأة کالقاضی) مطلب به داوی، که قاضی په خپلو غوږونو د خاوند څخه دری طلاقه ورکول اوریدلی دی، نو هغه به د خپل علم مطابق فیصله کوله او دری طلاقه به یی نافذ کول. [1] دغه شان ښځی چونکی پخپله بغیر د څه شك څخه د دریو طلاقو الفاظ یی اوریدلی دی نو ځکه به هغی ته په دریوو طلاقو عمل کول لازم وی، قاضی چی هرڅه فیصله کړی وی، د دی دلیل دادی چی (المرأة کالقاضی) څه مستقله قاعده نه ده بلکی فقهائی کرام داجملی هم په داسی مواقعو باندی ذکرکوی چی چیری خاوند د خپلو الفاظو د ظاهری مفهوم خلاف د بلی معنی د نیت دعوی کوی، په داسی مواقعو باندی فقهاء لیکی: چی عدالتی فیصله به د هغه په ظاهری الفاظو باندی وی، نیت به قضاء معتبر نه وی، او په دی معامله کی د ښځی حکم پشان د قاضی دی، یعنی که هغه پخپله هغه الفاظ اوریدلی وی، یا د هغه الفاظو د تکلم یقین سوی وی نو هغه په ظاهره باندی عمل کوی د خاوند په نیت باندی نه، یوڅوفقهی عبارتونه وګوری!

الف: که څوك خپلی ښځی ته (انت طلاق) ووایی او دا دعویٰ وکړی چی زما مقصد طلاق ورکول نه وو، بلکی د قید څخه ازادیدل وو نو د دی په باره کی علامه ابن نجیم لیکی:

ویدین فی الوثاق والقید ویقع قضاء الا ان یکون مکرها، والمرأة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لایحل لها تمکینه، هکذا اقتصر الشارحون وذکر فی البزازیة، وذکر الاوزجندی انها ترفع الامر الی القاضی فان لم یکن له بینة تحلفه، فان حلف فلاثم علیه

---

[1] د طلاق په معامله کی د حنفی مذهب د اصولو مطابق قاضی د خپل علم او سماع مطابق فیصله کولی سی. القاضی یقضی فی حقوق العباد یعلمه بأن علم فی حال قضائه فی مصره ان فلانًا غصب مال فلان او طلق امراته.... الخ. معین الحکام ص: ۱۵۲) مطبعه حاجی عبد الغفار وپسران تاجران کتب ارګربازار، قندهار افغانستان) که څه هم متأخرینو فقهاوو د قاضیانو د فساد په وجه په دی فتویٰ نه ده ورکړی (شامی ج: ۴ ص: ۲۵۵)

[1] وفی رد المختار مطلب فی حکم القاضی بعلمه ج: ۵ ص: ۴۲۳ (طبع سعید) للقاضی بعلمه ج: ۵ ص: ۴۲۳ (طبع سعید) للقاضی العمل بعلمه والفتویٰ علی عدمه فی زماننا کمانقله فی الاشباه عن جامع الفصولین وقید بزماننا لفساد القضاة فیه والاصل المذهب الجواز... الخ

اه. ولافرق فی البائن بین الواحده والثلاث. (البحر الرائق ج: ۳، ص ۲۷۷ طبع دار المعرفة بیروت) باب الطلاق الصریح تحت قوله، وتقع واحده رجعیة وان نویٰ الاکثر... الخ. [1]

ب: همدا مسئله علامه فخر الدین زیلعی داشان بیان کړی ده:

ولوقال لها انت طالق ونویٰ به الطلاق عن وثاق لم یصدق قضاء ویدّین فیما بینه وبین الله تعالی، لانه خلاف الظاهر، والمرأة کالقاضی لایحل لها ان تمکنه اذا سمعت منه ذالك او اشهد به شاهد عدل عندها. (زیلعی شرح کنزج: ۲ ص: ۱۹۸ باب الطلاق) [2]

علامه شامی رحمه الله هم (المرأة کالقاضی) جمله په دی مسئله کی ذکر کړی ده (شامی ج: ۲ ص: ۳۲ باب الصریح) [3]

ج: دغه شان که څوك دری واره لفظ د طلاق استعمال کړی او دا دعویٰ وکړی چی زمانیت د تأکید وو نه د تأسیس، نو په دی باره کی دامسئله مشهوره ده، چی دیانتًا خوبه د هغه تصدیق کول کیږی خو قضاءً نه د دی په باره کی چی علامه حامد آفندی چی څه لیکلی دی د هغه څخه د (المرأة کالقاضی) مذکور برنی مفهوم بالکل واضح کیږی.

لایصدق فی ذالك قضاء، لان القاضی مأمور باتباع الظاهر والله یتولی السرائر.... وقال فی الخانیة: لوقال انت طالق، انت طالق، انت طالق، وقال: اردت به التکرار صدق دیانتًا وفی القضاء طلقت ثلاثًا اه. ومثله فی الاشباه والحدادی، وزاد الزیلعی. ان المرأة کالقاضی، فلایحل لها ان تمکنه اذا سمعت منه ذالك او علمت به، لانها لاتعلم الا الظاهر (تنقیح الحامدیة ج: ۱ ص: ۳۷ کتاب الطلاق) [4]

د دی څخه واضحه سوه چی قاضی سره د ښځی تنبیه من کل الوجوه نه ده، بلکی د بالظاهر په معامله کی ده.

د: دغه شان که څوك خپلی ښځی ته ووائی چی (انت علی کظهرامی) او دا دعویٰ وکړی چی زما مقصد د ماضی د دروغو خبر ورکول وو، نو د دی په باره کی په فتاویٰ

[1] وفی طبع مکتبة السعید کراتشی ج: ۳ ص: ۲۵۷. (محمد زبیر حقنواز)

---

[2] تبیین الحقائق ج: ۳ ص: ۴۱ (طبع دار الکتب العلمیه، بیروت)

[3] شامیة ج: ۳ ص: ۲۵۱ (طبع ایچ ایم سعید)

[4] تنقیح الحامدیة ج: ۱ ص: ۳۶. ۳۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویته)

عالمگیریه کی دی:
لوقال لامرأته انت علیّ کظهر امی کان مظاهراً.... ولوقال اردت به الاخبار عمی مضی کذبًا لایصدق فی القضاء، ولایسع المرأة ان تصدقه کمالا یسع القاضی، ویصدق فیما بینه وبین الله تعالی (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۵۰۷ باب الظهار) [1]

مفهوم واضح کیږی چی ښځی د خپل خاوند څخه کوم الفاظ اوریدلی وی، د هغه په ظاهر باندی د هغه د پاره عمل کول واجب دی برابره خبره ده که معامله قاضی ته رسیدلی وی او که نه وی رسیدلی، او دا مطلب نه دی، که قاضی د شاهدانو د فقدان په وجه فیصله د خاوند په حق کی وکړله نو ښځه دی هم په هغه عمل وکړی، که څه هم هغه د خاوند څخه د هغه د طلاق اوریدلی هم وی. څکه که د (المرأة کالقاضی) مطلب داوی، نو د طلاق په لفظ کی د زوجینو د اختلاف په صورت کی به د فقهاوو دانه وئیل چی قضاءً به طلاق نه واقع کیږی، خو په ښځی باندی واجب دی چی د هغه څخه لری اوسی، د دی مسئلی مفصل عبارت مخکی تیرسوی دی.

۷: د طلاق په تنازعاتو کی تحکیم جائزدی، او په دی کی د حکم فیصله نافذ کیږی.

لمافی معین الحکام: یجوز التحکیم فی الاموال والطلاق والعتاق و (هوالصحیح) لکن شیوخ المذهب امتنعوا الفتویٰ بهٰذا لئلا یتجاسر العوام فیه.
(معین الحکام ص: ۲۸ فصل نمبر ۸) [2]

لهٰذا زوجینو چی کوم عالم حکم جوړ کړی دی، هغه خوبه فیصله د هغه حکم مطابق کوی چی قضاء ثابتوی، خوپه صورت مسئوله کی هغه ته اول پکار دی چی خاوند ته د خدای بیره ورکړی، په صحیح صحیح بیان ورکولو یی آماده کړی او د دروغو قسم، گناه او ورسره مطلقه ثلاثه د ځان سره د ساتلو گناه هم هغه ته وښایی، د دی باوجود که هغه قسم واخلی، او ښځه څه شاهد پیش نه سی نوفیصله دی د سړی په حق کی ورکړی، خو ښځی ته دی په حیثیت د مفتی د دیانت ذکر سوی برنی حکم هم وښایی. بلکی که هغه ته د ښځی د ربښتینوالی ذاتی محور باندی گمان غالب وی، نو ښځه د سړی څخه د جلاساتلو کوم تدبیرونه چی د هغه په اختیار کی وی هغه دی نجی طور

---

(1) (طبع رشیدیه کویټه).
(2) (طبع حاجی عبدالغفار وپسران تاجران کتب ارگر بازار قندهار افغانستان.

سره اختیار کړی، او په دی معامله کی دی نجی طور سره د ښځی پوره مدد وکړی،
چنانچی په درمختار کی دی:
وعن الامام ان علم القاضی فی طلاق وعتاق وغضب یثبت الحیلولة علی وجه الحسبة لا القضاء [1].
د دی لاندی علامه شامی لیکی:
قوله: (یثبت الحیلولة) ای بان یأمر بأن یحال بین المطلق وزوجته والمعتق وأمته او عبده والغاصب وماغضبه بان یجعله تحت ید امین الی ان یثبت ماعلمه القاضی بوجه شرعی (قوله علی وجه الحسبة) ای الاحتساب وطلب الثواب لئلا یطاها الزوج او السید او الغاصب (قوله لا القضاء) ای لاعلی طریق الحکم بالطلاق او العتاق او الغضب. (رد المختار ج: ۴ ص: ۳۵۵، ۳۵۶ باب کتاب القاضی، مطلب قضاء القاضی بعلمه) [2]
الجواب الصحیح فلله در المصیب کثرالله تعالی امثاله وزاده بسطة فی العلم والجسم
محمد رفیع عثمانی عفا الله عنه

هذا ماظهر لهٰذا العبد الضعیف
والله سبحانه وتعالی اعلم
بالصواب والیه المرجع والمآب
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۳۹۷/۳/۱ھ
(فتویٰ نمبر ۳۰۹ / ۲۸ ب)
الجواب الصحیح
العبد منیب الرحمٰن

د (ماته پریښوولی) الفاظ دری واره د وئیلو حکم

سوال: ماشپږ اووه میاشتی مخکی خپلی ښځی ته دا الفاظ وئیلی وه چی: (ماته پریښوولی) او دا الفاظ تقریبًا لس دولس واره ماوئیلی وو او د دی وجی یوه جگړه وه چی زما د ښځی او زما په مینځ کی سوی وه، په هغه وخت نه زاسره ښځه وه او نه می

---

(1) الدر المختار ج: ۵ ص: ۴۳۹ (طبع ایچ ایم سعید کمپنی)
(2) رد المختار ج: ۵ ص: ۴۳۹ (طبع ایچ ایم سعید کمپنی)

دا الفاظ د وئیلو په وخت د ښځي نوم اخستي دي، د دي څخه دوی میاشتي وروسته مي د پلار په حکم سره د خپلي ښځي مي د پلار په حکم سره د خپلي ښځي سره کوروالي وکی، او د دي الفاظو د وئیلو په وخت ما د طلاق نوم یالفظ بالکل نه وو وئیلي؟

جواب: ماهغه پرېښووله، که دا الفاظ يي دري واره يا د هغه څخه زيات وئيلي وي نو ستا په اهليه باندي دري طلاقه واقع سول (۱) اوس هغه ستا د پاره بغير د حلالي څخه نسي حلاليدلی، د دي واقعي څخه وروسته چي کوم کوروالي وسو هغه جائزنه وو په هغه باندي توبه او استغفار کول پکار دي، لان الالفاظ المذكورة صريحة فى الطلاق فى عرفنا فلا تحتاج الى النية (۲)، واما الضمير فينبغى ان تسمية المرأة اذاكان مرجعه معلوما. والله سبحانه اعلم.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی بلند شهری

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۷/۱۲/۲۴ھ

(فتوی نمبر ۱۴۵۹/ ۱۸- الف)

(تاته به طلاق درکوم) دا الفاظ وئیلو حُکم

سوال: څه فرمائی د دين عالمان او د شرع مبين مفتيان حضرات د دي مسئلي په باره کي چي د زيد د خپلي ښځي د کورني خبرو باندي تيزی او ترخي خبری وسوی ښځي خپل خاوند ته ووئيل: چي ته د کور څخه ولاړه سه! زيد ووئيل چي مور به ولاړسو او تاته به طلاق درکړو او دوه واره يي دا ووئيل، په دي باندي اهله خاموشه سوه، بيازيد د دي څخه وروسته د طلاق وغيره ورکولو څخه بغير د خپل کار د پاره يوځای ولاړی. اوس سوال دادي چي په ذکرسوی صورت کي د هغه په ښځي باندي طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که د سائل بیان صحیح وی او خاوند همدا الفاظ استعمال کړی دي چي تاته به

---

(۱) ایضاً.

(۲) د لفظ پرېښوولو متعلق د تفصیلي حکم د پاره راروانه صـ او د هغی حاشیه عـ او د وزوسته صفحه عـ او د هغي حاشيه نمبر عـ وګورئ. (محمد زبير)

طلاق درکړو نو په دي سره طلاق واقع نه سو (۱). هغوی دواړه بدستور ښځه او خاوند دي، خوآینده د طلاق الفاظو په استعمال کي ډير احتياط لازم دي، په بعضی صورتونو کي ښځه د همیشه د پاره حرامیږی، لهٰذا آینده د کوم مستند عالم څخه مشوره اخستلو څخه بغير د طلاق لفظ هيڅکله په ژبه سره مه وایاست. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱/۴/۲۹ ھ

(فتوی نمبر ۵۷۷/ ۲۲ ب)

په امداد الفتاوی کی دوو ښځوته د طلاق ورکولو په مسئله کی د درمختار جزئیه ذکرکولوکی تسامح دی

سوال: امداد الفتاوی مبوب ج: ۲ ص: ۳۵۰ کی دی چي خاوند خپلو دوو ښځوته ووئيل تاسوته دوه طلاقه دی.... الخ.

حضرت حکيم الامت قدس سره جواب ليکلی دی چي په هری ښځي دوه طلاقه واقع سول، چنانچي په دي جواب باندي يوعالم تنقيد وکی چي په دي جواب کي تسامح ده، صحيح دادی چي د ليکل سوی جزئيي لاندی په هری ښځي يوطلاق واقع سو چنانچي داتنقيدهم په دي صفحه باندي طبع سوی دي په ذکرسوی مسئله کي د بنده رايي داده چي اول جواب صحيح دی، ليکن د دي جواب د پاره چي حضرت تهانوی رحمه الله کومه جزئيه نقل کړی ده هغه جزئيه د سوال په صورت باندي منطبقه نه ده ځکه چي په جزئيه کي (بينكن تطليقة او تطليقتان) الفاظ دي او د سوال په صورت کي داسي الفاظ نسته د جزئيي الفاظ مخ ته اينوولو سره ناقد تنقيد کړی دی، او د دي الفاظو په اعتبار سره داتنقيد درست هم دی خو د سوال د صورت په لحاظ سره داتنقيد غلط دی، الغرض په اول جواب او تنقيد دواړوکی فی الجمله تسامح معلوميږی ګوانکی که صحيح جواب اول دی.

د بنده په نزد د سوال په صورت باندي منطبق او اقرب جزئيه لاندی ده،

ولوقال لثلث نسوة له انتن طوالق ثلثًا او طلقتكن ثلاثًا يقع على كل واحدة ولاينقسم

---

(۱) د حوالی د پاره د صـ فتوی او د هغی حاشیه عـ وګورئ. (محمد زبير حقنواز)

اه. (هندیة ج: ۲ ص: ۵۳) (۱)

چې د هغه په وجه په صورت مسئوله کې په هرې ښځې دوه دوه طلاقونه واقع کیدل پکار دي، ستاسو څه رائې ده؟

سائل: مولانا (مفتي) عبد الستار صاحب مدظلهم، جامعه خیر المدارس ملتان

جواب: مخدوم گرامي قدر ومکرم داست الظافهم، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

ستاسو خط زموږ د خوشحالي باعث وگرځیدی.

په امداد الفتاوی (۲) کې چې د طلاق د کومې مسئلې په باره کې چې تاسو د تسامح نشاندهي کړې ده، احقرته ستاسو د رائې سره اتفاق دی، واقعًا د عالمگیریې جزئیه دلته د اتباع قابله ده، د درمختار جزئیه دلته نه منطبق کیږي. د دعاگانو درخواست.

والسلام

احقر محمدتقي عثماني عفي عنه

۱۴۰۳/۳/۲۰ ه

(فتوی نمبر ۵۴۲/ ۳۴ ب)

لفظ د (پرینبوولو) طلاق صریح دی او که کنایه؟

(د دار العلوم حقانیه اکوړه خټک او جامعه دار العلوم کراچي جدا جدا موقف)

سوال: ماچیرې ویلي وه چې لفظ (پرینبووله) کله چې کوم سړی خپلې ښځې ته د طلاق د نیت څخه بغیر ووایي نو طلاق واقع کیږي. غالبًا حضرت تهانوي رحمه الله دا فتوی ورکړې وه، ستاسو څه رائیه ده؟ مثلاً د کوم سړي څخه د کور نورو خلگو پوښتنه وکړه چې ستاښځه چیرې ده؟ نو هغه ووئیل: چې هغه ما د مورکره پرینښې ده د هغه مطلب داوو چې یوه ورځ یا دوې ورځې به د مور کره وي بیابه بیرته راځي چې یوه سندره عمومًا په ریډیو، ټیلي ویژن باندې وئیل کیږي چې د هغه مندرجه ذیل شعر دی.

(۱) ج: ۱ ص: ۳۲۱ (طبع رشیدیه کویټه)

(۲) ج: ۲ ص: ۴۰۴ سوال نمبر. ۴۹.

دل کالگانا ہائے ہائے

دل کالگانا ہم نے چھوڑ دیا چھوڑ دیا

اوس که یو سړی داسندره اوریدلو سره پخپله هم سندره شروع کړي او ښځه ورسره موجوده وي او ښځه یې هم ورسره سندره وئیل شروع کړي (یو د بل طرفته کتلو سره) سندره ویونکي سره سره سندره وئیل شروع کړي (د طلاق خیال هم د ښځې او خاوند ترمینځ نه وي) نو آیا په داسې صورت کې به د پرینبوولو لفظ په یقین سره کنایه نه منل کیږي؟ مثلاً ښځې خاوندته ووئیل: چې ماپرېږده، فلانې ځای ته یامورکره یابل چیرې د اکار کول دي نو خاوند ووئیل چې ښه دي یایې ووئیل چې تاته اجازه ده، هرکله چې د طلاق خیال یې قطعًا نه وي، او هرکله چې پنجاب کې داعرف نه منل کیږي څکه چې حقیقتًا کنایي دي، آیا په دې صورتونو کې تاسوهم د طلاق فتوی ورکوئ؟ اویا که اوس داسې لفظ عرف عام بدل د لفظ طلاق بالکل نه دی خاصکر د پنجاب په خطه کښې، په دې سره خوبغیر د نیت طلاق بلکل نه واقع کیږي؟ مثلاً ښځې خاوند ته د جماع د پاره صفا اشاره وکړه، خاوندووئیل چې (پرېږده) د درد څخه ښځې ووئیل چې (پرېږده) (دسوالئې په صورت کې) نوخاوند ووئیل (هو!) یایې ووئیل! (ښه) یایې ووئیل (پرېږده). نوپه دې صورتونو کې به طلاق واقع کیږي؟ د مفتي محمود صاحب یوشاگرد راته ووئیل: چې زماهم داخیال دی چې د دې لفظ په استعمال سره بغیر د نیت څخه طلاق بالکل نه واقع کیږي.

زماخیال دی چې زموږ خواته خصوصًا په پنجاب کې دا لفظ (پرینبوولو) په دواړو صورتونو کې د طلاق او نورو مقاصدو د پاره (هرکله چې د طلاق خیال یې هم نه وي) استعمالیږي یعنې کنایه ده، نوبیاهم کله چې د چانیت بلکې د طلاق خیال او فکر نه وي نوآیا د ذکر سوی لفظ په استعمال سره بغیر د نیت څخه هم د طلاق حکم ورکوی او که نه؟

جواب د مفتي محمد فرید مدظلهم دار العلوم حقانیه اکوړه خټک

جواب: واضحه دې وي چې د (پرینبوولو) لفظ په طلاق او غیر طلاق دواړو کې په کثرت سره استعمالیږي د قرائنو د وجې د یوتعین کول کیږي وروسته په ښکاره به

دالفظ د (ترکها) په شان د کنایاتو څخه وی چی په هغه کی د نیت څخه بغیر طلاق نه واقع کیږی، ورسره که دالفظ په طلاق کی متعارف وی نو په طلاق بائین کی به متعارف وی، د اهل عرف په نزد بینونت مراد اخستل کیږی، والصریح قد یقع بالباین کمافی رد المختارج: ۲ ص: ۶۳۹ (۱) والصریح لایقع به الطلاق دیانتاً عند عدم النیت کمافی ردالمختار ج: ۲ ص: ۵۹۳. نعم اذاکان هازلاً فیقع طلاقه لکونه ناویاً زجراً وللحدیث المشهور فافهم. محمد فرید عفی عنه دار الافتاء دار العلوم حقانیه اکوړه خټك صلح پشاور نمبر ۶۱۹: ۱

جواب د حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم جامعه دار العلوم کراچی

جواب: د دی څخه زیات واضح لفظ د فارسی (هشتم) او (پای کشاده) کردم تُرا، دی، چی ښکاره ده چی دا لفظ په مختلفو لفظی قرینو سره په نورو معنٰی ګانو کی هم استعمالیږی، د دی باوجود فقهاء کرامو دا د عرف په غالب استعمال په وجه سره صریح ګرځولی دی، چنانچی په فتاوی عالمګیری کښی دی: ولوقال الرجل لامراته (ترا چنګ بازداشتم) او (بهشتم) او (پله کردم ترا) او (پای کشاد مکردم ترا) فهٰذا کله تفسیر قوله (طلقتك عرفاً. حتی یکون رجعیا ویقع بدون نیة کذا فی الخلاصة، وکان الشیخ الامام ظهیر الدین المرغیانی رحمه الله یفتی فی قوله (بهشتم) بالوقوع بلانیة ویکون الواقع رجعیاً ویفتی فیما سواها باشتراط النیة.... الخ. (عالمګیریه ص: ۳۷۹ فصل الطلاق بالفاظ الفارسیة، (۲)

لهذا که د نورو لفظیه قرائنو سره لفظ د (پرینښوولو) د غیر طلاق د پاره مستعمل وی نو دا د هغه د صریح کیدلو منافی نه دی ځکه چی الفاظ صریحه هم د نورو د لفظی قرینو په موجودګی کی د غیر طلاق د پاره استعمالیږی او په هغه سره طلاق نه واقع کیږی، لهذا په دی سره د هغه علماوو خلاف حجت نه قائمیږی، کوم چی لفظ د (پرینښوولو) ته صریح وایی.

---

(۱) رد المختار: ۳ ص: ۲۵۲ (طبع سعید)
(۲) ج: ۱ ص: ۳۷۹ (طبع رشیدیه کویټه).

خلاصه داچی کوم مثالونه تاسو لیکلی دی په هغه کی د چا په نزد هم طلاق نه واقع کیږی، ځکه چی هلته د غیر طلاق د معنٰی صریح قرائن موجود دی، خوکله چی داشان قرائن موجود نه وی او کوم سړی ښځی ته ووایی چی (ماته پرېښوولی) نو راجح دادی چی په اردو محاوره کی داصریح لفظ دی، بیاهم حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمة الله علیه د (امداد المفتیین) په حاشیه لیکلی دی چی: غرض داچی په دی کی د علماوو اختلاف دی، سائل ته دیانتاً په کوم چی یی زیات اعتماد وی د هغه فتوٰی اختیارول پکار دی، (فتاوٰی دار العلوم دیوبند ج: ۲ ص: ۵۰۲) (۱)

او داټوله ګفتګو د اردو په محاوره کی ده، د پنجاب د عرف حضرت احقرته علی وجه البصیرة واقفیت نسته، په دی کی د پنجاب اهل فتوٰی ته رجوع کولو سره عمل کول پکار دی.

والله سبحانه اعلم
۹/ ۷/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوٰی نمبر ۵۲۹/ ۲۸ ب)

---

(۱) ص: ۲۱۲ (طبع دار الاشاعت کراچی).

فصل فی الطلاق بالکنایات

د طلاق د کنایاتو بیان

(ولاړه سه او واده وکړه زما ستاسره څه واسطه نسته)

د دا الفاظو حکم

سوال: یو خاوند خپلی ښځی ته ووئیل چی (ولاړه سه او واده وکړه زما ستاسره څه واسطه نست) په دی صورت حال کی د خاوند څخه پوښتنه وسه چی تا طلاق ورکړی دی؟ خاوند ووئیل: ما د خفگان د وجی وئیلی دی، خسر موقع پیداکړه د طلاق د ثبوت کولو د پاره زوم ته یی ووئیل: چی ستا د مذکوره الفاظوسره طلاق بائین واقع سوی دی، اوس ستاسره زه غیر کس ملاووم، ستا نکاح دوباره کوو، په دی وئیلوسره خسر یوغیرسړی ته د شاهدی طور او طریقی ښوولو او پوه کولوسره یی زاوستو چیری د طلاق په باره کی پوښتنه وکړه، غیر سړی د خاوند څخه پوښتنه وکړه چی تا طلاق ورکړی دی؟ خاوند ووئیل هو! ورکړی می دی، بیایی ووئیل چی څنگه دی ورکړی دی؟ خاوند چُپ پاته سو، خسرورته ووئیل: چی ته ووایه چی طلاق بائن می ورکړی دی. بیا خاوند ووئیل: چی ماطلاق بائن ورکړی دی، اوس په دی ذکرسوی صورت کی د مسئلی او د خاوند د اقرار د حکم شرعی څخه می خبرکړه؟

جواب: په صورت مسئوله کی په ښځی باندی یوطلاق بائن واقع سوی دی چی دهغه حکم دادی: که ښځه او خاوند دواړه په خپل مینځ کی په رضامندی سره دوباره نکاح کول غواړی نوکولی سی، ځکه چی ولاړه سه او واده وکړه..... الخ. الفاظ کنایه دی چی محتمل د رد او جواب دی: کمافی البحر ولوقال: اذهبی فتزوجی، وقال: لم انو الطلاق، لم یقع شیئٌ لان معناه تزوجی ان امنك وحل لك. البحر الرائق ج: ۳ ص: ۳۲۲) (۱) او په صورت مسئوله کی کله چی د خاوند څخه د دی الفاظو په ذریعه د طلاق په باره کی

---

(۱) البحر الرائق باب الکنایات فی الطلاق ج: ۳ ص: ۳۰۲ (طبع سعید) وفی الهندیة کتاب الطلاق الفصل الخامس فی الکنایات ج: ۱ ص: ۳۷۶ (طبع رشیدیه کویټه) ولوقال لها اذ هبی فتزوجی تقع واحدة اذا نوی...... الخ.

پوښتنه وسوه نو هغه د طلاق د نیت نفی وکړله، او نه یی څه داسی معنی وښووله چی په هغه سره د رد طلاق ووئیل سی، بلکی دایی وئیلی دی چی دا الفاظ ما د خفگان د وجی وئیلی دی، بیاچی کله هغه ته ووئیل سول چی په دی الفاظو سره طلاق بائن واقع سوی دی، نوبیاهم هغه بل څه مفهوم واضح نکی بیاتردی چی صراحتًا یی اقرار بالطلاق وکی.

والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۳۰/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۰/ ۲۱ – الف)

ماته ستا ضرورت نسته، ځه ولاړه سه د دا الفاظو حُکم

سوال: یوسړی په کیملپور کی دی او د هغه زوم په کراچی ملزکی ملازم دی، مذکوره سړی خپله لور زوم ته ورسوله، چنانچی څه موده ښځه او خاوند په اتفاق او سلوك سره پاته کیدل، خو وروسته پکښی اختلاف پیداسو، خبره دی ته ورسیدله چی انجلی خپل خاوند ته ووئیل: چی که تاته زما ضرورت نه وی نو ما مه په عذابوه کورته می ولیږه، خاوند هغی ته ووئیل چی ماته ستا هیڅ ضرورت نسته، ځه ولاړه سه، او ټول شیان یی هغه څخه واخستل او یوه برقعه یی هغه ته ورکړله چی دا ستاحق مهر دی او د کور څخه یی ویستله او تاته یی کورته ولگوله، انجلی د پلار کورته ورسیدله څو ورځی وروسته د انجلی پلار خپل زوم ته یوخط ولیږی چی عزیزه! خپله ښځی دی سنباله کړه او که سنبالولی یی نسی، یاتاته د ښځی ضرورت نسته نو پری یی ږده، ځکه چی وخت نازك دی او موږ غریب خلک یو، په دی باندی زوم ولیکل: تاچی د بنده څه عزت کړی دی او څه چی په واده سره آرام پیداسوی دی او کوم عزت چی سوی دی داکافی دی. او اوس بنده ته ضرورت نسته، خپله لور بیرته واخله، او بنده ته د شکریی موقع ورکړه، ځکه چی زه د دی د سنبالولو څخه معذوریم، اوس هلك وایی، چی ماصریح طلاق نه دی ورکړی او د طلاق څخه انکار کوی، ایا په دی صورت کی طلاق بائن نه واقع کیږی؟

جواب: په صورت مسئوله کی خاوند دوی جملی استعمال کړی دی یوداچی. ماته ضرورت نسته، دوهمه جمله داچی (ځه ولاړه سه) په دی کی په لومړی جملی سره څه

طلاق نه واقع کیږي که څه هم د طلاق نیت یې کړی وي...... لمافی الهندیة ولوقال: لاحاجة لي فیك، ینوي الطلاق فلیس بطلاق. (عالمگیریه نو لکشور ج: ۲ ص: ۸۵) [۱] خو دوهمه جمله څه ولاړه سه! د طلاق د کنایاتو څخه ده او په دې کې د رد او جواب دواړو احتمال دی او حالت د طلاق د مذاکرې دی نو ځکه بغیر د نیت څخه طلاق نه واقع کیږي: لمافي العالمگیریه وفي حالة مذاکرة الطلاق یقع الطلاق فی سائر الاقسام قضاء الافیما یصلح جوابًا ورداً فانه لایجعل طلاقًا کذافی الکافی. ج: ۲ ص: ۸۴) [۲] نوځکه په مذکوره صورت کې دار ومدار د خاوند په نیت باندې دی که هغه د (څه ولاړه سه) ویلوسره د طلاق نیت کړی وي نو یوطلاق بائن به واقع سي، او که هغه د طلاق نیت نه وي کړی نو طلاق به نه واقع کیږي [۳]. او چونکې په دې معامله کې د خاوند قول قضاءً معتبردی، نوځکه د هغه د طلاق د نیت څخه انکار کول به په قسم سره معتبروي خاوند ته پکار دی چې هغه د آخرت ورځ مخ ته کړي او صحیح صحیح دوائې چې د هغه نیت څه وو؟ او که هغه بیاهم په دې باندې قائم وي چې د هغه نیت د طلاق ورکولو نه وو نوبیابه ښځه بدستور د هغه منکوحه وي او د هغه څخه د خلاصی حاصلولو د پاره یا خودې هم د هغه څخه د طلاق اخستلو یاخلع کولو کوشش وسي یا په عدالت کې د دوړي او نفقې نه ورکولو په وجه د فسخ نکاح دعوی دې دائره سي. عدالت ته به خاوند را وغواړي او په دوړي نفقې ورکولو باندې به یې مجبوره کړي که هغه آماده نه وي، یاعدالت ته د حاضریدلو څخه انکار وکړي نو عدالت نکاح فسخ کولی سي، د دې څخه وروسته دې عده تیره کړي، بیا ښځه په بل ځای کې نکاح کولی سي. [۴]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

---

(۱) الفتاوی الهندیة الفصل الخامس فی الکنایات ج: ۱ ص: ۳۷۵ (طبع رشیدیه کویټه) وفی بدایع الصنایع کنایات القسم الثالث ج: ۳ ص: ۱۰۷ (طبع رشیدیه کویټه) ولوقال: لاحاجة لی فیك، لایقع الطلاق وان نوی لان عدم الحاجة لایدل علی عدم الزوجیة فان الانسان قدیتزوج بمن لاحاجة له الی تزوجها فلم یکن ذالك دلیلاً علی انتفاء النکاح فلم یکن محتملاً للطلاق..... الخ. وفی البحر الرائق ج: ۳ ص: ۳۰۳ (طبع سعید) اذاقال: لاحاجة لی فیك... فانه لایقع وان نوی.... الخ.

(۲) الفتاوی الهندیة کتاب الطلاق الفصل الخامس فی الکنایات ج: ۱ ص: ۳۷۵ (طبع رشیدیه کویټه)

(۳) وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۴۳۲، ۴۳۳ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی).

(۴) د نکاح د فسخ کولو مکمل طریقه کار صـ حاشیه ۵ کې وګورئ.

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۶/ ۵/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۲۹۰/ ۲۲ ب)

(ته زما مور خوریې) د الفاظو حکم

سوال: که سړی خپلې ښځې ته مور، خور ووایي یعنې دا ووایي: چې ته زما مور او خوریې که زماسره نه راځې، خپل کلي پرېښوولوسره نه راځې نو ته زمامور او خور یې، دومره ویلو سره سړی روان سو، دوه کاله یې خرچه بنده کړله، یعنې زه بهر روان یم که نه راسره نه ځې، ښځې ووئیل: چې زه خپل کلي پرېښوولو ستاسره نه ځم، په دې باندې خاوند ووئیل: ته زمامور او خوریې، د دې څخه ستاڅه مراد دی؟

جواب: ته زمامور او خوریې، په جملې وئیلوسره څه طلاق واقع نسو داجمله خطاده، په صورت مسئوله کې ښځه بدستور د خپل خاوند په نکاح کې ده، که جدایې مقصود وي نو خاوند ته به په صریح الفاظو کې طلاق ورکول پکار وي. (لمافی الدر المختار وان نوی بأنت علی مثل امّی او کامّی... براً اوظهاراً او طلاقاً صحت نیته ووقع مانواه لانه کنایة وان لاینو شیئًا او حذف الکاف لغا وتعین الادنی. (شامي ج: ۲ ص: ۵۷۲، ۵۷۷) [۱] والله سبحانه اعلم

۹/ ۹/ ۱۳۹۷

(فتوی نمبر ۹۲۲/ ۲۸ ج)

زموږ ترمینځ د ښځې او خاوند والارشته ختمه سوې ده الفاظو سره د طلاق حکم

سوال: یوسړي محمد سلیمان ولد محمد اسلم خپلې ښځې مسماة عائشه بیګم ته د خط په ذریعه طلاق رالیږلی دی، دغه ښځه آمه لویه کړې وه، او سلیمان بهرته په ملازمت باندې د تللو په وخت وئیلي وو، دابه خانته راغواړم، د اوو کالو اوږده زمانه تیره سوه، په دې دوران کې یووار پاکستان ته رالو او د ښځې سره د ملاویدلو څخه

---

(۱) کتاب الطلاق باب الظهار ج: ۳ ص: ۴۷۰ (طبع سعید) او همدارنګه وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۴۷۰، ۴۷۲ عزیز الفتاوی صـ ۴۹۳، ۴۹۴ سوال نمبر ۹۰۰، ۹۰۱ او امداد المفتین صـ ۲۲۵.

بغیر بیرته ولاړو، په خط کی چی د طلاق متعلق کوم الفاظ استعمال سوی دی هغه تکی په تکی په لاندی ډول دی:

زه د هوس او حواس په قائم ساتلو سره او د الله ﷻ ذات حاضر او ناظر ګڼلو سره په ډیره تسلی نن مورخه مخکی مارچ سنه ۱۹۷۷ء د نهی په ورځ تاته اطلاع درکوم چی زموږ ترمینځ د ښځی خاوند والارشته ختمه ده، او دافیصله شرعی یاقانونی طورباندی چی هغی ته طلاق وایی وګڼه، د دی ځخه وروسته نورځه ګنجایش د امید یا د شك والا خبره پاته نسوه چی د هغه ځخه داخیال وسی، چی زموږ ترمینځ د ښځی او خاوند والا رشته لاقایمه ده، زما د دی فیصلی ځخه اوس ته پخپله خوښه ځنګه چی پخپله ښه ګڼی بیشکه هغه وکړه ځکه چی زما د طرفه اوس ته فارغه یی.

انجلی د خپل امداد د پاره په شرعی عدالت کی د کومو کومو حقوقو دعوی کولی سی؟ مثلاً د اووکالو خرچه، حق مهر او د عدی د مودی خرچه. د دی ځخه علاوه د نورو کومو حقونو مطالبه کولی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مسماة عائشه بیګم باندی طلاق بائن واقع سوی دی [1] او هغه د عدی تیرولو ځخه وروسته چیری چی وغواړی نکاح کولی سی که خاوند د هغی سره خلوت صحیحه کړی وی، نو په هغه باندی پوره مهر واجب دی [2]. او مسماة عائشه بیګم ته د هغه داصولولو حق د عدالت په ذریعه حاصل دی ورسره د عدی د زمانی د نفقی هم د خاوند ځخه د وصولولو حق لری [3]. خو د تیرو شوو اوه کالو د

---

[1] وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الثانی فی ایقاع الطلاق الفصل الخامس فی الکنایات ج: ۱ ص: ۳۷۲ (طبع ماجدیه) ولوقال. . لم یبق بینی وبینك عمل ونوی یقع کذا فی العتابیة، وفی الهندیة ایضا ج: ۱ ص: ۳۷۵ قال لم یبق بینی وبینك نکاح یقع الطلاق اذا نوی ..... الخ.

[2] وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه) والمهر یتأکد باحد معان ثلثة الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین سواء کان مسمٰی او مهر المثل حتی لایسقط منه شیئ بعد ذالك الا بالابراء من صاحب الحق... الخ.

[3] وفی الهندیة الفصل الثالث فی نفقة المعتدة ج: ۱ ص: ۵۵۷ (طبع ماجدیه) المعتدة عن الطلاق تستحق النفقة والسکنی کان الطلاق رجعیًا او بائنًا او ثلاثاً حاملاً کانت امرأة اولم تکن. کذا فی الفتاوی قاضی خان، وکذا فی البحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۹۸ (طبع رشیدیه کویټه)

نفقی مطالبه په صورت مسئوله کی نسی کیدی. [1] خاوند ته پکار دی چی دانفقه هم اداء کړی خو که هغه یی اداء نه کړی نو هغه د عدالت په ذریعه نسی مجبوره کولی.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۵/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۴۵۴/ ۲۸ ب)

اوس خوماته په نکاح باندی شک دی چی هغه قایمه ده او که نه؟ د الفاظو حُکم

سوال: د زید ښځه د خپل خاوند خبره په دنیاوی معاملاتو کی نه منی یوه روځ هم په داسی واقعه باندی زید د سخت درد په حالت کی ووئیل: اوس خوماته په نکاح باندی شك دی چی هغه قائمه ده او که نه؟ د زید مطلب د دی ځخه داوو، چی که ښځه د خاوند خبره بالکل ونه منی نو د سختی ګناه خبره ده بلکی هغه محاورة ښځه پاته نسوه، د زید د ښځی د وینا ده چی که تا په نکاح باندی شك کړی دی نو ځکه د دوو شاهدانو په مخکی اقرار وکی چی نکاح برقراره ده ماته سوی نه ده، براه کرم د زید د ښځی د مطالبی شرعی حیثیت او د زید د برنی الفاظو حیثیت واضح کړی، چی د زید د دی الفاظو سره په نکاح کی خدای دی نکړی ځه خلل واقع سوی دی، د زید خیال دی چی داسی ځه خبره نسته د ښځی مطالبه غلطه ده؟

جواب: زید چی کوم الفاظ وئیلی دی چی (اوس خوماته په نکاح باندی شك دی چی هغه قائمه ده او که نه ده، په دی الفاظو سره ځه طلاق واقع نسو، او نه یی نکاح ماته سوه، د دواړو نکاح بدستور قائمه ده ښځی ته د داسی مطالبی ځه ضرورت سته او نه داسی کولو سره په مسئلی باندی ځه اثر غورځیږی.

والله سبحانه اعلم

۳/ ۳/ ۱۴۰۱ هـ

(فتوی نمبر ۳۰۱۶/ ۳۲ - الف)

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۹۴ (طبع سعید) والنفقة لاتصیر دینًا الاّ بالقضاء او الرضاء ای اصطلاحهما علی قدر معین أصنافًا او دراهم فقبل ذالك لایلزمه شئ. وفی الشامیة قوله (والنفقة لاتصیر دینًا) ای اذا لم ینفق علیها بأن غاب عنها او کان حاضراً فامتنع فلا یطالب بها بل تسقط بمضی المدة.... الخ.وکذا فی البحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۸۲ (طبع رشیدیه کویټه).

زما د اړخه فیصله ده) د الفاظو وئیلو حُکم

سوال: د یوسړی دوی ښځی وی مخکی ښځی ته یی دوه واره او د دوهمی ښځی ته یی یووار طلاق ورکولو سره رجوع کړی وه، بیا په یوه موقعه هغه دواړو ښځو متعلق ووئیل: چی زما دواړی ښځی دی ترصبا پوری ضرور زماخواته راسی، که ترصباپوری رانغلی نو زما د طرفه فیصله ده، خوښځی د هغه خواته ولاړی نه سوی د دی واقعی تفصیل می ستاسو دار الافتاء ته درلیږلی وو، خو د جناب د اړخه ۲/ ۳/ ۱۳۹۳ ه باندی جواب راکول سوی وو، چی مخکی ښځی ته دری طلاقه ورکول سول او دوهمی ښځی ته طلاق بائین سوی دی چی رجوع نسی کولی خو په رضامندی سره دوباره نکاح کیدی سی، خو دوهمه ښځه تیاره نسوه نتیجًا دواړی ښځی د خپل اولاد سره وسیدلی، اوس هغه سړی دا وایی چی ماخپلو ښځوته طلاق نه دی ورکړی، هغه الفاظ ما د درد په حالت کی وئیلی وه، حالانکی دابالکل واضح وو، کله چی هغه دا الفاظ وئیلی وه چی د هغه مراد طلاق وو. که هغه سړی دادعوٰی وکړی چی ما د طلاق په نیت دا الفاظ نه وه وئیلی نو د هغه د دعوٰی به څه حقیقت وی؟

جواب: په مخکی جواب کی دالیکل سوی وو، که داخبره یی د درد په حالت کی کړی وه نو د نیت څخه بغیرهم طلاق واقع سو، او په موجوده سوال کی خاوند پخپله اقرار کوی چی دا خبره هغه د درد په حالت کی کړی ده، لهٰذا طلاق واقع سو. (۱) د دی څخه علاوه په سوال کی چی (د هغی نمبر ۳۴۸/ ۲۴ ب دی) داتصریح ده، چی هغه د مذکوره الفاظو سره داهم وئیلی وه، چی دامه ګڼه چی زه خالی دهمکی درکوم بلکی بله ورځ به د وکیل په ذریعه تحریری طلاق هم در ولیږم. دا صراحتًا د طلاق مذاکره ده او د طلاق په مذاکره کی هم د نیت اعتبار نه وی، لهٰذا طلاق بائین واقع سوی دی، (۲) او د خاوند قول ته اعتبار نسته. والله سحبانه وتعالی اعلم

---

(۱) ایضًا.

(۲) فیصله می ورکړله د الفاظو د حکم په باره کی د دار الافتاء د دار العلوم کراچی نه جاری سوی د حضرت والا دامت برکاتهم په یوه مصدقه فیصلی کی درج دی چی، مافیصله ورکړله دا الفاظو کنایه دی چی د فارغ خطی په الفاظو کی امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۴۴۷ (جواب د سوال نمبر ۵۳۶) کی حضرت تهانوی رحمه الله د طلاق بائین اتباع ته یی متعارف لیکلی ده او ورسره داهم دا الفاظ د کنایاتو د دریم قسم سره تعلق لری چی په هغه کی صرف د جواب احتمال وی او په دی قسم کی د درد په حالت کی بغیر د نیت څخه هم طلاق واقع کیږي. کذافی الشامیة ج: ۳ ص: ۳۰۱ (طبع سعید) (فتوی نمبر ۹۷۴/۴۰ ج) رجستر نقل فتاوی دار العلوم کراچی).

۱۵/ رمضان/ ۱۳۹۲ ه

(فتوی نمبر ۲۲۰۵/ ۲۷ ه)

د ښکنځلو په طور لفظ د (حرام) وئیلو د یومخصوص صورت حکم

سوال: د زید د ښځی یوه مصری ملګری وه، هغه چی به خپل بچی منع کول نو عمومًا به یی لفظ (حرام) استعمالولو، د زید ښځی ته هم د دی لفظ. عادت جوړسو، د زید ښځی یووار زیدته ووئیل، نو په جواب کی د زید د خُلی څخه ووتل (ته) حرام... د زید نیت د طلاق ورکولو قطعًا نه وو.

۲: زید یووار د ښکنځلو په طور ښځی ته (حرام زادی) وئیل غوښتل، خو فورًا د ښکنځو په ذهن کی راتلوسره صرف لفظ د حرام وئیلوسره ودریدی، ایا په برنی صورتونو کی به طلاق واقع کیږي؟

جواب: که واقعه همداسی وی لکه چی لیکل سوی ده نو په دی سره هیڅ طلاق نه واقع کیږي.

۲: که واقعه همداسی وی نو په دی سره هم هیڅ طلاق نه دی واقع سوی. لان المتأخرین انما افتوا بانصراف لفظ الحرام الی الطلاق لغلبة العرف (۱)، ولاعرف فیما ذکره السائل.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۵/ ۱۳۹۷ ه

د مبارات په ذریعَه د یوطلاق بائن حُکم

سوال: شهزی. نقوی ولد فرزند علی نقوی خپلی ښځی یاسمین شیخ بنت عثمان شیخ څخه جون سنه ۱۹۹۳ء باندی د مبارات په ذریعه طلاق ورکړی وه، مطلقی مهر معاف کړی وو او د کفالت د پاره د عدی په دوران کی څلوېښت زره روپی فیصله سوی وه،

---

(۱) وفی البحر الرائق ج: ۳ ص: ۳۰۰ لوقال لها انت علیَّ حرام والحرام عنده طلاق وقع وان لم ینو، وذکر الامام ظهیر الدین نقول لاتشترط النیة ولکن نجعله ناویًا عرفا.... الخ. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۳۳ الی ۴۳۵ قال لامرأته انتِ علی حرام... یفتی بانه طلاق بائن وان لم ینوه لغلبة العرف (راجع للتفصیل الی رد المختار وتحت قوله لغلبة العرف).

فریقین په دی باندی راضی وه، دواړو په معاهدی د ستخطی کړی وی، چی منسلك دی او د شاهدانو هم دستخطونه سته. اوس وال دادی چی آیا دا طلاق مکمل دی؟ فریقینو ضلع کونسل ته نوټس نه وو ورکړی او د وکیلانو په مشوری باندی کونسل ته نوټس مارچ سنه ۱۹۹۷ء کی ورکول سو، برای مهربانی ده په دی باندی دی رایی راسي چی د برطانیی په عدالت کی پیش سی.

جواب: ما د منسلك معاهدی مطالعه وکړله، دا د یومبارات معاهده ده، او د دی په رڼا کی شهزی نقوی خپلی ښځی یاسمین شیخ ته د مهر په معانی سره او د معاهدی د نورو شرطونو په عوض کی طلاق ورکړی دی، لهذا شرعًا د دی معاهدی د مخی یاسمین باندی د شهزی نقوی د طرفه یوطلاق بائن واقع سوی دی چی د هغه حکم دادی: چی اوس شهزی نقوی ته د رجوع کولو اختیار نسته. یاسمین د هغه د نکاح څخه جلاسوی ده خو که دواړه په رضامندی سره په نوی مهر باندی نکاح کول وغواړی چی په دی معاهدی د ستخطونه وسول او خاوند طلاق ورکی، د هغه تاریخ څخه (1) د دری حیضه تیریدلو څخه وروسته یاسمین به په بل ځای کی نکاح کولی سی. (2) خو د دی قانونی تقاضی د پوره کولو د پاره کوم قانوندان ته دی رجوع وسی. والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۱۱/ ۱۴۱۷هـ

(فتوی نمبر ۹/ ۲۵۷)

د یوطلاق څخه وروسته د نوی نکاح صورت

سوال: په شاه باندی د مندرجه اقرار نامی په ذریعه د زوجینو په مینځ کی د جدایی څخه وروسته د هغه په مینځ کی د مصالحت او یووالی د پاره شرعیت اسلامیه څه لاره تجویز کوی؟

(1) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة فصل فیماتحل به المطلقة ج: ۲ ص: ۳۹۹ (طبع شرکت علمیه ملتان) واذاکان الطلاق بائنًا دون الثلاث فله ان یتزوجها فی العدة وبعد انقضائها.... الخ.
وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۰۹ (طبع سعید) وینکح مبائنة بمادون الثلاث فی العدة وبعدها بالاجماع. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۷۲، ۴۷۳ (طبع رشیدیه کویته)

(2) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۵۲۹ (طبع سعید) ویظهر ان ابتداء العدة من وقت وقوع الطلاق لامن وقت الاخبار.... الخ.
وفی الدر المختار باب العدة ج: ۳ ص: ۵۰۴، ۵۰۵ وهی فی حق حرة.... بعد الدخول حقیقة او حکمًا ثلاث حیض کوامل.... الخ.

۲: که د مصالحت یوه لاره هم د زوجینو په مینځ کی دوباره د نکاح د انعقاد وی نو دا وفرمایی چی شرعًا خوبه په دی کی د کراهت څه اړخ نه وی؟

۳: مذکوره اقرار نامه د سخت درد په حالت لیکل سوی ده، ورسره زوجین د اوو میاشتو د هلك والدین هم دی، په داسی صورت کی د مصالحت شرعی او سماجی څه مصلحتونه دی؟

۴: د محوله اقرار نامی په ذریعه سره د جداوالی څخه وروسته د رجوع یا د نوی نکاح د پاره د وخت او میعاد شرط څه دی؟

۵: که دوباره نکاح کول ضروری وی نو آیا د دی د پاره تحلیل (حلاله) ضروری ده او که د دی څخه بغیرهم براه راست په دوهم وار نکاح تړلی سی؟

۶: که دوباره نکاح ضروری وی، نو آیا د هغه د پاره هم د هغی اهتمام، اعلان، او د هغه پیمانی تقریب ته ضرورت دی لکه چی په اول وار منعقد سوی ده. او که په کور کی نکاح تړلی سی.

جواب: د اقرار نامی ترشا د درج سوی مطالبو د مخه د محمد جنید فاروقی صاحب ښځه صبیحه گل اندام صاحبه باندی یوطلاق بائن واقع سوی دی، چی د هغه حکم دادی: چی خاوند اوس یکطرفه طور سره رجوع نسی کولی، هو! که فریقین راضی وی نو د سر څخه نکاح کولی سی (1)، د دی نکاح د پاره د عدی تیرول ضروری نه دی، بلکی کله چی وغواړی نکاح کولی سی (2)، په مسئوله صورت کی د حلالی ضرورت نسته، د نکاح د پاره د هغه اهتمام او اعلان او تقریب ضرورت هم نسته، کوم چی په اوله نکاح کی سوی وو، بلکی صرف د دوو مسلمانانو سرو په موجودگی کی ایجاب او قبول وکی نو نکاح به منعقده سی (3) که په کوم عالم باندی نکاح وتړی نو ډیره ښه ده، خو د دی نکاح د پاره به جلا مهر وی، او آینده به خاوند ته صرف د دوو طلاقو اختیار پاته سی. د دی څخه وروسته دی ډیر احتیاط ساتی، ځکه چی اوس به صرف په دوو

(1) ایضًا.

(2) د تیری صفحی اوله حاشیه وگوری.

(3) وفی الدر المختار کتاب النکاح ج: ۳ ص: ۹ (طبع سعید) وینعقد بایجاب من احدهما وقبول من الاخر وفیه ایضًا ج: ۳ ص: ۲۱ وشرط حضور شاهدین حرّین احرّ وحرتین مکلفین سامعین قولهما معًا.

طلاق سره هم ښځه مغلظه سي، او د حلالي څخه بغير به په دريم وار نكاح هم نسي كيدى (۱)

والله سبحانه اعلم
۲/ ۱/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوىٰ نمبر ۹۵/ ۲۸ - الف)

۱: په طلاق صريح كي د رجوع اختيار او په باين كي د نوي نكاح ضروري كيدلو وجه

۲: ښځي ته زناني (عورت ښځه) ويلوسره څه طلاق نـه دي سوی

۳: ښځه د هغه د موركور كي پريږده، راسه د وئيلو حكم

سوال: د بعضو علماء كرامو په نزد كله چي يوسړى خپلي ښځي ته ووايي چي ته ماپرينږوولی، نو په دي سره صريح طلاق واقع كيدل منل كيږي، يعني د طلاق صريح څخه طلاق رجعي مراد وي، او د نكاح ضرورت نه وي، اوس كه څوك خپلي ښځي ته دا ووايي چي ته په ماباندي حرامه يي، نو په دي سره طلاق صريح ولي نه واقع كيږي، بلكي باين واقع كيږي چي په هغه كي د نكاح ضرورت وي داسي ولي؟ په دي كي څه فرق دی؟

۲: ښځي زه په څه خبره باندي او د ګلم، نو ما ووئيل چي زنانو (ښځو) عادت وي. او ما د شك د لري كولو د پاره هغي ته ووئيل: چي ته هم زما زنانه يي، شك دالري كول وو چي ماښځه ولي ونه وئيل، غالبًا نعوذ بالله دا مطلب دي وانه خستل سي چي هغه زه خپله ونه ګنم، بهرحال كله چي ماهغي ته ووئيل چي ته هم زما زنانه (ښځه) يي، پيسته، پيسته پنجابي ژبه كي د پيتي پوزي والا ښځي ته وايي، آيا په صورت مذكوره كي خو به په نكاح څه اثر نه وي پريوتلى؟ د طلاق نيت مي نه وو.

۳: د نن څخه خلور نيم كاله مخكي كله چي مانوي نوي واده كړى وو، نو ښځي ته مي په څه خبره درد رالي، د مور او نورو خپلوانو ښځو په مخكي مامورته د خپلي ښځي په مخكي (ښځي ته د اورولو د پاره) دالاندي درج سوي كلمات په پنجابي ژبه كي وئيلي

(۱) د حوالي د پاره وګوري راتلونكي صـ فتوىٰ او د هغي حواشي ۱-۲ پوري.

وه، چي د هغه پښتو ترجمه داده: دابنځه د دي د مور په كور كي پريږده، بيامي دا وئيلي وه، چي د هغه پښتو ترجمه داسي ده: داپريږده د دي د مور په كور كي، اوس معلومول دادي: چي په دي ذكرسوي فقرى سره طلاق واقع كيږي او كه نه؟ ما دا الفاظ د رعب اچولو او بيرولو د پاره وئيلي وه.

جواب: په دي فرق باندي د پوهيدلو د پاره د فقهي د ويلو ضرورت دی لهذا ياخوته د فقهي تعليم حاصل كړه، يا بيا د اهل علم څخه د مسئلي پوښتنه كولو سره په هغه باندي عمل وكړه، او د دلائلو پسي مه كيږه.

۲: په صورت مسئوله كي طلاق نه دي واقع سوی په څه شك او تردد كي مه اوسه.

۳: كه ستانيت د دي الفاظو سره د طلاق نه وو، نو بيا د دي الفاظو سره طلاق واقع نه سو.

والله سبحانه وتعالى اعلم
۱۹/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوىٰ نمبر ۲۲۹/ ۲۸ ب)

(دادي ستا واخله) دا الفاظ كه د طلاق په نيت سره ووئيل سي نو څه حكم دي؟

سوال: د محمد صالح او د هغه ښځي ترمينځ هميشه جګړه وي، د دي جګړي په دوران كي يوه ورځ محمد صالح په درد كي خپل لاس خپل جيب ته نژدي كي، مخامخ يي ښځه ناسته وه ورته يي ووئيل: چي دادي ستا واخله! (د جيب څخه يي څه نه را ووتل) په دوهم وار يي بيا دا الفاظ ووئيل: نو فوراً د هغه ښځه د هغه ځاى څخه ولاړه سوه، او د باندي په ژړاسوه، وروسته د محمد صالح څخه د مذكوره خبري كولو مقصد پوښتنه وسوه، چي د دي خبرو څه مقصد دي وو؟ نو هغه ووئيل چي زما مقصد خپلي ښځي ته طلاق وركول وو، آيا شرعًا طلاق واقع سو او كه نه؟

جواب: د دي خبري خو صريحه جزئيه معلومه نه سوه، خو د قواعدو او مماثل د جزئياتو څخه معلوميږي، چي په دي صورت كي څه طلاق نه دي واقع سوى، ځكه چي: داد ستا واخله! په دي كي نه د طلاق كوم صريح لفظ سته او نه مقتضى او مقدر، او په داسي صورت كي سره د نيت څخه هم طلاق نه واقع كيږي علامه شامي رحمه الله د علامه

رملی رحمه الله څخه نقل کوی: وبه یعلم جواب مایقع من الاتراك من رمی ثلاث حصوات قائلاً: انت هکذا ولاینطق بلفظ الطلاق، وهو عدم الوقوع تأمل (منحة الخالق حاشیة البحر الرائق ج: ۳ ص: ۳۰۹ باب الصریح تحت قوله (انت طلاق هکذا) ([1])، او په عالمگیریه کی دی: ولوقال لها بعد، ماطلبت منه الطلاق (گفته، گیر) لایقع وان نوی کذا فی الخلاصة، (عالمگیریه ج: ۱ ص: ۳۸۰) ([2])

بیاهم صریحه جزئیه معلومه نه سوه، نو څکه که نورو علماوو ته رجوع وسی او معلومات حاصل کړی نو دابه ښه وی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۶/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۵۲۸/ ۲۸ ب)

ښځه پخپل ځان باندی حرامو الفاظو سره د طلاق باین حکم

سوال: یوسړی لاندی الفاظ د طلاق د پاره استعمال کی، زه خپله ښځه مسماة فلانی په خپل ځان باندی حراموم، په دی الفاظو سره به کوم طلاق واقع وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی یوطلاق بائن واقع سوی دی ([3]) د نوی نکاح څخه بغیر په زوجینو کی د زوجیت تعلقات نسی قایمیدی.

والله سبحانه اعلم

۳/ ۱۲/ ۱۳۸۷ ھ

(فتوی نمبر ۳۸۷/ ۱۸ - الف)

(البابن لایلحق البابن) کی د دوهم باین څخه مراد هغه دی چی په اصل وضع کی باین وی که څه هم د عرف د وجی صریح جوړسوی وی

([1]) ج: ۳ ص: ۲۸۷ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه).

([2]) طبع مکتبه ماجدیه کویټه.

([3]) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۳۳ الی ۴۳۵ (طبع سعید) قال لامراته انت علیّ حرام.... یفتی بانه طلاق باین وان لم ینوه لغلبة العرف، وکذا فی البحر الرائق ج: ۳ ص: ۳۰۰. او همدارنگه وګوری امداد المفتین ص: ۲۲۲

سوال: بخدمت شیخی و استاذی مدظلکم!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

بنده د حضرت والا په خدمت کی یوفقهی سوال لیکلی وو، حضرت والا د هغه جواب داسی ولیکی، هغه ته به مراجعت کول وی، او وخت هم پکار دی، لهذا که داسوال بیل ارسال سی، نو د هغه مستقل تحقیق به اوسی، د حضرت والا په هدایت باندی عمل کولو سره بنده بیل دا سوال دوباره مزید منقح کولو سره دوباره لیکی:

سوال: هغه طلاق باین چی د عرف د وجی صریح جوړسوی دی په دی سره به بغیر د نیته هم طلاق واقع کیږی، (مثلاً: ته په ماحرامه یی، ته آزاده یی وغیره) آیا هغه طلاق باین (برابره خبره ده که صریح وی او که کنایه) سره به د عدی په دوران کی لاحق سی او که نه؟ د رد المختار ج: ۳ ص: ۳۰۱ ([1]) درج ذیل عبارت څخه معلومیږی، چی لاحق کیږی به نه: قال ح: ولارد انت علی حرام علی المفتی به من عدم توقفه علی النیة مع انه لایلحق البائن. ولا یلحقه الباین لکونه بائنًا لما ان عدم توقفه علی النیة امر عرض له لابحسب اصل وضعه اه.

د همدی عبارة مطابق امداد المفتین ص: ۲۲۶ کی عدم لحوق فتوی مذکوره ده، خو د رد المختار ج: ۳ ص: ۳۰۸ ([2]) د لاندی لیکل سوی عبارت څخه معلومیږی چی دا حق کیدل پکار دی: قوله لایلحق البائن البائن، المراد بالبائن الذی لایلحق هوما کان بلفظ الکنایة لانه هو الذی لیس ظاهراً فی انشاء الطلاق کذا فی الفتح.

په دی عبارت کی طلاق بائن بالکنایه (ثانی) د عدم لحوق په وجه دابیان کړی دی چی دا د طلاق په انشاء کی ظاهر نه دی، د دی څخه معلومیږی چی کوم طلاق په انشاء د طلاق کی ظاهروی، هغه لاحق کیدل پکار دی، او طلاق بائن صریح (مثلاً ته په ماباندی حرامه یی. ته آزاده یی وغیره) خو په انشاء د طلاق کی ظاهردی لهذا داهم د طلاق بائن سره لاحق کیدل پکار دی. احسن الفتاوی ج: ۵ ص: ۱۸۳ ([3]) کی هم د دی مطابق د لحوق فتی مذکوره ده، د دی په باره کی صحیح خبره څه ده؟ سائل محمد عامر صاحب دار الافتاء والارشاد ناظم آباد کراچی.

([1]) ایضا.

([2]) طبع ایچ ایم سعید کمپنی.

([3]) ج: ۳ ص: ۳۱۰ رد المختار (طبع ایچ ایم سعید کمپنی)

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

جواب: مکرمي! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته! تفصیل سره وویل سی نو داخبره واضحه کیږي په رد المختار کی که د لحوق بحث په تفصیل سره وویل سی نو داخبره واضحه کیږي چی په مسئوله صورت کی به طلاق ثانی نه لاحق کیږي، ځکه چی په امداد المفتین کی چی کومه حواله ورکول سوی ده هغه هم په دی صریح ده چی د مذکور دی او په هغه کی چی تاته اشکال سوی دی یعنی: لانه هوالذی لیس علامه شامی د کوم عبارت څخه چی تاته اشکال سوی دی یعنی: لانه هوالذی لیس ظاهرًا فی انشاء الطلاق (د دی مطلب دی: لیس ظاهرًا باعتبار اصله) چنانچی هغه پخپله به بله صفحه باندی، قوله: او انبتك بتطلیقه لاندی یی د دی تقریبًا صراحت کړی دی، فرمایي:

واشار به الی انه لایشترط اتحاد الفظین، فشمل ما اذاکان الاول بلفظ الکنایة البائنة... بعدکون الثانی بلفظ الکنایة کلخلع ونحوه مما یتوقف علی النیة، ولو باعتبار الاصل، کانت حرام. (۱)

په صورت مسئوله کی په عدم لحوق باندی لاندینی لیکل سوی مزید دلائل دادي:

۱: د بائن سره د نه لاحق کیدو علت د فقه په ټولو کتابونو کی دابیان سوی دی چی ثانی اخبار عن الاول ګرځول ممکن دی نوځکه یی په درمختار کی فرمایلی دی: (اذا امکن جعله اخبارًا عن الاول) (۲) او (انت حرام) کی هم داسی دی.

۲: د کافي حاکم رحمه الله څخه علامه شامی نقل کوی: واذا طلقها تطلیقة بائنة ثم قال لها فی عدتها: انت علی حرام... وهویرید به الطلاق لم یقع علیه شیئ، لانه صادق فی قوله هی علیّ حرام، اه علامه شامی په دی باندی لیکی: ای لانه یمکن جعل الثانی خبرًا عن الاول، دلته یی علت د وقوع الطلاق موقوف علی النیة کیدل ونه ګرځولو بلکی داخبره یی علت وګرځوله، چی ثانی لره یی اخبار عن الاول جوړول ممکن دی او د عرف سره توقف علی النیة ختم سوی دی، احتمال الاخبار نه دی ختم سوی.

۳: علامه شامی په ډیرو مضبوطو دلایلو سره ثابت کړی دی چی البائن یلحق الصریح کی د صریح څخه مراد صریح رجعی دی، صریح بائن نه دی، لهذا په صریح بائن سره بائن نه لاحق کیږي او (انت علی حرام) د صریح کیدلو باوجود بائن دی، په شامی داپوره بحث په غور سره د ویلوسره امید دی چی تاته به څه اشکال پاته نسی.

(۱) الدر المختار ج: ۳ ص: ۳۰۹ (طبع ایضًا)
(۲) رد المختار ج: ۳ ص: ۳۰۸ (طبع ایضًا)

په احسن الفتاوی ج: ۵ ص: ۱۸۳ کی یی د لحوق د مسئلی څخه بحث نه دی کړی او صرف د حرام د صریح کیدلو ذکر دی خو په قوسینو کی یی لیکلی دی، چی په دی باندی اشکال او جواب په تتمه کی دی، داتتمه ماته رانه کول سوه خو د رد المختار پوره بحث ویلو څخه وروسته کم ترکمه بنده ته څه اشکال نسته، چی داطلاق به نه لاحق کیږي.

والله سبحانه اعلم
بنده محمد تقی عثمانی
۲ شوال ۱۴۱۳ هـ
(فتوی نمبر ۱/ ۵۸۲)

فصل فی الطلاق بالکتابة

د تحریری طلاق ورکولو بیان

پخپله طلاقنامه لیکلو یا په چاپاندی د لیکلو څخه وروسته دستخط کولو سره طلاق واقع کیږي

سوال: ان سید المرحوم رفیع الرحمٰن قد طلق زوجته نجمة بنت منظور بوثیقة الطلاق المرفقة باللغة الانکلیزیة مع ترجمتها العربیة، وانه قدکتب هذه الوثیقة للثامن والعشرین من شهر ابریل السنة ۱۹۸۰ م وتزوج السید رفیع الرحمٰن زوجة اخری، وله من کل واحد من الزوجتین اولاد، وقد توفی قریبًا فالمرجو افادتنا، هل طلقت نجمة بنت منظور بالوثیقة المرفقه؟ وهل ترث الان من السید رفیع الرحمٰن ام لاترث؟ بینوا وتوجروا

جواب: ان کان سید المرحوم رفیع الرحمٰن کتب هذه الوثیقة (۱) بنفسه او استکتبها من غیره ووقع علیها، فان نجمة بنت منظور وقع علیها الطلاق منه (۲) وخرجت من نکاحها

(۱) دا د طلاقنامی وثیقه د دی جواب څخه وروسته راځی.
(۲) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۴۲ (طبع سعید) کتب الطلاق ان مستبینا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقًا. وفی ردالمختار (مطلب فی الطلاق بالکتابة) ان ارسل الطلاق بأن کتب: اما بعد! فانت طالق فکما کتب هذا یقع الطلاق. وبعد اسطر... ولوقال للکاتب، اکتب طلاق امرأتی کان اقرارًا بالطلاق وان لم یکتب ولواستکتب من آخر کتابًا بطلاقها وقرأه علی الزوج فاخذه الزوج و ختمه

وجاز لها ان تتزوج غیره بعد انقضاء العدة، وبما ان الرفیع، الرحمٰن توفی قریبًا، فی حین ان وثیقة الطلاق کتبت قبل اکثر من عشر سنوات، فالظاهر أن نجمة قد اکلت عدتها، وهی ثلاث حیض، وبما انها لم تکن زوجته وقت وفاة رفیع الرحمٰن فانها لاترث منه شیئًا. اما الاولاد، فانهم یرثون من کلهم سواء کانوا من بطن نجمة او من بطن زوجته الثانیة. والله سبحانه وتعالی اعلم

محمد تقی عثمانی

دار الافتاء دار العلوم کراتشی ۱۴

غرة ذی الحجه سنة ۱۴۱۴ ھ

وثیقة الطلاق

اننی سید رفیع الرحمٰن بن سید سعید الرحمٰن المسلم، البالغ العمر حوالی ۴۰ سنة، المهنة خدمة خاصة، الساکن ب - ۱۸۰ بلوك ۱۱ -، منطقة فیدرل بی کراتشی.

اقرر تحریرا باننی قد اطلق زوجتی نجمة بنت منظور علی المسلمة، البالغة، عمرها حوالی ۳۵ سنة القاطنة ۱ - ۱۵ د هرمِ بورة، لاهور (پاکستان) بناء علی مایلی:

۱- بان منذ مدة ۸ سنوات ماضیة خلال مدة زواجها معی انکا کانت متمردة ومنازعة معی.

۲- بانها تسیٔ التصرف والسلوك وتتعسف لی.

۳- وبالعموم لکل الوقت خلال اسکانها فی البیت انها یبدعت قذع وتعارض علی اساس نجمة.

وبنتیجة هذا غیر ممکن لی بالرغم عن جهدی المخلص السکن معها بین حدود الله.

اننی لذالك اللفظ الطلاق لها.

۱- اننی سید رفیع الرحمٰن بن سید سعید الرحمٰن اطلق لکم نجمة عالیة بنت منظور علی.

۲: ——— کالمذکور ———

۳: ——— کالمذکور ———

وعنونه وبعث به الیها فاتاه وقع ... الخ. وکذافی الفتاوی الهندیة کتاب الطلاق الباب الثانی فی ایقاع الطلاق، الفصل السادس فی الطلاق بالکتابة ج: ۱ ص: ۳۷۹.

سید رفیع الرحمٰن بن سید سعید الرحمٰن الساکن ب - ۱۸۰ بلوك - ۱۱، منطقة فیدرل ب، کراتشی.

توقیع الشاهد.

سید محمد الحق مسعود اباد. کراتشی. توقیع. ۲۸ / ۴ / ۱۹۸۰ م

درې طلاقه لیکلو سره په ورکولو باندې به هم درې طلاقه واقع کیږي

سوال: د فیاض علی نکاح د مسماة نسیم اختر سره ۱۴ نومبر ۱۹۲۰ م باندې وسوه، وروسته د نکاح ښځه نه انجلۍ د خسرګنی کره تللی ده او نه هلك خسرګنی کره راغلی دی چې قربت یې کړې وی، په دې وجه چې د انجلۍ والدینو د رخصتۍ د پاره دا شرط عاید کړی وو، چې کله هلك بی. ایس. سی وکړي، بیابه د انجلۍ رخصتی وی او داشرط هلك منظور کړی وو، خوڅه موده وروسته په فریقینو کې جګړه پیداسوه او د انجلۍ والدینو طلاق وغوښتی، او هلك تحریری درې طلاقه ورکړل. ایا اوس د دې انجلۍ والدینو طلاق وغوښتی، او هلك تحریری درې طلاقه ورکړل. آیا اوس د دې انجلۍ نکاح د دغه هلك سره کیدی سی؟

جواب: د طلاقنامې کتلو سره معلومه سول چې هلك خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړې دي، لهذا اوس هغه انجلۍ د هلك د پاره په قطعی طور باندې حرامه سوې ده، اوس د هغه سره بغیر د حلالې ښځه د هغه دوهمه نکاح نسی کیدلی. (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۵ / ۷ / ۱۳۸۸ ھ

(فتویٰ نمبر ۷۹۵ / ۱۹ - الف)

په لیکلوسره هم طلاق واقع کیږي او د طلاق د پاره د شاهد ضرورت نه وی

سوال: عرض دادی چې زما د خور نجمه اعوان بنت غلام ربانی اعوان واده د یوصاحب په نوم د ډاکټر هارون ایم قاضی ولد قاضی محمد اسحاق سره په تاریخ ۳۰ جون سنه

---

(۱) د حوالی د پاره صــ فتوی او د هغې حواشی نمبر ۶ وګورئ.

۱۹۸۲ء کی وسو، یعنی نکاح وسوه او بیا په دوهم جولائی باندی رخصتی وسوه، د
واده د دوهمی ورځی څخه موصوف نوی ناوی سره ښکنځل او زما مرحومی مورته
ښکنځل کول شروع کړل، ورسره یی زما د بوډا پلار په باره کی هم دا رویه اختیار کړله،
د واده څخه څو ورځی وروسته دواړه ښځه او خاوند امریکی ته روان سول. ځکه چی
زما د خور خاوند د سرجن په حیثیت سره د تیرو شلو کالو څخه هلته آباد دی. امریکی
ته د رسیدلو په پنځه لسمی ورځ زما اخښی خپله ښځه (زما خور) وهله او ټکوله او د
وخت په تیریدلو سره، د هغه په ښکنځلو او وهلو ټکولو کی سختی راله، او داسی
واقعی به اکثره پیښیدلی، کله چی داشان یو کال تیرسو، او ډاکټر صاحب خپل ځان بدل
نه کی، نو آخر زما خور تنگه سوه، او د طلاق مطالبه یی وکړه، هغه طلاق ورنکړی د
دواړو کراچی ته په راتلو باندی د هغوی مشرانو او مور دواړه پوه کړل، کله چی د
ډاکټر صاحب څخه پوښتنه وسوه، چی تاته د ښځی څخه څه شکایات دی، نو هغه وویل
چی ماته یاد نه دی چی داخه وایی یاځه کوی، الغرض مور په دی نتیجه ورسیدلو. چی د
ده د وهلو، ټکولو او ښکنځلو عادت دی، او څه شکایت یی نسته، مور د خدای په ذات
باندی باور کولو سره د هغه ښځه امریکی ته په دی امید روانه کړه چی خدای پاك رحیم
ذات به په خپل فضل سره ډاکټر صاحب یومحبت کوونکی خاوند جوړکړی، او حالات
به ښه سی، ډاکټر صاحب وعده هم وکړه، چی اوس به هغه د وهلو ټکولو څخه ځان
ساتی، خوداسی نه وسول، لږ ورځی وروسته هغه بیا داحرکتونه شروع کړل، ډیر وهل
ټکول یی وکړل، خراب ښکنځل یی زما پلار او مرحومی مورته وکړه، کله چی داهرڅه
برداشت نه سول. نوزما خور د طلاق مطالبه وکړه، د هر وار په شان هغه دا وار هم انکار
وکی، د دی څخه وروسته هم دا د ښکنځلو سلسله تقریباً هره ورځ وه، او وخت په وخت
به یی لاس هم باندی لوړوی او دا د هغه مشغله جوړیده آخر زماخور یوه ورځ، کله چی
هغه د همیشه په رنگ بی گناه ووهله او وی ټکوله او ښکنځل یی ورته وکړه، نو د هغه
څخه یی مطالبه وکړه چی هغه دی په هرحال کی طلاق راکړی، د دی څخه وروسته هغه
ولاړه سوه، او په یوی پارچی یی په انگریزی کی ولیکل: چی زه نجمی ته دری طلاقه
ورکوم او د هغی لاندی یی د خپل نوم دستخط وکی نو طلاق ورکوم الفاظ یی په خُله
باندی اداء نه کړل، د دی واقعی څخه وروسته زماخور څه موده خو هلته پاته سوه، خو
لږ موده وروسته هغه اصرار شروع کی، چی ته کراچی ته بیرته، ولاړه سه، هغه ماته
یوخط هم د امریکی څخه را ولیږی چی په هغه کی یی لیکلی وه، چی نجمه کراچی ته

راوغواړه، زه به هغی ته کور واخلم وربه یی کرم خرچه وغیره د هغه او د بچوبه یی
درلیږم، داشان به د واده د ماتیدلو څخه بچ سی، لا اوس مور په دی خبره باندی غور
کولو، چی هغه په زبردستی باندی نجمی له ټکټ ورکولو سره کراچی ته روانه کړله، او
ډیره وعدی یی ورسره وکړه، د بیرته راتلو پروگرام یی ورته وښوویء، کله یی چی هغه
په خوشحالی راروانه کړله، پرون مؤرخه ۱۹ - اگست ۱۹۸۸ باندی مور ته یوخط
راکول سو، چی په هغه کی د حالاتو د لیکلو څخه وروسته دالیکلی دی، چی چونکی
ما اول نجمی ته (طلاق مقرتین) چی د هغه مطلب هغه وایی دوه طلاقه می ورکړی وه،
نو اوس ځکه دریم طلاق درلیږوم چی اوس زمور د یوبل سره څه واسطه پاته نسوه.
اوس سوال دادی: چی دری سره طلاقه ډاکټر هارون لیکلی خو دی، خو په ژبه یی نه دی
اداء کړی، او د هغه ښځه حامله هم ده، چی آیا طلاق واقع سو؟ که طلاق واقع سو نو په
درو میاشتوکی د ننه دوباره صلح کیدی سی؟ د شرعی حکم څخه موخبر کړئ آیا د
طلاق ورکولو په وخت د شاهدانو موجودیدل ضروری نه دی؟
جواب: په صورت مسئوله کی ستاسو په خور نجمه اعوان باندی دری طلاقه واقع
سوی دی، د طلاق د پاره په ژبه سره وئیل ضروری نه دی، د لیکلو سره هم طلاق واقع
کیږی (۱)، او د دی د پاره د شاهدانو موجودگی هم شرط نه ده. د دریم طلاق څخه
وروسته هغه په هیڅ صورت کی د خپل خاوند د پاره حلاله نه ده او اوس د مصالحت
کولو سره یوځای اوسیدل هم شرعًا جائز نه دی (۲) ستا همشیره حامله ده، نو د هغی
عده د ماشوم په پیداکیدو سره پوره کیږی (۳) د ماشوم د پیداکیدو څخه وروسته چی
چیری یی زړه وی هلته نکاح کولی سی.

والله سبحانه اعلم
۱۴۰۹/۱/۲ هـ
(فتوی نمبر ۵/ ۴۰ - الف)

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۴۲ (طبع سعید) کتب الطلاق ان مستبینًا علی نحو لوح وقع ان نوی، وقیل مطلقًا
(۲) د حوالی د پاره وگورئ ص فتوی او د هغی حواشی ع ترع پوری.
(۳) د حوالی د پاره وگورئ ص حاشیه ع.

د طلاقنامی د لیکلو څخه وروسته د طلاقنامی څخه انکار کول یا د طلاق الفاظ لیکلو په وخت کی د سر د چکراویدو دعوی کولو یو مخصوص صورت

د سوال خلاصه: مسمی جلال الدین د خودکشی په غرض خوب راوستونکی ګولی وخوړلی، او په هغه باندی بیهوښی راله، ډاکټر را وغوښتل سو، تفتیش کولو سره د هغه د جیب څخه یوه رقعه را ووتله، چی په هغه کی یی وصیت لیکلی وو، د وصیت نامی په آخرکی یی خپلی ښځی ته د طلاق دا الفاظ لیکلی وه: طلاق، طلاق، طلاق می درکی، طلاق، طلاق، طلاق می درکی، او پخپله هم خودګشی کوم، داپرچه ماپه هوش او حواس کی لیکلی ده، د بل چا پکښی څه لاس نسته، په آخر کښی یی تاریخ او خپل نوم لیکلی دی، د علاج معالجی څخه وروسته جلال الدین روغ سو، اوس کله وایی چی ما د طلاق الفاظ نه دی لیکلی، او کله اقرار کوی د یوبل ځای څخه فتوی هم طلب سوی ده، په هغه کی یی طلاق مغلظ لیکلی دی اوس عرض دادی: چی جلال الدین کله د پوره پرچی څخه انکار کوی او د طلاق د الفاظو څخه هم انکار کوی، او کله بیا د ټولو خبرو اقرار کوی، او کله وایی چی پرچه می په هوش او حواس سره لیکلی ده، او د طلاق لفظ می په هغه وخت لیکلی دی، کله چی زه بی هوښه کیدم. او زما په سرباندی چکر راتلی.

جواب: په صورت مسئوله کی جلال الدین یووار د دی خبری اقرار کړی دی، چی د طلاق الفاظ هغه لیکلی دی. نو ځکه په ښځی باندی طلاق مغلظ واقع سو، (۱) د حلالی څخه بغیر د هغه د پاره ښځه رواکیدی نسی، د سر د چکر راتلو چی کوم جلال الدین بیانوی د هغه په وجه په مسئلی باندی څه اثرنه غورځیږی، لانه لایصدق علیه حد السکران علی مذهب ابی حنیفة رحمه الله حتی لایعرف الارض من السماء ولاعلی مذهب الجمهور حتی یهذی ویخلط کلامه (۲) ولوصدق علیه السکران فان لی شبهة فی وقوع الطلاق فانه ینبغی ان لایقع الطلاق السکران بالکتابة کما لایقع الطلاق المکره علی

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۴۶ (طبع سعید) کتب الطلاق، ان مستبینًا علی نحو لوح وقع ان نوی وقیل مطلقًا.... الخ.

(۲) راجع التفصیل الی ردالمحتار مطلب فی تعریف السکران وحکمه ج: ۳ ص: ۲۳۹ (طبع سعید).

ماصرحوابه (۱) لاسیما اذاکانت الکتابة غیرمرسومة فان وقوع الطلاق بها یحتاج الی النیة عند البعض (۲)، وعلل صاحب البحر عدم وقوع الطلاق المکره بالکتابة، بقوله: لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولاحاجة عنا (۳).

(راجع رد المحتار ج: ۲ ص: ۵۷۹ و ج: ۲ ص: ۵۸۲، ج: ۲ ص: ۵۸۹ فلیتأمل. والله اعلم بالصواب

په صورت مسئوله کی طلاق مغلظ واقع سو.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۱۸/ ۱۸ الف)

په انګریزی طلاقنامه کی د (Divovce) په ځای (Divovse) لیکلو سره هم طلاق واقع کیږی

سوال: ماخپلی ښځی ته چی زما د اجازت څخه بغیر د والدینو کره تللی وه د بیرولو د پاره یوه تحریر نامه لیکلی وه چی په انګریزی کی وه، د ډاګ په ذریعه می ورته ولیږله چی په هغه کی لفظ (Divovse) انګریزی کی لیکل سوی وه، چی د هغه معنٰی د طلاق نه ده، زما منشاء د طلاق ورکولو نه وه، خط می صرف د دی د پاره لیکلی وو، چی د بیا د پاره زمانښځه د دی حرکت ارتکاب ونکړی، نو آیا په دی صورت کی طلاق واقع سو؟

جواب: د دی مسئلی جواب د دار العلوم کراچی د اړخه حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب مدظلهم اول لیکلی دی، هغه جواب د پوره غور او فکر او تحقیق څخه

(۱) وفی الشامیة قبیل مطلب فی المسائل التی تصح مع الاکراه ج: ۳ ص: ۲۳۶ (طبع سعید) وفی البحر ان المراد الاکراه علی التلفظ بالطلاق، فلو اکره علی ان یکتب طلاق امرأته فکتب لاتطلق لان الکتابة اقیمت مقام العبارة باعتبار الحاجة ولاحاجة هنا.... الخ.

(۲) وفی الشامیة مطلب فی الطلاق بالکتابة ج: ۳ ص: ۲۴۶ ففی غیر المستبینة لایقع الطلاق وان نوی وان کانت مستبینة لکنها غیرمسومة ان نوی الطلاق یقع والا لا.... الخ.

(۳) تر ۲ متعلقه عبارتونه د تیری صفحی د حاشیی نمبر ۶ تر ۶ کی ذکر سوی دی. (محمد زبیر عفی عنه)

ورسته لیکل سوی دی او هم هغه صحیح دی، د هیجاء مذکوره غلطی سره په (Divovse) کی (Divovce) او په لیکلو سره څه فرق نه راځی، دری طلاقه واقع سوی دی، ستا ښځه په تاباندی حرامه سوی ده، اوس دوباره نکاح هم نسی کیدی، ماسوا د دی څخه چی هغه عده تیریدلو څخه وروسته بل چیری نکاح وکړی، بیا هغه خاوند مړسی او یا هغه هم ورله په څه وجه د صحبت کولو څخه وروسته طلاق ورکړی، د هغه عده تیرولو څخه وروسته په خوښه او رضاباندی بیا ستاسره نکاح کیدلی سی. والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۴/ ۵/ ۱۳۹۱ ھ

(فتوی نمبر ۲۸۱/ ۲۲ ب)

که ښځی جعلی طلاقنامه تیاره کړی وی نو څه حکم دی؟

سوال: زما ښځی زما د اړخه د جعلی تحریر او دستخط سره د خپل ځان څخه طلاق نامه پیش کولو سره فرضی طلاق حاصل کړی دی، د جعلی طلاقنامی نقل ستاسو په خدمت کی پیش دی، آیا په دی صورت کی زما د اړخه زما په ښځی باندی طلاق واقع سوی دی؟

جواب: که په سوال کی درج سوی بیان صحیح وی یعنی منسلکه تحریر جعلی دی (۱) نو ستا په ښځی باندی هیڅ طلاق واقع نه دی، ځکه چی د طلاق په وقوع کی که د زوجینو اختلاف وی نو دا ضروری ده چی یا خو خاوند د طلاق ورکولو اقرار وکړی او یا د شاهدانو په ذریعه په شرعی طریقی سره په عدالت کی داثابت سی، چی خاوند طلاق ورکړی دی (۲).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

---

(۱) په ریکارډ کی داتحریر موجود نه دی. (مرتب)

(۲) وفی الدر المختار: ۳ ص: ۳۵۲ (فان اختلفا فی وجود الشرط) ای ثبوته لیعم العدمی (فالقول له مع الیمین) لانکاره الطلاق.

۸/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

(فتوی نمبر ۲۷۲/ ۱۹ - الف)

په طلاقنامه باندی په زوره د دستخط کولو حُکم

سوال: د څه کورنی جګړی د وجی زما ښځه د پلار کره ولاړه څه موده وروسته راله او زما په موجودګی کی یی کورخالی پریښوولو سره بیرته د پلار کره ولاړه، کله چی ما د ښځی د مور او پلار څخه سبب پوښتنه وکړه، چی تاسو دا اقدام ولی کړی دی؟ نو هلته د هغوی نور خپلوان هم موجود وه، هغوی ماته د طلاق دهمکی راکړله، او بیا د چیرمین او ممبرانو په زبردستی سره یی طلاقنامه ولیکله او زما څخه یی په هغه باندی په زوره دستخط واخستی، نه یی ماته تحریر اوریدلی دی او نه ما په ژبی سره د طلاق الفاظ وئیلی دی.

تنقیح: په زوره باندی د دستخط کولو څه صورت پیښ سوی وو. که تا دستخط نه وی کړی نو تاته څه خطره وه؟ د دی جواب په راتلوسره به د اصل مسئلی جواب لیکل کیږی.

بنده محمد شفیع عفا الله عنه

۱۲ - ۱ - ۱۳۸۸ ھ

د تنقیح جواب: وجه داده چی زما د اکالور زما د اخنبی په کورکی ده، نو هغوی هغه ته د کافی تکلیف ورکولو څخه وروسته د طلاق کاغذ ورکړی وو، او وروسته یی ماته د همکی راکړه، چی ستاسره به هم دامعامله کوو، چونکی زه یواځی یم، زما څه رور او مددګار نسته، نو ځکه ما د هغه ځای څخه کورته د تښتیدلو کوشش هم وکی. خو هغوی زه پری نښوولم او په زوره یی راباندی دستخط وکی.

جواب: په صورت مسئوله کی تاته دامعلومه ده، چی په کوم کاغذ باندی زما څخه دستخط اخستل کیږی، هغه طلاقنامه ده، نو په هغه باندی دستخط کولو سره طلاق واقع سو، څومره طلاقه واقع سول؟ او دوباره د زوجیت تعلق قایم کیدی سی او که نه؟ د دی خبرو جواب د طلاقنامی په کتلو سره درکولی سی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ (فتوی نمبر ۵۴/ ۱۹ - الف)

فصل فی تعلیق الطلاق

طلاق په یوشرط باندی د معلق کولو بیان

کلما طلاق قسم چی فلانی کاربه نه کوم د الفاظو حکم

(د حضرت مولانا علی محمد رحمه الله مهتمم دار العلوم کبیر والا د سوال په جواب کی)

سوال: غیر متزوج (غیرواده سوی) داسی ووئیل: زما دی کلما طلاق قسم وی چی فلانی فلانی کار به نه کوم، بیایی هغه کار وکی، آیا نکاح کولی سی؟

۲: که قسم صحیح سی نو آیا د فضولی تزویج او اجابت بعلمهِ حیله دلته چلیدلی سی؟

(حضرت مولانا علی محمد صاحب مهتمم دار العلوم عیدگاه کبیر والا ملتان)

جواب: د دی الفاظو څه صریح حکم په کتابونو کی پیدانه سو، خو د قواعدو مقتضاء داده چی په صورت مسئوله کی به د نکاح کولو سره طلاق نه واقع کیږی.

قال الشامی فی ردالمختار نقلا عن الفتح وقد تعورف فی عرفنا فی الحلف: الطلاق یلزمنی لا افعل کذا یریدان فعلته لزم الطلاق ووقع فیجب أن یجری علیهم لانه صار بمنزلة قوله أن فعلت فأنتِ طالق، وکذا تعارف اهل الأریاف الحلف بقوله علیّ الطلاق لا افعل آه، وهٰذا صریح فی انه تعلیق فی المعنی علی فعل المحلوف علیه بغلبة العرف وان لم یکن فیه أداة تعلیق صریحًا. (شامی ج: ۲ ص: ۴۳۳) ([1])

د دی څخه معلومه سوه چی کله په کلام کی د تعلیق صریح الفاظ موجود نه وی نو اعتبار د عرف دی، په کومو صورتونو کی چی فقهاوو د وقوع الطلاق حکم ورکړی دی هغه ټول د واده سوی سړی سره متعلق دی، ځکه که واده سوی سړی داسی الفاظ استعمال کړی، نوعرفًا د هغوی مطلب د طلاق تعلیق وی، خو د غیر واده سوی سړی داوئیل: چی زما دی د طلاق قسم وی چی فلانی کاربه نه کوم، داپه تعلیق مضاف الی الملک کی متعارف نه دی ([2]).

([1]) رد المحتار ج: ۳ ص: ۲۵۳ (طبع سعید)

([2]) او د تعلیق طلاق د صحیح کیدلو د پاره اضافت الی الملک یا اضافت الی سبب الملک کیدل ...ری دی، لکه چی په فتح القدیر ج: ۳ ص: ۴۴۲ (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) کی دی: ولابد من

په خاص طور سره د (کلما د طلاق قسم) متعارف خو لاڅه کوی، د عوامو د پوهی څخه هم بهر دی، او کله چی په عرف کی دا الفاظ تعلیق الطلاق مضاف الی الملک نه ګڼل کیږی، نو په دی سره به طلاق هم نه واقع کیږی، لان مبنی الایمان علی العرف ([1]) خو د احتیاط تقاضا داده، چی دا مذکور سړی دی خپله نکاح پخپله نه کوی، بلکی کوم فضولی دی د هغه د حکم څخه بغیر د هغه نکاح وکړی او بیا دی هغه په خپله عمل سره. مثلاً د مهر اداء کولو سره نافذ کړی دا شان به نکاح صحیح سی، ([2]) او بلاشبه به طلاق واقع نه وی. والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱/۹/۵ هـ

(فتوی نمبر ۵۲۴/ ۲۲ ب)

ماهغی ته طلاق ورکی طلاق، طلاق ان شاء الله د الفاظو حُکم

سوال: یوسړی د ډیر درد په عالم کی او د ناپوهی څخه خپلی ښځی ته او هغه غیرحاضره وه داشان الفاظ ووئیل: ماهغی ته طلاق ورکی طلاق، طلاق، انشاء الله اوس چی کله یی درد ختم سو، آیا داسړی خپلی ښځی ته رجوع کولی سی؟

التصریح بالسبب فی المحیط لو قال کل امرأة اجتمع معها فی فراش فهی طالق فتزوج امرأة لاتطلق، وفی مجموعة رسائل ابن عابدین. اما الزیادة علی شرط الحالف بدلالة العرف لاتجوز لانه لاتأثیر لها فی جعل مالیس بملفوظٍ ملفوظا ولهٰذا لوقال لاجنبیة ان دخلت الدار فأنت طالق کان لغوًا ولا یراد الملك فی لفظهِ بالعرف لیصیر کانه قال ان دخلت الدار وانت فی نکاحی فانت طالق، وان کان المتعارف فیما بین الناس لان الملك لیس بمذکور فی لفظه ولا تأثیر للعرف فی جعل مالیس بملفوظ ملفوظاً (رفع الانتقاض ودفع الاعتراض علی قولهم الایمان مبنیة علی الالفاظ لاعلی الاغراض. ص: ۲۹۸) او په فتاوی محمودیه ج: ۱۱ ص: ۲۴۲ کی دی: د قسم مدار په الفاظو باندی وی نه چی په اغراضو باندی لکه چی په فقه کی تصریح ده: مبنی الایمان علی الالفاظ دون الاغراض.... لهٰذا د کلما قسم منقد سوی نه دی ځکه چی د غیرالله قسم اخستوسره قسم نه منعقد کیږی.

(مذکوره حاشیه د نقل فتاوی دار العلوم کراچی درجسترد څخه فتوی نمبر ۴۴/ ۲۵۸ څخه مأخوذ ده)

(محمد زبیر حقنواز)

([1]) وګوری فتاوی شامیه: مطلب الایمان مبنیة علی العرف.... الخ، ج: ۳ ص: ۷۴۳ (طبع سعید)

([2]) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۸۴۲ (طبع سعید) حلف لایتزوج فزوجه فضولی... فاجاز نکاح فضولی بالفعل لایحنث.... الخ.

جواب: په صورت مسئوله کی یی که انشاء الله متصل وئیلی وه، یعنی په مینځ کی یی
خاموشی نه ده راغلی نو هیڅ طلاق واقع سوی نه دی، لمافی البحر والفاصل اللغو
یبطل المشیئة فلذا طلقت ثلاثًا، فی قوله انت طالق ثلاثًا وثلاثًا انشاء الله، وفی قوله
انت طالق وطالق وطالق انشاء الله ...... بخلاف انت طالق واحدة وثلاثًا انشاء
الله لکونه افاد التکمیل کقوله انت طالق وطالق طالق انشاء الله. (البحر الرائق ج: ۴
ص: ۳۷) (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ
(فتوی نمبر ۹۲۲/ ۲۸ ج)

اوس که نه زماکورته رالی نو انشاء الله طلاق به درکول سی د الفاظو حکم

سوال: مسئله د س ښځه ن د خپل مور او پلار کورته ولاړه، اوس ښځی ته وئیل: که
اوس نه زماکورته رالی نو انشاء الله تاته به طلاق درکول سی، خوورځی وروسته د س
کوشنی ورونه او خویندی چی د ن د والدینو کورته تللی وه، په زبردستی سره یعنی د
س ښځه پخپله راضی نه وه، د س (یعنی د خاوند) کورته یی راوستله، خاوند چی کله
خپله ښځه په خپل کور کی وکتله، نو په دی باندی ناراضه سوه او وی وئیل: چی منع
کړی می وی چی کورته مه راځه، که نه یی دری طلاقه به درکول سی، او بیا خاوند په
یومجلس کی دری واره وویل: انشاء الله تاته طلاق درکوم، واضحه دی وی. چی ن د
نه میاشتو حامله هم ده، جواب راکړئ.

جواب: که داصحیح وی چی د دواړو خط کش سوو جملو د ادائیګی په وخت تا ان شآء
الله، وئیلی وو، نو په صورت مسئوله کی ستا په ښځی باندی څه طلاق نه واقع کیږی،
هغه بدستور ستا په نکاح کی ده، خو که یووار دی هم انشآء الله ونه وئیل نو جواب به

(۱) (طبع مکتبه رشیدیه کویټه) وفی الهدایة باب الایمان فی الطلاق ج: ۲ ص: ۳۸۹ (طبع مکتبه
شرکت علمیه ملتان) واذا قال لامرأته انت طالق انشاء الله تعالی متصلاً لم یقع الطلاق. وفی الدر
المختار باب التعلیق ج: ۳ ص: ۳۲۲ الی ۳۲۵ (طبع سعید) قال لها: انت طالق انشاء الله متصلاً
مسموعاً لایقع.

مختلف وی، په دغه صورت کی د مسئلی دوباره پوښتنه وکړه، ځکه چی معامله د
حلالو او حرامو ده، نو ځکه د ښه سوچ کولو سره فیصله وکړه (۱). والله اعلم
۱۴/ ۱۲/ ۱۴۰۲ ھ
(فتوی نمبر ۱۷۹۴/ ۳۷ ھ)

که د ښځی پلار په یوه هفته کی ښځه رانکړه نو زما د طرفه طلاق دی د الفاظو حکم

سوال: یو سړی د خپلی ښځی متعلق چی په دی وخت کی د خپل پلار په کورکی ناراضه
ناسته ده، ووئیل: چی که د ښځی پلار په یوه هفته کی د ننه ښځه رانکړه نو زما د طرفه
طلاق دی، په دی باندی د هلك پلار هغه وترټلو، او هلك بیاهم هغه الفاظو ووئیل، بیا
پلار هلك وترټی، او هلك بیا ووئیل: چی که په بله هفته کی یی دننه ښځه رانکړله نو
زما د طرفه آزاده ده، اوس د دی خبرو څخه ښځی ته معلومه سوه او نه د هغه پلار ته
اطلاع ده، او نه د ښځی د راوستلو د پاره څوك تللی دی، آیا په دی صورت کی به
طلاق واقع وی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی که د ښځی پلار هغه په هفته کی دننه خپل خاوند کره
ونه لیږله نو په ښځی باندی دری طلاقه واقع سی، لما فی الدر المختار فی ایمان الفتح
مالفظه وقدعرف فی الطلاق انه لوقال ان دخلت الدار فانت طالق، ان دخلت الدار فانت
طالق، ان دخلت الدار فانت طالق وقع الثلاث.
(شامی ج: ۲ ص: ۵۱۵) (۲)

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۳۲۲، ۳۲۸. قال لها: انت طالق انشآء الله. متصلاً مسموعًا لایقع
وفیه ایضًا ج: ۳ ص: ۳۷۲ فالمفتی به عدم الوقوع اذاقدم المشیئة ولم یأت الفاء... الخ. او
همدارنګه وګورئ تیره فتوی او د هغی حاشیه
(۲) الدر المختار مع رد المختار کتاب الایمان باب التعلیق ج: ۳ ص: ۳۷۲ (طبع سعید)
وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الرابع فی طلاق بالشرط. الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق بکلمة ان
واذا وغیرهما ج: ۱ ص: ۴۲۰ (طبع ماجدیه کویټه) واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقًا
مثل ان یقول لامراته ان دخلت الدار فانت طالق. وفی الهدایة کتاب الطلاق، باب الایمان فی الطلاق
ج: ۲ ص: ۳۸۵ (طبع شرکت علمیه ملتان) واذا اضافه الی شرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول
لامراته ان دخلت الدار فانت طالق.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۱/۳ هـ

(فتوی نمبر ۲/ ۲۹ - الف)

که زه د هندی سره بیا محبت وکړم او بدخیالی وکړم، نوکومه ښځه چې اوس زما په نکاح کې ده په مادی دری طلاقه، الفاظو وئیلو حکم

سوال: زید خپل د اکا د ځوی چې د هغه رضاعی ورور هم دی، د لورهندی سره خفیه تعلقات قایم کړل، پلار خبریدلو باندی زید یې وهل غوښتل، خلګو د مصلحت خلاف ګڼلو سره منع کی، خلګو ووئیل: چې د زید څخه دی یوه اقرارنامه واخستل سی، چې دوباره به د دی جرم ارتکاب ونکړی، مضمون داشان دی:

زه اقرار کوم چې که ما بیا د پاره د هندی سره محبت وکي، او بدخیالی می وکړله، نو کومه ښځه چې اوس زما په نکاح کې ده، هغه دی په ماباندی دری طلاقه وی. او په دی مجلس کې په صحیح دماغو سره اقرار کوم چې دغه انجلی به د آینده د پاره خپله لور ګڼم، د دی مضمون په تحریر باندی د څلورو شاهدانو دستخطونه هم دی. د دی اقرار نامی څخه وروسته د هندی پلار په بل وار کی واده وکی. د واده څخه لس پنځلس ورځی وروسته یې یوه نکاح نامه جوړه کړله، د خپلو یوڅو حامیانو په مدد سره یې د هندی خاوند (یعنی زوم) خواته تشریف وروړی. او نکاح نامه یې ورته وښووله، او ورته یې ووئیل: چې زما ښځه راکړه، که نه یې په پولیس به دی ګرفتاره کړو. خو زوم او یوڅوکسانو زید ته جعل باز او مکار وئیلو سره را وځغلول، یوه دوی ورځی وروسته زید هنده په زوره باندی راولاړه کړه او د ځان سره یې بوتله، اوس سوال دادی: چې د دی اقرار نامی څخه وروسته د هغه شرطونو خلاف ورزی کولو سره زید ملوث سوی دی، لهذا شرط موجود سوی دی ار که نه؟ او د زید منکوحه مطلقه سوی ده او که نه؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست وی، او زید واقعًا هنده په دروغه طریقی باندی خپله ښځه جوړولو یا د هغی د اغواء کولو کوشش کړی دی، نو د هغه د

خط کش سوو الفاظو د مخی د هغه په ښځی باندی دری طلاقه واقع سول. (۱) او هغه د حلالی څخه بغیر د ده د پاره نسی حلاله کیدلی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۱۰/۱۳ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۵۸/ ۲۸ ج)

د تعلیق په یومخصوص صورت کی د طلاق د عدم وقوع حکم، د ښځی د کفر کلمی په وئیلو باندی یی طلاق معلق کی او ښځی د کفر کلمه وویله نو څه حکم دی؟

سوال: زموږ په دفتر کی نورو ملګرو ایوبیه ته د سیل د کولو پروګرام جوړ کی. مانښځی ته ووئیل: چې ایوبیه ته ځم، هغی ووئیل چې مابه پریږدی او بیواځی به سیل ته ځی، ماورته ووئیل چې تابه نه پریږدم، سهار به ځم او ماښام به بیرته راځم، په دی باندی هغي ووئیل: چې د دی مطلب دادی چې مابه د ځان سره بوځی، ماورته ووئیل چې هلته به صرف سړی ځی. خط کش سوی فقره (جمله) یی ځکه ووئیله چې د طلاق خیال یی په زړه کی راغلی وو. به هرحال وروسته هغه پوښتنه وکړه، چې ته به صبا بیاځی؟ زه په بل سوچ کی وم، ومی ووئیل: هو! اوس که زه صبا ولاړسم (د طلاق نیت می بالکل نه دی او نه وو) نو آیا په دی سره به طلاق واقع سی؟ او فرض کړی که د وهلو په دوران کی دا ووئیل سی چې اوس خودې پریږدم، او بیابه دی نه پریږدم په دی سره خو به طلاق نه واقع کیږی؟

۲: که زید خپلی ښځی ته ووئیل: که تاکفریه کلمه ووئیله، یادی کفریه خبره وکړله نوتاته به طلاق وی، نو د هغه ښځی د یومصیبت په حالت کی په غلطی سره ووئیل: (معاذ الله) خدای ﷻ هم رحم نه کوی. (د کفر حاصلولو په غرض سره یی، ونه وایی) آیا طلاق واقع سو؟ او آیا دوباره به نکاح کول وی؟

جواب: په مسئوله صورت کی ستا د ایوبیه ته د تلو سره به طلاق نه واقع کیږی، ورسره د وهلو په صورت کی کلمه چې دا ووایی: چې اوس دی پریږدم بیابه دی نه پریږدم، نو

(۱) وفی التاتار خانیه ج: ۳ ص: ۵۰۳ قال لامرأته ان دخلت الدار فانت طالق. فدخلت امراته وقع الطلاق لوجود الشرط. او همدارنګه وګوری سابقه فتوی او د هغی حاشیه

په دی سره هم طلاق نه واقع کیږی.

۲: خدای هم رحم نه کوی. (معاذ الله) د کفر کلمه ده، په داسی صورت کی په ښځی باندی توبه وباسه! او دوباره نکاح کول پکار دی، او په صورت مسئوله کی د نکاح د تجدید څخه وروسته احتیاط داګنل پکار دی، چی په آینده کی به هغه په دوو طلاقو سره مغلظه سی، د دی صریحه جزئیه د نظر څخه تیره نسوه.

وفی العالمگیریه: من نسب الله تعالی الی الجور فقد کفر. (عالمگیریه ج: ۲ ص: ۲۵۹، [۱])

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/ ۵۷۷ ب)

د خاوند په الفاظو (تاته به طلاق خو اوسی) کی د خاوند د نیت یو مخصوص صورت

سوال: فتوی مجریه دار الافتاء دار العلوم کراچی ۱- ۴، ۱۳۹۱ هـ په خدمت کی دړلیږم، دامسئله حسب ارشاد دوباره د رجوع په خدمت عالیه کی ده، چی څه حتمی او قطعی فتوی صادره سی، د دی د پاره څه امور او واقعات متعلقه مختصراً په لاندی ډول سره دی:

۱: د خاوند اصل خط د لاړکانی څخه مؤرخه ۱۵ اپریل سنه ۱۹۷۱ چی د هغه نقل (د فتوی ترشا لیکل سوی دی) عالی جناب ویلی دی، په دی کی خاوند د دوهم صورت متعلق (تاته خوبه طلاق واقع سی) مده د دی میاشتی تر آخره پوری یعنی ۳۰/ اپریل پوری مشروط کړی دی، چی هغه ته خط ولیکه، د جهیز سامان او مهر وغیره متعلق خبرو تصفیه د دی میاشتی ترآخره پوری پوره کړه!

۲: د ښځی پلار هغه ته جواباً یوخط مورخه ۲۲، اپریل سنه ۱۹۱۱ء په ذریعه په رجسټری طور سره ولیکی، د هغه نقل د دی خط سره منسلك دی، چی په هغه کی د جهیز او مهر وغیره ذکرکولو څخه بغیر داسی لیکل سوی دی، چی خاوند او د هغه پلار صاحب دی ژر ترژره په یوه هفته کی راسی چی معاملات په مناسبی طریقی سره

[۱] طبع مکتبه رشیدیه کویټه

فیصله سی، خو افسوس چی کله خاوند رانه لی، او نه د هغه پلار صاحب رالی، داشان څه خبره جوړه نسوه.

۳: د ښځی پلار د خپلی بلی لور د واده په موقعه باندی خاوند او د هغه پلار راوغوښتل خوبیاهم هغوی حاضر نسول.

۴: د ښځی د پلار قیام په لندن کی دی، هغه د خپلو دوو لوڼو د واده په موقعه باندی حاضرسو، وغوښتل یی چی د دی معاملی تصفیه وسی، خو ناکامه پاته سو

۵: داجمله (تاته به طلاق اوسی) متعلق د فتوی منسلکی مخکی پراګراف په اخری کرښو کی د خاوند مقصد پوښتنه سوی ده، د غیب علم الله تعالی سره دی، خو بنده صرف نتیجه اخذکولی سی چی خاوند تهذیب یافته دی، او د مرنجان اومه رنج طبعیت حامل دی، د څه سنګینی معاملی ابتداء کول پخپله نه غواړی، او نه د هغه ذمه واری په خپل سرباندی اخلی.

۶: د هغه ښځه په دی میاشت کی د اتو میاشتو انداتًا حامله ده. او د اوسط فبروری سنه ۱۹۷۱ء څخه د خپل پلار کره ده، خاوند په دی باره کی خپله ښځه په یأس او حسرت کی ساتی.

حاصل دادی چی د دی طلاق د احتمال د خبر په حقله د خاوند مقصد ښکاره نه دی. مبهم دی، او هغه په خپل ځان د دی ذمه واری نه اخلی، خاوند په خپل مذکوره خط مؤرخه ۱۵/ اپریل سنه (۱۹۷۱) څخه وروسته تراوسه پوری خپلی ښی سره لیدل نه دی کړی، او نه ښځه د خاوند کورته تلی سی، یعنی ښځه تراوسه پوری د پلار کره ده. او انشآء الله راروانی میاشت ته به د بچی د تولد څخه فارغه سی، ښځه تراوسه پوری ستا د وقیع او مؤثری فتوی خواهشمنده ده چی هغه به خپل ازدواجی ژوند درست کړی.

جواب: کوم حالت چی تادوباره لیکلی دی په هغه سره د فتوی په جواب کی څه تبدیلی نه پیداکیږی، ترڅو چی د طلاق مسئله ده، د هغه په باره کی اول لیکل سوی دی، چی خاوند کوم دا الفاظ لیکلی دی چی، په بل صورت نوبه تاته طلاق اوسی، د دی صحیح مراد هم د خاوند څخه معلومیدلی سی چی آیا هغه د دی الفاظو د لیکلو په وخت د طلاق واقع کیدلو نیت درلودی، یامحض د آینده د پاره د واقع کیدلو خبر یی ورکوی. نو ځکه ښه داده، چی سابقه فتوی هغه ته ولیږئ، د هغه څخه دی وضاحت طلب سی. او په وضاحت کی چی هغه څه ولیکی هغه دلته را ولیږئ، نو د هغه په کتلو سره به څه حتمی فیصله ورکولی سی.

داخبره قابل د ذکرده چی که خاوند په جواب کی داخبره ظاهره کړله چی په دی الفاظو سره هغه هم طلاق واقع کیدل غوښتل، نو بیاخوبه یو طلاق رجعی واقع سوی وی، چی د هغه حکم دادی: چی د عدی په دوران کی (یعنی د ماشوم د پیداکیدو څخه مخکی) هغه رجوع کولی سی [۱]، او د عدی تیریدلو څخه وروسته په خپله رضامندی سره دوباره نکاح هم کیدلی سی، لهذا د دی طلاق د وجی به په راتلونکی کی د تصفیی په لاره کی څه رکاوټ نه وی، تاسو خواهش ظاهر کړی دی، چی دلته نه د خاوند په نوم د څه مشوری خط ولیکل سی خو د فریقینو د حالاتو څخه کماحقه د واقفیت څخه بغیر په یو طرفه بیان باندی داسی څه خط لیکل د دار الافتاء منصب نه دی نو په دی معامله کی معذرت قبول کړئ، او دا معامله په خپل مینځ کی په خبرو اترو فیصله کول پکار ده، که هغه ستاسو خواته نه راځی نو تاسو خو د هغه خواته ورتلی سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۲/ ۱۳۹۱ هـ

(فتویٰ نمبر ۵۷۹/ ۲۲ ب)

د خاوند الفاظ (د خپلو دوو وروڼو د کور والاوو څخه به هیڅ هم نه غواړم که می وغوښتل نو په ماباندی زمابښځه په اوو شرطونو باندی طلاقه) حکم

سوال: دری وروڼه دی د دوو وروڼو په مینځ کی په څه معاملی باندی خبره زیاته سوه، یوه ورور ووئیل: چی زه به د خپلو دوو وروڼو د کور والاوو څخه هیڅ هم نه غواړم او که می وغوښتل نو په ماباندی دی خپله ښځه په اوو شرطونو طلاقه وی. آیا که اوس هغه د څه شی غوښتلو څخه بغیر د هغه وریندار په خپله هغه ته څه چای یا اوبه ورکړی نو طلاق به واقع سی؟

جواب: که دغه ورور تیک هم هغه الفاظ استعمال کړی وی په کوم باندی چی لکیره

[۱] وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة ج: ۲ ص: ۳۹۴ (طبع شرکت علمیه ملتان) و اذا طلق الرجل امرأته تطلیقة رجعیة او تطلیقتین فله ان یراجعها فی عدتها.... الخ.

راکښول سوی ده، نو د دی حکم دادی چی کله هم دا ورور د خپلو وریندارګانو څخه څه شی وغواړی نو د هغه په ښځی باندی به دری طلاقه واقع سی [۱]، بیابه یی د هغی ښځی سره نکاح هم د حلالی څخه بغیر نسی کیدلی، او که هغوی پخپله څه شی ورکړی او دی یی واخلی نو بیابه طلاق نه واقع کیږی، خو په غوښتلو کی د سخت احتیاط ضرورت دی، او که د دی خطری څخه مکمل بچ کیدل وی، او د وریندارګانو څخه د څه شی غوښتل ضروری وی، نو د دی مشکل څخه د وتلو طریقه داده چی: خپلی ښځی ته صرف یو طلاق رجعی ورکړی او عده یی تیره سی، او بیا د عدی د تیریدلو څخه وروسته به ښځه د نکاح څخه وځی، نو اوس دی د خپلو دواړو وریندارګانو څخه څه وغواړی نو طلاق به نه واقع کیږی [۲] بیا دی خپلی مطلقی ښځی سره دوباره په نوی مهرباندی دوباره نکاح وکړی، [۳] نو د دی نوی نکاح څخه وروسته به د همیشه د پاره ورته د وریندارګانو څخه د څه شی غوښتل ممکن سی او یابه په دی غوښتلو سره هیڅکله هم طلاق نه واقع کیږی [۴]، خو د اینده د پاره به د هغه سره د دوو طلاقو اختیار پاته سی، خو په دی طریقی باندی عمل کولو څخه مخکی د کوم مستند عالم څخه اول ځان ښه پوه کړئ، ځکه چی لږغوندی بی احتیاطی سره معامله خرابیدی سی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۹۳۴/ ۲۸ ج)

که ته بغیر د اجازت څخه د باندی قدم کښیږدی نو ستا د اړخه خلع یعنی طلاق به واقع سی، د الفاظو حکم

[۱] د حوالی د پاره وګوری صـــ حاشیه نمبر ع.

[۲] ایضاً.

[۳] وفی الدر المختار باب التعلیق ج: ۳ ص: ۳۵۵ (طبع سعید) فحیلة من علق الثلاث بدخولا الدار ان یطلقها واحدة ثم بعد العدة تدخلها، فتنحل الیمین فینکحها... الخ.
وکذا فی الهندیة الباب الرابع فی الطلاق باب شرط الفصل الاول فی الفاظ الشرط ج: ۱ ص: ۴۱۶ (طبع ماجدیه)

[۴] وفی الدر المختار مع ردالمحتار کتاب الطلاق باب التعلیق ج: ۳ ص ۳۵۲ (طبع سعید) تنحل ای تبطل الیمین ببطلان التعلیق اذا وجد الشرط مرة.... الخ. (محمد زبیر حقنواز)

سوال: زما د واده دری نیم کاله موده سوی ده او د دوونیمو کالو یوه لورمی هم ده، او د
دری نیمو دری کالو څخه زماکورنی حالات صحیح نه دی اکثره زمانبځه سره د لوره
په خپل کور کی ناسته وی، او داشان زموږ د دواړو په صحت باندی هم خراب اثر
غورځیدلی دی، زما خیال دی چی زما د خسرګنی د اړخه زمانبځی ته ملاتړ ملاویدی
په وجه صورت حال د بد څخه بدترسو، زه بدنامه او بی غیرته سوم، اکثره د کور څخه
بهرسوم، زه وبیرول سوم، او کله کله د هغی وروړ او مور څماکورته رالل او خپله به بی
بوتله، داشان زموږ ژوند تیریدی، د هغوی د کور والاوو د اړخه د کار روائی کولو
یعنی د انجلی د ګرځولو وعده بی کړی وه، په هرحال اوس چی زما ښځه وه دوی
میاشتی وروسته بیرته کورته راله، نوموږ ښه اوسیدلو، شپږ ورځی زه بیمار وم، او په
کورکی بیا تنازعه پیداسوه، داشان اته ورځی دفترته نه ولاړم ماته زما د ښځی بغیر د
اجازت څخه زما په غیاب کی د باندی د چاکورته تلل بالکل زماخوښه نه ده، که څه هم
ما په خپلی ښځی باندی کامل باور دی، یو ورځ زه دفترته تلم، نو زمانبځی زما د
چاپیانو څخه زما د کور چابی وکښل، په دی باندی ماهغی ته ووئیل، چی ته هیڅ چیری
ولاړه نسی، په دی باندی زمانبځی ووئیل: چی زه به ضرور څم، یواځی په کورکی بنده
نسم پاته کیدی، په دی باندی ماته درد رالی، او ورته می ووئیل: چی زه دی هر وار پوه
کوم، او ته نه منی، بیا ماقرآن شریف شاهد جوړکی او دا الفاظ می ووئیل: که ته بغیر
د اجازت څخه زما په غیاب کی د کور څخه د باندی قدم کښیږدی نو ستا د اړخ څخه
خلع یعنی طلاق به واقع سي، د دی څخه وروسته همسایه چی د کور مالك دی هغه ته
می هم ووئیل چی ماخپلی ښځی ته د منع کولو د پاره داسی وئیلی دی، که د دی خلاف
ورزی وکړی نو پخپله به ذمه واره وی، بیا زه کورته رالم، او چی د خپلی ښځی ضد می
ولیدی، نو ماهغی ته د تګ اجازت ورکی، او قرآن شریف می شاهد جوړهګی، بیا ماپه
هغه وخت د کور مالك ته آواز کی، او ورته می ووئیل: چی ته خپله ښځه زما د ښځی
پوه کولو د پاره را ولیږه، هغی ته ما اجازت ورکړی دی، د دی څخه وروسته زه
خسرګنی ته ولاړم، او خپل خسرته می ټوله واقعه بیان کړه، هغه رالی او درد ورلی او
وی وئیل چی زه ستانبځه د امانت په طور باندی بوځم، دفترته به درته ټیلفون وکړم ته
جمعی ته راسه اوبویی څه، هغه ووئیل: چی زه به ستا د برنی جملی تصدیق کوم په دی
باندی مابهشتی زیور او برنی لیکل سوی ولیکل، او د هغی پلارته می ورکړل چی د

چا څخه تصدیق وکړی چی چیری داخلګ په غلط فهمی کی ونه ګرځه یی، او زما څخه
بی لری نه کړی، د دی فتوی صادره کړئ؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست وی، نو ستاپه ښځی باندی هیڅ
طلاق نه دی واقع سوی، هغه بدستور ستا ښځه ده، او هغه ته خپل کورته راوستلی
سی، او خط کش سوو الفاظو سره هیڅ طلاق نه دی واقع سوی، ځکه چی په دی الفاظو
کی خو یو احتمال دادی: چی د ښځی د اړخه په خاوند باندی د طلاق وقوع یی په خروج
من الدار باندی معلق سوی دی او په دی صورت کی د عدم طلاق وقوع ظاهره ده:
لما فی ردالمختار (اذا قال انامنك طالق یلغوا) فان قوله انامنك طالق منه وصف الرجل
بالطلاق صریحاً فلایقع لان الطلاق صفة للمرأة. (شامي ج: ۲ ص: ۴۳۳) (۱).
دوهم احتمال دادی چی دا د خاوند د اړخه د خلع مطلق پیشکش وی، په دی صورت
کی به دا د زوجی په قبول باندی موقوف وی او قبول په وخت د تعلیق کی سوی نه دی
او شرط تراوسه پوری نه دی پیداسوی، او خاوند زبانی د دی احتمال نفی کوی.
دریم احتمال دادی چی دا اخبار وی د ښځی د خلع کولو څخه یعنی مطلب داوی، چی
ستا وتل بغیر د اجازت څخه علامه به وی ستا د خلع د خواهش، یا د خلع د ایجاب (او
خاوند د خپلی جملی مطلب هم دا په ژبه سره بیانوی) په دی صورت کی داقول کذب
یاکم ترکمه لغوه دی، په دی سره څه انشاء د طلاق نه کیږی، په هرصورت د مذکوره
الفاظو سره څه طلاق نه دی واقع سوی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۹۱۴ ج)

د خاوند الفاظ (که بیا د دی والدی په باره کی څه ووئیل نو زه طلاق، طلاق، طلاق درکوم، د الفاظو حُکم

سوال: مسئله داده چی د الف خپلی ښځی ب سره سخت تکرار وسو، چی په هغه باندی
ب د الف یعنی خاوند د مور صاحبی په شان کی ګستاخی وکړله الف ښځی ته ووئیل:
چی که بیا دی د والدی صاحبی په باره کی څه ووئیل، نو زه تاته طلاق، طلاق، طلاق

(۱) رد المختار تحت مطلب فی قوله علی الطلاق من ذراعی ج: ۳ ص: ۲۵۴ (طبع سعید)

درکوم، ښځی بدستور جنگ کوی، خو دوباره یی د والدی صاحبی په باره کی څه وند
وئیل، آیا ښځی ته طلاق واقع سو؟ د جواب طلب کوو.

جواب: په صورت مسئوله کی که د الف ښځه د الف د مور په ژبی سره گستاخی کوی،
او یا د هغی په باره کی څه داسی خبره وکړی چی د هغی په بدی باندی مشتمل وی نو د
الف په ښځی باندی به دری طلاقه واقع سی (۱) او هغه به د حلالی څخه بغیر د الف د
پاره هیڅکله حلاله نه وی، خوترڅوچی د والدی په باره کی د بدی څه خبره ونکړی
ترهغه وخته پوری بدستور هغه د الف په نکاح کی ده، خو بیاهم د سخت احتیاط
ضرورت دی، که کله هم څه کلمه په غلطی سره د هغه د خُلی څخه ووتله، نو طلاق به
واقع سی، که خاوند د دی خطرناك صورت څخه د بچ کیدلو د پاره د خپلی ذکرسوی
جملی بی اثره کول او کالعدم کول غواړی نو د هغه طریقه دی څه وخت زبانی پوښتنه
وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۴/ ۱۲/ ۱۴۰۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۷۹۳/ ۳۷ هـ)

چاته د هغه په هجوه بیانولو باندی د طلاق معلق کولو څخه وروسته که یی هغه ته هجوه (بدی) بیان کړه نوبیابه هم طلاق واقع سی

سوال: خالد د زید او بکر په مخکی د عمرو هجوه وکړله زید بکرته ووئیل: چی دا
مذمت عمرو ته ووایه! نو دواړه کسان عمرو ته ورغلل، نو بکر عمرو ته ووئیل: چی
خالد زموږ مذمت کړی دی، نو هغه مذمت زید عمرو ته بیان کی، نو هغه هغه خپل
توهین وگنی، عمرو چی کله په خلاف کی راگیرسو، نو زید قدم کشیدگی اختیار کړه،
چی ماعمرو د مذمت ښوولو خبر کړی نه دی، بلکی بکر خبر کړی دی، چونکی هغه
پخپله مذمت بیان کړی دی، اوښوولی یی نه دی ځکه اول اول بکر د مذمت ښوولو
څخه عمرو خبرکړی دی، خو د بکر زبانی شهادت او د نورو شاهدانو بکر صرف د زید
په مشوری سره صرف دومره [illegible] دی، چونکی مذمت زید

(۱) وگوری [illegible]

بنه پیژنی ماته معلومه نه ده، گذارش دادی چی کله د کلی والاوو د زید څخه سوال
وکی چی تا د عمرو هجوه ولی ښوولی ده؟ زید ووئیل: چی ما مذمت اوریدلی دی او د
اورولو څخه زما قسم نسته؟

جواب: اول هم دوه واره د دی سوال جواب ورکول سوی دی چی په ښوولو اورولو کی
څه فرق نسته که په مذمت ښوولو باندی یی طلاق معلق کړی وی، او وروسته یی ورته
هجوه واوروله (۱) که په دی باندی تاته اطمینان نه کیږی نو اطمینان پیداکول د چاپه
قدرت کی نسته، فضول بار بار پوښتنه کولو سره وخت مه ضایع کوه، د دین او شریعت
په معامله کی بهانی جوړول سخته گناه ده.

والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۲۸/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۵ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۵۹/ ۱۹ الف)

په موږ باندی دی خپلی ښځی په شرع محمدی حرامی وی که فلانی واقعه نه وی سوی د الفاظو حُکم

سوال: غلام محمد ولد هرمحمد قوم قصاب سکنه بهرال او محمد عباس ولد شاهول
نوم اعوان سکنه بهرال، محمد بشیر ولد دوست محمد قوم اعوان، سردار ولد شیر
محمد دوست محمد ولد محمد شیر، اول یی په دروغو قسم واخستی چی غوث محمد
ولد نور محمد مظفر خان ولد حاجی محمد خان سره د یوولسو ملگرو اغواکړی دی،
بیا په دوهمه ورځ غوث محمد او د هغه ملگرو حاجی محمد خان مسماة صاحبه خاتون
: حاجی محمد خان لور خالد مظفر خان، اسلم خاتون د مظفر خان لور قتل کړی دی. بیا
هغوی:
۱: مذکوره پنځه کسانو د پولیس په مخکی طلاق پورته کی په اوداسه سره یی قرآن
شریف راواخستی او په ژبه یی ووئیل: چی موږ په دی کلام پاك باندی قسم کوو، چی
غوث محمد ولد نورمحمد، مظفرخان ولد حاجی محمد خان د یوولسو ملگرو سره اغوا
کړی دی.

(۱) د حوالی د پاره تیره فتوی ص حاشیه ع وگوری.

۲: موږ پنځو کسانو د خپلو خپلو ښځو په نوم اخستلو سره دری دری واره دا الفاظ وئیلی دی چی په موږ باندی دی خپلی ښځی په شرع محمد سره حرامی وی که غوث محمد ولد نورمحمد بره ذکرسوو اشخاصو اغواکړی نه وی.

او صورتحال دادی چی غوث محمد ولد نور محمد د ژوند ثبوت او د اشتهاری ملزم کیدلو ثبوت په هر اخبار کی درج دی، او د هغه گرفتاری په سنه ۱۹۲۸ ۸- ۲۲. کی سوی ده.

جواب: که د سوال دابیان درست وی چی غوث محمد چا نه دی اغواکړی، نو د پولیس په مخکی د قسم کوونکو ټولو کسانو په ښځو باندی دری طلاقه واقع سول، (۱) اوس د حلالی څخه بغیر هغوی د دوی د پاره حلالی کیدی نسی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

د تعلیق په یومخصوص صورت کی د خاوند د نیت اعتبار

سوال: زید یوه ورځ په خپلی خاص کمری کی آرام وکی، کوم وخت چی هلته د هغه ښځه بیده وه، په دی وخت کی د زید پلار د دی کمری خواته تیرسو، په دغه علاقه کی د ښځی سره د ورځی بیده کیدل عیب گڼل کیږی، کله چی زید د خپلی کمری څخه ووتی، نو پلار هغه ته ووئیل: چی د ورځی ولی د ښځی سره بیده کیږی؟ زید د خپلی مور په رټلو باندی ووئیل: چی (که داسی ده نو زما ښځه دی دری طلاقه سی) اوس د هغه څخه پوښتنه وسوه چی ستا د دی کلام څخه څه مطلب دی؟ هغه ووئیل: چی زمامطلب دادی: که زما پلار زه د خپلی ښځی سره په بیده کیدو باندی لیدلی یم نو زماښځی ته دی دری طلاقه سی، چونکی د کمری دروازه بنده وه، لهذا د هغه د پلار د کتلو امکان هم نسته، اوس سوال دادی چی پورته ذکرسوی صورتحال کی طلاق واقع سو او که نه؟ ورسره د زید د کلام څخه څه مطلب دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید د کلام (که داسی وی.... الخ مطلب هم د هغه څخه معلومیدی سی، که هغه خدای حاضر ناظر گڼلو سره دابیان ورکوی، چی د هغه مراد د

---

(۱) د حوالی د پاره سابقه ص او ص حاشیه ع وگوری.

پلار، ښځی او خاوند په پروتی باندی لیدلی وی، نو د هغه تصدیق به کول کیږی، او د طلاق دارو مدار به د هغه د والد په لیدلو باندی وی، که هغه دا دواړه ښځه خاوند په بیده کیدو باندی لیدلی وی نو دری طلاقه به واقع سی او که نه نو بیا هیڅ نه. (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

(و – ۲۰/ ۱۲/ ۱۳۹۰ ھ

(فتوی نمبر ۲۴۸/ ۲۱ – الف)

(که هغه لمونځ نه وی کړی نوهغه دی طلاقه) د الفاظو حُکم

سوال: یوسړی د خپلی ښځی په عدم موجودگی کی دا الفاظ ووایه: چی که هغه لمونځ نه وی کړی نو هغه دی طلاقه وی، بعینه د پوره الفاظو حاضری نه ده، خو غالبًا دا الفاظ رایادیږی، داسی الفاظ دوه یادری واره ووئیل سول او غالبًا داهم د دری واره وئیلو گمان دی، وروسته بیا هغی ښځی ته د دی خبرو اطلاع ورکړل سوه، د څه مودی پوری هغه ښځی لمونځ کوی، یعنی ترڅو چی د خاوند په کور کی وه کله چی پلار کره ولاړه، نو لمونځ یی بیخی نه کوی، او بیا چی خاوند کره راله، نو بیا د لمانځه پابنده سوه، یا د دی وی چی دی ښځی ته د سلسل بول بیماری ده، آیا په داسی صورت کی طلاق واقع سو؟

جواب: د طلاقو ټول احکام دارومدار په الفاظو باندی وی، ویونکی ته پکاردی چی هغه دی ښه سم الفاظ یادکړی چی څه یی وئیلی وه؟ که غالب گمان یی هم په دی الفاظو باندی قائمیږی کوم چی په سوال کی درج سوی وی نو په دی سره په ذکرسوو الفاظو کی طلاق نه واقع کیږی خو که الفاظ د دی څخه علاوه نورڅه ورته رایاد سی نو دوباره د مسئلی پوښتنه وکړه. والله اعلم

---

(۱) وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الرابع فی الطلاق بالشرط الفصل الثالث فی تعلیق الطلاق ج: ۱ ص: ۴۲۰ (طبع ماجدیه کویته واذا اصافه الی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقًا. وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۳۴۰ (طبع سعید) والمعلق بالشرط کالمرسل عند وجود الشرط.... الخ. وفی الهدایة باب الایمان فی الطلاق ج: ۲ ص: ۳۸۵ (طبع شرکت علمیه) واذا اضافة الی الشرط وقع عقیب الشرط... الخ او همدارنگه وگورئ ص: او ص: حاشیه نمبر.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲۸/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ
(فتوی نمبر ۳۳۴/ ۱۹ - الف)

که فلانی مځکه خرڅه نه کړم نو زما ښځه دې طلاقه سی، د الفاظو حکم

سوال: یوسړی مسمی میراکبر د پلار شخه خوابدی سو او د خبرو اترو په دوران کی یی داسی ووئیل چی: د فلانی مځکی رتبه چی زما حق اسامی ده په موقعه پیداکیدلو باندی د باندی خرڅه نه کړم، نو زما ښځه دی په دری طلاقو سره طلاقه سی او دایی هم ووئیل: که تاته یی درکړم بیا دی هم په درو طلاقو طلاقه وی، د دی شخه وروسته شپږ میاشتی خاموش پاته کیدو سره د پلار سره ګانه کښی ښوول، خوخرڅه یی پری نکړله، اوس داپریشانه دی، مځکه بهر خرڅولو شخه هم مجبوره دی ځکه چی مځکه کمه ده، او په پلار یی هم نسی خرڅولی، ځکه که داسی وکړی نو طلاق به واقع سی د طلاق شخه د بچ کیدلو به څه صورت وی؟

جواب: میراکبر داسی الفاظ استعمالولو سره د ګناه ارتکاب کړی دی چی په هغه باندی د هغه د پاره توبه ایستل پکار دی، او د موجوده صورت حال شخه د بچ کیدلو طریقه همداده، چی دا مځکه دی په بل چاباندی خرڅه کړی، او د خرڅولو شخه وروسته دی بیرته خنی واخلی، نو بیابه مځکه د ځان سره د ساتلو په وجه طلاق نه واقع کیږی. (۱) او د بیا د پاره دی د داسی قسم الفاظو وئیلو شخه مکمل پرهیز وسی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
(فتوی نمبر ۳۳/ ۲۳ - الف)

---

(۱) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الایمان فی الطلاق ج: ۲ ص: ۳۸۵ (طبع شرکت علمیه ملتان) واذا اضافه الی الشرط وقع عقیب الشرط مثل ان یقول لامرأته: ان دخلت الدار فانت طالق، وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الرابع ج: ۱ ص: ۴۲۰ (طبع ماجدیه کویته) واذ اضافه فی الشرط وقع عقیب الشرط اتفاقا، او همدارنګه وګوری ص حاشیه ع.

فصل فی تفویض الطلاق

چاته د طلاق واقع کولو حق ورکولو بیان

(درې طلاقه تفویض) د وئیلو حکم

سوال: زید چی د هغه عمر تقریباً اوه لس کاله دی، هغه خپلی ښځی هندی ته په واضحه الفاظو سره د دری شاهدانو په مخکی داسی الفاظ ووئیل: (دری طلاقه تفویض) اوس په دی کی بعضی جاهلان په ضد دی، اختلاف کوی، چی زید نابالغ دی، ځکه طلاق واقع نسو، نورخلګ وایی: چی کله د زید عمر اووه لس کاله دی نو بالغ دی او د بالغ طلاق کیږی شرعاً صحیح صورت حال څه دی؟

جواب: د اوولس کالو هلك شرعاً بالغ دی (۱) که هغه طلاق ورکړی نو طلاق واقع کیږی (۲) او په سوال کی چی یی د تفویض الفاظ وئیلی دی که د دی شخه مراد داوی چی هغه پخپله طلاق ورکی نو بیا خو بغیر د شبهی شخه طلاق واقع سو، او که د تفویض شخه مراد دادی چی هغه ښځی ته په خپل ځان باندی د طلاق واقع کولو اختیار ورکړی دی، نو معامله د ښځی په لاس کی ده، که هغه په خپل ځان باندی طلاق واقع کړی نو طلاق به واقع سی، او که نه نونه به واقع کیږی (۳) والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۳۰/ ۱۰/ ۱۳۸۷ ھ

د شرائطو په خلاف ورزی باندی د طلاق حق ښځی او خسرته

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۲ ص: ۱۵۳ (طبع سعید) بلوغ الغلام بالاحتلام والاحبال والانزال... فان لم یوجد فیهما شیئ فحتی یتم لکل منهما خمس عشرة سنة به یفتی.

(۲) وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الاول ج: ۱ ص: ۳۵۳ (طبع ماجدیه) یقع طلاق کل زوج اذا کان بالغاً عاقلاً.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۳۱۴ (طبع سعید) وانواعه ثلاثة تفویض وتوکیل ورسالة والفاظ التفویض ثلاثة تخییر، وأمربید، ومشیئة.

د تفویض کولو حکم

یوسړی په سپین کاغذ باندی لاندینی اقرار نامه ولیکله.

سوال: یوسړی په سپین کاغذ باندی لاندینی اقرار نامه ولیکله.

۱: زه به خپله ښځه د شرعی پردی پابنده کوم.

۲: د ډوډی نفقی او حلال رزق ضامن به یم.

۳: خپله ښځه به وهم ټکوم نه.

۴: د خسرګنی په ګاوندکی به وسیږم او خپل کوربه جوړوم، ۵- د خسرګنی خدمت ګذار به یم او صله رحمی به کوم.

۶: ښځی ته به هره میاشت کی مبلغ (۵) روپی د نفقی په طور ورکوم.

۷: د ښځی د اجازت څخه بغیر به دوهم واده نه کوم.

۸: د دینی امورو مثلاً لمونځ، روژه وغیره به حتی المقدور پابندیم، د عدم پابندی په صورت کی د ذکرسوو هرشرط یا په یوشرط کی په خلاف ورزی به خوابنی خسرته د طلاق بائن واقع کولو اختیاروی اوس یی په هغه اصولو کی خلاف ورزی وکړله او ښځه یی ووهله، د خسر په خلاصولو باندی خسرته وایی چی ته کافریی، بی ایمانه یی، د مذکوره فسادپه وجه خسر هغه دوه کونتی وهلو، زوم خسر د مری څخه ونیوی او په مځکه یی را وغورځوی.

۲: په دوهمه ورځ د ښځی په طلب کولو کی یی بیا په خسر باندی حمله کول غوښتل خو د حقیقی ورور په منع کولو سره منع سوم، او د فساد او حملی د بیری څخه د خسرګنی څخه شپږ میله لری په بانډو کی آباد سو، په دوو تهاڼو کی یی درخواست ورکی، چی زماخسرګنی زماښځه او (۷۵) روپی او کالی وړی دی، دابالکل دروغ وه.

۳: په عدالت دیوانیه کی یی د زن آشوئی مقدمه او دعوی دائره کړی ده،

۴: د خسرګنی قرض پیسی اخستلو سره د بیرته اداء کولو په وعدی سره یی اوس نه اداء کوی، یوولس میاشتی تیری سوی دی، د دی څخه علاوه په تیری سوی قربانی د حصی پیسی په کلی کیورباندی ورکړی تراوسه پوری یی په اداء کولو کی ټال متول کوی او حق مهرهم نه اداء کوی، آیا د دی خلاف ورزیانو په صورت کی طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که مذکوره لیکل سوی واقعات [illegible] بغیر د شك څخه، خاوند په اقرار نامه کی د څوشرطونو خلاف [illegible] دی چی په دی صورت

کی ښځی یاخسرته د طلاق واقع کولو اختیار صرف په هغه وخت کی حاصل دی، چی هغه کله د یوشرط د خلاف ورزی څخه فوراً وروسته طلاق واقع کی (۱) او په دی کی بالکل تأخیر ونکړی (۲) که د شرط د خلاف ورزی څخه وروسته یی فوراً طلاق واقع نه کی او لږ تأخیر یی هم وکی نو ښځی یاخسرته طلاق کول به صحیح نه وی، البته اقرارنامه چونکی په ډیرو شرطونو باندی مشتمله ده، نو څکه که ښځی یاخسر د یوشرط په خلاف ورزی باندی فوراً طلاق واقع نه کی، نو اوس هغوی ته د آینده د پاره هم د دی شرط په دوباره خلاف ورزی باندی د طلاق اختیار به پاته نه وی، خو که د دی څخه وروسته خاوند د بل شرط خلاف ورزی هم وکړله، نو په هغه وخت به هغوی ته بیا اختیار وی، خو په دی شرط چی د خلاف ورزی څخه وروسته فوراً طلاق واقع کړی، اوس په مذکوره صورت کی که ښځی د کوم شرط د خلاف ورزی څخه وروسته فوراً د پورته ذکرسوو احکامو مطابق طلاق ورکړی دی نو هغه واقع سو (۳) او که د شرط د خلاف ورزی څخه وروسته یی لږهم ناوخته کی او بیایی طلاق واقع کی، نو داطلاق واقع نه سو. (۴)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۸/ ۱۲/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۲/ ۲۱ – الف)

په مسئلی باندی د غلط پوهیدلو په وجه د تفویض طلاق د نه متحقق کیدلو باوجود د طلاق بائن واقع کېدل

---

(۱) الی.

(۲) ایضا.

(۳) ایضا.

(۴) وفی الدر المختار مع رد المحتار کتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج: ۳ ص: ۳۱۵، ۳۱۲ (طبع سعید) قال لها اختاری او امرك بیدك ینوی تفویض الطلاق.... او طلقی نفسك فلها ان طلق فی مجلس علمها به مشافهة او اخباراً وان طال.... مالم تعقم لتبدل مجلسها حقیقتاً او حکماً بان تعمل مایقطعه.... لاتطلق بعده ای المجلس.... الخ.

سوال: زماواده په لاهور کې (۲۴) جولای سنه 1953ء کې یعنی څلوېښت کاله مخکې
د نجم خاتون سره وسو، د نجمې خاتون مور او پلار نه وو، د خپلې امه او بیا د هغې د
وفات څخه وروسته یې د خپلې امه د لونوسره پرورش وسو، زما واده د هغه د امه د
لور په ذریعه د هغې سره وسوه، واده په ساده طریقې سره وسو، مهر مبلغ (۵۰۰۰)
روپې معجل عند الطلب مقرر سو، زه په پاکستان ایرفورس کې ملازم وم، پنځه بچې
مې پیداسوه، تنخواه مې لږ وه، خو ژوند مې په خندا او خوشحالي سره تیریدی. د دې
څخه وروسته زمابنځې د مانع حمل دوایانی استعمالولوسره خپل ځان د نورو اولاد
راوړلو څخه بچ کې (ځکه چې په کالج کې یې داخله اخستې وه او د نورو بچوپیدائش
په تعلیم کې مانع کیدی سوه) کله چې زماواده وسو، نو هغه لږ ډېر څه وئیلې وه، نو
ماخپلې ښځې ته په کورکې ورښوول شروع کړل، او په سنه ۱۹۶۰ء کې کله چې زما
دریم ماشوم پیداسوی وو، ماپه هغه باندې د میټرک امتحان ورکی، چې په هغه کې
هغه په دوو درو پرچوکې فیل سوه، د دې څخه وروسته چې سنه ۱۹۶۹ء کې زمالور د
میټرک امتحان پرائیویټ ورکولو نو ماخپلې ښځې ته هم سبق ورښووی، او په دواړومې
امتحان ورکی، د خدای ﷻ په فضل سره دواړه کامیابی سوې، د دې څخه وروسته
زمالور د بی ای، وکی او ما د خپلې ښځې د پاره طبیه کالج کراچی کې د څلورو کالو
والا کورس د پاره داخله واخسته او ما داپه دې خیال وکړل چې که زه مړسم نو چې
زمابنځه په چاباندې بوج جوړ نه سی او په عزت سره خپله خیټه مړه وساتي، او د
ماشومانو تعلیم او پرورش وکړي.

د کال ۱۹۶۵، په اوولس ورځني جنګ کې زه یودم بوډاسوم، کله چې زه د سرګودې
څخه بیرته راغلم، زما د سروربېنته د نیم څخه زیات سپین سوي وه، په ۱۲ فروری سنه
۱۹۷۴ باندې د پاکستان ایرفورس د طرفه زه د دوو درو کالو د پاره د ابو ظهبي
ایرفورس کې مقررسوم او هلته ولاړم، دغه زمابنځه په طبیه کالج کې د تعلیم کولو د
پاره مصروفه وه، او زه په کورنګي کریک کې اوسیدم، د تلو څخه مخکې مې په ناظم
آباد کې یوکور په کرایه واخستی او ښځه او بچې مې هلته منتقل کړل او ولاړم.

سنه ۱۹۷۷ء، هغه خپل څلور کاله کورس د طبیه کالج څخه مکمل کی او د خپل کالج د
یوملګری سره چې د هغه څخه دوه کاله مخکې فارغه سوې وو، هغه په دغه ورځوکې
کلینیک چلولی، او د خپلې جوړیدونکې ښځې د پاره یې د بیل کلینیک چلولو پروګرام
جوړوی، د هغوی سره په دې شرطونو چې د هغوی په زیرنګرانی کې د مانبام په

وختونوکې به دا په کلینیک کې کښیني او هغه به ژر دوی ته د رجسټریشن د پاره
سرټیفیکیټ وکړي، او ورسره به د خپلې آمدنی څه حصه هم هغوی ته ورکول سی، لهذا
هغوی هلته کښی نسټل شروع کړل، د دې ټولو خبرو څخه زه زمابنځې د یوخط په
واسطه خبردار کړم، او ماهغې ته اجازت ورکی، ماته په خپله ښځې باندې مکمل
اعتماد وو، او ما د هغې په هیڅ خبره باندې شك نه کوی، او اوس زموږ ژوند ډیرښه په
خوشحالي باندې تیریدی.

په ابوظهبي د قیام په دوران کې به ما د میاشتي دری زره روپې دوی ته رالیږلې، دوه
زره د خرچي د پاره او زر روپې د کور د تعمیر د پاره یا د کور د اخستلو د پاره، خو
وروسته راته معلومه سوه چې دری زره روپې ټولې خرڅ کیږي، او هیڅ پیسې یې نه دي
جمع کړي. په دې دوران کې دوی یوبل کور په ناظم آباد کې په کرایه باندې واخستی،
چې د هغه کرایه د میاشتي څلور سوه روپې وې، په هغه کې ټیلفون هم وو، ماته دا
ووئیل سول چې د ټیلیفون څخه دافائده ده چې کم ازکم میاشت کې به یووار ټرنك کال
باندې خو خبرې کیدی سی، زه مطمئن بلکې خوشحاله وم، خو داټیلیفون زما د پاره د
لویې پریشانی سبب جوړسو، د دې په سبب زمابنځې دوستانی زیاتول شروع کړې، په
دې خبره باندې د مور او ځوی جنګ شروع سو، زما مشر ځوی ته به په دې خبره باندې
اعتراض وو، تنګ سو، او هلك ماته په یوخط کې د دې حالاتو څخه خبر راکی. ماهلك
ته ډېرسخت خط ولیکی او هغه مې ورټلو چې ته د خپلې مور په باره کې داسې سوچ
ولې کوی؟ ورسره مې خپله ښځه هم ورټله او سخت خط مې ورته ولیکی، داخبره د
فروری سنه ۱۹۷۶ء ده، خو زمابنځې ما او خپلو بچوته دروغ وئیل شروع کړل او د
هغې د دوستی سلسله چلیدله، انتهاء داچې هغې د خپل یو (ورور) په اشتراك سره بیل
کلینیك خلاص کی، او هغې ماته داباور راکی، چې داهلك وآده سوی دی (چې غلط وو)
او د یوډاکټر صاحب زوی دی (داهم غلط وو) خپله د میډیکل تعلیم حاصلول (داهم
غلط وو) غرض داچې ماته یې ټولې خبرې دروغ او غلطې ولیکلې او د نوی کلینیك د
خلاصولو اجازت یې واخستی، اوس حالت نور خراب سوو، تردوو درو میاشتو پورې
به مې د خط انتظار کوی، د خبریت اطلاع به نه راکول کیده، د پیسو هیڅ حساب نه
معلومیدی چې د هغې سره څومره پیسې جمع سوی دی؟

د نورو خلګو چې کوم خطونه راغلل، د هغوی په ذریعه به معلومیدله چې د کور هرڅه
تباه کیږي، ماشومان سکول ته نه ځي او د مسلسل غیر حاضري په وجه د یوهلك نوم هم

کېږ سو، غرض داچي ډېر پریشانوونکی اطلاعات به راته رارسیدل د دی حالاتو څخه تنګ سوم، یوتفصیلی خط می ولیکی، او په هغه کی می د هغه ټولو حالاتو نشاندی وکړلی، ورسره ورسره می په خط کی یوه جمله محض په روانی کی ولیکله حالت دومره خراب سول چی که الله ﷻ ته په جائزو کارونو کی د ټولو څخه ناخوښه کار طلاق نه وی، نوشاید چی د کله څخه ماتاته درکړی وو، که ته غواړی نو زه په دی غور کولی سم.

حسن اتفاق سره ما په هغه ورځو کی د تفهیم القرآن مطالعه کوله، او داهم اتفاق وو چی په دغه ورځ کوم صورت مامطالعه کوی نو هغه سورة احزاب وو، چی په هغه کی الله ﷻ په حضور ﷺ باندی دا ظاهرکړل، که ستا بیبیانی د دنیا فراخی غواړی، نوهغوی ته څه ورکړه او جدایی کړه، او که د الله ﷻ او د هغه د رسول قرب غواړی نو د دی لوی ثواب او اجر دی، کله چی ما د دی تفسیر ووایه، نو زه حیران سوم، او زه په دی پوه سوم چی زما د دی مذکوره جملی سره ما خپلی ښځی ته داحق منتقل کړی دی، حالانکی د دی څخه مخکی زما هیڅ اراده یامقصد نه وو، او نه می وروسته څه اراده پیداسوه، او نه می اوس څه اراده سته، زما د دی جملی څخه وروسته ټول مضمون چی زیات د اهمیت حامل نه وو حذف کړی او د تفهیم القرآن هغه ټول عبارت چی په دی سورة سره متعلق وو هغه می نقل کی او ورسره می داهم ولیکل: چی محض اتفاقیه طورسره په ناپوهی کی داجمله لیکلی ده، خو اوس راته معلومه سوه، چی که سړی ښځی ته د طلاق اختیار ورکړی او ښځه د هغه اختیار حاصلولو څخه وروسته طلاق وغواړی نو یو عدد طلاق بائن واقع کیږی، او د دی څخه وروسته ټوله معامله ختمیږی، لهذا ته د څه فیصلی کولو څخه مخکی ښه حالاتو ته وګوره! ځکه ما د پوره تفسیر نقل در ولیږی، ورسره ورسره د دی تفسیر د مطالعی څخه وروسته وخت هم معین کوم یعنی د ۲۴ جولائی سنه ۱۹۷۶ء د شپی د دولسو بچیانو پوری ما د خپل جواب څخه خبر کړه، خیال دی وی چی دا تاریخ زموږ د واده د سالګری هم دی، ستا جواب به ماته ۳۰ - ۳۱ جولائی باندی راکول سی زه ډېر په ناآرامی سره ستا د خط انتظار کوم، وغیره د دی په جواب کی چی هغوی کوم خط را ولیږی، په هغه کی چی د دی خبری متعلق کومه جمله وه، هغه داشان ده، چی تاته به یاد وی، چی ما یووار وئیلی وه که زموږ په ژوند کی د طلاق لفظ کله په مذاق کی هم رالی، نو زه به داګنم چی طلاق

واقع سو، او په دی خط کی تا د طلاق لفظ په سوونو وار استعمال کړی دی، زه د هغه د دی جواب څخه پوه سوم چی هغه طلاق وغوښتی.

چنانچی ماچی هغه ته کوم خط ولیکی، په هغه کی می چی کومه جمله لیکلی ده، هغه داده: ستا د خط په وجه یو عدد طلاق بائن واقع سو، نورطلاقونه به پخپله په مقرره وخت باندی واقع سی، چی د هغه تفصیل ما په تیرخط کی لیکلی دی، ورسره می هغه ته هدایات وکی، چی اوس ته د خپلی استوګنی د پاره د کوم ځای انتخاب وکی حق مهرمی اداء کړی دی او که بیاهم ته وایی چی نه دی راکول سوی، نو کومی پیسی چی ستاسره په بینك کی جمع دی، د **هغه څخه ته خپل مهر اخستلی سی**، د کور هریوشی ستا ملکیت دی، خو د ماشومی د جهیز چی کوم شیان دی هغه هغی ته ورکړه، او د ماشومانو کپړی ورکړی نو لوی احسان به دی وی، ورسره ماخپلی لورته ډېر تفصیلی خط ولیکی، چی ستامورته ما اتفاقیه داجمله لیکلی وه، او هغه فوراً طلاق واخستی. زه به هغه د ژوند په هیڅ حصه کی په آرام باندی نه پرېږدم، د ماشومانو څخه پوښتنه وکړه چی هغوی د چاسره پاته کیدل خوښوی؟ که د مور سره پاته کیدل نه خوښوی نو ته هغوی زما د مشر ورور کورته ورسوه.

د دی خط په جواب کی ۲۳/ اګست باندی زما د ښځی چی کوم خط رالی، په هغه کی هغه لیکلی وو چی تاته څه سوی دی، نه خو ماطلاق غوښتی وو، او نه اوس غواړم، ما په دغه خط کی تاته صرف یوه خبره دریاده کړی وه، ته کوشنی کوشنی خبروته څومره اهمیت ورکوی، زماځوك دی؟ او زه چی اوس طلاق واخلم نو څه به کوم؟ وغیره وغیره، کله چی داخط ماته راکول سو، نو د خدای شکر می اداء کی او د شکرانی لمونځ می وکی، لهذا د ۲۴ سیتمبر څخه مخکی په ۱۳ / سیتمبر باندی پاکستان ته رالم، او باقاعده د ښځی او خاوند تعلقات می قایم کی.

اوس زماښځی ته څه کسانو دایقین ورکړی دی چی طلاق سوی دی چنانچی ما د ابوظهبی څخه خپل قیام ختم کی، جون سنه ۱۹۷۷ء څخه زه بیرته رالم او د څه مودی څخه وروسته هغه دا وئیل شروع کړل او په عدالت کی یی د تنسیخ نکاح دعوی دائره کړله، د هغه ویناهم داده چی ده ماته طلاق راکړی دی، تاسونه دامعلومول دی چی آیا واقعی طلاق واقع سوی دی او که نه؟

تنقیح: د صفحې نمبر (۵) د آخر خط کش سوی عبارت او د صفحې نمبر ۲ د شروع خط کش سوی عبارت متعلق یوڅوبری د وضاحت طالب دی چې د هغه په باره کې ستاسو زباني وضاحت زیات مناسب دی، تاسو د جمعې څخه علاوه هروخت سهار ... بجې دار الافتاء دار العلوم کورنگی ایریا کراچی نمبر ۱۴ ته تشریف راوړی ملاقات وکړی. والسلام.

بنده عبد الرؤف سکهروی. ۱۳۹۸/۴/۲ هـ

د تنقیح جواب: ۱: حالات دومره خراب سول، که الله ﷻ ته په جائزو کارونو کې تولو څخه ناخوښه کار طلاق نه وی، نوشاید چې مابه کله درکړی وی. به هرحال! که نه وغواړی نو په دی غور کولی سم (خط کش سوی بیان)

۲: خو اوس راته معلومه سوه که سړی ښځې ته د طلاق اختیار ورکړی او هغه د دی اختیار حاصلولو څخه وروسته طلاق وغواړی نو یوطلاق بائن واقع کیږي، د دی څخه وروسته معامله ختمیږی (سور).

۳: ورسره د دی تفسیر د مطالعی څخه وروسته وخت مقررکوم یعنی ۲۴ جولای سنه ۱۹۷۲ع د شپې د دولس بجو پوری ما د خپل جواب څخه خبره کړه، (سور).

۴: تاته به یاد وی چې ماوئیلی وه چې که زموږ په ژوند کې که چیری لفظ د طلاق په مذاق کې هم راغلی نو زه به داګڼم چې طلاق واقع سو، او په دی خط کې د طلاق لفظ تا په سلګونو وار باندی استعمال کړی دی، (سور).

۵: ستا د خط په وجه یوطلاق بائن واقع سو باقی طلاقونه به په خپل وخت باندی پخپله واقع سی، چې د هغه تفصیل ما په خپل تیر خط کې لیکلی دی. (سور).

۶: په تاباندی څه سوی دی؟ نه خو ما مخکی طلاق غوښتی وو، او نه یی اوس غواړم، زه په دی خط کې (تور) ماخو صرف یوه خبره درته یاده کړی ده، ته کوښښ کوښښی خبری ته څومره اهمیت ورکوی، او زه چې اوس طلاق واخلم نو څه به کوم؟ (سور)

۷: ما د هغه خطونو نقل د خپل څان سره ساتلی وو، بیا ماهغه وروسته وشکوی او ومی سوزی، چې د دی ترخي واقعي یا د بیا تازه نسي.

۸: اوس دامعلوموم چې آیا واقعًا په دی حالاتو کې طلاق سوی دی او که نه؟

جواب: څومره خبری چې په سوال کې لیکل سوی دی که هغه درست وی، نو په مسئوله صورت کې د سائل په ښځې باندی طلاق نه دی واقع سوی، ځکه چې سائل کومې

جملې د صفحه نمبر (۴) په آخرکې نقل کړی دی چې که الله ﷻ ته په جائز کارونو کې د تولو څخه ناخوښه کار طلاق نه وی، نو شاید چې مابه کله درکړی وو، په هرحال! که ته یې غواړی نو زه په دی باندی غور کولی سم؟ نو په دی جملې سره تفویض د طلاق نه محقق کیږي، خو سائل د تفهیم القرآن څخه غلط پوه سو، چې د مذکوره جملې سره تفویض سوی دی، په دی بنیاد چې کله هغه ته ښځې خط، ولیکی، نو سائل دا ووئیل: چې ستا د خط په وجه یوطلاق بائن واقع سوی دی.

دا د طلاق انشاء نه ده، بلکې د شرعی حکم غلط بیان دی، نو ځکه په دی سره هم طلاق نه واقع کیږي، خو داجواب صرف په هغه صورت کې دی، کله چې سائل په خپلو خطونو یا زبانی طور د طلاق د انشاء څه جمله نه وی استعمال کړی، که داسې څه جمله هغه ونیلی یا لیکلی وی، چې د هغه ذکر په دی سوال کې نسته، نوصورت حال به مختلف وی، لهذا ډیر په غور او فکر او د آخرت مخ ته ساتلو سره عمل وکړه. هذا ماعندی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۵/۱۷ هـ
(فتوی نمبر ۲۹/۵۳۷ ب)

که د شرطونو په خلاف ورزی باندی یی ښځې ته د طلاق حق ورکړی وی نو ښځه په خپل څان باندی طلاق واقع کولی سی

سوال: اقرار نامه چې دری واره لیکل سوی ده په لاندی ډول ده:

۱: د ښځې د پاره به د شرعی پردی انتظام کوم.

۲: داچې د نفقاتو وغیره د حلال رزق ضامن یم.

۳: داچې په ښځې باندی وهل ټکول نه کوم.

۴: د خسرګنی خدمت ګذار به یم او وصله رحمی به کوم.

۵: د دینی کارونو مثلاً د لمونځ او روژې به پابندیم، په دی صورت کې زوم خپل خسر د غاړی ونیوی او په مځکه یی را وغورځوی، څومنته خسر او زوم په خپل مینځ کې جنګیدل چې هغوی بیا ډیرو کسانو خلاص کړی وه.

۲: خسر د زوم د پاره د قربانی کولو پیسې ورکړی وی څو واره غوښتلو باندی یی هم نه ورکولې، د دی خلاف ورزیانو باوجود ښځې په خپل څان دری طلاقه واقع کړی دی چې

تنقیح: د صفحي نمبر (۵) د آخر خط کش سوی عبارت او د صفحي نمبر ۲ د شروع
خط کش سوی عبارت متعلق یوځوخبری د وضاحت طالب دی چی د هغه په باره کی
ستاسو زباني وضاحت زیات مناسب دی، تاسو د جمعي څخه علاوه هروخت سهارنهه
بجی دار الافتاء دار العلوم کورنګی ایویا کراچی نمبر ۱۴ ته تشریف راوړی ملاقات
وکړی. والسلام.

بنده عبد الرؤف سکهروی. ۱۳۹۸/۴/۲ هـ

د تنقیح جواب: ۱: حالات دومره خراب سول، که الله ﷺ ته په جائزو کارونو کی د
تولو څخه ناخوبنه کار طلاق نه وی، نوشاید چی مابه کله درکړی وی. به هرحال! که ته
وغواړی نو په دی غور کولی سم (خط کش سوی بیان)
۲: خو اوس راته معلومه سوه که سړی ښځی ته د طلاق اختیار ورکړی او هغه د دی
اختیار حاصلولو څخه وروسته طلاق وغواړی نو یوطلاق بائن واقع کیږی، د دی څخه
وروسته معامله ختمیږی (سور).
۳: ورسره د دی تفسیر د مطالعی څخه وروسته وخت مقررکوم یعنی ۲۴ جولای سنه
۱۹۷۲ع د شپی د دولس بجو پوری ما د خپل جواب څخه خبره کړه، (سور).
۴: تاته به یاد وی چی ماوئیلی وه چی که زموږ په ژوند کی که چیری لفظ د طلاق په
مذاق کی هم راللی نو زه به داګنم چی طلاق واقع سو، او په دی خط کی د طلاق لفظ نا
په سلګونو وار باندی استعمال کړی دی، (سور).
۵: ستا د خط په وجه یوطلاق بائن واقع سو باقی طلاقونه به په خپل وخت باندی
پخپله واقع سی، چی د هغه تفصیل ما په خپل تیر خط کی لیکلی دی، (سور).
۶: په تاباندی څه سوی دی؟ نه خو ما مخکی طلاق غوښتی وو، او نه یی اوس غواړم
زه په دی خط کی (تور) ماخو صرف یوه خبره درته یاده کړی ده، ته کوشښ کوښښ
خبری ته څومره اهمیت ورکوی، او زه چی اوس طلاق واخلم نو څه به کوم؟ (سور).
۷: ما د هغه خطونو نقل د خپل ځان سره ساتلی وو، بیا ماهغه وروسته وشکوی او
ومی سوزی، چی د دی ترخي واقعي یا د بیا تازه نسی.
۸: اوس دامعلوموم چی آیا واقعاً په دی حالاتو کی طلاق سوی دی او که نه؟
جواب: څومره خبری چی په سوال کی لیکل سوی دی که هغه درست وی، نو په مسئوله
صورت کی د سائل په ښځی باندی طلاق نه دی واقع سوی، ځکه چی سائل کومی

جملی د صفحه نمبر (۴) په آخرکی نقل کړی دی چی که الله ﷺ ته په جائز کارونو کی د
تولو څخه ناخوښه کار طلاق نه وی، نو شاید چی مابه کله درکړی وو، په هرحال! که ته
یی غواړی نو زه په دی باندی غور کولی سم؟ نو په دی جملی سره تفویض د طلاق نه
محقق کیږی، خو سائل د تفهیم القرآن څخه غلط پوه سو، چی د مذکوره جملی سره
تفویض سوی دی، په دی بنیاد چی کله هغه ته ښځی خط، ولیکی، نو سائل دا ووئیل:
چی ستا د خط په وجه یوطلاق بائن واقع سوی دی.
دا د طلاق انشاء نه ده، بلکی د شرعی حکم غلط بیان دی، نو ځکه په دی سره هم طلاق
نه واقع کیږی، خو داجواب صرف په هغه صورت کی دی، کله چی سائل په خپلو
خطونو یا زبانی طور د طلاق د انشاء څه جمله نه وی استعمال کړی، که داسی څه جمله
هغه وئیلی یا لیکلی وی، چی د هغه ذکر په دی سوال کی نسته، نوصورت حال به
مختلف وی، لهذا ډیر په غور او فکر او د آخرت مخ ته ساتلو سره عمل وکړه. هذا
ماعندی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۵/۱۷ هـ
(فتوی نمبر ۵۳۷/ ۲۹ ب)

که د شرطونو په خلاف ورزی باندی یی ښځی ته د طلاق حق ورکړی وی نو ښځه په خپل ځان باندی طلاق واقع کولی سی

سوال: اقرار نامه چی دری واره لیکل سوی ده په لاندی ډول ده:
۱: د ښځی د پاره به د شرعی پردی انتظام کوم.
۲: داچی د نفقاتو وغیره د حلال رزق ضامن یم.
۳: داچی په ښځی باندی وهل ټکول نه کوم.
۴: د خسرګنی خدمت ګذار به یم او وصله رحمی به کوم.
۵: د دینی کارونو مثلاً د لمونځ او روژی به پابندیم، په دی صورت کی زوم خپل خسر
د غاړی ونیوی او په مخکه یی را وغورځوی، څومنته خسر او زوم په خپل مینځ کی
جنګیدل چی هغوی بیا ډیرو کسانو خلاص کړی وه.
۲: خسر د زوم د پاره د قربانی کولو پیسی ورکړی وی څو واره غوښتلو باندی یی هم نه
ورکولی، د دی خلاف ورزیانو باوجود ښځی په خپل ځان دری طلاقه واقع کړی دی چی

د هغه په تولو خلکو کی اعلان سوی دی په دی وجه خاوند وایی چی طلاق خاوند ورکوی د ښځی طلاق ولی جائز دی؟ بلکی خاوند وایی چی ماته دامعلومه نه ده، چی زما د اقرار نامی په وجه به زمانښځی ته طلاق ورکول کیږی. اوس د پوښتنی کولو امردادی چی د خاوند عذر د ښځی په طلاق کی څه حق لری، برابره خبره ده که هغه عذر رښتنی وی او که دروغ، په ښځی باندی به طلاق د کومو خلاف ورزو په وجه غورځیږی؟

جواب: که مذکوره واقعات درست دی، نو بلاشبهه خاوند د اقرار نامی د خو شرطونو خلاف ورزی کړی ده، خو داياد ساتل پکار دی چی په دی صورت کی ښځی یاخسرته د طلاق واقع کولو اختیار به صرف هغه وخت حاصل وی، چی هغه د کوم شرط د خلاف ورزی څخه وروسته طلاق بائن واقع کړی، او په دی کی بالکل تأخیر ونکړی، که د شرط د خلاف ورزی څخه وروسته یی فوراً طلاق واقع نکړو، او لږ یی هم ناوخته کی، نو د دی څخه وروسته به ښځی یاخسرته طلاق واقع کول صحیح نه وی. ۱ که چیری اقرارنامه چی کله په خوشرطونو باندی مشتمله ده، نو که ښځی یا خسر د کوم یوشرط په خلاف ورزی باندی فوراً طلاق واقع نه کی، نو اوس به هغوی ته دبیا د پاره هم د دی شرط په دوباره خلاف ورزی سره د طلاق اختیار نه وی، خو په دی شرط چی د خلاف ورزی څخه فوراً بعد طلاق واقع کړی، ۲. اوس په مذکوره صورت کی که ښځی د کوم شرط د خلاف ورزی څخه فوراً بعد سمدستی د برنی احکامو مطابق طلاق ورکړی دی، نو هغه طلاق واقع سو او که د شرط د خلاف ورزی څخه وروسته یی لږهم تأخیر کړی وی او بیایی طلاق واقع کی، نو طلاق واقع نه سو (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۰/۱۲/۲۸ هـ

(۱) وفی الدر المختار مع رد المحتار کتاب الطلاق باب تفویض الطلاق ج: ۳ ص: ۳۱۵ (طبع سعید) قال لها اختیاری او امرک بیدک ینوی تفویض الطلاق...... او طلقی نفسک فلها ان تطلق فی مجلس علمها به مشافهة او اخباراً او ان طال...... مالم تقم لتبدل مجلسها حقیقة او حکما بان تعمل مایقطعه... لاتطلق بعده ای المجلس... الخ.

فصل فی الطلاق الثلث واحکامه

د درو طلاقو احکام

د درو طلاقو مسئله او د حاملی عده او د شرعی حلاله طریقه

سوال: د ښځی او خاوند جګړه سوه خاوند د ډیر درد په حالت کی ووئیل: چی خاموشه سه که نه وی نو طلاق به درکړم، ښځی وئیل: رایی کړه! خاوند ووئیل: ښه دی طلاق، طلاق، آیا د خاوند فقط په دی الفاظو وئیلو باندی د هغه په ښځی باندی طلاق واقع سو او که نه؟

۲: که واقع سو نو رجعی او که مغلظ؟

۳: ښځه حامله ده د هغی عده به څه وی؟

۴: که ښځه د سړی په نکاح کی پاته کیدل غواړی نو د دی صورت به څه وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی په ښځی باندی دری طلاقه واقع سول

۲: مغلظ طلاق واقع سو. (۱)

۳: په مسئوله صورت کی د هغی عده د حمل وضع یعنی د ماشوم ولادت دی. (۲)

(۱) وفی الفتاوی هندیة کتاب الطلاق الباب الاول ج: ۱ ص: ۳۴۹ (طبع ماجدیه کویته) واما البدعی... ان یطلقها ثلاثًا فی طهر واحد بکلمة واحدة او بکلمات متفرقة... فاذا فعل ذالک وقع الطلاق وکان عاصیًا. وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الطلاق السنة ج: ۲ ص: ۲۵۵ (طبع مکتبه شرکت علمیه ملتان) وطلاق البدعة ان یطلقها ثلاثًا بکلمة واحدة او ثلاثًا فی طهر واحد. فاذا فعل ذالک وقع الطلاق وکان عاصیًا... الخ.

وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۳۲ (طبع سعید) والبدعی ثلاث متفرقة وفی الشامیة (قوله ثلاثة متفرقة) وکذا بکلمة واحدة بالاولی.... وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع الثلاث.

(۲) وَاُولاتُ الْاَحْمَالِ اَجَلُهُنَّ اَنْ یَّضَعْنَ حَمْلَهُنَّ (الطلاق: ۴) وفی الدر المختار مع ردالمحتار باب العدة ج: ۳ ص: ۵۱۱ (طبع سعید) وفی حق الحامل مطلقًا.... وضع جمیع، حملها.... الخ.

۴: هیڅ صورت نسته ماسوا د دی څخه چی د عدی تیرولو څخه وروسته هغه د بل سړی سره نکاح وکړی او هغه سړی یی په خپله خوښه څه وخت د هغه سره د کوروالی کمولو څخه وروسته طلاق ورکړی او یا د هغه انتقال وسی نو د هغه د عدی تیرولو څخه وروسته بیا. دابنځه د خپل مخکنی خاوند سره په نوی مهرباندی نوی نکاح کولی سی (۱)

والله سبحانه اعلم
۲۷/ ۴/ ۳۹۸ ھ
(فتوی نمبر ۳ ۷۰/ ۲۹ ب)

په یوه وخت کی د درو طلاقو واقع کیدو باندی د امامانو اجماع ده او د دی اجماع خلاف هیڅ خبره قبوله نه ده

سوال: د زید ښځی خپل ځوی وهی او ښکنځل یی ورته کوله، په دی کی زید هم رالی، زید ښځه د ښکنځلو څخه منعه کړه، خو ښځه منع نه سوه، او خاوند ته یی هم ښکنځل کول شروع کړل چی په هغه باندی زید په درد کی سو، او هغه دا الفاظ ووئیل: طلاق دی، طلاق دی، د طلاق لفظ یی د دری وارو ویلو څخه زیات وئیلی دی. خو هغه ته یاد نه دی او داخبره زید د خپل خاندان تقریباً د دیرشو کسانو په مخکی بیان کړی ده، آیا طلاق واقع سو؟ او څومره واقع سو؟ اوس څه صورت د خلاصیدلو د پاره سته؟

۲: که د حنفی مذهب مطابق دری طلاقه واقع سوی دی نو د اهل حدیثو څخه په فتوی اخستلو سره عمل وسی ځکه چی نه خوخاوند خپله ښځه جلا کول غواړی او نه ښځه جلا کیدل غواړی.

---

(۱) وفی مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۲۸۴ (طبع قدیمی کتب خانه) عن عایشة رضی الله تعالی عنها قالت: جاءة امرأة رفاعة القرظی الی رسول الله ﷺ فقالت: انی کنت عند رفاعة، فطلقنی فبتّ طلاقی فتزوجت بعده عبد الرحمن بن الزبیر ومامعه الامثل هدبة الثوب، فقال: اتریدین ان ترجعی الی رفاعة؟ قالت نعم! قال: لا! حتی تذوقی عُسیلته ویذوق عسیلتك. متفقه علیه وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعیة فصل فیما تحل بهِ المطلقة ج: ۲ ص: ۳۹۹ (طبع شرکت علمیه ملتان) وان کان الطلاق ثلاثًا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجًا غیره نکاحًا صحیحًا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها والاصل فیه قوله تعالی: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰى تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ. والمراد الطلقة الثالثة.

جواب: په صورت مسئوله کی د زید په ښځی باندی دری طلاقه واقع سول، اوس هغه د زید د پاره مغلظًا حرامه سوی ده او د حلالی څخه بغیر هیڅکله د هغه سره دوهمه نکاح هم جائز نه ده، دواړو ته فوراً جلاکیدل پکار دی، که هغوی جلانسی، نو مسلمانانو ته پکار دی چی هغوی دی د دوی څخه بیزاری اظهار وکړی.

۲: د دری طلاقه ورکولو په صورت کی د څلورو امامانو (امام ابوحنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام مالك رحمه الله، او امام احمد رحمه الله) په دی خبره باندی اجماع ده چی ښځی مغلظًا حرامیږی (۱) او بغیر د حلالی څخه نه سی رواکیدلی، د دی اجماع په خلاف چی څه خبره هم وسی هغه د قبلولو قابله نه ده، (۲) او د چا څخه د څلورو امامانو د اجماع په خلاف فتوی اخستل او په هغه عمل کول زیاته ګناه ده.

---

(۱) ایضًا.

(۲) په یوه وخت کی د دری طلاقه ورکولو سره د دروسرو طلاقه واقع کیدو او په دی باندی د څلورو امامانو اجماع او د مخالفینو د دلائلو د جوابونو متعلق مدلل او مفصل تحقیق د حضرت والا په مصدقه لاندینی فتوی کی وګورئ. (مرتب)

سوال: زه د یوی مسئلی په باره کی فتوی اخستل غواړم امید دی چی تاسو به می رهنمائی وکړئ، ما خپلی ښځی ته د کورنی څه مسئلو څخه د پریشانه کیدلو د جداکور په مطالبی باندی باقاعده دری طلاقه لیکلو سره می د کورټ په ذریعه ولیږل، زما ښځه ډیره دردناکه ده، او زما نافرمانه هم پاته سوی ده، د طلاق څخه مخکی معاملات د سنبالولو د پاره ماخپل ماما مینځ ته راوستی خو د هغه څخه او د هغه غلطی رویی څخه څه غلط فهمیانی نوری هم زیاتی سوی او ما داقدم لوړ کی، مادا، ۱۴/ اکتوبر سنه ۱۹۹۸ء، باندی وکړل، تراوسه پوری یوه میاشت او پنځلس ورځی تیری دی. زمابنځه اوس د ټولو خبرو څخه معافی غواړی، او د هغه په وینا هغه مخکی هم تیاره وه، خو زما د ماما د غلطو خبرو په وجه دا هرڅه وسول، نو ځکه زه هم رجوع کول غواړم، زما تعلق د حنفی ډلی سره دی زما د معلوماتو په حساب سره اهل حدیث حضرات د رجوع کولو اجازت ورکوی.

جواب: حامداً او مصليًا د سائل د سوالونو د حل کولو په وجه اول د اصل مسئلی لږ تفصیل بیانوو چی په هغه کی به داثابتوو. چی د یومجلس دری طلاقه برابره خبره ده که په یوی جملی سره یی ورکړی وی او که په بیلو بیلو جملوسره یی ورکړی وی دری

طلاقه به شمارل کیږي او دری سره طلاقه به واقع وي او د حرمت مغلظه به ثابت وي
په هغه کی رجوع نسی کیدی او د حلالی څخه بغیر دوباره په خپل مینځ کی نکاح هم
نسی کیدلی او دا مذکوره موقف د قرآن کریم او صحیح احادیثو څخه ثابت دی او هم
په دی باندی د جمهورو صحابه کرامو رضي الله عنهم او تابعینو رحمة الله تعالی اجمعین او د
څلور امامانو رحمة الله تعالی علیهم یعنی حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله . حضرت امام
مالک رحمه الله، حضرت امام شافعي رحمه الله او حضرت امام احمد حنبل رحمه الله، اتفاق دی،
که چا په یومجلس کی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل برابره خبره ده که هغه په یوی
جملی سره وو او که په جلا جلا جملی سره وو، نو د هغه دا فعل د سنت خلاف او ناجائز
دی، بیا هم که چا په دی طریقی سره دری طلاقه ورکړل نو د هغه په ښځی باندی دری
طلاقه واقع کیدلو سره به حرمت مغلظه ثابت سی، لاندی په اختصار سره د قرآن کریم،
احادیث مبارکه د اصحاب کرامو رضي الله عنهم آثار او د فقه عبارتونه وګوری!

قال الله تعالی: الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ. (الآیه) (سورة البقره آیت نمبر ۲۲۹ پ: ۲)

(ترجمه) طلاق دوه واره دی بیا که د قاعدی موافق یی وساتی او که په ښې طریقی سره یی بیاپریږدی.

د دی آیت کریمه څخه علمائی کرامو یووار دری طلاقه ورکولو سره د درو سرو طلاقو په واقع کیدلو باندی استدلال کړی دی او هغه داشان چی د دی آیت کریمه د مضمون دادی: چی طلاق دوه واره دی، اوس په دی کی دوه احتماله دی چی دوه طلاقه په بیل بیل طهر کی ورکړی، او یایی یوځای ورکړی په هرصورت کی به دواړه واقع وی، او کله چی په یوه وخت کی دوه طلاقه واقع کیدی سی نو دری طلاقه هم واقع کیدی سی، ځکه چی په دوو او درو طلاقو کی فرق کوونکی څوک نسته، او امام بخاری رحمة الله تعالی هم په خپل کتاب (صحیح بخاری کی) باب من اجاز الطلاق الثالث (ج: ۲ ص: ۷۹۱ (طبع قدیمی کتب خانه) کی د دروطلاقو د واقع کیدلو باندی هم د دی آیت څخه استدلال سوی دی.

قال ابوبکر الرازی تحت عنوان (ذکر الحجاج لایقاع الثلاث معا) قوله تعالی: الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تصریح باحسان. (الآیه) یدل علی وقوع الثلاث معاً مع کونه منهیاعنه وذالك لان قوله (الطلاق مرتان) قد ابان عن حکمة اذا وقع اثنتین بان

یقول: انت طالق، انت طالق، فی طهر واحد، وقد بینا ان ذالك خلاف السنة فاذاکان فی
مضمون الآیة الحکم بجواز وقوع الاثنتین علی هذا الوجه دل ذالك علی صحة وقوعهما
لو او قعهما معاً لان احداً لم یفرق بینهما اه
رساله حکم الطلاق الثلث بلفظ واحد فتویٰ العلمای حرمین الشریفین.
وفی الصحیح للامام البخاری رحمه الله تعالی: باب من اجاز الطلاق الثلث لقوله
تعالی: الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسریح باحسان اه (ج: ۲ ص: ۷۹۱) (طبع
قدیمی کتب خانه)
وفی عمدة القاری شرح الصحیح للامام البخاری: وجه الاستدلال به ان قوله تعالی:
(الطلاق مرتان) منعاه مرة بعد مرة، فاذا جاز الجمع بین اثنتین جاز بین الثلث. اه (ج: ۹
ص: ۵۳۸) (ج: ۲ ص: ۳۳۲ طبع دار الکتب العلمیة بیروت)
د دی آیت کریمه څخه علاوه یوڅو نور ایتونه هم دی چی د هغه څخه په درو طلاقو
واقع کیدلو باندی استدلال سوی دی، موږ د یوآیت ذکر کافی وګڼی، اوس یوڅو
احادیث طیبه وګوری چی د هغه څخه هم مذکوره موقف ثابتیږی.
فی سنن السنائی: (ج: ۲ ص: ۹۹، (طبع قدیمی کتب خانه) اخبر رسول الله ﷺ عن
رجل طلق امرأته ثلاث تطلیقات جمیعاً فقام غضبناً، ثم قال: ایلعب بکتاب الله تعالی
وانابین اظهرکم؟ الحدیث.
انحضرت ﷺ ته اطلاع ورسیدله چی یوسړی په یوځای دری طلاقه ورکړی دی، په دی
اوریدلو سره حضور ﷺ په درد کی ودریدی او وی فرمائیل: چی زما په موجودګی
کی د الله تعالی د کتاب سره لوبی کول کیږی.
په دی روایت کی خو حضور ﷺ د درد اظهار وکی خو دری طلاقه یی یوطلاق ونه
ګرځولو، بلکی دری سره طلاقه یی نافذ کړل، لکه څنګه چی حافظ ابن القیم فرمائیلی
دی
فلم یرده النبی ﷺ بل امضاه.
عن سهل بن سعد فی هذا الخبر قال: فطلقها ثلاث تطلیقها عند رسول الله ﷺ
فانفذه رسول الله ﷺ. (ابوداود ج: ۱ ص: ۳۰۲ طبع میر محمد کراچی)
حضرت عویمر رضي الله عنه خپلی ښځی ته د حضور ﷺ په مخکی دری طلاقه ورکړل نو
حضور ﷺ دری سره نافذ کړل

طلاقه به شمارل کیږي او دري سره طلاقه به واقع وي او د حرمت مغلظه به ثابت وي چې
په هغه کې رجوع نسي کیدی او د حلالې څخه بغیر دوباره په خپل مینځ کې نکاح هم
نسي کیدلی او دا مذکوره موقف د قرآن کریم او صحیح احادیثو څخه ثابت دی او هم
په دې باندې د جمهورو صحابه کرامو ﷺ او تابعینو رحمة الله تعالی اجمعین او د
څلور امامانو رحمة الله تعالی علیهم یعنی حضرت امام ابوحنیفه رحمه الله ، حضرت امام
مالك رحمه الله ، حضرت امام شافعي رحمه الله او حضرت امام احمد حنبل رحمه الله، اتفاق دی،
که چا په یومجلس کې خپلې ښځې ته دري طلاقه ورکړل برابره خبره ده که هغه په یوې
جملې سره وو او که په جلا جلا جملې سره وو، نو د هغه دا فعل د سنت خلاف او ناجائز
دی، بیا هم که چا په دې طریقې سره دري طلاقه ورکړل نو د هغه په ښځې باندې دري
طلاقه واقع کیدلو سره به حرمت مغلظه ثابت سی، لاندې په اختصار سره د قرآن کریم،
احادیث مبارکه د اصحاب کرامو ﷺ آثار او د فقه عبارتونه وګوری!

قال الله تعالی: الطَّلَاقُ مَرَّتَانِ فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ. (الایه) (سورة البقره ایت نمبر
۲۲۹ پ: ۲)

(ترجمه) طلاق دوه واره دی بیا که د قاعدې موافق یې وساتي او که په ښې طریقې سره
یې بیاپریږدي.

د دې آیت کریمه څخه علمائی کرامو یوواز دري طلاقه ورکولو سره د درو سرو طلاقو
په واقع کیدلو باندې استدلال کړی دی او هغه داشان چې د دې آیت کریمه د مضمون
دادی: چې طلاق دوه واره دی، اوس په دې کې دوه احتماله دی چې دوه طلاقه په بیل
بیل طهر کې ورکړي، او یایې یوځای ورکړي په هرصورت کې به دواړه واقع وي، او
کله چې په یوه وخت کې دوه طلاقه واقع کیدی سي نو دري طلاقه هم واقع کیدی سي،
څکه چې په دوو او درو طلاقو کې فرق کوونکی څوك نسته، او امام بخاري رحمة الله
تعالی هم په خپل کتاب (صحیح بخاري کې) باب من اجاز الطلاق الثالث (ج: ۲ ص:
۷۹۱ (طبع قدیمی کتب خانه) کې د دروطلاقو د واقع کیدلو باندې هم د دې آیت څخه
استدلال سوی دی.

قال ابوبکر الرازی تحت عنوان (ذکر الحجاج لایقاع الثلاث معا) قوله تعالی:
الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تصریح باحسان. (الایه) یدل علی وقوع الثلا[...]
مع کونه منهیاعنه وذالك لان قوله (الطلاق مرتان) قد ابان عن حکمة اذا وقع ا[...]

يقول: انت طالق، انت طالق، فی طهر واحد، وقد بینا ان ذالك خلاف السنة فاذاكان فی
مضمون الآية الحكم بجواز وقوع الاثنتين على هذا الوجه دل ذالك على صحة وقوعهما
لو اوقعهما معًا لان احدًا لم يفرق بينهما اه
رساله حکم الطلاق الثلث بلفظ واحد فتوی العلمای حرمین الشریفین.

وفی الصحیح للامام البخاری رحمه الله تعالی: باب من اجاز الطلاق الثلث لقوله
تعالی: الطلاق مرتان فامساك بمعروف او تسريح باحسان اه (ج: ۲ ص:۷۹۱) (طبع
قدیمی کتب خانه)

وفی عمدة القاری شرح الصحیح للامام البخاری: وجه الاستدلال به ان قوله تعالی:
(الطلاق مرتان) معناه مرة بعد مرة، فاذا جاز الجمع بين اثنتين جاز بين الثلث. اه (ج: ۹
ص: ۵۳۸) (ج: ۲ ص: ۳۳۲ طبع دار الکتب العلمیة بیروت)

د دې آیت کریمه څخه علاوه بوخو نور اَیتونه هم دي چې د هغه څخه په درو طلاقو
واقع کیدلو باندې استدلال سوی دی، موږ د یوآیت ذکر کافي وګڼي، اوس یوڅو
احادیث طیبه وګوری چې د هغه څخه هم مذکوره موقف ثابتیږي.

فی سنن النسائی: (ج: ۲ ص: ۹۹، (طبع قدیمی کتب خانه) اخبر رسول الله ﷺ عن
رجل طلق امرأته ثلاث تطليقات جميعًا فقام غضبانًا، ثم قال: ايلعب بكتاب الله تعالى
وانا بين اظهركم؟ الحديث.

انحضرت ﷺ ته اطلاع ورسیدله چې یوسړي په یوځای دري طلاقه ورکړي دي، په دې
اوریدلو سره حضور ﷺ په درد کې ودریدی او وي فرمائیل: چې زما په موجودګې
کې د الله تعالی د کتاب سره لوبې کول کیږي.

په دې روایت کې خو حضور ﷺ د درد اظهار وکی خو دري طلاقه یې یوطلاق ونه
ګرځولو، بلکې دري سره طلاقه یې نافذ کړل، لکه څنګه چې حافظ ابن القیم فرمائیلي
دی.

فلم يرده النبي [...]
[...] ثلاث تطليقها عند رسول الله ﷺ
[...] طلاقه ورکړل نو

كان ابن عمرو ؓ اذا سُئل عمّن طلق ثلاثًا قال: لوطلقت مرة او مرتين فان النبى ﷺ امرنى بهذا، فان طلقها ثلثًا حرمت حتى تنكح زوجًا غيره. (بخاری شریف ج: ۲ ص: ۷۹۲، (طبع قدیمی کتب خانه)

د حضرت ابن عمر ؓ څخه چې به کله سوال کیدی د هغه سړي په باره کې چاچې دری طلاقه ورکړي وي، نو فرمائیل به یې، که تاسو یویادوه طلاقه ورکړي وي (نورجوع دی کولی سوه) ځکه چې حضور ﷺ ځکه چې حضور ﷺ ماته د دې (یعنی رجعت) حکم راکړی وو، او که دری طلاقه دې ورکړل نو ښځه به ستاد پاره حرامه سي، تردې چې هغه د بل سړي سره نکاح وکړي.

د دې احادیث مبارکو څخه علاوه نورهم داسې روایت موجود دی چې په دې خبره باندې دلالت کوي چې د حضور ﷺ په عهد مبارك کې دری طلاقه هم دری شمارل کیدل.

غیر مقلدین حضرات چې په یومجلس کې دری طلاقه یو طلاق شمیری، نو هغوی په عام طورسره د دوو روایتونو څخه استدلال کوي چې هغه لاندیني روایات دي:

حدیث نمبر اول: عن ابن عباس ؓ قال: طلق ركانة بن عبد يزيد اخوبنى مطلب امرأته ثلثًا فى مجلس واحد فحزن عليها حزنًا شديداً، قال: فسأله رسول الله ﷺ وكيف طلقتها ثلاثًا، قال: فقال: فى مجلس واحد؟ قال: نعم! قال: فانما تلك واحدة فارجعها ان شئتَ قال: فرجعها اسناده صحيح. (مسند احمد ج: ۴ ص: ۴۷۷، ج: ۴ ص: ۲۱۵ طبع مؤسسة الرسالة بيروت)

حضرت رکانه ؓ خپلې ښځې ته په یومجلس کې دری طلاقه ورکړل، او بیا هغه ډیر غمجن سو، حضور ﷺ د هغه څخه پوښتنه وکړه چې په یومجلس کې؟ عرض یې وکی چې هو! جې، په دې باندې حضور ﷺ وفرمائیل: چې بیا خورجوع وکړه، نو هغوی رجوع وکړله.

حدیث شریف نمبر ۲: عن ابن عباس ؓ قال: كان الطلاق على عهد رسول الله ﷺ وابى بكر وسنتين من خلافة عمر طلاق الثلثة واحدة (الحديث، (مسلم شریف ج: ۱ ص: ۱۲۳ (ج: ۱ ص: ۴۷۷ (طبع قدیمی کتب خانه)

حضرت ابن عباس ؓ وفرمائیل: چې د رسول الله ﷺ او د حضرت ابوبکر ؓ په زمانه کې او د حضرت عمر ؓ د خلافت په شروع کې (یومجلس) دری طلاقه به یو ود.

غیر مقلدین د خپل موقف د ثابتولو د پاره په عام طور سره د برنی مذکوره دوه حدیثونه او روایتونو څخه استدلال کوي، خو د دې روایتونو څخه په مذکوره موقف باندې استدلال درست نه دی، چې وجوهات یې په لاندې ډول دي:

په اول نمبر حدیث کې ؓ حضرت رکانه د طلاق کومه قصه چې ذکر سوی ده په هغه کې په روایتونو کې اضطراب پیداکیږي، په بعضې روایتونو کې دي چې حضرت رکانه خپلې ښځې ته دری طلاقه ورکړي وو، ځکه چې مذکوره روایت کې دي او هغه په روایتونو کې راغلي دي چې هغوی خپلې ښځې ته په لفظ (بته) سره طلاق ورکړی وو، او د طلاق (بته) څخه مراد هغه طلاق دی، چې په هغه کې د یو څخه تر درو پورې ګنجایش وي، یعنی که د یوطلاق نیت یې وي نو یو او که د درو طلاقو نیت یې وي، نو دری طلاقه به واقع وي، د همدې اضطراب په وجه د دې روایت په باره کې د احادیثو علماوو مختلف اقوال اختیار کړي دي. مثلاً:

حضرت امام بخاری رحمة الله علیه دا معلول ګرځولی دی.

علامه ابن عبد البر رحمه الله دی ته ضعیف ویلی دی.

حضرت امام ابوبکر جصاص او علامه ابن الهمام رحمهم الله تعالی علیه دی ته (منکر) ویلی دي، ځکه چې دا روایت د هغه معتبرو او ثقه راویانو د روایت په خلافت دی چې هغوی د لفظ (بته) په ذریعه طلاق ورکول نقل کړي دي.

حضرت امام ابوداؤد رحمه الله تعالی هم دی ته ترجیح ورکړې ده چې حضرت رکانه ؓ خپلې ښځې ته طلاق (بته) ورکړی وو، ځکه د حضر رکانه د کور د والاوو داروایت کړی دی، او د کورقصه دنورو څخه ښه پیژني چنانچه امام ابوداؤد وفرمایل:

عن عبدالله بن على بن يزيد بن ركانة عن ابيه عن جده ان طلق امراته (البتة) فاتى رسول الله ﷺ فقال ماردت ؟ قال : واحدة قال الله قال: هو على ماأردت قال ابوداؤد وهذا اصح من حديث ابن جريح ان ركانة طلق امراته ثلاثًا لانهم اهل بيته وهم اعلم به، سنن ابی داؤد ج:۱ ص : ۳۰۱ (طبع میر محمد).

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۳/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۵۰/ ۱۹ – الف)

د دری طلاقو څخه وروسته د حلالې شرعی طریقه

سوال: د کال (۱۹۶۰) اګست کی زما واده سوی وو او په کال ۱۹۶۳ اګست کی می یوځوی پیداسو، او د کال ۱۹۶۴ء جنوری کی ماخپلې ښځی ته دری طلاقه تحریری ورکړل، زوجه می تراوسه پوری د خپل ځوی سره د والدینو په کورکی ده، اوس می والدین هم ډیرناراضه دی، زه پخپله هم پریشانه یم، څکه چی دا کار ما د بل چاپه دهوکه کولو سره کړی وو، اوس که څه صورت کیدی سی نو راته یی ولیکئ؟

جواب: په صورت مسئوله کی په ښځی باندی طلاق مغلظ واقع سوی دی، اوس د حلالې څخه بغیر د هغی سره ستا دوهمه نکاح نه کیږی، چی د هغه صورت دادی: چی ښځه دی بل سړی ته په نکاح کړی او د هغه سره دی د زوجیت وظائف پوره کړی (۱) د دی څخه وروسته که سړی دی ته طلاق ورکړی یا هغه مړسی، نو ستا د ښځی د عدی تیریدلو څخه وروسته د هغه په ښکاره او صریح رضاسره د هغه سره نکاح کولی سی (۲)، دی ته حلاله وایی، لیکن د حلالې په نیت سره بل ځای کی نکاح کول جائزنه دی (۱).

الجواب الصحیح اصغر علی ربانی الجواب الصحیح محمد عبد المنان عفی عنه

الجواب الصحیح بنده محمد عبدالله عفی عنه الجواب الصحیح بنده محمد عبد الله عفی عنه

الجواب الصحیح محمد کمال الدین الراشدی.

(۱) ایضًا.

(۲) وفی مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۲۸۴ (طبع قدیمی کتبخانه) عن عایشة رضی الله عنها قالت: جاءة امرأة رفاعة القرظی الی رسول الله ﷺ فقالت: انی کنت عند رفاعة فطلقنی فبتّ. طلاقی فزوجت بعده عبد الرحمن بن الزبیر ومامعه الامثل هدبة الثوب، فقال: اتریدین ان ترجعی الی رفاعة؟ قالت نعم! قال: لا، حتی تذوقی عُسیلته ویذوق عسیلتك: وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۷۳ (طبع ماجدیه) وان

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۱۰/ ۱۸ - الف)

د درو طلاقو څخه وروسته د خاوند ښځه د خپل ځان سره په پاته کولو باندی مجبوره کول

سوال: زما خاوند مسمٰی سردارخان دری کاله وسول چی په طلاق مغلظه، مثلثه یعنی دری واره طلاق، طلاق، طلاق راکولو سره یی زه آزاده کړی یم، او زما په اسرار باندی یی په یو کوشنی کاغذ باندی ولیکل، او ماته یی حواله کی، د دی څخه وروسته یی تردرو کالو پوری زما څه خبر وانه خستی او نه یی ماته د دی څه معلومات وسو، اوس دری کاله وروسته رالی، اوس ما مجبوره کوی چی د هغه سره پاته سم، او د زوجیت حقوق اداء کړم، د قرآن او سنت او د حنفی مسلك په رڼاکی آیا زه د هغه سره په پاته کیدو د زوجیت حقوق اداء کولی سم؟

جواب: مفتی عالم الغیب نه وی، بلکی چی څه صورت حال بیانولی سی د هغه مطابق جواب ورکوی، چنانچی که داصحیح وی، چی ستا خاوند تاته په ژبه باندی دری طلاقه درکړی وه، نو ته د هغه په نکاح کی پاته نسوی په تاباندی طلاق مغلظه واقع سوی دی.

کان الطلاق ثلاثا فی الحرة وثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحًا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها

وفی الهدایة کتاب الطلاق، باب الرجعة، فصل فیما تحل به المطلقة ج: ۲ ص: ۳۹۹: طبع شرکت علمیه ملتان) وان الطلاق ثلثًا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره نکاحًا صحیحًا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها والاصل فیه قوله تعالی: فَإِن طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِن بَعْدُ حَتَّىٰ تَنكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ، والمراد الطلقة الثالثة.

(۱) وفی مشکوة المصابیح ج: ۲ ص: ۲۸۴ (طبع قدیمی کتبخانه) عن عبد الله بن مسعود رضی الله عنه قال: لعن رسول الله ﷺ والمحلل والمحلل له، رواه الدارمی ورواه ابن ماجه عن علی وابن عباس وعقبة بن عامر، وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۱۴ (طبع سعید) وکره التزوج للثانی تحریما لحدیث لعن المحلل والمحلل له بشرط التحلیل کتزوجتك علی ان احللك وان حلت للاول لصحة النکاح.... الخ

(۱) اوس خاوند ته نه د رجوع اختیار سته، او نه د شرعي حلالې څخه بغیر تاسره نکاح کولی سي (۲)، لهٰذا اوس د هغه دامطالبه چي ته د هغه سره پاته سي سراسر ناجائزه ده چي په هغه باندي عمل کول ستا د پاره حرام دي ته هغه ته بالکل ولاړه نسي، او که د طلاق څخه وروسته ستا دري حیضه تیرسوي وي نو ته په بل ځای کي چیري چي غواړې نکاح کولی سي.

والله سبحانه اعلم
۱۴۰۱/۳/۱۲ھ
(فتویٰ نمبر ۴۳۸/ ۳۲- الف)

د درو طلاقو څخه وروسته غلط بیاني کولو سره ښځه د ځان سره د ساتلو حُکم

سوال: اورنگي ټاون سیکټر نمبر (C ۱۳) کراچي نمبر ۴۱ اوسیدونکی د شمس العالم په نوم د ماجده خاتون بنت احمد، خاوند خپلې خوابنې لباس خاتون سره جگړه وکړله، او خپلې ښځې ماجده خاتون ته یې دري طلاقه ورکړل مورخه ۵/ ۲/ ۱۹۷۷ء په شپه باندي د محلې معتبر کسان بوتلوسره یې د تولې جګړې نوعیت ورته بیان کی، او په صفا الفاظو کي یې د درو طلاقو اقرار وکی، او بیان ورکولو سره یې دستخط هم وکی او متواتر دري ځلور ورځې د مختلفو کسانو او د محلې ذي استعداده علماوو په مخکي یې بار بار د درو طلاقو اقرار وکی، چي د هغه په وجه علماء کرامو د طلاق مغلظه فتویٰ ورکړله، او تاسوته او د نورو معتبرو مفتي صاحبانو څخه تائیداً مُهر او دستخط واخستل سو، هغه خفیه طورسره خپل اصلي بیان د مولوي محمد یونس په ذریعه بدل کی، او د دار العلوم څخه یې د جواز فتویٰ واخستله، تاسو مهرباني وکړئ هغه فتویٰ منسوخ وګرځوئ، چي هغه خلګ د زنا څخه منع کړي.

جواب: اصل دادی چي مفتي ته علم غیب نه وي، د هغه کار صرف دادی، چي هغه ته څنګه سوال مخ ته راسي نو د هغه جواب د سوال مطابق ورکړي، که کوم سړی دري

---

(۱) ایضاً
(۲) د حوالې د پاره د- فتویٰ او د هغه حواشي ع- وګورئ.

طلاقه ته په حکم وبنایي، د اصل واقعي تحقیق څخه خو د مفتي فرض دي او نه د کړي نو هغه ته به حکم وبنایي، د اصل واقعي تحقیق څخه خو د مفتي فرض دي او نه د هغه د پاره ممکن دي.

لهٰذا که کوم سړی غلط سوال مرتب کولو سره د خپلې خوښي جواب حاصل کي نو د هغه سخت زیان به په هغه سړي باندي وي، لهٰذا که هغه سړي دري طلاقه ورکړي وه، او بیایي داخبره پټه کړله او د ښځي د حلالیدو فتویٰ یې حاصله کړه نو هغه د ځو سختو ګناهونو ارتکاب وکی، د دروغو وئیلو او مفتي ته د دهوکه ورکولو ګناه خان ته ده، او ټول عمر په ګناه کي د اخته کیدلو ګناه جلاده، هغه ته پکار دي چي د خدای ﷻ او د اٰخرت د حساب او کتاب څخه وبیریږي او ښځه فوراً جلاکړي، او توبه او استغفار وکړي.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۱/۷ھ
(فتویٰ نمبر ۲۳/ ۲۹- الف)

که ښځه په خپلو غوږونو سره طلاق واوري نو هغه ته د (المراة کالقاضي) په مسئلې باندي عمل کول لازم دي

سوال: زما د لور انجم ظفر او زوم (سابقه) سردار محمود علي خان په مینځ کي د طلاق مسئله چلیږي، دواړو خپل تحریري بیان ورکی، د بنوري ټاون د مفتي صاحب څخه یې فتویٰ واخستله، چي ورسره منسلک کوم یې، انجم ظفر ستاسو په مخکي بیان ورکي چي هغه ته سنه ۱۹۷۲ء کي دوه واره طلاق د هغې خاوند سردار محمود علي خان زباني ورکی، او په دریم او اٰخري وار باندي یې سنه ۱۹۸۰ء کي لیکلو سره ورکړل سردار محمود علي خان چي اوس ستاسو په مخکي موجود دی، هغه بیان ورکی، چي د سنه ۱۹۷۲ء متعلق هغه ته څه یاد نه دي، هو! په سنه ۱۹۸۰ء کي یې یووار لیکلو سره طلاق ورکړی دي. خو د دي څخه علاوه هغه حلفیه بیان کوي چي هغه په پوره ژوند کي انجم ظفرته طلاق نه دی ورکړی، د خپلې حتمي شرعي رایې څخه موخبرکړي مهرباني به موويٰ.

جواب: ماپه شاه باندي لیکل سوی د فریقینو مشترکه سوال او منسلکه تحریرونو مطالعه وکړله، چي په هغه کي هریوفریق په خپل طور د مدرسه عربیه نیوټاون د دار

الافتاء، څخه سوالونه کړی دی. بیا احتیاطاً د دواړو فریقینو څخه زبانی هم د هغوی موقف واوریدی. د سردار محمود صاحب بیان دادی چی هغه صرف یوواړ سنه ۱۹۸۰ء کی په تحریری طور باندی خپلی ښځی انجم ته طلاق ورکړی دی. او د سنه ۱۹۷۶ واقعه چی انجم صاحبه بیانوی هغه هغه ته یاده نه ده، لهذا هغه په دی باندی قسم کولو ته تیار دی چی هغه صرف په سنه ۱۹۸۰ء کی یوواړ طلاق ورکړی دی، بل طرفته انجم ظفر صاحبه په پوره وثوق سره وایی چی په سنه ۱۹۷۶ء کی د هغه خاوند سردار محمود علی صاحب هغه ته دوه واره (ماتاته طلاق درکړی) الفاظ استعمالولو سره طلاق راکی، او د دی څخه وروسته یی ووئیل: داپخه وګڼه. د دی څخه د خپلوانو وینا اوریدلو سره رجوع وسوه بیا په سنه ۱۹۸۰ء کی یوواړ هغه زما په وینابباندی په تحریری طور ماته طلاق راکی، چی په هغه کی هغه ولیکل چی: زه په هوش او حواس سره طلاق درکوم، اوس په دی حالاتو کی شرعی حکم دادی چی: کله مسماة انجم ظفر پخپله په خپلو غوږونو باندی دوه واره د طلاق لفظ اوریدلی دی او په دریم وار بی تحریراً ولیدی. نو د معروفی فقهی قاعدی (المرأة کالقاضی) (۱) په اصولو باندی د هغه د پاره د سردار محمد علی خان صاحب سره د ښځی په حیثیت پاته کیدل جائز نه دی، په هغه باندی شرعاً واجب دی چی هغه د محمود علی خان صاحب څخه جلاسی او هغه نه دی د زوجیت د وظائفو موقع نه ورکوی (۲)، او کله چی د هغه د پاره دا امر ناجائز دی. نو سردار محمود علی خان صاحب ته هم پکار دی، چی هغه لره دی د خپل خان سره په ساتلو باندی اصرار نه کوی، چی هغه ښځی لره په ګناه کی د مبتلاکولو سبب جوړنسی. د دیانت حکم هم دادی (۳)، او په همدی کی د فریقینو د پاره عافیت دی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۴/۹/۱۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۵۳۸/ ۳۵ د)

---

(۱) ایضاً.

(۲) وفی رد المحتار: ج: ۳ ص: ۲۵۱ (طبع سعید) والمرأة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لایحل لها تمکینه..... الخ.

(۳) المرأة کالقاضی د مفهوم مکمله تشریح او د دیانت د حکم سره متعلق د مزید تفصیل د پاره (ص: ص: پوری د حضرت والا دامت برکاتهم تفصیلی فتوی وګورئ.

د رخصتی څخه مخکی او د رخصتی څخه وروسته د درو طلاقو په صورت کی د مهر د اداء کولو بیان او تفصیل

سوال: زید ښځی ته ووئیل: که تا د عمرو سره خبری وکړی نو تاته دری طلاقه دی. نو ښځی قصداً او عمداً د عمرو سره خبری وکړی، آیا طلاق واقع سو؟ او مهر به څومره ورکوی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید په ښځی باندی طلاق مغلظه واقع سو (۱) اوس هغه د زید د پاره بغیر د حلالی څخه نسی رواکیدلی (۲)، او که زید تراوسه پوری د هغه مهرنه وی اداء کړی، نو په هغه باندی واجب دی چی فوراً د هغه مهر اداء کړی. (۳) که طلاق یی د رخصتی څخه وروسته ورکړی وی نو پوره مهر به اداء کوی (۴)، او که د رخصتی څخه مخکی یی طلاق ورکړی وی نو نیم مهر به اداء کوی (۵). والله

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۸/۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۸۸/ ۱۹ - الف)

د درو طلاقو حکم او د درو طلاقو څخه وروسته د یوی بلی فرقی د عالم څخه فتوی اخستل او ښځه د خپل خان سره ساتل

سوال: یوسړی په یوه مجلس کی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل د یو څوکسانو په موجودګی کی د نشست بدلولو سره دا طلاق مغلظه سول او که نه؟

---

(۱) وګورئ سابقه حواله ص او ص

(۲) د حوالی د پاره ص فتوی او د هغی حواشی ع تر ع پوری وګورئ.

(۳) ایضاً.

(۴) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع، الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه) والمهر یتاکد باحد معان ثلثة: الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین..... حتی لایسقط منه شی بعد ذلک الا بالابراء من صاحب الحق.

(۵) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب المهر ج: ۳ ص: ۱۰۴ ویجب نصفه بطلاق قبل الوطء او خلوة..... الخ.

الافتاء ځخه سوالونه کړی دی. بیا احتیاطاً د دواړو فریقینو ځخه زبانی هم د هغوی موقف واوریدی. د سردار محمود صاحب بیان دادی چی هغه صرف یووار سنه ۱۹۸۰ء کی په تحریری طور باندی خپلی ښځی انجم ته طلاق ورکړی دی. او د سنه ۱۹۷۶ واقعه چی انجم صاحبه بیانوی هغه هغه ته یاده نه ده، لهٰذا هغه په دی باندی قسم کولو ته تیار دی چی هغه صرف په سنه ۱۹۸۰ء کی یووار طلاق ورکړی دی، بل طرفته انجم ظفر صاحبه په پوره وثوق سره وایی چی په سنه ۱۹۷۶ء کی د هغه خاوند سردار محمود علی صاحب هغه ته دوه واره (ماتاته طلاق درکی) الفاظ استعمالولو سره طلاق راکی، او د دی ځخه وروسته یی ووئیل: داپخه وګنه. د دی ځخه د خپلوانو وینا اوریدلو سره رجوع وسوه بیا په سنه ۱۹۸۰ء کی یووار هغه زما په وینا باندی په تحریری طور ماته طلاق راکی. چی په هغه کی هغه ولیکل چی: زه په هوش او حواس سره طلاق درکوم، اوس په دی حالاتو کی شرعی حکم دادی چی: کله مسماة انجم ظفر پخپله په خپلو غوږونو باندی دوه واره د طلاق لفظ اوریدلی دی او په دریم وار یی تحریراً ولیدی. نو د معروفی فقهی قاعدی (المرأة کالقاضی) (۱) په اصولو باندی د هغه د پاره د سردار محمد علی خان صاحب سره د ښځی په حیثیت پاته کیدل جائز نه دی، په هغه باندی شرعاً واجب دی چی هغه د محمود علی خان صاحب ځخه جلاسی او هغه ته دی د زوجیت د وظائفو موقع نه ورکوی (۲)، او کله چی د هغه د پاره دا امر ناجائز دی. نو سردار محمود علی خان صاحب ته هم پکار دی، چی هغه لره دی د خپل ځان سره په ساتلو باندی اصرار نه کوی، چی هغه ښځی لره په ګناه کی د مبتلاکولو سبب جوړنسی. د دیانت حکم هم دادی (۳)، او په همدی کی د فریقینو د پاره عافیت دی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۴/۹/۱۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۵۳۸/ ۳۵ د)

---

(۱) ایضاً.

(۲) وفی رد المحتار ج: ۳ ص: ۲۵۱ (طبع سعید) والمراة کالقاضی اذا سمعته او اخبرها عدل لایحل لها تمکینه..... الخ.

(۳) المرأة کالقاضی د مفهوم مکمله تشریح او د دیانت د حکم سره متعلق د مزید تفصیل د پاره (ص: تر ص: پوری د حضرت والا دامت برکاتهم تفصیلی فتوی وګورئ.

د رخصتی ځخه مخکی او د رخصتی ځخه وروسته د درو طلاقو په صورت کی د مهر د اداء کولو بیان او تفصیل

سوال: زید ښځی ته ووئیل: که تا د عمرو سره خبری وکړی نو تاته دری طلاقه دی. نو ښځی قصداً او عمداً د عمرو سره خبری وکړی، آیا طلاق واقع سو؟ او مهر به څومره ورکوی.

جواب: په صورت مسئوله کی د زید په ښځی باندی طلاق مغلظه واقع سو (۱) اوس هغه د زید د پاره بغیر د حلالی ځخه نسی رواکیدلی (۲). او که زید تراوسه پوری د هغه مهرنه وی اداء کړی، نو په هغه باندی واجب دی چی فوراً د هغه مهر اداء کړی. (۳) که طلاق یی د رخصتی ځخه وروسته ورکړی وی نو پوره مهر به اداء کوی (۴). او که د رخصتی ځخه مخکی یی طلاق ورکړی وی نو نیم مهر به اداء کوی (۵). والله

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۸/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۸۸/ ۱۹ - الف)

د درو طلاقو حکم او د درو طلاقو ځخه وروسته د یوی بلی فرقی د عالم ځخه فتوی اخستل او ښځه د خپل ځان سره ساتل

سوال: یوسړی په یوه مجلس کی خپلی ښځی ته دری طلاقه ورکړل د یو څوکسانو په موجودګی کی د نشست بدلولو سره دا طلاق مغلظه سول او که نه؟

---

(۱) وګورئ سابقه حواله ص او ص

(۲) حوالی د پاره ص فتوی او د هغی حواشی ع تر ع پوری وګورئ.

(۳) ایضاً.

(۴) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع، الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه) والمهر یتاکد باحد معان ثلثة: الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین..... حتی لایسقط منه شی بعد ذالك الا بالابراء من صاحب الحق.

(۵) وفی الدر المختار کتاب النکاح باب المهر ج: ۳ ص: ۱۰۴ ویجب نصفه بطلاق قبل الوطء او خلوة.. الخ.

د دی ځخه وروسته خاوند ښځه په زور باندی بوتله او مباشرت به یی هم ورسره کړی وی. او ښځه په دی باندی بالکل راضی نه ده.

۲: د طلاق ورکولو په وخت کی چی کوم کسان موجود وه، هغوی اوس هم داوایی چی دا ښځه اوس تاته په کورکی ساتل جائز نه دی، او څه کسان وایی: چی طلاق نه دی واقع سوی. دا ښځه د ځان سره د شرعی نقطه نظر ځخه قطعا جائز ده، هغه سړی چیری د یوښار ځخه فتوی هم راوړی ده، او وایی چی ښځه زما د نکاح ځخه نه ده وتلی.

جواب: په صورت مسئوله کی په ښځی باندی دری طلاقه واقع سوی دی او مغلظه سوی ده (۱) یعنی اوس هغه د حلالی ځخه بغیر د سابقه خاوند د پاره حلالیدلی نسی، په داسی صورت کی هغه په زوره باندی نیول او بیول د لویی گناه ارتکاب دی، ښځی ته پکار دی ځنگه چی ممکن وی د هغه ځخه دی ځان خلاص کړی او د امکان ترحده پوری دی هغه ته د مباشرت موقع نه ورکوی.

۲: کوم خلگ چی داوایی چی ښځه په سړی باندی حرامه نه ده هغوی په غلطی باندی دی، ائمه اربعه یعنی امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالک رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل رحمه الله د چاپه مذهب کی هم د حلالیدلو گنجایش نسته (۲) او د کومی فرقی د کوم عالم ځخه د فتوی سهرا (کمک) اخستل او خپل مطلب پوره کول سخت ظلم او گناه ده، معامله د الله جل جلاله سره ده، ښځه چی د کوم مسلک سره تعلق ساتی، هم د هغه مسلک د علماوو فتوی به د هغه په حق کی معتبره وی.

احقر محمد تقی عثمانی

۲۸/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

---

(۱) په صورت کی د حوالی د پاره د صـ فتوی او د هغی حواشی ۱- ۳ پوری وگوری.

(۲) وفی شرح صحیح المسلم للعلامة النووی کتاب الطلاق باب الطلاق الثلث ج: ۱ ص: ۴۷۸ (طبع قدیمی کتب خانه) وقد اختلف العلماء فیمن قال لامرأته انت طالق ثلثا. فقال الشافعی رحمه الله ومالک رحمه الله وابو حنیفه رحمه الله واحمد وجماهیر العلماء من السلف والخلف یقع الثلاث.... الخ.
وفی الشامیة کتاب الطلاق ج: ۳ ص: ۲۳۳ (طبع سعید) وذهب جمهور الصحابة والتابعین ومن بعدهم من ائمة المسلمین الی انه یقع الثلاث وبعد اسطر وقد ثبت النقل عن اکثرهم صریحاً بایقاع الثلاث ولم یظهرلهم مخالف فما ذا بعد الحق الا الضلال: او همدارنگه وگوری صـ فتوی او د هغی حواشی ۱- ۲ پوری.

جواب صحیح دی که خاوند ته د دی په راگرځولو باندی اسرار وی، نو د حرامو ځخه د بچ کیدلو د پاره ضروری ده، چی هغه دی د حلالی ځخه وروسته د شریعت په مطابق دوباره نکاح وکړی، او د ځان سره دی یی وگرځوی. بنده محمد شفیع

په ژبی سره یی دری واره طلاق ورکی او وروسته یی صرف یو وار ولیکی او ور یی کی نو څه حکم دی؟

سوال: زید په خپلی ژبی باندی خپلی ښځی زهره ته دری واره دا ووئیل چی: ماطلاق ورکی، طلاق ورکی، طلاق درکی، او وروسته یی په لیکلو کی یو وار ورکی. واضحه دی وی چی زهره حامله هم ده.

جواب: په صورت مسئوله کی د زید په ښځی باندی دری طلاقه هم هغه وخت واقع سول کله چی هغه په ژبی سره دا الفاظ وئیلی وه، که په هغه وخت زهره حامله ده، نو د هغی عدّه د ماشوم پیداکیدل دی (۱) د ماشوم د پیداکیدلو ځخه وروسته هغه چیری وغواړی نکاح کولی سی، اوس هغه د زید د پاره بالکل نسی حلالیدی، او د حلالی ځخه بغیر دواړه نکاح هم نسی کولی. (۲)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۵/ ۳/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۳۳۹/ ۱۹ – الف)

د درو طلاقو مسئله او د ښځی د اړخه مهر معاف کولو سره په مهر معاف سی

سوال: نن په تاریخ ۱۷/ ستمبر سنه ۱۹۷۲ء باندی مسمّیٰ سید بسلطان اختر خپلی ښځی کنیز فاطمة بنت سید یعقوب علی خان ته د هغه په بار بار مطالبی باندی چی ماته طلاق راکړه، په دی باندی یی پوه کړه چی په دی سره ستا او ستا د بچیانو

---

(۱) وگورئ سابقه فتوی صـ حواله حاشیه ع.

(۲) وگورئ سابقه حواله: ص: حاشیه ( ).

مستقبل به تباه سی. په دی باندی هغه ووئیل: چی زما په دی سره څه تعلق نسته، کوشنی لور به زماسره وی او باقی دوی لونی ته بوځه او ما خپل مهر او هرقسم خرڅ او نان نفقه معاف کړله، د هغه د دی وضاحت او سختی مطالبی باندی د خلعی فیصله زموږ په دی الفاظو باندی (ماتاته طلاق درکی. ماتاته طلاق درکی، ماتاته طلاق درکی) سوی وه. اوس په دی صورت کی ته آزاده یی او په ماباندی د ...کی خور او مور په شان حرامه یی. چی هغی قبوله کړه.

جواب: په مذکوره صورت کی دری طلاقع واقع سوی دی. او طلاق مغلظه واقع سوی دی (۱) چی د هغه حکم دادی چی اوس به هغه د حلالی څخه بغیر ستا د پاره روانه وی (۲) او چونکی ښځی مهر معاف کړی دی نو ځکه په خاوند باندی مهر هم واجب نه دی (۳).

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۱۰/ ۱۳۹۶ هـ

(فتوی نمبر ۲۴۰۲/ ۵۲۷)

د درو طلاقو مسئله او د عدی احکام

سوال: یوسړی خپلی ښځی ته په جهالت کی ووئیل: چی تاته می طلاق درکړی دی، تاته می طلاق درکړی دی، تاته می طلاق درکړی دی، په دی کی شرعی حکم څه دی؟ او آیا عده په خسرګنی کی تیره کړی او که بل چیری؟

---

(۱) ایضاً.

(۲) د حوالی د پاره وګورئ صـ ۴۹۰ فتوی او د هغی حاشیی ۱ تر ع ۳.

(۳) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه) والمهر یتاکد باحد معان ثلثة، الدخول والخلوة صحیحة.... حتی لایسقط منه شیئ بعد ذالك الا بالابراء من صاحب الحق. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۱۱۳ (طبع سعید) (وصح حطها) لکله او بعضه (عنه) قبل اولا. وفی الشامیة تحت (قوله صح حطها) الحط الاسقاط کمافی المغرب.... الخ. وفی الشامیة ایضا کتاب النکاح باب المهر ج: ۳ ص: ۱۰۲ واذ تاکد المهر... لایحتمل السقوط الا بالابراء. وفی الهدایه باب المهر ج: ۲ ص: ۲۹۵ (طبع شرکت علمیه) وان حط عنه من مهرها صح الحط. لان المهر حقها والحط یلاقیه حالة البقاء.... الخ.

جواب: په صورت مسئوله کی د هغه سړی په ښځه باندی دری طلاقه واقع سول اوس هغه د حلالی څخه بغیر د هغه د پاره حلاله کیدلی نسی (۱) عده د خاوند په کورباندی تیرول پکار دی (۲) خو د پردی وغیره اهتمام دی اوسی (۳).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۱/ ۱۱/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۵۹۷/ ۲۱- الف)

د درد په حالت کی هم طلاق واقع کیږی او په صدقی سره د طلاق د اثر د زائل کیدلو مسئله غلطه ده

سوال: یوسړی په درد کی خپلی ښځی ته دری ظلاقه ورکړل، په داشان چی تاته می طلاق درکی، تاته می طلاق درکی، تاته می طلاق درکی، په دی صورت کی کی د احنافو په نزد کوم طلاق واقع سو؟ که خاوند ښځی ته رجوع کول غواړی نو څه صورت به یی وی؟ یومولوی صاحب راته ووئیل چی د درد په حالت کی طلاق نه واقع کیږی. او غریبانو او مسکینانو باندی خوراك کولو سره او خپلوانو باندی صدقه کولو سره به د طلاق اثر زائل سی، ځکه چی په درد کی د هغه د طلاق ورکولو نیت نه وو.

جواب: په صورت مسئوله کی د دغه سړی په ښځه باندی دری طلاقه واقع سول (۴) اوس هغه د خاوند د پاره حرامه سوی ده. او د شرعی حلالی څخه بغیر د هغه سره بله

---

(۱) د حوالی د پاره صـ ۴۹۹ فتوی او د هغه حاشیه د نمبر ۱ تر ۲ پوری وګورئ.

(۲) وفی الدر المختار مع رد المختار باب العدة ج: ۳ ص: ۵۳۶ (طبع سعید) وتعتدّ ان ای معتدة طلاق وموت فی بیت وجبت فیه ولایخرجان من الا ان تخرج او ینهدم المنزل او تخاف انهدامه او تلف مالها.....الخ. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۵۳۵، والبحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۵۴.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۳۷ (طبع سعید) ولابد من سترة بینهما فی البائن وان ضاق المنزل علیهما اوکان الزوج فاسقًا فخروجه اولیٰ.... الخ. وکذا فی الهندیه ج: ۱ ص: ۵۳۵ والبحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۵۴

(۴) ایضاً.

نکاح نسی کیدی (۱) طلاق د درد په حالت کی هم واقع کیږی، (۲) او د دری طلاقو څخه وروسته رجوع نسی کیدی (۳) او صدقه ورکولو سره هم د طلاق اثر نه زائله کیږی، کوم سړی چی درته دامسئله ښوولی ده بالکل یی غلطه ښوولی ده.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۲/۱۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۳۲/ ۲۸ ب)

دری طلاقه په درو میاشتوکی کیدل ضروری نه دی

سوال: یوسړی واده وکی او د واده څخه څلور پنځه ورځی وروسته د هغه د ښځی د مور او پلار د ښځی د ورکولو څخه انکار وکی، او وی وئیل: چی دا هلك د واده قابل نه دی. په دی کشمکش کی یوه میاشت تیره سوه او هغه سړی یی په طلاق مجبوره کی، د دی مجبوری په حالت کی یی د څوکسانو په مخکی طلاقنامه ولیکله او زبانی طوریی دوه واره ووئیل ماخپله ښځه جلاکړه، د یوی میاشتی څخه وروسته د چیرمین د اړخه نوټس رالی، چی ستا طلاق نه دی واقع سوی، ځکه چی په درو میاشتو کی دی طلاق نه دی ورکړی نو ځکه ستا طلاق نه دی واقع سوی، او بیایی ښځه بیرته راواستوله او د اوومیاشتو څخه یوځای وسیږی، د شریعت د مخ راته دا وښایی چی طلاق واقع سو او که نه؟ چی تراوسه پوری یی د ځان سره ساتلی ده داڅنګه ده؟

جواب: په صورت مسئوله کی د دغه سړی په ښځی باندی دری طلاقه واقع سوی دی اوس هغه بغیر د حلالی څخه د ده د پاره بالکل جائز نه ده (۴)، د درو طلاقو د پاره په

---

(۱) د حوالی د پاره د صـ فتوی او د هغی حواشی د ۱- ۳ پوری وګوری.

(۲) وفی رد المختار کتاب الطلاق مطلب فی طلاق المدهوش ج: ۳ ص: ۲۴۴ (طبع سعید) ویقع الطلاق من غضب خلافًا لابن القیم وهذا الموافق عندنا لمامرّ فی المدهوش.

(۳) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب الرجعة ج: ۲ ص: ۳۹۹ (طبع شرکت علمیه ملتان) وان کان الطلاق ثلاثًا فی الحرة او ثنتین فی الامة لم تحل له حتی تنکح زوجًا غیره نکاحًا صحیحا ویدخل بها ثم یطلقها او یموت عنها والاصل فیه قوله تعالی: فَاِنْ طَلَّقَهَا فَلَاتَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتّٰی تَنْکِحَ زَوْجًا غَیْرَهٗ..... الخ.

(۴) ایضًا.

درو میاشتو کی کیدل ضروری نه دی، که په یووخت کی دری طلاقه ورکړی نو بیابه هم واقع کیږی (۱).

والله تعالی اعلم

۱۳۸۸/۲/۹ هـ

(فتوی نمبر ۲۱۹/ ۱۹، الف)

د لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰه، دری طلاقه، الفاظو او د عدی د نفقی احکام

سوال: حاجی فضل احمد صاحب خپلی ښځی ته د جګړی په وجه دا الفاظ ووئیل: لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ، دری طلاقه (ورسره دوه سړی او دری ښځی د شاهدی هم حسب ذیل تصدیق دی)

۱: یوسړی مسمیٰ عبد الرشید وایی چی د طلاق الفاظ داوه، دری طلاقه می ورکړی دی.

۲: دوهم سړی مسمیٰ عبدالهاشم وایی: چی د طلاق الفاظ داوه، لااله الا الله محمد رسول الله، تاته می دری طلاقه درکړی دی، یاد دی وی چی دا دوه شاهدان د اقرار دی یعنی شاهد نه دی.

۳: هغه دری ښځی چی عینی شاهدانی دی وایی: چی د طلاق الفاظ داوه، لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهَ محمد رسول الله دری طلاقه، طلاق یی په تاریخ ۲۲ اپریل باندی ورکړی وه، عده به څه وخت شروع کیږی؟ که طلاق واقع سوی وی، د پردی او خوراك چښناك به یی څه انتظام وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د حاجی فضل احمد صاحب په ښځی باندی دری طلاقه مغلظه واقع سوی دی، او اوس هغه د حلالی څخه بغیر د هغه د پاره رواکیدلی نسی.(۲)

د کومی ورځی څخه چی یی طلاق ورکړی دی یعنی ۲۲/ اپریل څخه به یی عده

---

(۱) د حوالی د پاره صـ فتوی او د هغی حواشی ۶ تر ۶ پوری وګورئ.

(۲) وګورئ سابقه حواله صـ فتوی او د هغی حاشیه ۶ تر ۶ پوری.

شمارل کیږی (۱) او عده یې دری واره د حیض تیریدل دی، د عدی په دوران کی په خاوند باندی د نان نفقی او استوګنی انتظام کول واجب او لازم دی (۲).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

بنده احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۸/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۱۷/ ۱۹- الف)

یوطلاق، دوه طلاقه دری طلاقه د الفاظو حکم

سوال: د نن څخه پنځه میاشتی وسوی چی زه د اخبنی کورته ولاړم، هلته د خپلوانو سره خبری اتری کیدی، د خبرو اترو په مینځ کی زما د ښځی تذکره هم راله. زما ملګرو زما د ښځی د بد اخلاقی او د فحش حرکتونو په سلسله کی ډیر څه ووئیل، ماته په دی باندی سخت درد راللی، ما د درد په حالت کی. یوطلاق. دوه طلاقه. دری طلاقه لفظ استعمال کی، خو ورمی کی، او چاته می ورکی، د دی تلفظ می ونکی، په دغه وخت کی زما ښځه هلته څخه د یومیل په فاصلی باندی وه او د څلورو میاشتو حامله وه. اوس د حضرت والا څخه درخواست دی چی شرعی حکم څخه موخبرکړی.

نوټ: په دی سوال سره ګڼ شهادتونه هم راغلی وه، چی په هغه کی څه خو هغه الفاظ راخی چی ویونکی وئیلی وه، او د دوو شاهدانو لفظ، د ورکړو ذکر کړی نه دی.

جواب: په صورت مسئوله کی د سائل په ښځی باندی دری طلاقه مغلظ واقع سول. اوس هغه بغیر د حلالی څخه د هغه د پاره بالکل جائز کیدی نسی (۲) سیاق او سباق نسبت الی الزوجة معین کولو ته کافی دی (۱). والله سبحانه وتعالی اعلم

---

(۱) فی الشامیة ج: ۳ ص: ۵۲۹ (طبع سعید) ویظهر انّ ابتداً العدة من وقت الوقوع الطلاق... الخ. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۲۰ (طبع سعید) ومبدأ لعدّة بعد الطلاق علی الفور.

(۲) وفی الفتاوی الهندیة، کتاب الطلاق الباب السابع عشر فی النفقات. الفصل الثالث فی نفقة المعتدة ج: ۱ ص: ۵۵۷ (طبع ماجدیه کویته) المعتدّة عن الطلاق تستحق النفقة والسّکنی کان الطالق رجعیاً او بائناً او ثلاثاً حاملاً کانت المرأة او لم تکن کذا فی الفتاوی قاضی خان.

(۳) وګورئ سابقه حواله صـ فتوی او د هغی حواشی نمبر صـ ترعـ پوری.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۸۱/ ۱۹- الف)

د درو طلاقو څخه وروسته د مهر او پردی تفصیل

سوال: زما واده په سنه ۱۹۲۹ء کی سوی وو. بیا زما خاوند په کال ۱۹۹۴ء کی بیل. بیل څلور وارمانه دا الفاظ ووئیل: زمانوم بی درشهوار اخستلو سره ووئیل چی: ماتاته طلاق درکی، هلکان زموږ د ۲۵، ۲۲ کالو دی.

۱: د طلاق الفاظ چی یی کله ووئیل: نو دوه واره خو هلکان موجود وه.

۲: دوه واره نوریی په تنهایی کی ووئیل.

مسئله د عرض داده چی د یوکال په مودی کی د هغوی واده سوی دی، هغوی فتوی وښووله او وی وئیل: چی اوس زما او ستا هیڅ تعلق نه دی پاته سوی.

۳: لږمودی څخه وروسته د هغوی د طرفه مسئله راپورته سوه چی پرده مه کوه، او داچی ماتاته طلاق نه دی درکړی، که ته غواړی نو اوس به یی درکړم. او داچی د کورټ په ذریعه به یی درکوم وغیره، اویا د کور څخه ولاړه سه.

۱: د هغوی ویناده چی زمانیت نه وو چی زه طلاق درکړم.

۲: څلور واره یی صفا وئیلی دی چی: در شهوار! تاته یوطلاق، بیایی داسی ووئیل چی تاته دوهم طلاق، بیا داشان په مختلفو مواقعو باندی دوه واره بیا وئیل. اوس وایی: چی هروار ما اول ګنلو سره وئیلی دی (زما څخه پرده مه کوه)

۱: هغه د خپلی ښځی اولور سره جلا اوسیږی.

۲: زه د خپلو بچیانو سره په بیل کور کی اوسیږم، د پردی د وجی څو واره کوز ته راغلی دی او زه یی وهلی یم او ښکنځل یی راته کړی دی، ماته فتوی راکړه او د طلاق او پردی په باره کی څه احکام دی؟ د واده په وخت کی دا مهر رائج الوقت سکه پنځه زره (۵۰۰۰) وو د هغه به څه مسئله وی؟ هغه هم ماته نه دی راکول سوی.

---

(۱) وفی ردالمحتار. کتاب الطلاق باب الصریح تحت مطلب (سن بوش) یقع به الرجعی ج: ۳ ص: ۲۴۸ (طبع سعید) ولایلزم کون الاضافة صریحة فی کلامه لما فی البحر لوقال طالق فقیل له من عنیت؟ فقال امرأتی طلقت امرأته ..... الخ

مخکنی فتوی د بنوری ټاؤن څخه عبد الوهاب صاحب راکړی وه، هغه وسوزله، لورمی خوانه ده، د هغه د پاره مسئله جوړه نه سی، چی مورته می طلاق سوی دی؟

جواب: که په سوال کی مذکوره واقعه درسته وی نو په تاباندی دری طلاقه واقع سوی دی، (۱) اوس خاوندته د رجوع کولو حق حاصل نه دی او نه ستاسو په مینځ کی بغیر د حلالی څخه بله نکاح کیدلی سی (۲) تاسو دواړو باندی واجب دی چی یو د بل څخه جلا اوسیږی او پرده کوی (۳) او که هغه تراوسه پوری مهر نه دی اداء کړی نو د هغه په ذمه باندی واجب دی چی فوراً تاته مهر اداء کړی (۴).

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۲/ ۱۴۱۲ هـ

(فتوی نمبر ۷۱/ ۱۹۹)

دری واره د طلاق صریح په الفاظو کی د نیت او د قهر اعتبار نسته

سوال: زید په طیش کی رالی او دری واره یی داجمله ووئیله چی ولاړه سه ماتاته طلاق درکی، طلاق درکی، طلاق درکی، شرعاً د دی څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید په ښځی باندی دری طلاقه واقع سول (۵). په الفاظ صریح کی د نیت او د درد سره څه فرق نه راځی (۶) لهٰذا اوس د زید ښځه د هغه د پاره بغیر د حلالی څخه هیڅکله رواکیدلی نسی او دوهمه نکاح هم نسی کیدلی (۱).

---

(۱) ایضاً.

(۲) سابقه حواله صـ فتوی او د هغی حواشی عـ تر عـ وګورئ.

(۳) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۳۷ (طبع سعید) ولابد من سترة بینهما فی البائن وان ضاق المنزل علیهما او کان الزوج فاسقًا فخروجه اولی..... الخ. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۵۳۵ (طبع ماجدیه) والبحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۵۴ (طبع رشیدیه)

(۴) وفی الهندیة کتاب النکاح الباب السابع الفصل الثانی ج: ۱ ص: ۳۰۳ (طبع ماجدیه، والمهر یتاکد باحد معان ثلثة: الدخول والخلوة الصحیحة وموت احد الزوجین..... الخ.

(۵) د حوالی د پاره وګورئ صـ فتوی او د هغی حواشی عـ تر عـ پوری.

(۶) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۲۵۰ (طبع سعید) (قوله اولم ینوشیئًا) لمامر ان الصریح لایحتاج الی النیة ولکن لابدفی وقوعه قضاءً ودیانتًا من قصد اضافة لفظ الطلاق الیها عالما بمعناه. وفی الهدایة ج: ۲

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۴/ ۳/ ۱۳۸۸ هـ

په معاملاتو کی د ډیر ساده سړی د طلاق حکم

سوال: سلطان محمد د رسم او رواج مطابق دری کاڼی وویشتل او وی وئیل چی دادی زما د ښځی طلاقونه. اوس دا زمانه آزاده ده. سلطان محمد پاګل (لیونی) ګڼل کیږی هسی خو د غره څخه د حیوانانو د پاره واښه هم راوړی او داسړی خرڅول او اخستل هم کوی، هغه یوه بزه په څلوینښت روپی باندی دری میله لری خرڅه کړی ده، حالانکی د هغه نژدی خلګو همدا بزه تری په څلور پنځه روپی کمو باندی غوښتله، علی هذالقیاس د هغه زیات او کم افعال په صحبت باندی مبنی دی، چونکی ساده دی، څکه ورته بی وقوف وئیل کیږی، خو په حقیقت کی د هغه افعال او کردار د پاګلانو په شان نه دی، سلطان محمد ته د مصرع (مرګی) بیماری لاحقه ده، د بیماری پنځه لس منټه وی. د دی څخه وروسته بیا صحیح او تندرسته کیږی، آیا د ده طلاق سوی دی او که نه؟

جواب: په سوال کی چی د سلطان محمد کوم حالات بیان سوی دی که هغه درست وی، نو د هغه په ښځی باندی دری طلاقه واقع سول (۲) د پورتنی حالاتو په وجه هغه ته معتوه وئیل مشکل دی (۳) والله سبحانه اعلم ۲۵/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

که دوه یادری طلاقو ورکولو کی شک وی او شاهد د درو طلاقو شاهدی ورکړی نو څه حکم دی؟

ص: ۳۵۹ (طبع شرکت علمیه ملتان فالصریح قوله انت طالق ومطلقة وطلقتك فهذا یقع به الطلاق الرجعی... ولایفتقر الی النیة لأنه صریح فیه.

(۱) د حوالی د پاره د صـ فتوی او د هغی حواشی عـ تر عـ پوری.

(۲) وګوری سابقه حوابه صـ فتوی او د هغی حواشی ۱ـ ۳ پوری.

(۳) د معتوه د تعریف د پاره وګورئ (رد المختار ج: ۱ ص: ۱۴۳- او ج: ۲ ص: ۲۵۸. او د معتوه د طلاق د حکم د پاره وګوری رد المحتار ج: ۳ ص: ۲۴۳ (طبع سعید) او هندیة ج: ۱ ص: ۳۵۳ (طبع رشیدیه).

سوال: رشید احمد شاهد نمبر اول شهادت علی را وغوښتی او دوهم نمبر شاهد عبد الرشید د اول څخه د مزاج د پوښتنی د پاره راغلی وو، رشید احمد صاحب د یوکال څخه بیمار دی رشید احمد صاحب د دی دواړو شاهدانو په موجودګی کی طلاق ورکی، د دواړو شاهدانو شاهدی د دی کاغذ په شاه باندی درج ده. خو د رشید احمد صاحب بیان دی، چی ماته یاد نه دی، چی مادوه طلاقه ورکړی دی او که دری، او ثمینه بیګم ته هم د دی طلاق په باره کی اطلاع نه ده ورکول سوی. هغه د خاوند سره پاته کیدل غواړی. د پرون شپه د شاهد نمبر ۲ څخه دوباره پوښتنه وسوه. نو هغه چی کوم بیان ورکی، هغه د کیفیت د عنوان لاندی درج دی، اوس تاسو شرعی حکم وښیایاست: چی ښځه د خاوند سره پاته کیدلی سی او که نه.

د شاهد نمبر اول بیان ۲۲/ ۸/ ۱۹۷۹ء د ورځی په یوولس بجی د خدای ﷻ حاضر ناظر ګڼلو سره ورکوو، شاهد نمبراول صوفی شهادت علی: زه یی د کور څخه را وغوښتلم، او وی وئیل چی زه طلاق ورکوم، ماثمینه بیګم ته طلاق ورکی، دا الفاظ یی دری واره ووئیل. کلمه طیبه یی هم ووئیله، (دستخط شهادت علی)

شاهد نمبر دوهم: زه د احوال اخستلو د پاره پخپله راغلی وم. او وی وئیل: چی زه طلاق ورکوم، ماثمینه بیګم ته طلاق ورکی، همدا الفاظ یی دری وارد ووئیل. (دستخط عبد الرشید)

مدعی یعنی د صاحب واقعی بیان رشید احمد خودمختار: ما د دغه دوو کسانو په موجودګی کی ښځی ته طلاق ورکړی دی. خوماته دمعلومه نه ده چی ما طلاق دوه واره او که دری واره ورکړی دی. (دستخط رشید احمد)

کیفیت: زما طبیعت خراب وو، د ډیری مودی څخه وروسته بیاریم، او په دغه وخت زماسخته تبه وه، حالت می صحیح نه وو، ماکلمه یا بسم الله نه وه وئیلی. (عبد الرشید)

جواب: په صورت مسئوله کی که صوفی شاهدی علی او عبد الرشید دواړه شاهدان داسی وی چی په عام طورسره دروغ نه وایی او د هغوی شاهدی د اعتماد قابله ګڼل کیږی نو په ثمینه بیګم باندی دری طلاقه واقع سول، اوس هغه په خپل خاوند باندی حرامه سوی ده او نه اوس د طلاق څخه رجوع کیدی سی او نه د حلالی څخه بغیر د هغوی دوهمه نکاح ممکنه ده. لما فی الدر المختار:

ولوشك اطلق واحدة او اکثر بنی الاقل. (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۳۰/ ۲۸ ج)

دری طلاقه په یووخت باندی ورکولو سره په دروسرو واقع کیدو باندی د امامانو اجماع ده، د درو طلاقو څخه وروسته ښځه د ځان سره ساتل

سوال: یوسړی خپلی ښځی ته په لفظ واحدسره دری طلاقه ورکړل. اوس دا طلاق غورځیدلی دی او که نه؟ آیا په دی کی د امامانو څه اختلاف سته؟

۲: که داسړی بغیر د نکاح ثانی څخه دابیا ښځه جوړه کړی نو د شریعت د اړخه د هغه سره تعلقات ساتل څنګه دی؟

جواب: که دری طلاقه په یومجلس کی په یولفظ سره ورکول سی او که په مختلفو الفاظوسره، په هرصورت کی دری طلاقه واقع کیږی او ښځه مغلظه کیږی، په دی مسئلی باندی د څلورو سرو امامانو، امام ابو حنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام مالك رحمه الله، او امام احمد حنبل رحمه الله اتفاق دی، او د څلورو سرو امامانو په مینځ کی څه اختلاف نسته. (۲)

۲: داسی سړی چی د حرام کاری مرتکب دی، د دی په سمه لاره باندی د راوستلو د پاره هره ممکن طریقه اختیارول پکار دی، او که هغه منع نسی، نو د هغه سره د تګ راتګ خصوصی تعلقات ساتل پکار نه دی. والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۶/ ۱۱/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۰۰/ ۲۹ ج)

---

(۱) رد المختار قبیل باب طلاق غیر المدخول بها ج: ۳ ص: ۲۸۴ (طبع سعید) وفی الهندیة. ج: ۱ ص: ۳۶۳ (طبع رشیدیه کویته) فان قال الزوج عزمت علی انه ثلاث او هی عندی علی انها ثلاث اضع الامر علی اشده فاخبره عدول حضروا ذالك المجلس وقالوا کانت واحدة قال اذا کانوا عدولا صدقهم وآخذ بقولهم.

(۲) ایضاً.

درې طلاقونه وروسته بغیر د حلالې ښځه دوباره د نکاح کولو حکم

سوال: یو سړي خپلې ښځې ته درې طلاقه ورکړل او کافي موده ښځه وروسته یې بغیر د حلالې ښځه هم د هغې ښځې سره نکاح کوي، اوس به داسړی په شریعت کې څنګه ګڼل کیږي؟ کوم خلګ چې د هغه په نکاح کې شریك وه په هغوی باندې څه کفاره ده؟ او اوس که داسړی د حلالې د پاره تیارسي نو څه طریقه ده؟

۲: د هغه سړي په باره کې علماء څه فرمائي چې هغه په جومات کې د دریدلو سره یوسړي ته په دهوکه ورکولو باندې یا دروغ وئیلو سره ووئیل چې حلاله سوې ده او نکاح تړي نو آیا د دې نکاح تړونکي پسې لمونځ کیدی سي او که نه؟

جواب: د درو طلاقو ښځه وروسته په خاوند باندې بالکل حرامیږي (۱) او د حلالې ښځه بغیر دوباره نکاح هم جائز ده، لهٰذا کوم سړي چې خپله مغلظه ښځه د حلالې ښځه بغیر نکاح کولو سره یې د خپل ځان سره ساتلې ده، د هغې نکاح باطله ده (۲) او هغه ښځه د ځان سره ساتل حرام دي، که هغه صحبت کړي وي نو د زنا په حکم کې دي. هغه ته فوراً توبه او استغفار کولو سره جلاکیدل پکار دي چې هغه عده تیره کړي، د کوم بل سړي سره نکاح وکړي او هغه سړی مړسي یاپخپله طلاق ورکړي، نوبیا د هغه د عدې تیرولوسره که د مخکې خاوند سره نکاح کول غواړي نوکولی یې سي، د دې څخه ماسوا بل څه صورت نسته.

۲: کوم صاحب چې د حلالې ښځه بغیر د اولنې خاوند سره د ښځې نکاح تړلې ده. که هغه ته د پوره خبرې علم وو چې دا ښځه مغلظه سوې ده او حلاله نه ده سوې نو هغه ته توبه کول پکاردي، او که هغه توبه ونه باسي نو د هغه پیسې لمونځ کول مکروه دي.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۶/۱۰/۲۱

(فتوی نمبر ۲۴۳۵/۲۷ هـ)

(۱) د حوالې د پاره د صـ ۴۹۰ فتوی او د هغې حواشي ۱ تر ۳ پورې وګورئ.

(۲) وګورئ سابقه حواله او صـ او حاشیه نمبر ۵ او ۶.

(تاته مې طلاق درکي او ته مې پریښوولې) الفاظ څو واره ووایي نو د دې به څه حکم وي؟

سوال: زما خاوندماته ووئیل: چې تاته مې طلاق درکي او سل واره یې دا ووئیل: چې ته پریښوولې او پریښوولې. نو آیا طلاق واقع سو او که نه؟

جواب: که د سائلې بیان درست وي او خاوند په رښتیا دا الفاظ وئیلي وي: چې تاته مې طلاق درکي، او ته مې پریښوولې (۱) نو د هغې د خاوند له طرفه په هغې باندې طلاق واقع سوی دی، او د عدې تیرولو سره چې چیرې وغواړي نکاح کولی سي. او عده درې واره د حیض تیریدل دي، او دابه د هغه وخت شمارل کیږي کله چې طلاق ورکول سوی وو (۲) که د دې ښځه وروسته یې درې واره حیض راغلي وو او عده تیره سوه نو اوس سائله آزاده ده او د مزید انتظار څخه بغیر، نکاح کولی سي.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقي عثماني عفی عنه

۲۵/۴/۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۵۵۶/۲۲- الف)

د (دې ته طلاق ورکوم) الفاظ درې واره وئیلو څخه وروسته آخرې دووجملوکې د تاکید د نیت دعوی کول

سوال: زما خاوند مسمی سید ظفر احمد ولد سید احمد د کور په کارونو باندې معمولې ګفتګو شروع کړله او زموږ ترمینځه اختلاف پیداسو. تردې چې خبره زیاته سوه. د ګفتګو په دوران کې زما مذکوره خاوند ډیر غصه کولو سره د غصې په حالت کې زما ورورته په مخاطب کیدلو زماطرف ته اشاره کولو سره ووئیل چې: زه دې ته طلاق ورکوم، او داجمله یې درې واره ووئیله. په دوهمه یا دریمه ورځ باندې د مسئلې په نزاکت پوه سو او د غصې سړیدلو څخه وروسته موصوف خاوند ووئیل او هم

(۱) : لفظ پریښوولې. د متعلقه تفصیل د پاره د ص: ۳۶۵ فتوی او د هغې حاشیه نمبر ۶ تر ۶ پورې (۲) : صـ فتوی او د هغې حاشیه نمبر ۶ وګورئ.

وګورئ سابقه حواله د صـ حاشیه نمبر ۵ او صفحه ۶ حاشیه ۶.

داوایي چې زمانیت خو صرف د یو طلاق وو، ما صرف د غصې په حالت کې داسې
ووئیل، زما اراده او زمانیت صرف د یو طلاق وو،
دوهمه خاص خبره داده: چې کوم وخت د طلاق الفاظ او دا واقعه وسوه په هغه وخت زه
(سائله) ایام حمل کې یم، په هرحال د حمل په ورځو کې او د غصې په ډېر سخت حالت
کې داواقعه سوې ده، د قرآن او حدیث په رڼاکې جواب راکړئ. عند الله مأجور سئ.

جواب: په صورت مسئوله کې په تاباندې درې سره طلاق قضاً واقع سوې دي، یعنې
اوس ستا د پاره د هغه سره د ښځې په حیثیت پاته کیدل جائز نه دي او اوس د حلالې
څخه بغیر د هغه سره ستا دوهمه نکاح هم نسي کیدی او طلاق د حمل په حالت کې هم
کیږي.

لما في الدر المختار کرّر لفظ الطلاق وقع الکل وان نووی التأکید دیَن.
وقال الشامي اى ووقع الکل قضاءً وکذا اذا أطلق اشباه: اى بأن لم ینو استئنافًا
ولاتأکیداً. لان الاصل عدم التأکید. (شامي ج: ٢ ص: ٤٢٠) (١)

والله سبحانه اعلم
١١/٩/١٣٩٧هـ
(فتوىٰ نمبر ٢٨/٩٢٩ ج)

په عدالت کې د درو طلاقو د شاهدۍ د پاره چې د کومو شاهدانو ضرورت دی هغه شاهد څنګه کیدل پکار دي؟

سوال: زما یعنې مسمّی محمد سوار خان ولد افسر خان واده د مسماة سکینه بیګم بنت
شیرزمان سره یو کال مخکې سوی وو، خو په دې دوران کې به جنګ جګړې کیدې، او
ښځې زما دوژلو کوشش هم وکې، او داکوشش یې تراوسه پورې جاري دی نو ځکه زه
مجبوره سوم، او خپله ښځه مسماة سکینه بیګم مذکوره بالا (چې درې ځلی خاپه
بدنامه سوې هم ده) درې واره طلاق په سبب د شرع په تکرار سره درې واره طلاق،
طلاق، طلاق وزکوم، او داسې ښځه به خپله نکاح کې نه ساتم، او کوم حق مهر چې
هغه دی هغه مې ورته اداء کړی دی، لهذا دا ښځه اوس په ماباندې حرامه ده، زمانور:
هغې سره کارنسته.

---

(١) الدر المختار مع رد المختار ج: ٣ ص: ٢٩٣ (طبع سعید)

شاهد: محمد صد صدیق خان، شاهد: محمد حسین خان، شاهد: محمد سلیم خان
د برنی طلاق نامې د مخې شرعي حکم څه دی او که د طلاق مسئله په عدالت کې پېښه
سي او طلاق ورکوونکی منکروی نو د شاهدانو به ضرورت وي شرعاً شاهدان څنګه
پکار دي؟

جواب: د طلاقنامې ترشا درج سوی تحریر د مخې په سکینه بیګم باندې درې طلاقه
واقع سوی دي، او هغه په خپل خاوند باندې په طلاق مغلظه سره حرامه سوې ده، اوس
د شرعي حلالې څخه بغیر دوباره نکاح هم نسي کیدی، او د شاهدۍ په باره کې چې
تاسو د کومې خبرې پوښتنه کړې ده په هغه کې لوی تفصیل دی چې هغه په مکمل طور
باندې دلته لیکل مشکل دي، دا کار د حاکم دی چې هغه د شاهدانو د اخستو په وخت
کې د دې خبرې تصدیق وکې چې په دوی کې شرایط پیداکیږي او که نه؟ د هغوی د
طرفه، استصواب وي نو حکم به ورته وښوول سي.

والله سبحانه اعلم
٨/١٢/١٣٩٦هـ
(فتوىٰ نمبر ٢٧/٢٧٨١ و)

درې طلاقونه وروسته د عدې احکام او د طې سوی حلالې شرعي حیثیت

سوال: مسماة ساجده د خاوند په اجازت سره بغیر د څه جګړې څخه د خپل مور او پلار
کورته د څه وخت د پاره ولاړه، د یوڅو ورځو څخه وروسته ساجدې ته د ډاګ په ذریعه
طلاق نامه ورکول سوه، د ساجدې پلار د هغه د خاوند زید ته هغه طلاق نامه وښووله
زید د طلاقنامې څخه انکار وکې، او وی وئیل چې: دا د کوم دښمن کار روایي ده، زید
خپله ښځه ساجده بیرته کورته بوتله د څه وخت څخه وروسته هغه بیا د پلار کره ولاړه،
هغه ته بیا زید د ډاک په ذریعه طلاقنامه ولیږله د پوښتنې په وخت زید بیا د طلاقنامې
څخه انکار وکې، په دریم وار بیاهم د مسماة مذکورې سره همداسې وسول، مسمّی زید
د حسب سابق په شان د طلاقنامې څخه انکار وی، خو زیات دریافت او تفتیش کولو
څخه یې خپلو همزولو او دوستانو ته صفا ووئیل: چې هغه ساجدې ته طلاق ورکړی
دی: د دې څخه مخکې مې هم دوی طلاقنامې ورلیږلي دي، ساجده خاتون هم په هغه
کورکې اوسیږي په کوم کې چې د هغې خاوند هم اوسیږي، د زید دوه درې ورونه هم په

داوایی چې زمانیت خو صرف د یوطلاق وو، ما صرف د غصې په حالت کې داسې
وویل. زما اراده او زمانیت صرف د یوطلاق وو،
دوهمه خاص خبره داده: چې کوم وخت د طلاق الفاظ او دا واقعه وسوه په هغه وخت زه
(سائله) ایام حمل کې یم، په هرحال د حمل په ورځو کې او د غصې په ډیر سخت حالت
کې داواقعه سوې ده، د قرآن او حدیث په رڼاکې جواب راکړئ. عند الله مأجورسئ.

جواب: په صورت مسئوله کې په تاباندې درې سره طلاق قضاً واقع سوې دي، یعنی
اوس ستا د پاره د هغه سره د ښځې په حیثیت پاته کیدل جائز نه دي او اوس د حلالې
څخه بغیر د هغه سره ستا دوهمه نکاح هم نسې کیدی او طلاق د حمل په حالت کې هم
کیږي.

لما فی الدر المختار کرّر لفظ الطلاق وقع الکل وان نووی التأکید دیَن.
وقال الشامی ای ووقع الکل قضاءً وکذا اذا أطلق اشباه: ای بأن لم ینو استئنافا
ولاتأکیداً، لان الاصل عدم التأکید. (شامي ج: ۲ ص: ۴۲۰) (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۱/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوی نمبر ۹۲۹/ ۲۸ ج)

په عدالت کې د درو طلاقو د شاهدۍ د پاره چې د کومو شاهدانو ضرورت دی هغه شاهد څنګه کیدل پکار دي؟

سوال: زما یعنی مسمیٰ محمد سوار خان ولد افسر خان واده د مسماة سکینه بیګم بنت
شیرزمان سره یوکال مخکې سوی وو، خو په دې دوران کې به جنګ جګړې کیدې، او
ښځې زما دوژلو کوشش هم وکی، او داکوشش یې تراوسه پورې جارې دی نو ځکه زه
مجبوره سوم، او خپله ښځه مسماة سکینه بیګم مذکوره بالا (چې درې ځلور ځایه
بدنامه سوې هم ده) درې واره طلاق په سبب د شرع په تکرار سره درې واره طلاق،
طلاق، طلاق ورکوم. او داسې ښځه په خپله نکاح کې نه ساتم، او کوم حق مهر چې د
هغه دی هغه مې ورته اداء کړی دی، لهٰذا دا ښځه اوس په ماباندې حرامه ده، زمانور د
هغې سره کارنسته.

(۱) الدر المختار مع رد المختار ج: ۳ ص: ۲۹۳ (طبع سعید)

شاهد: محمد صد صدیق خان، شاهد: محمد حسین خان، شاهد: محمد سلیم خان
د برنی طلاق نامې د مخې شرعي حکم څه دی او که د طلاق مسئله په عدالت کې پیښه
سی او طلاق ورکوونکی منکروی نو د شاهدانو به ضرورت وی شرعاً شاهدان څنګه
پکار دي؟

جواب: د طلاقنامې ترشا درج سوی تحریر د مخې په سکینه بیګم باندې درې طلاقه
واقع سوي دي، او هغه په خپل خاوند باندې په طلاق مغلظه سره حرامه سوې ده، اوس
د شرعي حلالې څخه بغیر دوباره نکاح هم نسې کیدی، او د شاهدۍ په باره کې چې
تاسو د کومې خبرې پوښتنه کړې ده په هغه کې لوی تفصیل دی چې هغه په مکمل طور
باندې دلته لیکل مشکل دي، دا کار د حاکم دی چې هغه د شاهدانو د اخستو په وخت
کې د دې خبرې تصدیق وکې چې په دوی کې شرایط پیداکیږي او که نه؟ د هغوی د
طرفه، استصواب وی نو حکم به ورته وښوول سی.

والله سبحانه اعلم
۸/ ۱۲/ ۱۳۹۲هـ
(فتوی نمبر ۲۷۸۱/ ۲۷ و)

درې طلاقونه وروسته د عدې احکام او د طې سوی حلالې شرعي حیثیت

سوال: مسماة ساجده د خاوند په اجازت سره بغیر د څه جګړې څخه د خپل مور او پلار
کورته د څه وخت د پاره ولاړه، د یوڅو ورځو څخه وروسته ساجدې ته د ډاک په ذریعه
طلاق نامه ورکول سوه، د ساجدې پلار د هغه د خاوند زید ته هغه طلاق نامه وښووله.
زید د طلاقنامې څخه انکار وکی، او وی وئیل چې: دا د کوم دښمن کار روایی ده، زید
خپله ښځه ساجده بیرته کورته بوتله د څه وخت څخه وروسته هغه بیا د پلار کره ولاړه،
هغه ته بیا زید د ډاك په ذریعه طلاقنامه ولیږله د پوښتنې په وخت زید بیا د طلاقنامې
څخه انکار وکی، په دریم وار بیاهم د مسماة مذکورې سره همداسې وسول، مسمی زید
د حسب سابق په شان د طلاقنامې څخه انکار وی، خو د زیات دریافت او تفتیش کولو
څخه یې خپلو همزولو او دوستانو ته صفا ووئیل: چې هغه ساجدې ته طلاق ورکړی
دی. د دې څخه مخکې مې هم دوې طلاقنامې ورلیږلې دي، ساجده خاتون هم په هغه
کورکې اوسیږي په کوم کې چې د هغې خاوند هم اوسیږي، د زید دوه درې ورونه هم پ

داوایی چی زمانیت خو صرف د یو طلاق وو، ما صرف د غصی په حالت کی داسی
وویل. زما اراده او زمانیت صرف د یو طلاق وو،
دوهمه خاص خبره داده: چی کوم وخت د طلاق الفاظ او دا واقعه وسوه په هغه وخت زه
(سائله) ایام حمل کی یم، په هرحال د حمل په ورځو کی او د غصی په ډیر سخت حالت
کی داواقعه سوی ده، د قرآن او حدیث په رڼاکی جواب راکړئ. عند الله مأجور سئ.
جواب: په صورت مسئوله کی په تاباندی دری سره طلاق قضاً واقع سوی دی، یعنی
اوس ستا د پاره د هغه سره د ښځی په حیثیت پاته کیدل جائز نه دی او اوس د حلالی
څخه بغیر د هغه سره ستا دوهمه نکاح هم نسی کیدی او طلاق د حمل په حالت کی هم
کیږی.
لما فی الدر المختار كرّر لفظ الطلاق وقع الكل وان نووى التأكيد دين.
وقال الشامی ای ووقع الكل قضاءً وكذا اذا أطلق اشباه: ای بأن لم ينو استئنافًا
ولاتأكيداً. لان الاصل عدم التأكيد. (شامی ج: ۲ ص: ۴۲۰) [۱]

والله سبحانه اعلم

۱۱/۹/۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۹۲۹ ج)

په عدالت کی د درو طلاقو د شاهدی د پاره چی د کومو شاهدانو ضرورت دی هغه شاهد څنګه کیدل پکار دی؟

سوال: زما یعنی مسمیٰ محمد سوار خان ولد افسر خان واده د مسماة سکینه بیګم بنت
شیرزمان سره یو کال مخکی سوی وو، خو په دی دوران کی به جنګ جګړی کیدی، او
ښځی زما دوژلو کوشش هم وکی، او داکوشش یی تراوسه پوری جاری دی نو څکه زه
مجبوره سوم، او خپله ښځه مسماة سکینه بیګم مذکوره بالا (چی ډری څلور خایه
بدنامه سوی هم ده) دری واره طلاق په سبب د شرع په تکرار سره دری واره طلاق،
طلاق، طلاق ورکوم. او داسی ښځه په خپله نکاح کی نه ساتم، او کوم حق مهر چی د
هغه دی هغه می ورته اداء کړی دی، لهٰذا دا ښځه اوس په ماباندی حرامه ده، زمانو د
هغی سره کارنسته.

[۱] الدر المختار مع رد المختار ج: ۳ ص: ۲۹۳ (طبع سعید)

شاهد: محمد صد صدیق خان، شاهد: محمد حسین خان، شاهد: محمد سلیم خان
د برنی طلاق نامی د مخی شرعی حکم څه دی او که د طلاق مسئله په عدالت کی پیښه
سی او طلاق ورکوونکی منکروی نو د شاهدانو به ضرورت وی شرعًا شاهدان څنګه
پکار دی؟
جواب: د طلاقنامی ترشا درج سوی تحریر د مخی په سکینه بیګم باندی دری طلاقه
واقع سوی دی، او هغه په خپل خاوند باندی په طلاق مغلظه سره حرامه سوی ده، اوس
د شرعی حلالی څخه بغیر دوباره نکاح هم نسی کیدی، او د شاهدی په باره کی چی
تاسو د کومی خبری پوښتنه کړی ده په هغه کی لوی تفصیل دی چی هغه په مکمل طور
باندی دلته لیکل مشکل دی، دا کار د حاکم دی چی هغه د شاهدانو د اختسو په وخت
کی د دی خبری تصدیق وکی چی په دوی کی شرایط پیداکیږی او که نه؟ د هغوی د
طرفه، استصواب وی نو حکم به ورته وښوول سی.

والله سبحانه اعلم

۸/۱۲/۱۳۹۲ھ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۷۸۱ و)

درې طلاقونه وروسته د عدی احکام او د طی سوی حلالی شرعی حیثیت

سوال: مسماة ساجده د خاوند په اجازت سره بغیر د څه جګړی څخه د خپل مور او پلار
کورته د څه وخت د پاره ولاړه، د یوڅو ورځو څخه وروسته ساجدی ته د ډاګ په ذریعه
طلاق نامه ورکول سوه، د ساجدی پلار د هغه د خاوند زید ته هغه طلاق نامه وښووله.
زید د طلاقنامی څخه انکار وکی، او وی وئیل چی: دا د کوم دښمن کار روایی ده. زید
خپله ښځه ساجده بیرته کورته بوتله د څه وخت څخه وروسته هغه بیا د پلار کره ولاړه،
هغه ته بیا زید د ډاك په ذریعه طلاقنامه ولیږله د پوښتنی په وخت زید بیا د طلاقنامی
څخه انکار وکی، په دریم وار بیاهم د مسماة مذکوری سره همداسی وسول، مسمیٰ زید
د حسب سابق په شان د طلاقنامی څخه انکار وی، خو د زیات دریافت او تفتیش کولو
څخه یی خپلو همزولو او دوستانو ته صفا ووئیل: چی هغه ساجدی ته طلاق ورکړی
دی، د دی څخه مخکی می هم دوی طلاقنامی ورلیږلی دی، ساجده خاتون هم په هغه
کورکی اوسیږی په کوم کی چی د هغی خاوند هم اوسیږی، د زید دوه دری وړونه هم په

هغه کورکی اوسیږی، د ساجدی والدین او د خاندان خلګ غواړی، چی هغه د پلار کورته راولی. او د ساجدی عقد ثانی د بکر سره او بیا د بکر څخه د طلاق اخستو څخه وروسته د ساجدی نکاح دوباره د زید سره وسی، واضحه دی وی چی د اول او دوهم طلاق په مینځ کی د ساجدی د خیتی څخه یوماشوم هم سوی دی چی ژوندی دی.

۱: آیا د ساجدی هم په هغه کور کی اوسیدل جائز دی، چیری چی زید او بکر وسیږی.

۲: آیا د مخکی څخه د بکر سره د نکاح کولو څخه طلاق اخستوسره به یی د زید سره نکاح صحیح وی. او دا حلاله به شرعی وی؟

۳: که پورته ذکرسوی صورت جائز دی، نو هغه خلګو سره چی داسی کول غواړی د هغوی سره تعلقات ساتل او د هغوی سره خوراك چښناك کول شرعًا څنګه دی؟

۴: د دوو طلاقو په مینځ کی چی کوم اولاد سوی دی د هغه څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی په ساجدی باندی طلاق واقع سوی دی. او د طلاق څخه وروسته د ماشوم د پیدایش سره عده هم ختمه سوی ده لهذا اوس د ساجدی سره د زید په کورکی اوسیدل صحیح نه دی، بالخصوص چی کمره یوه وی (۱) او په هغه کی نور وړونه هم ورسره وسیږی.

۲: د مخکی څخه طی سوی پروګرام لاندی د حلالی په غرض نکاح کول شرعًا جائز نه دی (۲) په حدیث شریف کی په دی باندی وعید راغلی دی. البته د حلالی د غرض څخه بغیر دوهم خاوند اتفاقًا طلاق ورکړی نو بښځه د مخکی خاوند د پاره حلالیدی سی.

خو: حلالی ضرورت په هغه وخت کی دی چی مخکی طلاقنامی کی یی دری طلاقه ورکړی وی که په مخکی طلاق نامه کی یی دری طلاقه نه وی ورکړی، بلکی وروستنی طلاقنامه یی شمار کولو یی دری طلاقه پوره سوی وی نو د دی حکم به جلا وی. په دی

---

(۱) د حوالی د پاره سابقه ص ۵۲۵ حاشیه ۲ او ۳ وګوری.

(۲) فی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۱۴ (طبع سعید) وکره التزوج للثانی تحریمًا لحدیث لعل المحلل والمحلل له بشرط التحلیل کتزوجتك علی ان احللك وان حلت للاول لصحة النکاح وبطلان الشرط الخ

وفی الهندیة ج: ۱ ص: ۴۷۴ (طبع رشیدیه کویته) رجل تزوج امرأة ومن نیة التحلیل ولم یشترطا ذالك تحل للاول بهذا ولایکره ولیست النیة بشئ ولوشرطا یکره وتحل عند ابی حنیفة وزفر رحمهم الله تعالی وکذافی الخلاصة. او هدا رنګه وګوری ص حاشیه نمبر ۶.

صورت کی مخکی طلاق نامه راولیږه، او دوباره د مسئلی پوښتنه وکړه او دا کاغذ ورسره ضرور راولیږه.

۳: کوم خلګ چی داسی کول غواړی هغوی لره د خدای ﷻ د بیری څخه بیرولو سره پوه کړی.

۴: که اولاد د طلاق څخه دووکالو کی دننه پیداسی، نو د ده نسب به طلاق ورکوونکی ته ثابت وی خو په دی شرط چی ښځی په دی دوران کی د عدی تیریدلو اقرار نه وی کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۶/۱۰/۲۱ھ

(فتوی نمبر ۲۷/۲۴۲۸ ھ)

په یووخت کی دری طلاقه ورکولو سره د څلورو امامانو په نزد دری سره واقع کیږی

سوال: ګذارش دادی چی زما د (شمیم اختر) خاوند زماسره جنګ وکی په معمولی خبره زما د آمه او د آمه خاوند په وینا یی دری طلاقه ولیکل او ماته یی را ولیږل، چی د ډیری سختی غصی په حالت کی ولیکل او پټ یی د رالیږلو په ځای یی زما د اکه کورته ولیږل، اوس هغه پخپله هم ډیرپښیمانه دی او معافی غواړی زه هم ډیره پریشانه یم اونه غواړم چی جلاسم، اوس هغه فتوی رالیږی او ما غواړی او وایی چی زما د پاره څه ګنجایش سته او که نه؟ زما د یونیم کال ماشومه هم ده، او زه ډیره پریشانه یم او هغه هم پریشانه دی څه وکړو؟

جواب: په صورت مسئوله کی په شمیم اختر باندی د هغه د خاوند د اړخه دری طلاقه واقع سوی دی او هغه په خاوند باندی حرامه سوی ده، او د حلالی څخه بغیر یی د اولنی خاوند سره نکاح جائز نه ده (۱). د امام ابوحنیفه رحمه الله امام شافعی رحمه الله. امام مالك رحمه الله، او امام احمد حنبل رحمه الله څلورو سرو بلکی د جمهورو فقهاوو هم دا

---

(۱) د حوالی د پاره سابقه فتوی ص او د هغی حواشی ۶ تر ۶ پوری وګوری.

مسلك دی (۱)، او په شمیم اختر باندی واجب دی چی هغه بغیر د حلالی ښځه په خاوند نه د نږدی کیدلو ښځه مکمل اجتناب وکړی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۸/۲۳ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۸/۸۲۹ ج)

درې طلاقه مجتمعاً او که متفرقاً ورکړی درې سره واقع کیږی

سوال: زموږ په خواکی مسمیٰ زید خپلی ښځی ته یودم درې طلاقه ورکړل. او د کچهرو ښخه یی باقاعده عرض نویسی ولیکله، دوه شاهدان یی ولیکل خپل دستخط او د شاهدانو دستخطونه یی هم وکړل، او خپلی ښځی ته یی ورکړل زماخواته یی طلاقنامه راوړله، ماورته ووئیل چی په دی تاته طلاق مغلظه واقع سول، زید د بل کوم مفتی ښخه فتویٰ راوړله چی یو طلاق رجعی واقع سوی دی، او ښځه او خاوند اوسیدل. د کلی خلک اعتراض کوی، او پوښتنه کوی، چی د زید او هندی سره تعلق څنګه دی؟

جواب: درې طلاقه که په یووخت کی ورکول سی او که په متفرقو وختونو کی په هرصورت کی درې طلاقه واقع کیږی (۲) او د دی ښځه وروسته نه رجوع کیږی او نه د حلالی ښځه بغیر د سر ښخه بیا نکاح ممکن ده (۳)، په دی مسئله باندی د څلور سره امامانو امام ابو حنیفه رحمه الله، امام شافعی رحمه الله، امام مالك رحمه الله او امام احمد حنبل رحمه الله اجماع ده (۴)، لهذا که زید واقعاً هندی ته درې طلاقه ورکړی وی، نو هنده په خپل خاوند باندی حرامه سوه. او د حلالی ښځه بغیر یی د هغه سره هیڅکله نکاح جائز نه ده (۵) ځینی داسی حضرات چی څلورو امامانو کی د چا هم تقلید نه کوی د جمهور امت په خلاف درې په یووخت کی ورکول سوی طلاقونه په یوشمیر کوی او د رجوع فتویٰ ورکوی، خو دا فتویٰ د حنفی، شافعی، مالکی او حنبلی د کومی فقهی له مخی

(۱) د حوالی د پاره سابقه فتویٰ ص حاشیه ع وګوری.
(۲) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه ع وګورئ.
(۳) د حوالی د پاره سابقه ص فتویٰ او د هغی حواشی ع تر ع وګورئ.
(۴) د حوالی د پاره دوهمه حاشیه وګورئ.
(۵) وګوری د تیر صفحی اوله حاشیه، او د ص حاشیه نمبر ع او ع.

هم صحیح نه وی (۱) صرف د نفس د خواهش د پاره د داسی خلګو ښخه فتویٰ اخستل او مطلقه په خپل کور کی ساتل بدترینه ګناه ده، زید او هندی د سمدستی جلاکیدل واجب دی، که نه وی نو هغوی به تول عمر د حرامکاری مجرم وی، خپلوانو او دوستانو ته هم پکاردی چی خپل اثر او رسوخ په هغوی استعمال کړی او دوی پوه کړی او که هغوی منع نسی نو د هغوی سره دی دوستانه تعلقات نه ساتی.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۸/۲/۹ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۹/۵۸۲ ب)

درې طلاقو ښځه وروسته د عدی په دوران کی د پردی اهتمام واجب دی

سوال: د یوی ښځی او خاوند په مینځ کی په څه خبری باندی جنګ سوی وو، او خاوند په درد کی رالی. او ښځی ته یی په یووار ووئیل: ولاړه سه په تاباندی درې شرعی طلاقه دی. ولاړه سه ته دی طلاقه یی، او دا مور خورده، صرف یووار یی ووئیل د انجلی د مور او پلار نوم یی وانخستی، او انجلی خپله موجوده ده اوس دا ښځه د دغه سړی په کورکی د اوسیدو قابله ده او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی په ښځی باندی درې طلاقه واقع سوی دی، او هغه مغلظه سوی دی (۲) اوس د دواړو په مینځ د شرعی حلالی ښځه بغیر نکاح هم نسی کیدلی (۳)، د عدی په دوران کی دی ښځه د خاوند په کور کی اوسیږی، خو د پردی دی پوره اهتمام وسی (۴)، ځکه چی اوس هغه د خپل خاوند د پاره بالکل د پردی ښځی په حکم کی ده.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۳/۱۳ هـ
(فتویٰ نمبر ۲۸/۳۲۵ ب)

(۱) وګوری د تیری صفحی دوهمه حاشیه.
(۲) ایضاً.
(۳) د حوالی د پاره سابقه ص فتویٰ او د هغی حواشی ع تر ع پوری.
(۴) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه نمبر ع او ع وګورئ.

د طلاق تعداد ورته ياد نه وي خو کم ترکمه دری واره یې غالب گمان وي نو څه حکم دی؟

سوال: په څه خبره باندي زما د ښځي سره جنگ سوی وو، د جنگ په دوران کی زه په هوش کی نه وم. او نه ماته د څه خبری علم وو چی زه څه وایم؟ د مور په وینا باندی طلاق ورکرم، ما ناڅاپي د خپلی مور په آواز باندی لفظ د طلاق وواېه. زما اندازه ده چی مادری واره وئیلی دی، خوماته دامعلومه نه ده چی زما د خُلی څخه د طلاق لفظ څو واره وتلی دی او نه زه د دی شاهدی ورکولی سم چی ما د خپلی ښځی څخه پوښتنه وکړه چی وایه ماتانه طلاق درکړی دی؟ هغه ووئیل: چی ما د طلاق لفظ په خپلو غوږونو سره نه دی اوریدلی.

د ښځی بیان: زما جگړه شروع وه زه په دی جگړه کی دومره پریشانه وم، چی زما خاوند لفظ د طلاق وئیلی دی او که نه ماهیڅ نه دی اوریدلی. چی د هغه په شهادت زه الله او رسول لرم نور النساء

د مور بیان: ما د هلك د خُلی څخه لفظ د طلاق نه دی اوریدلی، خدای او رسول شاهد جوړوم.

جواب: د سائل څخه زبانی معلوم سول چی هغه څو واره د طلاق الفاظ وئیلی دی او وئیل یی خوصحیح عدد ورته یاد نه دی، د هغه غالب گمان دادی چی کم ترکمه دری واره یی ضرور وئیلی دی، لهذا په صورت مسئوله کی د هغه په ښځی باندی دری طلاقه واقع سوی دی او هغه مغلظه سوی ده (۱)، اوس د هغه ښځه آزاده ده، چی عدة تیره کړی نو بله نکاح کولی سی، اوس د سائل سره د هغه نکاح هم د شرعی حلالی څخه بغیر نسی کیدلی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۸/۳/۱۳۹۷ هـ
(فتوی نمبر ۳۲۸/۲۸ ب)

---

(۱) د حوالی د پاره سابقه ص: فتوی او د هغی حواشی نمبر ع او ع وگوری.
(۲) ایضاً.

د درو طلاقو څخه وروسته د حاملی عده او د حلالی مسئله

سوال: مسمیٰ بشیر احمد خپلی ښځی هاجری ته د درد په حالت کی دا الفاظ ووئیل: طلاق، طلاق، طلاق. حالانکی نه خو د اول څخه د هغه د طلاق ورکولو اراده وه او نه په دغه وخت کی، بس په درد کی بغیر د سوچ څخه یی دری ځلور واره د طلاق لفظ استعمال کی. په پورته مذکوره صورت کی په مسماة هاجری باندی طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع سوی وی نو کوم طلاق به واقع سوی وی؟ او په خپل مینځ کی د رضامندی به څه صورت وی؟ مسماة هاجره په هیڅ صورت کی (یعنی که طلاق واقع سوی وی نوبیاهم) د بشیر احمد د کور څخه د وتلو د پاره تیاره نه ده. او په دی وخت کی مسماة هاجره حامله هم ده، ځلور بچی یی په پرورش کی دی. په کوم صورت کی مسماة هاجره د بشیر احمد په کورکی د خپلو بچوسره پاته کیدلی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مسمیٰ بشیر احمد ښځه مسماة هاجری باندی دری طلاقه واقع سوی دی. دا طلاق مغلظ دی (۱) لهذا اوس نه خاوند رجوع کولی سی، او د شرعی حلالی څخه بغیر دوباره خپل په مینځ کی نکاح هم نسی کولی (۲). او طلاق د حمل په حالت کی هم کیږی (۳)، د دی عده د ماشوم پیداکیدل دی (۴)، د بچی د پیداکیدلو پوری هغه د خاوند په کورکی د پردی سره دی اوسیږی (۵)، او د ښځی او خاوند په حیثیت سره د یوبل سره ملاویدل او بی پردی مخ نه راتلل دا ټول ناجائز دی. د ماشوم پیداکیدلو څخه وروسته مسماة هاجره چی چیری وغواړی نکاح کولی سی (۶)، بیا که هغه خاوند د کوروالی څخه وروسته پخپله طلاق ورکړی او یا د هغه انتقال وسی نو په هغه وخت کی هغه د مسمیٰ بشیر احمد سره په نوی مهرباندی نکاح کولی سی. د دی څخه ماسوا خپل په مینځ کی د ملاویدلو هیڅ کوم صورت نسته.

والله سبحانه اعلم

---

(۱) ایضاً.
(۲) د حوالی د پاره سابقه ص فتوی او د هغی حواشی د ع تر ع پوری وگوری.
(۳) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه نمبر ع وگوری.
(۴) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه نمبر ع وگوری.
(۵) د حوالی د پاره د ص حاشیه ع تر ع پوری وگوره!
(۶) د حوالی د پاره د ص حاشیه نمبر ع وگوری.

د طلاق تعداد ورته یاد نه وي خو کم ترکمه دری واره یې غالب گمان وي نو څه حُکم دی؟

سوال: په څه خبره باندی زما د ښځی سره جنګ سوی وو، د جنګ په دوران کی زه په هوش کی نه وم. او نه ماته* د څه خبری علم وو چی زه څه وایم؟ د مور په وینا باندی طلاق ورکړم، ما ناڅاپی د خپلی مور په آواز باندی لفظ د طلاق ووایه، زما اندازه ده چی مادری واره ویلی دی، خو ماته دامعلومه نه ده چی زما د خُلی څخه د طلاق لفظ څو واره وتلی دی او نه زه د دی شاهدی ورکولی سم چی ما د خپلی ښځی څخه پوښتنه وکړه چی وایه ماتانه طلاق درکړی دی؟ هغه ووئیل: چی ما د طلاق لفظ په خپلو غوږونو سره نه دی اوریدلی.

د ښځی بیان: زما جګړه شروع وه زه په دی جګړه کی دومره پریشانه وم، چی زما خاوند لفظ د طلاق وئیلی دی او که نه ماهیڅ نه دی اوریدلی، چی د هغه په شهادت زه الله او رسول لرم نوز النساء

د مور بیان: ما د هلك د خُلی څخه لفظ د طلاق نه دی اوریدلی، خدای او رسول شاهد جوړوم.

جواب: د سائل څخه زبانی معلوم سول چی هغه څو واره د طلاق الفاظ وئیلی دی او وئیل یی خوصحیح عدد ورته یاد نه دی، د هغه غالب گمان دادی چی کم ترکمه دری واره یی ضرور وئیلی دی، لهذا په صورت مسئوله کی د هغه په ښځی باندی دری طلاقه واقع سوی دی او هغه مغلظه سوی ده (۱)، اوس د هغه ښځه آزاده ده، چی عده تیره کړی نو بله نکاح کولی سی، اوس د سائل سره د هغه نکاح هم د شرعی حلالی څخه بغیر نسی کیدلی. (۲)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۳/۱۸ هـ
(فتوی نمبر ۳۲۸/ ۲۸ ب)

(۱) د حوالی د پاره سابقه ص: فتوی او د هغی حواشی نمبر ۶ او ۶ وگوری.
(۲) ایضاً.

د درو طلاقو څخه وروسته د حاملی عده او د حلالی مسئله

سوال: مسمی بشیر احمد خپلی ښځی هاجری ته د درد په حالت کی دا الفاظ ووئیل: طلاق، طلاق، طلاق، حالانکی نه خو د اول څخه د هغه د طلاق ورکولو اراده وه او نه په دغه وخت کی، بس په درد کی بغیر د سوچ څخه یی دری څلور واره د طلاق لفظ استعمال کی، په پورته مذکوره صورت کی په مسماة هاجری باندی طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع سوی وی نو کوم طلاق به واقع سوی وی؟ او په خپل مینځ کی د رضامندی به څه صورت وی؟ مسماة هاجره په هیڅ صورت کی (یعنی که طلاق واقع سوی وی نوبیاهم) د بشیر احمد د کور څخه د وتلو د پاره تیاره نه ده، او په دی وخت کی مسماة هاجره حامله هم ده، څلور بچی یی په پرورش کی دی، په کوم صورت کی مسماة هاجره د بشیر احمد په کورکی د خپلو بچوسره پاته کیدلی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مسمی بشیر احمد ښځه مسماة هاجری باندی دری طلاقه واقع سوی دی. دا طلاق مغلظ دی (۱) لهذا اوس نه خاوند رجوع کولی سی، او د شرعی حلالی څخه بغیر دوباره خپل په مینځ کی نکاح هم نسی کولی (۲)، او طلاق د حمل په حالت کی هم کیږی (۳)، د دی عده د ماشوم پیداکیدل دی (۴)، د بچی د پیداکیدلو پوری هغه د خاوند په کورکی د پردی سره دی اوسیږی (۵)، او د ښځی او خاوند په حیثیت سره د یوبل سره ملاویدل او بی پردی مخ ته راتلل دا ټول ناجائز دی، (۶)، بیا که هغه خاوند د کوروالی څخه وروسته پخپله طلاق ورکړی او یا د هغه انتقال وسی نو په هغه وخت کی هغه د مسمی بشیر احمد سره په نوی مهرباندی نکاح کولی سی. د دی څخه ماسوا خپل په مینځ کی د ملاویدلو هیڅ کوم صورت نسته.

والله سبحانه اعلم

(۱) ایضاً.
(۲) د حوالی د پاره سابقه ص فتوی او د هغی حواشی د ۶ تر ۶ پوری وگوری.
(۳) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه نمبر ۶ وگوری.
(۴) د حوالی د پاره سابقه ص حاشیه نمبر ۶ وگوری.
(۵) د حوالی د پاره د ص حاشیه ۶ تر ۶ پوری وگوره!
(۶) د حوالی د پاره د ص حاشیه نمبر ۶ وگوری.

۹/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۳۱/ ۲۸ ج)

د رخصتی څخه مخکی دری واره لفظ د طلاق استعمالولو حُکم

سوال: څه فرمائی علماء د دین مبین په دی مسئله کی په کوم وخت چی زما عمر دیارلس کاله وو، زما مور زمانکاح د یوغیر ملکی سره چی د هغه نوم حمیروز خان ولد نادر خان وو، کوزده وکړله، رخصتی نه ده سوی د غیر ملک څخه بغیر د پاسپورټ څخه راغلی وو، مذکوره سړی په خپله چالاکی سره زماګنده مور مرغوبه کړه، او د بنګلی او موټر لالچ یی ورکی، زما نکاح یی حاصله کړه دغه سړی زما د مور څخه څوارلس زره روپی هم پټی کړی، زمامور او خپلوانو په هغه سړی زور راوړی چی هغه دی د رخصتی پوری خرڅ او هغه پیسی چی زما د مور څخه یی اخستی دی، بیرته راکړی، خو هغه نه د والدی پیسی ورکړی او نه یی د رخصتی بندوبست وکی جون سنه ۱۹۲۸ء یوه شپه تقریباً یوولس نیمی بجی زما د پلار په کورکی خپلوان او محلی دار هم جمع وه حمیروز ولد نادر خان ماته په زور دارو الفاظو سره دری واره طلاقو طلاق ووایه، او د شاهدانو په مخکی هغه ماته دری روپی راکړی او د ټولو په مخکی یی ماته ووئیل: چی ته زما مور او خوریی. داکار روائی د شاهدانو په مخکی وسوه.

اوس سوال دادی، چی په دی وخت زما عمر ۱۴ کاله دی، زه بالغه یم او غواړم چی د خپلی خوښی واده وکړم زما مور کنده ده، د مجبوری او غریبی ژوند تیروی، په دی صورت کی زما د پاره څه حکم دی؟

جواب: که په سوال کی درج سوی واقعات درست وی او حمیروز ولد نادرخان واقعاً رضیه بیګم ته طلاق ورکړی دی، نو یوطلاق باین واقع سوی دی (۱) او چونکی د دی واقعی دری کاله تیرسوی دی نو عده هم ختم سوی ده، اوس چی رضیه بیګم چیری وغواړی نکاح کولی سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۷/ ۷/ ۱۳۹۱ هـ

---

(۱) د راتلونکی صفحی دوهمه حاشیه وګورئ.

(فتوی نمبر ۸۲۳/ ۲۲ ب)

که خلوت سوی وی نو دری طلاقو سره به ښځه مغلظه سی

سوال: مسمی زید خپلی ښځی بنت بکرته یوه رجستړی را ولیږله، په خپل مینځ کی یی د طویلی جګړی په وجه بنت بکر د هغه د وصولولو څخه انکار وکی مسمی زید هم د هغی رجستړی نقل متعلقه چیرمین یونین کمیټی ته ولیږلو چی د هغه عبارت په لاندی ډول ود، (بنت بکر چی زما منکوحه ده) چی د هغی د خیټی څخه زما د نطفی څخه څه اولاد نسته زه په یوڅو وجوهو (چی د هغه ذکردلته مناسب نه ګنم) په بناء باندی طلاق ورکوم او د خپل زوجیت څخه یی آزادوم، زه هغی ته طلاق، طلاق طلاق ورکوم. هغه زما د زوجیت څخه خارج او آزاده ده..... الخ، د دی واقعی پنځه میاشتی تیری سوی دی، د بنت بکر د پاره د شریعت په رڼاکی څه لاره متعین کړی.

جواب: په صورت مسئوله کی د زید د اړخه د هغه په ښځی باندی دری طلاقه واقع سوی دی او هغه مغلظه سوی ده، چی د هغه حکم دادی: چی اوس د حلالی څخه بغیر د دواړو د پاره نکاح هم جائز نه ده (۱)، خو داحکم په هغه صورت کی دی چی کله د نکاح څخه رخصتی سوی وی او د ښځی او خاوند خلوت سوی وی (۲)، که خلوت نه وی سوی نو د مسئلی دوباره پوښتنه وکړه.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه وتعالی اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۷/ ۲/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۲۶۴/ ۲۲ - الف)

---

(۱) وګوری سابقه حواله ص ع فتوی او د هغی حواشی ع او ع.

(۲) وفی الدر المختار باب الطلاق غیر المدخول بها ج: ۳ ص: ۲۸۶ (طبع سعید) وان فرق بانت بالاولی ولم تقع الثانیة بخلاف الموطؤة حیث یقع الکل وعم التفریق. وفی الشامیة تحته (قوله بخلاف الموطؤة) ای ولو حکما کالمختلی بها فانها کالموطوئة فی لزوم العدة وکذا فی وقوع الطلاق بائن فی عدتها..... الخ.

په یو وخت کی دری طلاقه ورکولو سره دری سره په واقع کیدلو باندی د امامانو اتفاق دی او د دی په خلاف د فتوی څه اعتبار نسته

سوال: د دی سوال سره یوه طلاقنامه منسلك ده چی سهیل احمد فیضی صاحب خپلی ښځی ته ورکړی ده او د یونین کونسل چیرمین صاحب ته یی نوټس لیږلی دی، پوښتنه داکول دی، چی د دی طلاقنامی د مخه د سهیل احمد صاحب په اهلیه باندی طلاق واقع سو او که نه؟ که واقع سوی وی نو کوم یو؟ ورسره داچی سهیل احمد صاحب د دی طلاق څخه وروسته د طلاق څخه د رجوع کولو اراده هم ښکاره کړی ده. آیا په شرع کی هغه ته د رجوع کولو حق حاصل دی او که نه؟ هرکله چی په دی تحریر کی دری طلاقه په صفا الفاظو کی لیکلی دی او هغوی د چیری څخه د درو طلاقو د یوکیدلو فتوی هم اخستی ده د دی څه حیثیت دی؟

جواب: د طلاقنامی (۱) ترشا، په درج سوو مطالبو باندی غور وسو، په شرعی اعتبار سره د دی طلاق د مخه د سهیل احمد فیضی صاحب په ښځی خالد سلطانه صاحبی باندی دری طلاقه واقع سوی دی (۲) او د طلاق مغلظه د واقع کیدلو په وجه باندی هغه د سهیل احمد فیضی صاحب د پاره حرامه سوی ده، اوس نه رجوع کیدلی سی او نه نوی نکاح کیدی سی. په قرآن کریم کی دی: فَإِنْ طَلَّقَهَا فَلَا تَحِلُّ لَهُ مِنْ بَعْدُ حَتَّىٰ تَنْكِحَ زَوْجًا غَيْرَهُ (سورة البقره: ۲۳۰) یعنی که خاوند هغه ته دریم طلاق ورکړی، نو هغه د خاوند د پاره تر هغه وخته پوری نسی رواکیدی، ترڅو چی هغه د بل سړی سره نکاح ونکړی همدا رنګه ورسره د نبی کریم ﷺ د ډیرو احادیثو هم دا تقاضا ده. مثلاً د حضرت محمود بن لبید ... حضرت علی رضی الله عنه څخه روایت دی: چی حضور ﷺ ارشاد وفرمائیلو ایما رجل

---

(۱) د فتاوی د ریکارډ په نقل کی د طلاقنامه موجوده نه ده ترڅو چی معلومه سی چی هغه کی د خاوند د درو طلاقو د جواب څخه واضح او ښکاره دی (محمد زبیر حقنواز)

(۲) وفی السنن لابی داؤد ج: ۱ ص: ۳۰۶ (طبع حقانیه ملتان) عن مجاهد قال: کنت عند ابن عباس فجاءه رجل فقال انه طلق امرأته ثلاثة. قال: فسکت حتی ظننت انه رادها الیه ثم قال ینطلق احدکم فیرکب الحموقة ثم یقول یا ابن عباس یا ابن عباس وان الله قال: ومن یتق الله یجعل له مخرجا وانک لم تتق الله فلا اجد لک مخرجا عصیت ربک وبانت منک امرأتک

طلق امراته ثلاثا عند الاقراء او ثلاثا مبهمة لم تحل له حتی تنکح زوجا غیره. (سنن البیهقی ج: ۷ ص: ۳۳۶) (۱)

د دی څخه علاوه د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم او تابعینو هم دا فیصله ده، او څلور امامان: امام ابوحنیفه رحمه الله، امام مالك رحمه الله، امام شافعی رحمه الله او امام احمد بن حنبل صاحب او د دوی ټول مقلدین د قرآن او سنت د دی دلیلونو په رڼا کی هم د دی خبری قائل دی چی دری طلاقه که یو وار ورکول سی، او یا په مختلفو وختونو کی نو په دی سره ښځه حرامیږی، **او کومو بعضو خلکو چی د دی خلاف فتوی ورکړی ده، حنفی شافعی مالکی او حنبلی د هیڅ مذهب علماوو دا د اعتبار قابل نه ده ګرځولی،** تفصیلی دلایل په مفصلو کتابونو کی موجود دی.

مثلاً وګوری (تکمله فتح الملهم، ج: ۱ ص: ۱۵۴ الی ۱۶۱) (۲)

لهذا په صورت مسئوله کی طلاق مغلظه واقع سوی دی او د طلاق د تاریخ څخه دری واره د حیض تیریدلو څخه وروسته چی مسماة خالد سلطان صاحبه شرعاً آزاده ده، چیری چی وغواړی خپله نکاح دی وکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۲/۳/۲۶ هـ

(فتوی نمبر ۳۷/۵۱۷ ب)

---

(۱) طبع نشر السنة ملتان باب ماجاء فی امضاء الطلاق الثلاث وان کن مجموعات

(۲) طبع مکتبه دار العلوم کراچی

فصل فی الخلع و احکامه وللطلاق علی المال

د خلع او مال په بدله کی د طلاق حکم

د خلع د پاره د خاوند او ښځی دواړو رضامندی ضروری ده

ورسره د خلع په بنیاد باندی دفسخ نکاح حکم

سوال: فیصله: مدعی په خپله دعوٰی کی لیکلی دی چی هغه د مدعا علیه سره واده سوی ده، د هغه څخه می دوی انجونی او یو هلك پیداسوی دی وروسته مدعی ته علم وسو، چی د مدعا علیه د هغه دور نداسره ناجائز تعلقات دی. د مدعی په منع کولو باندی په مدعیه بی د دروغو د زنا الزام ولگوی، او وی وهله، د مهر حق اداء نه سو، په دی حالاتو کی د مدعی او مدعا علیه په مینځ کی گذاره نسی کیدلی او نه د حقوق الله حدود قایم پاته کیدلی سی، مدعا علیه د دی الزاماتو تردید کړی دی، او هغه په دی وجه باندی مقابله کړی ده، چی په اصل کی مدعیه هغه رقم هضم کول غواړی چی د نکاح په وخت مدعا علیه اداء کړی دی، نو ځکه دی د مدعی مقدمه فسخ سی، او ۳/ ۱۱/ ۱۹۷۳ء مدعاعلیه یوه بله دعوٰی حقوق زن وخاوند دائرکړله، چی په لاندی تنقیحاتو باندی ۸/ ۵/ ۱۹۷۳ء کی وضع سوه او کار روایی په مثل تنسیخ نکاح باندی عمل کی راوړل سوه.

تنقیح نمبر ۴: مدعی دا تجویز پیش کړی دی چی هغه د تنسیخ نکاح په عوض کی خپل مهر معاف کوی چی تراوسه پوری نه دی اداء سوی، د دی متعلق مدعا علیه څه واضع جواب ورنه کی، او شهادت چی په صفحه د مثل باندی دی، هغه په هرلحاظ سره کافی دی چی د مدعی په حق کی دی تنسیخ نکاح دی وگرځول سی. ځکه چی د جانبینو فریقینو مقدمه بازی فوجداری د زنا په الزام کی ده، د ښځی رایه د خاوند په حقله ښه نه ده. هغه دوربینداری سره د خاوند د ناجائزه تعلقاتو الزام لگولی دی. زه دا مقدمه د صحیح گرځولو سره د خلعی په بنیاد باندی د تنسیخ نکاح ډگری (د هغه پیسو په عوض کی چی د مدعا علیه حق مهر به ورکول وی) ورکوم. هغه رقم کافی دی.

دادرسی: زما د ټولو تنقیحاتو نتیجه داده چی د مدعی مقدمه بابت د تنسیخ. د نکاح مقدمه نمبر ۵۲ آف ۱۹۷۲ء مدعلیه په حق کی د ډگری په خلاف د مدعا علیه صادر

کولی سی، او د دی په نتیجه کی د مدعا علیه مقدمه حقوق زن وشوهر مقدمه نمبر ۵ اف ۱۹۷۳ء بمعه خرچه فسخ کولی سی، ورسره ډگری بابت تنسیخ نکاح یونین کونسل تله گنگ په اوو ورځو کی دننه د ضروری کار روایی د پاره د اتمی دفعی لاندی مسلم فیملی لاء ارډیننس دی راولیږل سی، په آزاد عدالت کی واوریدل سوه. ۴/ ۱۲/ ۱۹۷۵ء دستخط سول حج تله گنگ

جواب: د منسلکه فیصلی سره مستفتی څه سوال نه دی لیکلی. که مقصد داوی چی د دی فیصلی شرعی حیثیت څخه مو خبر دار کړئ، نو عرض دادی چی منسلکه عدالتی فیصله د څلورو امامانو د مذهب مطابق د قرآن او سنت د مخه د خاوند په خوښه باندی موقوف ده، ځکه چی په دی فیصلی کی د خلع حکم صادر سوی دی او خلع په اجماع د امت سره د زوجینو یوه معامله ده چی په خپل مینځ کی یی په رضامندی سره موقوف وی، لهذا که خاوند په خلع کولو باندی راضی وی نو خلع دی وکړی په دی صورت کی د ښځی نکاح به د خاوند سره ختمه سی، او که هغه په خلع باندی راضی نه وی نوشرعا هغه د ښځی په جداکولو باندی هیڅوك مجبوره کولی نسی، خو نوبت داسی مقدمه بازی ته رسیدلی دی، نو د خاوند د پاره ښه داده چی هغه خلع قبوله کړی او ښځه جلاکړی.

والله سبحانه اعلم
۱۱/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ
(فتوٰی نمبر ۲۵۲۲/ ۲۷ هـ)

که قصور د انجلی وی نو خاوند د خلع په بدله کی د ښځی څخه رقم اخستلی سی

سوال: زما (محمد اسحاق) واده په کوشنی والی کی سوی وو، په هغه وخت زموږ د دواړو په مینځ کی څه اختلاف نه وو او نه موڅه ورانه وه، د واده څخه دری کاله وروسته مو یو د بل سره ورانه سوه، اوس بنده بالغ دی خو خسرگنی منکره ده. اوس هغوی داشرط اینبی دی، چی ته به د زوم په کورکی وسیږی او انجلی به هم زموږ په پنځه تولی سره زر، (۱۲) چټاکی سپین زر کالی راوړل سی، نو موږ به انجلی راولیږو او د میاشتی خرچه به هم ورکوی، نو ما ووئیل چی اوس زماسره دومره پیسی نسته. که

فصل فی الخلع و احکامه وللطلاق علی المال

د خلع او مال په بدله کی د طلاق حکم

د خلع د پاره د خاوند او ښځی دواړو رضامندی ضروری ده

ورسره د خلع په بنیاد باندی د فسخ نکاح حکم

سوال: فیصله: مدعی په خپله دعوی کی لیکلی دی چی هغه د مدعا علیه سره واده سوی ده. د هغه ځخه می دوی انجونی او یو هلك پیداسوی دی وروسته مدعی ته علم وسو، چی د مدعا علیه د هغه دور ندا سره ناجائز تعلقات دی. د مدعی په منع کولو باندی په مدعیه یی د دروغو د زنا الزام ولگوی، او وی وهله. د مهر حق اداء نه سو، په دی حالاتو کی د مدعی او مدعا علیه په مینځ کی گذاره نسی کیدلی او نه د حقوق الله حدود قایم پاته کیدلی سی. مدعا علیه د دی الزاماتو تردید کړی دی، او هغه په دی وجه باندی مقابله کړی ده، چی په اصل کی مدعیه هغه رقم هضم کول غواړی چی د نکاح په وخت مدعا علیه اداء کړی دی. نو ځکه دی د مدعی مقدمه فسخ سی. او ۲/ ۱۱/ ۱۹۷۳، مدعاعلیه یوه بله دعوی حقوق زن وخاوند دائرکړله. چی په لاندی تنقیحاتو باندی ۸/ ۵/ ۱۹۷۳، کی وضع سوه او کار روایی په مثل تنسیخ نکاح باندی عمل کی راوړل سوه.

تنقیح نمبر ۴: مدعی دا تجویز پیش کړی دی چی هغه د تنسیخ نکاح په عوض کی خپل مهر معاف کوی چی تراوسه پوری نه دی اداء سوی، د دی متعلق مدعا علیه څه واضح جواب ورنه کی، او شهادت چی په صفحه د مثل باندی دی، هغه په هرلحاظ سره کافی دی چی د مدعی په حق کی دی تنسیخ نکاح دی وگرځول سی. ځکه چی د جانبینو فریقینو مقدمه بازی فوجداری د زنا په الزام کی ده، د ښځی رایه د خاوند په حقله نه ده. هغه دووینداری سره د خاوند د ناجائزه تعلقاتو الزام لگولی دی. زه دا مقدمه د صحیح گرځولو سره د خلعی په بنیاد باندی د تنسیخ نکاح ډگری (د هغه پیسو په عوض کی چی د مدعا علیه حق مهر به ورکول وی) ورکوم. هغه رقم کافی دی.

دادرسی: زما د ټولو تنقیحاتو نتیجه داده چی د مدعی مقدمه بابت د تنسیخ، د نکاح، مقدمه نمبر ۵۲ آف ۱۹۷۲، مدعلیه په حق کی د ډگری په خلاف د مدعا علیه صادر

کولی سی. او د دی په نتیجه کی د مدعا علیه مقدمه حقوق زن وشوهر مقدمه نمبر ۵ اف ۱۹۷۳، بمعه خرچه فسخ کولی سی، ورسره ډگری بابت تنسیخ نکاح یونین کونسل ته گنگ په اوو ورځو کی دننه د ضروری کار روایی د پاره د اتمی دفعی لاندی مسلم فیملی لاء اردیننس دی راولیږل سی، په آزاد عدالت کی واوریدل سوه.

۴/ ۱۲/ ۱۹۷۵، دستخط سول حج تله گنگ

جواب: د منسلکه فیصلی سره مستفتی څه سوال نه دی لیکلی. که مقصد داوی چی د دی فیصلی شرعی حیثیت ځخه مو خبر دار کړی، نو عرض دادی چی منسلکه عدالتی فیصله د څلورو امامانو د مذهب مطابق د قرآن او سنت د مخه د خاوند په خوښه باندی موقوف ده. ځکه چی په دی فیصلی کی د خلع حکم صادر سوی دی او خلع په اجماع د امت سره د زوجینو یوه معامله ده چی په خپل مینځ کی یی په رضامندی سره موقوف وی. لهذا که خاوند په خلع کولو باندی راضی وی نو خلع دی وکړی په دی صورت کی د ښځی نکاح به د خاوند سره ختمه سی، او که هغه په خلع باندی راضی نه وی نوشرعاً هغه د ښځی په جداکولو باندی هیڅوك مجبوره کولی نسی، خو نوبت داسی مقدمه بازی ته رسیدلی دی، نو د خاوند د پاره ښه داده چی هغه خلع قبوله کړی او ښځه جلاکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۵۲۲/ ۲۷ هـ)

که قصور د انجلی وی نو خاوند د خلع په بدله کی د ښځی ځخه رقم اخستلی سی

سوال: زما (محمد اسحاق) واده په کوشنی والی کی سوی وو. په هغه وخت زموږ د دواړو په مینځ کی څه اختلاف نه وو او نه موږ څه ورانه وه. د واده ځخه دری کاله وروسته مو یو د بل سره ورانه سوه، اوس بنده بالغ دی خو خسرگنی منکره ده. اوس هغوی داشرط اینبی دی، چی ته به د زوم په کورکی وسیږی او انجلی به هم زموږ په کوکی وی. کله چی ما د هغوی داشرط منظور کی. نو هغوی یوبل شرط ولگوی. که ته پنځه تولی سره زر، (۱۲) چپاکی سپین زر کالی راوړل سی. نو موږ به انجلی راولیږو او د میاشتی خرچه به هم ورکوی. نو ما ووئیل چی اوس زماسره دومره پیسی نسته. که

فصل فی الخلع و احکامه وللطلاق علی المال

د خلع او مال په بدله کی د طلاق حکم

د خلع د پاره د خاوند او ښځی دواړو رضامندی ضروری ده

ورسره د خلع په بنیاد باندی دفسخ نکاح حکم

سوال: فیصله: مدعی په خپله دعویٰ کی لیکلی دی چی هغه د مدعا علیه سره واده سوی ده، د هغه څخه می دوی انجونی او یو هلك پیداسوی دی وروسته مدعی ته علم وسو، چی د مدعا علیه د هغه دور نداسره ناجائز تعلقات دی. د مدعی په منع کولو باندی په مدعیه یی د دروغو د زنا الزام ولګوی، او وی وهله، د مهر حق اداء نه سو، په دی حالاتو کی د مدعی او مدعا علیه په مینځ کی ګذاره نسی کیدلی او نه د حقوق الله حدود قایم پاته کیدلی سیٰ، مدعا علیه د دی الزاماتو تردید کړی دی، او هغه په دی وجه باندی مقابله کړی ده، چی په اصل کی مدعیه هغه رقم هضم کول غواړی چی د نکاح په وخت مدعا علیه اداء کړی دی، نو ځکه دی د مدعی مقدمه فسخ سی، او ۳/ ۱۱/ ۱۹۷۳ء. مدعاعلیه یوه بله دعویٰ حقوق زن وخاوند دائرکړله، چی په لاندی تنقیحاتو باندی ۸/ ۵/ ۱۹۷۳ء کی وضع سوه او کار روایی په مثل تنسیخ نکاح باندی عمل کی راوړل سوه.

تنقیح نمبر ۴: مدعی دا تجویز پیش کړی دی چی هغه د تنسیخ نکاح په عوض کی خپل مهر معاف کوی چی تراوسه پوری نه دی اداء سوی، د دی متعلق مدعا علیه څه واضح جواب ورنه کی، او شهادت چی په صفحه د مثل باندی دی، هغه په هرلحاظ سره کافی دی چی د مدعی په حق کی دی تنسیخ نکاح دی وګرځول سی، ځکه چی د جانبینو فریقینو مقدمه بازی فوجداری د زنا په الزام کی ده، د ښځی رایه د خاوند په حقله ښه نه ده، هغه دوربینداری‌سره د خاوند د ناجائزه تعلقاتو الزام لګولی دی، زه دا مقدمه د صحیح ګرځولو سره د خلعی په بنیاد باندی د تنسیخ نکاح ډګری (د هغه پیسو په عوض کی چی د مدعا علیه حق مهر به ورکول وی) ورکوم، هغه رقم کافی دی.

دادرسی: زما د ټولو تنقیحاتو نتیجه داده چی د مدعی مقدمه بابت د تنسیخ، د نکاح، مقدمه نمبر ۵۲ آف ۱۹۷۲ء مدعلیه په حق کی د ډګری په خلاف د مدعا علیه صادر

کولی سی، او د دی په نتیجه کی د مدعا علیه مقدمه حقوق زن وشوهر مقدمه نمبر ۵ اف ۱۹۷۳ء بمعه خرچه فسخ کولی سی، ورسره ډګری بابت تنسیخ نکاح یونین کونسل تله ګنګ په اوو ورځو کی دننه د ضروری کار روایی د پاره د اتمی دفعی لاندی مسلم فیمیلی لاء ارډیننس دی راولیږل سی، په آزاد عدالت کی واوریدل سوه.

۴/ ۱۲/ ۱۹۷۵ء دستخط سول حج تله ګنګ

جواب: د منسلکه فیصلی سره مستفتی څه سوال نه دی لیکلی. که مقصد داوی چی د دی فیصلی شرعی حیثیت څخه مو خبر دار کړئ، نو عرض دادی چی منسلکه عدالتی فیصله د څلورو امامانو د مذهب مطابق د قرآن او سنت د مخه د خاوند په خوښه باندی موقوف ده، ځکه چی په دی فیصلی کی د خلع حکم صادر سوی دی او خلع په اجماع د امت سره د زوجینو یوه معامله ده چی په خپل مینځ کی یی په رضامندی سره موقوف وی، لهذا که خاوند په خلع کولو باندی راضی وی نو خلع دی وکړی په دی صورت کی د ښځی نکاح به د خاوند سره ختمه سی، او که هغه په خلع باندی راضی نه وی نوشرعًا هغه د ښځی په جداکولو باندی هیڅوك مجبوره کولی نسی، خو نوبت داسی مقدمه بازی ته رسیدلی دی، نو د خاوند د پاره ښه داده چی هغه خلع قبوله کړی او ښځه جلاکړی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۵۲۲/ ۲۷ هـ)

که قصور د انجلی وی نو خاوند د خلع په بدله کی د ښځی څخه رقم اخستلی سی

سوال: زما (محمد اسحاق) واده په کوشنی والی کی سوی وو، په هغه وخت زموږ د دواړو په مینځ کی څه اختلاف نه وو او نه موځه ورانه وه، د واده څخه دری کاله وروسته مو یو د بل سره ورانه سوه، اوس بنده بالغ دی خو خسرګنی منکره ده، اوس هغوی داشرط ایښی دی، چی ته به د زوم په کورکی وسیږی او انجلی به هم زموږ کوکی وی، کله چی ما د هغوی داشرط منظور کی، نو هغوی یوبل شرط ولګوی، که ته پنځه تولی سره زر، (۱۲) چټاکی سپین زر کالی راوړل سی، نو موږ به انجلی راولیږو او د میاشتی خرچه به هم ورکوی، نو ما ووئیل چی اوس زماسره دومره پیسی نسته. که

تاسو خپله لور د دی شرطونو څخه بغیر رالیږی نو زه تیار یم. ځکه چی د خسرګنی والاوو د اړخه تقاضاده، چی انجلی ځوانه سوی ده، ډیره موده موږ په کورکی انجلی ګرځولو ته تیار نه یو، زه غریب سړی یم. په ډیره مشکله سره د واده د بوجه څخه سپك سوی یم، د خسرګنی والا په دی باندی تقاضا کوی چی ته فوراً زموږ انجلی پریږده زه غریب سړی یم او زما څخه په زبردستی سره خپلی لورته خلاصی حاصلوی. خسرګنی می مالداره ده، زما په واده یی ښه خرچه کړی ده، لهٰذا د خسرګنی والاوو ته می وویل چی مبلغ پنځه زره روپی نقدو اداء کولو څخه وروسته یی خلاصولی سم یا داپنځه زره روپی به زما د پاره جائز وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی که مذکوره واقعات درست وی نو زیاتی د انجلی والاوو د اړخه دی. لهٰذا که ته په پنځه زره روپی باندی خلع وکړی نو ستا د پاره جائز ده. خو افضله داده چی د مهر په معاف کولو باندی اکتفاء وکړی او د دی څخه زیات څه وانخلی. لمافی الدر المختار: وکره اخذ شیئٌ اَن نشز وان نَشَزَت لا. ولومنه نشوزا ایضاً. ولوباکثر مما اعطاها علی الاوجه (فتح) وصحح الشمنی کراهة الزیادة وتعبیر الملتقی ولابأس بِهِ یفید انها تنزیهیة وبه یحصل التوفیق (شامی ج: ۲ ص: ۵۲۱)[۱]

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۷ھ

(فتوی نمبر ۱۰۴۲/ ۲۸ ج)

د نفرت په وجه د تنسیخ نکاح د دعوی حُکم

سوال: څه فرمایی علمائی کرام او مفتیان د شرع مبین د دی مسئلی په باره کی چی فتوی یی غواړم؟

مسئله: که انجلی د رخصتی څخه مخکی (د تنسیخ نکاح په دعوی کی دابیان ورکوی چی هغی د خپل خاوند څخه نفرت وسو (بغیر د څه شرعی وجی څخه) نو آیا د قانون اسلام مطابق د تنسیخ نکاح ډګری عدالت ته صادرول پکار دی او که نه؟ او که بیا د تنسیخ نکاح دعوی خارجولو سره انجلی ته دا ووایی. چی داسی د دروغو دعوی کوونکوته د عدالت څخه څه سزا ورکول پکار دی؟ او آیا بغیر د څه شرعی وجی څخه د خلع په بنیاد باندی انجلی د تنسیخ نکاح یا تکذیب نکاح ډګری حاصلولی سی؟

---

[۱] ج: ۳ ص: ۴۴۵ (طبع سعید)

جواب: په دی مسئله کی تفصیل دی، لهٰذا جواب به په هم هغه وخت کی ورکولی سی کله چی د انجلی مفصل بیام مخ ته وی. والسلام

۷/ ۴/ ۱۴۲۰ ھ

(فتوی نمبر ۱۳/ ۳۷۳)

فصل فی فسخ النکاح عندکون الزوج مفقوداً او عنیناً او متعنتاً او مجنوناً

(د خاوند مفقود، نامر، متعنت، او مجنون کیدلو په وجه د فسخ نکاح احکام

د مفقود ښځی حُکم

سوال: د مسماة هندی خاوند د څلورو کالو څخه ورك سوی دی، د والدینو او ښځی سره د بنګله دیش څخه کراچی ته رالی، حکومت هغه بل ځای ته ولیږی او ښځه یی کیمپ کی وساتله، د هغه څخه وروسته. ورك دی، د ډیر درك څخه وروسته هم څه معلومات ونه سو، اوس هنده د ډیری مجبوری ژوند تیروی په داسی صورت کی هنده دوهم عقد کولی سی او که نه؟

جواب: په مسئوله صورت کی مسماة هندی ته داحق حاصل دی چی هغه دی د مسلمان حاکم په عدالت کی دعوی دائرکړی، اول دی داثابت کړی چی زمانکاح د فلانکی سړی سره سوی ده، بیادی د هغه څخه وروسته د شاهدانو سره د هغه مفقود ورکیدل ثابت کړی، د دی څخه وروسته دی عدالت پخپله هم د مفقود تفتیش او تلاش شروع کی او کله چی د درك ملاویدلو څخه مایوسه سی نو ښځی ته دی مزید. څلور کاله د انتظار حکم ورکړی، بیا که دی څلور کاله کی د ننه هم د مفقود پته ونه لګیدله نو مفقود به څلور کاله مدت ختمیدو باندی مړتصور سی، نو په دغه وخت دی دوباره حاکم ته

درخواست وکړی، د عدالت څخه دی د هغه د مړکیدلو حکم حاصل کړی، او بیا دی ځلور میاشتی او لس ورځی عده د وفات تیر کړی، د دی څخه وروسته هغه په بل ځای کی نکاح کولی سی. او داټول تفصیل په هغه وخت کی دی، چی کله ښځه مزید ځلور کاله په صبر تحمل او عفت سره تیرولی سی که د ښځی د پاره دومره موده صبر کول مشکل وی، او په ګناه کی د اخته کیدلو قوی خطره وی، نو په صورت مسئوله کی حاکم ته داهم اختیار دی، چی هغه دی د ځلور کالو په ځای صرف یو کال د انتظار کولو حکم وکړی، او یو کال انتظار کولو څخه وروسته د مذکوره خاوند د طرفه دی هغې ته طلاق ورکی، او دری واره حیض ورځی د تیریدلو څخه وروسته په بل ځای کی نکاح کولی سی (۱).

(۱) د مفقود د ښځی متعلق تفصیل او تحقیق د پاره د حضرت والا مصدقه لاندی لیکل سوی فتوی وګوری.

سوال: د مفقود د ښځی د پاره شرعی حکم څه دی؟ تفصیل سره یی وضاحت وکړئ؟

جواب: د مفقود د ښځی د پاره خو اصلی حکم دادی: چی هغه دی عفت عصمت سره خپل ژوند تیروی، خو که هغه د مفقود د نکاح څخه خلاصون غواړی نو لاندی صورت اختیارولو سره د خلاصون د حاصلولو ګنجایش سته، د مفقود ښځه دی داخپله مقدمه د مسلمان قاضی په عدالت کی پیش کړی، او شاهدانو سره دی ثابت کړی چی زمانکاح د فلانی سړی سره سوی وه بیادی شاهدانو سره د هغه د مفقود ورکیدل هم ثابت کړی، د دی څخه وروسته دی قاضی په خپل طور سره د هغه تفتیش او تلاش وکی، چیری چی د هغه د تلو غالب ګمان وی، هلته دی سړی ولیږی او چیری چی یی غالب ګمان نه وی صرف احتمال وی نو که هلته خط لیږل کافی وګڼی نو خطونه دی ولیږی تحقیق دی وکړی او که په اخباراتوکی شائع کولو سره د خبر ملاویدلو امید وی نو دادی هم وکړی.

الغرض په تفتیش او تلاش کی دی خپل پوره کوشش وکړی او کله چی د درک لګیدلو څخه مایوسی وسی نو ثانیًا دی ښځی ته مزید د ځلور کالو د انتظار حکم وکړی، بیا که دی ځلورو کالو کی دننه د مفقود څه معلومه نه سوه، نو ښځه دی قاضی ته دوباره درخواست وکړی چی په هغه باندی به قاضی د هغه د مړکیدلو فیصله واوروی، د دی څخه وروسته ځلور میاشتی او لس ورځی د وفات عده تیرولو سره به ښځی ته په بل

ځای کی د نکاح کولو اختیار وی، او کله که ښځه د زنا سخته خطره ظاهره کړی، نو په داسی صورت کی د ځلورو کالو د انتظار حکم ضرور نه دی بلکی دا به کتل کیږی چی د خاوند د غائب کیدلو د وخت څخه تراوسه پوری کم از کم یو کال موده تیره سوی ده او که نه؟ که د کال څخه زیاته موده تیره سوی وی نو قاضی د مزید مهلت ورکولو څخه بغیر په هغه وخت کی هم نکاح ختمولی سی دغه شان که په زنا کی د مبتلاکیدلو خطره خو به نه وی، خو د مفقود دومره مال موجود نه دی چی په دی ځلورو کالو کی د هغه د ښځی د نان نفقی د پاره کافی وی او یا د ښځی د پاره د مفقود د مال څخه نان نفقه حاصلول مشکل وی نو په دی صورت کی د نان نفقی ورکولو څخه بغیر کم ترکمه یوه میاشت تیره وی نو قاضی نکاح ختمولی سی.

واضحه دی وی چی په آخری دوو صورتونو کی ښځه د وفات د عدی په ځای به د طلاق عده تیروی چی د قاضی د فیصلی د وخت څخه به شمیر کیږی.

فی البحر (قوله: ولایفرق بینه وبنها: ای بین الزوجته، لقوله ﷺ فی امرأة المفقود: انها امرأته حتی یأتیها البیان. وقول علی رضی الله تعالی عنه فیها: هی امرأة ابتلیت فلتصبر حتی یتبین موت او طلاق اه (ج: ۵ ص: ۱۲۴، طبع ماجدیه کویټه)

فی شرح الجلیل علی مختصر الخلیل: فیؤجل اربع سنین د امت نفقتها..... فان لم تدم نفقتها من ماله فلها التطلیق لعدم النفقة بلاتأجیل، وکذا ان خشیت علی نفسها الزنا فیزاد علی دوام نفقتها عدم خشیتها الزنا (ج: ۲ ص: ۳۸۵)

وفی الحاشیة الدسوقی: فیؤجل ای المفقود الحر اربع سنین ان دامت نفقتها من ماله والا طلق علیه لعدم النفقة اه. (ج: ۲ ص: ۴۸۹- طبع دار الفکر بیروت)

وفی شرح الصغیر: والا فلها التطلیق علیه لعدم النفقة..... ای ولم تخش العنت والا فتطلیق علیه لضرر فهی اولی من معدومة النفقة (ج: ۲ ص: ۲۹۴- طبع دار الفکر بمصر)

وفی الفقة الاسلامی وادلته للشیخ الزحیلی: ورأی المالکیة والحنابلة جواز التفریق للغیبة اذ طالت وتضررت الزوجه بها، ولوترك لها الزوج مالا تنفق منه اثناء الغیاب لان الزوجة تتضر من الغیب ضرراً بالغًا والضرر یدفع بقدر الامکان لقوله ﷺ: (لاضرر ولاضرار)..... وجعلوا احد الغیبة الطویلة سنة فاکثر علی المعتمد، وفی قول ثلث سنوات. اه (ج: ۷ ص: ۵۳۳- دار الفکر بیروت)

درخواست ورکړی، د عدالت څخه دی د هغه د مړکیدلو حکم حاصل کړی، او بیا دی
څلور میاشتی او لس ورځی عده د وفات تیر کړی، د دی څخه وروسته هغه په بل ځای
کی نکاح کولی سی، او داتول تفصیل په هغه وخت کی دی، چی کله ښځه مزید څلور
کاله په صبر تحمل او عفت سره تیرولی سی که د ښځی د پاره دومره موده صبر کول
مشکل وی، او په ګناه کی د اخته کیدلو قوی خطره وی، نو په صورت مسئوله کی
حاکم ته داهم اختیار دی، چی هغه دی د څلور کالو په ځای صرف یوکال د انتظار کولو
حکم ورکړی، او یوکال انتظار کولو څخه وروسته د مذکوره خاوند د طرفه دی هغی ته
طلاق ورکی، او دری واره حیض ورځی د تیریدلو څخه وروسته په بل ځای کی نکاح
کولی سی (۱).

---

(۱) د مفقود د ښځی متعلق تفصیل او تحقیق د پاره د حضرت والا مصدقه لاندی لیکل
سوی فتوی وګوری.

سوال: د مفقود د ښځی د پاره شرعی حکم څه دی؟ تفصیل سره یې وضاحت وکړئ؟
جواب: د مفقود د ښځی د پاره خو اصلی حکم دادی: چی هغه دی عفت عصمت سره
ټول ژوند تیروی، خو که هغه د مفقود د نکاح څخه خلاصون غواړی نو لاندی صورت
ختیارولو سره د خلاصون د حاصلولو ګنجایش سته، د مفقود ښځه دی داخپله مقدمه
مسلمان قاضی په عدالت کی پیش کړی، او شاهدانو سره دی ثابت کړی چی زمانکاح
فلانی سړی سره سوی وه بیادی شاهدانو سره د هغه د مفقود ورکیدل هم ثابت کړی،
... څخه وروسته دی قاضی په خپل طور سره د هغه تفتیش او تلاش وکی، چیری
... هغه د تلو غالب ګمان وی، هلته دی سړی ولیږی او چیری چی یی غالب ګمان نه
... صرف احتمال وی نو که هلته خط لیږل کافی وګنی نو خطونه دی ولیږی تحقیق دی
... او که په اخباراتوکی شائع کولو سره د خبر ملاویدلو امید وی نو دادی هم

... په تفتیش او تلاش کی دی خپل پوره کوشش وکړی او کله چی د درک لګیدلو
... وسی وسی نو ثانیاً دی ښځی ته مزید د څلور کالو د انتظار حکم وکړی، بیا که
... کالو کی دننه د مفقود څه معلومه نه سوه، نو ښځه دی قاضی ته دوباره
... وکړی چی په هغه باندی به قاضی د هغه د مړکیدلو فیصله واوروی، د دی
... څلور میاشتی او لس ورځی د وفات عده تیرولو سره به ښځی ته په بل

ځای کی د نکاح کولو اختیار وی، او کله که ښځه د زنا سخته خطره ظاهره کړی، نو په
داسی صورت کی د څلورو کالو د انتظار حکم ضرور نه دی بلکی دابه کتل کیږی چی د
خاوند د غائب کیدلو د وخت څخه تراوسه پوری کم از کم یوکال موده تیره سوی ده او
که نه؟ که د کال څخه زیاته موده تیره سوی وی نو قاضی د مزید مهلت ورکولو څخه
بغیر په هغه وخت کی هم نکاح ختمولی سی دغه شان که په زنا کی د مبتلاکیدلو خطره
خوبه نه وی، خو د مفقود دومره مال موجود نه دی چی په دی څلورو کالو کی د هغه د
ښځی د نان نفقی د پاره کافی وی او یا د ښځی د پاره د مفقود د مال څخه نان نفقه
حاصلول مشکل وی نو په دی صورت کی د نان نفقی ورکولو څخه بغیر کم ترکمه یوه
میاشت تیره وی نو قاضی نکاح ختمولی سی.

واضحه دی وی چی په آخری دوو صورتونو کی ښځه د وفات د عدی په ځای به د طلاق
عده تیروی چی د قاضی د فیصلی د وخت څخه به شمیر کیږی.

فی البحر (قوله: ولایفرق بینه وبنها: ای بین الزوجته، لقوله ﷺ فی امرأة المفقود: انها
امرأته حتی یأتیها البیان. وقول علی رضی الله تعالی عنه فیها: هی امرأة ابتلیت
فلتصبر حتی یتبین موت او طلاق اهـ (ج: ۵ ص: ۱۲۴، طبع ماجدیه کویټه)

فی شرح الجلیل علی مختصر الخلیل: فیؤجل اربع سنین د امت نفقتها.... فان لم تدم
نفقتها من ماله فلها التطلیق لعدم النفقة بلاتأجیل، وکذا ان ان خشیت علی نفسها
الزنا فیزاد علی دوام نفقتها عدم خشیتها الزنا (ج: ۲ ص: ۳۸۵)

وفی الحاشیة الدسوقی: فیؤجل ای المفقود الحر اربع سنین ان دامت نفقتها من ماله
والا طلق علیه لعدم النفقة اهـ. (ج: ۲ ص: ۴۸۹- طبع دار الفکر بیروت)

وفی شرح الصغیر: والا فلها التطلیق علیه لعدم النفقة.... ای ولم تخش العنت والا
فتطلیق علیه لضرر فهی اولی من معدومة النفقة (ج: ۲ ص: ۲۹۴- طبع دار الفکر
بمصر)

وفی الفقة الاسلامی وادلته للشیخ الزحیلی: ورأی المالکیة والحنابلة جواز التفریق
للغیبة اذ طالت وتضررت الزوجه بها، ولوترک لها الزوج مالا تنفق منه اثناء الغیاب لان
الزوجة تتضر من الغیب ضرراً بالغًا والضرر یدفع بقدر الامکان لقوله ﷺ: (لاضرر
ولاضرار).... وجعلوا احد الغیبة الطویلة سنة فاکثر علی المعتمد، وفی قول ثلث
سنوات. اهـ (ج: ۷ ص: ۵۳۳- دار الفکر بیروت)

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۱۰/ ۱۳۹۷ ھ

وفی الاحوال الشخصیة للشیخ محمد ابو زهرة: والتفریق لتضرر من الغیاب، هو مذهب مالك واحمد لان المرأة قد تقع فی جریمة دینیة باهمالها..... ولابد للفتریق بالغیاب ان تمضی مدة تستوحش فیها الزوجة وتتضر فعلاً، لان الفرقة لسبب ذالك هی للضر الواقع لا للتضرر المتوقع فقط.

وقد جعل احمد ادنی مدة یجوز ان تطلب التفریق بعدها ستتة اشهر..... اما مذهب مالك رضی الله تعالی عنه، فقد اختلف فی الحد الادنی للتضرر، فقیل: ثلث سنین، وقیل: سنة، وبهذا اخذ القانون اهـ (ص: ۳۹۰)

وفی شرح الصغیر: وتعتد زوجة المفقود حرة او امة صغیره او كبیرة فی ارض الاسلام متعلق بالمفقود عدة وفاة علی ماتقدم، ابتدائها بعد الاجل اه (ج: ۲ ص: ۲۹۴، ج: ۲ ص: ۲۹۳ طبع دار المعارف مصر)

وفی شرح منح الجلیل: ثم بعد التلوم وعدم وجدان النفقة والكسوة، طلق وان كان غائبًا.. یعنی ان الغائب البعید الغیبة ولیس له مال او له مال لایمكنها الوصول الیه الا بمشقة حكمه حكم العاجز الحاضر اه.

وفیه: وله ای الزوج المطلق علیه لعدم النفقة الرجعة للزوجة المطلقة لانه طلاق رجعی، ابن عرفة. (ج: ۲ ص: ۴۴۳)

وفی آخر فتوی العلامه هاشم رحمه الله تعالی عنه مفتی المالكیة بالمدینة المنورة زاده الله تعالی شرفًا. وهذا (التطلیق) بعد التلوم بنحو شهر او باجتهاده عند المالكیة (یعنی فی صورة عدم النفقة .... (وان كان لخوفها الزنا وتضررها بعدم الوطی والعنانة مع وجود النفقة والغنا فبعد صبرها سنة فاكثر عند جل المالكیة اه. (الحیلة الناجزة ص: ۱۲۴- طبع دار الاشاعت كراچی) والله تعالی اعلم

عصمت الله عصمه الله ۱۴/ ۸/ ۱۴۱۸ ھ الجواب الصحیح بنده محمد عبد المنان عفی عنه

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه ۱۷/ ۸/ ۱۴۱۸ ھ

الجواب الصحیح بنده عبد الرؤف سكهروی الجواب الصحیح بنده محمد عبد الله عفی عنه.

(فتوی نمبر ۲۸/۱۰۴۳ - ج)

د مفقود د ښځی حکم

سوال: د ثریا واده د زید سره تقریبًا اوولس کاله مخکی سوی دی د څه جرم په وجه زید ته اووه کاله سزا ورکول سوه، او د اووه کالو څخه وروسته زید لادرکه سو، ثریا اوس هم په انتظار کی ده، د جیل د مشرانو څخه پوښتنه کول کیږی، هغوی هم د لاعلمی اظهار کوی، آخر ثریا مجبوره سوه او د بکر په کورکی یی اوسیدل شروع کړل بغیر د نکاح څخه او د بکر څخه یی دوه دری بچیان په حرامی طریقی سره پیداسول، یا د دی وی چی زید لاتراوسه پوری لاپته دی، آیا ثریا د بکر سره نکاح کولی سی؟ چی د دی عظیم جرم څخه محفوظ سی؟ څه صورت چی وی وی لیکئ؟

جواب: ثریاته پکار وو چی څنگه د هغه خاوند ورك سوی وو، نو فوراً یی عدالت ته رجوع کولو سره خپله نکاح فسخ کړی وی په هرحال اوس هغه ته پکار دی چی د بکر څخه دی سمدستی د ښځی خاوند تعلقات قطع کړی په تیرسوی عمل دی توبه او استغفار وکړی او په عدالت کی دی د نان نفقی څخه رسیدو او د عصمت د خطری په بنیاد باندی د نکاح د تنسیخ دعوی دائره کړی، عدالت ته به اختیار وی چی هغه د دی معاملاتو تحقیق کولو سره د زید څخه د ثریا نکاح ختمه کړی، د دی څخه وروسته دی عده تیره کړی، بیا هغه د بکر سره نکاح کولی سی [1]

فقط والله اعلم

۱۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷

(فتوی نمبر ۱۸/۱۴۴۴ - الف)

حاکم ته مقدمه ورلو باندی هغه به تحقیق وکړی، د دی څخه وروسته دی یوکال مهلت ورکړی که په دی موده کی خاوند رانلی نو نکاح دی فسخه کړی، د دی څخه وروسته دی ثریا عده تیره کړی، واده کولی سی. [2] (محمد عاشق الهی)

---

(۱) ایضًا.

(۲) د مفقود د مسئلی مزید تفصیل او دلائلو د پاره دی د حضرت والادامت برکاتهم مصدقه فتوی د تیری سوی فتوی په حاشیه کی وګوری.

د مفقود د ښځی د پاره د نکاح د فسخ کولو طریقه

سوال: زما د لور مختار بیگم نکاح مؤرخه ۳۱\۱ اگست سنه ۱۹۷۲ په مقام د راولپنډی کی سوی وه، هلك (محمد پیاری جان) په دوبی کی ملازم وو، د نکاح څخه تقریبًا دوی میاشتی وروسته بیا د خپلی نوکری په غرض دُبی ته ولاړی، په دی دوران کی بی انجلی د خان سره ترکراچی پوری بوتله، او ټول کال یی غائب کی هلك وئیل چی ورك سوی دی، په دی باندی زموږ سره او زموږ د لور سره څه جنگ نه وو سوی، د هغه تاریخ څخه ترننه پوری تقریبًا لس کاله تیرسوی دی، موږ د هغه د ټولو خپلوانو څخه پوښتنه وکړه، د هغه هیڅ معلومات نه وسو، نه کوم خط سته نو خرچه سته، کنده یم زما څه معادن نسته، انجلی ځوانه ده، زه پریشانه یم آیا زه د هغی په بل ځای کی نکاح کولی سم؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مختار بیگم د پاره زیاته ښه خوداده چی هغه دی د خپل خاوند تلاش جاری سی او د نکاح فسخ دی نه کوی، خو که هغه د خاوند څخه بغیر صبر نسی کولی او یا د هغی د نفقی انتظام نه وی، یا هغه ته د خپل عفت په باره کی خطره وی نو دا کولی سی چی هغه دی د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی دعوی دائره کړی اول دی داثابت کړی چی زما نکاح د محمد پیاری جان سره سوی ده، د هغه څخه وروسته دی د هغه د شاهدانو په ذریعه د مفقود ورکیدل ثابت کړی، په دی باندی دی حاکم پخپله هم د هغه تفتیش او تلاش وکړی او کله چی د پته لگیدلو څخه مأیوسه سی نو ښځی ته دی مزید د څلورو کالو د انتظار حکم ورکړی که په دی څلورو کالو کی هم د مفقود پته ونه لگیدله نو دی مودی په ختمیدلو باندی به خاوند مړ تصور کولی سی د دی څخه وروسته څلور میاشتی لس ورځی د وفات عده تیرولو سره مختار بیگم په بل ځای کی نکاح کولی سی، خو که د مختار بیگم د پاره څلور. کاله موده تیرول ممکن نه وی او چونکی هغه لس کاله مخکی هم صبر کړی دی او عاجزه کیدلو سره یی درخواست ورکړی دی، نو که په معصیت کی د متبلاکیدلو قوی خطره وی نو په دی صورت کی د دی خبری هم گنجایش سته چی حاکم دی د څلورو کالو په ځای صرف د یو کال د انتظار حکم ورکړی او د یو کال تیریدلو څخه د ښځی په طلب باندی به د هغه

نکاح فسخ کړی، په دی صورت کی د نکاح د فسخ کیدو څخه وروسته دری حیضه عده تیرولو سره هغه چی چیری وغواړی نکاح کولی سی [1]. والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۵۸۴/ ۲۸ ب)

د خاوند نفقه نه ورکولو یا غائب کیدلو په وجه

د نکاح د فسخ کیدو صورت

سوال: د کومی ښځی خاوند چی ښځه پریږدی او ولاړ سی، طلاق هم ورنکړی او خپل کورته یی هم ونه لیږی هغه انجلی څومره ورځی وروسته د بل سړی سره نکاح کولی سی؟ او که داسی نسی کولی نو ترڅو ورځو به ناسته وی؟

جواب: مخکی خاوند دی تلاش کړی، د هغه څخه دی د طلاق اخستلو کوشش وسی، که هغه دی ته تیار نه وی نو د هغه دی په خلع باندی د راضی کولو کوشش وسی او که هغه په دی هم راضی نه وی، نو په عدالت کی دی د هغه په خلاف د نان نفقی د نه ورکولو په بنیاد باندی او که د هغه پته نه لگی د هغه د ورکیدلو په بنیاد باندی دی د فسخ نکاح دعوی دائره کړی، عدالت دی د خپل اړخ څخه د هغه تلاش وکړی، که معلومه سی او هغه راسی نو هغه ته دی حکم ورکړی چی یا ښځه آباده کړه یا طلاق ورکړه که هغه یی آباده کړی نو صحیح ده او که نه انکار وکړی او یا د اطلاع رسیدلو با وجود عدالت ته حاضر نسی، نو عدالت نکاح فسخ کولی سی او که د عدالت د تلاش باوجود، هغه پیدا نسی، نو د څلورو کالو د انتظار څخه وروسته نکاح فسخ کولی سی [2]، کله چی په تلاش کی ناکامی پیښه سی، نو د هغه تفصیلات معلوم سی.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۱۱/ ۱۴۰۱ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۷۲/ ۳۲ ج)

---

[1] ایضًا.

[2] د تفصیلی حوالی لپاره د لاندلو د پاره د ص: (۵۲۵) او ص: (۵۴۲) فتوی او د هغی حاشیه نمبر (۱) وگوری.

۱: د مفقود د ښځې حُکم

۲: خاوند مړ ګڼلی دوهمه نکاح کولو په صورت کې مخکنی خاوند بیرته راسي نو څه حکم دی؟

سوال: یوه ښځه چې د هغه خاوند چیری ورك سی او چیری هم د هغه معلومات نه وسی نو په دی صورت کی ښځه ترڅه وخته پوری انتظار کوی؟

۲: که په څه صورت کی د دی خبری تصدیق وسی چې د هغی ښځې خاوند مړسوی دی (د معین مده په دوران کی) نو بیابه عده د کله څخه شروع کیږي او کله به ختمیږي؟

۳: د دوهم صورت مطابق ښځه عده پوره کړی، دوهمه نکاح هم وکړی خو د هغه مخکی خاوند مړګ د څه غلط فهمئ په وجه یقیني صورت اختیار کړی وی، خو اوس د هغی مخکنی خاوند راسی په دی صورت کی به ښځه د چاپه نکاح کی وی؟

د مخکی او که د دوهم که د یو د نکاح تنسیخ فوری طور باندی وی نو کومی نکاح ته به ترجیح ورکولی سی؟

جواب: په داسی صورت کی ښځی ته پکار دی چې هغه دی د کوم مسلمان حاکم عدالت ته رجوع وکړی د شرعی ضابطه شهادت سره دی داخبره ثابته کړی، چې زمانکاح د فلانی سړی سره سوی وه، د هغه څخه وروسته دی د هغه ورکیدل ثابت کړی، بیادی حاکم پخپله هم د خاوند تفتیش او تلاش وکړی او کله چې د معلومات معلومولو څخه مایوسه سی نو ښځی ته دی د څلورو کالو د انتظار کولو حکم ورکړی، که په دی څلورکالو کی هم د مفقود معلومات نه وسی، نو د دی څلور کالو په ختمیدو باندی به هغه مړ تصورکولی سی، بیا د څلورو کالو ختمیدلو څخه وروسته څلور میاشتی او لس ورځی به د مرګ عده تیروی، د دی څخه وروسته به ورته په بل ځای کی د نکاح کولو اختیار وی [۱] که ښځه د خپلی نفقی انتظام نه کیدلو یا په ګناه د اخته کیدلو د خطری د وجی څلور کاله صبر نسی کولی، نو د سخت ضرورت په موقعه باندی حاکم د انتظار موده د څلورو کالو په ځای یو کال هم ګرځولی سی [۲].

---

(۱) ایضاً.

(۲) د تفصیل د پاره وګورئ (حیله ناجزه) ص ۲۷ تر ۷۰ پوری د مفقود واپسی احکام.

۲: که د خاوند د مرګ یقین وسی نو عده به د هغه د مرګ د تاریخ څخه څلور میاشتی اولس ورځی شمارل کیږي.

۳: په داسی صورت کی چې ښځه بدستور د مخکی خاوند په نکاح کی وی د دوهم خاوند سره به د هغه نکاح پخپله باطل سی، خو مخکی خاوند ته د هغه سره صحبت ترهغه وخته پوری جائز نه دی ترڅو چې هغه د دوهم خاوند عده پوره نکړی د عدی په دوران کی به هغه د مخکی خاوند سره وسیږي.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۶/ ۵/ ۱۴۸۸ هـ

(فتویٰ نمبر ۲۲۸/ ۱۹- الف)

۱: سیلاب کی د ورکیدونکی خاوند سره د فسخ نکاح حکم

۲: په سیلاب کی د خاوند د غائب کیدلو څخه وروسته په یوولسمی ورځی د دوهمی نکاح حکم

سوال: د پاکستان په جزیره هاتیه کی د سَیلاب باشنده ګان دی چی په هغوی باندی تیر دولسم نومبر کی سیلاب راغلی وو په هغه کی د صالحه نومی ښځه خاوند ورك سوو تراوسه پوری یقیني معلومه نه ده چی مړسوی دی او که نه؟ غالب خیال دادی چی مړسوی به وی آیا په هغه باندی به د مفقود حکم لګولی سی؟

۲: په هغه کی د کریمی خاوند هم ورك سوی دی، یوولس ورځی وروسته د کریمی نکاح وسوه، اوس دا نکاح باطله ده او که فاسده؟

جواب: په صورت مسئوله کی به په خاوند باندی هم د مفقود احکام جاری کیږي، ځکه چی د هغه د مرګ یقین نسته، خو په کوم وخت د داسی مفقود ښځه د نکاح فسخ کولو د پاره د مسلمان حاکم په عدالت کی دعویٰ دائرکړی، نو د حاکم د پاره ګنجایش سته چی هغه دی د طوفان په حالت باندی نظر وکړی، که داغالب ګمان یی پیداسی چی خاوند یی په طوفان کی هلاك سوی دی او دومره موده تیره سوی ده، که هغه ژوندی وی نو د هغه به ضرور څه معلومات سوی وی نو د مزید انتظار کولو څخه بغیر دی نکاح فسخ کړی، لمافی رد المحتار مقتضاه انه یجتهد ویحکم القراین الظاهره الدالة

على موته وعلى هذا يبتنى مافى جامع الفتاوىٰ حيث قال واذا فقد فى المهلكة فموته غالب فيحكم به كما اذا فقد فى وقت الملاقات مع العدو او مع قطاع الطريق او سافر على المرض الغالب هلاكه او كان سفره فى البحر وما اشبه ذالك حكم بموته لانه الغالب فى هذه الحالات... لكن لايخفى انه لابد من مضى مدة طويلة حتى يغلب على الظن موته لا بمجرد فقده عند ملاقات العدو او سفر البحر ونحوه الا اذاكان ملكا عظيماً فانه اذا بقى حياً تشتهر حياته فلذا قلنا ان هذا مبنى على ماقاله الزيلعى تأمل. (شامي ج: ۳ ص: ۵۱۲ بولاق) [1]

۲: دا نکاح بالکل کالعدم او باطله ده [2]، په کریمه او عبدالله باندی واجب دی چی فوراً جلاسی، او ترڅو چی مذکوره طریقی سره د عدالت څخه د تفریق سند حاصل سوی نه وی، او د مرګ عده پوره نسی نو د کریمی د پاره په بل ځای کی نکاح جائز نه ده، تراوسه پوری یی چی د نکاح کوم تعلقات قایم کړی دی، په دی باندی دی دواړه زوج او زوجه توبه او استغفار وکړی، او د نکاح په معامله کی په باطل او فاسد کی څه فرق نه وی [3].

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقي عثماني عفى عنه

۱۳۹۰/۱۲/۳۷ هـ

(فتوىٰ نمبر ۲۵۸/ ۲۱- الف)

د خاوند د ورکیدلو په وجه د ښځی نکاح په بل ځای کی د کولو په صورت کی مخکی خاوند بیرته راسی نو څه حکم دی؟

---

[1] رد المحتار كتاب المفقود ج: ۴ ص: ۲۹۷ (طبع سعيد)

[2] وفى الشامية كتاب الطلاق، باب المدة، مطلب فى نكاح الفاسد والباطل ج: ۳ ص: ۵۱۲ (طبع سعيد) اما نكاح منكوحة الغير ومتعدته... لم يقل احد بجوازه فلم ينعقد اصلاً... الخ وفى الهندية كتاب النكاح الباب الثالث ج: ۱ ص: ۲۸۰ (طبع ماجديه) ولايجوز الرجل ان يتزوج زوجة غيره وكذالك المعتدة... الخ.

[3] وفى الشامية تحت مطلب فى النكاح الفاسد والباطل ج: ۳ ص: ۵۱۲ (طبع سعيد) انه لافرق بين الفاسد والباطل فى النكاح بخلاف البيع..... الخ.

سوال: د یوسړی په سنه ۱۹۳۹ء کی واده سوی وو، داسړی په سنه ۱۹۴۰ء کی د برطانیی په فوج کی بهرتی سو، جاپان، سنګاپور او ملایاته لاړو قیدسو لهٰذا ترپنځو کالو پوری بی درکه وو هیڅ معلومات نه یی کیدی چی مړدی او که ژوند د ګورنمنټ دفترونو څخه یی هم معلومات حاصل کی، خو هیڅ معلومات یی ونسو د پنچائیت (جرګی) د انتظار څخه وروسته د هغه سړی وارثانو فیصله وکړله چی د مشر ورور معلومات ونسی چی مړدی او که ژوند دی؟ د پنځه کالو څخه یی څه خبر نسته، لهٰذا کشر ورور ته یی د هغه د ښځی سره نکاح وتړله، د نکاح څخه وروسته هلك هم پیداسو، کوم سړی چی ورك وو هغه په سنه ۱۹۴۶ء کی د قید څخه خلاص سوو اوسوال دادی چی د مخکی خاوند نکاح باقی ده او که نه؟ مخکی خاوند ښځه په کور کی ساتلی سی او که نه؟ که دغه سړی ښځه په کور کی وساتله، نو د دغه سړی امامت درست دی او که نه؟ د مهربانی د مجی به جواب راکړی.

جواب: په صورت مسئوله کی ښځه بدستور د مخکی خاوند یعنی د مشر ورور په نکاح کی ده [1]، او د هغه د واپسی څخه وروسته په هغه باندی فرض دی چی هم هغه خاوند ته ولاړه سی او هم د هغه سره دی اوسیږی، که هغه مخکی خاوند هغه ښځه جوړه کړی او وی ساتی نو په هغه باندی هیڅ ګناه نسته، بلکی د هغه د پاره یی هم ساتل پکار دی او د هغه په غیر حاضری کی د هغه د کشر ورور سره چی کومه نکاح وسوه د هغه حکم او د هغه نه کیدونکی اولاد حکم په دی خبره باندی موقوف دی چی جرګی څه فیصله کړی ده؟ په څه بنیادی کړی ده، په دغه جرګه کی کوم خلګ شامل وه، او هغوی د مخکی خاوند د تلاش کولو د پاره یی څه طریقه اختیار کړی ده؟ که د دی خبرو څه جواب معلوم سی، نو د دغه نکاح حکم به وښوول سی، په هرحال اوس په ښځی باندی واجب دی چی هغه د خپل مخکنی خاوند خواته ولاړه سی [2]، ترڅو چی د دوهم خاوند د نکاح حکم معلوم نسی نو مخکی خاوند ته پکار دی چی هغه دی احتیاطاً دری حیضه تیریدلو پوری دی د ښځی سره کوروالی نه کوی [3].

والله سبحانه اعلم

---

[1] ايضاً.

[2] ايضاً.

[3] د تفصیل د پاره وګورئ حیله ناجزه ص: ۶۷ تر ۷۰ صفحی پوری.

۱۴۰۱/۱۲/۳ هـ

د هند او پاکستان د تقسیم په وخت فساداتو کی د ورک سوی خاوند د ښځی حُکم

سوال: د سوال خلاصه داده چی د هندو پاک د تقسیم په وخت ښځه د دهلی څخه پاکستان ته منتقل سوه، او خاوند هم پاته سو، اوس معلومه نه ده، چی هغه په فساداتو کی مرسوی دی او که ژوندی دی؟ په هرحال ورک دی چی ژوندی به وی او که مړ؟ او که وی نو چیری به وی؟ خو اوس د هغه ښځه د هغه د زوجیت څخه په شرعاً خلاصه سوی ده او که نکاح قایمه ده؟ که قایم وی خلاصی به یی څنګه وی..... الخ

جواب: ستا د خور نکاح تراوسه پوری د مسمیٰ غلام محمد سره قائمه ده که د هغه په څه طریقی سره معلومات وسو، نو د هغه څخه دی د طلاق حاصلولو کوشش وسی، او که ورک وی نو د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی دی د خاوند د مفقود الخبر په وجه د نکاح د فسخی دعویٰ دائره سی (۱)، د عدالت د فسخ کولو څخه بغیر به نکاح فسخ نه وی (۲).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۷/۱۱/۴ هـ

(فتویٰ نمبر ۱۳۴۴/۱۸-الف)

د غائب غیر مفقود د ښځی د نکاح د فسخ کولو حُکم

سوال: زید د هندی سره نکاح وکړله، دوی څلور ورځی یی هنده په کور کی وساتله د هغه څخه وروسته زید د خپل مشر حقیقی وررور ښځه زینت اغواکړله او بوینی تله او هنده بیرته د پلار کره راله، اوس د زید هیڅ معلومات نسته، خو هغه خپل مور او

(۱) ایضاً.

(۲) په مذکوره صورت کی د فسخ نکاح مدلل او مفصل طریقه کار سابقه ص: ع ۵۴۵ او نمبر ع ۵۴۲ فتویٰ او د هغی حاشیه نمبر ۱ وګوری.

پلارته خط رالیږی، هنده د پنځو کالو څخه د ازدواجی ژوند څخه محرومه ده، هنده د بل مسلمان سړی سره نکاح کولی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی چونکی د خاوند خط خپل مور او پلار ته راځی نو دا صورت د غائب غیر مفقود دی، په دی صورت کی خو اول هندی ته پکار دی چی هغه دی د زید د مور او پلار په ذریعه د زید څخه د طلاق حاصلولو یا د خلع کولو کوشش وکړی، خو که هغوی په دی باندی راضی نه وی او د هندی د خرڅ انتظام نه وی یا هغی ته خپل ژوند په عفت سره تیرول مشکل وی نو د هغی د پاره لاندینی صورت جوړیدی سی:

هنده دی د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی دعویٰ دایره کړی، د شاهدانو په ذریعه د زید سره خپله نکاح کیدل ثابت کړی، بیا دی داثابت کړی چی هغه ماته نفقه نه ده راکړی او نه د هغه ځای څخه ماته نفقه رالیږی، نه یی دلته څه انتظام کړی دی او نه مانفقه معاف کړی ده، په دی ټولو خبرو دی قسم هم واخلی عدالت دی زید ته حکم ولیږی چی یا خو پخپله حاضرسه او د خپلی ښځی حقوق اداء کړه، یا هغه ځان ته را وغواړه، او یا د هغه ځای څخه څه انتظام وکړه، که نه وی، نو طلاق ورکړه، او که تاپه دی کی یو کارهم ونه کی نو بیابه موږ پخپله تاسو دواړو کی جدائی وکړو، او داحکم د ډاګ په ذریعه لیږل کافی نه دی، بلکی عدالت دی داحکمنامه دوو ثقه کسانو ته ورسوی، او هغوی ته دی وسپاری، دا دواړه کسان دی زیدته حکمنامه ورسوی، د هغه څخه دی جواب طلب کړی او څه جواب چی یی تحریری یازبانی ورکی، هغه دی محفوظ وساتی، او د عدالت په مخکی دی د هغه شاهدی اداکړی.

هو! که زید دومره لری ملك کی وی چی هلته د یوسړی لیږل ممکن نه وی نو بیا د سړی لیږلو ضرورت نسته، په هرصورت کی د دی ټولی کار روایی څخه وروسته هم زید څه صورت قبول نکړی نو عدالت دی مزید د یوی میاشتی د انتظام حکم ورکړی که په دی موده کی هم د هغه شکایت لری نه سو، نو عدالت دغه ښځه د زید د زوجیت څخه جلاکړی، د دی څخه وروسته به هنده د طلاق عده تیره کړی، نو بیابل په بل ځای کی نکاح کولی سی (۱). والله سبحانه وتعالی اعلم

(۱) د مزید تفصیل او حواله جاتو د پاره د صفحه ع فتویٰ او د هغی اوله حاشیه وګوری.

د مفقود د ښځې حُکم

سوال: د یوې ښځې خاوند تقریبًا د دوو کالو څخه نسته، او هیڅ معلومات یې نه کیږي، او دا ښځه د نان نفقې په وجه د بل سړي سره نکاح کولی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کې د مذکوره ښځې د خلاصیدلو صورت هم دادی چې هغه دی د کوم مسلمان حاکم په عدالت کې د نان نفقې د نست والي او په گناه کې د اخته کیدلو د وجې د نکاح د فسخ کیدلو مقدمه دایره کړي، عدالت دې مذکوره خاوند عدالت ته په حاضریدلو باندې مجبوره کړي، او که ثابت سو چې هغه نه راځي، نو د هغه د طرفه دې طلاق ورکړي، د دې څخه وروسته دې ښځه د طلاق عده تیره کړي، په بل ځای کې نکاح کولی سی، که عدالت برنی کار روایي وکړي نو د هغه فیصله به شرعًا نافذ وي (۱).

هو! د دعوی په دائر کولو کې دې د دې خبرې لحاظ وساتل سي چې د خلعې او یا د خاوند د مفقود کیدلو یاڼه کیدلو دعوی دې نه وي، بلکې په خاوند باندې د نان نفقې نه اداء کولو دعوی دې وي، ځکه چې د خلع او مفقود دعوی متعلق چې موجوده عدالتونه کومې فیصلې کوي په هغه کې د شرعي شرطونو لحاظ نه ساتل کیږي.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۴/ ۴/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۴۲۸/ ۲۲- الف)

د نکاح د فسخ متعلق د برطانیې د شرعي کونسل د اهمو سوالونو جوابونه

سوال: بگرامی خدمت اقدس حضرت مولانا محمد تقی عثمانی صاحب مدظله العالی!

السلام علیکم ورحمة وبرکاته! امید دی چې مزاج گرامی به خیریت او عافیت سره وي.

په برطانیه کې د مسلمانانو د عائیلي مسائلو د حل کولو د پاره د شرعي ضرورت د لاندې د شرعي کونسل قیام څوکاله سوی دی، چې د هغه عمل جاري دی، شرعي

(۱) وگوری سابقه فتوی ص ۵۴۵ او ص ۵۴۲ او د هغه اوله حاشیه.

کونسل هغه عائلي مسائل د حل کولو کوشش کوي چې عمومًا د فسخ نکاح سره متعلق دي، په برطانیه کې د ښځې او خاوند په مینځ کې اختلافاتو کې داسې هم وي چې ښځه وهلو ټکولو او نورو تکلیفونو سره کړې وي او طلاق ورکولو سره بې جلاکوي هم نه، د دې وجه ښځه برطانوي کورټ ته رجوع کوي چې کورټ د دواړو ترمنځه جدائي راولي، کورټ خپل کوشش د دواړو په مینځ کې د یوځای کولو کوي، چونکې فیصلې عیسائي غیر مسلم کیدلو په وجه دې فیصلې سره ښځه شرعًا نه وي جلا، نو ځکه هغه شرعي کونسل دوباره د دواړو په مینځ کې د تنازعې په پیش نظر یوځای کولو کوشش کوي، د ناکامیدلو په صورت کې د شرعي کونسل د علماوو کمیټي د دواړو په مینځ کې نکاح فسخ کولو سره شرعي جدائي راولي.

د مذکوره صورتحال په باره کې د دالاندیني یوڅو ضروري خبرو کې ستاسو د رهبري فوري ضرورت دی، امدې دی چې تاسو به تکلیف برداشت کولو سره به زر جواب راکړئ.

۱: د برطانیې د کورټ څخه د ښځې د جدائي د فیصلې څخه وروسته که شرعي کونسل په دغه فیصلې باندې په دې معنی سره مطمئن نه وي چې واقعي د دواړو په مینځ کې د یوځای کیدو چې کوم صورت ممکن نه دی او د جدائي څخه ماسوا بله لاره نسته، نو آیا د دې څخه وروسته هم شرعي کونسل د دواړو د جلاکولو د پاره د مکملې کار روایي شرعًا مکلف دی؟ او که د برطانیې د کورټ کار روایي کافي ده؟

۲: که زوجین پاکستانیان وي او نکاح هم په پاکستان کې سوې وي نو بیا دوه صورتونه وي یو داچې خاوند په پاکستان کې دی، د قانوني خنډونو د وجې هلته برطانیې ته نسي راتلی، او انجلۍ پاکستان کې اوسیدلو ته تیاره نه ده، په دې صورت کې مقدمه شرعي کونسل ته راځي، نو په دې صورت کې شرعي کونسل څه طریقه اختیار کړي؟

۳: د زوجینو نکاح په پاکستان کې قانوني طور رجسټر کیدو په صورت کې او هلك په پاکستان دی او انجلۍ په برطانیه کې او انجلۍ شرعي کونسل ته رجوع کوي، هلك دا وایي: چې عقد نکاح په پاکستان کې سوی دی نو فسخ به هم په پاکستان کې کیږي، په داسې صورت کې شرعي کونسل د دې نکاح د فسخ کولو اختیار من دی شرعًا او که نه؟

۴: د برطانیې په عدالت کی د انجلی د فسخ نکاح په جواب کی خاوند د خپل وکیل معرفت دا ولیکی چی دا واده سم، خوږونکی نه دی، نو څکه د دی په فسخ کولو او ماتولو باندی ماته څه حرج نسته، دا او د دی هم معنی خبره لیکلی (یوه کاپی د نمونی د پاره منسلك ده) نو آیا په دی صورت کی داخبره د هلك په طلاق یافسخ نکاح باندی به په رضامندی کی شمیرل کیږی؟

او دابه شرعی جدائی وی او که نه؟ د دی یوڅو ضروری خبرو په باره کی هم ستاسو څخه اطمینان کیدی سی، په دی وجه ستاسو د ګڼو مصروفیاتو د احساس باوجود د تکلیف درکولو ګستاخی کوم او متوقع یم چی ژر به جواب راکړئ.

محترم حضرت مولانا محمد رفیع مظله په خدمت کی مسنون سلام او د دعاء درخواست.

احقر

یعقوب منشی القاسم

۴/ ذی قعده ۱۴۱۷ هـ

۱۴/ مارچ ۱۹۹۷ ء

Dear Sirs.

Re: Hashim V Hashim

We have now been instructed by Mr. Mohammad Amjad Hashim in relation to the unfortunate breakdown of his marriage. He has, in addition to this, brought with him a copy of the Divorce Petition which he has received from the Court. Mr. Hashim is very upset about the particulars contained in the divorce petition, he denies each and every allegation but realises that the marriage has innetrievably broken down and is therefore prepared to agree to the divorce proceeding on the basis of your client's allegations of behaviour.

Our client is advising us under the Green Form as he is a full-time student.

We would be obliged if you could confirm that your client would be prepared to withdraw her claim for costs as we not that she also is instructing you under the Green Form. If your Client is not prepared to withdraw her claim for costs we reserve the right to raise counter allegations at any subsequent hearing in relation to the issue of costs.

We look forward the hearing from you in relation to this. Once we have confirmation from you in relation to the costs issue we will forward the Acknowledgement of service to the Court.

جواب: په سوال باندی فکر وسو او د ذکرسوو مسئلو تحقیق وسو، لاندی په نمبردار سره جواب وګورئ.

۱: په دی صورت کی شرعی کونسل ته د ښځی او خاوند په مینځ کی د نکاح د فسخ کولو د پاره مکمله شرعی کار روایی کول ضروری دی، صرف داخبره چی د زوجینو په مینځ کی جوړښت مشکل په نظر راځی د شرعی کونسل د اړخه د فسخ نکاح بنیاد نسی جوړیدلی، برابر خبره ده که دا نتیجه برطانوی عدالت اخذ کړی وی او که شرعی کونسل بلکی د خاوند متعنت کیدل، سخت وهل ټکول کول، مفقود کیدل، مجنون کیدل او عنیین وغیره کیدل په دی کی داخل دی، او د دی اسبابو د تحقیق د پاره صرف د برطانوی عدالت کار روایی کافی نه ده، څکه چی اول خو به جج غیر مسلم وی، دوهم هغه به د هغه شرعی امورو احاطه نه کوی چی د فسخ نکاح د پاره شرعًا ضرور دی، بیا که معتبر اسباب د فسخ نکاح کی څه سبب پیدانه سی او جوړښت یې مشکل وی، نو شرعی کونسل خاوند ته د خلع یا طلاق علی المال باندی راضی کول ضروری دی د هغه کوښش دی وسی، د دی څخه زیاته څه کار روائی د هغه د اختیاراتو د حد څخه بهرده، لهٰذا هغه دی مقدمه خارج کړی.

۲: که هلك په پاکستان کی وی او هغه انجلی په پاکستان کی ښه طریقه سره د ساتلو د پاره تیار دی، څکه هغه طلاق ورکول نه غواړی، نو دلته د نکاح فسخ کولو شرعًا څه وجه نسته لهٰذا شرعی کونسل ته د نکاح د فسخ کولو په ځای انجلی ته پاکستان ته د راتلو او خاوند سره په اوسیدلو باندی تیارول پکار دی، په بل عبارت کی مقدمه خارج کول پکار دی، خو په دی صورت کی هم د فسخ نکاح په معتبرو اسبابو کی څه سبب موجود وی مثلاً خاوند مجنون یا عنین وی نو شرعی کونسل په برطانیه کی د پاته کیدلو با وجود خاوند ته د دی د نوټس جاری کولو سره د فسخ نکاح کار روایی کولی سی، خو په دی کی ټول شرطونه ملحوظ ساتل پکار دی او که د فسخ په معتبرو اسبابو کی څه سبب، موجود نه وی او شرعی کونسل د خاوند او ښځی په مینځ کی په خوش اسلوبی سره د پاته کیدلو کوشش کامیابیدونکی نه وینی نو بیادی په خپل مینځ کی په رضامندی سره د هغوی ترمینځ خلع وکړی او د لږ غوندی مال په عوض کی دی د خاوند څخه طلاق واخلی.

۳: که دلته هم داصورت دی چی هلك په ښه طریقه سره په پاکستان کی د انجلی ساتلو ته تیار دی، خو انجلی د برطانیې څخه پاکستان ته راتلل نه خوښوی، نو دا د انجلی

غلطی ده هغی ته پکار دی چی پاکستان ته راسی او د خپل خاوند سره اوسیږی. لهذا
شرعی کونسل دی دلته انجلی هم په دی اماده کړی او د هغی نکاح دی نه فسخ کوی،
ځکه چی د نکاح د فسخ کولو څه شرعی وجه دلته موجوده نه ده که څه معتبر وجه د
فسخی موجود وی نو په صورت مسئوله کی د نکاح د فسخ کولو کار روائی په برطانیه
کی وسی او که په پاکستان کی؟ په دی معامله کی څه صریح حکم خو د فقهی په
کتابونو کی پیدانه سو او نه یی د پیداکیدو کوم امید سته، خو د قواعدو تقاضا داده
چی ښځه ناشزه جوړیدلو سره په برطانیه کی پاته کیږی، نو د خاوند دامطالبه حق په
جانب د ده، چی د فسخ نکاح کار روائی دی پاکستان کی وسی. خو که خاوند هغه په
خپله خوښه هلته پریښی ده او راغلی دی، او هغی لره پاکستان ته د راتلو وسائل نسته،
نو په دی صورت کی شرعی کونسل کار روائی کولی سی، البته ترڅو چی د خاوند د
حالاتو تحقیق مثلاً: جنون یانامردی ثبوت پکار وی هلته هغه د متعلقه ثبوت کاپی دی
خاوند ته واستول سی او د هغه موقف دی معلوم سی او که ضرورت وی نو د دی کار د
پاره په پاکستان کی د علماوو کوم مجلس خپل نماینده جوړولو سره د حالاتو تحقیق
کولی سی.

۴: د خاوند وکیل په منسلکه کاپی کی چی کوم الفاظ لیکلی دی هغه که څه هم د
خاوند په طلاق باندی رضامندی ښکاره کوی خو به ذات خو د طلاق د انشاء د پاره
کافی نه دی، ځکه چی د دی الفاظو ترجمه داده چی (لیکن هغه محسوسوی چی نکاح د
ناقابل تلافی طور باندی ماته سوی ده، لهذا هغه د طلاق کار روائی سره د اتفاق کولو
د پاره تیار دی. دلته د نکاح د ماتیدلو د پاره صرف د محسوسولو ذکردی، ورسره د
راروانی جملی څخه دا وضاحت کیږی چی د طلاق کار روایی تراوسه نه ده سوی، هغه
په اینده کی د دی کار روائی د کولو سره.متفق دی، په دی هیڅ لفظ د انشاء طلاق نه
دی، خو وکیل ته چی خاوند کوم الفاظ وئیلی دی یایی هغه ته لیکلی ورکړی دی که
هغه د انشاء طلاق الفاظ وی نو هغه د طلاق د پاره کافی ګڼل کیدی سی، خو د دی د
پاره ضروری دی چی صحیح صحیح هم هغه الفاظ لیکلو سره را ولیږل سی، په منسلکه
پرچه کی د وکیل الفاظ دی د خاوند الفاظ نه دی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۱۷/۱۲/۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۱/ ۲۶۰)

د متعنت د ښځی حکم

سوال: زید هنده بی عزته کړله او د کور څخه یی ویستله، مسلسل اووه کاله سوی دی
نه خو ترننه پوری نان نفقه ورکوی او نه یی په زوجیت کی ساتل غواړی. معلقه کړی یی
ده هرڅومره چی دریم ګړو پوه کړو چی نه یی ساتی نو طلاق ورکړه، زید هیڅ خبری ته
تیار نه دی، بینوا وتؤجروا:

جواب: په صورت مسئوله کی هندی او د هغه اولیاوو ته پکار دی، چی هغوی دی د
هندی د خاوند سره د خلع کولو کوشش وکړی، که هغه په دی باندی راضی نه دی نو د
مسلمان حاکم په عدالت کی دی د نان نفقی د نیشت والی په بنیاد.دی د فسخ نکاح
دعوی دائره سی، عدالت به خاوند ته حکم ورکوی چی هغه خو دی یا د ښځی حقوق
اداء کړی یا دی طلاق ورکړی که خاوند په دی کی په هیڅ صورت باندی راضی نه وی
نو عدالت ته به اختیار وی چی د خاوند قائمقام جوړیدو سره ښځی ته طلاق ورکړی
(۱).

---

(۱) د دی مسئلی مفصل تحقیق او حوالی د نکاح د فسخ کولو مکمله طریقه د حضرت
والا دامت برکاتهم په مصدقه درج ذیل فتوی کی وګوریئ. (محمد زبیر)
استفتاء: څه فرمائی مفتیان کرام د لاندینی مسئلی په باره کی چی کوم خاوند د
استطاعت باوجود خپلی ښځی ته نان نفقه نه ورکوی او د ښځی د نان نفقی څه انتظام
نه وی او خاوند د طلاق یاخلعی د پاره هم راضی نه وی، نو په داسی صورت کی د
ښځی د پاره د مذکوره خاوند څخه د خلاصی حاصلولو څه طریقه ده؟
الجواب: حامداً ومصلیاً: ۱- که خاوند داسی وی چی باوجود د وس او طاقت خپلی
ښځی ته نان نفقه نه ورکوی او د ښځی سره د نان نفقی څه انتظام هم نه وی او خاوند د
طلاق یاخلعی د پاره هم تیار نه وی نو په داسی صورت کی هغه د مالکی مذهب مطابق
د هغه خاوند د عدالت په ذریعه خلاصون حاصلولی سی.
(۲) د خلاصون حاصلولو د پاره به ښځه خپله مقدمه د کوم مسلمان قاضی په عدالت

کی پیش کوی او دادی ثابت کړی چی هغه د فلانی ښځه ده او د هغه د طاقت څخه ماته نان نفقه نه راکوی او نه زماسره د نان نفقی څه انتظام سته، چی د هغه په وجه ماته سخت ضرر لاحق دی، او زه په دی وجه د هغه د زوجیت څخه وتل غواړم.

۳: ښځه د (فلانکی) سره نکاح او د هغه مذکوره رویه دی په شاهدانو سره ثابت کړی او که د هغه سره شاهد نه وی، یاشاهد وی خو هغه یی پیش نکړی، نو که خاوند په عدالت کی حاضر وی نو د هغه څخه به قسم اخستل کیږی، که هغه د قسم اخستو څخه انکار وکی نو دابه ګڼلی سی چی د ښځی دعوٰی درسته ده، اوس به حج خاوند ته ووایی چی د خپلی ښځی حقوق اداء کړه، یا طلاق، خلع وکړه، که نه وی نو موږ به تفریق وکو. د دی څخه وروسته هم که هغه ظالم په هیڅ صورت عمل نه کوی نو قاضی د څه مهلت ورکولو څخه بغیرهم په هغه وخت دی په ښځی طلاق واقع کړی.

۴: خو که خاوند یا د هغه وکیل په عدالت کی حاضرنه وی لکه نن صبا چی عمومًا داسی دی او د عدالت بیابیا نوټس او سمن جاری کولو او خاوند د نوټس او سمن په باره کی د خبریدو باوجود هم عدالت ته نه حاضریږی، نو که د ښځی سره شاهدان موجود نه وی یاورسره وی خوپیش یی نکړی نو د خاوند بیابیا په راغوښتلو باندی په عدالت کی نه حاضریدل د هغه اړخه د قسم څخه انکار (نکول) ګڼل کیږی، او د دی انکار په بنیاد باندی عدالت د غائب خاوند په خلاف او د ښځی په حق کی به د فسخ نکاح فیصله جاری کړی.

اوس دلته داسوال پیداکیږی چی خاوند که غائب وی او د ښځی سره شاهدان موجود نه وی یا موجود وی خو ښځی پیش نه کړل نو په دی صورت کی د هغه غائب خاوند په خلاف او د ښځی په حق کی به څنګه فیصله کولی سی؟

نو د دی په باره کی عرض دادی چی د (قضاء علی الغائب) مسئله ده چی د مذهب حنابله څخه اخستل سوی ده یعنی د هغوی په نزد د غائب په خلاف فیصله جائز ده او همدا موقف د حضرات شافعیه هم دی او د هغوی په نزد د مدعی سره د شاهدانو کیدلو هم که مدعی شاهد پیش نکړی نو د مدعا علیه څخه قسم اخستل او د هغه په بنیاد فیصله کول درست دی او همدا موقف د حضرات شافعیه هم دی او په احنافو کی حضرت امام ابویوسف او امام محمد هم د دی قائل دی، خو که مدعا علیه غائب وی نو په هغه باندی قسم پیش کول متعذر دی، لهٰذا بیابیا په راغوښتلو باندی عدالت کی نه

حاضریدل به د هغه د اړخ څخه انکار (نکول) ګڼل کیږی. اوس د دی انکار په بنیاد باندی د مدعی په حق کی د فیصلی جاری کولو د پاره د مدعی څخه قسم اخستل ضروری نه دی، لکه چی د احنافو هم دا مذهب دی.

۵: د ښځی د پاره ضروری دی چی هغه دی د درخواست د پاره د فسخ نکاح نان نفقه نه ورکولو په بنیاد دی ورکړی او قاضی صاحب دی هم په خپله فیصله کی دابنیاد جوړ کړی (د خلع) طریقه کار دی بالکل نه اختیار وی، ځکه چی یکطرفه خلع د چاپه نزد هم جائز او معتبره نه ده، بیاهم که په څه فیصله کی د فیصلی بنیاد فی الجمله صحیح وی یعنی د خاوند تعنت ثابتیږی. خو که عدالت د فسخ په ځای د خلع لار اختیار کړی وی او د خلع لفظ یی استعمال کړی وی، نو په داسی صورت کی د خلع په طور باندی یکطرفه فیصله به درسته نه وی، بیاهم د فسخ نکاح د شرعی بنیاد موجود کیدو چی دا فیصله به معتبره وګرځوو او دابه ګڼلی سی چی د دی فیصلی په بنیاد باندی نکاح نسخه سوه، او ښځه به د طلاق عده تیره کړی، که په بل ځای کی غواړی نو نکاح کولی سی. خو په دی شرط چی دافیصله د برنی شرطونو او طریقه کار مطابق وی. یاد لری چی شرعًا د فیصلی د معتبره کیدلو په صورت کی د عدی اعتبار به د فیصلی د جاری کیدلو د تاریخ څخه شمیر وی.

(عربی حوالی وګورئ)

فی المغنی لابن قدامة: فان امتنع (المدعٰی علیه) من الحضور او تواری فظاهر کلام احمد: جواز القضاء علیه لما ذکرنا عنه فی روایة حرب، وروی عنه ابوطالب فی رجل وجد غلامه عند رجل فاقام البینة انه غلامه فقال الذی عنده الغلام: او د عنی هذا رجل، فقال احمد: اهل المدینة یقضون علی الغائب یقولون: انه لهٰذا الذی اقام البینة وهو مذهب حسن واهل البصرة یقضون علی غائب یسمونه الاعذار وهو اذا ادعٰی علی رجل الفًا واقام البینة فاختفی المدعٰی علیه یرسل الی بابه فینادی الرسول ثلثًا فان جاء والا قد اعذروا الیه، فهٰذا یقوی قول اهل المدینة وهو معنٰی حسن قد ذکر الشریف ابوجعفر وابو الخطاب انه یقضی علی الغائب الممتنع وهو مذهب الشافعی، لانه تعذر حضوره وسواله فجاز القضاء علیه کالغائب البعید، بل هذا اولی لان البعید معذور وهذا لاعذرله اه (ج: ۹ ص: ۱۱) (۱).

وفی الانصاف فی معرفة الراجع من الخلاف: فان امتنع من الحضور سمعت البينة وحكم بها فی احد الروايتين وهو المذهب اه. (ج: ۱۱ ص: ۳۰۲) (۲)

وفی الحاوی الكبير للعلامة الماوردی: فان قال المدعی: ليست لی بينة، فقد اختلف اصحابنا هل يكون هذا الامتناع من الحضور كالنكول فی رد اليمين علی المدعی ام لا؟ علی وجهين: احدهما: انه لايجعل نكولا..... والوجه الثانی: وهو اشبه ان يجعل كالنكول بعد النداء علی بابه بمبلغ الدعوی واعلامه بانه يحكم عليه بالنكول لوجود شرطی النكول فی هذا النداء اه (ج: ۱۶ ص: ۳۰۲) (۳)

وفی المبدع: وان نكل قضی عليه بالنكول نصّ عليه واختاره عامة شيوخنا اه. (ج: ۱۰ ص: ۲۴) (۴)

وفی الانصاف: هو المذهب. (ج: ۱۱ ص: ۲۵۴) (۵)

وفی الفقه الاسلامی و ادلته: لكن المختار عند الحنابله القول بعدم رد اليمين. (ج: ۶ ص: ۵۱۷) (۶)

وفی المغنی لابن قدامة: وان قال المدعی: لا اريد اقامتها (البينة) وانما اريد يمينه اكتفی بها استحلف لان البينة حقه فاذا ارضی باسقاطها وترك اقامتها فله ذالك كنفس الحق. اه (ج: ۹ ص: ۸۹) (۷) كذا فی الانصاف (ج: ۱۱ ص: ۲۲۳) والمبدع (ج: ۱۰ ص: ۲۷) وروضة الطالبين (ج: ۲ ص: ۴۰) وزاد المحتاج (ج: ۴ ص: ۵۴۱)

وفی البدايع حتی لوقال المدعی: لی بينة حاضرة ثم اراد ان يحلف المدعی عليه ليس له ذالك عنده وعندهما له ذالك اه (ج: ۶ ص: ۲۲۶) (۸).

(الجواب الصحيح احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه) (الجواب الصحيح محمود اشرف غفرالله له) (الجواب الصحيح بنده عبد الرؤف سكهروی) (الجواب الصحيح محمد عدب المنان عفی عنه)

والله تعالی اعلم
عصمت الله عصمه الله
د دار الافتاء دار العلوم كراچی
۱۴/ ۹/ ۱۴۱۹ ھ

(۱) ج: ۴ ص: ۹۶ (طبع دار العالم الكتب الرياض)
(۲) (طبع دار احياء التراث العربی بيروت)

الجواب الصحيح بنده محمد شفيع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲۴/ ۱/ ۱۳۸۸ ھ
(فتوی نمبر ۱۲۲/ ۱۹- الف)

نفقه نه ورکولو په وجه د نکاح د فسخ کیدلو حُکم

سوال: زما د خور د واده شپاړس کاله وسول د نکاح څخه وروسته یوه هفته په خسرګنی کی پاته سوه بیا د والدینو کورته راله، خاوند اته کاله څه خرچه نه ده ورکړی. اته کاله وروسته یی بیا ښځه بوتله لږ موده ساتلو څخه وروسته یی بیا د کور څخه وباسه. په دی دوران کی ښځه امیدواره ده چی د هغه څخه یی یوه ماشومه پیداسوه چی د هغه عمر اوس لس کاله دی، د هغی پرورش انا او نیکه وکی او د ماشومی د پیدایش څخه وروسته تراوسه انجلی د پلار کره ده د انجلی پلارهم څه خبرنه دی اخستی، تردی چی د انجلی نیکه څو میاشتی وسوی چی مړ سوی دی، بیاهم نه خسرګنی او نه د ښځی خاوند د پلار په تجهیز او تکفین کی شامل سوی دی اوس د ظلم با ظلم داچی ځوورځی سوی دی چی اطلاع ورکول سوه، چی خاوند دوهم واده کړی دی، زما خور اوس وایی چی زه د خپل خاوند څخه خلاصیدل غواړم او د شپاړس کالو د خپل خرڅ او د ماشومی د خرچی مطالبه کول غواړم، او ماشومه هم د ځان سره ساتل غواړم.

جواب: په صورت مسئوله کی تاته داحق حاصل دی چی د مسلمان حاکم په عدالت کی دعوی دائرکولو سره داثابت کړی چی ستا نکاح د فلانی سره سوی ده، او داچی هغه د ومره مودی څخه نه خپل کور ودانوی او نه د نان نفقی انتظام کوی، په دی باندی په عدالت ستا خاوند را وغواړی هغه به مجبوره کړی چی یاخودی د نفقی انتظام وکړی او

(۳) (طبع دار الكتب العلميه بيروت)
(۴) (طبع المكتب الاسلامی بيروت)
(۵) (طبع دار الاحياء التراث العربی بيروت)
(۶) (طبعدار الفكر بيروت)
(۷) ج: ۴ ص: ۷۲ (طبع دار عالم الكتب، الرياض)
(۸) (طبع رشيديه كويټه)

د زوجیت ټول حقوق دی اداء کړی، یادی تاته طلاق درکړی. که ستا خاوند په دواړو خبروکی یوه خبره ومنی نو صحیح ده. که نه وی نو عدالت به ستا نکاح د هغه ځخه فسخ کړی. د دی ځخه وروسته عده تیرولو سره چی چیری وغواړی نکاح کولی سی (۱). ستا او ستا د ماشومی د تیرسوی کلونو خرچه ستا په خاوند باندی دیانتًا واجب ده. او هغه ته اداء کول پکار دی د نه اداء کولو په صورت کی به هغه سخت ګنهګار وی. خو د عدالت په ذریعه د تیری مودی نفقه حاصلولو کی چی کوم تفصیل دی هغه تاته لیکل سوی دی.

والله سبحانه اعلم

۹/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوٰی نمبر ۹۲۴/ ۲۸ ج)

د نان نفقی د نشتوالی او د عصمت د خطری پیش نظر د ښځی د پاره د نکاح د فسخ کولو حُکم

سوال: مسمٰی محمد صدیق ولد ګل زمان عمر دیارلس کاله عقد نکاح د غیاب په حالت کی د محمد صدیق سره د زرینی دختر کالا عمر (۸) کاله تخمینًا په حالت د نابالغی کی د پلار په وکالت سره وسوه، والدینو ایجاب او قبول وکی دری کاله وروسته هلك د ملازمت په سلسله کی امریکی ته ولاړی، د دوو کالو پوری د هلك سره د خط او کتابت رابطه قائمه وه، د انجلی په بالغ کیدو باندی وارثانو هلك ته ولیکل چی رخصتی دی پوره سی هلك په جواب کی ولیکل چی دلته واده کول غواړم، زما پیدائشی سرټیفیکیټ را ولیږئ، چنانچی سرټیفیکیټ ور ولیږل سو خو دری میاشتی وروسته رجسټری چی د هغه په ذریعه سرټیفیکیټ لیږل سوی وو وروسته راله، د هغی انجلی والاوو د هلك په راغوښتلو او واده کولو باندی زور ورکی چی بیره د عصمت د خرابیدو ده، خو هلك مزید خط او کتابت بندکی د دی ځخه وروسته ډیر خطونه ورته ولیږل سول خو د یوه هم جواب رانغلی، تردی چی دوه کاله تیر سول، د ډیرکوشش باوجود د هلك هیڅ معلومات ونه سو او انجلی ځوانه سوه چی هغه په کورکی ساتل مشکل دی څه حکم چی وی وی لیکئ؟

(۱) د تفصیل او حواله جاتو د پاره سابقه صـ فتوٰی او د هغی حاشیه نمبر اول وګورئ

جواب: په صورت مسئوله کی که برنی واقعات درست وی نو ښځی ته پکار دی چی هغه د نان نفقی د نشت والی او عصمت ته د خطری په بنیاد په عدالت کی د نکاح د فسخ کولو دعوٰی دائره کړی. عدالت به د شریعت د مقرره اصولو مطابق تحقیقوکړی، که دامحسوس کړی چی ښځه د مجبوری په حالت کی ده نو هغه دی د یوه کال پوری صبر کولو ځخه وروسته نکاح فسخ کولی سی (۱). والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۲/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوٰی نمبر ۴۲/ ۱۹- الف)

د نفقی نه ورکولو په بنیاد د عدالتی فسخ فیصله شرعًا درسته ده

سوال: د یوی ښځی مسماة شمیم واده نن ځخه لس یوولس کاله مخکی یوسړی ډاکټر کرامت مرزا سره وسو وروسته د شمیم د خیتی ځخه د ډاکټر کرامت یوه لور پیداسوه، د واده ځخه یوکال وروسته ډاکټر کراکت مرزا ولایت ته ولاړی. ولایت ته د تلو ځخه وروسته د خپلی ښځی او لور کفالت ونکړی او خرچه یی هم را ونه لیږله، او نه یی څه خط او کتابت وکی. ښځه یی ډیره حیرانه او پریشانه ګرځیدله، د هغه ځخه وروسته هغه مجبوره کیدلوسره په سول عدالت لاهور کی د تنسیخ نکاح دعوٰی دایرکړله په عدالت کی د فسخ نکاح مقدمه تقریبًا اته، لس، میاشتی جاری وه، په دی دوران کی هم کرامت مرزا د عدالت په اطلاع باندی څه توجه ونکړله نه اصالتًا او نه وکالتًا. چنانچی عدالت د ضروری کار روایی ځخه وروسته د مسماة شمیم په حق کی د فسخ نکاح فیصله صادره کړله. چی د هغه نقل دی سوال سره ارسال دی، د دی ځخه وروسته مسماة شمیم دری میاشتی عده تیره کړه، د یوبل سړی مسمٰی ډاکټر احمد سره یی نکاح وکړله، خو مقامی نکاح تړونکی د دی نکاح تړلو ځخه انکار وکی او دا نکاح یوبل سړی وتړله د دی ځخه وروسته دابنځه مسماة شمیم د ډاکټر احمد په کورکی واده سوه او د هغه د خیتی ځخه د ډاکټر احمد دوه بچیان هم پیداسول، څلور پنځه کاله تیریدلو ځخه وروسته بعضی خلګو ډاکټر احمد په شك کی اخته کی چی دا نکاح

(۱) مکمل تفصیل سابقه فتوٰی صـ په حاشیه نمبر ۱ کی د حضرت والا دامت برکاتهم مصدقه فتوی کی وګورئ. (مرتب)

صحیح نه ده او بعضی خلگو تردی ورته وهم واچوی چی دا بدکاری ده، د دی په وجه د
مسماة شمیم خاندانی افراد هم پریشانه دی، اوس فتوی پکارده چی.

۱: دانکاح درسته ده او که نه؟

۲: داچی اوس په دی موجوده صورت کی صحیح طریقه کار څه پکار دی؟

تنقیح:

۱: تاسو د عدالت پوره فیصله نه ده رالیږلی، پوره فیصله را ولیږی.

۲: دا وضاحت ضروری دی چی د ډاکټر کرامت په نوم عدالت څه نوټس لیږلی وو او که نه؟ که لیږلی یی وو نو د هغه نوټس مضمون څه وو؟ او په هغه کی یی هغه ته د نان نفقی د اداء کولو حکم ورکول سوی وو او که نه؟

تیرو سوو ورځو کی په دار الافتاء کی سوالونه ډیر زیات راغلی وه، نو ځکه ستاسو د لفافی نمبر ډیر وروسته رالی. تاسو به د دی سوالونو جواب را ولیږئ او ورسره داکاغذ هم را ولیږئ نو انشاء الله جواب به ژر درکول سی. والسلام

محمد تقی عثمانی عفی عنه

د تنقیح جواب:

جواباً عرض دی چی د عدالت فیصله مفصل او مکمل د فوټو سټیټ په صورت کی می مخکی هم درلیږلی ده او اوس دوباره په خدمت کی حاضره ده، او د فیصلی دا نقل په هرلحاظ سره مکمل او مفصل ده.

۲: د مقدمی په دوران کی عدالت د ډاکټر کرامت مرزا پته معلومولو سره باقاعده د رجسټری په ذریعه د کرامت مرزا په نوم باندی نوټس روان کړی وو، بلکی دوه یادری واره یی نوټس جاری کړی وو، د جواب نه پیداکیدلو په صورت کی باقاعده طور باندی د عدالتی کار گذاری مطابق یی اخبار کی هم اشتهار شائع کړی وو، او د هغه اشتهاری نوټس اخبار باقاعده طوز باندی کرامت مرزا ته لیږلی سوی وو، د دی ځخه وروسته چی د هر اړخ ځخه عدالت رابطه قائم کړله، او هغه یی عدالت ته طلب کی په دی وار طلب کولو باندی د کرامت مرزا پلار قطعی توجه ورنکړه، د ټولو حالاتو ځخه مایوسه سو، عدالت ملحقه فیصله وکړله، سوی اتفاق سره په هغه وخت کرامت مرزاته جاری

سوی نوټس وغیره او د اخبار د اشتهار کاپی یا د هغه اشاعت تاریخ وغیره په دی وخت راته معلوم نه دی، داممکن دی که د عدالت ځخه بیا دهغه مقدمی خبر وغیره ورکولو سره د نوټس وغیره متعلق معلومات فراهم کیدی سی، خو دامعامله به ډیره اوږده سی.

دا حقیقت دی چی نوټس جاری سوی دی، اشتهار شایع سوی دی، د کرامت مرزا په پته یی لیږلی دی، هغه د پلاره سره رابطه قائم سوی ده او بیا د هغه ځخه وروسته فیصله صادره سوه، او دا وضاحت پوره حقیقت دی.

جواب: منسلکه فیصله چی کومه تاسو رالیږلی وه او دا وار دی بیاهم رالیږلی ده. د عدالت پوره فیصله نه ده، بلکی صرف د ډگری الفاظ دی. جج چی کومه فیصله لیکی په هغه کی پوره واقعات په تفصیل سره درج وی، هغه فیصله تاسو دا وار هم راونه لیږله، بیاهم د تنقیحاتو په جواب کی چی تاسو کومی خبری لیکلی دی، د هغه په رڼا کی حکم دادی چی که ښځی د نان نفقی نه کیدلو په بنیاد باندی د ډاکټر کرامت سره د نکاح د فسخ کولو دعوی کړی ده، او عدالت هغه ته هم په دی بنیاد باندی د عدالت ته په نه حاضریدلو باندی حکم جاری کړی وو، خو هغه پخپله حاضر نه سو، یا د هغه پلار د هغه د طرفه پیش سوی وی او هغه د نان نفقی د اداء کولو په سلسله کی څه داسی مسئول انتظام وعده ونکړله چی عدالت مطمئن کړی نو د عدالت منسلکه فیصله صحیح ده، په دی وجه باندی د ډاکټر کرامت او د مسماة شمیم نکاح فسخ سوه (۱). او د فسخ نکاح ځخه وروسته د عدی تیرولو سره مسماة شمیم د ډاکټر احمد سره نکاح کړی ده، نو دانوی نکاح درسته ده، ډاکټر احمد ته څه تردد کول پکار نه دی. او که د دی ځخه ماسوا بل څه صورت وی، نو مسئله دی دوباره معلومه سی خو په دغه صورت کی د عدالت مکمله فیصله رالیږل ضروری ده، منسلکه فیصله مکمله نه ده.

واللہ سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۶/۲۷ ھ

(فتوی نمبر ۲۲۸/ ۲۸ ب)

د متعنت د ښځی حکم

(۱) د دلائلو د پاره صفحه ۶ فتوی او د هغی اوله حاشیه وگوری.

سوال: یوه انجلۍ د هغې خاوند هغه د پنځو کالو څخه نه بوځي او طلاق هم نه ورکوي. پنځه بچیان د انجلۍ سره دي، د پنځو کالو څخه خرچه هم نه ورکوي، د انجلۍ پلار بوډا او غریب دی، کله چې ورته ووئیل سي چې ته خپله ښځه بوځه هغه وایي چې زه یې نه ساتم او طلاق هم نه ورکوم. د دې شرعي حکم راته وښایاست؟

جواب: په صورت مسئوله کې ښځې ته پکار دي چې خاوند په طلاق ورکولو یاخلع کولو باندې راضي کړي، که هغه په دې باندې راضي نه وي نو په عدالت کې د هغه په خلاف د نان نفقه نه کیدلو په وجه د نکاح د فسخ کولو دعوی داثر کړي، عدالت به سړي را وغواړي او ورته به ووایي چې یاخو ته خپله ښځه په خپل کور کې آباده کړه او د هغې حقوق نان نفقه اداء کړه او که نه وی نو طلاق ورکړه، که هغه په نان نفقې باندې تیار نه وي او د ځان سره یې بوځي نو مقصد حاصل دی او که نفقه اداء نه کړي او نه طلاق ورکړي، نو عدالت به د دغه خاوند څخه د ښځې نکاح فسخ کولی سي چې د هغه څخه وروسته د عدې تیرولو سره بل ځای نکاح کولی سي (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۸/۷/۱۵ هـ

(فتوی نمبر ۷۹۳/ ۲۹ ب)

د متعنت د ښځې حکم

سوال: ستاسو فتوی په ۲/ ۱۲/ ۱۳۹۰، تاریخ باندې بنده برماکښې هلته د مستر عبد الرحیم چودري خواته خپله عاجزي او بې وسې بیانولو سره خپل خاوند ته ولیږله، او د نان نفقه ورکولو د پاره مې ورته خط هم لیکلی وو، فی الحال زما خاوند د عابد الرحمن د غرونو په باغیانو کې شاملیدلو سره هم هلته په ځنګلونو کې ژوند تیروي او زما خبر معلومولو سره ماته د نان نفقې راکولو په ځای یې زما څخه سل روپۍ غوښتي دي، لکه چې د دې خط څخه چې د هغه ځای څخه یې رالیږلی دی تاسوته به معلومه سي، لهذا بندې ته د خلاصون څه صورت وښایاست زه د درو کوشنی کوشنی بچیانو سره په ډېر مصیبت کښې یم، نه زه زما برما ته تلی سم او نه خاوند دلته د راتلو د پاره تیار دی.

(۱) د تفصیلي طریقه کار او حواله جات د تیرې صـ فتوی او د هغې حاشیه ۱ وګورئ.

جواب: په صورت مسئوله کې مسماة ګورابانۍ ته حق دی چې هغه دې په عدالت کې په خپل خاوند باندې د نان نفقې دعوی دائره کړي، عدالت دې دا مذکوره خاوند په نان نفقې ورکولو باندې مجبوره کړي، که هغه د اطلاع باوجود حاضر نسي، یا د نان نفقې ورکولو څخه انکار وکړي نو عدالت ته به حق وي چې هغه د مسماة ګورابای څخه د خاوند مذکور نکاح فسخ کړي، که عدالت داشان مکمل تحقیق کولوسره نکاح فسخ کړي، نو ګورابای د فسخ د تاریخ څخه د عدې د مودې تیرولو سره چیرې چې وغواړي نکاح کولی سي (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقي عثماني عفی عنه

۱۳۹۱/۷/۲ هـ

(فتوی نمبر ۸۴۱/ ۲۲ ب)

د نفقې نه ورکول د فسخ نکاح بنیاد جوړولو حکم

سوال: زما عمر پنځه کاله وو، چې زما والدینو زما واده د یوسړي مسمی ظفر حسین شاه ولد نادرشاه سره وکړ، کله چې زه څو کاله وروسته بالغه سوم نو ماخپل خاوند پیدا نه کړ، پوښتنه کولو باندې راته معلوم سول چې هغه په پاکستان په علاقه کې مزدوري کولو سره خپل ځان ساتي‌او وروسته یووار څو واره کورته هم راغلی وو، ما د هغه سره د تللو مطالبه وکړله، خو هغه انکاري سو، او وی وئیل چې ماته ستا ضرورت نسته والد صاحب جرګه پنچائیت جمع کولوسره هغه ته ووئیل: چې یا خو ښځه د ځان سره بوځه، یا خپل کور پریږده، خو هغه د یوې خبرې منلوته هم تیارنه دی.

عالیجاه! زما پلار غریب سفید پوش سړی دی، ترنن ورځې پوري هغه زماخرچه برداشت کړله، اوس که څه صورت وي نو ماته یې ووایي؟ او احسانمند موکړي. ورسره هغه وایي که زر روپۍ راکوي نو طلاق به راکول سي، نو عالیجاه! یو زر روپۍ زه د کومه کړم؟ خوپه هرصورت که اوس په خپل مینځ کې پیداسو نو د تعلقاتو د بهتر

(۱) تفصیلي طریقه کار او حواله جات سابقه ص: ع فتوی او د هغې اوله حاشیه وګورئ.

کیدو څه خیال نسته. په داسی خاوند څه اعتماد؟ برای کرم د شرعی حکم څخه مو خبر کړی؟

جواب: په صورت مسئوله کی تاته حق دی چی د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی د نان نفقی نه کیدلو په وجه د فسخ نکاح دعوی دائرکړی. عدالت به د خاوند په نوم نوټس جاری کوی چی یاخو د ښځی حقوق اداء کړه او یا طلاق ورکړه که نه وی نو ستانکاح به فسخ سی، که په دی باندی خاوند د حقوقو ادائیګی نه کوی او طلاق هم ورنکړی نو عدالت به د خاوند قایم مقام کیدلو سره به تاته طلاق درکړی. د دی څخه وروسته د عدی تیرولو سره په بل ځای کی نکاح کولی سی (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۷۵/ ۱۹- الف)

ښځه په جنوبی افریقه کی پرېږدی او پخپله پاکستان ته راتلونکی د ښځی د نکاح فسخ کولو طریقه

سوال: زه یوه مسلمانه ښځه یم ساکنه جنوبی افریقه، زما خاوند د نن څخه دوه نیم کاله سوی دی چی زما یواځی ځوی اسماعیل یی د ځان سره اخستی او بغیر د رخصت څخه یی وطن پریښی دی او په پاکستان کی مقیم دی، د تلو په وخت کی زما خاوند رخصت خو پرېږدهو ماته یی اطلاع هم نه ده راکړی. چی هغه پاکستان ته ځی، نه یی زما د استوګنی او خوراك څښاك انتظام کړی دی. په جنوبی افریقه کی یوغیر مسلم حکومت دی مسلمان قاضی یا د جج په عهد باندی څوك هم نسته، لهذا ستاسو شعبه دار الافتاء ته متوجه یم. زما خاوند د خپل قیام په دوران کی په پاکستان کی عقد ثانی

---

(۱) مکمل تفصیل او حواله جاتو د پاره د ص فتوی او د هغی اوله حاشیه وګورئ

کړی دی، ورسره د پاکستان څخه جنوبی افریقی ته راتلونکی مسافرو ته یی زبانی زما خاوند دا پیغام رالیږلی دی، چی زه به ترعمره هغی ته طلاق ورنکړم او خپل پیدائشی وطن جنوبی افریقی ته د راتګ اراده یی پریښی ده، د دی حالاتو پیش نظر ساتلو سره د مامظلومی د پاره لاره صفا کولو سره فیصله وکړئ؟

جواب: په صورت مسئوله کی تاسو د جنوبی افریقی د علمائی کرامو کوم جماعت ته رجوع وکړئ چی داجماعت کم از کم دیندار او مستفیدو علماوو باندی باید مشتمل وی، د علماوو داجماعت دی د معاملی غیر جانبدار تحقیق وکړی که دا دعوی صحیح ثابته وی چی سړی سره د استطاعت څخه بیاهم خرچه نه ورکوی، نو داجماعت دی د ستا د خاوند په نوم نوټس جاری کړی چی یاخو د خپلی ښځی حقوق اداء کړه او که نه نوموړ به ستا نکاح فسخ کړو، که د دی څخه وروسته بیاهم هغه په دی صورت عمل ونکړی، نو د علماوو داجماعت دی ستا د خاوند قائمقام جوړیدلو سره طلاق واقع کړئ، د دی طلاق عده دری حیضه تیریدلو سره چی ته چیری وغواړی نکاح کولی سی (۱)، خو د علمائی کرامو جماعت ته چی کله ته خپله مقدمه یوسی، نو د هغوی د پاره ضروری دی چی هغوی د ټولو متعلقه مسائلو څخه د خبریدلو د پاره د حضرت مولانا اشرف علی تهانوی رحمة الله تعالی علیه کتاب الحلیة الناجزة للحلیة العاجزة ص: ۲۴ څخه تر (۳۱) پوری او د ۶۳ څخه تر ۶۴ پوری دی په غور سره مطالعه وکړی، او په کوم ځای کی چی ورته مشکل وی نو نورو علماوو ته دی مراجعه وکړی، فقط. والله سبحانه وتعالی اعلم.

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۸/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۲۸/ ۱۹ – الف)

د خاوند د سختو وهلو او ناقابل برداشت جسمانی تکلیف په بناء باندی د نکاح د فسخ کولو حُکم

سوال: به خدمت جناب مفتی صاحب دار العلوم کراچی! ګذارش دی چی د دین علماء

---

(۱) د زیات تحقیق او حواله جات د پاره سابقه ص: ع او د فتوی او د هغی اوله حاشیه وګورئ

په دی مسئله کی څه فرمائی چی داده: چی د نکاح د فسخ کولو فیصله عدالت کړی ده،
په دی مسئله کی موږ ته اطمینان دی راکول سی ډیره مهربانی به مووی.. (محمد عرفان
ډرایور دار) (محمد عرفان ډرایور دار العلوم کراچی)

جواب: منسلکه فیصله احقر وواېه، په دی فیصله کی (۱) د خاوند په سختو وهلو او
ناقابل برداشت جسمانی تکلیف رسولو په بنیاد باندی د مسماة شمیم اختر نکاح د
محمد سرور سره فسخ سوه د نکاح د فسخ بنیاد د مالکی مذهب مطابق صحیح دی، او
د احنافو فقهاوو د ضرورت په وخت د دی مسلک اختیارولو اجازت ورکړی دی، لهذا د
عدالت د فیصلی څخه وروسته د مسماة شمیم اختر نکاح د محمد سرور سره ختمه سوه
دی، اوس دی هغه د عدی پوره کولو سره نی دری واره د حیض تیرولو څخه وروسته بل
چیری نکاح کولی سی.

والله اعلم

۱۸/ ۱۱/ ۱۴۰۰ ھ

(فتوی نمبر ۱۴۹۵/ ۳۱ و)

د نان نفقی نه ورکولو په وجه د فسخ نکاح حکم

سوال: د ممتاز بی بی یوولس کاله وسول چی واده یی سوی دی په دی یوولس کالو کی
یو کال په مشکله سره ممتاز بی بی به خسرګنی کی تیر کړی وی ډیری خبری سوی دی د
ممتاز بی بی خاوند ته څو واره اپیل سوی دی چی یاخو هغی ته طلاق ورکړه یا ورته
خرچه ورکوه، یاته زموږ خواته راسه او یاموږ را وغواړه چی څه فیصله وسی خو د
پریشانی څخه ماسوا عبد القیوم په دی کی هیڅ فیصله ونکړله او نه هغه ښځه
راغواوی او نه خرچه ورکوی په دی صورت کی شریعت مطهره څه حکم ورکوی؟

جواب: په صورت مسئوله کی ممتاز بی بی ته پکار دی چی خپل خاوند پوه راپوه
کړی، طلاق دی ځنی واخلی، که هغه په دی باندی راضی نه وی نو خلع دی وکړی، مثلاً
د خپل مهر معاف کولو سره دی د هغه څخه د طلاق حاصلولو کوشش وکړی، که هغه په

(۱) په انګریزی کی د فسخ نکاح داعدالتی فیصله حضرت والا پخپله وواېه او مذکوره فیصله یی
ورکړله که څه هم دافیصله په رجستر کی محفوظه نه ده خو د فتوی څخه د عدالتی فیصلی د
مندرجاتو اندازه کیږی

هیڅ قسم هم دی ته تیار نه وی نو د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی دی د نان نفقی نه
ورکولو په بنیاد باندی دعوی دائره سی. عدالت به خاوند را وغواړی، دا به ورته ووایی
چی یاخو طلاق ورکړه، یا نان نفقه اداء کړه، که خاوند په دی کی د هیڅ منلو ته تیار نه
وی، نو د خاوند د قایم مقام په حیثیت سره به عدالت ته د طلاق ورکولو اختیار وی

(۱) والله اعلم ۳/ ۲/ ۱۳۸۸ ھ

د متعنت د ښځی حُکم

سوال: د محمد سرور سره یونیم کاله مخکی زما واده سوی وو. د هغه څخه می یوه
انجلی پیداسوه چی اوس د هغی عمر لس میاشتی دی. یونیم کاله موده د محمد
سرورسره په ډیر مشقت او تکلیف سره تیره سوه. زه به هغه اکثره وهلم او ټکولم. او د
کور څخه به یی وکاږم، د والدینو کورته به راتلم، او والیدنو به روپی کپړه وغیره
راکولو سره به یی بیرته اخلم، محمد سرور محنت مزدوری نه کوی. هغه زیاد تر د شپی
کوارټرته تاله لګوی اوځی او سهار راځی او تاته خلاص وی. معلومه نسوه چی ټوله
شپه چیری پاته کیږی یوه ورځ دا وئیلو سره یی د کور څخه ویستلم چی دوه سوه روپی
راوړه که نه وی نو ذبح به دی کوم زما والدین محنت مزدوری کولو سره خپل ځان ساتی
هغوی به ترکومی راکوی، اوس زما د پاره د دی څخه ماسوا څه لاره نسته چی طلاق
واخلم لهذا ماته دی طلاق راکړل سی که هغه د پریشانه کولو د پاره طلاق نه راکوی نو
آیا زه د عدالت څخه خپله نکاح فسخ کولی سم؟ او هغه برشرعاً معتبره وی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله خودی اول د دی خبری کوشش وسی. چی خاوندته د جدائی
خوف ورکولو سره دی دغه خبری ته تیار سی چی هغه پخپله طلاق ورکړی، که هغه دی
ته تیار نه وی او نان نفقه هم اداء نه کړی نو بیا مسماة شمیم اختر د پاره جائز دی چی
هغه د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی دعوی دائره کړی، اول دی داثابت کړی چی د
هغه نکاح د محمد سرور سره سوی ده، او داچی هغه نان نفقه نه اداء کوی حاکم به د
معاملاتو د شرعی تحقیق څخه وروسته که دا وګوری چی خاوند نه نان نفقه ورکوی او
نه ورته د دی اطمینان ورکوی نو هغه نکاح فسخ کولی سی، داشان که هغه نکاح فسخ
کړی، نو هغه به شرعاً معتبره وی. (۲)

(۱) تفصیلی طریقه کار او حواله جات د پاره سابقه صـ فتوی او د هغی اوله حاشیه وګوری

(۲) وګورئ سابقه حواله ص: فتوی او د هغی اوله حاشیه

والله سبحانه اعلم
۴/ ۱۰/ ۱۳۹۶ هـ
(فتوی نمبر ۲۳۳۰/ ۲۷ هـ)

د متعنت د ښځی حکم

سوال: د یوی ښځی خاوند د دولس څوارلس کالو څخه تللی دی، هغه په فوج کی ملازم دی، په کراچی کی وسیږی په دی مینځ کی هرقسم کوشش وسو چی هغه ښځه د ځان سره وساتی، یاطلاق ورکړی، خو هغه نه منی، شرعی حکم به څه وی؟

جواب: په صورت مسئوله کی ښځی ته پکار دی چی هغه د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی د نان نفقی د نه کیدلو په بنیاد باندی د خاوند په خلاف د تنسیخ نکاح دعوی دائره کړی، عدالت به د هغی خاوند عدالت ته په حاضرولو سره هغی ته د نان نفقی او د حقوقو په اداء کولو باندی به یی مجبوره کوی او که هغه راضی نه وی یا عدالت ته حاضرنسی، نو عدالت ته به د نکاح د فسخ کولو اختیار وی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۳/ ۲/ ۱۳۹۱ هـ
(فتوی نمبر ۳۶۲/ ۲۲- الف)

د خاوند د نامرد کیدلو په وجه د فسخ نکاح شرطونه، ورسره د نفقی د نه اداء کولو په وجه د فسخ نکاح حُکم

سوال: په رائج الوخت ملکی قانون کی د نفقی نه ورکولو او د زوجیت حقوق نه اداء کولو په صورت کی ښځی ته تردوو کالو پروی انتظار کولو څخه وروسته د نکاح د تفریق حق حاصلیږی آیا په شریعت مطهره کی داشان تحدید سته؟ که نه وی نو د جرم د تحقیق د پاره د څه مده تیریدل ضروی دی، هغه مده څومره ده؟

(مولانا قاضی بشیر احمد)
(قاضی عدالت باغ ضلع پونچه، آزاد کشمیر)

جواب: ترڅو چی د زوجیت د حقوقو د عدم ادائیگی تعلق دی، شرعًا داچی هغه وخت د نکاح د فسخ موجب گرځیدلی سی کله چی خاوند عنین وی او په دی صورت کی ښځی

ته د دعوی دائر کولو د پاره د څه انتظار ضرورت نسته، خوشرط دادی چی ښځی ته د نکاح څخه مخکی د خاوند د عنین کیدلو علم نه وی، او د نکاح څخه وروسته یووار هم خاوند وطی نه وی کړی، د عنین کیدو د علم کیدلو څخه وروسته ښځی د خاوند په نکاح کی د پاته کیدو یووار هم رضامندی نه وی ښوولی، هو! په دی صورت کی چی کله قاضی ته معامله ورسیږی، نو هغه به خاوند ته یوکال مهلت ورکوی، په یوکال کی که هغه تندرسته نه سوه، نو ښځی ته به د فسخ نکاح اختیار ورکوی، که هغه هم په دغه مجلس کی تفریق اختیار کړی نو نکاح به فسخ کړی، د عینین کیدلو څخه بغیر که کوم بوړی د ښځی حقوق نه اداء کوی، نو دا د هغه د پاره گناه خوده خو د فسخ نکاح سبب نه دی. لمافی الدر المختار لحصول حقها بالوطء مرةً وقال الشامی ومازاد علیها فهو مستحق دیانة لاقضاء، بحر، عن جامع قاضی خان ویأثم اذاترك الدیانة متعنتاً مع القدرة علی الوطء (باب العنین ج: ۲ ص: ۹۷۷) ([1]) او د نفقی د نه اداء کولو په بنیاد باندی چی د نکاح د فسخ کوم حق ښځی ته ورکول سوی دی، دامسئله د مذهب مالکی څخه مأخود ده، په دی کی د دعوی د پاره د انتظار څه شرط نه دی، هو! داشرط دی چی خاوند په خلع باندی راضی نه وی او د ښځی د خرچی څه بل څه انتظام هم نه وی. د دی شرطونو د تحقق څخه وروسته به په مذهب مالکی باندی عمل کولی سی او په مذهب مالکی کی په دی بنیاد د فسخ نکاح د پاره د څه مدی د انتظار او مهلت په اتفاق د مالکیو ضرورت نسته. (الحیلة الناجزة ص: ۷۸) ([2])

هذاماعندی والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱۷/ ۶/ ۱۳۹۷ هـ
(فتوی نمبر ۲۱۸/ ۲۸ ب)

صرف د مراد څخه کمزوری په وجه ښځی ته د فسخ نکاح حق حاصل نه دی

[1] در المختار مع رد المحتار باب العنین ج: ۳ ص: ۴۹۵ (طبع سعید) او همدارنگه زوجه عنین د فسخ نکاح مذکوره شرائطو د تفصیل د پاره حیله ناجز ص: ۴۳ او ۴۹ وگوری

[2] ص: ۷۳. ۷۴ (طبع دار الاشاعت کراچی)

سوال: یوی بالغی انجلی د یونابالغ هلك سره واده کړی وو، د دی څخه وروسته انجلی وایی چی زما خاوند د مردانه طاقت په اعتبار سره کمزوری دی زه دغه خاوند څخه خوشحاله نه یم نو ځکه زه نکاح فسخ کول غواړم، او هلك اقرار کوی چی زه تندرسته یم، د دی څه حکم دی؟ هلك وایی که طلاق واقع سی نو مهر به وی او که نه؟

جواب: صرف د مردانه کمزوری په وجه ښځی ته د نکاح د فسخ کولو حق نه حاصلیږی ترڅو چی د خاوند بالکل نامرد کیدل ثابت نه سی (۱) لهذا په دی صورت کی به په هغه مکمل مهر واجب وی. د خاوند د پاره داهم جائز دی چی که زیاتی د ښځی د طرفه وی نو د طلاق ورکولو د پاره دی د مهر معاف کولو شرط ولګوی په دی صورت کی که ښځه مهر معاف کړی، نو مهر به معاف سی.

(نوټ) سړی ته پکار دی چی کله هغه طلاق ورکړی، نو د طلاق لفظ دی صرف یووار ووایی او د یووار څخه دی زیات طلاق نه ورکوی دری طلاقه ورکول ناجائز دی (۲).

والله اعلم

۴/ ۷/ ۱۳۸۸ هـ

د نامردی دعوی ردکولو سره صرف د ظلم په وجه د فسخ نکاح عدالتی فیصلی شرعی حیثیت

سوال: ښځی د خاوند په خلاف په دوو وجهو د فسخ نکاح دعوی وکړله یو د نامردی وجه. او دوهم د ظلم په وجه باندی خلع په ذریعه د عدالت، عدالت د نامردی سبب رد کی او د ظلم په وجه د خلع دعوی صحیح منلو سره یی نکاح فسخ کړله، آیا نکاح فسخ سوه؟

جواب: په صورت مسئوله کی د انجلی د فسخ نکاح شرعی صورت صرف داوو چی د خاوند نامرد کیدل ثابت سوی وی او د علاج باوجود د هغه اصلاح نه کیدله، خو په منسلکه فیصلی کی تصریح سوی ده چی د ښځی دا الزام درست ثابت نه سو. که واقعه

---

(۱) د تفصیل د پاره تیره سوی فتوی وګوری؟

(۲) د حوالی د پاره صـ او صـ او حاشیه نمبر ع او ع وګوری.

همداوی نو ښځی ته د فسخ نکاح حق حاصل نه دی، د خلع چی کوم بنیاد بیان سوی دی، هغه شرعاً درست نه دی، ځکه چی د خلع معامله صرف د زوجینو په خپل مینځ کی په رضامندی سره سرته رسیدی سی. که خاوند په دی باندی راضی نه وی، نو هغه په خلع باندی نسی مجبوره کولی. هو! د کوم ظلم په بنیاد چی د خلع دعوی سوی ده. د دی ظلم په ازالی باندی د عدالت په زور مجبوره کولی سی. خو د حنفی فقه په رڼا کی د هرظلم په وجه عدالت. خاوند په خلع باندی د مجبوره کولو مجاز نه دی. قال الامام ابوبکر الجصاص رحمه الله تعالی لوکان الخلع الی السلطان شاء الزوجان او أبیا اذا علم انهما لایقیمان حدود الله تعالی لم سئل هما النبی ﷺ عن ذالك ولاخاطب الزوج بقوله اخلعها بل كان یخلعها منه ویرد علیه حدیقته، وان أبیا او واحد منهما لماكانت فرقة المتلاعنین الی الحاكم لم یقل للملا عن خل سبیلها بل فرق بینهما. (احكام القران للجصاص ج: ۱ ص: ۴۲۸) (۱) وقال فی العالمگیریه وشرطه شرط الطلاق. (ج: ۱ ص: ۵۱۵) (۲) وقال السرخسی لانه عقد یعتمد التراضی المبسوط ج: ۶ ص: ۱۷۳) (۳) د مذکوره نصوصو څخه معلومه سوه چی صورت مسئوله کی په شرعی حیثیت سره نکاح نه ده فسخ سوی، او ښځی ته په بل ځای کی د واده کولو شرعا اجازت نسته.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۹/ ۱۱/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۲۰۳/ ۲۱- إلف)

د نان نفقی څخه د انکار کولو په وجه د فسخ نکا حُکم

سوال: د مسماة مختار بیکم د یوسړی سره سوی وو حالانکی د هغی خوښه نه وه، خو د مجبوری په وجه یی نکاح وکړله اوس دری کاله وروسته هغه د کور څخه وباسل کیږی او خاوند د نان نفقی څخه انکار کوی او داهم وایی چی ته په زناسره پیسی ګټه، نو په

---

(۱) ج: ۱ ص: ۳۹۵- (طبع سهیل اکیډمی لاهور)

(۲) عالمګیریه ج: ۱ ص: ۴۸۸ (طبع رشیدیه کویټه)

(۳) طبع دار المعرفت بیروت.

شریعت کی د داسی سړی د پاره څه حکم دی؟

جواب: مذکوره صورت کی مختار بیګم ته پکار دی چی هغه د کوم مسلمان حاکم په عدالت کی د خاوند د طرفه د نان نفقی د نشت والی په وجه د فسخ نکاح دعوی دائرکړی، حاکم به د شرعی شرائطو مطابق خاوند عدالت ته حاضر کړی، او هغه به مجبوره کړی چی مختار بیګم ته نان نفقه ورکړی او د هغی سره ښه سلوك کوی په بل عبارت هغی ته طلاق ورکړی که خاوند عدالت ته حاضریږی او د نان نفقی او طلاق دواړو څخه انکار وکړی نو عدالت به د خاوند د اړخه طلاق ورکولی سی، د دی څخه وروسته مختار بیګم دری حیضه په طور د عدی تیرولو سره چیری چی وغواړی نکاح کولی سی. (۱)

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه وتعالی اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۸/ ۴/ ۱۳۹۱ هـ

(فتوی نمبر ۵۷۲/ ۲۲- الف)

(۱) وګوری سابقه حواله ص حاشیه نمبر ع و ع.

باب العدة واحكامها

عده او د هغی احکام

د دري طلاقو څخه وروسته د عدی موده او د نفقی او سکنی احکام

سوال: زما د خپلی ښځی سره د شپی تلخ کلامی وسوه، د هغه وجه داده چی زما ښځی په ماباندی شك وو چی ما د خپلی د همسایی سره خبری کړی دی خو ماقسم اخستوسره تسلی ورکړی وه، خو د سهار د لمانځه څخه وروسته دوباره تلخ کلامی وسوه او ما هغه د کور څخه وشړله، نو هغه دننه راله، نو ما ووئیل چی تاته طلاق دی، طلاق دی، طلاق دی، آیا په دی سره طلاق واقع سو او که نه؟ د جوړی څه صورت کیدی سی او که نه؟ ورسره د ښځی د شپږو اوومیاشتو حمل هم دی، که طلاق واقع سوی وی نو د عدی او نان نفقی په باره کی هم ذکروکړی او ورسره د پاته کیدلو په باره کی هم راته ووایی؟

جواب: په صورت مسئوله کی ستا د اړخه ستا په ښځی باندی طلاق مغلظه واقع سوی دی، اوس هغه ستا د پاره حرامه سوی ده، نه رجوع کیدی سی، او نه د شرعی حلالی څخه بغیر دوباره نکاح کیدی سی، (۱) او طلاق د حمل په حالت کی هم کیږی (۲)، او اوس به ستا د ښځی عده د ماشوم په پیداکیدلو سره ختمیږی (۳)، په دی دوران کی په تاباندی د هغی نان نفقه او د اوسیدلو انتظام واجب دی (۴)، او ستا په کورکی په جلا کمره کی د پوره پردی سره دی درسره وسیږی (۵)، د ښځی خاوند په شان خپل په مینځ

(۱) د حوالی د پاره سابقه ص: ۴۱۲ فتوی او دهغی حواشی، ۱- ۲ پوری وګوری.

(۲) د حوالی د پاره سابقه ص: ۳۲۱ حاشیه نمبر ۱ وګوری.

(۳) د حوالی د پاره سابقه ص: ۴۱۱ حاشیه ۲ وګوری.

(۴) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب النفقة ج: ۲ ص: ۴۴۳ (طبع شرکت علمیه ملتان) واذا طلق الرجل امراته فلها النفقة والسکنی فی عدتها رجعیًا کان او بائنًا. وکذا فی الشامیة باب النفقة مطلب فی نفقة المطلقة ج: ۳ ص: ۶۰۹ (طبع سعید وکذا فی الهندیة کتاب الطلاق الفصل الثالث فی النفقة المعتدة ج: ۱ ص ۵۵۷ (طبع ماجدیه کویته).

(۵) د حوالی د پاره تیره سوی صفحه ص: ۴۲۶ وروسته حاشیه نمبر ۲ و ۳ او د موجوده صفحی حاشیه نمبر ۴ وګوری.

کې ملاویدل بالکل حرام دي. د ماشوم د پیداکیدلو څخه وروسته چې هغه ځیرې غواړي نکاح کولی سي.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۳۹/ ۲۸ ج)

د خلوت څخه وروسته د خلع په صورت کې عده واجب ده

سوال: زما د یوې خپلوانې واده می سنه ۱۹۷۴ء کې وسو، د یوڅو ورځو تعلقاتو څخه وروسته انجلۍ د خپل ورور کورته راله، اوس دوه کاله سوي دي چې انجلۍ د خپل خاوند شکل هم نه دی لیدلی او په دې میاشت کې یې خلع وکړله د دې د عدې په باره کې څه حکم دی؟

جواب: که د ښځې او خاوند په مینځ کې خلوت سوی وی نو په صورت مسئوله کې ستا په خپلوانۍ باندې عده واجب ده (۱) که څه هم هغې د دوو کالو څخه د خاوند شکل نه وی لیدلی، او عده د درو حیضو پوره کول دي (۲)، په دې دوران کې د هغې د پاره د خپل کور څخه د باندې وتل جائز نه دي (۳) او داحکم په هغه وخت کې کله چې هغې د خپل خاوند سره کومه خلع کړې ده هغه یې د خاوند په خوښې باندې کړې وی، که څه بل صورت وی نو سوال دوباره را ولیږه چې حکم دې معلوم سي.

والله سبحانه اعلم

۱۰/ ۳/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۳۱۱/ ۲۸ ب)

(۱) وفی تنویر الابصار مع الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۰۴ (طبع سعید) (وسبب وجوبها) عقد (النکاح التاکید بالتسلیم وماجری مجراه) من موت او خلوت ای صحیحة.

(۲) وفی تنویر الابصار مع الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۰۵، ۵۰۲ (طبع سعید) (وهی فی) حق (حرة تحیض لطلاق بعد الدخول حقیقة او حکما ثلاث حیض کوامل).

(۳) وفی الدر المختار کتاب الطلاق باب العدة فصل فی الحدات ج: ۳ ص: ۵۳۲ (طبع سعید) (وتعدان) ای معتدة طلاق موت فی بیت وجبت فیه ولایخرجان منه الا ان تخرج او ینهدم المنزل او تخاف انهدامه الخ.

د خاوند په کورکی عده تیرول ضروری ده

سوال: یوه ښځه په پاکستان کوارټرز کی اوسیدله، د هغی خاوند بیمارسو هسپتال ته ولاړی او هلته مړسو، د هغه ورور یعنی لیور بوره پیرته خپل کورته یی متوفی راوړی او همدلته یی تدفین وکی، ښځی ته یی همدلته د عدی د تیرولو ووئیل: هغه هم په بوره پیر کی عده تیروی، پاکستان کوارټرز یعنی د هغوی د کور انډیانه میلمانه رالل د بوره پیرته د تللو یعنی د لیور په کورکی د پردی او د غیر کیدلو په وجه نوری پریشانیانی هم دی، دا میلمانه د ښځی خویندی او وړونه حقیقی دی، موږ غواړو چې ښځه خپل کورته منتقله سی او د عدی نوری ورځی پوره کړی، خویندی او وړونه ټول په یوځای کی جمع سوی دی، شرعًا څه حکم دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د مرحوم ګنډی ته د خپل خاوند په کور (پاکستان کوارټرز) کی عده تیرول پکار وو (۱) بیاهم د مذکوره عذرونو په وجه اوس هم هغه د لیور د کور څخه پاکستان کوارټرز خپل کورته منتقل کیدلی سی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه وتعالی اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۹/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۵/ ۱۹ – الف)

د عدی په دوران کی سودا سلف د پاره د باندی د تللو حُکم

سوال: د یوی ښځی خاوند ۲۷/ شوال سنه ۱۴۰۰ هـ کی مړسو، په کور کی څوک سړی نسته چې د کور د پاره سودا سامان راوړی او نور د بازار کارونه وکړی، د هغی بازار ته تلل ضروری دی، د ماښام ځلور بجو څخه د سهار تر (۷) یا اتو (۸) بجوپوری په کورکی پاته کیږی ایاباقی وخت کی هغه سودا سامان راوړی سی؟ آیا د هغی عده به کله ختمیږی؟

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۳۲ (طبع سعید) (وتعتدان) ای معتدة طلاق وموت فی بیت وجبت فیه ولایخرجان منه. الا ان تخرج او ینهدم المنزل او تخاف انهدامه... الخ. وفی الهدایة..... کما اذاخافت علی متاعها او خافت سقوط المنزل او کانت فیها باجر ولاتجد ماتودیه وفی فتح القدیر (قوله خافت علی متاعها اللصوص) ای فانها تخرج لانه عذر. (فتح القدیر ج: ۷ ص: ۱۲۷).

جواب: په صورت مسئوله کی مذکوره ښځه د ورځی یعنی د لمرختلو څخه وروسته او ماښام څخه مخکی مخکی د سودا سامان د راوړلو د پاره د کور څخه وتلی سی خو د شپی څخه مخکی کورته بیرته راتلل ضروری دی، او شپه هم په کورکی تیرول ضروری دی (۱)، که هغه حامله نه وی نو د هغی عده څلور میاشتی او لس ورځی ده. (۲)

والله سبحانه اعلم

۱۷/ ۱۲/ ۱۴۰۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۲۵۲/ ۳۶ هـ)

د عدی په دوران د کور څخه د باندی وتلو بندیز رسم نه دی بلکی یوشرعی حکم دی

سوال: د یوصاحب انتقالوسو، د هغوی کنډه چی د هغی عمر پنځوس کاله دی عده یی تیروله چی د کراچی څخه ګنډی ته د خپل ورور د بیماری او حالت زیات خرابیدو اطلاع ورکول سوه، چنانچی کونډی د محلی د جومات د امام څخه په دی معامله کی فتوی وغوښتله، نو هغوی ووئیل: چی عده یورسم دی چی د هغی مده څلور میاشتی او لس ورځی مقرره سوی ده. که د مړی څخه حمل وغیره وی چی په دی موده کی ښکاره سی، د دی څخه علاوه بل څه دینی اهمیت یی نسته، چونکی د کنډی د دی عمر څخه تجاوز سوی دی او د حقیقی ورور آخری دیدار هم ضروری دی لهذا تاسو کراچی ته تلی سی. چنانچی هغه محترمه کراچی ته رلاړه، د یوځو ورځو څخه وروسته یی د ورور انتقال وسو او هغه تراوسه پوری هم په کراچی کی ده، د دی شرعی حکم صادر کړئ؟

جواب: مذکوره امام صاحب داخبره صحیح نه ده کړی چی د وفات عده اصل مقصد صرف حمل معلومول دی، ورسره داچی د عدی په دوران کی د کور څخه د وتلو ممانعت څه شرعی حکم نه دی بلکی خاص رسم دی، د امام صاحب دا دواړی خبری غلطی دی، واقعه داده چی د عدی په دوران کی د کور څخه د وتلو ممانعت یوشرعی

---

(۱) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۳۲ (طبع سعید) ومعتدة موت تخرج فی الجدیدین وتبیت اکثر اللیل فی منزلها لان نفقتها علیها فتحتاج للخروج حتی لوکان عندها کفایتها صارت کالمطلقة فلایحل لها الخروج فتح وجوز فی القنیة خروجها لاصلاح مالابدلها منه کزراعة ولاوکیل لها.

(۲) قال الله تعالی: وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا. (البقرة: ۲۳۴)

حکم دی (۱)، خاص د رسم خبره نه ده او په صورت مذکوره کی مذکوره ښځی ته پکار دی چی د ورځی په وخت کی یی د ورور عیادت کولی او شپه یی د خاوند په کور کی تیرولی، بهرحال اوس هم په هغی باندی واجب چی هغه فوراً بیرته راسی او د عدی باقی ورځی د خاوند په کورکی پوره کړی.

والله سبحانه اعلم

۲/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۱۵/ ۲۸ ج)

د مخکنی ښځی د پردی څخه بغیر په کورکی د ساتلو حُکم

سوال: د زید واده د خپل د اکا د لور سره سوی ووو تقریباً د لسو کالو څخه یی څه اولاد نه وو پیداسوی، د خدای ﷻ په فیصلی سره هغی ته د کولمو مرض لاحق سو، مرض سختوالی اختیارولو چی په هغه کی د مړکیدلو زیاته توقع وه، ښځی داووئیل: چی زما د ژوند امید نسته، نو زما په ژوند کی دی د زید واده زما د کوشنی خورسره رسی نو بهتره ده چی د والدینو په خوښه د مریضی او زید فیصله وسوه، چی دی مریضی ته طلاق ورکړی، زید طلاق ورکی، او د ښځی د خور سره یی واده وسو، په قدرت الهی سره مریضه لږ غوندی ښه کیږی، لیکن هم دایم المریضه ده، په دی صورت کی زید په حیثیت د خور هغه په کور کی کفیل جوړیدلو سره ساتلی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی د زید اولنی ښځه د هغه د پاره پردی سوی ده، لهذا هغه بغیر د پردی څخه په خپل کور کی ساتل جائز نه دی (۲) پردی سره کله کله د عامو ښځو په شان راسی نو په دی کی څه خبره نسته، خو مستقل طور په کورکی ساتلو سره د پری هم مناسب نه دی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله اعلم بالصواب

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۷/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۴۴۲/ ۱۸- الف)

---

(۱) د حوالی د پاره د تیری صفحی حاشیه (۱- ۲) وګوری.

(۲) وګوره د مخکی ص: (۵۸۸) حاشیه ۱- ۲، او ص: ۴۲۲، حاشیه نمبر ۲ و ۳.

فصل فی الحضانة والنسب

د ماشومانو د پرورش او نسب احکام

د اوو میاشتو څخه وروسته د پیدا کیدونکی ماشومی نسب ثابت دی

سوال: د عمر سره د یوی ښځی واده وسو، دری څلورو میاشتو کی د ننه هغه طلاق ورکی، د نکاح د تاریخ څخه پوره اووه میاشتی وروسته د هغی مطلقی ښځی لور پیداسوه، آیا اوس دا انجلی د عمر جائز اولاد دی او د ده وارث جوړیدلی سی؟

جواب: په صورت مسئوله کی هغه انجلی چی عمر سره د نکاح کولو څخه وروسته اوه میاشتینی پیدا سوی ده د هغی نسب د عمر څخه ثابت دی (۱) او هغه د عمر (په صورت د عدم موانع وارث) جائز وارث دی، څکه چی د وضع حمل مده کم ترکمه شرعاً شپږ میاشتی دی. کمافی الهدایة واقل مدت الحمل ستة اشهر (۲).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتم واحکم.

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲۲/ ۱۰/ ۱۳۸۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۳۱۹/ ۱۸ - الف)

د نهو کالو عمر پوری د ماشومی د پرورش حق مورته حاصل دی

د ماشومی د غیر محرم سره د مور د واده په صورت کی به د ماشومی

---

(۱) وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب ج: ۱ ص: ۵۳۶ (طبع ماجدیه) واذا تزوج الرجل امراة فجاءت بالولد لاقل من ستة اشهر منذ تزوجها لم یثبت نسبه، وان جاءت به لستة اشهر فصاعداً یثبت نسبه منه اعترف به الزوج أو سکت. وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۴۹ (طبع سعید) (قوله والولدله) ای ان جاءت بعد النکاح لستة اشهر مختارات النوازل فلولاقل من ستة اشهر من وقت النکاح لایثبت النسب ولایرث منه... الخ.

(۲) هدایة ج: ۲ ص: ۴۳۳ (طبع شرکت علمیه ملتان)

د پرورش حق انا ته ورکول کیږی

سوال: د ښځی او خاوند په مینځ کی د ناچاقی په وجه سړی ښځی ته طلاق ورکی د مذکوره ښځی څخه د هغه سړی یوه ماشومه هم ده، اوس صورت مسئوله داده چی د ماشومی د کفالت حق یعنی د شیدو چښلو حق چاته دی؟

۲: که ښځی په بل ځای کی واده کړی وی نو د حضانت حق انا یعنی د مور مورته حاصل دی او که نه؟ که حاصل وی نو ترڅو کالو پوری اناته د حضانت حق حاصل دی؟

۳: که د ښځی په بل ځای کی د واده کولو څخه وروسته د حضانت حق اناته حاصل سی نو بیا په خپله خوښه ماشومی ته شیدی چښلو د پاره مورته سپاری نو د ماشومی پلار ته شرعاً د روکاټ اچولو حق حاصل دی او که نه؟ که حاصل وی نو څو کالو پوری اناته د حضانت حق دی؟ مور خپل ماشومی ته د شیدو چښلو په سلسله کی دوهم خاوند خلاص اجازت ورکړی نو په مده رضاعت کی دننه د مور څخه د ماشومی اخستلو حق شرعا پلارته حاصل دی او که نه؟

جواب: ماشومه چی ترڅو بالغه نسی د هغی د پرورش حق د هغی مور ته دی (۱) خو په دی شرط چی مور د قوم داسی سړی سره نکاح نه وی کړی چی د ماشومی د پاره غیر محرم وی (۱).

---

(۱) (حاشیه جات) ۱. وفی سنن ابی داؤد کتاب الطلاق باب من احق بالولد ج: ۱ ص: ۳۱۷ (طبع مکتبه حقانیه) عن عبد الله بن عمر رضی الله عنه ان امراة قالت: یارسول الله ﷺ! ان ابنی هذا کان بطنی له وعاء وثدیی له سقاء وحجر له حواء، وان اباه طلقنی واراد ان ینتزعه منی، فقال لها رسول الله ﷺ: انت احق بمالم تنکحی. وفی تنویر الابصار: مع الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۶۶، ۵۶۷ (طبع سعید) (والام والجده) لام او لاب احق بها با الصغیرة حتی تحیض ای تبلغ فی ظاهر الروایة.... وغیرهما احق بها حتی تشتهی وقدر بتسع وبه یفتی... وعن محمد ان الحکم فی الام والجدة کذالك وبه یفتی لکثرة الفساد زیلعی وفی الشامیة تحت (قوله کذالك) ای فی کونها احق بها حتی تشتهی. (قوله وبه یفتی) قال فی البحر بعد نقل التصیححة، والحاصل ان الفتوی علی خلاف ظاهر الروایة. وراجع ایضاً الهدایة باب الحضانة الولد ومن احق به. ج: ۲ ص: ۴۳۴ (طبع شرکت علمیه ملتان) ظاهر الروایة همدادی چی د انجلی د بالغ کیدو پوری د هغی د پرورش حق د هغی مورته حاصل دی خو څه فقهائی کرامو فرمائیلی دی چی د انجلی د

۲: که ښځې د ماشومې کوم نامحرم سړي سره نکاح وکړله نو د پرورش حق به انا ته ورکول کیږي (۲) او هغه د ماشومې تربالغ کیدلو پورې پرورش کولی سي.

۳: که مور یې دنیا په کورکې وړباندې شیدې چښتی نو په دې کې څه خبره نسته، خو که ماشومه هغه مستقل طور سره واده سوی مور خواته پاته کړله نو پلارته حق حاصل دی

شهوت حدته د رسیدلو پورې مورته د هغې د پرورش حق حاصل دی او د شهوت د حد په عمر کې اختلاف دی، بعضې فقهاوو داعمر نه کاله بیان کړی دی او هم په دې یې فتوی ورکړې ده لکه چې مذکوره عبارت د شامي څخه علاوه صاحب بحر هغه ذکرکولو سره فتوی هم په همدې ورکړې ده، خو د انجلی حد شهوت ته د رسیدلو مذکوره حد متعین نه دی بلکې د انجلی په صحت او تندرستی او د علاقې په موسم او د حالاتو وغیره په وجه د اعمو مختلف کیدی سی لکه چې علامه زیلعي فرمائیلي دي: واختلف فی حد الشهوت وفی الولواجیة ولیس لها حد مقدر لانه یختلف باختلاف. حال المراة.... الخ. (البحر الرائق ج: ۳ ص: ۱۲۹) نو ځکه څه فقهائی کرامو د ظاهر الروایة، مطابق فتوی ورکړې ده، او زموږ اکابرو هم په ظاهر الروایة باندې فتوی ورکړې ده چنانچې مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا مفتي محمد شفیع صاحب رحمة الله تعالی علیه په امداد المتفیین کې ص: ۷۲۲ باندې حضرت مولانا ظفر احمد عثماني صاحب رحمة الله تعالی علیه په امداد الاحکام ج: ۲ ص: ۸۷۷ کې، او حضرت مولانا عزیز الرحمٰن صاحب رحمة الله تعالی علیه په عزیز الفتاوی کې په ص: ۵۲۶ کې هم د دې مطابق فتوی ورکولو سره فرمائیلي دي: چې د انجلی د بالغ کیدلو پورې د هغې د پرورش حق مورته حاصل دی د تفصیل د پاره د اکابرو د دغه فتاوو کتابونو ته رجوع وکړې.

(۱) وفی الدر المختار مع رد المختار ج: ۳ ص: ۵۲۵ (طبع سعید) والحاضنة یسقط حقها بنکاح غیر محرمه ای الصغیر.... الخ.

(۲) وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب السادس عشر فی الحضانة ج: ۱ ص: ۵۴۱ (طبع ماجدیه کویټه) وان لم یکن له ام تستحق الحضانة بأن کانت غیر اهل للحضانة او متزوجة بغیر محرم او ماتت فام الام اولی من کل واحدة وان علت.... الخ. وفی تنویر الابصار مع الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۲۲، ۵۲۳ (طبع سعید) (ثم) ای بعد الام بان ماتت او لم تقبل او اسقطت حقها او تزوجت بأجنبی (ام الام) وان علت.

چې هغه خپله ماشومه په خپل تربیت کې واخلی، لما فی الدر المختار: لوتزوجت الام باخر فامسکته ام الام فی بیت الراب- فللاب اخذه. (شامي ج: ۲ ص: ۲۳۹) (۱)

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۷/۹/۹ هـ
(فتوی نمبر ۹۳۳/ ۲۸ ج)

د انجونو د بالغ کیدلو پورې د هغوی د پرورش حق مورته حاصل دی

سوال: یوسړي خپلې ښځې ته طلاق ورکی او د مور څخه یې د هغه لوڼې د دوه نیمو کالو څخه په زوره اخستې دي آیا مور خپلې لوڼې بیرته اخستلی سي؟ او آیا د هغه انجونوته به پلار خرچه ورکوی، د یوې انجلی عمر پنځه کاله، د دوهمې څلور کاله دی، د مهربانی د مخه مو د شرعی حکم څخه خبر کړئ؟

جواب: د طلاق څخه وروسته د انجونو د پرورش حق د انجونو تربالغ کیدلو پورې مورته حاصل دی (۲)، خو که مور دوهمه نکاح وکړې یاڅه امر د پرورش د حق د پاره مانع وی نو جلاخبره ده (۳)، که د انجونو مور دوهمه نکاح نه ده کړې او بل څه مانع هم موجود نه دی نو انجلی به هم هغه ته ورکول کیږي هم هغه یې حقداره ده (۴)، او د دې انجونو خرچه به د پلار په ذمه باندې وی (۵).

والله سبحانه اعلم
۱۴۰۹/۱۰/۹ هـ
(فتوی نمبر ۱۷۵۸/ ۴۰ هـ)

د نکاح څخه اووه میاشتې وروسته پیداکیدونکې ماشومه ثابت النسب ده

سوال: د زید د واده څخه څلور میاشتې وروسته د زید کورنی ته سره د زید ته

(۱) ج: ۳ ص: ۵۲۵ (طبع سعید).

(۲) ج: ۳ ص: ۵۲۵ (طبع سعید)

(۳) ایضاً.

(۴) وګوری د تیری صفحی جواب نمبر اول او اوله حاشیه.

(۵) د حوالی د پاره د ص ۲۰۳ اوله حاشیه وګورئ.

دامعلومه سوه چی ښځه حامله ده او ظاهرًا هغه معلومه سوی ده، اوس د هلك مور او پلار د انجلی مور او پلار ته د دی ذکر وکی، نو د انجلی مور او پلار وویل چی د انجلی حمل هم د هلك ځخه دی، او د واده ځخه اووه میاشتی وروسته یوه انجلی پیداسوه آیا دا نکاح صحیح ده؟ او که نه؟ که صحیح نه وی نو دوباره د نکاح څه ضرورت دی؟

جواب: په صورت مسئوله کی چونکی د انجلی ولادت د نکاح ځخه اووه میاشتی وروسته سوی دی نو ځکه دالور به هم د زید وی [۱]، او د دی ماشومی نسب به هم د زید ځخه ثابت وی. او د زید نکاح درسته ده. په دی کی څه خرابی نسته.

والله سبحانه اعلم

۷/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۹۰۱/ ۲۸ ج)

که مور د بچی د پرورش خپل حق ساقط کړی نو د هغه ځخه وروسته هم رجوع کولی سی

سوال: زما مشر ورور جناب سید عالم خپلی ښځی مسمٰی حلیمه خاتون ته طلاق ورکی چی د هغی تقریبًا دوه کاله وسول، د طلاق په وخت یی یوماشوم وو چی د هغه عمر د طلاق په وخت تقریبًا یونیم کال وو، نو په هغه وخت دافیصله وسوه چی ماشوم به د مور په پرورش کی تریوکاله پوری وی او د پرورش تر شپږ میاشتو پوری به پنځلس روپی اخلی او د شپږو میاشتو ځخه وروسته به د شلوروپو حساب سره اخلی. زما ورور په دی حساب سره هغه اداء کولی چی د هغه رسید زموږ سره موجود دی. خو اوس چی کله موږ په عید الفطر کی د ماشوم د راوستلو د پاره ولاړو، نو هغوی د ماشوم راکولو ځخه انکار وکی، شرعی نقطه نظر سره ماشوم ترکومی پوری د مور سره پاته کیدلی سی؟

جواب: نارینه اولاد کله چی د اوو کالوسی ترهغه وخته د پرور حق مورته حاصل دی [۲] او په شروع کی چی مور صرف تریوکاله پوری خان سره د ساتلو وعده کړی ده د دی

---

[۱] د حوالی د پاره ص: ۵۹۱ فتوی او د هغی ۱ او ۲ حاشیه وګوری.

[۲] وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۶۶ (طبع سعید) والحاضنة اما او غیرها احق به ای بالغلام حتی یستغنی عن النساء وقدر بسبع وبه یفتی.... الخ

سره د هغی حق ساقط نسو، بلکی هغه اوس هم تراوو کالو پوری د ماشوم د ورکولو ځخه انکار کولی سی. لما فی الدر المختار وروسته اذا اسقط الامّ حقها صارت کمیتة.... الخ. وفی رد المحتار تحته واستظهر لرحمتی أن هذا الاسقاط لایدوم، فلها الرجوع لان حقها یثبت شیئًا فشیئًا، فیسقط الکائن لا المستقبل. (شامی ج: ۲ ص: ۶۳۲) [۱]

والله سبحانه اعلم

۵/ ۱۰/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۱۹/ ۲۸ ج)

متبنٰی (جوړکړی ځوی) د نسبی ځوی په حکم کی نه دی

سوال: مکرمی جناب مفتی صاحب مدظلکم العالی السلام علیکم مزاج کرامی!

د جوړسوی ځوی د مسئلی معلومولو په باره کی تاسو د اړخه جواب راکول سوی وو چی په هغه باندی نه دستخط، نه مُهر او نه تاریخ وو، فتوی غوښتونکی ته شمن معلوم سو، بیرته یی درلیږم ګستاخی می معاف کړئ، تاسو مشوره راکړله، چی واده وکړه، اول خو د عمر تقاضانه ده نیم نیم ته نژدی دی، دوهم: داچی کوم سړی چی می ځوی جوړ کړی دی، لوی کړی می دی، پرورش می ورکړی دی، دا ځنګه غیرت به برداشت کړی، چی هغه خاوند جوړکړم، دریم: دنیا به څه وایی، چی دا خو څه حل نسو، ۴: نه دا داسی عمل دی چی د معافی قابل نه وی لوی او مهربانه خدای غفور او رحیم دی. لوی لوی ګناهونه معاف کوی او اوبه کړی، ۵: یووار می داسوچ کړی دی چی ځه د خپلی خور د لورسره به ورته نکاح وکړم چی په هغه کی به اوس پنځه شپږ کاله وخت لګیږی، فریقین رضامند دی، بیا خو دا زما او زما د خور مور د پاره نواسی زوم به وی، اوس هم په فتوی معلومیدو باندی هغه څه پرده نه کوی، زما محبت او خدمت هغه ته په جلاکولو باندی تیار نه مانه پرده کولو د ځوی د اړخه، هغه زما خویندوته خاله او زما وړونو ته ماما وایی، صرف د والد حرف لره تعلق نه ساتی، نه هغه ورته نیکه وایی، او نه هغه زماسره وینی، جوړکړی ځوی او زه یوځای په کورکی اوسیږو، څه حل راته را وباسئ، شپه او ورځ یومیه بازاری ضروریات د کورنی په ژوند کی پیښیږی ځنګه پوره سی؟ د نن صبا په حالاتو کی ځوك د چا څه خیال کوی؟ والدین کمزوری دی بازارته نه

---

[۱] ج: ۳ ث: ۵۵۹ (طبع سعید).

څی همدا هلك ټول كار كوی، د نن صبا نو كر د مرضی كار نه كوی، عقل حیران دی چی څنگه به ژوند تیریږی؟ فتوی دی راكړله خو په مجبوری دی غور ونه كی؟

جواب: د مسئلی شرعی حكم خو هم هغه دی چی په تیره فتوی كی بیان سوی دی. قرآن كریم په ډیر تأكید او وضاحت سره دا حكم بیان كړی دی. چی جوړسوی څوی د نسبی څوی په حكم كی هیڅكله نسی راتلی (۱) خو د دی مطلب دادی چی په تاسو دواړو باندی د مور او څوی شرعی احكام نسی جاری كیدلی، خو د حسن سلوك په معامله كی هغه ستاسره د مور په شان او ته د هغی سره د څوی په شان معامله كوی، نو په دی كی څه حرج نسته، ترڅو چی د پردی تعلق دی د نامحرم كیدلو په وجه په تاباندی د هغه ښځه پرده واجب ده، او كوم ضروریات چی تا د هغه سره تړلی دی، هغه د پردی سره هم پوره كیدی سی. ستا د پاره د شریعت همدا حكم دی چی د هغه سره په پرده كی وسیږه او د خلكو د غلط عمل په وجه د شریعت حكم نسی بدلیدی او كله چی د پردی خلاف ورزی وسی، په هغه باندی توبه او استغفار وكړه دلته دی داهم واضحه وی، كه ته د خپلی خور د لور سره د هغه نكاح كوی نو بیابه هم هغه غیرمحرم وی خو كه ستا كومه رضاعی لور وی نو د هغی سره په نكاح كولو به هغه ستا محرم جوړسی.

والله اعلم

۱۴۰۰/۴/۷ ھ

(فتوی نمبر ۴۹۰/ ۳۱ ب)

د نكاح څخه شپږ میاشتی وروسته پیداكیدونكی اولاد به ثابت النسب وی

سوال: زما د واده اووه میاشتی سوی وی چی انجلی پیداسوه، انجلی د اوو میاشتو نه وه پوره د نهه میاشتو وه، ځكه چی د سروربښته یی غټ وه، او نوكان یی هم غټ وه. صحیح ایمان سره وایم، چی انجلی زمانه ده، زما د ښځی په خیټه باندی د مخكی څخه ماشوم وو. د انجلی مور او پلار ته می دا واقعات ووئیل: نو هغوی خپله لور خپل كورته بوتله او موږ د كور څخه وشړله تقریباً یوولس میاشتی سوی دی، آیا زه هغه ښځه خپل په كوركی ساتلی سم؟

(۱) قال الله تعالى: ادْعُوهُمْ لِآبَائِهِمْ هُوَ أَقْسَطُ عِندَ اللَّهِ (سورة الاحزاب: ۵)

جواب: شرعاً كه د نكاح څخه وروسته په شپږو میاشتو كی دننه دننه ماشوم پیداسی نو هغه به هم د خاوند وی (۱) او ترڅو چی ستاسره د ښځی د زنا ثبوت نه وی په صورت مسئوله كی كوم ماشوم چی د نكاح څخه شپږ میاشتی وروسته پیداسوی دی هغه به شرعاً هم ستا گڼل كیږی (۲)، ته خپله ښځه دوباره كورته راوستلی سی او آبادولی یی سی بلكی داسی كول پكار دی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۹۱/۲/۱۸ ھ

(فتوی نمبر ۷۹۰/ ۲۲ ب)

د نكاح حضرت دری میاشتی وروسته د پیداكیدونكی بچی د نسب حكم

سوال: كوم ماشوم چی د نكاح څخه دری میاشتی وروسته پیداسوی وی آیا هغه جائز دی او د هغه نسب به ثابت وی؟

جواب: په صورت مسئوله كی به د بچی نسب د دغه خاوند څخه ثابت نه وی چی د هغه سره یی د ولادت څخه دری میاشتی مخكی نكاح سوی وه (۳) والله اعلم

۱۴۰۱/۱۱/۱۵ ھ

(فتوی نمبر ۱۷۱۳/ ۳۲ ج)

د طلاق څخه بغیر په بل ځای كی د نكاح په صورت كی د اولاد د نسب حكم

(۱) ایضاً.

(۲) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۴۹ (طبع سعید) لونحكها الزانی حل له وطؤها اتفاقًا والولد له ولزمه النفقة. وفی الشامیة تحته ای ان جأت بعد النكاح لستة اشهر مختارات النوازل فلو لاقل من ستة اشهر من وقت النكاح ولایثبت النسب ولایرث منه. وفی الهندیة كتاب الطلاق الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب ولوزنی بامرأة فحملت ثم تزوجها فولدته ان جاءت به لستة اشهر فصاعد ثبت نسبه... الخ وفیها ایضا ج: ۱ ص: ۵۳۶ واذا تزوج الرجل امرأة فجاءت بالولد لاقل من ستة اشهر منذ تزوجها لم یثبت نسبه وان جاءت به لستة اشهر فصاعداً یثبت نسبه منه وكذافی البحر الرائق ج: ۴ ص: ۱۵۵، وفتح القدیر ج: ۱ ص: ۱۷۸) ۱. همدا تیره حاشیه وكورئ.

(۳) ایضاً.

سوال: یوی واده سوی انجلی خپل خاوند پریښووی، او د بل سړی ولاړه، دابل سړی مرزائی دی، مخکی خاوند طلاق هم نه دی ورکړی، د مخکی خاوند څخه یی څه اولاد هم نسته، اوس د هغی اولاد هم سته، هغه اولاد ته به حلالی او که حرامی وئیل کیږی؟ مثلاً: که هغه مسلمان سی، نو بیا د هغه نکاح صحیح کیدی سی په داسی حال کی چی مخکی خاوند طلاق هم نه وی ورکړی؟

جواب: په مسئوله صورت کی دی واده سوی ښځی د د سختی ګناه ارتکاب کړی دی. په هغی باندی واجب دی چی سمدستی خپل اولنی خاوند ته راسی، کوم ماشومان چی پیداسوی دی د هغه حکم دادی: چی ترڅو هغه د خپل اصل خاوند په نکاح کی وی، ترهغه وخته پوری به بچی د هغه خاوند ګڼل کیږی (۱) هو! که خاوند دابچی د خپل ځان طرف ته منسوب کولو څخه انکار وکی، نو عدالت کی دی انکار وکړی چی دی سره به لعان کیږی، او یابه ښځی ته د زنا سزا ورکول کیږی یا د دواړو په مینځ کی به د عدالت د طرفه د نکاح فسخ وسی او بچی به د خاوند په ځای د مور طرفته منسوب سی.

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۰/ ۱۴۰۱ ھ

(فتوی نمبر ۱۲۳۶/ ۳۲ ج)

(۱) وفی رد المختار کتاب الطلاق باب ثبوت النسب مطلب الفراش علی اربع مراتب ج: ۲ ص: ۶۸۴ ... وقوی هو فراش المنکوحة ومعتدة الرجعی فانه فیه لاینتفی الا باللعان. وفی الهندیة کتاب الطلاق الباب الخامس عشر فی ثبوت النسب: لثبوت النسب ثلاث مراتب الاول النکاح الصحیح وماهو فی معناه من النکاح الفاسد والحکم فیه انه یثبت النسب من غیر دعوت ولاینتفی بمجرد النفی وانما ینتفی باللعان فان کان من لالعان بینهما لاینتفی نسب الولد.

فصل فی نفقة الزوجة والاولاد والاباء والامهات وسکناهم

د ښځی اولاد او والدینو د نفقی او سکنی احکام

د ښځی د پاره د جلاکور د انتظام حکم

سوال: زید واده سوی دی یومقامی کالج کی لکچرار دی او تبلیغی جماعت سره یی تړون دی، د ډیری مودی څخه خپله ښځه د ځان سره نه بوځی هغه کله پلار کره وی او کله خسرګنی کی وی، کله چی زیدته ووئیل سی نو وایی چی ما د خپل پلار دخدمت د پاره پریښی ده، د پلار د خدمت د پاره په کورکی نور خلګ هم سته، او وایی که ښځه د ځان سره بوځم نو بیا تبلیغی کارنسی کیدی، فکر به می د ښځی طرف ته وی، ماته د دی شی ضرورت نسته، ماته د خدای ﷻ ضرورت دی، آیا هغی ته جلاکور ورکول ضروری دی؟ نو خپلوان یی هم په دی خبره باندی ناراضه دی کله چی د کالج څخه موسمی چوټیانی کیږی نو په تبلیغی پروګرام کی چلی وباسی، د اختر د پاره رایی ونډته ځی، په دی ورځو کی هم د ښځی حقوق نه اداء کوی، کله چی کورته راځی نو یا خوپه جومات کی بیده کیږی یاپه کورکی جلا یوبیټک کی بیده کیږی.

جواب: په زید باندی واجب دی چی هغه د خپلی ښځی د نان نفقی او استوګنی داشان انتظام وکړی چی هغه د چا محتاجه نه وی او د استوګنی د پاره داسی مستقله کمره، باورچی خانه او بیت الخلاء ضروری ده چی په هغه کی د بل چاشرکت نه وی (۱)، د دی څخه علاوه په هغه باندی واجب دی چی هغه د هغی جائز حقوق د زوجیت اداء کړی، د هغی زړه وساتی، که د دی حقوقو اداء کولو سره هغه د تبلیغ د پاره ځی نو د هغه د پاره

(۱) وفی الهدایة ج: ۲ ص: ۱۴۴ (طبع سعید) وعلی الزوج ان یسکنها فی دار مفردة لیس فیها احد من اهله الا ان تختار ذالك. وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۹۹ وکذا تجب لها السکنی فی بیت خالٍ عن اهله... الخ. وفی بحر الرائق ج: ۴ ص:۱۹۳ ای الاسکان للزوجة علی زوجها فتجب لها کما تجب النفقة... لیس له ان یشترك غیرها لانها تتضرربه.... الخ. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۵۵۶ (طبع رشیدیه کویټه).

جائز او ثواب دی خو که په دی حقوقو کی کوتاهی کولو سره د تبلیغ د پاره تلل شرعا جائز نه دی. والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د مور سره د پرورش په دوران کی د بچو نفقه په پلار باندی به وی

سوال: په مسلم قانون کی وئیل سوی دی چی د نابالغه اولاد کنټرول او سپرویژن په پلار وی او کسټډی به د مور وی، که هلك وی نو د اوو کالو پوری او که انجلی وی نو تربلوغه پوری د کنټرول او سپرویژن څه معنی ده؟

جواب: مطلب دادی چی د نان او نفقی ذمه واری به په پلار باندی وی (۱)، او د هغه د تربیت پالیسی به هم د هغه د رایی معتبر وی، په دی شرط چی د شرع خلاف نه وی، خو ماشوم به د مور په تحویل کی وی، او هغه به یی پرورش کوی (۲).

والله سبحانه اعلم

۲۱/ ۹/ ۱۳۹۸ هـ

(فتوی نمبر ۲۹/۱۰۷۵ ب)

د غریبی فاسقی مور نفقه په ځوی باندی واجب ده

سوال: یوه ښځه د زنا ارتکاب کوی هغی لره خپل ځوی په احسنی طریقی باندی پوهولو سره بیاهم د دی خراب کار څخه اجتناب نه کوی، یوه ورځ د مور او ځوی په دی خبره باندی خبری واوریدل، په دی کی یوبزرګ رالی او هغه ځوی ته په دردکی سو او ورته

---

(۱) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب النفقة ج: ۲ ص: ۴۴۴ (طبع شرکت علمیه ملتان) نفقة الاولاد الصغار علی الاب لایشارك فیها احد کما لایشارکه فی نفقة الزوجة. لقوله تعالی: وَعَلَى الْمَوْلُودِ لَهُ رِزْقُهُنَّ، والمولود له هو الاب.

وفی الدر المختار باب النفقة ج: ۳ ص: ۶۱۲ (طبع سعید) وتجب النفقة بانواعها علی الحرّ لطفله الفقیر الحرّ.

وفی الشامیة ای ان لم یبلغ حد الکسب.

(۲) سورة لقمان: ۳۱

وویل: که مور کنجره هم وی، نو د ځوی د پاره مناسب نه دی چی هغه د هغی بی عزتی وکړی، اتفاق سره زه هم هلته ورغلم (پنجاب کی) کنجره هغی ښځی ته وایی چی د حکومت څخه لایسنس راوړی او داکار کوی، خو زما د دغه بزرګ د خبروسره اتفاق نه وو، مایوعالم ته رجوع وکړله، هغه ووئیل چی ځوی ته پکار دی چی مور په ښه طریقی سره پوهه کړی که نه پوه کیږی نو د هغی سره دی مقاطعه وکړی، خوخرچه به ضرور ورکوی د مقاطعی دوه صورتونه کیدی سی، چی یامور د کور څخه وباسی او پخپله ووځی، که مور وباسل سی نو د ځوی به بدنامی وی، په کورکی پاته کیدو سره که هغه غلط کار کوی نو ځوی به یی هم ګنهګار وی، په داسی حال کی ځوی ته څه کول پکار دی؟ چی داغلط کار بندسی او ځوی هم د خدای په نزد مجرم ونه ګرځی.

جواب: مور که غریبه وی نو د هغی نفقه په ځوی باندی واجب ده هغه چی هرڅومره بدعمله وی، زنا خو یوه خطرناکه ګناه ده، خو که غریب مور او پلار کافر یا مشرك هم وی، بیاهم د هغوی نفقه په ځوی باندی واجب ده او د هغوی سره حسن سلوك او په نرمی سره مخکی راتلل فرض دی، د قرآن کریم ارشاد مبارك دی: وَإِنْ جَاهَدَاكَ عَلَى أَنْ تُشْرِكَ بِي مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ فَلَا تُطِعْهُمَا وَصَاحِبْهُمَا فِي الدُّنْيَا مَعْرُوفًا. (الآیه) (۱).

یعنی که ستا والدین ستا د مشرك جوړولو کوشش وکړی نو بیا د هغوی اطاعت مه کوه، خو په دنیاوی ژوند کی د هغوی سره په نیکی پیش آمد کوه، او د صحیح بخاری او مسلم شریف حدیث کی دی: چی حضور ﷺ حضرت اسماء رضی الله تعالی عنها ته د خپلی کافری مورسره د وصله رحمی حکم ورکی (۲)، ځکه خو فقهاوو لیکلی دی: ونفقة الاصول والفروع للجزئیة وجزء المرء فی معنی نفسه فکما لاتمتنع نفقة نفسه بکفره لاتمتنع نفقة جزئه. (شامی ج: ۲ ص: ۲۸۳) (۳) او په تفسیر مظهری کی دی: یجب بهذه الآیه (وهی الآیة المذکورة) الانفاق علی الابوین الفقیرین وصلتهما وان کانا

---

(۱) وفی صحیح البخاری باب صلة المرأة امها ولها زوج: ج: ۲ ص ۸۸۴ (طبع سعید) عن اسماء قالت: قدمت امّی وهی مشرکة فی عهد قریش ومدتهم اذا عاهدو النبی ﷺ مع ابیها فاستفتیت النبی ﷺ. فقالت: ان امّی قدمت وهی راغبة، قال: نعم صلی امّك.

(۲) ج: ۳ ص: ۶۳۱ (طبع سعید)

(۳) (طبع بلوچستان بك ډیپو)

کافرین (مظهری ج: ۷ ص: ۳۵۲) (۱) او کله چی سره د کفر څخه نفقه واجب ده نو محض د فسق په وجه به نه ساقطیږی.

لهذا په صورت مسئوله کی په څوی باندی واجب دی چی خپلی مورته نفقه ورکوی، خو ورسره دی یوهغه د هغی په بدکاری باندی دی ورته پوهه ورکوی، مثلاً د کومو خلکو سره چی هغه ملوث کیدی سی د هغوی داخلیدل دی په کور باندی بند کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۱/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۱۲/ ۲۸، الف)

۱: د خاوند د اجازت څخه بغیر د ښځی دکور څخه د باندی تلل.

۲: ښځه د خپل ځان د پاره د جلاکور مطالبه‌کولی سی.

۳: د پلار کره د اوسیدلو په صورت کی په خاوند باندی نفقه او د ولادت اخراجات لازم نه دی.

سوال: آیا د ښځی د پاره د خاوند د مرضی څخه بغیر د کور څخه وتل جائز دی؟ یوه ښځه صفیه سلطانه د خاوند د اجازت څخه بغیر د خپل پلار کره تللی ده، آیا د هغی د پاره داجائز دی؟

۲: صفیه سلطانه عرف شاهینه مذکور او د ثناء الرحمٰن واده د فریقینو په رضامندی سره او د دواړو د اولیاوو د طرفه سوی دی، اوس مسماة مذکوره وایی چی ماباندی د خاوند شکل ښه نه لګی، مګر خاوند سره په دی شرط اوسیدلو ته تیاره یم چی په ډاګ کالونی کی په کرایه باندی کور واخلی او هم هلته اوسیږی او د خواښی او خسر سره یوځای اوسیدلو ته تیاره نه ده، بلکی خاوند د خپلو والدینو څخه جلاساتلی ده، بیاهم دلته اوسیدل نه غواړی شرعاً څه حکم دی؟

۳: صفیه سلطانه عرف شاهینه حامله ده او دلته د تلو څخه پنځه لس ورځی وروسته د حمل د وضع د مراحلو څخه تیری سوی، حالانکی د صفیه خاوند ثناء الرحمٰن د دی

(۱) وفی رد المختار کتاب الحدود باب التعزیر ج: ۴ ص: ۸۷ (طبع سعید) اذا رأی منکر آمن والدیة یأمرهما مرة فان قیلا فبها وان کرها سکت عنهما واشتغل بالدعاء والاستغفار لهما فان الله تعالی یکفیه ما اهمه من امرهما.... الخ

مراحلو څخه د تیریدلو د پاره (یعنی د ولادت کیدلو د پاره) دری څلورو ښوهسپتالونو کی انتظام کړی وو، خوشاهینه مذکوره والدینو په زور باندی وګرځوله، او په یومعمولی (ولادت سنټر) کی یی داخله کړله په دی صورت کی به خاوند د ښځی د کفالت ذمه دار وی او که نه؟

جواب: د خاوند د اجازت یامرضی څخه بغیر د هغی د کور څخه وتل ښځی د پاره سخته د ګناه خبره ده (۱)، په صورت مسئوله کی په سلطانی باندی واجب دی چی هغه سمدستی د خاوند کورته راسی او په خپل سابقه عمل باندی د الله جل جلاله څخه توبه او استغفار وکړی او د خاوند څخه معذرت وغواړی (۲).

۲: ښځی ته داحق دی چی هغه د خپل ځان د پاره د داسی کور مطالبه وکړی، چی په هغه کی د خسر خواښی څه دخل نه وی، لهذا که د صفیه سلطانی مطالبه دومره ده، نو هغه په ځای ده او د هغی پوره کول د خاوند د پاره ضروری دی خو د یوخاص ځای تعین د ښځی حق نه دی چی مثلاً هم په ډاګ کالونی کی به وسیږی، داشرط لګول د ښځی د پاره ناجائزدی او د دی پابندی به هم په سړی باندی واجب نه وی، بلکی د بیل کور انتظام خاوند چیری هم وکړی د ښځی حق ورسره اداء کیږی، لما فی الدر المختار: وبیت منفرد من دارله غلق.... کفاها، وفی البحر عن الخانیة یشترط ان لایکون فی الدر أحدٌ من احمآء الزوج یؤذیها (۳).... وقال الشامی: فینبغی الافتاء بلزوم دار من بابها.... فعلی المفتی ان ینظر الی حال اهل زمانه.... الخ. (شامی ج: ۲ ص: ۶۲۴) (۴)

۳: په صورت مسئوله کی د ولادت خرچه په خاوند باندی واجب نه ده او ترڅو چی ښځه د خاوند د اجازت څخه بغیر د پلار کره وسیږی د هغی نفقه هم په خاوند باندی واجب

(۱) وفی جامع الترمذی باب ماجاء فی حق الزوج علی المرأة ج: ۱ ص: ۲۱۹ (طبع سیعد) عن ابی هریرة رضی الله عنه عن النبی صلی الله علیه وسلم قال: لوکنت أمر احداً ان یسجد لاحد لامرت المرأة ان تسجد لزوجه وفی الدر المختار کتاب النکاح باب القسم ج: ۳ ص: ۲۰۸ (طبع سعید) وخفه علیها ان تطیعه فی کل مباح یأمرها.

(۲) د تیری صفحی حاشیه وګورئ.

(۳) الدر المختار ج: ۳ ص: ۲۰۰، ۲۰۱ (طبع سعید)

(۴) رد المختار ج: ۳ ص: ۲۰۱، ۲۰۲ (طبع سعید) وفی الهدایة کتاب الطلاق باب النفقة ج: ۲ ص: ۱۴۴ (طبع سعید) وعلی الزوج ان یسکنها فی دار مفردة لیس فیها احدٌ من اهله الا ان تختار ذالك.

نه ده، اجرة القابلة على من استأجرها من زوجة وزوج ولو جاءت بلا استئجار قيل عليه وقيل عليها. (شامي ج: ۲ ص: ۶۴۹) (۱)

والله سبحانه اعلم

۱۳۹۷/۹/۶ هـ

د ښځې علاج د خاوند په ذمه دی او که نه؟

سوال: په جنتي کالي او د احنافو په نورو کتابونو کې د ښځې، نان نفقه او جامې د سړي په ذمه ليکلي دي، ورسره يې داليکلي دي که ښځه بيماره سي نو د هغه علاج او معالجې خرڅ شرعًا په خاوند باندې واجب نه دی بلکې د خپل مال څخه به يې کوي، هو! که خاوند تبرعًا د هغه علاج وکړي نو دا به د هغه احسان وي. طالبانو د درس وئيلو په وخت کې داسوال کړی وو، چې درد بيماري د انسان سره لګيدلې ده، بعضې اوقات د علاج فيس په ډاکټرانو او اپريشنونو باندې په زرهاوو روپې لګي، نو ښځه غريبه به داخرڅ د کوم ځای څخه کوي؟ د دې څه حل دی؟

جواب: په دې مسئله کې احقرته هم د ډيرې مودې څخه تردد دی يووار په دې مسئلې کې د نورو فقهاوو د کتابونوته هم د مراجعت اتفاق سوی وو، او داعجيبه خبره په نظر راله چې د ټولو په نزد صورتحال يوشان دی يعنې د علاج خرچه يې د نفقې حصه نه ده ګرځولې (۲)، خوسره د ډير تلاش څخه د قرآن او سنت څخه څه داسې نص هم پيدانسو چې په هغه کې داصراحت وي چې د علاج خرچه په خاوند باندې واجب نه ده نو ځکه د احقر څه خيال دادی چې په قرآنکريم کې د نفقې سره د بالمعروف قيد لګولی دی چې د هغه حاصل به دامعلوميږي چې د نان نفقې تعين په عرف باندې مبنی دی، په تير دور کې د علاج خرچه څه ډيره زياته نه وه، نو ځکه عرف داوو چې هغه په نفقه کې نه ده شامل، که داخبره صحيح وي نو د عرف د تبديلي سره حکم هم بدليدل پکار دي او په ظاهره دامعلوميږي چې زموږ په دورکې عرفًا علاج د نفقې حصه وه، هسې هم داخبره عقلا په ذهن کې نه راځي چې که په خاوند باندې د علاج خرچه واجب نه وي نو د بيمارۍ په صورت کې به ښځه څه کوي؟ او په موجوده دورکې د علاج دومره خرچه وي

---

(۱) الدر المختار ج: ۳ ص: ۵۷۹، ۵۸۰ (طبع سعيد).

(۲) وفي الشامية كتاب الطلاق باب النفقة ج: ۳ ص: ۵۷۵ (طبع سعيد) كما لايلزمه مداوتها اى اتيانه لها بدواء المرض ولا اجرة الطبيب ولا الفصد ولا الحجامة.

چې يوه داسې ښځه چې د هغه د روزګار څه ذريعه نه وي، او د هغې برداشت نسې کولی، خو داټولې خبرې تراوسه پورې د سوچ ترحده دي، چونکې چيرې منقول مې کتلې نه دي، او نه د نورو اهل علمو سره په دې باندې مشوره سوې ده، ځکه احقرته په دې باندې جزم نسته، ښه به وي چې تاسو داسوال لاندينې حضراتو ته وليږئ.

۱: مفتی رشيد احمد صاحب، دار الافتاء والارشاد ناظم اباد نمبر ۴، کراچی.

۲: مولانا مفتی عبد الشکور ترمذی صاحب، دار العلوم حقانيه، ساهيوال، ضلع سرګودها.

۳: مفتی عبد الستار صاحب، جامعه خير المدارس، ملتان

۴: مولانا مفتی عبدالواحد صاحب، جامعه مدنيه، کريم پارک، راوی روډ، لاهور.

۵: مولانا مفتی عبد القادر صاحب، دار العلوم کبير والا، ضلع ملتان.

احقر چې په متذکره ډول کوم سرسري خپل سوچ ليکلی دی که هغه هم بعينه د احقر په الفاظو کې هغوی ته وليږئ نو ښه به وي، او دغه حضراتو څخه چې کوم جوابونه راکول سول د هغه څخه به د مهربانۍ د مخې احقرهم خبردار کړئ. والسلام

(حضرت مولانا محمد تقی عثمانی عفی عنه مدظلهم)

(فتوی نمبر ۸۵/ ۴۵)

کتاب الایمان والنذور

د قَسم، منت او د نذر احکام

د قسَم کفاره او د کومې ګناه په کار باندې د قسم اخستو په صورت کې هغه ګناه پرېښوول واجب دي

سوال: څلور کاله مخکې مې د يوکار کولو اراده وکړله په دې سلسله کې مې په قرآن باندې لاس اېښوولو سره قسم اخستې وو، او بيامې دغه عهد مات کې تاسو په فتوی کې په غريبانو باندې د خوراك خوړلو په باره کې ليکلې وه چې د هغه تعداد ماته ياد نه دی، د مهرباني د مخې هغه تعداد راته وښاياست؟

جواب: د قسم ماتولو کفاره داده چې لسو مسکينانو باندې ډوډۍ وخوړې، يالسو مسکينانو ته جامې ورکړې، او که د دې وس او طاقت دې نه وي نو درې ورځې روژې وساتې [1]، که تاسو د قسم ماتولو څخه وروسته لسو مسکينانو باندې خوراك کړی وي نو کفاره اداء سوه، [2] ورسره توبه او استغفار هم وکړه که توبه په رېښتوني زړه سره وسي نو الله لوی لوی ګناهونه معاف کوي، نو انشآء الله دا ګناه به هم معاف سي، خو په دې شرط چې د کوم کار د کولو چې تاقسم اخستې وو، هغه کار مباح وي او که هغه کار پخپله د ګناه کار وي نو د هغې پرېښوول واجب دي [3] او مذکوره کفاره به د دې د پاره کافي نه وي.

والله سبحانه اعلم
۱۳۹۲/۱۰/۲۴ هـ
(فتوی نمبر ۲۴۴۳/ ۲۷ هـ)

---

(1) قال الله تعالى: فَكَفَّارَتُهُ إِطْعَامُ عَشَرَةِ مَسَاكِينَ مِنْ أَوْسَطِ مَا تُطْعِمُونَ أَهْلِيكُمْ أَوْ كِسْوَتُهُمْ أَوْ تَحْرِيرُ رَقَبَةٍ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ذَلِكَ كَفَّارَةُ أَيْمَانِكُمْ إِذَا حَلَفْتُمْ. (الآيه) المائده: ۸۹). وفى الدر المختار كتاب الايمان ج: ۳ ص: ۷۲۵، ۷۲۶ (طبع سعيد) وكفار تحرير رقبة او اطعام عشرة مساكين او كسوتهم بما يصلح للأوسط.... وان عجز عنها كلها وقت الاداء صام ثلثة ايام ولاء.

(2) وفى الدر المختار ج: ۳ ص: ۷۲۷ (طبع سعيد) ولم يجز التكفير ولو بالمال خلافا للشافعى قبل حنث... الخ. وفى الشامية تحته لان الحنث هو السبب كمامرّ فلايجوز الا بعد وجوده..... الخ.

(3) وفى تنوير الابصار ج: ۳ ص: ۷۲۸ (طبع سعيد) ومن حلف على معصية كعدم الكلام مع ابويه او قتل فلان اليوم وجب الحنث والتكفير.

په چاباندی د ناجائز کار د قسم د پاره دباؤ اچول او د الله په لفظ سره د قسم منعقد کيدلو حکم

سوال: يوسړی د خوابنی او اخبنی او د خسر په موجودگی کی د هغه د ښځی د ماشوم راوړلو په زمانه کی په زوره د زوم ځخه په قرآن باندی لاس اينبولو سره داعهد واخستی چی آينده عهد وکړه چی زموږ د خور به اولاد نه وی او همدا ځلور بچيان به وی او په خپل زړه کی به د ښځی سره قربت جائز وی، آيا طلاق واقع سو؟ د هغوی زور په دی خبره باندی وو چی زوم نس بندی وکړی، چی زوم د هغی په سختی سره مخالفت وکی، او په سختی سره يی انکار وکی، د دی وجی ځخه دا عهد په زوره باندی واخستل سو.

جواب: مذکوره عهدکول جائز نه وو، نه د ښځی خپلوانو د پاره داجائز وو چی هغوی دی د خاوند ځخه په زور سره داسی عهد واخلی او د دی عهد سره نه په ښځی باندی طلاق واقع سوی دی او نه قربت حرام سوی دی، بلکی د دی حکم دادی، چی قربت دی کوی او گله چی د حمل استقرار وسی نو د قسم کفاره دی ورکړی، د قسم کفاره داده چی ياخودی لس مسکينانوته ډوډی ورکړی يادی هغوی ته لباس، او که د دی وس يی نه وی نو دری ورځی دی روژی ونيسی (١) او دا کفاره هم په هغه وخت کی واجب ده کله چی هغه قسم اخستو سره داعهد کړی وی (٢) او که د الله قسم يی نه وی اخستی نو کفاره واجب نه ده (٣).

والله سبحانه اعلم

۱۹/ ۱۰/ ۱۳۹۲ هـ

(فتوی نمبر ۲۴۰۳/ ۲۷ هـ)

---

(١) د حوالی د پاره وگوری د تيری صفحی اوله حاشيه

(٢) ايضاً.

(٣) وفی تنوير الابصار مع الدر المختار کتاب الايمان ج: ۳ ص: ۷۱۰ الی ۷۱۲ (طبع سعيد) والقسم بالله تعالی وباسم من اسمائه کالرحمن والرحيم والحق او بصفة من صفاته تعالی.... لايقسم بغير الله تعالی کالنبی.... الخ. وفی شامية ج: ۳ ص: ۷۱۲ (طبع سعيد) قوله لايقسم بغير الله تعالی عطف علی قوله والقسم الله تعالی ای لاينعقد القسم بغيره تعالی ای غير اسمائه وصفاته..... الخ.

د قرآن د قسم حکم او قرآن لوړولو ځخه بغير هم قسم منعقد کيږی

سوال: څه فرمائی علماء د دين په دی مسئله کی چی حسن الله د دوو کالو ځخه په يوه کارخانه کی ملازم دی، او واده سوی دی، شاهده هم د يوڅو ورځو ځخه په کار لگيدلی ده، چی پيغله ده، د دواړو خپل په مينځ کی څه خپلولی هم نسته، حسن الله په کارخانه کی د ځوکسانو په مخکی په هغی حمله کوی او انجلی شاهده د حسن ځخه د بچ کيدلو د پاره مخکی مخکی منډی وهی او حسن الله ښکنځل ورته کوی او نيول يی غواړی، د شاهدی د مدد د پاره څه کسان راولاړيږی، او شاهده په خپل حفاظت کی اخلی، انجلی شاهده د کارخانی ناظم ته شکايت کوی، حسن الله د انجلی شکايت درست نه تسليموی نو د کارخانی ناظم د حسن او شاهدی په موجودگی کی د شاهدانو په لاس د يسين شريف کتاب اينښوولو سره د هغوی ځخه حليفه بيان اخلی چی په هغه سره حسن الله مقصور ثابتيږی، اوس د حسن الله کسان د کارخانی په ناظم باندی د قرآن شريف د بی حرمتی الزام لگوی، آيا په دی خبری سره د قرآن حکيم بی حرمتی سوی ده؟ په جواب سره مو مشکور کړئ؟

جواب: قسم د قرآن کريم د لوړولو ځخه بغير محض په الله ﷻ قسم اخستوسره هم کيږی خو که قرآن کريم په لاسونو کی پورته کولو قسم واخستل سی نو په دی سره د قرآن کريم بی حرمتی نه کيږی او داشان هم قسم صحيح کيږی. کذايؤخذ مافی رد المختار ج: ۲ ص: ۷ نقلاً عن العينی (١) والله اعلم

۴/ ۲/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۸۲۴/ ۲۱ الف)

---

(١) وفی الدر المختار ج: ۳ ص: ۷۱۲، ۷۱۳ (طبع سعيد) قال الکمال ولايخفی ان الحلف بالقران الا ان متعارف فيکون يميناً واما الحلف بکلام الله فيدور مع العرف وقال العينی وعندی ان المصحف يمين لاسيما فی زماننا وعند الثلاثة المصحف والقرآن وکلام الله يمين. وکذا فی الفتاوی الهندية کتاب الايمان، الباب الثانی الفصل الاول ج: ۲ ص: ۵۳ (طبع رشيديه کويته).

د څو قسمونو کښی کفاری ورکول لازم دی

سوال: زید قسم واخستی چی زه به فلانی کارنه کوم، د خپلی بی اعتدالی په وجه بی قسم سرته ونه رسوی هغه کاریی وکی، تراوسه پوری یی کفاره نه ده ورکړی، چی بیایی قسم واخستی چی داکار به نه کوم بیایی د بی اعتدالی په وجه قسم سرته ونه رسولو هغه کاریی وکی، هلم جرا، آخرکی یی کفاره ورکول وغوښتل، نو اوس به یوه کفاره ورکوی او که د هرقسم به بیله بیله کفاره وی؟ په دوهم صورت کی به بین الکفارتین فصل وی او که متصل به وی؟

جواب: قسم چی څومره واره وخوړل سی د خلاف ورزی په صورت کی د هرقسم یوه کفاره ورکول ضروری دی، خاصکر چی دوهم قسم یی د مخکی قسم د خلاف ورزی څخه وروسته اخستی دی.

فی الدر المختار: وروسته تتعدد الکفارة لتعدد الیمین والمجلس والمجالس سواء، ولوقال عنیت بالثانی الاول ففی حلفه بالله لایقبل. (شامی ج: ۳ ص: ۷۱) [1] البته په کفاراتو کی وصل ضروری نه دی، فصل هم کولی سی. فقط والله اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی بلند شهری

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۷/۱۲/۲۰ ھ

(فتوی نمبر ۱۴۵۲/۱۸ - الف)

د الله ﷻ او د قرآن د لفظ قسم اخستلو حکم او د قسم کفاره څه ده؟

سوال: علی حسین جنرل سکرټری یونایټید فیډریشن پاکستان او دوهم فریق عبد الغنی، ۲، نوشه، ۳، ظهیر الدین دی فریقینو په قرآن باندی داقسم اخستی وو، چی د یوبل سره به یو او د یوبل په خلاف به هیڅ کار روائی نه کوو چی ناجائز به وی، په دی سلسله کی علی حسین د دوهم فریق درو کسانو ته ۵/۵ فُټه ځای ورکی، او داچی د

---

[1] الدر المختار کتاب الایمان ج: ۳ ص: ۷۱۴ (طبع سعید) وفی البحر الرائق ج: ۴ ص: ۲۹۷ (طبع رشیدیه کویټه) وفی التجوید عن ابی حنیفة رحمه الله اذا حلف بایمان فعلیه لکل یمین کفارة والمجلس والمجالس سواء، ولوقال عنیت بالثانی الاول لم یستقم ذالك فی الیمین بالله تعالی.

ډگری پیسی به اداء کول وی، چی هرڅه وی ټوله خرچه ورسره یوځای کولوسره، خو د ډگری د رقم روکولو څخه انکار کوی چی زه به یی نه ورکوم، او علی حسین دا غنی چی د ډگری پیسی به وروسته ورکوی، دوهم فریق د ډگری رقم اداء نه کړو وئیل قسطونه یی کړل هغوی نه یی هم اداء نه کړل، وروسته نوشه د پنځه فُټه په عوض پنځلس فُټه ځای واخستی، ظهیر دا ارقام د کشتونو باوجود هم اداء نه کړل، او نور معاملات چی د علی حسین د مفادو په خلاف دی، په هغه کی هم غنی، نوشه او ظهیر مداخلت کوی، او په قسم کی یی وئیلی وه چی موږ به د چا په معامله کی خبری نه کوو.

۲: علی حسین د قهر په عالم کی د نورو نادهنده گانو د ډگری په سلسله کی د قرآن قسم واخستی چی زه به یوموټی (په یووار) د ډگری پیسی اخلم او په عدالت کی به خلګ پیسی جمع کوی، خو د دووکسانو نوم یی زبانی واخستی چی د محمد یامین او مُنا، او وی وئیل: چی ټول به ډگری جمع کوی.

۳: موږ څلور کسانو په یوی مسئلی باندی خبری اتری کولی چی یوسړی ببر الدین رالی، او هغه ووئیل چی څلور سره کسان لاس په لاس کښیږدی، پنځوسرو لاس باندی خپل خپل لاس کښی ښووی، او وی ویل چی قرآن په مینځ کی دی، حالانکی قرآن نه وو، اوس په نیت کی څه فتور پیداکیږی ځکه چی هریو په معامله کی مداخلت کوی، رقم د دریم فریق څخه حاصل سوی دی او هغه رقم سره هسپتال وغیره تعمیر سوی دی، چونکی مسئله د کلام پاك ده، چونکی دوهم فریق، دریم فریق ټول قسطونه غواړی او مافریق اول ته د روپو اداء کول هغه خلګوته کول دی چاچی بغیر د خپل مفاد څخه روپی موږ ته قرض راکړی دی، حالانکی که داخلګ روپی اداء کول وغواړی نو نمبر ۱، ۲، ۳ یی اداء کولی سی، نن د درو کالو څخه د هغه ځای د آمدن څخه کافی رقم حاصل کړی دی.

جواب: د قسم اخستو په حکم ځان پوه کړه، په دی سره به د دروسره مسئلو جواب وسی، د الله ﷻ یا د قرآنکریم قسم اخستوسره قسم منعقد کیږی [1]، که داقسم په څه ناجائز کار باندی نه وی اخستل سوی نو هغه ماتول گناه ده او که په څه ناجائزکار

---

[1] د الله ﷻ په لفظ سره د قسم منعقد کیدلو حواله سابقه صفحه (۷۱۱) حاشیه نمبر ۲، ۳، کی او د قرآنکریم قسم منعقد کیدلو حواله د تیری صفحی ۷۱۲ اوله حاشیه وگوری.

باندی خوړل سوی وی نو ماتول یی واجب دی (١)، په دواړو صورتونو کی به د دی کفاره ورکول وی، کفاره داده: چی یاخو لسو مسکینانوته فی کس پاوکم دوه سیره د غنمو په حساب سره دانه او یا د هغه قیمت ورکړی، یا دوه وخته په مړه ګیډه باندی ډوډی وخوری او یا د لسو مسکینانو د لباس انتظام وکړی، که په دی کی د یوی خبری هم وس نه وی نو دری ورځی دی متواتر روژی ونیسی (٢)، په صورت مسئوله کی په وس نه وی نو دری ورځی دی متواتر روژی ونیسی (٣)، په صورت مسئوله کی په کومو خبرو چی تاسو قسمونه اخستی دی، د هغه تفصیل د سوال څخه په ذهن کی رانه لی، نو ځکه دابنوول مشکل دی چی هغه کار جائز دی او که ناجائز؟ په هرصورت د قسمونو په خلاف ورزی باندی مذکوره کفاره اداء کړی او د هرقسم په ماتولو باندی به بیله بیله کفاره وی.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۹/ ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۹۰۴۷/ ۲۸ ج)

که ستا د لاس ډکی اوبه وڅښم (نو دسور د وینی قطری به وڅښم) په دا الفاظو سره قسم نه منعقد کیږی

سوال: دری کاله مخکی په روژه کی د روژی د ماتولو څخه پنځلس منټه مخکی د څښلو اوبه ایښی وی او په هغه کی به می واوره اچوله خو په آخری رمضان کی داسی وسول چی اوبه ایښوول او واوره راوړل رانه هیرسول، کله چی روژه مات ته پنځه منټه پاته سول، نوماته د دی خبری خیال رالی، نومنګی خواته د اوبو د راکښلو د پاره ولاړم، نو په منګی کی اوبه نه وی، بیازه صحن راغلم نو اومی کتل، زما یوځوی نثار چی د هغه عمر شپږ دیرش کاله دی په صحن ولاړ دی، ماهغه وویل: چی نثار ته نلکی نه لږی اوبه راوړه راوړه، اوبه زه راوړم خو هغه ته د واوری راوړلو څخه هم انکار وکی، ماته ډیره غصه راله زه د نلکی څخه د اوبو راوړلو د پاره ولاړم، په دی کی زما دوه نور،

---

(١) وفی تنویر الابصار ج: ٣ ص: ٧٢٨ (طبع سعید) ومن حلف علی معصیة کعدم الکلام مع ابویه او قتل فلان الیوم وجب الحنث والتکفیر.

(٢) وګورئ سابقه حواله صـ ٢١٠ حاشیه نمبر اول.

(٣) د حوالی د پاره وګوری صـ فتوی او د هغی او حاشیه.

هلکان نلکی ته د اوبو راوړلو د پاره رال یوه وویل اوبه زه ډکوم، دوهم ووئیل: واوره زه وړم، داکارمی دواړو ته حواله کی، کورته بیرته رالم، نثارهم په هغه کی ولاړوو، چیری چی ماپرینبی وو او زه بنی وتلی وم، ما په قهر کی ووئیل: نثار که موږ ستا د لاس ډکی سوی اوبه وڅښلي نو د سور د وینی قطری به موڅښلي وی، بیا د یونیم کاله پوری زموږ د هغه سره خبری اتری بندی وی، د هغه څخه وروسته هغه معافی وغوښتله، مامعاف کی، خو د اوبو څخه څښلو کوم قسم چی می اخستی وو، تراوسه په هغه باندی قایم یم، که څه شرعی ګنجایش وی نو وی لیکی که نه وی نو ټول به عمر به باندی قایم یم؟

جواب: د سوال خط کش سوی الفاظو سره شرعی قسم نه دی متحقق سوی لهذا که ته اوس د نثار د لاس ډکی سوی اوبه وڅښی نو په تاباندی هیڅ کفاره نه عاید کیږی، ته د هغه د لاس اوبه څښلی سی. لمافی الدر المختار.

وان فعله فعلیه غضبه او سخطه او لعنة الله او هوزان او سارق او شارب خمر او اکل ربا لایکون قسماً وفی رد المحتار عن الولو الجیة هویستحل الدم او لحم الخنزیر ان فعل کذا لایکون یمینا. (شامی ج: ٣ ص: ٥٧) (١)

والله سبحانه اعلم

۹/ ۷/ ۱۳۹۷ هـ

(فتویٰ نمبر ۵۲۴/ ۲۸ ب)

که نور سره زر وغواړم نوکافره دی سم په دی الفاظو سره د قسم منعقد کیدلو حُکم

سوال: تقریباً څلور کاله مخکی یووار مانبځی ته وئیلی وه چی هغه خو به (یعنی د طلاق ذکر سوی وو) هلته غورځیږی کله چی ته کفریه خبری وکړی، یاکفریه کلمه ووایی، غالباً مخکی فقره می وئیلی وه، نن د ښځی سره خبره کیدله، هغی ته می شپږ زر واخستل، یاداسی می ووئیل، که نور سره زر می وغوښتل نو کافره دی سم، نو اوس

---

(١) الدر المختار مع رد المختار ج: ٣ ص: ٧٢١ (طبع سعید) وفی الفتاوی الهندیة الباب الثانی فیما یکون یمینا ومالایکون یمینا الفضل الاول ج: ٢ ص: ٥٥ (طبع رشیدیه کویټه) لوقال ان فعلت کذا فأنا زان او سارق او شارب خمر او اکل ربافلیس بحالف هکذا فی الکافی

که اته تولی سره زر ورته واخلم او وریی کړم او وروسته بیاهغه نور سره زر وغواړی نو ایا په دی سره به واقعی کافره سی او بیابه په دی سره یو طلاق صریح یابائن غوځیږی؟

جواب: ستا ښځی چی داوئیلی دی چی (که زه وروسته نور سره زر وغواړم نوکافره دی سم، په دی الفاظو سره قسم متحقق سو، یعنی آینده د هغه د پاره مزید سره زر غوښتل ناجائز دی، که وغواړی نو هغه به د قسم کفاره ورکوی خو هغه به په دی وجه نه کافره کیږی او نه په دی سره په هغه باندی طلاق واقع کیږی، فی الدر المختار وان فعل کذا فهو کافر فیکفر بحنثه لوفی المستقبل ولاصح ان الحالف لم یکفر (شامی ج: ۳ ص: ۵۵) (۱)

والله اعلم

۱۶/ ۶/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۲۸/۲۰۵ ب)

د قسم خلاف ورزی دیانتًا بهتر ګڼلو په صورت کی خلاف ورزی کول او کفاره ورکول ښه دی

سوال: د یوی انجلی والدینو په دباو اچولو سره د دی خبری قسم اخستو چی ته به صرف زید خپلوی، انجلی په دباؤ کی راله داقسم خوبیی واخستی، خو اوس هغه داقسم ماتول غواړی، نو آیا داقسم چی په دباو کی اخستل سوی دی، د قسم وئیلو مستحق دی؟ او د دی ګناه به په چاباندی وی؟

۲: که د دی قسم څه شرعی حیثیت وی نو د دی د ماتولو کفاره به څه اداء کول وی؟

۳: بالفرض که هغه په دباؤ سره قسم نه وی کړی بلکی د زړه څخه یی اقرار کړی وی نو کفاره به یی څه وی؟

---

(۱) الدر المختار ج: ۳ ص: ۷۱۷، ۷۱۸ (طبع سعید). وفی الهندیة کتاب الایمان الباب الثانی فیما یکون یمینا ومالایکون یمینا ج: ۲ ص: ۵۴ (طبع رشیدیه کویته) ولوقال ان فعل کذا فهویهودی او نصرانی او مجوسی او بری من الاسلام او کافر او یعبد من دون الله او یعبد الصلیب او نحوذالك ممایکون اعتقاده کفرا فهویمین استحسانا کذا فی بدایع حتی لوفعل ذالك الفعل یلزمه الکفارة وهل یسیر کافرا اختلف المشائخ فیه قال الشمس الائمه السرخسی رحمه الله والمختار للفتوی انه ان کان عنده ان یکفر متی اتی بهذا الشرط ومع هذا آتی یصیر کافرا الرضاء بالکفر وکفارته ان یقول لا اله الا الله محمد رسول الله وان کان عنده انه اذا اتی بهذا الشرط لایصیر کافرا لایکفر.... الخ.

جواب: په چاباندی د هغه د مرضی خلاف په څه خبره قسم کولو د پاره دباو اچول درست نه دی، خو که داشان څوك قسم واخلی (یعنی د الله تعالی قسم اخستو سره د څه خبری وعده وکړی) نو قسم صحیح کیږی. (۱)

۲: په داسی صورت کی قسم کوونکی که د قسم خلاف ورزی دیانتًا بهتر ګڼی نو د هغه د پاره د حلف خلاف ورزی جائز ده (۲)، خو هغه به د قسم کفاره اداء کوی (۳).

د کفاری مطلب دادی: چی په دروکارونو کی یو کار وکړی، یالس مسکینانو ته دوه وخته ډوډی ورکړی، یالس مسکینانو ته د متوسطی درجی لباس ورکړی او که په دی یی قدرت نه وی نو دری روژی دی ونیسی (۴).

۳: که په زړه سره یی بغیر د جبر څخه حلف کړی وی خو وروسته ورته دیانتًا بل اړخ ښه کیدل په ذهن کی راسی نو بیاهم د قسم ماتولو ګنجایش سته په دی صورت کی به هم هغه کفاره اداء کول وی چی د هغه تفصیل په دوهم نمبر کی تیرسو.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۲/ ۱۲/ ۱۳۹۰ هـ

(فتوی نمبر ۱۱۴۳/ ۲۱- الف)

د قسم اخستو حکم او د قسم د کفاری تفصیل

سوال: ما د یوکار نه کولو په سلسله کی د الله ﷻ په حضور کی د قرآن پاك قسم واخستی، اوس زه هغه کار کول غواړم د دی څه کفاره ده؟

---

(۱) وګورئ سابقه حواله ص: ۲۱۱ حاشیه نمبر ۲- ۳.

(۲) ایضًا.

(۳) وفی سنن نسائی باب من حلف علی یمین فرآی غیرها خیر آمنها. ج: ۲ ص: ۱۴۳ (طبع قدیمی کتبخانه) عن ابی موسی عن النبی ﷺ قال: ماعلی الارض یمین اخلف علیها فاری غیرها خیرا منها الا اتیته، وفی کتاب الاصل (المبسوط للشیبانی) کتاب الایمان ج: ۳ ص: ۱۹۰ قد بلغنا عن النبی ﷺ انه قال: من حلف علی یمین فرأی غیرها خیرا منها فلیأت الذی هو خیر ولیکفر عنه یمینه (وکذا فی الهدایه کتاب الایمان).

(۴) وګورئ سابقه حواله ص: ۲۱۰ اوله حاشیه.

جواب: که د الله ﷻ قسم اخستوسره تا د یوکار نه کولو عزم کړی وو، او په ژبی دی وئیلی وه، نو ستا د پاره جائز نه دی چی ته هغه کار وکړی، مګر داچی هغه نیک کار وی، په هرصورت که هغه کار تا وکی نو د کفاری په طور یاخولسو مسکینانو باندی دوه‌ی وخوره یالسو مسکینانوته یوه یوه جوړه کپړه ورکړه او که د دی وس دی هم نه وی نو دری ورځی روژه ونیسه، په دی کی چی کوم کاروکړی نو کفاره به اداء سی. (١)

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

٢٤/ ١٠/ ١٣٩٠ هـ

(فتوی نمبر ١١٠٥/ ٢١ - الف)

دا جواب صحیح دی د کوم کار د نه کولو چی دی قسم اخستی وو، که هغه کار شرعاً جائز دی او د هغه کولو ته ستا ضرورت دی نو هغه وکړه بیا د قسام کفاره ورکړه (٢) چی د هغه تفصیل په جواب کی راغلی. (محمد شفیع عفا الله عنه)

د نذر د قربانی غوښه پخپله خوړل جائز نه دی

سوال: زید نذر منلی دی چی که زما فلانی کار وسی نو زه به په غټ اختر کی د حضور ﷺ په نامه باندی بزه قربانی کوم چنانچی د قربانی په موقع بزه قربانی سوه، اوس د دی بزی د غوښو څه حکم دی. ایا نذر منونکی یی پخپله خوړلی سی او که صدقه یی کړی؟

جواب: د نذر د قربانی غوښه پخپله خوړل جائز نه دی، که په غلطی سره وخوړل سی نو چی څومره غوښه یی خوړلی وی د هغه قیمت دی صدقه کړی.

(١) فی الدر المختار، کتاب الایمان ج: ٣ ص: ٧٢٥ او ٧٢٧ (طبع سعید) وکفارته تحریر رقبة او اطعام عشرة مساکین (الی قوله) صام ثلثة ایام ولاء. وفی الهندیة کتاب الایمان فصل فی الکفارة ج: ٢ ص: ٦١ (طبع رشیدیه کویته) وهی احد ثلاثة اشیاء ان قدر عتق رقبة یجزی فیها مایجزی فی الظهار او کسوة عشرة مساکین لکل واحد ثوب فمازاد وادناه ما یجوز فیه الصلوة او اطعامهم (الی قوله) فان لم یقدر علی احد هذه الاشیاء الثلاثة صام ثلاثة ایا متتابعات.

(٢) د جوالی د پاره وګورئ د تیرسوی صفحی (٢١٩) حاشیه نمبر (٢، ٣، ٥).

ولایاکل الناذر منها فان اکل تصدقه بقیمته ما اکل. (درمختار مع الشامی ج: ٥ ص: ٢٨٥) (١)

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

١٤/ ١٢/ ١٣٨٧ هـ

(فتوی نمبر ٩٢٨/ ١٨ - الف)

(١) الدر المختار ج: ٢ ص: ٣٢١ (طبع سعید)

کتابُ الوقف

د وقف مسئلې

د وقف کیدلو د پاره د مالک باقاعده وقف کول ضروري دي او محض په دعوٰی سره مځکه نه وقف کیږي

سوال: عرض دادی چې د نن څخه نوی ۹۰ کاله مخکې د ملك ظفرخان پلار ملك محمد امیر بهچر زموږ د خاندان یوبزرگ میا احمد وال لیچران ته راوستی، یوه بنګله یې جوړه کړه، په خپله مځکه باندې یې کښېنی نوی، کله چې هغه مړسو نو هم هلته ښخ سو، د هغه خواته کافي ځای د ځنګل په صورت کې زما پلرونو او نیکه ګانو ته ورکول سو، ترننه پورې د ملك صاحبانو په اولاد کې چاهم د دغه ځای مطالبه نه ده کړې، زموږ مشرانوته په سنه ۱۹۵۲ء کې معلومات وسو چې داځای د یهه آبادی ده، د پټواریانو په کاغذاتو کې د دې قبضه زموږ په نوم ده، د ضرورت مطابق موږ دلته د استوګنې د پاره کورونه جوړول، زموږ د بزرګ خواته قبرونه هم جوړیدل نه موږ څوك د قبرونو جوړولو څخه منع کړی دی او نه موږ چا د کور د جوړولو څخه منع کړی یو، په سنه ۱۹۷۷ء کې زموږ یوخپلوان نظر حسین اینډ برادر ولد غلام حسین یوه بنګله جوړول شروع کړل، دوال لیچرال ملك، شیر محمد ولد ملك بنده ډپټی کمشتر میانوالي ته درخواست ورکې چې داځای د ادیرې د پاره وقف دی، په دې باندې سماعت شروع سو، ملك عمر حیات، ملك خضر حیات د ملك عطاء محمد ځامن د ملك مظفر خان ورور په عدالت کې بیان ورکې چې زموږ پلار نیکه ګان داټول ځای د دوی مشرانو ته ورکړی وو، دوی چې دلته څه جوړوی زموږ باندې څه اعتراض نسته، فیصله زموږ په حق کې وسوه، چې د هغه تحریری ثبوت سته، د دې څخه وروسته بنګله او په زرو کورونه جوړسول، د بنار یوسړی هم څه رکاوټ وانه چوی، تیر کال د تعمیر او د فیصلې څخه یوولس کاله وروسته عطأ محمد زمان لیجر وغیره بیا مسئله راپورته کړله او وی وئیل: چې داځای د ادیرې دی، دلته مړی ښخیدل، دلته قبرون خراب سول او کورونه جوړ سوی دي، د مهربانۍ د مخه داراته ووایاست چې د دغه خلګو رویه ترکومه پورې سمه ده؟ د هغوی سره د وقف هیڅ ثبوت نسته.

جواب: د یوې مځکې د وقف کیدلو د پاره ضروري دي چې د مځکې مالك هغه وقف کړې وي (۱) نو ترڅو چې د وقف کولو شرعي ثبوت نه وي، نو کومې مځکې ته وقف

(۱) ایضا.

نسي وئیل کیدی، محض داخبره چي په دی مځکه کی مړی ښخیدلو د دی خبری کافی دلیل نه دی چي دا مځکه د ادیری د پاره وقف ده، اونه د کوم سړی محض دعوٰی د وقف د ثابیدلو د پاره کافی ده، لهذا په صورت مسئوله کی ترڅو چي د وقف دعوٰی ګیر د مځکی په وقف کیدلو باندی څه داسی شهادت پیش نکړی چي د هغه څخه شرعاً دا ثابت سی چي فلانی مالك د مځکی دا د فلانی فلانی مقاصدو د پاره وقف کړی وه ترهغه وخته پوری دا وقف ګرځول درست نه دی او په دی وجه چي کوم خلګ په دی باندی قابض او متصرف راروان دی او د دی د مملوك کیدو دعویدار دی، هغوی د دغه مځکی څخه ویستل او یا د هغوی مالکانه تصرف ایسارول هم جائز نه دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۱۱/ ۱۴۰۸ ھ

(فتوٰی نمبر ۲۴۹۴/ ۳۹ ج)

۱: د مدرسی مهتمم د وقف متولی دی او که د چنده ورکوونکو وکیل؟

۲: مځکه اخستلو او د هغی مالک جوړیدلو څخه مخکی هغه وقف کول

سوال: د مدرسی مهتمم په منزله د متولی د وقف دی او که وکیل عن المعطین د مدرسی د اموالو په حق کی.

---

(۱) وفی احکام الاوقاف للخصاف ص: ۱۳۴: أرأیت هذه الوقف التی تقادم اهلها ومات الشهود الذین یشهدون علیها السبیل فیها؟ قال: ماکان فی ایدی القضاة منها وما کان لها رسوم فی دواوین القضاة أجریت علی الرسوم الموجودة فی دواوینهم استحساناً اذا تنازع اهلها فیها ومالم یکن لها رسوم فی دواوینهم یعمل علیه فالقیاس فیها اذا تنازع القوم فیها ان یحملوا علی التثبیت فمن تبت فی ذالك شیئاً حکم له به (د امداد الاحکام په حواله وګورئ ص: ۲۰ ج: ۳)

وفی ردالمختار کتاب الوقف مطلب فی الوقف اذا انقطع ثبوته (ج: ۴ ص: ۳۹۲ طبع سعید کراچی) و ان الاوقاف التی تقادم أمرها ومات شهودها فماکان لها رسوم فی دواوین القضاة وهو فی ایدیهم اجریت علی رسومها الموجودة فی دواوینهم استحساناً اذا تنازع اهلها فیها، ومالم یکن لها رسوم فی دواوین القیاس فیها عند التنازع ان من اثبت حقاً حکم له به.

وفی الاشباه والنظائر ص: ۲۰۹ لاتثبت الید فی العقار الا بالنیته.

۲: د دی ښار تولہ مځکه حکومت چي شیعه اثنا عشریه دی خپله خالصه ګڼی او د خلګو لاسونه ترڅو چي هغوی د اول څخه د بناء وغیره په ذریعه تصرف ونکړی مځکه خرڅوی هم نه، نو ځکه د ښار یوڅوکسانو متفق کیدو سره په چندی جمع کولو باندی د مځکی یوه قطعه د عیدګاه په نوم دیوال جوړولو سره په خپل تصرف کی راوستله، او دوه واره یی په دی کی لمونځ هم کړی دی د هغه څخه وروسته په هغه کی لمونځ کول پریښوول سو، اوس هغه سړی چاچي د دی دیوال په جوړولو کی چنده ورکړی ده په دی باندی راضی سوی دی چي دا په مدرسه کی چي د هغه سره نژدی ده شامل دی سی. ځکه چي دا ځای د عیدګاه د پاره کافی نه دی، او عیدګاه په بل ځای کی جوړول پکار دی نو آیا دغه مځکه د دینی مدرسی د پاره په تصرف کی راوستل د شرع د مخه جائز دی او که نه؟

۳: د هغه مځکی د شرق څخه واخله ترشماله پوری د باندی اړخ ته څه مځکه هم موجوده ده چي هغه مځکه هغه خلګو صرف د تحجیر د پاره پریښی ده، او په هغه وخت یی خیال داوو چي هغه به هم آینده په عیدګاه کی داخل کو، او په هغه باندی لمونځ نه دی اداء سوی، آیا د تصرف په جواز کی د مدرسی د پاره دغه دواړو مځکو کی څه فرق سته او که نه؟

جواب: د مدرسی مځکه، عمارات او کتابونه، دا وقف وی لهٰذا مهتمم د دی اوقافو متولی دی. خو نقدی روپی او د استعمال شیان چي په مدرسه کی د چندی په طور باندی ورکول کیږی، هغه وقف نه وی، لهٰذا د هغه په حق کی د مدرسی د مهتمم حیثیت وکیل عن المعطین دی. کذا یفهم من امداد الفتاوٰی ج: ۲ ص: ۵۰۳ سوال نمبر ۶۵۲.

۲-۳: که هغه مځکه تراوسه پوری د حکومت څخه نه ده اخستل سوی بلکی صرف دیوال جوړ سوی وو، چي په دی بنیاد د حکومت څخه هغه واخستل سی، نو دا مځکه د عیدګاه د پاره وقف سوی نه ده ځکه چي د وقف د صحت د پاره د واقف مالك کیدل ضروری وی، لمافی رد المحتار ذکر فی البحران مفاد کلام الحاوی اشتراط کون ارض المسجد ملکا للبانی. (شامی ج: ۳ ص: ۳۷۰) (۱)

---

(۱) وفی الشامیة ایضاً ج: ۴ ص: ۳۴۰ (طبع سعید) (وشرطه شرط سائر التبرعات) افاد ان الوقف لابدّ ان یکون مالکه وقت الوقف ملکًا باتًا.... الخ.

وفی الهندیة ج: ۲ ص: ۳۵۳ (طبع رشیدیه کویته) ...ك وقت الوقف ..... الخ.

لهذا که اوس داځای پریږدی او په بل ځای کی عیدګاه جوړول غواړی او په دی مځکه باندی مدرسه هم داخله ده چی په هغه کی لمونځ شروع سوی وو، او هغه مځکه هم چی په هغه کی لمونځ نه وو شروع سوی بلکی صرف دیوال جوړ سوی وو.

والله سبحانه اعلم

۱۲/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ

د جومات تعریف او د قرآن د تعلیم د پاره وقف سوی ځای کی د امام د کور جوړولو حُکم

سوال: زموږ د محلی جومات چی د صدو زوړ دی، سل کاله وسول چی یونابینا حافظ صاحب چی د تونسی شریف پنجاب اوسیدونکی دی رالی د جومات سره کوشنی کمره کی چی اته فُټه پلنه وه مقیم سو، خوار خواست یی وکی چی یوه لویه کمره پکار ده چی په هغه کی د قرآن درس جاری کړم، د محلی والاوو څخه څه ونه سول، امام صاحب د خپل د طرف څخه یوه فراخه کمره (۱۴- ۱۴) فُټ مربع جوړه کړه، او د قرآن د تعلیم د پاره یی وقف کړله، او خپله رهایش ګاه یی هم منتقل کړله، تقریبًا پنځوس کاله یی درس وکی، ډیر حافظان او په سلګونو ناظری سره د قرآن ویونکی طالبان ځنی مستفیض سول، آخر د اجل داعی پیغام را ورسیدی او د لبیك وئیلو سره د دی دار فانی څخه عالم آخرت ته ورسیدی. (اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَیْهِ رَاجِعُوْنَ) د هغوی د مرګ څخه وروسته د مقامی دیهاتونه یوبل حافظ صاحب امام مقررسو، کله چی یی واده وکی، د پرده دار اوسیدلو کور مطالبه یی وکړله، د هغوی د پاره د جومات څخه ځانته د کوم ځای انتظام خو ونه سو، خو یوڅو کسانو تجویز پیش کی، چی همدی قرآنی ځای کی به په صحن کی دوه دیوالونه جوړکو، او همدادی پرده دار مکان جوړسی، خو ما د لاندینی دلائلو سره د هغه مخالفت وکی.

وفی البحر الرائق ج: ۵ ص: ۱۸۸ (طبع رشیدیه کویټه) الخامس من شرائطه الملك وقت الوقف... الخ

وفی قانون الحلال والانصاف ص: ۱۱ یشترط لصحة الواقف اهلاً للتبرع اعنی جراً عاقلاً بالغًا وان یکون مالکا للعین الموقوفة. وکذا فی ص: ۲۰).

۱: سابق امام مرحوم د خپل د طرفه چی د قرآن د تعلیم د پاره کومه کمره جوړولو سره وقف کړله، د هغه د وقف کولو حق پامال کولو سره د واقف روح ته د تکلیف رسولو مترادف به نه وی؟ او آیا موږ به ګنهګار نه یو؟

۲: هر انسان ته پکار دی چی که هغه مسلمان وی او که هندو یا سکه وی، او که عیسائی او یهودی وی او که مجوسی د جومات په څه حصه کی د تګ راتګ حق لری خو په دی شرط چی: الف: پاګل نه وی، (ب) داسی غلیظ لباس یی نه وی چی نورو خلګوته تری کرکه ورځی، (ج): د نشی په حالت کی نه وی، (د): چاسره د دښمنی اراده نه لری وغیره وغیره، خومکان جوړولو سره به تری داحق ولاړسی.

۳: د حجری صحن دومره لوی نه دی، چی په هغه کی د مکان څخه علاوه د بلی حجری جوړولو ګنجایش وی چی د قرآن تعلیم پکښی جاری وی.

۴: پرده دار کور مکان جوړیدلو سره د حجری په صحن کی جومات ته د تلو وخت د ځپلو کوزولو حق به هم تلف وی.

۵: د جومات د محراب والا کمره او حجره متصل دی او په مینځ کی یی یوه کړکی هم لګیدلی ده چی د هغی سره به سابق نابینا امام مرحوم د امام په وخت د جمع د پاره تګ راتګ کوی، اوس چی حجره د اوسیدلو کمره جوړه سی او په هغه کی بال بچ وسیږی، او که امام صاحب بزه پسه ساتی، د هغه آواز د کمری د متصل کیدلو په مینځ کی د کړکی کیدلو په وجه به لمونځ کی د خلل د واقع کیدلو احتمال وی.

۶: په خپل ښار کی او په نورو ښارونو کی هم داکیږی راروان دی چی کور قربانولوسره جومات جوړول کیږی، او حدیث مبارك کی دی چی څوك جومات جوړوی هغه ته په جنت کی کُور ورکول کیږی، زه عرض کوم چی د دی به څه کیږی چی د حدیث په خلاف د جومات څخه کور جوړسی؟ ده ته به په آخرت کی څه ورکول کیږی؟

۷: په جومات کی کور جوړیدلو سره د هغه څیراغ دروازه هم په جومات کی دننه وی، او د جومات خپله داخله دروازه به هم د کور مخامخ وی، داشان کیدی سی چی کله کله اتفاقًا د لمنځ ګذارو او کورته تلونکو راتلونکو ښځو مخامخ په مخامخ سی. یوه معیوبه خبره ده.

مهربانی او لطف وکړئ په دی حالاتو کی دا معلومول دی د حقه شریعت د مخه د جومات په احاطه کی چی زیات وسیع او عریض هم نه وی یوه سابقه حجره د قرآن د

تعلیم او د هغه د صحن ټول حقوق غصب کولو سره پرده دار د اوسیدلو کور جوړول څنګه دی؟ آیا موږ به د کور په جوړولو سره ګنهګار نه یو؟

جواب: اول ځان په دی پوه کړه چی شرعًا جومات صرف هم هغه ځای دی چی هغه جوړونکی جومات ګرځولی وی او صرف د لمونځ کولو په نیت یی جوړ کړی وی. خو کوم ځای چی د بل مقصد مثلاً د قرآن د تعلیم د پاره وقف سوی وی. هغه نه شرعًا جومات وی او نه په هغه باندی د جومات احکام جاری کیږی، لهذا په صورت مسئوله کی د حجری صحن که بانی یا واقف جومات ګرځولی وی نو بیا خو هغه د لمونځ کولو څخه ماسوا د بل هیڅ مقصد د استعمالولو د پاره جائز نه دی، په دی کی د اوسیدلو ځای هم نسی جوړیدلی. خو که بانی یا واقف داجومات نه وی ګرځولی بلکی د قرآن د تعلیم د پاره یایی د جومات د نورو ضروریاتو د پاره وقف کړی وی نو په دی کی به دی ته کتلی سی چی د واقف شرایط څه وه (۱)، که هغه د وقف کولو په وخت کی داسی صراحت کړی وی چی داټول ځای به د تعلیم د پاره استعمالیږی د استاذانو په کورونو کی نه، نو بیاهم په دغه ځای کی کور جوړول جائز نه دی (۲)، خو که په وقف کی د تعلیم قرآن د ټولو متعلقاتو د ضروریاتو نیت سوی وی نو په دغه ځای کی د ضرورت په وخت د استاذانو د کورونو جوړولو ګنجایش سته، خو تعمیر په دی اندازی سره کول پکار دی چی حتی الامکان په لمونځ کی څه خلل واقع نسی او د بی پردهګی احتمال کم نه کم نه وی.

والله اعلم

۱۴۰۰/۹/۲۹ ھ

(فتوی نمبر ۱۲۸۸/ ۳۱ د)

د دار العلوم دیوبند د پاره د دوکان کرایه وقف کیدلو په صورت کی کوم دار العلوم دیوبند ته کرایه ولیږل سی؟

---

(۱) ایضاً

(۲) وفی الشامیة ج: ۴ ص: ۳۶۶ (طبع سعید کراچی) ان شرائط الوقف معتبرة اذا لم تخالف الشرع وهو مالك فله ان یجعل ماله حیث شاء مالم یكن معصیة..... وكذا سیأتی فی فروع الفصل الاول ان قولهم شرط الواقف كنص الشارع، ای فی الفهوم والدلالة ووجوب العمل به.

سوال: باعث د تحریر داچی په میرپور خاص کی یوصاحب چی مړسوی دی د هندو پاك د تقسیم څخه مخکی دوه دکانونه د دار العلوم دیوبند د پاره وقف کړی دی، د دی دواړو دوکانونو کرایه اخستلو سره به یی دار العلوم ته رالیږله اوس د څو کالو څخه د دار العلوم په حیثیت کی ښکاره فرق راغلی دی او هلته دوه انتظامی قائمی سوی دی، اوس صورتحال دادی چی د دار العلوم نوی او زړه انتظامیه دواړه د دی د وصول متقاضی دی، د نوی انتظامیی ویناده چی حسب سابق داپیسی د زوړ عمارت دار العلوم ته ورکول پکار دی، او نوی انتظامیه چی هغه د دیوبند په جامع مسجد کی د تدریس سلسله شروع کړی ده، د هغوی ویناده، چی اوس دازړو عمارت وقف پاته نسو. نو د رقم ترسیل هغه ته نسی کیدلی، ځکه چی د زړو عمارت انتظامیی دار العلوم د سوسائتی ایکټ لاندی رجسټر کړی دی چی د هغه لاندی د وقف د املاکو حیثیت ختمیدلو سره د سوسایټی ملکیت جوړیږی، لهذا چی اوس دار العلوم وقف پاته نسو، نو د وقف په معاملاتو کی به اوس د هغه اطلاق هم نه کیږی په صورت مسئوله کی دی وفرمائیل سی چی رقم د سابقه عمارت نوی انتظامیه ته ارسال سی او که په جامع مسجد کی قایم سوی د دار العلوم (سابقه انتظامیی، چی دار العلوم ته وقف لیکل کیږی) زړی انتظامیی ته ولیږل سی؟

جواب: په مسئوله صورت کی د میر پور خاص د وقف متولی ته پکار دی چی د دار العلوم دواړه قسمه انتظامیو کی چی کومه په خپل تحقیق او بصیرت مطابق د دار العلوم جائز متولی وګڼی هغوی ته دی د وقف آمدن ولیږی، خو په دی شرط چی هغه دار العلوم یوه مذهبی اداره او د هغی وقف جایدادونه په هغه باندی وقف تسلیم کړی.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۸/۸/۱۹ ھ

(فتوی نمبر ۱۲۹۴/ ۳۹ و)

په جومات کی د تنګی په وجه د باندی ځای په جومات کی د شاملولو حکم

سوال: د یو جومات صحن کم دی لمونځ کوونکی په کثرت سره راځی، او د باندی د یومسلمان ځای دی، هغه په قیمت سره هم ځای نه ورکوی او په هغه ځای کی هوټل او دکانونه جوړوی چی د جومات د پاره د سخت نقصان موجب دی آیا په زوره په قیمت

سره دا ځای په جومات کی شامل کړو نو صحیح به وی او که نه؟

جواب: که د باندی ځای د هغه مسلمان خپل ملکیت وی، نو په هغه باندی زور کولو سره د هغه ځای جومات کی شاملول جائز نه دی (۱) هو! هغه دی راضی سی چی هغه ځای په جومات باندی خرڅ کړی او په حیثیت د یو مسلمان هغه ته پکار دی چی هغه د جومات د ضروریاتو خیال وساتی.

والله سبحانه اعلم

۲۴/ ۱۱/ ۱۴۰۱ هـ

(فتوی نمبر ۱۷۵۰/ ۳۲ ج)

(۱) وفی مشکوة المصابیح ج: ۱ ص: ۲۵۵ (طبع قدیمی) قال رسول الله ﷺ: الا لاتظلموا، الا لایحل ما امری الا بطیب نفس منه. رواه البیهقی فی شعب الایمان. وفی حاشیة: ای بالاذن او بالامر.

فصل فی احکام المساجد و آدابها

د جومات د احکامو او ادابو بیان

لاندی ګودام او لوړ د جومات جوړولو حُکم

سوال: که د یو جومات په لاندینی حصه کی ګودام وی او برنی حصه کی جومات وی نو آیا برنی حصه بدستور چی د جومات په طور استعمالیږی هغه د جومات په حکم کی راتلی سی او که نه؟

جواب: که جوړوونکو د شروع څخه داشان تعمیر وکی چی لاندی یی د جومات د ضروریاتو د پاره ګودام وساتی او لوړ یی جومات جوړ کی، نو داصورت جائزدی خو که په شروع کی په هغه ځای جومات جوړ سو او وروسته ګودام جوړول فیصله سول نو داجائز نه دی، لما فی الدر المختار واذا جعل تحته سردابا لمصالحه ای المسجد جاز کمسجد القدس (الی قوله) اما لو تمّت المسجدیة ثم اراد البناء منع (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ هـ

کوم ځای چی جومات جوړ سی هغه تر قیامته پوری هم جومات وی

سوال: یوه مدرسه ده په هغه کی یو جومات هم دی چی د کمرو په مینځ کی دی او یو طرف ته یی عامه لاره، د مدرسی د ارکانو خیال دی چی جومات د عامی لاری طرفته منتقل سی یا دا انتقال به جائز وی.

جواب: کوم ځای چی یو وار جومات جوړ سی هغه به تر قیامته پوری جومات وی، او ترڅو چی هغه بالکل وران نسی د هغه منتقل کول جائز نه دی، (۲) که په بل ځای کی د

(۱) رد المحتار کتاب الوقف ج: ۴ ص: ۳۵۷ (طبع سعید) وفی الهندیة کتاب الوقف ج: ۲ ص: ۴۵۵ (طبع رشیدیه کویټه) ولو کان السرداب لمصالح المسجد جاز کما فی مسجد بیت المقدس. کذا فی الهدایة.

(۲) ایضاً.

جومات ضرورت وی نو بل دی جوړ سی، که داځای عارضی لمونځ کولو د پاره مقرر سوی وی او باقاعده جومات نه وی جوړ سوی، نو اوس هغه منتقل کولی سی. کذا فی الدر المختار [1] والبحر [2] وسائر کتب الفقه.

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی علی عنه

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۲/۹ هـ

(فتوی نمبر ۲۳۳/ ۱۹- الف)

جومات د یوځای څخه بل ځای ته د منتقل کولو حکم

سوال: د جمعې جومات د خپل ځای څخه اخوا کول جائز دی او که نه؟

جواب: کوم ځای چی یووار جومات جوړسی هغه به ترقیامته پوری جومات وی او ترڅو چی د هغه کامله استغناء ونسی یعنی هغه ځای بالکل وران نسی نو مسجد د هغه ځای څخه منتقل کول په اتفاق سره جائز نه دی. قال ابویوسف: هو مسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثًا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کان یصلون فیه اولا وهو الفتوی. کذا فی للحاوی القدسی وفی المجتبی واکثر المشائخ علی قوله ابی یوسف ورجح فی فتح القدیر قول ابی یوسف بانه الأوجه. (البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۷۲) [3]

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

---

[1] وفی الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید) ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عند الامام والثانی (بدأ الی قیام الساعة) (وبه یفتی) حاوی القدسی. وفی الشامیة (قوله عند الامام والثانی) فلایعود میراثًا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی.

[2] وفی البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۱ (طبع رشیدیه کویټه) قال ابویوسف هومسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثًا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد آخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی.

د دغه مخ څلورمه ۴. حاشیه په پسی مخ کی ده.

[3] تیری ص: ۴ حاشیه. البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۱ (طبع رشیدیه) کذا فی الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید) او همدارنګه تیره فتوی او د هغی حواشی.

والله سبحانه وتعالی اعلم بالصواب

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۱/۱۴ هـ

(فتوی نمبر ۱۹- الف)

د فضائلو کتاب د ویلو د پاره د جومات بجلی، شمع وغیره د استعمالولو حکم

سوال: د فضائلو کتاب د ویلو د پاره د جومات بجلی، شمع وغیره بلول او پنکی لګول جائز دی او که نه؟

جواب: په دی مسئله کی اصل مدار د واقف په نیت او شرط باندی دی که د واقف نیت او شرط مصرح نه وی نو د عرف اعتبار به وی یعنی که د جومات رڼا او پنکه وغیره په نورو دینی امورو کی استعمالول متعارف وی او د جومات چنده ورکوونکی په دی اعتراض نه کوی نو جائز دی لکه زموږ په عرف کی په دی باندی اعتراض نه کیږی ځکه د فتوی د مخه جائز دی.

لما فی العالمگیریة: ولابأس بان یترك سراج المسجد فی المسجد الی ثلث اللیل ولایترك اکثر من ذالك الا اذا شرط الوقف ذالك او کان ذالك معتادا فی ذالك الموضوع. (عالمگیریه قبیل باب الوتر ج: ۱ ص: ۱۱۰) [1]

وفیها ایضا: ان اراد انسان ان یدرس الکتاب سراج المسجد ان کان سراج المسجد موضوعًا فی المسجد للصلاة قیل: لابأس به وان کان موضوعًا فی المسجد لا للصلوة بأن فرغ القوم من صلوتم وذهبوا الی بیوتهم وبقی السراج فی المسجد قالو: لابأس بان یدرس به الی ثلث اللیل وفیما زاد علی الثلث لایکون له حق التدریس کذا فی فتاوی قاضیخان. (عالمگیریه کتاب الوقف ج: ۲ ص: ۴۵۹) [2]

---

[1] (طبع مکتبه رشیدیه کویټه)

[2] الفصل الاول (طبع مکتبه رشیدیه) وفیها ایضا کتاب الکراهیة ج: ۵ ص: ۳۲۲ هل یجوز ان یدرس الکتاب سراج المسجد والجواب فیه انه ان کان موضوعًا للصلوة فلابأس به وان وضع لا للصلوة فان فرغوا من الصلوة وذهبوا فان اخر الی ثلث اللیل لابأس به وان اخرمن ثلث الیل لیس له ذالك کذا فی المضمرات فی کتاب الهبة. وفیه ایضًا کتاب الصلوة قبیل باب الوتر ج: ۱ ص: ۱۱۰ ولابأس بالجلوس فی المسجد لغیر الصلوة لکن لوتلف به شئی یضمن کذا فی الخلاصة.

والله سبحانه اعلم
۱۲/ ۱۱/ ۱۳۹۲ هـ
(فتوی نمبر ۲۵۵۲/ ۲۷ و)

د جومات لاوډ سپیکر د جومات څخه د باندی وړل او د جلسی د پاره استعمالول

سوال: د باغ د قصبی مسلمانانو چنده واچوله او د جومات د پاره یی لاوډسپیکر
واخستی، ضرورت دا پیښ سوی وو چی د کلی د ګڼی آبادی په وجه د جمعی په لمانځه
او اخترونو او نورو مجموعوکی د آذان یا د خطبی آواز به خلکو ته نه رسیدی او په
مذهبی او تبلیغی مجلسونو کی هم د لاوډ سپیکر سخت ضرورت وو، د دی ضرورت
پیش نظر په چندی سره لاوډ سپیکر واخستل سو، اوس د څوکالو څخه په بعضی کلو
کی او فوجی مرکزونو کی اجلاس کیږی په کلوکی خومذهبی اجلاس کیږی او فوج کی
خو صرف نمایش وی، یا د خوشحالی په ورځ خو مجلسونه منعقد کیږی او په خالص
قصبه کی هم کله کله سیاسی مجلسونه کیږی، داخلګ د جومات لاوډ سپیکر وړی او
استعمالوی یی، بعضی خو کرایه هم نه ورکوی او بار بار مو پریشانه کوی، کله کله
لاوډسپیکر خرابیږی او راولیږی ته یی وړو، مرمت یی کوو، نو ګذارش دادی چی په
برنی مجلسونو کی د لاوډسپیکر استعمال صحیح دی او که نه؟ او د جمعی لمونځ په
لاوډ سپیکر باندی کولی سی او که نه؟

جواب: په صورت مسئوله کی لاوډسپیکر د جومات څخه ایستل او په کومه جلسه کی
استعمالول درست نه دی. لقوله الفقهاء: ولایعار (ای الوقف ودخل فیه المنقول
المتعارف) ولما فی البحر ولیس لمتولی المسجد ان یحمل سراج المسجد الی بیته
ویجوز الدرس بسراج المسجد ان کان موضوعًا فیه لا لصلوة.... الی ثلث اللیل.
وفیما زاد علی الثلث لیس لهم تأخیرها فلایکون لهم حق الدرس. (البحر الرائق ج: ۵
ص: ۲۷۱) (۱). او د جمعی لمونځ په لاوډ سپیکر باندی کولی سی. والله اعلم

(۱) البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۰ (طبع سعید). وفی الهندیة.... ج: ۲ ص: ۴۲۳ متولی المسجد لیس له
ان یحمل سراج المسجد الی بیتهِ وله ان یحمله من البیت الی المسجد، کذا فی فتاوی قاضی خان.

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی عفی عنه
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۲۷/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ
(فتوی نمبر ۲۰۲/ ۱۹- الف)

د جومات لاوډسپیکر د رفاهی ضروریاتو د پاره استعمالول

سوال: د جومات لاوډسپیکر او د جومات د سیلاب ځپلو امدادی فنډ جمع کولو د پاره
او نورو اعلاناتو د پاره استعمالول جائز دی او که نه؟

جواب: اصل دادی چی څومره کیدی سی د جومات موقوفه شیان د جومات د
ضروریاتو څخه علاوه باید استعمال نه سی خو چی کوم شیان د جومات د پاره وقف نه
وی هغه د چنده ورکونکو په اجازت سره بل څه مقصد کی هم استعمالولی سی،
چونکی کوم خلګ چی جومات ته لاوډسپیکر وقف کوی د هغی د طرفه د هغه اجازت
معتاد او متعارف دی، په دی مسئله کی مدار په عرف او په عادت باندی دی نو څکه
په مذکوره مقاصدو کی د استعمال ګنجایش سته.

لمافی الهندیة: ولو وقف علی دهن السراج للمسجد لایجوز وضعه جمیع اللیل بل
بقدر حاجة المصلین ویجوز الی ثلث اللیل او نصفه اذا احتیج الیه للصلوة فیه وکذا
فی السراج الوهاج. ولایجوز ان یترک فیه کل اللیل الی فی موضع جرئت العادة فیه
بذالك کمسجد بیت المقدس ومسجد النبوی ﷺ والمسجد الحرام، او شرط الواقف
ترکه فیه کل اللیل کماجرئت العادة به فی زماننا وکذا فی البحر الرائق. (عالمګیریه
کتاب الوف باب: ۱۱ فصل: ۱ ج: ۲ ص: ۴۵۹) (۱).

والله اعلم
۲۳/ ۳/ ۱۳۸۸ هـ

وفي البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۰ وفی الاسعاف ولیس لمتولی المسجد ان یحمل السراج المسجد
الی بیته. وفی خلاصة الفتاوی ولایحمل الرجل سراج المسجد الی بیته ویحمل من بیته الی المسجد
ج: ۱ ص: ۲۲۹ (طبع مکتبه رشیدیه کویته) په حواله د امداد الاحکام وګوری ج: ۳ ص: ۱۷۲.
(۱) (طبع مکتبه رشیدیه کویته) او همدارنګه تیره سوی فتوی او د هغی حاشیه.

۱: جومات حتی الامکان آبادول ضروري دي
۲: د سخت ضرورت په وخت کی د جومات د منتقل کولو گنجایش سته
۳: د ضد د وجی د جوړسوي جومات حکم
۴: د استغناء د وجی بل جومات ته سامان ورکولو څخه وروسته بیا مخکی جومات ته ضرورت پیښ سی نو څه حُکم دی؟

سوال: د برطانوی حکومت په دورکی دلته یوجومات آبادوو کله چی هندوان د مشن کولو سره د دی ځای څخه ولاړل، او مسلمانان هم د دغه ځای څخه ختم سول نو یوصاحب هغه جومات د لری کلی والاوو ته ورکی، بیا د هندوستان څخه دلته خلک راغلل او آباد سول، او هغوی یوبل جومات آباد کی، چی په هغه کی جمعه وغیره کیږی، په حال کی د بی ډی ممبر یوبل دریم جومات آباد کی، د څو ورځو څخه په هغه کی جمع هم کیږی، او وئیل کیږی چی دوهم جومات دی لری سی، سابقه جومات (یعنی د ټولو څخه اول جومات) د متولی خواهش دی، چی هم د هغه سابق جومات په ځای دی نوی جومات قایم سی او هلته دی لمونځ که یی، ځکه چی د دوهم جومات شا وخواته صرف شپږ اووه کسان وسیږی هغه خلک جومات ته هم راتلی سی، اوس عرض دادی: چی سابقه جومات چی د برطانیی په دور کی آباد وو هغه آباد سی؟ ۲: په دوهم جومات څه وسی؟ ۳: دریم جومات مسجد ضرار دی؟ ۴: د سابقه جومات تیمان چی دریم جومات ته ورکول سوی وو په هغه څه وسی؟

جواب: کله چی د مسلمانانو د دوباره ابادیدلو د وجی د مخکی جومات ضرورت پیښ سوی وو، نو هغه آبادول پکار وو او اوس دی هغه آباد سی، لانه مسجد الی قیام الساعة علی قول الشیخین المفتی به (۱).

۲: د دوهم جومات هم په ټولو احکامو کی د جومات په شان دی، او هغه باقی ساتل ضروری دی، هوا که د دی ځای څخه د جومات د منتقل کولو ضرورت شدیده وی، او

(۱) وفی بحر الرائق ج: ۵ ص: ۱۵۱ (طبع رشیدیه کویټه) قال ابویوسف: هومسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد اخرسواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوی وکذا فی الدرر ج: ۴ ص: ۳۵۸.

دلته لمونځ گذار باقی پاته نه وی، نو د سخت ضرورت په وجه هغه منتقل کول، او د هغی ملبه او سامان وغیره سابقه جومات ته د وړلو گنجایش سته، (۱) وفی جامع الفتاوی: لهم تحویل المسجد الی مکان آخر ان یترکوه بحیث لایصلّی فیه. (رد المختار ج: ۳ ص: ۵۱۲).

وقد افتی بجواز ذالك شیخنا التهانوی عند الضرورة الشدیدة (امداد ج: ۲ ص: ۲۲۴).

خو د جومات ځای داسی محفوظ کړی چی بی ادبی یی نه وی، صرف سامان منتقل کولی سی.

۳: په دریم جومات کی هم ټول احکام د جومات دی، او په هغه کی لمونځ کول جائز دی، البته که جوړوونکو واقعاً د ضد په وجه جوړکړی وی، او په دی سره بل جومات ورانول مقصود وی نو په جوړوونکو به د دی گناه وی په دی صورت کی ورته مسجد ضرار نسی وئیلی، خو د ضد د وجی به هغه سره مشابه وی خو په دی سره به د هغه جومات جوړیدو کی څه فرق نه راځی (۲).

(۱) وفی البحر ج: ۵ ص: ۱۵۲ (طبع رشیدیه کویټه) وبه علم ان الفتوی علی قول محمد فی آلات المسجد (ای فی جواز نقلها للضرورة) وعلی قول ابی یوسف فی تائید المسجد. وفی الشامیة ج: ۴ ص: ۳۶۰ سئل شیخ الاسلام عن اهل قریة رحلوا وتداعی مسجدها الی الخراب وبعض المتغلبة یستولون علی خشبه وینقلونه الی دورهم، هل لواحد الاهل المحلة ان یبیع الخشب بامر القاضی ویمسك الثمن لیصرفه الی بعض المساجد او الی هذه المسجد؟ قال: نعم وحکی انه وقع مثله فی زمان سیدنا الامام الاجل فی رباط فی بعض الطرق خرب، ولاینتفع المارة به وله اوقاف عامرة تسئل هل یجوز نقلها الی رباط آخر ینتفع الناس به؟ قال: نعم لان الواقف غرضه انتفاع المارة ویحصل ذالك بالثانی. وفی الشامیة ج: ۴ ص: ۳۵۹ جزم به فی الاسعاف حیث قال: ولوخرب المسجد وماحوله وتفرق الناس عنه لایعود الی نلك الواقف عند ابی یوسف فیباع نقضه باذن القاضی ویصرف ثمنه الی بعض المساجد.

(۲) کل مسجد بنی مباهات اوریاء او سمعة او لغرض سوی ابتغاء وجه الله تعالی او بمال غیر طیب فهو لاحق بمسجد الضرار. قال صاحب الکشاف وعن عطاء لما فتح الله الامصار علی عمر رضی الله عنه امر المسلمین ان یبنوا المساجد وان لایتخذوا فی مدینة مسجدین یضار احدهما صاحبه. هذا لفظ. فالعجب من المشایخین المعتصبین فی زماننا یبنون فی کل ناحیة مساجد طلبا للاسم والرسم واستعلاء لشأنهم و اقتداء بابائهم ولم یتأملوا مافی هذه الآیة والقصة من شناعة حالتهم وسوء افعالهم (الاکلیل ج: ۴ ص: ۲۸۴ بحواله فتاوی محمودیة ج: ۱۰ ص: ۱۲۷ فراجع الیه للتفصیل وفی التفسیرات الاحمدیة وقال فی المنهیة ونهی الصلوة فی مسجد الضرار مخصوص به فلا یتعدی الی ملحقاته (الاکلیل ج: ۴ ص: ۲۸۴) بحواله فتاوی محمودیة ج: ۱۰ ص: ۱۲۴.

۴: دا جزئیه د تلاش څخه وروسته هم پیدانه سوه، چی کله د یوجومات سامان د استغناء د وجی بل جومات ته ورکول سوی وی بیا اول جومات ته ضرورت سی نو بیرته یی اخستی سی او که نه؟ د قودعدو څخه دامعلومیږی چی اوس داټیم وغیره د بل جومات سول اول جومات ته دی نه ورکوی، احتیاط په دی کی دی، نورو علماوو ته هم باید رجوع وسی. والله سبحانه اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی بلند شهری عفی عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۸/۱/۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۹/۷- الف)

د نورو جوماتونو د لری والی په وجه په نژدی علاقه کی د جومات جوړول او د هغه د مخالفت حُکم

سوال: زموږ سره یوپلاټ کی، ډی- اي (ګورنمنټ اداره) د عوام الناس رفاهی مقاصدو د پاره خاص کړی دی، متذکره پلاټ د کی- ډی- ای د اړخه تراوسه پوری چاته ورکول سوی نه دی په کوم سیکټرکی چی دا پلاټ موجود دی، د هغه علاقی څه کسانو د کراچی د نورو علاقو رهایش پذیر حضراتو سره یوځای کیدلو سره یوانجمن برای تعمیر مسجد او مدرسه تشکیل ورکړی دی، دا انجمن خالصة مذهبی دی او تعلق یی د فقه حنفی سره دی د کوم سیاسی ګوندسره د دوی هیڅ تعلق نسته، دی انجمن دکی- ډی- ای ته د متذکره پلاټ د جومات او مدرسی د تعمیر د پاره د حاصلولو درخواست کړی دی، د دی پلاټ دالاټ منټ د جاری کولو د پاره دکی ډی ای د طرفه طلب سوی نوآبجکشن سرټیفیکیټ (N- O- C) چی د علاقی د ډپټی کمشنر څخه اخستل وی. (داسرټیفیکیټ د دی خبری غمازی کوی چی متذکره پلاټ دی دغه انجمن ته د جومات او مدرسی د تعمیر د پاره ورکول سی، په دی سره به مقامی انتظامیی ته هیڅ اعتراض نه وی) الحمد لله سرټیفیکیټ ډپټی کشنر زموږ د انجمن په حق کی جاری کړی دی، په دی صورت کی انجمن ته د ګورنمنټ سنده د رجسټرار دفتر څخه خپل مقاصد تحریری پیش کولو سره د رجسټر ډکول وی، الحمد لله انجمن د رجسټرار د طرفه د رجسټریشن سرټیفیکیټ هم حاصل کړی دی، د قانون مطابق د جومات او مدرسی د عمارت د تعمیر د پاره د ټولی خرچی لس فیصده د انجمن سره مـوجودیدل

پکار دی، الحمدلله د سرکاری بینک څخه داسرټیفیکیټ هم حاصل سو.

مذکوره برنی ټول سرټیفیکیټونه حاصلولو څخه وروسته (د کی- ډی- ای) یو اعلی افسر زموږ دالایتمنټ درخواست وصولولوسره چی په هغه باندی کوم حکم تحریر کړی دی د هغه مفهوم دادی: چی مکمله کار روایی کولو سره دی دا لایتمنټ د کمیټی مخ ته سمدستی پیش سی (ډایریکټرجنرل) خیر د انجمن ممبرانو د دی خبری تحقیق کړی دی چی د مذکوره پلاټ دالایمنټ د پاره زموږ د درخواست څخه مخکی او تراوسه کومی دریمی اداری انجمن (کی- ډی- ای) ته درخواست نه دی کړی، لهذا د دغه انجمن ټولو ممبرانو او د علاقی نورو خلګو په مشوری سره په دغه پلاټ باندی سیمنټ، بلاکونه، جومات تعمیرسو، او په دی جوړسوی جومات کی د یوی میاشتی څخه زیات پنځه وخته لمونځ د جمعی سره اداء کیږی، د یومستند عالم دین د سرپرستی لاندی ماشومانو ته دینی تعلیم او د قرآن د ناظری ښوولو هم انتظام سوی دی، چی په هغه کی د علاقی ماشومان او ماشومانی بغیر د معاوضی څخه تعلیم حاصلوی.

۱: اوس تاسوته ګذارش دی چی د پورته ذکرسوو حقائقو پیش نظر تاسو دا وواياست چی په دی قایم سوی جومات کی لمونځونه کول جائز دی او که نه؟ ځکه چی د علاقی څه افراد د دی قایم سوی جومات مخالفت کوی، او نورخلګ په دی جومات کی د لمونځ کولو څخه ایساروی او د هغوی مخالف تردی دی چی په پورتنیو احکامو باندی خپل اثر او رسوخ استعمالولو سره نعوذ بالله داجومات د ورانولو پوره کوشش کوی، د هغوی وینا داده: چی په دی علاقه کی دوه جوماتونه کافی دی، د دریم جومات ضرورت نسته او د اول څخه قائم سوی جوماتونو کی او دی نوی قایم سوی جومات کی کافی فاصله ده.

۲: فریق مخالف دی قایم سوی جومات لره د ورانولو سره په دی پلاټ باندی لایبریری یادغه شان څه بل سنټر وغیره قائمول غواړی، نوپوښتنه داکول دی چی د هغوی داپروګرام د شریعت د مخه څنګه دی؟ (چی د هغه د لاندی داجومات قائم دی، په پروګرام کي داخبره واضحه ده، چی په دی پلاټ پاندی د جومات سره سره یوه لویه دینی مدرسه هم قائمه سی، چی د هغی سره جومات ډیر ضروری دی.

جواب: هرکله چې نور جماتونه په ډېره فاصله کې دي نو په دغه ځای باندې د جومات جوړولو کوشش به سبب د اجر او ثواب وي (۱) او کوم خلګ چې مخالفت کوي هغوی د پاره د دې مخالفت څخه منع کېدل پکار دي، د دې تمهید څخه وروسته د سوالونو جوابونه په لاندې ډول دي:

۱: لمونځ کول پکښې جائز دي.

۲: د جومات د تعمیر مخالفت هرکله چې د هغه د جوړولو ضرورت وي او د هغه قانوني کار روائي جاري ده هیڅکله جائزنه ده، بلکې د ګناه خطره هم ده.

والله سبحانه اعلم

۱۴۰۸/۹/۲ هـ

(فتوی نمبر ۱۷۹۸/ ۳۹ و)

جومات لوړولو په غرض د جومات څخه لاندې د جوړسوو کمرو حکم

سوال: یوجامع مسجد عزیزی علاقې کې د نن څخه تقریباً شلوېښت کاله مخکې آباد سوی وو، د عزیزی علاقې د ډهلاني سطحې په وجه د هغه جومات څخه لاندې شلور پنځه کمرې جوړې سوې چې هموار ځای جوړسي او د هغه د لوړ جامع مسجد تعمیر سو، د هغه وخت څخه وروسته څه مودې پورې لاندېنې کمرې قایم وې، وروسته چې څنګه د جومات ضروریات زیاتېدل، نو هغه کمرې په کرایه باندې ورکړې، اوس د دغه جومات خطیب زید دی د جومات کمیټې ولاوو د دغه کمروسره بهرلېترین، غسلخانې وغیره جوړې کړې دي، چې زید د خپل بال بچ سره د جومات څخه لاندې کمروکې وسېږي ځکه چې د اوسېدلو د پاره د دې کمرو څخه علاوه بل څه ځای نسته او د دې کمرو په صفائی وغیره او لېټرین، غسلخانو باندې تقریباً د شلورو زرو روپو څخه زیاتې پیسې هم لګېدلې دي او زید د عام ماحول د لاندې کله چې د جومات د لاندې دکانونه، مکانات وغیره وي، په دې باره کې یې څه التفات ونکی، اوس چې کله هغه په دې معامله کې مسائلوته وکتل، نو په تردد کې سو چې اوس څه اوسي، داکمرې بیکاره هم نسي پرېښولی، او اوس دلته نه بال بچ لېږلو کی هم د جومات د کمیټې والاوو په معاملو کې د څه فتنې او فساد خطره ده، اوس د پوښتنې کولو مسئله داده، چې د دې

---

(۱) وفی مشکوة المصابیح، باب المساجد ومواضع الصلوة ج: ۱ ص: ۶۸ (طبع قدیمی کتب خانه کراچی) عن عثمان ﷺ قال: رسول الله ﷺ من بنی الله مسجداً بنی الله له بیت في الجنة. متفق علیه.

مجبوریانو په وجه زید د جومات څخه لاندې د خپل بال بچ سره وسېدلی سی او که د تحت الثری پورې د جومات کېدلو په وجه په هیڅ صورت کې هم د بال بچ سره د جومات د لاندې کمروکې نسي پاته کېدلی، په بل صورت سره داکمرې بل کرایه دارته چې بال بچ دار وي په کرایه باندې ورکول سی او که نه؟

جواب: په کوم ځای کې چې دا کمرې جوړې سوې دي که وقف کوونکي داځای اول جومات جوړکړی وی او کمرې یې وروسته تعمیر کړې نو بیاخو داکمرې د جومات دی او هغه د اوسېدلو په کورباندې نسي بدلولی، خو که واقف د شروع څخه داتصریح کړې وي چې لاندې کمرې به د امام د رهایش او یا د جومات په مصالحو کې د بل څه مصلحت د پاره وقف وي او د هغه د تعمیر څخه وروسته چې کله ځای هموارسی نو په هغه باندې به د جومات تعمیر کول کیږي او صرف برنۍ حصه به جومات وي لاندېنۍ نه، نو په دې صورت کې دالاندېنۍ کمرې د امام د اوسېدلو د پاره استعمالېدی سی، په دې صورت کې به داکمرې د جومات د مصالحه د پاره خوبه وقف وي خو په هغه باندې به د وقف احکام نه جاري کیږي.

لمافی الهدایة: ولوکان السرداب لمصالح المسجد جاز کما فی مسجد بیت المقدس، وروی الحسن عنه انه قال: اذا جعل السفل مسجداً وعلی ظهره، مسکن فهومسجد لان المسجد ممایتأبد وذالك یتحقق فی السفل دون العلوا وعن محمد علی عکس هذا لان المسجد معظم واذاکان فوقه مسکن او مستغل یتعذر تعظیمه، وعن ابی یوسف انه جوز فی الوجهین حین قدم بغداد ورای ضیق المنازل فکانه اعتبر الضرورة وعن محمد انه حین دخل الرّیَ أجاز ذالك کله. (هدایه اولین ج: ۲ ص: ۲۲۵) (۱) وفی الدر المختار: لوبنی فوقه بیتاً للامام لایضرّ لانه من المصالح، اما لوتمت المسجدیة ثمّ اراد البناء منع. (شامي کتاب الوقف احکام المسجد) (۲) وراجع ایضاً. امداد الفتاوی (۳) وامداد المفتین (۴).

---

(۱) هدایة کتاب الوقف ج: ۲ ص: ۶۴۴ او ۶۴۵ (طبع شرکت علمیه ملتان)

(۲) فتاوی شامیه ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید کراچی).

(۳) امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۶۸۳ (طبع مکتبه دارالعلوم کراچی).

(۴) امداد المفتین ص: ۸۱۱ (طبع دار الاشاعت کراچی) وفی البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۱ (طبع رشیدیه کویته) لوبنی بیتاً علی سطح المسجد لسکنی الامام فانه لایضرّفی کونه مسجداً لانه من المصالح..... الخ. وفي الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۵۷ او ۳۵۸ (طبع سعید) واذا جعل تحته سرداباً

والله سبحانه اعلم

۲۸/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۹۹۲/ ۲۸ ج)

د قبلې څخه دوه ویشت درجی انحراف باندی
د جوړ سوی جومات حکم

سوال: گوجره منډوی ضلع لایل پور د کوم جومات په باره کی پوښتنه سوی وه چی د هغه رُخ د زوړ جومات څخه (۲۲) درجی جنوب ته کوږ دی، تاسو فرمائیلی وه چی: د صفونو نښی د زړو جوماتونو مطابق لګولوته تیار نه دی، هغوی وایی چی دارُخ د زړو جوماتونو څخه زیات د قبلی سمت ته دی، اصل خبره داده چی داشان د جومات تعمیر سهواً نه بلکی عمداً سوی دی، د رُخ صحیح کوونکی صاحب د پرویزی مسلك وو، لکه چی علامه متوفی هم وئیلی وه، چی د هندوستان او پاکستان د ټولو جوماتونو رُخ غلط دی، د زوړ جومات رُخ د دی جومات په جوړولو سره په غلط ګڼلو سره ترك سو اوس که یوسړی د جُمعی په لمانځه کی لږ رُخ بدلولوسره په جمعه کی شریك سی نو آیا جائز دی؟ او د هغه لمونځ صحیح دی او که نه؟ او دَ مذکوره جومات په رُخ باندی د هغه زړه نه منی چی لمونځ وکړی.

جواب: کوشش د دی خبری پکار دی چی اهل مسجد د قبلی د سمت په سلسله کی په متفق کیدلوسره خپل رُخ صحیح کړی، بیاهم که اهل مسجد دی ته تیار نه وی نو د (۲۲) درجی د انحراف سره لمونځ نه فاسدیږی (۱)، د شر د لری کولو د پاره په همدغه

لمصالحه ای المسجد جاز کمسجد القدس ولوجعل لغیرها او جعل فوقه بیتًا وجعل باب المسجد الی طریق وعزله من ملکه لایکون مسجداً اه.

وفی الفتاوی تاتار خانیه ج: ۵ ص: ۸۴۴ (طبع ادارة القرآن والعلوم الاسلامیه کراچی) وفی النوازل: ولوجعل العلوا مسجداً والسفل وقفًا علی المسجد واخرجه من یدهِ یجوز وکذالك لوجعل السفل مسجد الناس او سرداباً وقفًا علی ذالك واخرجه من یده یصح لانه الله تعالی: وکذا فی الهندیة ج: ۲ ص: ۴۵۵.

او همدارنګه وګورئ امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۲۸۳ الی ۲۸۵.

(۱) د تفصیل د پاره جواهر الفقه (مؤلفه مفتي اعظم پاکستان حضرت مولانا محمد شفیع صاحب رحمه الله تعالی علیه) په رساله سمت قبله، خصوصاً ج: ۱ ص. ۲۴۲ څخه تر ۲۴۴ پوری وګورئ.

رُخ باندی د لمونځ کولو ګنجایش سته، چی په کوم رُخ ټول اهل محله لمونځ کوی، د امام د رُخ څخه منحرف کیدلو سره خپل جلا رُخ کول د دی په مقابله کی زیات بد دی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۸/ ۵/ ۱۳۸۸ ھ

د ضرورة په وخت د جومات څخه د اوبو وړلو په نیت
د چندی ورکولو حُکم

سوال: د جومات په اخراجاتو کی مو په دی نیت چنده ورکړله، چی کله د اوبو ضرورت وی نو د جومات څخه به یی راوړو په دی صورت کی د جومات څخه د اوبو وړل به جائزوی او که نه؟

جواب: که په چنده ورکوونکو کی داخبره معروفه وی چی د ضرورت په وخت اهل محله به هم د هغه ځای څخه اوبه وړی سی نو ګنجایش سته، او که نه نو بیادرست نه دی (۱).

والله اعلم

۱۰/ ۹/ ۱۳۹۷ ھ

(فتوی نمبر ۹۳۶/ ۴۰)

په جومات کی د نکاح په تقریب کی د ویډیو
او مووی جوړولو حُکم

سوال: ګذارش دی چی په عمان کی نکاح تړل په جومات کی کیږی او د نکاح منجمله تقریبات او پروګرام په ویډیوفلم باندی ریکارډ کول کیږی چی آینده مستقلاً د کسیټو په ذریعه دوباره یاد راتازه سی ایا په اسلام کی په جوماتونو کی د ویډیو د فلمونو کیسټونه تیارول جائز دی؟

جواب: درست نه دی. والله اعلم

(۱) وفی الشامیة ج: ۳ ص: ۱۳۰ (طبع سعید) ان المعروف کالمشروط. وکذافی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۱۲۴ (طبع دار المعرفة بیروت)

۱۶/ ۳/ ۱۴۰۹ هـ

فتوی نمبر ۲۰۵/ ۴۰ ب

د جومات د کمیټی او صاف او آیا بی لمانځه

د جومات د کمیټی ممبر جوړیدی سی؟

سوال: یوسړی د جومات د انتظامی کمیټی د پاره خپل ځان پیش کوی، اصرار کوی او ممبر جوړیږی حالانکی مذکوره سړی په جومات کی هیڅ وخت هم لمونځ کولو باندی کله لیدل سوی نه دی چی هغه سره خیال پیداسو چی شاید د څه نظرمی اختلاف په وجه به یی په بل جومات کی لمونځ اداء کوی، که څه هم کتل سوی نه دی خو عامه رایه همداده چی چونکی موصوف د لمونځ پابندنه دی ځکه کله هم جومات ته د تلو سوال هم نه پیداکیږی، اوس سوال دادی چی: (د داسی سړی په داسی جومات کی چی په هغه کی هغه قطعاً لمونځ نه کوی د انتظامی کمیټی ممبر څنګه دی؟

۲: د داسی سړی د جومات ملکیت یاجایداد د خپلی مرضی مطابق استعمالول او یا مستقل لمونځ ګذارو باندی د مستقلی کمیټی مشترکه فیصلی په خلاف مطابق استعمالول څنګه دی؟

۳: داسی سړی مستقل لمونځ ګذارو باندی د کمیټی په کارونو کی دخل اندازی کول څنګه دی؟

جواب: د جومات انتظام د نیک متقی خلګو په لاس کی کیدل پکار دی (۱) او کم ترکمه د لمونځ پابنده کیدل خو ډیر ضروری دی، کوم سړی چی د لمونځ پابند نه وی د اصل لمونځ ګذارو په موجودګی کی هغه د جومات د انتظامیی رکن جوړیدل صحیح نه دی، بالخصوص کله چی هغه پخپله د رکنیت طالب وی او د جومات د مصلحتونو په خلاف کار کوی (۲).

---

(۱) ایضا.

(۲) وفی الهندیة ج: ۲ ص: ۴۰۸ (طبع ماجدیه کویته) الصالح للنظر من لم یسئل الولایة للوقف ولیس فیه یعرف هکذا فی فتح القدیر. وفی الاسعاف: لایولی الا امین قادر بنفسه او بنائبه.... الخ. وفی الشامیة ج: ۴ ص: ۳۸۰ (طبع سعید) (قوله غیر مأمون) قال فی الاسعاف: ولایولی الا امین قادر بنفسه او بنائبه لان الولایة مقیدة بشرط النظر ولیس من النظر تولیة الخائن لانه یخل بالمقصود. وکذا الهندیة ج: ۲ ص: ۴۰۸ وقانون العدل والانصاف ص: ۱۲۸.

والله سبحانه اعلم

۹۰/ ۱/ ۱۴۱۰ هـ

(فتوی نمبر ۵۲/ ۴۱- الف)

خانقاه (تسبیح خانی) د پاره د چندی کولو حُکم

سوال: یوه خانقاه ده، په هغه کی تسبیح خانه ده چی په هغه کی د خورولو د پاره یوه قیمتی قالین د اخستلو د پاره چنده کیږی، لهذا په دی کی چنده ورکول جائز دی او که نه؟

جواب: په تسبیح خانه کی که د بدعت څه عمل نه وی نو د دی ضرورت د پاره چنده جائزده، خو چی چنده په زور باندی نه وی (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی

والله اعلم

محمد تقی عثمانی

۳/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

۳/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

د وختی ضرورت د پاره د جوړسوی جومات په ځای د دوکان جوړولو حکم

سوال: د یوکار خانه دار د کارخانی په یوکونج کی یوځای د جومات د پاره جوړسوی وو، او هلته به د سټاف خلګو غیر منظم یعنی انفرادی طور به یی لمونځ کوی، کارخانه ختمه سوی ده او هغه ځای په مال منډی کی بدل سوی دی، آیا په دغه ځای کی دکان وغیره جوړولی سی چیری چی به لمونځ کیدی، آیا دافیکټری والا دامځکه په بل څه کار کی راوستل سی؟

جواب: په اصل کی دارمدار په دی خبره دی چی که د مځکی مالك داځای د جومات جوړولو په نیت وقف کړی وو او که نه؟ که د جومات د جوړولو په نیت سره یی وقف کړی وی نو بیاخو داځای په بل څه کارکی نسی راوستی او که په دی نیت یی نه وی

---

(۱) وفی المشکوة ج: ۱ ص: ۲۵۵ (طبع سعید) قال رسول الله ﷺ: الا لاتظلموا الا لایحل مال امرئ مسلم الا بطیب نفس منه. رواه البیهقی فی شعب الایمان وفی حاشیة ای بالاذن او بالامر.

وقف کړی بلکی د وختی ضرورت د پاره دغه ځای یی د لمانځه د پاره مخصوص کړی وو، نوبیا داځای د جومات په حکم کی نه دی، او د ضرورت د ختمیدلو سره یی په بل کار راوستل سی (۱).

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۸۲/۵/۲۴ هـ

(فتوٰی نمبر ۲۱۲/۱۹- الف)

د جومات څه حصه په درسګاه کی د شاملولو او په جومات کی دینی تعلیم ورکولو حُکم

سوال: څه فرمائی علماء د دین شرع مبین په دی سلسله کی چی یوه درسګاه د حفظ او ناظری د قرآن کریم د پاره د جوړیدو په حال کی ده، د جومات سره متصل د یوچمن په شان صحن چی جومات کی داخل دی چی په هغه کی په ګرمی، یخنی دواړو موسمونو کی لمونځ کول کیږی، د جوړیدلو لاندی د درس ځای د دی مشرقی اړخ سره بالکل لګیدلی ده، که د درس ګانیه په خپل ځای یوه کمره او برآنډه یی په شکل کی جوړه سی نو د درس ځای به کافی نه وی نو ځکه د منتظمینو خیال دی چی د درسګاه والا پوره باندی به مشتمل وی د جومات د صحن ښخه واخستل سی نو داشان به د جومات په زیب او زینت کی څه نقصان نه وی بالکی د ضرورت په وخت باران یاګرکی دغه ځای

---

(۱) وفی حلبی کبیر ص: ۴۱۲ لو اتخذ فی بیته موضعًا للصلوٰة فلیس له حکم المسجد اصلاً. وفی الهندیة ج: ۲ ص: ۴۵۵ (طبع ماجدیه کویټه) (الفصل الاول فیما یصیر به مسجداً) اما ان وقت الامر بالیوم او الشهر او السنة ففی هذا الوجه لاتصیر الساحة مسجداً لومات یورث عنه کذا فی الذخیرة، وفی الهندیة ایضًا ج: ۲ ص: ۴۵۵ (طبع ماجدیه کویټه) من جعل مسجدا تحته سرداب او فوقه بیت... فله ان یبیعه وان مات یورث عنه. وفی التاتار خانیه ج: ۵ ص: ۸۴۳ وان جعل وسط داره مجسداً واذن لناس بالدخول فیه فله ان یبیعه، او همدارنګه وګورئ کفایت المفتی (طبع جدید دار الاشاعت) ج: ۷ ص: ۴۷، ۴۸، او وګورئ ج: ۷ ص: ۵۴.

کی لمونځ کولی سی چی په دی سره به لمونځ ګذاروته فائده وی، آیا په داسی صورت کی د جومات په ځای د تعمیر په نیت د درسګاه د برنډی چت اچولی سی او که نه؟

جواب: د جومات څه حصه په درسګاه کی شاملول جائز نه دی (۱) خوکه په هغه ځای کی برانډه جوړول د جومات د پاره مفید او مناسب وی نو په نسبت د تعمیر د جومات هلته برانډه جوړولی سی، هغه برانډه به هم د جومات جزء وی او درسګاه به نه وی او د ضرورت په وخت په هغه کی د دینی تعلیم کار هم کیدی سی (۲) خو داخبره به هرکس ناکس ته ته واضحه کیدل پکار وی چی دابرانډه د جومات ده او درسګاه نه ده، چی د هغه ښه صورت دادی چی برانډه د درسګاه سره بالکل د نژدی جوړولو په ځای د برانډی او درسګاه په مینځ کی لږ غوندی ځای د امتیاز د پاره پری ښوول سی.

---

(۱) وفی البحر الرائق ج: ۵ ص: ۲۵۱ (طبع ماجدیه کویټه) قال ابویوسف: هو مسجد ابداً الی قیام الساعة لایعود میراثًا ولایجوز نقله ونقل ماله الی مسجد اٰخر سواء کانوا یصلون فیه اولا. وهو الفتوٰی.

وفی الدر المختار ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید کراچی) ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عبدالامام والثانی ونقل ماله الی مسجد اٰخر سواء کانوا یصلون فیه اولا وهو الفتوٰی.

(۲) دلته د حضرت والا د مصدقه فتوٰی ښخه، جومات عارضی طور باندی د تعلیم ورکولو شرطونه او تفصیل نقل کول کیږی د لاندینیو شرطونو پابندی کولو سره په جومات کی تعلیم ورکول جائز دی. ۱: مدرسه د تعمیر لاندی وی په جومات بنی عارضی طور باندی تعلیم ورکول کیږی. ۲: ماشومان هوښیار او عقلمند وی او د جومات پوره پوره احترام کوی جومات نه ګندوه کوی. ۳: استاد په جومات کی د تعلیم ورکولو په وخت د اعتکاف نیت هم کوی، او که مدرسه بالکل موجوده نه وی نو ژر د مدرسی انتظام کول ضروری دی، د مدرسی دانتظامی کیدو پوری جومات کی تعلیم ورکول د لوړ شرطونو سره جائزدی. وفی خلاصة الفتاوٰی ج: ۱ ص: ۲۲۹ (طبع رشیدیه کویټه) د اما لمعلم الذی یعلم الصبیان باجر اذاجلس فی المسجد یعلم الصبیان للضرورة الحر او غیره لایکره فی نسخة القاضی الامام وفی اقرار العیون جعل المسئلة العلم کمسئلة الکاتب والخیاط فان کان یعلم حسبة لاباس به وان کان باجریکره الا اذاوقع الضرورة. وکذا فی الهندیة ج: ۱ ص: ۱۱۰ وفتح القدیر ج: ۱ ص: ۳۶۹، والفتاوٰی الخانیه ج: ۱ ص: ۶۵، والاشباه والنظائر ج: ۲ ص: ۲۲۱. وفی الدر المختار: ویحرم ادخال صبیان ومجانین حیث غلب تنجیسهم والا فیکره. وفی البحر الرائق ج: ۲ ص: ۴۵ اما اصولاً المکتبون الذین یتجتمع عندهم الصبیان واللخط فلاولولم یکن لغت لانهم فی صناعة لاعبادة انهم یقصدون لاجارة لیس هولله بل للارتزاق ومعلم الصبیان القرآن کالکاتب ان کان لاجر لاحسبة لاباس به وکذا فی الاشباه والنظائر ص: ۲۴۱. همدارنګه وګوری کفایت المفتی ج: ۷ ص: ۱۰۰ وجدید ایډیشن دار الاشاعت. (محمد زبیر حقنواز)

والله سبحانه اعلم
۱۸/ ۱۰/ ۱۳۹۰ هـ
(فتوی نمبر ۱۷۳۴/ ۳۰ د)

د متعارف او عامي طریقي څخه جلا د جوړ سوي جومات منبر ماتول او یابرقرار ساتلو حکم

سوال: جناب عالي! تاسو ته استفتاء مورخه ۳۰ جولائی سنه ۱۹۸۵ لیکل سوی د (خیر البشر جومات) متعلق یومنبر راغلی وو چې د هغه تاسو تحریري جواب لیکلی وو په دې استفتاء کې څه خبري پاته سوي دي مثلاً مؤذن چې د خطبې په وخت اذان وایي نو د هغه مخ ته امام د پښو مخ ته نه وي بلکې د منبر لوړوالی د فرش څخه دري نیم فټه دی، لهذا د منبر جوړوونکو د مسجد نمرې منبریې دلیل نه دی جوړکړی لکه د داسې منبر د نشاندهي په طور داعرض سوی وو چې داسې منبر د سعودي عرب په ځوجوماتونو کې تعمیر سوی دی، دریمه خبره داده چې د مسجد نمرې د منبر کوم تاریخ په دې استفتاء کې بیان سوی دی دارکیټکټ په ذهن کې داسې څه خبره نه ده، په دې وجه براې کرم دا وفرمایي چې آیا دامنبر ماتول ضروري دی؟ او که دا برقرار وساتل سي نو آیا د شریعت خلاف کار به وي؟
لاندې د منبر د شکل نقشه.

په مسجدونو کې عام طورتیار سوی منبر — د خیر البشر جومات د پاره تیار سوی منبر

جواب: د مخکې سوال څخه دامعلومیدل چې منبر د درو پوړیو څخه په زیاتو باندې مشتمل دی ورسره داچې په هغه باندې د امام د دریدلو په صورت کې هغه پښې د مؤذن مخ ته محازي کیږي، نو ځکه هغه ته خلاف مسنون وئیل سوي وو، کوم صورت

چې مخ ته راغلی دی، په دې کې د بیده خبرې نسته نو ځکه دې منبرته ناجائز او مکروه یابالکلیه خلاف سنت نسې وئیل کیدی او کله چې منبر جوړسوی دی نو هغه ماتول واجب نه دی، د هغه د برقرار ساتلو په صورت کې هغه ته خلاف شرع نسې وئیلی، که سوال د منبر د جوړیدلو څخه مخکې سوی وی نو مشوره او طریقه د منبر جوړولو به درکول کیدله، چې هغه اقرب الی السنة ده، بیاهم کله چې منبر جوړسوی دی نو اوس هغه ماتول ضروري نه دی او په دې مسئله باندې خامخا زیات بحث او مباحثه او فتنه او مجادله هیڅکله ضرورت نسته.

والله سبحانه اعلم
۱۳/ ۱/ ۱۴۰۲ هـ
(فتوی نمبر ۸۸/ ۳۷- الف)

د جومات په چت باندې د امام د پاره کور جوړولو په مسئله کې فتاوی لکهنویه او عزیز الفتاوی او امداد المفتیین کې د تضاد تحقیق

سوال: آیا د جومات په چت باندې د امام د پاره کور جوړول جائز دي؟ په فتاوی لکهنویه کې جائز کیدلو او په عزیز الفتاوی او امداد المفتیین او اداب المساجد کې یې ناجائز کیدل لیکلي دي، ستاسو څه رایه ده؟
جواب: په امداد المفتیین کې دامسئله پیدانه سوه البته په آداب المساجد مې چې کوم عدم جواز مذکور دی هغه علی الاطلاق نه دی ذغه شان چې مولانا عبد الحی صاحب کوم جواز ذکر کړی دی هغه هم مطلقًا نه دی بلکې د ځوشرطونو سره یې جائز کیدل لیکلي دي، (ص: ۲۳) او هغه شرطونه په لاندې ډول دي:
۱: د وقف کوونکي یوه خاص حصه یې د جومات څخه مستثنی ګرځولې دي، او د جومات د جوړولو څخه یې مخکې مخکې یې کور جوړکړی وي یایې د خپل نیت اعلان کړی وي.
۲: دا استثناء د جومات د مصالح د وجې نه وي، همدا حکم په کتب فقه کې مذکور دی، لکه د در المختار په کتاب الوقف کې دي: لوبنی فوقه بیتًا للامام لایضرّ لانه من

المصالح اما لوتمت المسجدية ثم اراد البناء منع ولوقال عنيت ذالك لم يصدق. (شامی ج: ۳ ص: ۵۱۲) ([1]).

اوس پاته سوه دامسئله چی هغه کور به د جومات په حکم کی وی او که نه؟ په دی باره کی صحیح همدادی چی هغه به د جومات په حکم کی نه وی لکه چی په اداب المساجد کی ذکر سوی دی.

په عزیز الفتاوی کی چی حضرت مفتی عزیز الرحمن صاحب ونیلی دی چی هغه کور به په حکم د جومات کی وی نو ځکه به په هغه کی برل وبراز جائزنه وی (ج: ۵ ص: ۱۳۵) ([2])، د دی منشاء یاخو داده چی د دی کور د جومات سره غایت اتصال په سبب او د ادب او احترام د تقاضی په وجه دی دا دبول وبراز ښخه وساتل سی، او که دا توجیه نه وی نو بیا په دی کی تسامح سوی دی ځکه چی د دی حکم دلیل هغوی دابیان کړی دی:

وبه صرّح فی الاسعاف فقال: واذاكان السرداب او العلولمصالح المسجد او كان واقفًا عليه صار مسجدا اه، شرنبلالية قال فی البحر وحاصله ان الشرط كونه مسجداً ان يكون سفله وعلوه مسجداً لينقطع حق العبد. (شامی ج: ۳ ص: ۴۴) ([3]) حالانکی دادلیل ځکه صحیح نه دی، چی په دی کی د صار (ضمیر) سفل او علو طرفته نه دی بلکی جومات طرفته راجع دی لکه چی د کلام د سیاق ښخه داخبره واضحه کیږی ځکه چی ذکر د جومات دی، د سفل او علو د مسجدیت نه دی او د دی امر تصریح حضرت تهانوی صاحب هم په لاندینیو الفاظو سره فرمائیلی دی.

غالبًا هغوی د صار د ضمیر مرجع د سرداب علو ګڼلی ده دامرجع نه ده، بلکی مرجع د دی هغه جومات دی چی د هغه د مصالحو د پاره سرداب د علو جوړسو یاوقف سو. (امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۵۹۲) ([4])

او د بحر په عبارت کی دی: (ان يكون سفله وعلوه مسجداً) مقصد موقوفا علی مصالح المسجد، دی.

به هرحال داثابت سول چی د امام کور د مذکوره شرطونو سره جائز دی او دا ملحوظ

([1]) رد المختار کتاب الوقف ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید).

([2]) عزیز الفتاوی ص: ۲۱۰ (طبع دار الاشاعت کراچی).

([3]) شامی ج: ۴ ص: ۳۵۷ (طبع سعید).

([4]) ج: ۲ ص: ۲۸۴ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)

ساتلو سره که کور جوړسی، نو هغه به د جومات په حکم کی نه وی، خو بیاهم د جومات د احترام په تقاضاسره ښه دادی: چی په هغه کی بول او براز ونکړی سی، خاصکر چی کور د جومات سره دومره نژدی وی چی د هغه بدبو، او نور اثرات جومات ته، ورسیږی او د ایلاء سبب وګرځی، نو په داسی صورت کی به هلته بول او براز کول مکروه وی.

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفی الله عنه

والله سبحانه اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۳۷۹/۱۲/۲۴ هـ ([1])

د جومات په چت باندی د امام د پاره د کور جوړولو حکم

سوال: د جومات په چت باندی د امام د پاره کورجوړول جائز دی او که نه؟

جواب: په در المختار کتاب الوقف کی دی: لوبنا فوقه بيتًا للامام لايضرّ لانه من المصالح اما لوتمت المسجدية ثم اراد البناء منع ولوقال عنيت ذلك لم يصدق، تاتار خانية فاذاكان هذا فی الواقف فكيف بغيره فيجب هدمه ولوعلى جدار المسجد.

او علامه شامی د دی لاندی فرمایی: قوله اما لوتمت المسحدية ای با القول على المفتى به او بالصلوة فيه على قولهما، وعبارة التاتار خانية وان كان حين بناه خلى بينه وبين الناس ثمّ جآء بعد ذالك يبنى لايترك اه، وبه علم ان قوله فی النهر واما لوتمت المسجدية ثم اراد هدم ذالك البناء فانه لايمكن من ذالك... الخ. فيه نظر لانه ليس فی عبارة التاتار خانية ذكر الهدم وان كان الظاهر ان الحكم كذالك. (شامی ج: ۳ ص: ۵۱۲) ([2]).

په عالمګیریه کی دی: الصعود على سطح كل مسجد مكروه ولهذا اذا اشتد الحرّ يكره ان يُصلوا بالجماعة فوقه الا اذاضاق المسجد فحينئذ لايكره الصعودَ على سطحه للضرورة. (عالمګیریه ج: ۱ ص: ۳۵۲) ([3])

د دی روایاتو ښخه معلومیږی چی د جومات مکمل کیدلو ښخه مخکی که داسی وسی

([1]) دافتوی د حضرت والا دامت برکاتهم د تخصص د درجی د افتاء د تمیرین کاپی ښخه اخستل سوی ده. (محمد زبیر)

([2]) رد المحتار ج: ۴ ص: ۳۵۸ (طبع سعید)

([3]) عالمګیریه کتاب الکراهیة ج: ۵ ص: ۳۲۲ (طبع رشیدیه)

نو جائزدی او که نه وی نو نه په فتاوی لکهنویه کی چی کوم حکم لیکلی دی نو هغه
صرف د کټ اچولو دی، او هغوی چی کوم استدلال کړی دی چی حضور ﷺ د
اعتکاف په وخت هلته کټ اچولی وو، هغه په خپل محل نظر دی ځکه چی د اعتکاف
په وخت کی کټ اچول عذر دی، په دی باندی عام حالات نه سی قیاس کیدلی.

والله اعلم

(۲۴/ ۱۲/ ۱۳۷۹ هـ) (۱)

د جومات د تعمیر څخه پاته خښتی د امام په کور باندی د لګولو حکم

سوال: د جومات په جوړولو سره چی کومی زړی خښتی پاته سی نو آیا د جومات د امام
د کور په جوړولو کی د هغه لګول جائز دی؟

جواب: لګولی یی سی.

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

۱: آیا امام صاحب یا د جومات مهتمم د کمیتی په میټنګ کی غوښتل ضروری دی؟

۲: د لمونځ ګستاخی ګوونکی سړی د جومات په کمیتی کی د ممبر جوړولو حکم

سوال: څه فرمائی د دین عالمان او د شرع مبین مفتیان د لاندینیو مسئلو په باره کی؟
۱: د کوم جومات او مدرسی هم یوه کمیتی جوړه وی او د هغه جومات او مدرسی
مهتمم هم یووی، د هغه جومات او مدرسی د تعمیر او نظامی امورو میټنګ وی نو څه
ممبران حضرات د امام او مهتمم صاحب په میټنګ کی شمولیت ضروری وګڼی، خو څه
ممبران صاحبان یی د دی دلیل ورکولو سره شامل نه کړی چی امام صاحب او مهتمم

(۱) دافتوی د حضرت والادامت برکاتهم د تخصص د درجی د تمیرین د کاپی څخه اخستل سوی ده.

صاحب چونکی د کمیتی ملازم دی، د میاشتی تنخواه اخلی لهذا تنخوادار ملازم امام
صاحب او مهتمم صاحب ته د جومات او مدرسی په میټنګ کی د ناستی حق نسته، د
جواب څخه موخبرکړئ، کوم سړی چی داسی عقیده د خپل امام صاحب په باره کی
ساتی یعنی امام صاحب د کمیتی ملازم ګڼی دغه سړی د جومات او مدرسی د کمیتی
منبر پاته کیدی سی او که نه؟ خپل ملازم امام پسی بی لمونځ کیدی سی او که نه؟
۲: او کوم سړی چی بغیر د جمعی څخه ځانته په خپل کور کی لمونځ کوونکی وی او
هغه دا ووایی: چی زه یوه ورځ د سهار لمونځ د جمعی سره اداء کولو د پاره جومات ته
ولاړم، هلته په لمانځه باندی دومره وخت ولګیدی چی زما د ژوند ټول معمولات ګډوډ
سول یعنی معمولات می تباه سول د هغی ورځی څخه بیا ماچیری هم لمونځ د جمعی
سره نه دی کړی، د جواب څخه موخبر کړئ چی د لوړو الفاظو ویونکی د جومات د
کمیتی ممبر یا عهدیدار جوړیدی سی او که نه؟
۳: او داچی مذکوره سړی د امام مسجد غیر حاضریانی نوټ کولو سره د جومات د
محراب خواته راځی وګوری چی امام صاحب نن په لمانځه کی حاضر دی او که نه؟ خو
د جمعی په لمانځه کی شرکت نه کوی یعنی د مذکوره کار د پاره خو زحمت وباسی، خو
د جمعی لمونځ کولو د پاره وخت کاړل د هغه په معمولاتو کی فرق اچوی، داسی سړی
د جومات د کمیتی ممبر او عهدیدار جوړول پکار دی او که نه؟
۴: د جومات او مدرسی د تعمیر او تنظیمی میټنګ کی امام صاحب او مهتمم، صاحب
شاملول ضروری دی او یا هغه د ملازم ګڼلو سره بیل ساتل ضروری دی؟ اسلامی تعلیم
او ائین د دی د پاره څه حکم ورکوی؟

جواب: د کمیتی په ذمه ضروری نه دی چی هغوی دی امام صاحب یا مهتمم صاحب
ضرور خپل میټنګ ته را وغواړی خو راغوښتل یی ښه دی، که څه خبره داسی وی چی
د امام صاحب په موجودګی کی کول مناسب نه ګڼی نو امام صاحب ته ضرور د
شرکت مطالبه کول پکار نه ده، که چیری امام صاحب د تنخوادار ملازم په الفاظو سره
یادول لویه بی ادبی ده، د دی څخه احتراز لازم دی.
۲: داسی سړی د ډیر ګستاخی خبره کړی ده که هغه د دی څخه توبه ونه کاړی نو هغه د
کمیتی د ممبر جوړیدو اهل نه دی.
۳: ایضاً.
۴: په نمبر اول کی د دی جواب رالی.

والله سبحانه اعلم
۲۹/ ۹/ ۱۳۹۹ هـ
(فتوی نمبر ۱۷۱۴/ ۳۰ د)

بعضی غیر مسلم ملکونو کی جوماتونه محدود کیدو او د لمونځ گذارو گنو تعداد پیش نظر یو جومات کی گنی جَمعی کولو شرعی حیثیت

(وضاحت د مرتب څخه) استاد محترم حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب دامت برکاتهم ته د امریکی څخه د مذکوره مسئلی سره متعلق یو سوال رالی د حضرت والا دامت برکاتهم د هدایت مطابق مفتی مجاهد شهید رحمه الله د هغه جواب ولیکی د حضرت والا د رایی معلومولو د پاره داجواب حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله ته ولیږی، حضرت مفتی صاحب رحمه الله د حضرت مفتی مجاهد رحمه الله شهید د جواب تصدیق او تصویب وکی، وروسته حضرت مفتی رشید احمد صاحب دوباره غور وکی او مستقل دوهم جواب یی ولیکی چی د مفتی مجاهد صاجب د جواب څخه مختلف وو، د حضرت مفتی رشید احمد صاحب دا دوهم تحقیق مفتی محمد صاحب د حضرت والا دامت برکاتهم د رایی معلومولو د پاره حضرت والاته راولیږی، په دی باندی حضرت والا دامت برکاتهم پخپله مستقل جواب تحریر کی، دا ټول تحریرونه په لاندی ډول په ترتیب سره پیش کولی سی.

د حضرت والا دامت برکاتهم خط د حضرت مولانا مفتی رشید احمد رحمه الله صاحب په نوم

بگرامی خدمت حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
د امیریکی په جوماتونو کی د دوهمی جَمعی حکم:
د احقر خواته د امریکی څخه یو سوال راغلی وو، د هغه په جواب کی یو تحریر زموږ یو دوست د تجویز په طور لیکلی دی، د احقر رُجحان د دی تحریر سره موافق دی‌خو مستفتی ته د باقاعده جواب ورکولو څخه مخکی ستاسو د لاربښوونی غوښتونکی دی، د مهربانی د مخه مو په دی سلسله کی د خپلی رایی څخه خبر کړی چی ورسره تکرار د دوهم جماعت اجازت وی نو د دوهم آذان به څه کیږی ایا په دی کی به هم تکرار کولی

سی؟ والسلام

حضرت مولانا محمد تقی عثمانی مدظلهم
د محمد عبد الله میمن په قلم

سوال: په بعضی غیر مسلم ملکونوکی مثلاً په امریکی کی داصورتحال رامخکی دی چی جوماتونه محدود (کم) دی، د علاقی د لمونځگذارو تعداد زیات کیدلو په وجه ټول لمونځگذار په جومات کی نسی راتلی او د جومات په اړخونو او اطرافو کی د لمونځ گذارو لمونځ کول قانوناً اجازت نسته، داسی صورت حال عموماً د جمعی په موقعه پیښیږی، په هغه ځایونو کی داتنگی ځکه راځی چی هلته په کوم عمارت کی د اجتماع د پاره قانوناً یوتعداد محدود وی، د هغه څخه زیات کسان جمع کیدل قانوناً منع دی، اوس سوال دادی چی په داسی صورتحال کی هم په یوجومات کی ډیر واره د جمعی اجازت سته او که نه؟ بیّنوا وتؤجروا.

جواب د مفتی مجاهد شهید رحمه الله د حضرت والا دامت برکاتهم د هدایت لاندی

جواب: د دی مشکل اصل حل خو دادی چی د علاقی خلگو ته پکار دی چی که چیری په سابقه جومات کی توسیع ممکن وی نو هلته دی توسیع وسی چی ټول لمونځ گذار هم په یوی جمعه کی شریك سی، که داممکن نه وی نو د نورو جوماتونو جوړولو اهتمام دی وسی. او چیری چی دا دواړی خبری مشکل وی.
نو په جومات کی د گنجایش د کمیدلو په صورت کی دی یووار پوره جومات ډك سی، د جمعی کیدلو څخه وروسته کوم خلگ چی په جومات کی د ځای نه کیدلو په وجه په مخکی جمع کی شریك نسو د هغوی د پاره هم په دغه جومات کی دوباره د جمعی کولو گنجایش معلومیږی، ځکه کومو فقهاوو چی د جمعی د تکرار څخه منع کړی ده، نو هغوی د ممانعت دوه علتونه ذکر کړی دی چی هغه په لاندی ډول دی:
۱: که د جمعی د تکرار اجازت ورکول سی نو د مخکی جمعی اهمیت به کم وی د مخکی جمعی څخه به تقاعد او په دی کی که منبت وی او داخبره د جمعی د تکرار څخه د ممانعت محض یوحکمت نه بلکی علت دی نو ځکه په کومو صورتونو کی چی د جمعی د تکرار اجازت دی، فقهاوو دا اجازت د مذکوره علت نه کیدلو باندی متفرعی کړی دی، مثلاً د لاری په جومات کی د دوهمی جمعی جواز د بعضی فقهاوو په نزد

لمونځ کولو په صورت کې د محلي د خلګو د غیر محلي د خلګو لمونځ کولو په صورت بغیر د تداعي څخه د جمع د تکرار جواز د غیر محلي د خلګو لمونځ کولو په صورت کی د محلی د خلګو د پاره د دوهمی جمعی جواز او بغیر د اذان او اقامت څخه د جمعی د تکرار جواز هم د دی علت نه کیدلو په وجه باندی دی، چنانچی په بدایع او صنایع کی دی: ولان التکرار یؤدّی الی تقلیل الجماعة لانّ النّاس اذ علموا انّهم تفوتهم الجماعة فستعجلون فتکثر الجماعة واذا علموا انها لاتفوتهم یتأخّرون فتقل الجماعة وتقلیل الجماعة مکروه بخلاف المساجد التی علی قوارع الطریق لانها لیست لها اهل معروفون فأداء الجماعة فیها مرّة بعد اُخرٰی لایؤدّی الی تقلیل الجماعت وبخلاف ما اذا صلی فیه غیر اهله لانه لایؤدّی الی تقلیل الجماعة لان اهل المسجد ینتظرون اذان المؤذن المعروف. (بدایع ج: ۱ ص: ۱۵۳) ([1])

امام سرخسی رحمه الله تعالی فرمائیلی دی: ولنا انا امرنا بتکثیر الجماعة وفی تکرار الجماعة فی مسجد واحد تقلیلها لان الناس اذاعرفوا انهم تقونهم الجماعة یعجلون للحضور فتکثر الجماعة واذاعلموا انه لاتفوتهم یؤخرون فیؤدّی الی تقلیل الجماعت وبهذا فارق المسجد الذی علی قارعة الطریق لانه لیس له قوم معلومون فکل من حضرت یصلی فیه فاعادة الجماعة فیه مرّة بعد بمرّة لاتؤدی الی تقلیل الجماعت.... الخ. (المبسوط للسرخسی ج: ۱ ص: ۱۳۶) ([2])

۲: بعضی فقهاء کرامو (تفرق کلمه المسلمین) علت ګرځولی دی: چنانچی امام شافعی رحمه الله فرمائیلی دی: واذا کان للمسجد امام راتب ففاتت رجلاً او رجالا فیه الصلوٰة صلوا فرادی ولا احب ان یصلون فیه جماعة فان فعلوا اجزاتهم الجماعة فیه وانما کرهة ذالك لهم لانه لیس مما فعل السلف قبلنا، بل قدعابه بعضهم قال الشافعی رحمه الله: واحسب کراهیة من کره ذالك منهم انماکان لتفرق الکلمة وان یرغب رجل عن الصلوٰة خلف الامام جماعة فیتخلف هو... الی ان قال.... فامّا مسجد بنی علی ظهر الطریق او ناحیة لایؤذن فیه مؤذن راتب ولایکون له امام معلوم ویصلی فیه المارة ویستظلون فلا اکره ذالك فیه لانه لیس فی المعنی الذی وصفت من تفرق الکلمة وان یرغب رجال عن امامه رجل فیتّخذون اماماً غیره. (الام ج: ۱ ص: ۱۵۴) ([3])

---

[1] طبع ایم سعید.
[2] ج: ۱ ص: ۱۳۵ و ۱۳۶ (طبع دار المعرفة بیروت)
[3] (طبع دار المعرفة بیروت).

په مذکوره صورت کی دا دواړه علتونه موجود نه دی، لهٰذا په داسی صورت کی د جمعی د تکرار ګنجایش معلومیږی، خو دا اجازت د دی شرط سره مشروط دی چی په جومات کی چی د څومره کسانو ګنجایش دی، نو چی په مخکی جمع کی دومره افراد موجود وی او ځای پکښی خالی نه وی که په مخکی جمع کی د ګنجایش سره څه خلګ په دوهمه جمع کی شریکیږی نو هغوی به په مخکی جمع کی د شریکیدلو څخه د سستی په ګناه کی مرتکب وی.

والله اعلم

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۸/ ۸/ ۱۴۱۲ هـ

د حضرت مولانا مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله د طرفه د مذکوره جواب تصدیق او تصویب

جواب درست دی د تکرار اذان خو جواز نه معلومیږی، د جومات څخه د باندی جمعی د پاره د محلی د جومات اذان کافی کیږی نو په جومات کی به د دوهمی جمعی د پاره په طریق اولی سره کافی وی، د اقامت په تکرار کی تردد دی، بغیر د عذر څخه دوهمه جمعه کی د اقامت سره زیات کراهت او په مزدلفه کی د ماښام او ماخستن په مینځ کی عدم اقامت د دی دواړو تقاضا داده چی دلته دی هم دوهم اقامت نه وی. رُجحان هم دی طرف ته جوړیږی، که د دواړو جَمعو په مینځ کی زیات فصل (جدائی) سوی وی نو اقامت دی دوباره وسی او که نه نو نه.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ رمضان/ ۱۴۱۲ هـ

(د دی تصدیق او تصویب څخه وروسته حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله دوهم جواب هم ولیکی، داجواب حضرت مفتی صاحب رحمه الله د خپل دی خط سره د حضرت والا دامت برکاتهم ته را ولیږی).

د حضرت والا دامت برکاتهم رحمه الله په نوم د حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله خط

به خدمت گرامی حضرت مولانا مفتی محمد تقی عثمانی صاحب رحمه الله

زید مجده السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

څوکاله مخکې د امریکې په جوماتونو کې د دوهمې جمعې متعلق ستاسو د طرفه د یوسوال جواب د تصویب د پاره راغلی وو، ماتصویب کړی وو، تاسوته د جواب درلیږلو څخه وروسته هم په هغه ورځو کې د نظرثانی څخه وروسته جواب بدل سو، داراته یاد نه دی چې د هغه نقل می تاسوته درلیږلی وو او که نه؟ اوس د احسن الفتاوی د تصویب په دوران کې هغه مسئله مخ ته راله نو په دی خیال سره چې شاید د هغه نقل می تاسوته نه وو درلیږلی نو اوس درلیږل کیږي.

(حضرت فقیه العصر مفتی رشید احمد صاحب مدظلهم)

(په قلم د: محمد)

(دار الافتاء والارشاد ناظم آباد کراچی ۳۷ محرم ۱۴۲۲ ه)

د حضرت مفتی رشید احمد صاحب جواب

(د دوهمې جمعې کراهت په دوو علتونو سره) تقلیل الجماعت او تفرق او تشتت سره معلول ګرځول او داتفصیل کول چې چیری دا علتونه وی هلته کراهت دی او که نه نو نه، صحیح نه دی ځکه چې داحکمتونه دی، علتونه نه دی، ځکه خونه کوم فقیه دا تقلیل بیان کړی دی او نه یی داتفصیل د حکم مدار ګرځولی دی، د دی تفصیل مقتضٰی داده چې داحکم دی د سوال د صورت سره خاص نه دی، بلکې د دی څخه علاوه د هری محلی په جومات کې هم که څه خلګ د یومعتد به عذر د وجې د جمع څخه پاته سی نو د هغوی د پاره دوهمه جمع بغیر د کراهت څخه دی جائز وی بلکې واجب دی وی، ځکه چې دائمی معمول جوړول خو سبب د تقلیل او تشتت دی خو کله کله داسی کولو سره دانه لازمیږي. ولاقائل به احد.

صحیح حل: په جومات کې په یووخت په جمعه کې نسی شریکیدلی د هغه دوی وجې کیدلی سی:

۱: قانونًا د محدودی اجتماع څخه په زیاته باندی پابندی نسته، خو جومات کې ګنجایش نسته.

۲: قانونًا د محدود تعداد څخه زیاته اجتماعیه ممنوع ده، په جومات کې ګنجایش سته.

د اولی صورت حکم: دوهمه جمعه جائز نه ده ځکه چې فقهاوو کرامو داتصریح کړی ده چې په داسی صورت کې دی صفونه نژدی نژدی جوړسی او د هر وروسته صف لمونځ ګذار دی د مخکې صف د لمونځ ګذارو په شاباندی سجده ولګوی.

قال العلامة الحصکفی رحمه الله تعالی: وان سجد للزحام علی ظهر مصل صلاته التی هوفیها جاز وان لم یصلها بل صلی غیرها او لم یصل اصلاً او کان فرجة لایصح.

قال العلامه ابن عابدین رحمه الله تعالی: وفی الکلام اشارة الی ان المستحب التأخیر الی ان یزول الزحام کمافی الجلابی والی انه لایجوز غیر الظهر لکن فی الزاهدی یجوز علی الفخذین والرکبتین بعذر علی المختار وعلی الیدین والکمین مطلقا والی انه لایجوز علی ظهر غیر المصلی کماقال الحسن لکن فی الاصل انه یجوز کمافی المحیط وفی تیمم الزاهدی یجوز علی ظهر کله مأکول اه.

(رد المحتار ج: ۱ ص: ۵۰۳) (۱)

د دوهم صورت حکم: په دی صورت کې هم دوهمه جمع مطلقًا جائز نه ده خو صحیح صورت چې د نصوص فقیه څخه ثابت دی هغه دادی چې: غیر خلګ د محلی څخه اول جمع وکړی او د محلی خلګ دی وروسته وکړی، په دی صورت کې دا اهم شرط نه دی چې د مخکې جمعی په وخت دی جومات کې څه ځای خالی نه وی، داصورت هم کیدی سی چې د جومات څخه د باندی قانونًا په محدود تعداد کې یوڅو ځایونو کې د جمعی انتظام وکړی، د ټولو څخه زیات ضرورت د دی دی چې د جوماتونو توسیع او تعداد دی زیات سی.

والله سبحانه اعلم

۲۹/ رمضان/ ۱۴۱۶ ه

---

(۱) (طبع ایچ ایم سعید)

حضرت مفتی رشید احمد صاحب رحمه الله په دی جواب باندی جناب مفتی محمد صاحب
په خپل دی خط کښی د حضرت والا دامت برکاتهم رایه معلومه کړله.

د مفتی محمد صاحب رحمه الله خط

بگرامی خدمت قابل صد احترام حضرت شیخ الاسلام مدظلهم!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!
دامسئله اوس هم قابل د غور ده که جناب والا د خپل قیمتی وختونو څخه لږ وخت
وباسی د دی متعلق د خپلی رایی سامی څخه موخبر کړئ نو په خادمانو باندی به
مولوی احسان او شفقت وی.

محمد او تبویب معاونین
(دار الافتاء والارشاد ناظم آباد کراچی)
۲۷/۱/۱۴۲۲ هـ

د حضرت والا دامت برکاتهم جواب

گرامی قدر مکرم جناب مولانا محمد صاحب مدظلهم!
السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
د حضرت والا دوهم تحریر اول ماته نه وو راکول سوی، تاسو را ولیږی جزاکم الله تعالی
خیراً.
چونکی تاسو د احقر ناکاره رایه معلومه کړی ده، نو عرض دی چی د احقر د رایی
رجحان اوس هم هغه تحریر طرفته دی کوم چی مولانا مجاهد شهید رحمه الله لیکلی دی،
داخبره چی فقهاوو د تکرار د کراهیت چی کومی وجهی لیکلی دی، هغه حکمت دی
علت نه دی، دابه هلته درست وی کله چی د دوهم جماعت د ممانعت څخه څه صریح
نص موجود وی، خو د احقر د ناقص علم ترحده په دی باندی هیڅ صریح نص نسته، د
حضور ﷺ د یوعمل څخه استدلال سوی دی چی صریح ممانعت نه دی لهذا په کوم
ځای کی چی د دغه مفاسدو معدوم کیدل یقینی وی‌و کوم چی فقهاوو بیان کړی دی،
هلته د جمعی تکرار د دی خبری څخه اَهوَن معلومیږی چی د نورو په شاگانو باندی
سجده وسی، هرکله چی سجده د لمانځه رکن دی، بیاهم په هغه ملکونو کی په
بعضوځایونو کی د حل کیدلو مسئله په نظر نه راځی، بالخصوص چی مسئله مجتهد
فیهاوی، نو په دی کی گنجایش پکار دی.

والله سبحانه اعلم
احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۱/۲/۱۴۲۲ هـ

۱: د مسجد تعریف

۲: آیا په کوم جومات کی چی په هفته کی څو لمونځونه کیږی هغه د جومات په حکم کی دی؟

سوال: د جومات څه تعریف دی؟
۲: آیا په داسی ځای کی چی چیری په هفته کی پنځه ورځی د یویادوه وختونو لمونځ
کیږی د جومات په حکم کی دی؟
جواب: ۱-۲: هرهغه ځای چی هغه د هغه مالك د جومات د پاره وقف کړی وی د هغه په
زبانی یاتحریری طور سره د وقف کولو سره جومات جوړیږی او په هغه باندی به د
جومات احکام جاری کیږی برابره خبره ده که په هغه کی لمونځ وسی او که نه، وهذا
عند ابی یوسف فانه یکفی عنده القول بالوقف فی المسجد خلافًا لمحمد: وقال
الشامی: وقدم فی التنویر والدرر والوقاية وغیرها قول ابی یوسف رحمه الله وعلمت
ارجحیته فی الوقف والقضاء (شامی) (۱) والله اعلم وعلمه واتم واحکم
الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه
۴/۱۱/۱۳۸۷ هـ
(فتوی نمبر ۱۴۰۷/۱۸ الف)

۱: د امام صاحب د جومات په محراب کی دروازه خلاصول او په هغه تک راتگ کول

۲: د ماشو وزلو د پاره بدبوداره دوایی په جومات کی د استعمال حکم

سوال: ۱: اول به امام صاحب د خپل کور په مشرقی دروازی باندی راوتی په پخه لاربه
راتلوسره پوړونو باندی نه اوبنتی د جومات براندی باندی تیریدلو سره به جومات ته د

(۱) فتاوی شامیه ج: ۴ ص: ۳۵۲ (طبع سعید کراچی)

لمونځ کولو د پاره راتلي او بیرته به په همدغه لاره وتي، کله چې نوی سورتي امام صاحب راغلی دی، هغوی مشرقي دروازه بنده کړه او محراب طرفته یې دروازه خلاصه کړه په محراب باندي راووځي او د جومات د محراب دروازه یې خپل کورته د تلو راتلو د پاره جوړه کړې ده آیا دامناسب دی؟

۲: د ماشو د تکلیف څخه د بچ کیدلو د پاره د ماشو وژلو والاخه بدبویه دوائي شیندل څنګه دي؟

جواب: ۱ د دواړو امامانو صاحبانو طریقي صحیح دي شرعا په دواړو کي څه حرج نسته کومي طریقي کي چې اسانتیاوي هغه دي اختیار سي. (۱)

۲: د ماشو د وژلو د پاره اوس داسي دوایاني ورکول کیږي چې په هغه کي بدبویي نه وي بلکي خوشبویي پکښي وي په جومات کي دي.داسي دوائي استعمال سي. (۲)

والله سبحانه وتعالی اعلم

۲۰/ ۲/ ۱۳۹۷ هـ

د جومات جوړولو د پاره د غیر مسلمو څخه د چندي اخستلو حکم

سوال: په بلاك ایچ شمالي ناظم آباد کي یوجامع مسجد جوړیږي په هغه کي د علاقي د خلګو څخه علاوه نور حضرات هم سرمایه پیش کوي اوس د غور لاندي مسئله داده: که په هغه کي غیرمسلم خو د اهل کتاب حضراتو د اړخه څه رقم پیش یوي وي نو د تعمیر د پاره د هغه اخستل درست دي، او که نه؟

---

(۱) دار المدرس المسجد مملوكة او ستاجرة متصلة بحائط السمجد هل له ان ينقب حائط المسجد ويجعل من بينه بابا الى المسجد وهو يشترى هذا الباب من مال نفس فقالوا ليس له ذالك وان شرط على نفسه ضمان نقصان ظهر فى حائط المسجد كذافى جواهر الاخلاطى (عالمگيريه كتاب الكراهية باب اداب المسجد ج: ۵ ص ۳۲۰ (طبع رشيديه) وفى الدر المختار كتاب الصلوة ج: ۱ ص: ۶۵۶ (طبع سعيد كراچى) وكره تحريما اتخاذه طريق بغير عذر. همدارنګه وګورئ امداد الفتاوى ج: ۲ ص: ۵۲۷، ۵۲۸ (طبع مكتبه دار العلوم كراچى).

(۲) وفى مشكوة المصابيح باب المساجد ص: ۶۸ (طبع سعيد) عن جابر ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من اكل من هذه الشجرة المنتنة فلايقربن مسجدنا فان الملائكة تتأذى مما يتأذى منه الانس (متفق عليه)

جواب: که دا احتمال نه وي چې صبابه په اهل اسلام باندي څه احسان اړوي، او نه دا احتمال وي چې اهل اسلام د هغوی احسانمند جوړیدو سره د هغوی په مذهبي شعائرو کي یا د هغوی په خاطر په خپلو شعائرو کي مداهنت کوي، نوقبلول جائز دي، خو په دي شرط چې د هغوی د خپل مذهب د مخه د ثواب په نیت چنده ورکوي (۱).

(کذافي امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۲۰۴، ۲۰۶) (۲) والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد عاشق الهی بلند شهر

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱/ ۲/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۱۷۲/ ۱۹- الف)

په جومات کي د ورک سوي ماشوم یا د یوشي د اعلان حکم

سوال: د ورك سوي ماشوم یا بل شي که ورك سي د جومات په لاوډسپیکر باندي اعلان څه حکم لري؟

جواب: په جومات کي د ورك سوي شي د اعلان کولو څخه په حدیث شریف کي مخالفت راغلي دي (۳) فقهاوو هم دامکروه ګرځولي دي. ویکره .... انشاد الضالة (شامي) (۴) لهٰذا که اعلان کول ضروري وي نو مایکروفون، د جومات څخه د باندي یوسی او بیا اعلان کول پکار دي. والله اعلم

---

(۱) وفى البحر الرائق ج: ۵ ص: ۱۹۰ (طبع رشيديه كويته) لووقف على مسجد بيت المقدس فانه صحيح لانه قربة عندنا وعندهم.

وفي رد المختار ج: ۴ ص: ۳۴۱ (طبع سعيد كراچى) (وان يكون قربة فى ذاتِه).... أن شرط وقف الذمى ان يكون قربة عندنا وعندهم كالوقف على الفقراء او على مسجد القدس... الخ. وكذا فى فتح القدير ج: ۵ ص: ۴۱۷. او همدارنګه وګورئ تفسير معارف القرآن حضرت مفتى اعظم پاكستان قدس الله سره ج: ۴ ص: ۳۳۱.

(۲) امداد الفتاوى ج: ۲ ص: ۶۶۳ الى ۶۶۶ (طبع مكتبه دار العلوم كراچى) (محمد زبير).

(۳) وفى مشكوة المصابيح باب المساجد ص: ۶۸ (طبع قديمى كراچى) عن ابى هريرة ﷺ قال: قال رسول الله ﷺ: من سمع رجلا ينشد ضالة فى المسجد فليقل لا ردها الله عليك فان المساجد لم تبنى لهذا. همدارنګه وګورئ مرقات المفاتيح شرح مشكوة المصابيح ج: ۲ ص: ۱۹۹.

(۴) رد المحتار ج: ۱ ص: ۶۶۰ (طبع سعيد) وفى الهندية كتاب الكراهية ج: ۵ ص: ۳۲۱ (طبع رشيديه) حرمة المسجد خمسة عشر..... والخامس ان لايطلب الضالة، فيه.... الخ.

الجواب الصحیح محمد عاشق الهی عفی عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۴/ ۱۲/ ۱۳۸۷ هـ

په جوماتکی د خاورو تیلو د سوزلو حُکم

سوال: د کلو په جوماتونو کی دړونا د پاره د خاورو تیل استعمالیږی، دا جائز دی او که ناجائز؟ او داهم مشهوره دی چی د خاورو د تیلو د وجی فرشتوته تکلیف رسیږی.

جواب: د خاورو د تیلو د وجی بدبویی کیږی او په حدیث کی د هربدبوکار په جومات کی کول منع سوی دی، تردی چی اوم پیاز خوړلو سره جومات ته د راتلو څخه منعه سوی ده چی په دی سره فرشتوته تکلیف رسیږی (۱) نو ځکه فقهاء کرامو په جومات کی د خاورو تیل بلول ناجائز ګڼلی دي، د دی څخه پرهیز کول لازم دی (۲)، وګوری امداد الفتاوی ج: ۲ ص: ۷۱۴، (۳) او رساله آداب المساجد (۴) ص: ۱۹ مؤلفه حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمه الله.

والله اعلم

۲۱/ ۱/ ۱۳۹۷

(فتوی نمبر ۱۳۴/ ۲۸ الف)

په جوماتکی د غیر حاضر سړی د پاره ځای بندلو

سوال: زه چی په کوم جومات کی په هرحیثیت چی کارکوم او زه په جومات د لمانځه د وخت څخه مخکی ډیر د داسی خاص کسانو د پاره ځای مخصوص کړم چی د اذان څخه

(۱) وفی مشکوة المصابیح باب المساجد ص: ۶۸ (طبع سعید) عن جابر رضی الله عنه قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم من اکل من هذه الشجرة المنتنة فلایقربن مسجدنا فان الملائکة تتاذی مما یتاذی منه الانس.
(۲) وفی الدر المختار ج: ۱ ص: ۶۵۲ (طبع سعید کراچی) فلایجوز الاستصباح بدهن نجس فیه.
(۳) امداد الفتاوی احکام المسجد ج: ۲ ص: ۶۹۸ (طبع مکتبه دار العلوم کراچی)
(۴) اداب المساجد ص: ۲۰، ۲۱ (طبع دار الاشاعت کراچی) (محمد زبیر حقنواز)

وروسته جومات ته راځی او داشان نور لمونځ ګذار چی د وخت څخه ډیر مخکی رارسیږی د هغوی د پاره د تکلیف سبب جوړیږی داشان ځای بندول جائز دی او که نه؟ د چا د پاره چی ځای بندول کیږی د هغوی په لمانځه کی څه فرق راځی او که نه؟

جواب: دغه شان په جومات کی د چاغیر حاضر سړی د پاره د ځای بندول صحیح نه دی، که چیری یوسړی اول جومات راسی، او لږ ساعت کی بیا د څه ضرورت د پاره هلته د خپل څه شی پریښوولو سره ولاړسی نو په بیرته راتلو سره هغه سړی د هغه ځای د پاره زیات مستحق او حقدار دی (۱).

والله سبحانه اعلم

۱۳/ ۱۰/ ۱۳۹۷ هـ

(فتوی نمبر ۱۰۵۲/ ۲۸ ج)

د جومات د تعمیر د پاره د ملازم د تنخواه څخه د پیسو کټ کولو حکم

سوال: عمر د زید سره ملازم دی د تنخواه ورکولو په موقعه باندی د عمر د رضامندی څخه بغیر د هغه د تنخواه څخه څه پیسی د جومات د تعمیر د پاره کټ کوی، چی په هغه باندی او د خلکو مخکی یی د هغه اظهار هم کړی دی خو د بیری د وجی چی چیری ملازمت را څخه ولاړ نسی د زید په مخکی یی نه وایی آیا د شریعت د مخه داپیسی کټ کول جائز دی؟ او که د مدرسی د پاره داشان چنده ورکول سی نو د هغه څه حکم دی؟

جواب: چنده که د جومات وی او که د مدرسی ترڅو چی یی ورکوونکی په خپله رضاء او خوشحالی سره ورنکړی ترهغه وخته پوری اخستونکی د هغه اخستل جائز نه دی

(۱) ویکره.. تخصیص مکان لفسه ولیس له از عاج غیره منه ولومدرسًا واذا ضاق فللمصلی ازعاج القاعد ولو مشتغلاً بقراءة او درس. (الدر المختار ج: ۱ ص: ۶۶۳ (طبع سعید کراچی). (وقال العلامة الشامي تحته) وینبغی تقیده بما اذالم یقم عنه علی نیت العود بلامهلة کما لوقام للوضوء مثلاً ولاسیما اذا وضع فیه ثوبه لتحقق سبق یده لتامل، وفی الهندیة کتاب الکراهیة ج: ۵ ص: ۳۲۱ (طبع رشیدیه کویټه) حرمة المسجد خمسة عشر... والعاشر ان لایضیق علی احد فی الصف.

(۱)، او نه یې د جومات په تعمیر کی لګول پکار دی، په صورت مسئوله کی د زید داعمل شرعًا صحیح نه دی، بالخصوص چی کله عمرته په دی سره ناراضه کیدل معلوم سوی وی (۲). والله سبحانه وتعالی اعلم

الجواب الصحیح بنده محمد شفیع عفا الله عنه

احقر محمد تقی عثمانی عفی عنه

۱۴/ ۱/ ۱۳۸۸ هـ

(فتوی نمبر ۵۵/ ۱۹- الف)

تمت بلخير

اسلامی، کمپیوترز، اداره،

کویټه بلوچستان

۰۳۲۱۸۰۰۰۶۷۱

سمون او تصحیح

المولوی القاری عبدالاحد الحقانی عفاالله

(۱) ایضًا.

(۲) وفی مشکوة المصابیح ج: ۱ ص: ۲۵۵ (طبع سعید کراچی) قال رسول الله ﷺ الا لاتظلموا، الا لایحل مال امری الا بطیب نفس منه. رواه البیهقی فی شعب الایمان وفی حاشیة ای بالاذن أو بالامر (مولوي نوراحمد حقاني).